تفسیر

حکمة القرآن

تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری


حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب: ابو زہیر سیف اللہ

المکتبة المحمدیة

مینگل مارکیٹ گنج۔ پشاور

Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن

۵

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزهير سيف الله

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د كتاب نوم ———— تفسير حكمة القرآن (جلد پنځم)
د مؤلف نوم ———— الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله
جمعه وترتيب ———— ابوزهير سيف الله (غفرله)
سنۀ طباعت ———— (١٤٣٦) هجري ذي قعده ١٥/موافق (٢٠١٥/٨/٣٠)
د نسخو تعداد ———— ١١٠٠
فن ———— تفسير
ناشر ———— مكتبه محمديه ګنج پيښور
كمپوزنګ ———— الراقم ابوزهير سيف الله (عفي عنه)

د ملاويدو پته

١- **مكتبه محمديه** بيرون ګنج ګيټ پهندو روډ منګل ماركيټ پيښور پاكستان
ولي الله: 03018828402 ابو سلمان: 03025953513 ابوزهير: 03075924001
٢- ايوب مكتبه واسلامي كيسټ مركز، عقب قصه خواني پيښور.
٣- معراج كتب خانه قصه خواني بازار محله جنګي پيښور.
٤- نوروز كتب خانه صوابي اډه پاكستان.
٥- ديني كتب خانه تيمر ګره پاكستان.
٦- دار الكتاب والسنة، نيو حاجي كيمپ سلطان آباد كراچي: 03002615402
٧- مكتبه محمديه، جلال آباد تالاشئ چوك ګمرك مسجد ترخنګ دكان نمبر ٢
٨- مكتبه دار السلام، كمبر بازار دير ميدان. فون: 03009716815

خبردارے

مونږ د خپل وسه پورے دا کوشش کړے چه په دے کتاب کښے
څۀ علمی، کتابتی، یا طباعتی غلطی پاتے نشی، خو بیا هم انسان
کمزورے دے، ددۀ په هر کار کښے څۀ نا څۀ کوتاهی خامخا راتلے شی،
نو مونږ ټولو مسلمانانو خویندو ورونو ته درخواست کوو
چه کله تاسو ددے کتاب لوستلو په وخت په څۀ قِسم
غلطئ باندے پوهه شئ نو د خیر خواهئ او اصلاح په بنیاد باندے
مونږ ته خبر راکړئ، ستاسو په دے خبر راکولو سره به یو خو
د نصیحت او خیر خواهئ حق ادا شی، او بل په دے کار سره
به نورو مسلمانانو ته هم فائده ورسی
په آینده ایډیشن کښے به ددے اصلاح وکړے شی۔
اومونږ به ستاسو ډیر شکر گذار یو۔

ستاسو ورور: ابو زهیر سیف الله "غفرله"

1436ھ 22 ذی الحجه موافق 2015/ 10 /6

مکتبه محمدیه

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

آیاتها (١٦٥)	(٦) سورة الانعام مكية (٥٥)	ركوعاتها (٢٠)

سورة الانعام مکی دے، پدے کښې یو سل پنځه شپیته آیتونه او شل رکوع دی

تفسیر سورة الانعام

نوم : د انعام معنیٰ ده : چارپایان (څاروی)، او دا نوم ورله کیخودے شو ځکه چه پدے سورت کښې د چارپایانو په باره کښې د مشرکانو د عقیدے تفصیلی رد دے یعنی د مشرکانو د جهالتونو او د بتانو د تقرب حاصلولو دپاره حیوانات د غیر الله په نوم پریخودو مشرکانه عقائد بیان شویدی، او د چارپایانو د حلت او حرمت زیات احکام بیان شویدی۔ یعنی شرك فی التحلیل والتحریم په کښې ذکر کیږی۔

دویم نوم : دے ته "سُوْرَةُ مُحَاجَّةِ الْمُشْرِكِيْنَ" هم وائی۔ یعنی د مشرکانو سره بحث مباحثه ده۔ امام قرطبیؒ وائی : هٰذِهِ السُّوْرَةُ أَصْلٌ فِيْ مُحَاجَّةِ الْمُشْرِكِيْنَ وَغَيْرِهِمْ مِنَ الْمُبْتَدِعِيْنَ وَمَنْ كَذَّبَ بِالْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ۔ دا سورت د مشرکانو او مبتدعینو او د قیامت او د دوباره ژوند منکرینو په رد کښې بنیادی سورت دے۔ (القرطبی٦/٣٨٣)

یعنی پدے سورت کښې سوال وجواب او مقابله زیاته ده۔ که یو سړے غواړی د مناظرے طریقه زده کړی نو دے سورت ته دے رجوع وکړی۔

د نزول زمانه او فضیلت: د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت شویدے فرمائی :

[نَزَلَتْ سُوْرَةُ الْأَنْعَامِ بِمَكَّةَ لَيْلًا جُمْلَةً وَمَعَهَا سَبْعُوْنَ مَلَكًا يُشَيِّعُوْنَهَا]،

سورة الانعام په مکه کښې د شپے په یو ځل نازل شویدے او ددے سره اویا زره ملائك راکوز شو چه دائے رخصتولو او تولو تسبیح او تحمید وئیلو، نبی کریم ﷺ چه کله دا حالت ولیدو نو سبحان ربی العظیم، سبحان ربی العظیم ئے ووئیل او په سجده باندے پریوتو۔ (الطبرانی فی الکبیر رقم: ١٢٩٣٠ وفی اسناده مقال)

د ابن عباس رضی الله عنهما یو بل روایت دے چه د شپږ (٦) آیتونو نه سِویٰ تول سورت

مکی دے۔ (چه هغه "وَمَا قَدَرُوا اللهَ" درے آیتونه او بل "قُلْ تَعَالَوْا" (۱۵۱) درے آیتونه دی)، په یو ځل په شپه کښې نازل شوے وو او صحابه کرامؓ ټول سورت، شپے لیکلے وو۔
(الدر المنثور والبغوی وابن کثیر)

سُدیؒ د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه کله سورة الانعام نازل شو نو اویا زره ملائك ګیر چاپیره وو۔ حاکمؒ د جابر رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه کله سورة الانعام نازل شو نو رسول الله ﷺ تسبیح ولوستله او وے وئیل چه ددے سورت د نازلیدو په وخت ګیر چاپیره دومره ملائك وو چه د آسمان اُفق (کنارے) ئے ډکے کړے وے۔ حاکمؒ وئیلی دی چه دا حدیث د امام مسلمؒ د شرط مطابق دے۔ (وقال الذهبی واظن هذا موضوعا لان جعفر بن عون لم یدرك السدی اسماعیل، قال الالبانی علته الانقطاع-الضعیفة :٥٦٢٧)

فخر الدین رازیؒ د عقائدو عالمانو دا قول نقل کړیدے چه دے سورت ته دوه فضیلتونه حاصل دی: یو دا چه په یو ځل نازل شویدے، او دویم دا چه دے سره اویا زره ملائك نازل شویدی۔ او ددے وجه دا ده چه پدے کی توحید، نبوت او د عدل الٰهی او: آخرت تذکره ده۔ او د توحید د منکرینو او د ملحدینو د عقائدو او افکارو رد شویدے او ددے نه د اسلام د بنیادی عقائدو د اهمیت اندازه هم کیږی۔

په سنن الدارمی کښې د سیدنا عمر رضی الله عنه نه روایت شویدے چه [اَلْاَنْعَامُ مِنْ نَوَاجِبِ الْقُرْآنِ] سورة الانعام د قرآن لُب لباب (خلاصه او نچوړ) دے۔ (الدارمی: ٣٤٠٢ واسناده موقوفا لجید- حسین سلیم اسد) نواجب: یا په معنیٰ د عزتمند او کرۀ سره دے۔ یا په معنیٰ د خلاصه او نچوړ سره۔ (غریب الحدیث لابن الجوزی٢/٣٩٢)

نو دا سورت ډیر غوره سورت دے خاصکر په باب د دعوت الی الله کښې ډیر ناشنا سورت دے، د یو داعی بنده دپاره ددے نه ډیره فائده اخستلے کیږی، د دعوت طریقے ئے خودلی دی، (قُلْ کلمه پکښې (۲۸) کرته ذکر ده او د مشرکینو، د مخالفینو د الزام (مُلْزَم کولو) دپاره پکښې ډیر دلائل دی، که ددے سورت نه شوك په خپله ژبه کښې انتزاع او استنباط وکړی او هغه دلائل راجمع کړی نو په ښه انداز کښې به د دعوت یو کتاب ولیکلے شی چه د کافرو، مشرکانو او اهل بدعو د اعتراض طریقے او د هغے جوابونه ذکر کوی په لنډ لنډ الفاظو او جملو سره د موجاتو (چپو) په طریقه، لکه وړے وړے چپے چه راځی۔

مناسبت :

۱- مخکی د خاص شرك رد وو چه هغه د نصاراؤ شرك وو نو پدے سورت کښ په عامو مشرکانو رد دے او دلته د هغے په نسبت په رد د شرك کښ تفصیل دے۔

۲- هلته رد د شرك فی التحلیل والتحریم وو او دلته رد د شرك اعتقادی دے۔

۳- هلته د عیسیٰ علیه السلام عجز بیان شو نو پدے سورت کښ بیان د معرفة د الله تعالیٰ دے۔ او دا د توحید د بیانولو غوره طریقه ده چه د مخلوقاتو کمزوری بیانه شی او بیا د الله تعارف بیان شی۔

٤- د آخری آیت سره ئے تعلق دے (وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) یعنی الله تعالیٰ د آسمانونو او زمکے مالك ځکه دے چه هغه آسمانونه او زمکه پیدا کړیدی۔

موضوع د سورت

ددے سورت غالباً دوه لوی موضوعات دی (۱) مشهوره موضوع :

اَلرَّدُّ عَلَى الشِّرْكِ بِجَمِيْعِ أَنْوَاعِهٖ وَعَلَى الْمُشْرِكِيْنَ بِجَمِيْعِ أَصْنَافِهِمْ۔

یعنی پدے سورت کښ د شرك په ټولو اقسامو او د مشرکانو په ټولو ډلو باندے پوره رد دے۔ که هغه شرك عقیدوی دے، که شرك فعلی (یعنی شرك فی التحلیل والتحریم) دے، که شرك فی الدعاء، شرك فی العبادة، او که شرك فی العلم دے۔ (وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ) شرك فی التصرف۔ دغه شان نور قسم شرکونه لکه شرك فی التوکل، (وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا) شرك فی الخوف، شرك فی الرجاء، دارنگه مشرکین بالملائکة، مشرکین بالجن، (وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ)، مشرکین بالعباد الصالحین، مشرکین بالاصنام، مشرکین بالکواکب (لکه په واقعه د ابراهیم علیه السلام کښ) دا ټول پکښ رد شویدی او د هغوی اصلاح ئے کړیده۔ ددے وجه نه پدے سورت کښ (قُلْ) کلمه زیاته ذکر شویده ځکه چه پدے سورت کښ د احتجاج او د مناظرے طریقے ذکر دی۔

(۲) موضوع : چه هغه ډیره اهمه ده او دے سورت ورته ډیره توجه ورکړیده هغه [بَيَانُ تَعْرِيْفِ اللّٰهِ نَفْسَهٗ لِعِبَادِهٖ بِأَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَأَفْعَالِهٖ] الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته خپل تعارف بیانوی په خپلو نومونو، صفتونو او افعالو سره۔ ددے وجه نه د اول نه ئے سورت په (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ) سره شروع کړیدے، چه الله کوم ذات دے؟ هغه په کوم ځای کښ

دے؟ په څه راضي کیږي او په څه ناراضه کیږي؟ دا وپیژنئ۔
لکه ددے تعارف مثالونه وګورئ (هُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ مِنْ طِیْنٍ) (وَهُوَ اللهُ فِی السَّمٰوٰتِ) (قُلْ لِمَنْ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) ﴿ وَلَهٗ مَا سَکَنَ فِی اللَّیْلِ وَالنَّهَارِ﴾ (وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَیْبِ) (وَهُوَ الَّذِیْ یَتَوَفّٰکُمْ بِاللَّیْلِ) (اِنَّ اللهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰی- تهوله رکوع) (قُلْ اَغَیْرَ اللهِ اَبْتَغِیْ حَکَمًا) (قُلْ اَغَیْرَ اللهِ اَبْغِیْ رَبًّا) (وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَکُمْ خَلٰئِفَ فِی الْاَرْضِ) تر آخره پورے د الله په تعارف باندے روان دے۔
که څوك په یو یو آیت کښې سوچ وکړي او په آرام آرام پرے ورشي، نو د الله معرفت به ورته ډیر زیات حاصل شي۔
او د الله د معرفت سره به درے خبرے نورے ملګرے کوي چه هغه هم د الله د تعارف سره متعلق دي (۱) وَمِنْ صِفَاتِهٖ تَعَالٰی اِرْسَالُ الرُّسُلِ :
د الله د صفاتونه یو دا دے چه هغه د بندګانو د اصلاح دپاره رسولان رالیږي نو څوك چه د نبي خلاف کوي، هغه د الله بې ادبي کوي لکه روستو به راشي ﴿ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖۤ اِذْ قَالُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰی بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ﴾ هغه انسانو الله ونهٔ پیژندو او د هغه قدرئے ونکړو چه څوك دا وائي چه الله هیڅ کتاب نهٔ دے نازل کړے۔ او د رسول الله ﷺ شان به بیانوي۔
(۲) وَمِنْ صِفَاتِهٖ اِنْزَالُ الْکِتَابِ (وَاِنْزَالُ الْوَحْیِ) د الله د صفاتونه دا هم ده چه هغه کتابونه او وحي رالیږي۔ (۳) وَاَنْ یُّبْعَثَ الْعِبَادُ بَیْنَ یَدَیْهِ- وَبِعِبَارَةٍ : اِثْبَاتُ الْآخِرَةِ ا۔ او الله تعالیٰ به بندګان راپورته کوي او خپلے مخے ته به ئے ودروي، (یعنی آخرت راتلل حق دي)۔ او دا مکي سورت دے او په مکي سورتونو کښې اکثر د توحید، رسالت، قرآن او قیامت موضوع وي لیکن طرزونه ئے مختلف وي، دلته د الله د تعارف په طرز سره ذکر دي۔
نو دا د دعوت ښه طریقه ده چه داسے وویل شي اول الله وپیژنه بیا د معبودانو کمزوري بیان کړه، او چا چه الله نهٔ وي پیژندلے او د معبودانو کمزوري بیانه کړي نو بیا په مینځ کښې پاتي کیږي، نهٔ د غیر الله شي او نهٔ د الله تعالیٰ، ددے وجه نه د الله تعالیٰ تعارف به په دوه قسمه دلیلونو سره کوي، په عقلي دلیلونو سره او په نقلي دلیلونو سره د انبیاؤ علیهم السلام نه۔
او چونکه د الله تعارف په ټولو مسئلو کښې اهمه او مزیداره او فائده منه مسئله ده او د هر څه نه زیاته ضروري ده، او خلك ترے اکثر غفلت کوي پدے وجه د الله تعارف، د هغه ذات، صفات او د هغه حقوق پیژندل ډیر ضروري دي۔
او پدے وجه په شرك بانديے رد هم شویدے چه کله بنده الله تعالیٰ وپیژني نو د نورو

معبودانو کمزوری به ورته ښکاره شي۔ او ددې وجه نه دې سورت کښې به د الله نومونه او صفات او د هغه افعال (کارونه) هم ډیر ذکر کیږي چه د الله پوره تعارف وشي۔

او پدې سورت کښې عقباتِ سته (شپږ کندہ وونه د داعی دپاره) بیانیږي، چه دا حافظ ابن القیمؒ لیکلی دی او بیا ئے زمونږ مشائخ بیانوی چه په هر داعی د حق باندې (چه د فتنو مقابله کوی) به شپږ عقبات راځي، کله به یو کندوو په داعی راشي په هغې کښې به څه موده ونښلی چه د هغې نه خلاص شي، بیا بل راشي او کله چه د ټولو نه وځی نو بیا د شیطان یو بل جال دے چه هغې ته تَسْلِيْطُ النَّاسِ عَلَى الْمُؤْمِنِ الدَّاعِيْ وائي۔ یعنی شیطان په داعی مؤمن باندې خلك رامسلط کړي چه هغوی راځي او د داعی وخت خرابوی او د الله د بندګئ او د هغه د طاعت نه ئے ورانوی نو دا اوه عقبات شو۔

ددې نه معلومیږي چه داعی به ډیر لوی همت ساتی او داسې تکلیفونو ته به ځان نیسی هله به کامیابیږي او داسې به نهٔ وی چه اول نه به ورته څوك غاړې ته هارونه اچوی بلکه د خلکو دشمنیانی او خبرې او مناظرې او بدنامې لګول او ریوټونه کول، د علاقې خلك وربانـدې راجمع کول دا ټول بـه کیږي۔ او کـه څوك حق نهٔ بیانوی نو هغوی تـه خیر وخلاص، هیڅ تکلیف نشته او د حق په بیان کښې ضرور دا کارونه راځی نو پدې سورت کښې داعی، حق بیانولو ته ډیر مضبوط تیاروی۔

د مکې په مشرکانو کښې درې مرضونه وو (۱) د الله سره شریکان جوړول۔

(۲) د الله لقاء (ملاقات) نهٔ منل۔ (قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَاءِ اللّٰهِ)۔

(۳) د رسالت نهٔ منل چه د بندګانو نه دِے یو تن د الله رسول جوړ شي، او هغه دِے د عامو انسانانو په شان وی، د دوی عقیده دا وه چه که رسول راځی نو پکار ده چه هغه خوراك څکاك نهٔ کوی، د هغه سره خزانې وی، په هغه باندې هیڅ تکلیف نهٔ راځی۔ نو پدې سورت کښې به ددې درې واړو خبرو تفصیلی بیان کیږي۔

حاصل د یو رکوع

پدې کښې الله تعالىٰ لنډې لنډې خبرې کړیدی چه دې ته بعض علماء مَوجات (چپې) وائي، اول ئے خپل حمد او خپل تعارف بیان کړیدے په درې قسمه دلیلونو سره چه عُلوِی، سفلی او وَسَطِی دی۔ بیا ئے په کافرانو رد کړیدے چه الله دومره لوی ذات دے او بیا هم کافران د الله سره برخه داران جوړوی۔ بیا په (۲) آیت کښې ئے خپل قدرت بیان کړیدے او په

(۳) آیت کښې د الله د علم بیان دے۔ او (٤) آیت کښې زجر دے معرضینو ته ددے دلائلو نه۔ او د زجر طریقه دا ده چه که اعراض کوئ نو د الله د عذاب انتظار وکړئ.
بیا (٦) آیت کښې د عذاب او هلاکت مثال ئے راوړیدے او دے ته تخویف دنیوی وائی۔ بیا (۷) کښې د مشرکانو په وحی باندے اعتراض او د هغے جواب۔ بیا (۸) آیت کښې بیا اعتراض دے په وحی او د هغے جواب۔ بیا (۱۰) کښې رسول الله ﷺ ته تسلی ده چه کله مشرکانو تنګ کړو۔ او ورسره مشرکانو ته زورنه ده چه غرق کیږئ لکه د پخوانو اقوامو په شان۔

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَ
ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دی هغه ذات چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه او
جَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوۡرَ ۬ؕ ثُمَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ یَعۡدِلُوۡنَ ﴿۱﴾
پیدا کړی ئے دی تیارے او رنړا بیا هغه کسان چه کفرئے کړے د رب خپل سره برابر ګنړی مخلوق۔

تفسیر : د کعب الاحبارؒ نه نقل دی چه سورة الانعام په کومه خبره شروع شویدے (چه هغه د الله حمد دے د الله په پیدا کولو) نو پدے باندے تورات هم شروع شویدے (لکه هغے کښې سفر الخلق اول راځی) او سورة هود چه په کومه خبره ختم شویدے ﴿ فَاعۡبُدۡهُ وَتَوَکَّلۡ عَلَیۡهِ وَمَارَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ﴾ نو پدے باندے تورات هم ختم شویدے۔

(سنن الدارمی رقم : ۳٤٠٢) واسناده صحیح الی کعب - حسین سلیم)۔

الله تعالیٰ ددے سورت ابتداء په (الحمد) سره وکړه دے دپاره چه هر کافر او مسلمان آوریدونکی ته دا معلومه شی چه تمام قسم بهترین صفات صرف الله دپاره دی۔ او په هغه خلقو باندے دلیل ثابت شی چه د الله سره غیر شریکان جوړوی۔ او (اَلَّذِیۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ) ئے عقلی دلیل دے پدے خبره چه د الله دپاره تمام بهترین صفات ثابت دی ځکه چه الله داسے لوی کارونه کړیدی چه دا بل هیڅوك نشی کولے۔

او دا د الله تعالیٰ تعارف دے په عقلی دلیلونو سره۔

د حمد پوره تفصیلات په سورة الفاتحه کښې دوباره وګورئ۔

فائده: په حمد ئے شروع وکړه اشاره ده چه الله تعالیٰ په پیدا کولو د مخلوق کښې حمید (ستائیلے شوے) دے، او محمود دے عبث کارئے نۀ دے کړے، نۀ ئے ظلم کړے بلکه کمال ئے

کړی۔

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ : ددې په تفسير کښې امام مسلمؒ د ابو هريره ﷛ يو مرفوع روايت ذکر کړيدې چه [خَلَقَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الْأَحَدِ وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الْأَرْبَعَاءِ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ عليه السلام بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ وَفِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ الْجُمُعَةِ فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ] (صحيح مسلم : ٧٢٣١)۔

الله تعالىٰ د خالى (هفتې) په ورځ خاوره پيدا کړه، او د اتوار په ورځ ئې په هغې کښې غرونه پيدا کړل او د دوشنبې په ورځ ئې ونې پيدا کړې او د سه شنبې په ورځ ئې مصيبتونه پيدا کړل او د چارشنبې په ورځ ئې رڼړا پيدا کړه او د پنجشنبې په ورځ ئې په هغې کښې حيوانات خوارۀ کړل او د مخلوقاتو په آخر کښې ئې د جُمعې د ورځې په آخرى ساعت کښې د مازيګر نه تر شپې پورې آدم ﷺ پيدا کړو۔

دا صرف ترتيب د زمکې د پيدائش دې او د آسمانونو ترتيب په سورة حم السجده کښې راځي۔

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ: دلته جعل بسيط مراد دې چه په معنىٰ د (خَلَقَ) سره دې ځکه چه يو مفعول ته متعدى دې۔

الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْر : واحديؒ وئيلى دى چه په قرآن کښې هر ځاى تيارې او رڼړا معنوى مراد وى سِوىٰ ددې آيت نه چه دلته ظاهرى تيارې او رڼړا مراد دى۔

مګر که معنوى تيارې لکه شرك، کفر، بدعت، جهل وغيره مراد کړې شى هم صحيح ده ځکه چه لفظ ئې احتمال لرى۔

ظلمات او نور اعراض دى او سموات او ارض جواهر او ذوات دى نو الله تعالىٰ د دواړو په پيدائش قادر دې۔

ظلمات ئې جمع راوړه ځکه چه تيارې په اعتبار د اقسامو او افرادو سره ډيرى دى او نُور يو دې۔

ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : دلته (ثُمَّ) د استبعاد دپاره دې او د استبعاد معنىٰ دا ده چه ددې تمامو کائناتى دلائلو باوجود چه د الله په يوالي خالق او مالك کيدو باندې دلالت کوى شرك کول په عقلى توګه هم (د عقل نه) لرې دى، ليکن ددې مشرکانو حال دا دې چه دوى د قطعى کائناتى دلائلو باوجود د الله سره بل خوك شريکان کوى۔

ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : پدې کښې زجر (رټنه) يا د کفارو نه اظهار د ناراضګى ده۔

یَعۡدِلُوۡنَ : عدل په معنیٰ د برابرولو سره دے او دا برابرول په محبت او تعظیم کښې دی.
أَیۡ یَعۡدِلُوۡنَ بِاللّٰهِ غَیۡرَهٗ فِی الۡحُبِّ وَالتَّعۡظِیۡمِ] ځکه چه مشرکانو داسے برابرول نهٔ دی کړی چه هغوی وئیلی وی چه زمونږ لات، منات هم آسمان او زمکه پیدا کړیدی.
دلته (بِرَبِّهِمۡ) متعلق دے د (یَعۡدِلُوۡن) پورے. یا یعدلون د عدول نه دے (اعراض او اوړیدو ته وائی) او (بِرَبِّهِمۡ) د (کَفَرُوۡا) پورے متعلق دے یعنی بیا کوم خلك چه په رب باندے کفر کوی هغوی د الله نه او د حق نه اَوړی او د هغه د دلائلو نه اعراض کوی او بل چا ته توجه کوی.
دلته الله تعالیٰ مشرك ته کافر وویلو ځکه چه د الله د حقیقت نه منکر شو پدے وجه ورته کافر وائی.

هُوَ الَّذِیۡ خَلَقَکُمۡ مِّنۡ طِیۡنٍ ثُمَّ قَضٰۤی
خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو د ختے نه بیا ئے فیصله کړیده
اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّی عِنۡدَهٗ ثُمَّ اَنۡتُمۡ تَمۡتَرُوۡنَ ﴿۲﴾
د نیتے د مرګ او نیته مقرره ده (مخلوق لره) د هغه سره، بیا (هم) تاسو شك کوئ.

تفسیر : دا دویم عقلی دلیل دے. او پدے کښې د شرك د باطلوالی د بیانولو نه روستو د بعث بعد الموت نه انکار کونکو باندے رد کوی. اګرکه د آسمان او زمکے په پیدائش باندے قادر کیدل په بعث بعد الموت باندے د قادریدو غټ دلیل دے، لیکن چونکه د جګړے ځای د انسانانو دوباره ژوندی کول دی، پدے وجه د دوی د ابتدائی پیدائش نه دلیل نیول زیات مناسب شو.
مِّنۡ طِیۡنٍ : ۱- دلته د انسانانو د پیدائش د خاورے نه خودلے شویدے پدے اعتبار سره چه دا ټول د آدم علیه السلام اولاد دے او آدم علیه السلام د خاورے نه پیدا شوے وو. نو ګویا که د هر انسان په پیدائش کښې د آدم علیه السلام د پیدائش جزء موجود دے. ۲- یا پدے اعتبار سره چه هغه نطفه چه په هغے سره انسان موجودیږی هغه د خاورے نه جوړیږی.
او د بعض روایاتو نه معلومیږی چه کله د انسان نطفه رَحِم ته لاړه شی نو یو ملائك هغه په لاس کښې راواخلی او په کوم ځای چه به مری د هغے ځای نه خاوره راواخلی او دے نطفے سره ئے یو ځای کړی نو پدے معنیٰ باندے هر انسان د خاورے نه پیدا شو. (ابو نعیم فی

کتابه عن ابن مسعودؓ- القرطبیؒ)

د دوه اجلونو څه مصداق دے؟

ثُمَّ قَضٰى اَجَلًا : ددے اجل نه مراد مرګ دے۔

وَاَجَلٌ مُّسَمًّى : ۱- نه مراد د قیامت ورځ ده۔ (مجاهدؒ) نو پدے کې دوه قیامته ذکر شو، صغرٰی او کبرٰی۔ او دا غوره مصداق دے۔ ۲-ځینی وائی : اول اجل نه مراد د دنیا عمر دے او (اَجَلٌ مُّسَمًّى) نه مراد د هر انسان عمر دے تر مرګه پورے۔

۳- صاحب د فتح البیان وائی : اول اجل نه مراد مُـدَّةُ الْعُمُرِ الْمَحْتُوْم دے (یعنی د حتمی (مقرر) عمر موده)۔ او دویم اجل نه زیادت په عمر کښ مراد دے چه دا د نیکئ په وجه زیاتیږی نو دواړه د الله سره مقرر دی۔

٤- یا د اول اجل نه مراد د خوب نیټه ده، او د دویم اجل نه مراد مرګ دے، اول قول ظاهر دے۔

مسمی : یعنی الله مقرر کړیده او نوم ئے ورله اخستے دے چه په فلانی کال په فلانی ورځ به وی۔ او د (عِنْدَهٗ) نه مراد دا دے چه د قیامت د ورځے علم صرف د الله سره دے۔ نو د عِنْدَه معنیٰ ده : د الله په علم کښ۔

ثُمَّ : یعنی د ابتدائی پیدائش او د انتهائی پیدائش مشاهده کولو باوجود د بعث بعد الموت په عقیده کښ څنګه شك او شبهه کوئ۔

اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ : ۱-یعنی تاسو د الله په اُلوهیت کښ شك کوئ او هغه سره شرك کوئ۔

۲- تَمْتَرُوْنَ فِي الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ۔ تاسو په دوباره ژوند او راپورته کیدو کښ شك یا جګړے کوئ۔

دا یا د مِرْیَة نه دے په معنیٰ د شك سره، یا د مِرَاء نه دے په معنیٰ د جګړے کولو سره۔ او جګړه هم د شك د وجه نه کیږی۔

وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ط يَعْلَمُ سِرَّكُمْ
او هغه ذات معبود دے په آسمانونو او په زمکه کښ، پوهیږی په پټو ستاسو
وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ﴿۳﴾
او په ښکاره ؤ ستاسو او پوهیږی په هغه څه چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر: دا دریم دلیل دے او دا دلیل د علم د الله تعالیٰ دے۔ چه هغه په هر څه پو هه دے۔
عنوان د آیت: الله تعالیٰ په کائناتو کښې معبود دے او په رازونو او ښکاره او د مخلوقاتو په کسبونو خبردار دے۔
وَهُوَ اللّٰهُ : (هو) مبتداء ده او (الله) ئے خبر دے او الله په معنیٰ د معبود سره دے یعنی دغه الله، الله دے یعنی معبود (لائق د عبادت) دے په آسمانونو او زمکه کښې۔ ټولو آسمانونو او زمکے والائے عبادت کوی، او دوی له پکار دی چه د دغه ذات عبادت وکړی ځکه چه هغه ئے لائق دے۔
او داسے مطلب ئے نۀ دے چه [هُوَ اللّٰهُ مَوْجُوْدٌ فِي السَّمٰوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ] دغه الله موجود دے په آسمانونو او زمکه کښې۔ ځکه پدے سره د نصوصو سره ټکراؤ پیدا کیږی او معنیٰ هم نۀ جوړیږی۔ (ابن کثیرؒ)
سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ : ۱- دے نه مراد اقوال دی که ښکاره وی او که پټ، او (مَا تَكْسِبُوْنَ) نه مراد افعال دی۔ نو تکرار نشته۔ ۲- یا معنیٰ دا ده : هغه الله په زړونو کښې ګرځیدونکو خبرو او د اندامونو په تمامو اعمالو پو هه دے، او انسان چه څه خیر او شر کوی په هغه ټولو پو هه دے۔
د سورة الزخرف په آیت (۸٤) : ﴿ وَهُوَ الَّذِىْ فِى السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَفِى الْاَرْضِ اِلٰهٌ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴾ کښې هم دا مطلب بیان شوید ے۔ جهمیه ؤ ددے آیت نه دلیل نیولے دے چه الله هر ځای موجود دے۔ لیکن اکثرو مفسرینو ددے قول رد کړیدے او وئیلی ئے دی چه الله تعالیٰ په عرش باندے په هغه کیفیت سره مستوی (برابر) دے څنګه چه د هغه د عظمت او جلال لائق دے۔ البته د هغه علم هر شی ته محیط دے او هغه د خپل علم په اعتبار سره هر ځای دے۔
د آیت په صحیح معنیٰ کښې د اهل سنتو مفسرینو ډیر اقوال دی :
(۱) یو قول دا دے چه په آسمانونو او زمکه کښې صرف د هغه عبادت کیږی۔ هغه ته الله وئیلے کیږی او سوا د کافرانو جناتو او انسانانو نه ټول هغه لره د خوف او رجا (امید) په حالت کښې رابلی۔ دا قول ابن جریرؒ او قرطبیؒ غوره کړیدے۔
(۲) دویم قول دا دے چه هغه الله دے چه د آسمانونو او د زمکے د هر شی ظاهر او باطن پیژنی۔ نو پدے کښې به (يَعْلَمُ) متعلق وی د (فِى السَّمٰوَاتِ وَفِى الْاَرْضِ) سره۔ أَیْ وَهُوَ اللّٰهُ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ فِى السَّمٰوَاتِ وَفِى الْاَرْضِ] نحاسؒ وئیلی دی چه دا قول په ټولو کښې

احسن دے۔ (نقله القرطبیؒ وابن کثیرؒ)

(۳) او دریم قول دا دے چه په آسمانونو کښې صرف هغه (الله) دے۔ دے نه روستو نوے جمله ده چه (هغه په زمکه کښې ستاسو ظاهر او باطن پیژنی)۔ (دا قول ابن جریرؒ غوره کړیدے– ابن کثیرؒ)

فائده : هر کله چه د الله تعارف وشو نو په ذهن کښې سوال پیدا شو چه الله ته مونږ څان څنګه ورسوو؟ نو الله فرمائی چه ما وحی رالیږلے، رسول موجود دے د هغوی لاره اختیاره کړه ما ته به راورسیږے۔

تردے ځای پورے دلائل وو اُوس زجر (رټنه) بیانیږی۔

وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ آيَةٍ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾
او نۀ راځی دوی ته یوه نخه د نخو د رب د دوی نه مګر وی دوی د هغے نه مخ اړونکی۔
فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ ۖ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ
پس یقیناً دوی دروغژن کړو حق لره هر کله چه راغلو دوی ته نو زردے چه رابه شی دوی ته
أَنْبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٥﴾
خبرونه (عذاب) د هغے چه دوی د هغے پورے توقے کولے۔

تفسیر : پدے آیت کښې زجر او زورنه ده په درے څیزونو، اعراض، تکذیب او استهزاء۔ او (فَقَدْ كَذَّبُوا) کښې د دنیا تخویف (یره) بیانیږی۔

د مکے کافرانو (او د ټولو کافرانو په) باره کښې وئیلے کیږی چه کله هم دوی ته د الله د طرف نه یوه نخه راځی لکه مخکښې بعض نخے ذکر شوے، نو دوی د هغے نه د عبرت حاصلولو او فائدے حاصلولو په ځای اعراض او انکار کوی۔

آیٰتِ : ددے درے مصداقات دی (۱) الآیات القرآنیة۔ (قرآنی آیتونه) (۲) الادلة الکونیة۔ (کائناتی عقلی دلیلونه) (۳) المعجزات النبویة۔ (د نبی کریم ﷺ معجزات) او ددے نه اعراض یو په دے طریقه دے چه د هغے نه تغافل (غفلت) وکړی۔ (۲) یا ترے انکار وکړی او د هغے پورے توقے وکړی۔

فائده : امام رازیؒ وئیلی دی چه الله تعالیٰ پدے آیتونو کښې د کافرانو احوال په درے مرتبو کښې ذکر کړل، اوله مرتبه اعراض دے چه دوی په دلائلو او بیناتو کښې سوچ او فکر

نکوی، دویمه مرتبه: دوی په دغه دلائلو تکذیب کونکی دی، او دا مرتبه د مخکښ نه زیاته ده ځکه کله اعراض کونکے تکذیب نکوی بلکه د غفلت د وجه نه ئے اعراض کړے وی، بیا کله چه په هغے تکذیب وکړی نو کله د هغه تکذیب د استهزاء حد ته نهٔ وی رسیدلے خو کله چه دے حد ته راورسی نو دے په انکار کښ آخری درجے ته راورسیدو نو الله دلته بیان کړل چه دا کفار په دغه ترتیب سره دے مرتبو ته رارسیدلی دی۔

(نقله فی المنار)

صاحب المنار وائی چه دا آیتونه ښکاره آوازونه کوی په قباحت د تقلید او په ډاګه اعلان کوی چه په آیتونو او د هغے په استدلال کښ نظر او فکر کول واجب دی او پدے خبره چه د حق تکذیب کول او د حق نه محرومیدل د اعراض په وجه کیږی او دا خبره ثابتوی چه د دین اسلام بنیاد په دلیل او برهان باندے دے، نهٔ په شان د هغه دینونو چه هغه په تقلید د احبارو او رهبانو، او رؤساؤ او کاهنانو بناء دے، لیکن مسلمانانو ددے بیان نه روستو څه وکړل؟ اکثر د دوی نه د پخوانو په طریقو روان شو او د خپل دین حجت او دلیل ئے په تقلید د فلان او فلان باندے برباد کړو۔ اه۔

كَذَّبُوا بِالْحَقِّ : د حق نه مراد یا خو قرآن کریم دے، یا د نبی کریم ﷺ مبارك ذات دے۔

پدے آیت کښ د مکے کافرانو ته زورنه او دهمکی ورکړے شویده چه که دوی حق دروغژن ګنړی نو پوهه دِے شی چه ددے تکذیب انجام به دوی ضرور مونده کړی، نو همدغه شان اُوشوه چه د بدر په میدان کښ د ګازرو او مولو په شان پریکړے شو۔

انباء: انباء ۱- یوه معنیٰ ده خبرونه د عذاب۔ ۲- حاصل معنیٰ ئے ده عُقُوبات (سزاګانے) دنیوی او اخروی۔

(مَا كَانُوا) د (ما) نه مراد جنت او جهنم او قیامت راتلل دی۔ یعنی زر دے چه دوی به وینی هغه کارونه چه دوی ورپورے توقے کولے چه دا خو حق او رشتیا دی او الله به دوی ته د دوی دروغ او افتراء بیان کړی نو کله چه د قیامت ورځ شی نو الله به دوی ته ووائی ﴿هٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ﴾ (الطور:۱۴) دا هغه اُور دے چه تاسو به دروغژن ګنړلو۔ (السعدی)

يَسْتَهْزِؤُونَ : پدے کښ اشاره ده چه دوی صرف تکذیب نهٔ دے کړے بلکه ورسره استهزاء ئے هم وکړه۔ ځکه د حق تکذیب په دوه قسمه دے یو د جهالت د وجه نه وی نو دا څه نا څه عذر دے، دویم تکذیب د حق د استهزاء په طریقه وی۔ یعنی حق وپیژنی لیکن بیا هم ورپورے توقے کوی نو دا ډیر لوی جرم دے پدے وجه الله تعالیٰ دلته (يَسْتَهْزِؤُونَ) لفظ

استعمال کړو نهٔ (یُکَذِّبُوْنَ)۔ او دا د کافرو طریقه ده چه د دین او نبی کریم ﷺ او قرآن پورے مسخرے کوی او د هغوی اهانت د خلکو په زړونو کښ کینول غواړی۔

حکمة : داسے آیت په سورة الشعراء (٦/٥) آیت کښ هم راغلے دے لیکن هلته (فَسَیَأْتِیْهِمْ) په سین سره راغلے دے او دلته (فَسَوْفَ) راغلے دے، او شعراء کښ ئے مفعول د (کَذَّبُوْا) حذف کړیدے، ددے حکمة دا دے چه سورة الانعام په نزول کښ مقدم دے په شعراء باندے نو شعراء کښ ئے حواله ورکړیده په انعام باندے، دارنګه سین کښ معنیٰ د قرب ده او سوف کښ د لرِ بعد ده او د شعراء د نزول زمانه هم نزدے ده او د انعام لرے ده۔ (روح المعانی والمنار)

اَلَمْ یَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ
آیا نهٔ ګوری دوی چه څومره هلاك کړیدی مونږ مخکښ د دوی نه قومونه (پیړئ)
مَّكَّنّٰهُمْ فِی الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ
ځای ورکړے وو مونږ هغوی ته په زمکه کښ هغه چه ځای نهٔ دے درکړے مونږ تاسو ته
وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَیْهِمْ مِّدْرَارًا وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ
او راولیږلو مونږ باران په هغوی باندے پرله پسے (په شیبو) او ګرځولی وو مونږ نهرونه
تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ
چه بهیدل به لاندے د هغوی نه نو هلاك کړل مونږ هغوی لره په سبب د ګناهونو د هغوی
وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِیْنَ ﴿٦﴾
او راپیدا کړل مونږ روستو د هغوی نه قومونه نور۔

تفسیر : په دنیا کښ د عقوباتو مثال راوړی چه پخوانو امتونو (عادیانو، ثمودیانو فرعونیانو) نه عبرت واخلئ۔

فرمائی : آیا دے خلقو د هغه قومونو حال نهٔ دے پیژندلے چه د دوی نه مخکښ تیر شویدی چه کله هغوی د الله نه سرکشی اُوکړه نو الله هغوی لره څنګه هلاك کړل، حال دا چه هغه قومونه د مکے د کافرانو نه په شان او شوکت او مرتبه او دبدبه او قوت او جبروت کښ ډیر زیات وو۔ الله تعالیٰ هغوی ته مهلت ورکړو، په هغوی ئے د نعمتونو باران وکړو،

مال او دولت او آل او اولاد او لښکرے او فوجونه او دنیاوی اعتبار سره ئے لوی مقام ورکړو، بارانونه به پرے ډیر راوریدل او نهرونه ئے ورله جاری کړی وو او کله چه هغوی ددے نعمتونو د شکر ادا کولو په ځای په ګناهونو کښ مخکښ لاړل نو آخر هم الله د هغوی د ګناهونو په وجه هغوی راونیول او هلاك ئے کړل او نورو قومونو ته ئے موقع ورکړه۔ مقصد دا دے چه کله ددے قومونو دا حال شو نو الله د مکے کافران هم هلاك کولے شی او دارنګه نور۔

قَرْنٍ : [أَيِ الْمُقْتَرِنُوْنَ فِيْ زَمَانٍ وَاحِدٍ] ۔ قرن هغه خلکو ته وائی چه په یوه زمانه کښ موجود وی۔ (المنار)

د قرن د زمانے په تحدید کښ غوره قول دا دے چه دا اویا کاله یا اتیا کالو ته وائی۔ زجاج وائی : قرن هغه اجتماعی حالت ته وائی چه په هغے باندے یو قوم وی، یعنی هغه زمانے والا خلك چه په هغوی کښ نبی وی یا یو عالم وی یا بادشاه وی اګرکه هرڅومره عمرئے وی۔ نو د نوح علیه السلام قوم یو قرن شو اګرکه زر کاله عمرئے اُوږد شوے وو، او قوم عاد یو قرن او قوم ثمود یو قرن او قوم صالح یو قرن دے۔ او همدا قول د قرآن د استعمال سره زیات مناسب دے، او قرن کله په معنیٰ د نفس زمانے سره هم استعمالیږی۔ (المنار)

مَّكَّنّٰهُمْ : که څوك ووائی چه هغوی به پدے وجه هلاك شوی وو چه قدرت او طاقت به ئے نهٔ وو نو الله فرمائی : ما هغوی ته تمکین، (قدرت) او مضبوط ځایونه ورکړی وو۔

د تمکین نه مراد قدرت دے یا مکانات، بنګلے او بادشاهی او مالداری ده۔

مِّدْرَارًا : كَثِيْرًا بِلَا اِضْرَارٍ۔ دا هغه باران دے چه ډیر وی او ضرر پکښ نهٔ وی۔ یا پرله پسے د وخت موافق۔ یعنی باغونه او خوراکونه او میوه جات ئے هم فراخه وو۔

بِذُنُوْبِهِمْ : چه د هغوی لوی ګناهونه شرك او تکذیب د حق وو۔

قَرْنًا اٰخَرِيْنَ : یعنی د مخکنو نه روستو مے نور خلك راپیدا کړل لیکن کله چه هغوی هم تکذیب وکړو نو هغوی هم هلاك شو او سورة المؤمنون (٤٤) آیت کښ دی ﴿ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيْثَ﴾ ۔ یعنی ما وریسے کړل بعضے د بعضو پسے او هغوی مے د خلکو دپاره د عبرت قصے جوړے کړے۔

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ
او که نازل کړے وے مونږ په تا باندے کتاب (په یو ځای) په کاغذونو کښ

فَلَمَسُوْهُ بِأَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ
نو مسه کړے وے دوی هغه په لاسونو خپلو، خامخا وئیل به هغه کسانو
كَفَرُوْآ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷﴾
چه کفرئے کړیدے نۀ دے دا مگر جادو دے ښکاره۔

تفسیر: دلته نه د مشرکانو اعتراضات شروع کیږی۔

دا د تکذیب بالحق یو صورت او محسوس نمونه او مثال بیانوی، د دوی د سخت تکبر حال دا وو چه دوی به رسول الله ﷺ ته ویل چه ته دا قرآن په یادو لولے نو کیدے شی چه دا ته د ځان نه جوړوے، یا به کوم پیرے درته دا ښائی لکه دوی به بار بار داسے قسم اشکالات په رسول الله ﷺ باندے کول ځکه چه څوك حق نۀ منی نو هغوی له د اعراض ډیرے بهانے ورځی، کله به وائی دا وښایئ او دا وښایئ نو د دوی یو اشکال دا وو چه که الله په خپل رسول باندے په کاغذ باندے لیکلے شوے یو کتاب نازل کړے وے او د بره نه دوی راروان لیدلے وے، او بیا دوی هغے له په خپلو لاسونو گوتے وروړے وے او پو هه شوی وے چه دا واقعی په کاغذ باندے لیکلے شوے کتاب دے۔ نو الله فرمائی: بیا به هم دوی په کبر او عناد کښې راتللے او دا به ئے وئیلے چه دا خو ښکاره جادو دے، داسے څنگه کیدے شی چه الله تعالیٰ د آسمان نه لیکلے شوے کتاب نازل کړی !!۔ ددے وجه نه ددوی تعنتی اعتراضاتو جوابونو ته هم حاجت نشته، خپل کار به کوی لکه ډیر مجرمان اُوس په اهل حقو اعتراض کوی چه نیا په قرآن او حدیث کښې وښایه، کله به وائی میخه پکښې وښایه۔ د هغه دا مطلب نۀ دے چه په نکاح کښې د نیا حلالوالے او حراموالے معلوم کړی بلکه ستا غلے کول ئے مطلب دے او قرآن او حدیث سپکوی نو دوی ته جوابونه ورکول نۀ دی پکار۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه د محسوس دلائلو د لیدلو باوجود د دوی دا استکبار داسے دے لکه چه الله د دوی په باره کښې د سورة حجر په آیتونو (۱۵/۱٤) کښې فرمایلی دی: ﴿وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ لَقَالُوْا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ﴾ چه ((که مونږ په دوی باندے د آسمان یوه دروازه راکولاوه کړو او دوی په هغے کښې ختل شروع کړی نو بیا به هم وائی چه زمونږ سترگے بندے کړے شویدی بلکه مونږ باندے جادو شویدے))۔ او په سورة الطور آیت (٤٤) کښې فرمایلی دی: ﴿وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ

السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ﴾ (او که دوی د آسمان نه راپریوتے ټکړه هم ووینی نو وائی به چه دا خو لاندے باندے وریځ ده)۔ یعنی د دوی د کبر او عناد حال دا دے چه انتهائی درجه ښکاره نخو لیدلو باوجود به هم دوی د خپل زړهٔ منلے تاویل کوی۔ لیکن دوی د الله د طرف نه د رشد او هدایت په دلائلو منلو سره په الله او د هغه په رسول ایمان نهٔ راوړی۔ (تفسیر ابن کثیر)

فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ : لمس بالید کنایه ده د ښکاره لیدلو نه په خپلو سترګو۔

لَقَالَ الَّذِيْنَ : ځکه چه څوك عنادی شی نو هیڅ قسم دلیل هغه لره فائده نهٔ ورکوی۔

سِحْرٌ : یعنی دا کتاب جادو دے ځکه چه اثر پکښې دے او د جادو په ذریعه راخکته کړے شوید ے۔ یا سحر په معنیٰ د کذب او باطل سره دے یعنی دا باطلے خبرے دی۔

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا
او وائی دوی ولے نهٔ شی نازلیدے په دهٔ ملائك او که مونږ نازل کړو ملائك
لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ﴿۸﴾
خامخا فیصله به وشی د کار د دوی، بیا به دوی له مهلت نشی ورکیدے۔

تفسیر : د دوی بل اعتراض : چه الله دِے یو ملائك راولیږی او هغه دِے خلکو ته بیان وکړی چه دا د الله رسول دے نو بیا به ئے مونږ ومنو۔ لکه سورة فرقان (۷) آیت کښې دی : ﴿فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا﴾۔ چه هغه ملائك خلکو ته یره ورکړی چه که ددهٔ خبره مو ونهٔ منله نو هلاکیږئ۔

دارنګه دویم اعتراض : چه بشر رسول رالیږی نو ملائك چه نُور دے هغه ولے رسول نهٔ رالیږی؟ نو دلته ددے دواړو خبرو جواب بیانیږی۔

الله ورته جواب کوی : چه د الله اصول دا دی چه کله ملائك رسول راولیږی او د هغه خبره څوك ونهٔ منی نو سمدست عذاب نازلوی او مهلت نهٔ ورکوی۔ ﴿مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ﴾ (الحجر : ۸) یعنی (ملائك مونږ په عذاب سره رالیږو او په دغه وخت کښې به دوی ته مهلت نهٔ ورکړے کیږی)

او که په دوی باندے سمدست عذاب راشی نو بیا خو نظام خرابیږی، پدے وجه الله تعالیٰ بندګان په امتحان کښې اچولی دی ځکه چه په دوی کښې روستو څه نیکان خلك پیدا

کیږي نو څکه ورله دا مشران نهٔ ختموي۔
لَّقُضِيَ الْأَمْرُ : فیصله به وشي د کار د دوي یعنی هلاك به شي۔
لَا يُنظَرُونَ : د نَظِرَةٌ نه دے په معنیٰ د مهلت سره۔

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا
او که چرته گرځولے مونږ دا رسول ملائك خامخا گرځولے به وو مونږ هغه لره سړے (په شکل کې)
وَّ لَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ﴿٩﴾
او خامخا شك به راوستے وے مونږ په دوي باندے هغه چه اُوس دوي شك کوي۔

تفسیر : دا د دویم سوال جواب وو چه همدغه ملائك دِے رسول راولیږلے شي؟ نو الله فرمائي : که ما دغه رسول ملائك جوړ کړے وے نو هغه ته به ئے بیا شکل د سړي ورکولے (بشر متشکل) به وے، نو هغه به خلکو ته وئیلے چه اے خلکو ! زهٔ د الله رسول یم او زهٔ په حقیقت کښې ملائك یم، نو خلکو به ورته ویل چه ته څنګه ملائك ئے ستا خو پوزه خوله او اندامونه دي، او خوراك څکاك کوے، نکاح کوے، نو بیا به په دوي باندے نور هم ډیر گډوډوالے راغلے وے د هغے نه هم زیات چه دوي اُوس په ځانونو باندے په زوره گډوډوالے راوستے دے څکه چه دا قانون دے چه په حق او اهل حقو باندے اعتراضاتو کولو سره انسان په دین کښې گډوډ کیږي او شکونه ئے زیاتیږي۔ او ځان ته په زوره د حق لاره بندوي لکه دے آیت کښې فکر وکړه۔
او که هغه په خپل ملائك کیدو باندے د قرآن یا کومے معجزے نه دلیل نیولے نو دوي به دوباره دروغژن کولے لکه څنګه چه دوي نبی کریم ﷺ دروغژن کړیدے۔
وَّ لَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ : یعنی دوي خو اُوس ځانونه په تلبیس (گډوډوالی) کښې اچولی دی او په هغه وخت کښې به ما دوی په گډوډوالی کښې اچولی وے څکه چه ملائك به په شکل د انسان وے او ځان ته به ئے ملائك وئیلے نو خلکو به نهٔ منلے چه ستا دعوه غلطه ده نو په هغه وخت کښې به تلبیس به زیات وے۔
لبسنا : د لَبَسَ يَلْبِسُ لَبْسًا نه دے په معنیٰ د گډوډوالي او تلبیس سره۔ او لُبْسًا د سِمَعَ باب نه په معنیٰ د جامو اغوستلو سره دے، هغه دلته نهٔ دے مراد۔
وَلَلَبَسْنَا فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ مَا يَلْبِسُوْنَ الْآنَ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ ۔ په دغه وخت کښې به مونږ په دوی

باندے هغه تلبیس راوسے وے کوم چه دوی اُوس په ځانونو باندے راوستے دے۔ نو په دے آیت کښ د انسانانو نه د رسول رالیږلو حکمت بیان شو نۀ د ملائکو نه۔

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ
او یقیناً توقے کړے شویدی په ډیرو رسولانو پورے مخکی ستا نه نو راګیر کړل
بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾
هغه کسانو لره چه توقےئے کولے د دوی نه (عذاب) د هغه څه چه دوی ورپورے توقے کولے۔

تفسیر : په دے اعتراضونو سره به رسول الله ﷺ ته څومره تکلیف رسیدلے وی چه دا صرف داعی شخص محسوس کولے شی نو پدے وجه پدے آیت کښ الله تعالیٰ یو رسول الله ﷺ تسلی ورکوی او بل دغه مجرمانو ته دهمکی ده چه تاسو به د خپلو توقو انجام ووینئ۔

نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړے کیږی چه که ستا قوم تا پورے توقے کوی نو دا څه د تعجب خبره نۀ ده، ستا نه مخکښ انبیاؤ (علیهم السلام) سره هم د هغوی قومونو داسے سلوك کړے وو نو په دنیا کښ د ذلت او رسوائی سره هلاك کړے شو، او په آخرت کښ دردناك عذاب د هغوی انتظار کوی۔ پدے آیت کښ نبی ﷺ او مؤمنانو دپاره په دنیا کښ د مدد او فتح وعده او په آخرت کښ د ښائسته انجام زیرے هم دے۔ نو همدغسے اُشوه چه ذلت او رسوائی او قتل او هلاکت د مکے کافرانو قسمت جوړ شو۔ او نبی کریم ﷺ او مسلمانانو ته عزت او غلبه نصیب شوه۔

مِّنْ قَبْلِكَ : نو دلته وقف دے یعنی هغوی صبر کړے وو نو تۀ به هم صبر کوے۔

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ : (ماکانوا) دا فاعل د (حَاقَ) دے۔ او حاق معنیٰ ده نازلیدل او راګیرول۔ او په (ماکانوا) کښ مضاف پټ دے۔ أَيْ عَذَابَ مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ۔ یعنی عذاب د هغه شی چه دوی د هغے پورے توقے کولے چه هغه رسولان او کتابونه دی۔ یعنی د رسولانو او معجزاتو پورےئے توقے کولے نو د هغے عذاب پرے راغلو۔ یا د (مَا) نه مراد خپله عذاب دے یعنی پیغمبرانو به دوی ته د عذاب دهمکی ورکوله نو دوی به د دغه عذابونو پورے توقے شروع کړے نو دغه عذاب دوی لره راګیر کړل د کوم پورے چه دوی توقے کولے۔

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾
تهٔ ووایه وګرځئ په زمکه کښې بیا وګورئ چه څنګه وو انجام د تکذیب کونکو (حق لره)

تفسیر: مضمون : پدے آیت کښې د عبرت اخستو امر دے، بیا (۱۲) آیت کښې څلور خبرے ئے بیان کړیدی چه هغه د مخکښې مضمون سره متعلق دی۔ بیا (۱۳) آیت کښې د الله تعارف دے۔ بیا (۱٤) کښې رد په شرك او د مشرکانو په دعوت باندے چه هغه د غیر الله عبادت دے۔ تر (۱٦) آیت پورے، بیا په (۱۷، ۱۸) آیت کښې د مشرکانو د معبودانو کمزوری او الله خپل طاقت بیانوی۔

قُلْ : دا جواب د سوال دے چه کوم خلك الله تعالیٰ هلاك كړیدی چه هغوی به استهزاء كوله نو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته ووېل چه كه د مکے کافران په قرآن کښې د ذکر شوی قومونو په واقعاتو کښې شك کوی، نو ته ورته اُووایه چه په زمکه کښې وګرځئ او د انبیاؤ دروغژن کونکو قومونو حال معلوم کړئ چه څنګه الله هغوی هلاك كړل۔ په تیر شوی آیت کښې نبی کریم ﷺ ته چه کومه تسلی ورکړے شویده ددے دا تتمه ده او ددے خبرے تاکید دے چه ددے کافرانو انجام به هم د مخکنو په شان وی۔ نو د الله دا وعده د بدر په میدان کښې پوره شوه۔ دارنګه په نورو مواقعو کښې هم۔

سِيْرُوْا : سیر دوه قسمه دے یو په قدمونو باندے ګرځیدل، او بل په عقول او فکر کولو سره یعنی سوچ وکړئ او تاریخ مطالعه کړئ۔ (معالم التنزیل للبغوی ۳/۱۳۰)

ثُمَّ انْظُرُوْا : یعنی په سترګو به ئے هم وینئ چه شام، اردن او یمن ته ورشئ، ډیر اقوام مکذبه پراته دی۔ او نظر نه مراد سوچ او فکر کول هم دی۔

عَاقِبَةُ : عاقبة (انجام) څکه ذکر کوی چه کافر اول کښې په مزو کښې وی لیکن روستو تباه شی، د تکذیب او کفر انجام خراب وی۔

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط قُلْ
تهٔ ووایه ! چا دپاره دے اختیار د هغه څه چه په آسمانونو او زمکه کښې دی، تهٔ ووایه !
لِّلّٰهِ ط كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ط لَيَجْمَعَنَّكُمْ
خاص الله لره دے، لازم کړیدے هغه په خپل نفس باندے رحم کول خامخا راجمع کوی به تاسو لره

اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ ؕ اَلَّذِيۡنَ خَسِرُوۡٓا
ورځ د قيامت ته، نشته هيڅ شك په هغې كښې، هغه كسان چه تاوان كښې ئې اچولى دى
اَنۡفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۲﴾
ځانونه خپل پس دوى ايمان نۀ راوړى.

تفسير : پدے آيت كښې د الله د قدرت بيان دے په تعذيب (عذاب وركولو) د مشركانو. بـل بيان رحمت د الله تعالىٰ دے، دريم اثبات د ورځے د قيامت، او څلورم بيان د عناد د كافرانو دے، چه دا ټولے د يو بل سره تړلى خبرى دى.

ربط :

الله تعالىٰ ستاسو په عذاب قادر دے داسے مۀ وايئ چه مونږ زورور او طاقتور يو.

او دا اوله جمله دليل عقلى اعترافى سكوتى دے يعنى چه تۀ ورته ووائے چه د زمكے او د آسمانونو مالك څوك دے؟ نو هغوى به غلى شى ځكه چه دے كښې به هغوى څه ووائى نو الله تعالىٰ خپل نبى ته وائى چه ته ورته جواب وركړه چه دا د الله دى، د الله نه سِوىٰ بل څوك كيدے شى، نو هركله چه ټول كائنات د الله دى، نو آيا هغه پدے قادر نۀ دے چه په تاسو باندے آسمان راگوزار كړى يا د بره نه عذاب راولى، يا تاسو زمكے ته راكاږى.

كَتَبَ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ : د مخكښې خبرے نه هيبت پيدا شو نو اُوس د الله د رحمت بيان كوى دپاره د رجاء (اميد) پيدا كولو. او دا هم جواب د سوال دے چه الله پدے خلكو باندے سمدست عذاب ولے نۀ راولى؟ نو جواب وشو : كتب على نفسه الرحمة. الله په خپل ځان باندے رحمت ليكلے دے. ❁ او د الله د رحمت نه يوه دا ده چه هغه بندگانو ته په جلتئ عذاب نۀ وركوى، يو مشرك او كافر بـه سل كاله كفر او شرك كوى الله به ئے نۀ هلاكوى نو دا د الله مهربانى ده په هغه باندے، ورنه په يوه ورځ كښې به هلاك شوے وے.

❁ دارنگه د الله رحمت دا هم دے (تَوۡبَةُ مَنۡ يَّتُوۡبُ) كه څوك توبه وباسى نو هغه ورله توبه قبلوى او شرك ورته معاف كوى. ❁ او دا رحمت الله تعالىٰ د ايمان والو دپاره په خپل ځان ليكلے دے چه جنت ته به ئے داخلوى.

❁ او ددے رحمت صفت تقاضا وه چه الله انسانانو ته فطرتِ سليمه وركړو، خپل معرفت او توحيد طرف ته ئے د هغوى لارخودنه وكړه، انبياء عليهم السلام ئے راوليږل او كتابونه

ئے نازل کړل۔ په صحیحینو کښې روایت دے : ((الله فرمائی : اِنَّ رَحۡمَتِیۡ سَبَقَتۡ غَضَبِیۡ) بیشکه زما رحمت زما په غضب باندے غالب دے))۔ (صحیح بخاری :۷٤۲۲)

كَتَبَ عَلٰى نَفۡسِهِ : کتب کې معنیٰ د لزوم پرته ده۔

نو دلته وقف دے بل سوال پیدا شو چه هرکله الله تعالیٰ خپل ځان باندے رحمت ولیکلو نو دوی دپاره به هیڅ ځاې کښې عذاب نهٔ وی؟ نو الله وفرمایل:

لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ : یوه ورځ به راځی چه الله تعالیٰ به مجرمانو ته پکښې سزا ورکوی۔ نو مجرمانو له په تاخیر د عذاب باندے (کوم چه اُوس رحمت دے) دهوکه کیدل نهٔ دی پکار، قیامت کښې به ئے ورکوی، ولے که مجرم ته سزا ورنکړے شی، نو دا د الله د عدل او حکمة خلاف ده۔ نو اُوس خو تاخیر د عذاب د دوی دپاره رحمت دے لیکن عذابونه د دوی د بدو اعمالو په نتیجه کښې د دوی په انتظار کښې دی۔

او دا لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ د مخکښې (لِمَنۡ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ) سره هم لګی چه هرکله هرڅه د الله دی نو الله پدے قادر دے چه قیامت راولی، هیڅوك منع کونکے ئے نشته۔

دا رنګه د كَتَبَ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ سره ئے تعلق دے چه کمال رحمت د الله تعالیٰ به په قیامت کښې راښکاره کیږی لکه حدیث کښې دی چه الله تعالیٰ سل رحمتونه پیدا کړل یو ئے د هغے نه دنیا ته نازل کړو۔ الحدیث۔ (بخاری ٦۰۰۰ ومسلم)

اَلَّذِيۡنَ خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ : ددے جملے څه مطلب دے چه کوم کسان ځان په تاوان کښې واچوی نو ایمان نهٔ راوړی؟ دے کښې دوه بعید تفسیرونه شویدی او یو ظاهر دے،

(۱) خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ بِالشِّرۡكِ (خازن) یعنی چه ځان مشرکان کړی نو بیا ایمان نهٔ راوړی۔ لیکن دا معنیٰ هم سمه نهٔ برابریږی ځکه چه ډیرو مشرکانو ځان په شرك سره په تاوان کښې اچولے وو او بیا ئے هم ایمان راوړو۔

(۲) ځینی وائی : [خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ فِیۡ عِلۡمِ اللّٰهِ] (المنار) یعنی کوم کسان چه د الله په علم کښې تاوانیان دی نو هغوی ایمان نهٔ راوړی، او څوك چه د الله په علم کښې تاوانیان نهٔ دی نو هغوی ایمان راوړی۔ ددے خبرے لره فائده شته چه پدے دلائلو به بعض کسان ایمان راوړی او بعض نهٔ، لیکن ډیره فائده ئے نهٔ ښکاره کیږی۔

(۳) ظاهر تفسیر دا دے چه دلته د خسران نسبت دوی ته شویدے چه دوی ځانونه په تاوان کښې اچولی دی [خَسِرُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ بِزَوَالِ الۡفِطۡرَةِ وَالۡعَقۡلِ السَّلِيۡمِ وَالۡاِسۡتِعۡدَادِ الۡقَرِيۡبِ بِمُشَاهَدَةِ الرَّسُوۡلِ وَذٰلِكَ بِالۡعِنَادِ] یعنی دے خلکو ځان په تاوان کښې واچولو چه فطرت او

روغ عـقـل او نـزدے استـعـداد او قابلیت چه د رسول الله ﷺ په لیدلو سره حاصلیدو هغه دوی زائـل کـړو پـه ضـد او عـناد سره، نو دوی ددے تولو څیزونو په ذریعه بیخی هدایت ته نـزدے وو چـه فطرت او عقل سلیم ئے لرلو او د رسول الله ﷺ معجزات ئے لیدل لیکن ضد کـښې راغلل نو دغه څیزونه ترے زائل شو نو هدایت ته ونۀ رسیدل نو ځکه ایمان نۀ راوړی چـه ذرائـع د ایـمـان ئـے ختم کړل. نو لنډ مطلب دا چه عناد سبب د عدم ایمان د دوی دے. او دغه تاوان دے په خپل لاس.

عـلامه محمد رشید رضا وائی : فَـمَـنْ خَسِرَ نَفْسَهُ بِالتَّقْلِيْدِ لَايَنْظُرُ وَلَايَسْتَدِلُّ حَتّٰى يَهْتَدِيَ اِلَى الْاِيْمَانِ. څـوك چـه پـه تقلید کولو سره ځان په تاوان کښې واچوی نو هغه سوچ او فکر نـۀ کوی او نۀ دلائلو ته ګوری دے دپاره چه ایمان ته لاره ومومی. نو که دے چرته وګوری او حق ورته په دلیل سره ښکاره شی نو د ارادے د ضعف نه روستو دے کینی او د ملامت ګرو د ملامتیا برداشت ونکړے شی. (تفسیر المنار ٧/٢٧٤)

وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ
او خاص د هغه دپاره هغه څه دی چه آرام کوی په شپه کښې او (خوریږی) په ورځ کښې
وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣﴾
او هغه هرڅه آوری، په هر څه پوهه دے.

تفسیر : دا د الله د تعارف بل دلیل دے،

سَكَنَ : د سکون نـه هم دے پـه مـعنیٰ د آرام سره او د سکنیٰ نه دے په معنیٰ د وسیدو سره. مَـا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ : نـه مـراد تـول عالَم دے. نو پدے کی د الله تعالیٰ د پوره تـصـرف او مـلـکـیت بیـان دے. په اوله معنیٰ باندے ځینی مفسرین دلته (والنهار) سره یو قیـد پـټ راوباسی [أَیْ وَنَشَـرَ فِي النَّهَارِ] یـعـنـی خـوریـږی په ورځ کښې، دلیـل پرے د سورة الفرقان آیت (٤٧) دے ﴿ وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴾. او ځینی وائی چه تقدیر ته حاجت نشته او کـه کـلام په خپل ظاهر پریخودے شی هم صحیح ده، ځکه چه مَا سَكَنَ تول مخلوقات ته شـامـل دے ځـکـه چه هیڅ مخلوق داسے نشته چه هغه ته سکون نۀ وی حاصل تردے چه متحرك په حالت د حرکت هم متصف کیږی په سکون لکه چه دا خبره تحقیق شویده چه تفاوت د حرکاتو په سرعت او بطوء سره پدے وجه دے چه په مینځ کښې سکنات کم یا زیات

وی۔ (القاسمیؒ)

بیا مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ په (مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ) کښې داخل وو نو دوباره ئے ددے تصريح ولے وکړه ؟ نو وجه دا ده چه پدے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ تصرفات په پټو څیزونو کښې هم شته اګرکه هغه چا ته په سترګو نهٔ ښکاره کیږی ددے وجه نه ئے د شپے ذکر مخکښې راوړو، او (نهار) ئے پرے عطف کړو دپاره د تکمیل د خبرے۔ (المنار)

دارنګه مخکښې ما فی السموات والارض کښې مکان او مکانیات ته اشاره وه او په ذکر د لیل او نهار کښې زمان او زمانیات ته اشاره ده، نو الله د دواړو مالك دے۔ (قاله ابومسلم الاصفهاني-محاسن التاويل للقاسمي)

السَّمِيْعُ : يعني د پټو خبرو آوريدونکے دے هرڅومره چه پټې وی۔

قُلْ أَغَيْرَ اللهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
تهٔ ووايه ! آيا سوئ د الله نه ونيسم بل دوست، چه پيدا کونکے دے د آسمانونو او د زمکے
وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ قُلْ اِنِّيْ اُمِرْتُ
او هغه خوراك ورکوی او هغه ته خوراك نشي ورکيدے، تهٔ ووايه! يقيناً حکم کړے شويدے ما ته
أَنْ أَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۴﴾
ددے چه زهٔ شم اول د هغه چا نه چه تابع دی (الله تعالیٰ ته) او مهٔ کیږه د مشرکانو د ډلے نه۔

تفسیر : دا بله طریقه د تعلیم ده او د مشرکانو د دعوت رد دے، هرکله چه مشرکان د رسول الله ﷺ د دعوت نه تنګ راغلل نو هغه ته ئے (په ډيرو دعوتونو کښې يو) دا درخواست وړاندے کړو چه [هَلُمَّ نَعْبُدُ اِلٰهَكَ سَنَةً وَتَعْبُدُ آلِهَتَنَا سَنَةً] راځه چه مونږ ستا د اله يو کال بندګی وکړو او يو کال به ته زمونږ د آلهو بندګی کوے نو جوړه به مو راشی۔

او دا ئے هم ووېل چه زمونږ ددے آلهو لږ شان صفت وکړه هم زمونږ جوړه راځی ﴿لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيْلًا﴾ نو قرآن کريم کښې الله تعالیٰ خپل نبی ته بار بار وائی چه د مشرك دعوت به نهٔ منے، هغوی ته به هيڅ قسمه ميلان نکوے اګرکه دا توله دنيا پدے جوړيږی يا ورانيږی، پدے کښې به د هيچا لحاظ نهٔ کوے ځکه چه پدے کښې د الله بی ادبی ده او د الله د بی ادبئ دپاره به د هيچا لحاظ نهٔ کيږی، د مصلحت دپاره به هم نهٔ کيږی، ورنه رسول الله ﷺ داسے کولے شو چه د دوی د معبودانو لږه موده صفت ئے کړے وے او بيا ئے

پـښتنې پـه آرام آرام کار شروع کړے وے لکه بعض خلك داسے کار کوی چه د مشرکانو سره ځـان مشرك کړی او د غیر الله نذرونه وخوری، او بیا وائی چه مونږ ورته دعوت ورکوو، دا د صـوفیـانـو دعـوت دے او اسلامـی دعـوت دا دے چه پـه مـنکراتو کښې به د هیڅا سره نهٔ شریك کیږی، آیا دوی د رسول الله ﷺ نه زیات مصلحت پیژندونکی دی، رسول الله ﷺ دا هم کولے شو چه ټول فضائل ئے بیانولے مگر هغه د فضائلو سره د توحید نه شروع وکړه، د خـلکو زړونه ئے وچول ﴿فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ﴾ او پـدے بـانـدے الله خوشحالیدو هغه حکیم ذات دے ځکه ئے خپل نبی ته داسے حکمونه کړی وو۔

اَتَّخِذُ وَلِيًّا : د ولـی نـه مـراد معبود دے چه هغه سره د عبادت دوستی کیږی، ورنه د هر مؤمن په بندګانو کښې ولی شته چه هغه د الله رسول او نور مؤمنان دی۔

او داسے مـضـمـون پـدے سورت کښې درے کرته راغلے دے﴿ اَتَّخِذُ وَلِيًّا﴾ ﴿أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡتَغِي حَكَمًا﴾ (١١٤) آیت ﴿أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِي رَبًّا﴾ (١٦٤) آیـت۔ نو معلومه شوه چه د الله نه ما سوئ نهٔ ولـی شتـه، نـهٔ حَـکـم (فیـصله کونکے) او نهٔ رب۔ یعنی اے مشرکانو! تاسو ما ته عاجز مخلوق راښایئ چه هغه زهٔ معبود جوړ کړم او لوی خالق د آسمانونو او زمکو پریدم۔

وَهُوَ يُطۡعِمُ : یـعـنـی ستـاسـو مـعبـودان خوراکیان دی او الله غنی ذات دے، پدے دواړو صفتونو کښې اشاره ده چه الله خالق هم دے او غنی هم، او ستاسو معبودان نهٔ خالقان دی او نهٔ غنیان۔ نو لوئی الله راباندے پریدئ او کمزورو پسے مو روانوئ۔

لـکـه بعض خلك مونږ د کتاب او سنت نه اړوی او بل طرفته دعوت راکوی او د هغه چا پسے مـو روانـوی چه نهٔ الله خودلے دے او نهٔ رسول الله ﷺ او نهٔ ئے کتاب شته او نهٔ ئے پوره تاریخ، بنه نو تاسو مونږ څه پسے روانوئ؟۔

وَلَا يُطۡعَمُ : پدے کښې اشاره ده چه الله خوراك ته حاجت نهٔ لری اوکه والدین بچو ته یا نور خـلك چا ته خوراك ورکړی، نو هغه ورته خپله هم محتاج وی۔ لکه داسے په سورة المائده (٧٥) او سورة الذاریات (٥٧) او (٥٨) کښې دی۔

قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ : دا بـلـه طریقه د تعلیم ده، سوال وشو چه توحید منل خو به څه ضروری خبره نـهٔ وی؟ نـو جـواب کـوی چـه دے خبره باندے ما ته د الله د طرفنه حکم شویدے نو دا ضروری حکم دے او دا هم راته وئیل شویدی چه د مشرکانو د ډلے نه مهٔ جوړیږه۔

أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَ : یـعـنـی ما ته دا حکم شویدے چه زهٔ اول هغه شخص جوړ شم چه الله ته په اخلاص سره سر خکته کوی، دے دپاره چه د نورو دپاره غوره نمونه شم۔

قُلْ اِنِّیْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَیْتُ رَبِّیْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿۱۵﴾
ته ووایه! یقیناً زهٔ یریږم که نافرمانی وکړم د رب خپل نه د عذاب د ورځې لوئی نه۔

تفسیر : دا د بل سوال جواب دے هغوی ووېل چه مونږ سره گوزاره وکړه، او که د الله حکم ونهٔ منلے شی نو څه نقصان به وشی؟ نو جواب وشو چه د لوی عذاب یره ده د قیامت په ورځ۔ تاسو سره د جوړ جاړی او د اختلاف د ختمولو غم دے، نهٔ بلکه د الله د عذابونو غم وکړئ۔ نو آیا تاسو چه ما شرك ته رابلئ نو په دغه عذاب مے اخته کوئ۔

مَنْ یُّصْرَفْ عَنْهُ یَوْمَئِذٍ فَقَدْ
هغه څوك چه واړولے شو د هغهٔ نه عذاب په دغه ورځ نو یقیناً
رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِیْنُ ﴿۱۶﴾
رحم وکړو الله تعالیٰ په هغه باندے، او دا کامیابی ده ښکاره۔

تفسیر : اُوس د دغه ورځے هیبت بیانوی چه هغه د ډیرو مشکلاتو ورځ ده په دغه ورځ کښې څوك د عذابونو نه واړولے شو او د جنت په طرف روان کړے شو نو دهٔ باندے خو د الله رحم وشو او لوئی کامیابئ ته ورسیدو۔

مَنْ یُّصْرَفْ عَنْهُ : یعنی چا نه چه عذابونه په دغه ورځ واړولے شو نو کامیاب شو۔

رَحِمَهٗ : أَیْ رَحِمَهُ اللّٰهُ۔ الله پرے رحم وکړو۔

وَاِنْ یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا
او که ورسوی تا ته الله تعالیٰ څه تکلیف نو نشته هیڅوك لرے کونکے د هغے سوئ
هُوَ ؕ وَاِنْ یَّمْسَسْكَ بِخَیْرٍ فَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۷﴾
د الله تعالیٰ نه او که ورسوی تا ته څه خیر نو هغه په هر شی قادر دے۔

تفسیر : دا د الله بل قسم تعارف دے چه الله لکه ښنگه چه فاطر السموات دے نو دغه شان ضررونه لرے کونکے هم هغه دے، نو بیا نورو معبودانو ته څه ضرورت ؟! نو دا دلیل عقلی دے چه د الله نه سوئ هیڅوك حقدار د بندگئ نشته، ځکه چه د نفع او نقصان

مالك صرف هغه دے۔ هغه چه په مخلوقاتو کښې څنګه غواړی تصرف کوی، نۀ څوك د هغه فیصله چیلنج کولے شی او نۀ څوك هغه رد کولے شی۔ په صحیح بخاریؒ کښې دی چه نبی کریم ﷺ به وئیل : ﴿ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَامُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ ﴾ اے الله ! تـه چـه چا لـه څه ورکوے نو هغه هیڅوك منع کولے نشی او ته چه چا نـه منع کړی نو هغه له څوك ورکولے نشی۔ او هیڅ صاحبِ حیثیت ته د هغه حیثیت ستا په مقابله کښې فائده نشی رسولے۔

ددے نه معلومه شوه چه کوم خلك اولیاؤ ته -مړه وی که ژوندی- د نفع او د ضرر په امید رامدد شه چغې وهی نو دوی یقیناً مشرکان دی او دا کارئے شرك او کفر دے۔

يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ : مس لفظ او (ضر) نکره دلالت کوی چه اګرچه ضرر معمولی شان وی د هغے لرے کونکے هم د الله نـه سِوئ بل هیڅوك نشی کیدے۔ ضر نـه مراد بیماری، فقر او غریبی ده۔

وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ : یعنی که الله څه فائده دررسوی، دینی وی که دنیاوی، نو سورة یونس (۱۰۷) آیت کښې دی ﴿ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ﴾ هیڅوك د الله فضل نشی واپس کولے۔

کوم بنده چه دا عقیده وساتی لکه سورة فاطر (۲) آیت کښې دی ﴿ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْ بَعْدِهٖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ که الله دربانده د رحمت دروازه راکولاوه کړه نو څوك ئے بندولے نشی او که هغه ئے دربانده بنده کړی نو څوك ئے کولاوه ولے نشی) ددے عقیدے سره به بنده غنی شی، په مخلوق باندے توکل ختم شی، او د مخلوق مدح او ذم او د هغوی د مال نه طمع ختمه شی، او د الله نه یره پیدا شی چه د خیر او شر مالك خو صرف الله دے۔

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۸﴾
او هغه (الله) زورَ ور دے، دپاسه دے د بندګانو خپلو نه او هغه حکمتونو والا خبر دار دے۔

تفسیر : دا د الله تعالیٰ بل قسم تعارف دے او بل دلیل عقلی دے۔

الْقَاهِرُ : زوروَر۔[اَلْغَالِبُ الَّذِیْ لَایُغْلَبُ وَقِيْلَ هُوَ الْمُنْفَرِدُ بِالتَّدْبِيْرِ، يُجْبِرُ الْخَلْقَ عَلٰى مُرَادِهٖ] (سمعانیؒ والبغویؒ) قاهر هغه غالب ته وائی چه هیچرے نۀ مغلوبه کیږی یا یواځے نظام چلونکے چه مخلوق په خپله اراده باندے مجبوره کوی۔

یعنی په آسمان او زمکه کښې د تمامو مخلوقاتو څښتن هغه ته خکته دی، هغه په هر شی باندې غالبه دې، تمام مخلوقات د هغه د عظمت او جلال او قهر او جبروت اقرار کونکي او د هغه د فیصلې مخې ته مجبور دي۔

فَوْقَ عِبَادِهٖ : فوقیت په درې قسمه دې ذاتاً، وَقَهْرًا وَرُتْبَةً ـ د ذات په اعتبار سره هم د بندګانو دپاسه په عرش باندې مستوی دې، او د غلبې او زور په اعتبار سره، او د مرتبې په اعتبار سره هم۔

قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً ط قُلِ اللّٰهُ قف شَهِیْدٌ بَیْنِیْ وَ
ته ووایه ! کوم شې ډیر لوئې دې په ګواهۍ کښې ته ووایه الله تعالیٰ، ګواه دې په مینځ زما او
بَیْنَکُمْ قف وَاُوْحِیَ اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَکُمْ بِهٖ
په مینځ ستاسو کښې، او وحي شویده ما ته دا دې قرآن دې دپاره چه ویروم تاسو په دې سره
وَمَنْ بَلَغَ ط اَئِنَّکُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ
او هغه چا له چه ورته ورسیږی دا قرآن۔ آیا تاسو ګواهی ورکوئ چه بیشکه
مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰی ط قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ج قُلْ اِنَّمَا هُوَ
د الله تعالیٰ سره د بندګۍ لائق شته ؟ ته ووایه ! ګواهی نهٔ کوم زهٔ، ته ووایه ! یقیناً هغه
اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِکُوْنَ ﴿۱۹﴾
لائق د بندګۍ یو دې او یقیناً زهٔ بیزاره یم د هغې نه چه تاسو شریکان جوړوئ (د الله سره)۔

تفسیر : پدې آیت کښې د قرآن او د رسول الله ﷺ رشتینوالے ذکر دې۔ او دا بله طریقه د تعلیم ده او جواب د سوال دې، د مکې مشرکانو نبی کریم ﷺ نه وویل چه یو داسې سړې راوله چه ستا د نبوت ګواهی ورکړي، ځکه چه اهل کتابو خو ددې د ګواهی ورکولو نه انکار کړیدې۔ نو الله تعالیٰ نبی ﷺ ته حکم اُوکړو چه ته دې کافرانو ته اُووایه چه د الله نه لوی ګواه بل څوک جوړیدې شی، ځکه چه د الله په خبر کښې د دروغو احتمال نشی کیدې۔ او دا قرآن هم زما د نبوت تصدیق کوی چه ددې په شان تاسو راوړو نه عاجز یئ او دا قرآن ددې دپاره نازل شویدې چه اې مکې والو ! زهٔ تاسو او ټول انسانان پدې سره اُویروم۔ دې نه روستو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه ته د مشرکانو د شرک نه انکار

وکړه او ووایه چه تاسو خو د الله سره د نورو معبودانو کیدو ګواهي ورکوئ لیکن زهٔ ددے نه انکار کوم، دے نه روستو الله نبي ﷺ ته حکم وکړو چه هغه صرف د الله د وحدانیت اعلان وکړي او د دروغژنو معبودانو نه بیزاري ښکاره کړي۔

بیا دلته عجیبه دا ده چه الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ په رسالت ګواهي ورکړیده او رسول الله ﷺ د الله په توحید ګواهي ورکړیده، د یو بل ګواه شویدي ځکه چه دا دواړه لازم ملزوم خبري دي۔

مضمون : دے نه روستو دلیل نقلي د اهل کتابو نه ذکر دے په معرفة د الله او په رد د شرك او په صدق د رسالت باندے۔ بیا په (۲۱) آیت کښ وائي چه څوك ضدي دے په هغه باندے دلائل اثر نکوي۔

اَیُّ شَیۡءٍ اَکۡبَرُ شَهَادَةً : یعني ګواهي د چا ډیره لویه ده؟ نو وقف دے دوي به غلي شي۔ نو تهٔ جواب ورکړه چه د الله ګواهي د هرشي او د هر چا نه لویه ده۔

دلته د شيء اطلاق په الله باندے شویدے ځکه چه د شيء نه مراد موجود في الخارج (په خارج کښ موجود) دے یا په معنیٰ د مَا یُعۡلَمُ وَیُخۡبَرُ سره دے۔ یعني چه په علم کښ راځي او د هغه نه خبر ورکولے شي۔ آؤ، الله تعالیٰ ته نوم په شئ سره نشي کیخودے، په دعا کښ ئے نشي استعمالولے، صرف په اِخبار کښ استعمالیږي۔

وَاُوۡحِیَ اِلَیَّ : دا د الله شهادت دے چه الله ما ته داسے کتاب راکړو چه هیڅوك ئے مقابله نشي کولے، نو دا دلیل دے چه الله زما مدد او تائید کوي نو زهٔ رشتینی نبي یم، او دا قرآن حق کتاب دے۔ د الله تعالیٰ د شهادت او ګواهئ تفصیل په سورة النساء کښ تیر شو۔ مختصراً دا چه شهادت د الله تعالیٰ (۱) په بیان سره دے (۲) او د رسول الله ﷺ په صدق باندے د برهان (دلیل) په قائمولو سره دے۔ (۳) او په نصرت او تائید سره دے۔

لِاُنۡذِرَکُمۡ : دا د قرآن کریم د نازلیدو فائده بیانوي۔

فائده : د قرآن مقصد خو انذار او بشارت دواړه دي نو دلته بشارت ولے ذکر نشو او په یوه غایه باندے اکتفاء وشوه؟ نو حکمة دا دے چه پدے وخت کښ مخاطبین سرکشان کافران معاندین مکابرین وو، نو د هغوي د حال مطابق یو مقصد د قرآن ذکر شو چه هغه انذار دے۔ (التحریر والتنویر)

وَمَنۡ بَلَغَ : اَیۡ وَمَنۡ بَلَغَهُ الۡقُرۡآنُ ۔ یعني هر هغه څوك هم پرے یروم چه قرآن چا ته ورسیږي تر قیامته پورے۔ نو دا دلیل دے په ختم نبوت باندے۔

د مقاتل بن سلیمانؒ نه مفسرینو نقل کړیدی : [مَنْ بَلَغَهُ الْقُرْآنُ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ فَالرَّسُوْلُ ﷺ نَذِيْرٌ لَهٗ] هر هغه څوك چه قرآن کریم ورته ورسیدو پیریان وی که انسانان، نو رسول الله ﷺ د هغه دپاره یره ورکونکے دے۔ (البغویؒ والقرطبیؒ) دا داسے شوه لکه رسول الله ﷺ چه راغے او تا ته ئے بیان وکړو۔ او ددے نه دا هم معلومه شوه چه د قرآن بیانونکی د رسول الله ﷺ نائبان دی۔ او دا هم معلومه شوه چه د قرآن کریم د نزول په وخت کښې موجود او غیر موجود ټول انسانان او پیریان د قرآن په احکامو باندے مخاطَب دی او چا ته چه ونهٔ رسیږی نو هغه پدے باندے نهٔ دے ماخوذ۔ (تفسیر البیضاوی)۔

او محمد بن کعب القرظیؒ وئیلی دی : [مَنْ بَلَغَهُ الْقُرْآنُ فَكَأَنَّمَا رَأَى مُحَمَّدًا ﷺ وَسَمِعَ مِنْهُ] (ابن ابی شیبة وابو حاتم وابو الشیخ) (القرطبی۶/۳۹۹ والبغوی۳/۱۳۴) (وزاد ابن کثیر : عَنْهُ : وَكَلَّمَهُ] (ابن کثیر۳/۲٤٥) چا ته چه قرآن کریم ورسیدو نو ګویا که هغه محمد ﷺ ولیدو او د هغه نه ئے واوریدو او په یو روایت کښې دی ګویا که هغه سره ئے خبرے وکړے۔ (نو ګویا که مونږ د رسول الله ﷺ شاګردان او مقتدیان شو)۔

او ربیع بن انسؒ فرمائی : [حَقٌّ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَنْ يَّدْعُوَ كَالَّذِيْ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَأَنْ يُّنْذِرَ كَالَّذِيْ أَنْذَرَ] (ابن کثیر)۔ څوك چه د رسول الله ﷺ د تابعدارئ دعوه کوی په هغه لازمه ده چه د رسول الله ﷺ په شان دعوت وکړی او داسے خلك ویروی لکه څنګه چه رسول الله ﷺ خلکو ته یره ورکړیده) نو څوك چه قرآن کریم بیان کړی نو هغه د رسول الله ﷺ په شان دعوت وکړو او خلك ئے ویرول۔

صاحب المنار لیکی : ددے نه معلومه شوه چه د اسلام په دعوت کښې قرآن کریم لره اعتبار دے، نو چا ته چه قرآن ونهٔ رسی هغه باندے دا نهٔ صادقیږی چه هغه ته دعوت ورسیدو، نو پدغه وخت کښې به هغه پدے دین باندے مخاطَب نهٔ وی، نو ددے مفهوم دا راووتو چه د اسلام د دعوت په رسولو کښې حجت په قواعد کلامیه او دلائل نظریه ؤ سره نهٔ قائمیږی کوم باندے چه دغه علم بنا دے مګر که په هغے کښې د اسلام په اصولو او احکامو باندے تصریح موجوده شی، او مونږ ډیر مسلمانان وینو چه د سلفو صالحینو نه روستو هغوی د قرآن دعوت او تبلیغ پریښے دے او پدے باندے ئے علم پریښے دے او د سنت بیان کړی احکامو باندے ئے عمل پریښے دے، او د متکلمینو او فقهاؤ تقلید ته متوجه شویدی او قرآن په دوی باندے حجت دے اګرکه دوی خپل ځانونه د حجت اهل نهٔ دی ګرځولی آه۔ (تفسیر المنار۷/۲۸٥)

اَئِنَّکُمۡ : استفهام د زجر دپاره دے۔ یعنی تاسو د الله سره د نورو معبودانو ګواهي ورکوئ؟ نو دوی به غلي شي۔ نو تهٔ ورته ووایه : چه زهٔ خو دا ګواهي نهٔ ورکوم بلکه ما ته خو خپل رب وئیلي دي چه داسے ووایه : ﴿ اِنَّمَا هُوَ اِلٰـهٌ وَّاحِدٌ﴾ چه دغه الله صرف یواځے معبود دے۔

یا مطلب دا دے که تاسو دغه ګواهي د شرك ورکوئ نو زهٔ درسره پکښې شریك نهٔ یم، زهٔ دغه ګواهي نهٔ ورکوم بلکه زهٔ ددے په خلاف په توحید باندے مامور یم۔ او مطلب ئے دا دے چه ستاسو دا ګواهي غلطه ده او د الله د حکم خلاف ده۔

لَتَشۡهَدُوۡنَ : یعني آیا تاسو ثبوت پیش کولے شئ چه د الله سره نور آلهه شته۔

وَّاِنَّنِیۡ بَرِیۡٓءٌ : د بیزارئ مطلب دا دے چه زهٔ د دوی عبادت نکوم، ایمان پرے نهٔ لرم او د دوی د عبادت نه نفرت کوم۔

مِّمَّا : ١- اَیۡ مِنۡ عِبَادَةِ مَا۔ د عبادت د هغه معبودانو نه چه تاسو ئے د الله سره شریکان جوړوئ۔ ٢- یا مِنۡ شِرۡکَةِ مَا تُشۡرِکُوۡنَ۔ د شرکت د هغه معبودانو نه چه تاسو ئے د الله شریکان جوړوئ نو زهٔ دا د الله سره شریکان نشم جوړولے۔

قُلۡ لَّآ اَشۡهَدُ : نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د توحید ګواهي ورکوی نهٔ د شرك، اود (قُلِ اللّٰهُ شَهِیۡدٌ) نه معلومه شوه چه الله د رسول الله ﷺ د رسالت ګواهي ورکوی۔

نو مذکوره آیت کښې ډیر علمونه دي که چا سوچ وکړو۔ اشاره ورته وشوه۔

اَلَّذِیۡنَ اٰتَیۡنٰـهُمُ الۡکِتٰبَ یَعۡرِفُوۡنَهٗ کَمَا یَعۡرِفُوۡنَ
هغه کسان چه ورکړے مونږ دوی ته کتاب پیژني دے نبي لره لکه څنګه چه پیژني
اَبۡنَآءَهُمۡ ۘ اَلَّذِیۡنَ خَسِرُوۡٓا اَنۡفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٢٠﴾
ځامن خپل، هغه کسان چه تاوان کښې ئے اچولي دي ځانونه خپل پس دوی ایمان نهٔ راوړي۔

تفسیر : دا د رسول الله ﷺ په رشتینوالي باندے دلیل نقلي دے د اهل کتابو نه، پس د دلیل وحیي او عقلي نه۔

اَلَّذِیۡنَ اٰتَیۡنٰهُمُ : دا څوك وو؟ دا بعض کسان وو چه مکے ته د حبشو نه راغلي وو او ایمان ئے راوړے وو لکه سورة القصص کښې به ئے تفصیل راشي۔ او دارنګه مکے ته بعض یهود راغلي وو ایمان ئے راوړے وو، او مدینه کښې هم څه یهودیان وو چه د رسول الله ﷺ د ورتګ نه مخکښې به هغوی د رسول الله ﷺ تائید کولو۔

او پدې کښې د مشرکینو د مخکښۍ خبرې رد دے چه دوی وئیلی وو چه اهل کتاب ستا د نبوت په رشتینوالی گواهی نهٔ ورکوی، نو الله فرمائی: تاسو دروغ وایئ په دوی کښې چه کوم نیکان خلك دی، هغوی گواهی ورکوی، او کوم اهل کتاب چه گواهی نهٔ ورکوی نو هغه د هغوی ضد او بد قسمتی ده چه د هرڅه د پیژندلو باوجود انکار کوی، او نیکان خلك ورسره دا ناکاره اهل کتاب ټول زما نبی داسې پیژنی لکه څنگه چه هغوی خپل اولاد پیژنی، ځکه چه ټولو انبیاؤ خپلو امتونو ته د محمد (ﷺ) صفات او د هغه مُلك او د هغه دار الهجرة او د هغه د امت صفات بیان کړیدی۔

نو د رسول الله ﷺ په حقانیت باندې الله تعالیٰ، او قرآن کریم او پخوانی اهل کتاب گواه شو۔

يَعۡرِفُوۡنَهٗ: ضمیر راجع دے رسول الله ﷺ ته، او ابن کثیرؒ وائی: [يَعۡرِفُوۡنَ الَّذِىۡ جِئۡتَهُمۡ بِهٖ] پیژنی هغه شے چه ما دوی ته راوړیدے۔

اَلَّذِيۡنَ خَسِرُوۡٓا: یعنی چه څوك عنادگر شی نو که هغوی ته هر څومره ډیر دلیلونه راوړے شی نو هغوی ایمان نهٔ راوړی۔

وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنِ افۡتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوۡ كَذَّبَ
او څوك دے ډیر لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله باندې دروغ یا دروغژن گنړی
بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۲۱﴾
آیتونه د هغهٔ یقیناً نهٔ کامیابیږی ظالمان۔

تفسیر: پدې کښې الله تعالیٰ د مکے مشرکانو او اهل کتابو ته تخویف بیانوی او خبر ورکوی په نهٔ کامیابیدو د دوی۔ او پدې کښې سبب د خسران د دوی ذکر دے۔

مضمون: بیا ئے د آخرت تخویف بیان کړیدے، بیا د قرآن کریم په منکرینو باندې رد او د هغوی هلاکت بیا ن شویدے او د آخرت تخویف ئے تفصیلی ورله بیان کړیدے نو پدے رکوع کښې په مشرك او په منکر د قرآن باندې ردونه دی۔

دلته د مکے مشرکانو او د اهل کتابو په باره کښې وئیلے کیږی چه دوی نه لوی ظالمان څوك کیدے شی۔ د مشرکانو د خپلو بتانو په باره کښې دا عقیده وه چه دوی د الله په نیز زمونږ سفارشیان دی، پدے وجه ئے د هغوی عبادت کولو، او اهل کتابو د قرآن کریم او د

نبي ﷺ نه انکار وکړو، نو ګویا که دا ټول د توحید او د اسلام خلاف د خپلې معاندانه رویه په وجه لوی ظالمان دي، او ظالم هیڅ کله په مقصد کښې نشي کامیابیدے.

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا : دلته الله تعالیٰ په الله دروغ جوړونکي او د حق تکذیب کونکي دواړو ته ظالمان وویل. یعنی د باطل پسې روانیدل او د حق تکذیب دواړه یو شان جرم دے.

د افتراء على الله صورتونه

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا : د افتراء على الله ډیر صورتونه دي چه تفصیل به ئې په سورة یونس کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ او بعض دا دي :

(۱) الله ته د شریك نسبت کول. (۲) هغه ته د اولادو نسبت کول.

(۳) بِدَعْوَى النُّبُوَّة. د نبوت دعوه وکړي چه الله ما ته وحي کړیده.

(٤) په تحلیل او تحریم سره چه الله یو شے حلال کړے وي دے ورته حرام وائي یا برعکس. لکه مشرکانو به ویل چه الله مونږ ته په شرك او بې حیائي باندے امر کړیدے. ﴿وَاللّٰهُ أَمَرَنَا بِهَا﴾

(٥) په تحریف او تبدیل سره. (٦) الله تعالیٰ ته هغے شي منسوبول کوم چه هغه نۀ دي وئیلي. (وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ) (۷) دعویٰ د جنت کول چه مونږ جنتیان یو او الله تعالیٰ راسره وعده کړیده او حال دا چه هغه وعده نۀ وي کړي.

(۸) الله تعالیٰ زمونږ په شرك راضي دے لکه مشرکانو به ویل. (۹) هٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ. مشرکانو به د خپلو معبودانو په باره کښې وئیل چه دوی به زمونږ د الله په دربار کښې سفارش کوي. (۱۰) په قرآن کښې د خپلې غلطې عقیدے دپاره تاویلات کول لکه دا د اهل زیغو طریقه ده. (۱۱) قصداً بدعات ایجاد کول او بیا ددے نسبت شرع ته کول.

(۱۲) په اسماء او صفاتو کښې تاویلات کول. (۱۳) د حلول یا د وحدة الوجود عقیده لرل په رب العالمین دروغ تړل دي.

(١٤) موضوع احادیث جوړول یا د هغے بیانول.

(١٥) الله تعالیٰ ته د ځان نه نومونه کیخودل. (١٦) بې دلیله داسے وئیل چه الله تعالیٰ په فلاني شي خوشحالیږي او په فلاني نۀ خوشحالیږي.

(١٧) په تفسیر د قرآن او حدیث کښې غلو یا تفریط کول په الله تعالیٰ باندے افتراء ده لکه دا کثیر الوقوع خبره ده، یو مُلا وائي (صلاتهم) (مونځ) نه مراد بلنه ده. لکه چه په آیت

(۹۲) كښې به راشي۔ يا سورة مزمل كښې تهجد ندې بيان شوې بلكه د قرآن كريم درس ترې مراد دے دا تقول على الله دے، او ددے مثالونه بيشماره دي والعياذ بالله من جميع ذلك۔

اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ : د تكذيب معنىٰ ده نسبت د دروغو۔ يعني د الله آيتونه دروغژن ګڼړل او د هغې نه انكار كول۔

لَا يُفْلِحُ : يعني د عاقبت په اعتبار سره نۀ كاميابيږي۔

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ
او په هغه ورځ چه راجمع به كړو مونږ دوی ټول بيا به ووايو هغه كسانو ته
اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾
چه شرك ئے كړيدے چرته دي شريكان ستاسو هغه كسان چه تاسو به پرے ګمان كولو
ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ
(چه دوی سفارشيان دي)۔ بيا به نۀ وي بهانه د دوی مګر دا چه وائي به قسم دے په الله
رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾
چه رب دے زمونږ، نۀ وو مونږ شرك كونكي۔

تفسير : پدے كښې د (اِفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا) مثال راوړي چه دوی ځانله معبودان نيولي دي او دا ګمان پرے لري چه دا به د دوی دپاره سفارش كونكي وي، او دوی به د عذابونو نه خلاصوي، نو الله دوی ته تخويف اُخروي بيانوي۔ الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ مشركان او كافران ټول انسانان او جنات او شيطانان راجمع كوي او هغوی نه به د هغه بتانو او د غير الله په باره كښې تپوس كوي چه دوی هغه د الله سره شريكان جوړ كړي وو، چه چرته لاړل هغه كسان چه تاسو د الله شريكان جوړول۔ او ددے تپوس مقصد به د مشركانو ذليله كول او رسوا كول وي۔

نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا : يعني عابدان او معبودان ټول۔

اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمْ : د شركاؤ نسبت كله الله خپل ځان ته كوي چه ستاسو په ګمان زما شريكان څه شو؟ او كله ئے هغوی ته كوي ځكه چه دوی د ځان سره شريكان كړي وو په

مالونو او په اولادو کښې او په عباداتو کښې چه هغوی ته به ئې برخې مقرر کړې وې.

تَزْعُمُونَ : ۱- اَنَّهَا تَشْفَعُ لَكُمْ. ۲- اَنَّهَا آلِهَةٌ] یعنې تاسو ګمان کولو چه دوی به ستاسو سفارش کوی نو اوس هغوی راولئ چه سفارش وکړی، یا تاسو ګمان کولو چه دوی حق معبودان دی.

لکه بل آیت کښې دی ﴿ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكَاءُ﴾. (الانعام: ۹٦)

او دغه شان تپوس او انکار د دوی په سورة حم السجده (٤٨) آیت کښې راغلے دے.

ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ : یعنې مشرکان چه د قیامت په ورځ سخت مشکل حقائق په خپلو سترګو اووینی نو د شرك نه به د خپل براء ت اعلان کوی او په خپلو دے دروغو به قسم هم خوری. ۱- نو د فتنې نه مراد یا کفر او شرك دے. اَىْ لَمْ تَكُنْ عَاقِبَةُ شِرْكِهِمْ اِلَّا الْجُحُوْدَ. (ابن القیمؒ) نهٔ به وی انجام د شرك د دوی مګر انکار به وی ځکه چه شرك به ورته ډیر لوی مصیبت او بلا ښکاره کیږی. لکه سورة الذاریات (١٤) آیت کښې دی: ﴿ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ﴾.

۲- او یا د فتنې نه مراد جواب او قول د دوی دے چه هغه انکار دے.

۳- او د ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه فتنه په معنیٰ د معذرت (بهانې) سره دے.

مشرکان د شرك نه ولې انکار کوی؟

مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ : د شرك نه به ولې انکار کوی؟ یو خو به پدې طریقه ځان خلاصول غواړی لکه څوك چه ګیر شی نو اول انکار کوی. دویم دا چه مشرکان په دنیا کښې ځان ته مشرکان نهٔ وائی بلکه دا وائی چه ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾ مونږ دا وسیله الله تعالیٰ ته جوړه وو او پدے سره الله ته ځان نزدے کول غواړو. نو دے ته شرك نهٔ وائی بلکه دا کمال ګڼړی. (المنار۷/۲۸۸)

نو دلته د شرك او کفر نه انکار کول او ددے عذر او بهانه کول یوه بله ګناه ده چه د دوی د مشرك کیدو تاکید کوی.

دوی به دا انکار د شرك نه په هغه وخت کښې کوی چه وینی چه الله تعالیٰ به مسلمانانو ته د ګناهونو نه بخنه کوی، او د اُور نه به ئې راوباسی سویٰ د شرك نه، نو دوی به په اُمید کښې شی چه کیدے شی چه مونږ ته هم معافی وکړے شی، لیکن په بعض مواقفو کښې به د شرك اقرار کوی دا طمع به لری چه کیدے شی چه په اقرار باندے کار وشی. (ابن

عباسؓ - ابن کثیر، المنار ۲۸۸/۷)

مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ : ددے تائید په سورة النحل (۲۸) آیت کښې دے، ﴿ فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْءٍ ﴾۔ (دوی به کیږدی غاړه کیخودل چه مونږ خو هیڅ بد عمل نهٔ کولو)

اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾
وګوره څنګه دروغ وائی په ځانونو خپلو او ورك به شی د دوی نه هغه چه دوی دروغ جوړول۔

تفسیر : یعنی دوی په خپلو ځانونو باندے په دنیا کښې دروغ وئیلی وو چه دا ګمان ئے لرلو چه دا معبودان به زمونږ سفارشیان وی، او د الله په نیز به زمونږ سفارش کوی او دا د الله تعظیم دے۔ نو په قیامت کښې به د دوی نه دغه ټول دروغ ورك شی او حقائق به راښکاره شی۔ دا مطلب د انکار د دویمے وجے مطابق دے۔ او که اوله معنیٰ واخستے شی چه دوی د ځان خلاصولو دپاره انکار کوی، نو بیا آیت په خپل ظاهر دے چه دوی ځان ته مشرکان په دنیا کښې وئیل لیکن په قیامت کښې د شرك نه انکاری شول۔ آؤ په دنیا کښې بعض مشرکانو ځان ته مشرکان نهٔ وئیل او شرك ئے کولو لکه بعض مسلمانان چه شرك کوی او ځان ته بزرګان وائی او دا واسطه، او شفاعت او وسیله ګنړی۔ او بعض مشرکانو شرك کولو او دا به ئے وئیل چه مونږ دا د الله په مشیئت باندے کوو او الله پدے باندے راضی دے۔
(المنار)

اُنْظُرْ : یعنی لږ شان خو اُوګوره، څنګه دا خلق د علام الغیوب مخے ته د ځانونو مشرکان کیدو نه انکار کوی، او خپل ځانونه دروغژن کوی، او څنګه د شریکانو په باره کښې ددوی امیدونه خاورو سره ملاؤ شو، نهٔ ورله سفارشیان جوړ شو او نهٔ ئے د دوی مدد وکړے شو۔

وَضَلَّ عَنْهُمْ : ای فَقَدَ، وَنَسِیَ۔ یعنی ورك به شی، او هیر به شی د دوی نه۔

مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ : په دنیا کښې خو دوی ډیر دروغ جوړول چه دا معبودان به زمونږ سفارش کوی، او شرکی قصے به ئے بیانولے، وئیل به ئے چه دوی دومره طاقتونه لری چه مددونه کولے شی په نهٔ منونکو کتونه اړولے شی او نر چینچنړ او ماده چینچنړه پیژنی۔

ددے تائید په سورة الاعراف (۵۳) کښې وګوره۔

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ج وَجَعَلْنَا
او بعض د دوی نه هغه څوك دی چه غوږ ایږدی تا ته (خو نهٔ پو هیږی) او ګرځولی دی مونږ

عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ یَّفْقَهُوْهُ وَفِیْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِنْ

په زړونو د دوی پردې د پوهې د قرآن نه او په غوږونو د دوی کنبې بوج لره، او که

یَّرَوْا كُلَّ اٰیَةٍ لَّا یُؤْمِنُوْا بِهَا ؕ حَتّٰٓی اِذَا جَآءُوْكَ

ووینی دوی هره نخه (نو) ایمان نهٔ راوړی په هغې تردې چه راشي دوی تا ته

یُجَادِلُوْنَكَ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۲۵﴾

جګړه کوی تا سره، وائی هغه کسان چه کفرئے کړیدے نهٔ دے دا قرآن مګر قیصے دی د پخوانو۔

تفسیر : پدے کښې د دغه ظالمانو د قرآن نه انکار بیانوی او د قرآن منکرینو ته زجر او رټنه ده۔ (دا د وکذب بآیته تشریح شوه) او د بعض مشرکانو حال بیان شویدے، رسول الله ﷺ چه به کله په تهجدو کښې قرآن کریم لوستلو (په مسجد حرام کښې یا په کور کښې لکه په سیرت کښې دی) نو بعض مشرکان لکه ابوجهل، ابوسفیان، او اخنس بن شریق به راتلل او رسول الله ﷺ ته به ئے غوږ کیخودو چه دے څه وائی او د یو بل نه به پټ پټ راتلل چه څوك مو ونهٔ وینی نو یو ځل راغلل چه کله بیرته ستنیدل نو په لاره کښې ئے یو بل ولیدل نو یو بل ئے ملامته کړل چه ددهٔ خوا ته مهٔ راځئ هسې نه چه ستاسو په لیدو سره ځوانان د قریشو دهٔ ته غوږ کینږدی، بیا صبا راغلل بیا ئے یو بل ملامته کړل، په دریمه ورځ هم د یو بل نه پټ راغلل پدے ګمان چه نور دوه ملګری به نهٔ وی راغلی نو سهار پورے ئے غوږ کیخودو الی آخر القصة (سیرتِ ابن اسحاق عن الزهری،- و کذا فی المنار)

نو دوی به په ظاهره کښې غوږ کیخودو لیکن پدے سره به دوی ته هیڅ فائده نهٔ کیده ځکه چه دوی به په هغې کښې د سوچ او فکر کولو نه کار نهٔ اخستو، او نهٔ به د دوی نیت د رشد او هدایت حاصلول وو۔ بلکه مقصد ئے دا وو چه د محمد (ﷺ) د خولې نه به چرته غلطه خبره راوځی نو هغه به پکښې راګیر کړو او اعتراض به پرے وکړو بیا به دا خبرے نهٔ بیانوی، لکه دا د ټولو باطل پرستو طریقه ده چه ښو خبرو ته نهٔ ګوری مګر د یو تن غیر شعوری غلطی یا سبقت لسانی سره غلطی به د خلکو مخې مخې ته کوی دے دپاره چه د حق دروازه بنده کړی، هیڅکله ئے نشی۔ او خپل کفرونه او شرکونه او بدعاتو او خرافاتو ته به نهٔ ګوری۔ نو الله دلته د دوی عمل او بیا دا ضد رانقل کوی او بیرته پرے رد کوی۔

او ددے نه دا فائده حاصلیږی چه کله یو حق پرست عالم ته انسان کینی او اعتراض ئے

مقصد نۀ وی بلکه دا وائی که حق ئے ووئیلو نو منم ئے او که حق نۀ وو نو نۀ ئے منم نو الله ورته هدایت کوی او که د اعتراض په نیت کیناستو نو هدایت نه به محروم پاتی وی۔ دا د الله تعالیٰ اصول دی۔

مَّنۡ يَّسۡتَمِعُ اِلَيۡكَ : أَىْ لِلطَّعْنِ عَلَيْكَ ۔ د اعتراض دپاره تا ته غوږ اږدی۔ لکه د روستو نه معلومیږی۔

اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ : دلته (لَا) مقدر دے، أَىْ لِئَلَّا يَفْقَهُوْهُ۔ دے دپاره مے پردے گرځولی دی چه پوهه نشی په قرآن۔ یا (كَرَاهِيَةَ) لفظ پټ دے۔

وَفِىۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرًا : په غوږ کښې ئے بوج گرځولے دے چه قرآن صحیح طریقے سره وانۀ وری، نو دلته ذهن ته سوال راځی چه هرکله الله تعالیٰ ورله په غوږونو کښې بوج واچولو او هدایت ورته ونشو نو دا خلك خو به معذور وی؟ نو د روستو نه معلومیږی چه دا د دوی د ضد او عناد او بد اعمالو نحوست دے او د الله د طرفه ظلم نۀ دے بلکه د دوی په بد اعمالو باندے عقوبت دے، نو الله دلته خپله استغناء بیانوی چه زما هم ذوی ته ضرورت نشته ما پرے مهر ووهلو۔

وَاِنۡ يَّرَوۡا كُلَّ اٰيَةٍ : پدے کښې د دوی د ضد بیان دے چه دوی یواځے قرآن نۀ بلکه هره نخه چه وینی د هغے نه اعراض کوی او ایمان پرے نۀ راوړی۔

حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوۡكَ : یعنی دوی به د شپے قرآن واوریدو او د ورځے به بیا راتلل د بحث دپاره۔ یا به ئے یو مجلس کښې واوریدو نو روستو به د جګړو او بحث دپاره راغلل چه دا تا چه څه ووئیل دا خو جادو وه او د پخوانو اټکل قصے دی نو د حق تکذیب به ئے مخامخ وکړو۔ او حق ورته معمولی او فضول خبرے ښکاره شوے لکه دا حال زمونږ د زمانے د جاهلانو هم دے چه کتاب او سنت ورته هسے د فضائلو کتابونه ښکاری او خپل تاوئیلی ما وئیلی ورته ډیر اُوچت علم ښکاری۔

يُجَادِلُوۡنَكَ : جدال په اصل کښې بحث مباحثے او مناظرے او د خولے چالاکئ ته وائی۔

اساطیر : جمع د اُسْطُوْرة ده، اَلْقِصَّةُ الْمَكْذُوْبَة ۔ دروغژنے قصے ته وائی۔ په قرآن کریم باندے د کفارو دا گمان وو۔

وَهُمۡ يَنۡهَوۡنَ عَنۡهُ وَيَنۡـــَٔوۡنَ عَنۡهُ‌ۚ وَاِنۡ يُّهۡلِكُوۡنَ
او دوی منع کول کوی د هغه نه او لرے کیږی د هغه او نۀ هلاکوی

اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾
مګر نفسونه خپل او نهٔ پو هیږی۔

تفسیر : دا د مشرکانو بله بدی ده او زورنه ده۔ یعنی د مکے مشرکانو د قرآن کریم صرف په تکذیب باندے اکتفاء نهٔ کوله بلکه خلق به ئے ددے د لوستلو او آوریدو نه هم منع کول چه چرته د هغے نه متأثره نشی، او خپله به هم د انتهائی درجے نفرت ښکاره کولو دپاره د هغه نه واړندے اُوسیدل۔ لکه په اعقابو (کنډه وونو) د مکه کښ دوی کسان مقرر کړی وو چه بهر نه خوك راځی نو هغه ددے نبی د خبرے آوریدو نه منع کړی لکه په﴿ كَمَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ﴾ (الحجر: ٩٠) کښ هغه ذکر دی۔ نو دوی دوه ګناهونه جمع کړی وو، لازمی او متعدی ګمراهان وو، او دا د تباهئ سبب دے۔

یا دا چه دا آیت د ابو طالب او د بعض مشرکانو په باره کښ نازل وو، نو معنیٰ دا ده چه (وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ) دوی خلك منع کوی د رسول الله ﷺ د ضرر ورکولو نه او (وَيَنْئَوْنَ عَنْهُ) خپله لرے کیږی د هغه د تابعدارئ او ایمان نه۔ لکه ابو طالب وغیره به نسبی طرفداری کوله لیکن د ایمان د وجه نه به نهٔ وه، نو ځکه ورته د ایمان توفیق ورنکړے شو چه اخلاص پکښ نهٔ وو، تأثر عن الله پکښ نهٔ وو۔ او دا به ئے وئیل :

وَاللّٰهِ لَنْ يَّصِلُوْا اِلَيْكَ بِجَمْعِهِمْ	❁	حَتّٰى اُوَسَّدَ فِي التُّرَابِ دَفِيْنَا
فَاصْدَعْ بِاَمْرِكَ مَا عَلَيْكَ غَضَاضَةٌ	❁	وَابْشِرْ وَقَرَّ بِذَاكَ مِنْكَ عُيُوْنَا
وَدَعَوْتَنِيْ وَعَرَفْتُ اَنَّكَ نَاصِحِيْ	❁	وَلَقَدْ صَدَقْتَ وَكُنْتَ ثَمَّ اَمِيْنَا
وَعَرَضْتَ دِيْنًا قَدْ عَرَفْتُ بِاَنَّهٗ	❁	مِنْ خَيْرِ اَدْيَانِ الْبَرِيَّةِ دِيْنَا
لَوْلَا الْمَلَامَةُ اَوْ حَذَارُ مَسَبَّةٍ	❁	لَوَجَدْتَنِيْ سَمْحًا بِذَاكَ مُبِيْنَا

○ قسم په الله ! دا خلك تا ته هیڅ ضرر نشی درکولے اګرکه ټول راجمع شی تردے چه زهٔ په خاورو کښ خخ کړے شم۔ ○ تهٔ خپل دین ښکاره بیانوه په تا باندے به هیڅ تکلیف نهٔ وی او خوشحاله وسیږه او پدے باندے خپلے سترګے یخے ساته (زما به تا سره مدد وی).۔○ او تا ما ته دعوت راکړو او ما ته معلومه ده چه تهٔ زما خیر خواه ئے، او یقیناً تهٔ رشتینی او پدے مقام کښ امانت ګر ئے۔ ○ او تا ما ته داسے دین پیش کړو چه ما ته معلومه ده چه هغه د مخلوقاتو په دینونو کښ د ټولو نه غوره دین دے، ○ (خو) که د خلکو د ملامتیا او د کنځلو نه یره نهٔ وے نو تا به خامخا زهٔ موندلے وے چه ستا دین ته به مے ښکاره

غاړه ورکړې وې۔

وَهُمۡ يَنۡهَوۡنَ عَنۡهُ : نـأی وړانـدې والـی تـه وائـی او دا شـامـلـیږی اِعراض د سماع (غوږ کیـخـودو) تـه او ددې د هـدایت نه اعراض کولو ته۔ یعنی هغه ته غوږ نهٔ ږدی په طریقه د قبلولو او د هغه د هدایت نه اعراض کوی۔ (المنار)

وَاِنۡ يُّهۡلِكُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡفُسَهُمۡ : یعـنـی دوی پـدې کـار سره نبی کریم ﷺ او مسلمانانو ته هیـڅ نـقـصـان نشـی رسـولـې۔ ځکه چه الله به خپله رڼړا مکمل کوی او خپل دین به غالبه کوی لکه څنګه چه د هغه وعده ده، دا خلق خپل ځانونه پخپله د هلاکت کندې ته ارتوی لیـکـن دوی ته ددې هیـڅ احساس نهٔ کیږی۔ معلومه شوه چه د قرآن او د نبی نه او د هغه د سنتو نه خلك منع کول ځان هلاکول دی۔

وَلَوۡ تَرٰۤی اِذۡ وُقِفُوۡا عَلَی النَّارِ فَقَالُوۡا
او که چرې ووینې تهٔ هغه وخت چه ویه درولې شی دوی په اُور باندې نو وائی به دوی
يٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ
اې افسوس دې مونږ لره چه مونږ واپس کړې شوې او نهٔ وې دروغژن کړی مونږه
بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۷﴾
آیتونه د رب زمونږ او وې مونږه د مؤمنانو نه۔

تفسیر : اُوس پـه آخـرت کـښې د دوی حـال بیـانـوی چـه دوی به په قرآن او توحید پسې ارمانونه او افسوسونه کوی لیکن وخت به تیر وی۔

او پـدې کـښې د مـکـې مشـرکانو خپل ځانونو لره د هلاکولو کیفیت بیانوی، دوی خو په دنیـا کښې د قرآن کریم تکذیب کولو، لیکن په آخرت کښې به دوی پدې خپل بد کارِ باندې پښیـمـانـه وی او په سخت افسوس کښې به وی، او آرمان به کوی چه کاش مونږ بیرته دنیا ته واپس شوی وې نو د قرآن تکذیب به مو نهٔ کولې بلکه پدې به مو ایمان راوړې وې۔

۱- عـلی النار نه مراد (عِنۡدَ النَّارِ) دې یـعـنـی د اُور په خوا کښې چه اُور ته ورښکاره شوی وی، ۲- یا د اُور دپاسه په صراط باندې ودرولې شوی وی۔

۳- یا وقوف په معنیٰ د علم او پیژندلو سره دې نو معنیٰ ده : که تا لیدلې کله چه به دوی

اُور تـه داخـل شي او په هغې كښې په دردناك عذاب بانديے پو هه شي چه هغه وخكي نو كه تا ليدلے وے هغه عذاب چه دوى بانديے به په دغه وخت كښې نازليږى او د دوى به څه حالت وى او د دوى پـه كـفـر بانديے كو مه پښيمانتيا وى او افسوسونه او ارمانونه وى چه هغه بل هيڅ تـه نـهٔ حاصليږى نو خامخا تا به ډير ناشنا د گبراهټ والا حال ليدلے وے چه هغه په الفاظو كښې نهٔ راگيريږى او د هغې بيان نشى كيدے۔ (المنار)

وَلَوْ تَرٰٓى : ددے جزاء پټه ده [لَرَاَيْتَ اَمْرًا فَظِيْعًا] تا به ډير د هيبت حالت ليدلے وے۔

وَلَا نُكَذِّبَ : دا پـه زور د بـاء سره دے پـه تـقـديـر (اَنْ) سره جواب د تمنا دے، ځكه اَنْ په جـواب د تمنى كښې مقدر كيږى۔ او دغه شان لفظ د نَكُوْنَ هم دے۔ اَىْ وَلَا اَنْ نُكَذِّبَ۔ دا يا د (لَيْتَنَا) د لاندے دے يعنى ارمان دے چه مونږ تكذيب ونكړو او ارمان دے چه ايمان راوړو۔

۲ - يا دا د (قَالُوْا) د لاندے دے او په (يَالَيْتَنَا نُرَدُّ) باندے د دوى تمنا ختمه شوه۔ يعنى فَقَالُوْا لَانُكَذِّبُ يـعـنـى دوى به دا وائى چه مونږ به بيا تكذيب نكوو۔ او حاصل مطلب دا چه (اِذَا نُرَدُّ فَلَا نُكَذِّبَ) يعنى كله چه مونږ واپس شو نو مونږ به تكذيب نكوو او د ايمان والو نه به وگـرځـو) ۔ صاحب المنار وائى : چه ددے تفسير مطلب دا دے چه عدم تكذيب او ايمان به د دوى پـه تـمـنـا كـښې نهٔ وى داخل، او تمنا به صرف د واپسئ كوى او هر چه عدم تكذيب او ايـمـان دے نـو د هـغـے وعده به كوى او سيبويهٔ ددے مثال داسے وركړيدے چه يو تن ووائى : [دَعْنِىْ وَلَا اَعُوْدُ] ما پريده، او زهٔ بـه بيـا نـهٔ راگـرځـم۔ نو دلته په دَعْنِىْ كښې صرف طلب د پريخودو دے۔ او د نهٔ راگرځيدو وعده مستأنفه جمله ده چه د ماقبل نه منقطع ده او معنىٰ دا ده چه [وَاَنَا لَا اَعُوْدُ تَرَكْتَنِىْ اَمْ لَمْ تَتْرُكْنِىْ]۔ يعنى او زهٔ به نهٔ راگرځم پريدے خودم او كه نهٔ۔ نـو دلته به معنىٰ دا وى (وَنَحْنُ لَا نُكَذِّبُ) يـعـنـى مونږ دنيا ته واپس كړے شو او كه نهٔ خو تكذيب به هيڅكله نهٔ كوو او ايمان به خامخا راوړو۔ (المنار)

بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَوْ رُدُّوْا
بلكه ښكاره به شي دوى ته هغه چه دوى پټولو مخكې، او كهٔ واپس شي دوى
لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾
خامخا وركرځي به هغه كارونو ته چه منع شويدى د هغې نه او يقيناً دوى خامخا دروغجن دى۔

تفسير : د دوى دا آرمـان بـه د رشتينى ارادے او خالص د عقيدے په بنياد نهٔ وى، بلكه د

دوی د زړونو پټ کفر او شرك به ښكاره كیږي، او دوی ته به یقین كیږي چه دوی د خپل شرك په وجه هلاكیږي، پدے وجه د پریشانو په عالَم كښې به د خپلو دروغژنو آرمانونو اظهار كوي. لیكن الله پوهیږي چه كه دوی دویم ځلې دنیا طرف ته واپس كړے شي، او د آخرت د عذاب دا منظر چه اُوس د دوی سترګو مخے ته دے، دا منظر لاړ شي نو دوی بیا خپل كفر او شرك ته واپس كیږي، پدے وجه په هر حال كښې دروغ وئیل او فساد د دوی په فطرت او خټه كښې داخل دی ځكه چه د اكثرو انسانانو په خټه كښې فساد اغږلے شوے وی چه كله دوی له سزا وركړے شي نو ښه شي او چه كله سزا ختمه شي نو بیا خپل زوړ كار ته راواپس كیږي لكه فرعونیانو باندے به الله تعالىٰ سزا نازله كړه نو دوی به وئیل مونږ ایمان راوړو خو چه سزا به لرے شوه نو بیرته به ئے ورانی شروع كړو.

يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ: ددے څه معنىٰ چه دوی ته به هغه شے ښكاره شي چه دوی پخوا پټ ساتلو؟. ١- نو بعض مفسرینو دلته اخفاء په معنىٰ د تكذیب سره اخستے دے یعنی خپل تكذیب به ورته اُوس ښكاره شي. لیكن دا بعید تاویل دے.

٢- يُخْفُوْنَ مِنَ الْكُفْرِ وَغَيْرِهٖ مِنَ الْمَعَاصِىْ (ابن كثیرؒ والقاسمیؒ) یعنی دوی چه كوم كفر او نور ګناهونه په دنیا كښې پټول او ځان ته ئے كافران او ګناهګاران نۀ وئیل نو هغه ورته اُوس راښكاره شو. ٣- یا مِنْ قَبْلُ نه مراد همدغه آخرت دے یعنی لږ مخكښې دوی د شرك نه انكار كړے وو لیكن الله ئے چه كله عذاب ته بوځي نو دوی ته به پته ولګي چه دا خو واقعي مونږ مشركان وو او انكار هیڅ فائده ورنكړه. نو ځكه اُوس ارمان كوي چه مونږ خو مشركان شو خو اے الله ! مونږ دنیا ته دوباره بوځه.

٤- حافظ ابن القیمؒ او ابن عاشورؒ ښه توجیه كړیده، وائي چه مشركان كافران مشران په دنیا كښې پدے خبره په زړه كښې ښه پوهیدل چه دا كتاب او رسول حق دے او مؤمنان په حق روان دی ﴿لَقَدْ عَلِمْتَ مَا أَنْزَلَ هٰؤُلَاءِ إِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ﴾ (اسراء: ١٠٢) ﴿وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا﴾ (النمل: ١٤) ځكه چه دوی به د ایمان نخے لیدلے یا د مؤمنانو غلبه او مدد به ئے لیدلو خو یو بل ته به ئے وصیت كولو چه دا خبره پټه ساتئ چه عوام خلك پوهه نشي هسے نۀ چه ایمان راوړي، او ووائي چه هغه څه چه زمونږ مشران ورته حق وائي نو دا به واقعي حق وي، او دا كار به ئے یا د عناد په وجه، یا د دنیا د مفادو په وجه كولو لكه سیادت (مشري) او غیرت به ورتللو چه څنګه ددے نبي او كمزورو مؤمنانو - چه په هغوی كښې غلامان هم دی - په فضیلت باندے اقرار وكړي. نو هركله چه دوی په

آخرت کښې عذاب ولیدو نو د ایمان تمنیٰ ئې وکړه او د رسولانو د تصدیق ارمان ئې وکړو -کوم چه دوی مخکښې نه په زړه کښې ساتلے وو لیکن عمل ئې پرې نهٔ کولو نو کافر حسابیدل نو اُوس تمنا کوی چه ارمان چه مونږ دغه تصدیق راښکاره کړے وے نو ډیر به ښه وے، پدے سره به اُوس د عذابونو نه خلاص شوی وے۔ (التحریر والتنویر ۷۲/۶)

ابن عاشورؒ وائی دا ډیر ښه تفسیر دے چه د هغه احتمالاتو نه استغناء راولی کوم چه مفسرینو ذکر کړیدی ځکه چه هغهٔ څه د آیت د اول سر سره سمون نهٔ خوری او څه د آخر سره او څه د ټول آیت سره۔

حافظ ابن قیمؒ ددے یو ښه مثال ورکړیدے چه د پوهے دپاره ئې د لوستونکو مخے ته وړاندے کوو: هغه فرمائی: ددے مثال د هغه شخص دے چه د بل یو شخص محبت او معاشرت (ژوند تیرول) ئې په زړه کښې پټ ساتلی وی او دهٔ ته ښه معلومه وی چه ددهٔ دا محبت باطل دے او هدایت پدے کښې دے چه ددے نه واوړی نو دهٔ ته ځوك ووائی چه که تا باندے ددے شخص ولی (مشر) خبر شی نو سزا به درکړی او دے ښه پدے پوهیږی لیکن مُکابره او ضد کوی او وائی چه بس ددے شخص سره محبت او معاشرت بعینهٖ حق دے نو کله ئې چه ولی راونیسی دے دپاره چه هغه ته پدے کار سزا ورکړی او ددهٔ په سزا باندے یقین راشی نو دغه وخت ارمان کوی چه د سزا نه خلاص شی او بیا به د هغه شخص سره نهٔ یو ځای کیږی، لیکن ددهٔ په زړه کښې د هغه محبت او د هغه د ژوند حرص دومره مضبوط شوے وی چه دے په دوباره محبت ساتلو او ژوند تیرولو باندے راواپس کوی کله چه دے د سزا نه خلاص شی، بلکه پس د هغے نه چه سزاګانو ښه خوار کړے هم وی، نو دهٔ ته د سزا په وخت هغه خطائی راښکاره شی کومه چه دهٔ پټه ساتله، او د کوم نه چه ملګری منع کولو هغه ورته حق ښکاره شی۔ لیکن که دے واپس شی دوباره هغه شان محبت ساتی۔

حافظ ابن قیمؒ فرمائی: پدے اضراب (بَلْ) کښې د دوی ددے خبرے نفی ده چه دوی وائی که مونږ دنیا ته واپس شو نو ایمان به راوړو او تصدیق به وکړو ځکه چه اُوس مونږ ته ښکاره شوه چه رسولانو کومه خبره کوله هغه حقه ده، نو الله ورته فرمائی: داسے نهٔ ده بلکه تاسو پدے خبره د مخکښې نه پو هیدئ او تاسو دا خبره پټه ساتله، نو تاسو ته اُوس هیڅ شے نهٔ دے ښکاره شوے چه تاسو پرے اُوس پو هه شئ او د هغے په وجه معذور وګڼړلے شئ بلکه تاسو ته هغه شے ښکاره شو کوم چه د مخکښې نه معلوم وو او تاسو به یو بل ته

د هغې په پټ ساتلو وصیت کولو. آه والله اعلم.

(عدة الصابرين ص : ۱۹۸) و التفسير القيم لابن القيم (۳۷۲/۱)

صاحب المنارؒ ددې ډیر مثالونه بیان کړیدی او ښه تفصیل ئې لیکلې دې چه هغې ته رجوع پکار ده. لکه یو فاسق چه شراب وڅکي او په سر ئې درد شي یا جوار ګر جواري وکړي او تاوان وکړي، یا مریض یا کمزورې شخص د خپلې خوښې خوراك وکړي، یا په هغې کښې ډیر والې وکړي، نو تکلیف کښې واقع شي، نو دا ټول پدې کار په دغه وخت کښې پښیمانه شي او عزم وکړي او توبه وباسي چه بیا به دا کار نهٔ کوي لیکن کله چه موقعه ورته ملاؤ شي او د عمل وخت راشي نو بیا ورته راواپس کیږي پدې وجه چه دې د مخکښې نه عادت او اموخته شوې وي او د نفع په ځای باندې خوند ته ترجیح ورکوي.

بیا هغه لیکلي دي چه پدې باره کښې غوره طریقه د تربیت - چه په هغې سره خلك په نیغه لاره روان شي او فضیلت ته ورسیږي - دا ده چه د ورکوالي نه خلك په نیك عمل باندې عادت کړې شي او ورسره تعلیم او ښائسته تلقین ورکړې شي، او دا ډیره لويه خطائي ده چه بعض خلك وائي چه ماشومان آزاد پریخودل پکار دي دې دپاره چه په حریت او استقلال سره لوی شي، ځکه چه کله هلکان د خپلو خواهشاتو مطابق ژوند تیر کړي نو بیا په غټ والي کښې د هغوی نه دغه خواهشات لرې کول ډیر مشکل کار وي، ځکه چه هغه ئې مَلَکه او عادت جوړ شوې وي، او اکثر خلك د خپلو عاداتو تابع وي او په اول د ژوند کښې چه کوم شي باندې اموخته وي د هغې نه مخالفت نشي کولې مګر ډیر کم خلك. آه. (چرسي او پوډري ترډې چه نسواري دغه نشې ولې نشي پریخوستې ؟ ځکه چه اموخته وي، که په رمضان کښې ئې پریدي نو د رمضان پسې سمدست بیرته دې ته راواپس کیږي ځکه چه اموخته شوي وي).

فائده :عام باطل پرست پدې خبره پوهیږي چه قرآن او حدیث حق دي لیکن د ضد په وجه یا د تنظیم یا د پارټۍ نه د وتو په یره، یا د مشرئ، یا د دنیا د لالچ (عهدې، وظیفې) یا د ملامتیا د خاطره په باطل باندې کلك ولاړ وي، کله وائي چه که حق ته تسلیم شو نو شاګردان به مو کم شي، کله وائي چه اُوسه پورې پدې لاره تلي یو، اُوس که په حق روان شو خلك به وائي چه اُوسه پورې نهٔ پوهیدو، د ملامتیا نه یریږي، او کله وائي چه خلك به راباندې اړې او مالونه بند کړي، او کله وائي چه عزت به مو ختم شي، یا خوراك او تنخواه به نهٔ کوم ځای نه اخلو، کله وائي چه پدې تقلیدي لاره باندې زمونږ علماء او مشران او پلار

نیکه تللی دی نو دا اُوس څنګه پریدو، دا ټول د حق نه منع کونکی څیزونه دی۔ لیکن د قیامت ورځ چه کله راشی نو بیا به ارمان کوی چه په زړه کښې مو حق منلو خو ارمان چه په خوله او په عمل سره مو هم منلے وے۔

وَلَوْ رُدُّوْا: یعنی الله فرمائی چه ما ته د دوی خوئی معلوم دے، که دوی دنیا ته بیرته واپس شی بیا دغه شرك او ګناهونو ته واپس کیږی کوم نه چه منع شویدی، او دوی دروغ وائی چه مونږ به بیا نۀ واپس کیږو۔

وَقَالُوْآ اِنْ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِیْنَ ﴿۲۹﴾
او وائی دوی نۀ دے دا مګر ژوند دے زمونږ نزدے او نۀ یو مونږ دوباره راپورته کړے شوی۔

تفسیر: دا هم د مخکښې سره مربوط دے، یعنی که فرض کړے شی چه دا خلق د بعث بعد الموت او د قیامت د مناظرو لیدلو نه روستو دویم ځلی دنیا ته ولیږلے شی، نو الله پوهیږی چه دوی به د خپل تمرد (سرکشئ) او نافرمانئ په وجه همدا وائی چه ددے دنیاوی ژوند نه روستو بل کوم دویم ژوند نشته دے، او د مرګ نه روستو به مونږ بیرته نۀ ژوندی کیږو۔

یا دا رد دے په بله عقیده د مشرکانو چه هغه د آخرت نه انکار دے، او په هغے باندے زجر ورکوی۔ لکه مخکښې رد وو په انکار د قرآن باندے۔ او دا علت دے دپاره د (کاذبون) او پدے کښې د دوی د کذب یو صورت ذکر دے۔ یعنی دوی دروغژن دی یو دروغ ئے دا دی چه آخرت نۀ منی۔

هِیَ: نه مراد معروف ژوند دے۔ یعنی ژوند صرف هم دا یو دے چه کوم کښې انسانان روان دی، او ددے ژوند د ختمیدو نه روستو بل ژوند نشته۔

وَلَوْ تَرٰٓی اِذْ وُقِفُوْا عَلٰی رَبِّهِمْ ط قَالَ اَلَیْسَ
او که ووینے تۀ هغه وخت چه وبه درولے شی دوی رب خپل ته وبه وائی آیا نۀ دے
هٰذَا بِالْحَقِّ ط قَالُوْا بَلٰی وَرَبِّنَا ط قَالَ
دا (ژوند) حق، دوی به ووائی آؤ، ولے نۀ قسم دے په رب زمونږ۔ وبه وائی الله

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٠﴾
پس وڅکئ عذاب په سبب د هغې چه تاسو کفر کولو۔

تفسیر : د دوی دپاره تخویف اُخروی او اثبات د آخرت بیانیږی۔ نبی کریم ﷺ ته خطاب کولو سره وئیلے کیږی چه کله دا مشرکان د خپل رب مخے ته پیش کیږی نو ستا مخے ته به یو لوئی او یرونکے منظر وی، کله چه الله د دوی نه د زجر او توبیخ په طریقه تپوس کوی چه اُوس اُووایئ بعث بعد الموت حق دے او که نهٔ ؟ نو دوی به په رب باندے قسم کولو سره وائی چه آؤ، دا خو بالکل حق دے۔

وَلَوْ تَرٰی : ددے (لَوْ) جواب ئے نهٔ دے ذکر کړے دے دپاره چه ذهن هر طرفته لاړ شی۔

عَلٰی رَبِّهِمْ : أَیْ عِنْدَ رَبِّهِمْ۔ د رب مخے ته۔ یا د هغه په حکم او د هغه په فیصله سره۔ لکه د ﴿ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَسْئُوْلُوْنَ﴾ (الصافات: ٢٤) په شان دے۔

هٰذَا : اشاره ده وقوف (ودریدو) ته۔ یا بعث بعد الموت ته۔

بِالْحَقِّ : نه مراد رشتیا ده۔

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ: یعنی پدے اقرار به نهٔ خلاصیږی بلکه دوی دپاره به د سزا حکم کیږی۔

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللهِ ؕ حَتّٰۤى اِذَا
یقیناً تاوانیان شو هغه کسان چه دروغژن ګڼړی ملاقات د الله تعالیٰ، تردے چه کله
جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا
راشی دوی ته قیامت ناڅاپه، وائی به دوی هائے افسوس دے زمونږ په هغې چه
فَرَّطْنَا فِيْهَا وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ
کوتاهی کړے مونږ په باره د قیامت کښې او دوی به پورته کوی بوجونه د ګناهونو خپلو
عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿٣١﴾
په شاګانو خپلو، خبردار بد دے هغه بوج چه دوی ئے پورته کوی۔

تفسیر : **مضمون** : پدے آیت کښې د الله د ملاقات نه چه څوک انکار کوی د هغوی

دپاره تخویف اُخروی دے۔ بیا د دنیا بی رغبتی بیان شویده، بیا رسول الله ﷺ ته تسلی ده او په (۳۵) آیت کښ هغه ته تعلیم ورکوی، او په (۳۶) آیت کښ د خلکو دوه ډلو ته تقسیم دے، یو مستجیبین (خبره منونکی) او بل موتیٰ دی۔ بیا په (۳۷) کښ د مشرکانو تعنتی اعتراض دے، او د هغے دوه جوابونه (قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ) او (وَمَا مِنْ دَابَّةٍ) سره۔ بیا (۳۹) آیت کښ د الله د آیتونو تکذیب کونکو گمراهی بیانوی او (٤٠) آیت کښ نفی د شرك فی الدعاء هم ده او ورسره تخویف دے۔

پدے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ د هغه خلقو د تاوان حال بیان کړیدے چه د الله په دربار کښ د جواب ورکولونه او د بعث بعد الموت نه انکار کوی چه ددے نه لویه د تاوان او نقصان خبره بله کومه کیدے شی۔ او دوی به په همدے حال کښ وی تردے چه دوی باندے کله مرگ ناڅاپی راشی نو په اُوچت آواز سره به د خپلو افسوسونو او پښیمانتیا اعلان کوی چه افسوس صد افسوس چه مونږ په دنیاوی ژوند کښ د تقصیر او کوتاهی نه کار اخستو۔ او نن مونږ حقیقی تاوان اُولیدو۔ او پدے باندے زیات به دا وی چه دوی به گناهونه په خپلو شاگانو باروی۔ او ممکن ده چه الله تعالیٰ به د دوی گناهونو له د یو بد شکل انسان صورت ورکړی، چه هغه به دا کافران په میدان محشر کښ په خپلو شاگانو گرځوی۔ لکه چه په بعض روایتونو کښ راغلی دی چه هغه حافظ ابن کثیرؒ ذکر کړیدی، او دا هم کیدے شی چه دا یو تمثیل وی چه ددے په ذریعه د قیامت په ورځ د کافرانو او مشرکانو واقعی احوال بیانول مقصود وی۔

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ : دا خلك ولے تاوانیان شو؟ وجه دا ده چه په مصیبت باندے ور روان دی او هغے له تیارے نکوی، فکرئے هم نشته۔ دویم د عظیم نعمتونو نه محروم شو کوم چه نورو خلکو وگټل۔ دارنگه د الله تعالیٰ د دیدار نه محروم شو او د هغه د رضوان (رضا) نه، دا ټول تاوانونه دی۔

بِلِقَآءِ اللّٰهِ : د لقاء الله درے معانی دی (۱) الموت۔ (مرگ) (۲) بعث بعد الموت۔ (دوباره ژوندی کیدل) (۳) رُؤْيَةُ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ۔ (د الله تعالیٰ دیدار کول)۔ او دلته ترے مراد بعث بعد الموت او د الله دیدار دے۔

بَغْتَةً : قیامت به داسے ناڅاپی راځی چه خلك به خوراك ته ناست وی او رابه شی۔

فَرَّطْنَا فِيْهَا : (فِيْهَا) نه مراد آخرت دے۔ یعنی د آخرت دومره لویه ورځ وه او مونږ پدے باره کښ دومره ډیره کوتاهی کړیده او هیڅ تیارے مو ورله نهٔ کولو۔ یا (فِيْهَا) ضمیر دنیا

ته راجع دی۔ چه دنیا کښې مونږ کوتاهي کړې چه د آخرت دپاره مو پکښې څه نۀ دي کړي۔
وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ : يعنی دوی خو به د خپلے گناه نسبت مشرانو ته کولو چه زمونږ آزار او گناهونه به د هغوی په غاړه وی، نو الله وفرمایل چه دوی به خپل گناهونه راپه شا کړي او د بل چا گناه څوك نشي پورته کولے، البته د گمراه کولو او غلط دعوت گناه به ورته رسيږی۔
اَوْزَارَهُمْ : د بوجونو نه مراد گناهونه دی۔
سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ : دا ورسره ځکه وائی چه بعض بوجونه د ميوو او مالونو وی خو دا ډير بد بوج دے ځکه دے پسے سراسر عذابونه دی۔

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ط وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ
او نۀ دے ژوند دنیوی مگر لوبے او مشغله ده او خامخا کور روستنے ډیر غوره دے
لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ط اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾
هغه کسانو لره چه تقویٰ کوی، آیا نو عقل نۀ لرئ تاسو۔

تفسیر : پدے آیت کښې د دنیا بی رغبتی بیان شویده، او ددے بی ثباتی او زر ختمیدل او اثبات د بعث بعد الموت، او د آخرت د کامیابئ دپاره د کوشش کولو ترغیب ورکړے شویدے۔ چه اے د الله بندگانو ! د دنیا ژوند د لوبو او تماشو نه زیات هیڅ هم نۀ دی، پدے وجه ددے د مزو بندیان مۀ جوړیږئ او د آخرت د کامیاب جوړولو په کوشش کښې لگیا شئ، ځکه چه اصل کامیابی د آخرت کامیابی ده۔
لَعِبٌ وَّلَهْوٌ : دا تشبیه یو په عدم نفع کښې ده، یعنی لکه څنگه لوبی او تماشے فائده منے نۀ دی، نو دغه شان د دنیا زندگی هم فائده منه نۀ ده مگر هغه چه د الله دپاره وی۔
دویم دا تشبیه په عدم ثَبَات او په جلتئ سره ختمیدو کښې ده۔ لکه څنگه چه لوبی او تماشے زر ختمیږی او څه همیشوالے نۀ لری، وخت ئے کم وی صرف د مازیگری لږ وخت۔
علامه سعدیؒ وائی : لَعِبٌ فِي الْأَبْدَانِ وَلَهْوٌ فِي الْقُلُوْبِ۔ یعنی دنیا په بدنونو باندے لوبی دی او په زړونو کښې لهوه ده، نو زړونه په دنیا باندے غافله او مشغول دی او نفسونه پدے باندے عاشق دی او هموم (غمونه) دے پورے متعلق دی۔ او مشغولتیا پدے باندے د ماشومانو د لوبو په شان ده۔ (تفسیر السعدی)

لعب او لهو کښې فرق

لعب هغه لوبو ته وائي چه نۀ پکښې لذت وي او نۀ څه فائده لکه ماشومان چه ځان مشغولوي. او لهو هغې ته وائي چه په هغې کښې څه نا څه لذت وي لکه ځوانان چه کومې لوبې کوي، ټي وي، وي سي آر ګوري، نيټ کيبل استعمالوي چه انسان غافله کوي. او دنيا دغه شان دوه قسمه ده. او د آخرت کارونه د لعب او لهو نه نۀ دي ځکه چه حقيقت د لعب هغه دے چه فائده ترے نۀ اخستے کيږي او لهو هغه دے چه انسان پرے د آخرت نه غافله کيږي، او کوم کار چه د آخرت دپاره کيږي هغه د دواړو نه بهر دے. (القرطبي)

صاحب المنارؒ وائي : لعب هغه کار ته وائي چه کونکے په هغې سره يو صحيح مقصد نۀ اراده کوي چه هغه فائده اخستل او ضرر دفع کول دي لکه د ماشومانو کارونه چه په هغې باندے ذاتي طور سره خوند اخلي.نو د حلوئ د ډبې نه پرده لرے کول يا يوه دانه د خوراك دپاره ماتولو ته لعب نۀ وائي. او لهو : هغه شے دے چه انسان مشغول کوي د مهم کار نه، او بيا هر هغه شے چه په هغې سره فائده اخستے کيږي هغې ته لهو وائي. (مفرداتِ راغب)

او لهو په اصل کښې هر هغه شي ته وائي چه انسان مشغوله کوي برابره ده چه لوبې وي، يا مستي وي، يا د خوشحالئ اسباب وي، يا د هغه څيزونو نه راحت حاصلول وي چه هغه انسان لره ستړي کونکي يا په مشقت کښې اچونکي يا غمژن کونکي او خفه کونکي وي لکه د دنيا مصيبتونه او تکليفونه شو. بيا پدے کښې توسع وشوه نو کله ددے اطلاق کيږي په هغه شي باندے چه په هغې کښې خوشحالي او لذت وي اګرکه په هغې سره مقصد د مشقت والا کارونو نه ځان مشغول کول نۀ وي لکه د زنانو سره مستي کول او د هغوي نه فائده اخستل. او کله لهو هغه کوشش ته وائي چه انسان پرے د بل کوشش نه ځان مشغوله کوي ليکن ددے دپاره به فعل استعماليږي يعني داسے به وئيلے شي چه [لَهَوْتُ بِكَذَا عَنْ كَذَا] [ومنه قوله : فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهَّى] او داسے به نۀ وئيلے کيږي چه [هٰذَا الْفِعْلُ لَهْوٌ].

نو معنیٰ به دا وي چه کافران چه دا دنيا صرف ژوند ګڼړي – چه دا عبارت دے د هغه څيزونو نه چه دوي پرے ذاتي طور سره خوندونه اخلي، يا دوي لره د غمونو نه مشغوله کوي– نو دا خو صرف لعب او لهو دي چه دے کښې هيڅ داسے فائدے دوي لره نشته چه هغه په روستو ژوند کښې فائده ورکړي. يا دا ژوند دائر دے په مابين د داسے عمل کښې چه

په عاقبت کښې فائده نۀ ورکوي لکه د ماشومانو د لوبو په شان، او په مابين د داسې عمل کښې چه د هغې په جلتيئ سره سلبي فائده شته لکه څنګه چه د لهو فائده شته چه هغه غمونه او دردونه لرې کول دي لکه ددې وضاحت د بعض علماؤ په قول سره کيږي چه د دنيا ټول خوندونه سلبي دي ځکه چه دا دردونه زائل کول دي، د طعام لذت د لوږې درد زائل کوي، او ددې درد په اندازه په طعام کښې لذت غتيږي، او د اُوبو څکلو خوند د تندې درد ختموي. (المنار ۷/۳۰٤)

وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ : پدې کښې اشاره ده چه د متقيانو کار دا دې چه د لهو او لعب نه به ځان ساتي. او د بل طرفنه کوم کارونه چه د متقيانو نۀ دي هغه لهو او لعب دي. (القاسمی)

يَتَّقُوْنَ : يعني د شرك او كفر او ګناهونو او لهو ولعب نه ځان بچ کوي.

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ : د عقل تقاضا دا ده چه بنده باقي په فاني باندې غوره کړي.

قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِیْ
يقيناً پوهيږو مونږ چه بيشکه شان دا دې چه خامخا خفه کوي تا لره هغه خبرې
يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰـكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿۳۳﴾
چه وائي ئې دوي پس يقيناً دوي دروغجن نۀ ګڼري تا ليکن ظالمان د آيتونو د الله نه انکار کوي.

تفسير: پدې آيت کښې بيا تسلي ده رسول الله ﷺ ته. مکې والو به چه کله د نبي کريم ﷺ تکذيب کولو او په کفر او عناد کښې به ئې د حد نه تجاوز کولو نو نبي ﷺ ته به ډير زيات تکليف ملاويدو او په غم او پريشانئ کښې به اخته کيدو. الله تعالىٰ د نبي ﷺ دې حال ليدو سره پدې آيت کښې تسلي ورکړيده، چه دا خلك ستا بدي نۀ بيانوي بلکه دا زما بدي بيانوي، نو زۀ به د دوي نه سخت ترينه بدله واخلم.

يَقُوْلُوْنَ : يعني دوي درته شاعر او ساحر او ليونے وائي نو زۀ پدې پوهه يم.

فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ : ١- ددې يوه معنىٰ دا ده چه دوي ستا تکذيب په زړه کښې نۀ کوي صرف په ژبه باندې د ضد د وجه نه انکار کوي. ٢- دويم دا چه دوي تا ته کاذب نۀ وائي ځکه چه دوي به رسول الله ﷺ ته صادق او امين وئيلو ليکن د وحي او د رسالت په وجه به ئې د هغه تکذيب کولو نو په حقيقت کښې دا خلك د الله دشمني کوي.

ابوجهل نه چا تپوس وکړو چه محمد (ﷺ) چه کومې خبرې کوي دا دروغ دي؟ نو هغه

ووئیل : [وَاللّٰهِ مَا نُكَذِّبُ مُحَمَّدًا وَلٰكِنْ نُكَذِّبُ مَا جَاءَ بِهٖ]۔
قسم په الله که مونږ د محمد تکذیب کوو لیکن مونږ تکذیب کوو د هغه خبرو چه دهٔ راوړیدی یعنی خبرے ئے غلطے دی۔ (رواه الحاكمؒ- ابن کثیرؒ) (وصححه ابو عبد الله الدانی بن منیر آل زهوی فی ((سلسلة الآثار الصحیحة او الصحیح المسند من اقوال الصحابة والتابعین)) (رقم (۳۴۹)
لکه دا د باطل پرستو طریقه ده چه وائی دا فلانے سړے ډیر ښه دے او متقی دے لیکن مسئلے ئے ورانے دی، د اولیاؤ او د امامانو بی عزتی کوی او که د ایمان او د تقویٰ خبرے ئے کولے نو ښه به وے۔
او اَخنس بن شُریق د ابوجهل نه د رسول الله ﷺ او د هغه د خبرو په باره کښ تپوس وکړونو هغه ووئیل چه مونږ او بنو عبد مناف د یو بل سره په فخرونو او د شرافت په کارونو کښ برابر وو آخر دوی ووئیل چه مونږ کښ یو نبی شته چه د آسمان نه ورته وحی راځی نو مونږ خو دا فضیلت نشو موندلے؟ نو قسم په الله چه مونږ به پرے ایمان نهٔ راوړو او نهٔ به ئے تصدیق کوو۔ (ابن اسحاقؒ- فی ظلال القرآن)
نو دوی د رسول الله ﷺ ذاتِ گرامی منلو لیکن د هغه دعوت ئے نهٔ منلو، او دا په حقیقت کښ د الله سره دشمنی ده ځکه ورته الله تعالیٰ د غضب الفاظ استعمال کړیدی او ظالمان ئے ورته وئیلی دی۔
علامه ابو السعودؒ په خپل تفسیر کښ لیکلی دی چه دا آیت دلیل دے ددے خبرے چه د نبی کریم ﷺ مقام د الله تعالیٰ په نیز دومره اُوچت او پورته دے چه دے نه روستو هیڅ مقام نشته، پدے وجه الله تعالیٰ د خپل نبی تکذیب د خپل آیتونو تکذیب اُوګرځولو، بلکه د نبی کریم ﷺ د تکذیب نفی ئے اُوکړه او د خپل آیتونو تکذیب ئے ثابت کړو۔
یَجْحَدُوْنَ : جحود : نَفْیُ مَا فِی الْقَلْبِ اِثْبَاتُهٗ وَاِثْبَاتُ مَا فِی الْقَلْبِ نَفْیُهٗ۔ (مفرداتِ راغب)
په زړه کښ چه د کوم شی اثبات وی هغه نفی کول او په زړه کښ چه د کوم شی نفی وی د هغے اثبات کولو ته جحود وائی چه دا په معنیٰ د انکار مع العلم سره استعمالیږی۔ ددے آیت زیات وضاحت په سورة الاسراء (۴۶) آیت کښ موجود دے۔

وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا
او یقیناً دروغژن وئیلے شویدی ډیرو رسولانو ته مخکښ ستا نه نو صبر کړے هغوی

عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰى
په هغے چه دوی ته دروغژن وئیلے کیدل او تکلیف ورکړے شوے وو تردے چه
اَتٰـهُمْ نَصْرُنَا ج وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ج
راغلو هغوی ته مدد زمونږ، او نشته هیڅوك بدلونكے د كلمو (وعدو) د الله تعالىٰ
وَلَقَدْ جَآءَ كَ مِنْ نَّبَاِی الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾
او یقیناً راغلے دے تا ته د خبر د رسولانو نه۔

تفسیر: پدے آیت کښ بیا تسلی ده رسول الله ﷺ ته او زیرے دے هغه ته په مدد کولو سره لکه چه د تیر شوی رسولانو سره مدد کړے شویدے، ځکه چه دا قانون دے چه کله مصیبت عام شی نو د هغے برداشت کول آسانیږی۔ نبی ﷺ ته نصیحت شویدے چه لکه څنګه چه ستا نه مخکښ رسولانو د خپلو قومونو په قسماقسم ضررونو صبر کړے، نو ته هم صبر اُوکړه۔

نَصْرُنَا : دلته وقف دے أَیْ فَاصْبِرْ أَنْتَ وَمَعَكَ النَّصْرُ ۔ ته هم صبر کوه او د الله مدد به تا ته رارسیږی۔

وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ : د (کلمات الله) نه مراد دلته تورات، انجیل، زبور او قرآن نۀ دے ځکه چه هغه خلك بدلولے شی، بلکه د کلمات الله نه مراد دلته [مَوَاعِیْدُ اللّٰهِ بِالنَّصْرِ] دے، د الله وعدے د نصرت۔ لکه صافات (۱۷۲) آیت کښ دی۔ او دا په هره ژبه کښ محاوره ده، په پښتو کښ خلك وائی چه ما دا خبره وکړه خو په بله به ئے نۀ کړے۔یعنی ما حقیقت بیان کړو نو که ددے نه په غیر تۀ بله خبره کوے هغه به د حقیقت خلاف وی۔ نو ددے مطلب دا شو چه الله یوه خبره وکړه چه زه به خپل نبی سره مدد کوم نو که تول دنیا راجمع شی او د نبی سره مدد ختموی او هغه ته شکست ورکوی او هغه ذلیله کول غواړی نو هیڅکله ئے نشی کولے۔

وَلَقَدْ جَآءَ كَ : سوال پیدا شو چه الله تعالىٰ کومو پیغمبرانو سره مدد کړیدے؟ نو وے فرمایل: تا ته پدے قرآن کښ خبرونه د پیغمبرانو راغلی دی، هغه ولوله او عبرت ترے واخله چه هغوی سره څنګه مددونه شویدی۔

وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِيَ
او كه چرته وى ګران په تا باندے مخ اړول د دوى نو كه طاقت لرے ته چه طلب كړے
نَفَقًا فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ
يو سورنګ په زمكه كښ يا پوړئ آسمان ته پس چه راوړے دوى ته څۀ نخه، او كه غوختے
اللهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۵﴾
الله تعالىٰ خامخا جمع كړى به ئے وے دوى په هدايت باندے پس مۀ كيږه د ناپوهو نه۔

تفسير: پدے آيت كښ رسول الله ﷺ ته په باب د دعوت كښ تعليم وركړے كيږى، رسول الله ﷺ به ډير حرص كولو چه مشركان كومے معجزے غواړى چه الله تعالىٰ ئے نازلے كړى نو ښه به وى، كيدے شى چه دوى ايمان راوړى، نو الله خپل نبى ته تعليم وركوى چه دا خلك كه د معجزو طلب كوى نو تۀ به ئے نۀ كوے، هدايت د الله په اختيار كښ دے، ستا په لاس كښ نۀ دے، كه ستا په لاس كښ وى نو څه ته ورته هدايت وكړه، نو هركله چه هدايت د الله په لاس كښ دے، نو د الله نه به ځان نۀ مخكښ كوے، د الله پدے باب كښ ډير حكمتونه دى چه دلته بعضو ته اشاره كوى۔

او پدے آيت كښ نبى ﷺ ته په يوه دريمه طريقه سره تسلى هم وركړے كيږى چه كه د كافرانو ايمان نۀ راوړل په تا باندے ګران تيريږى، نو ته د زمكے د يو سُرنګ نه يا پوړئ لګولو سره د آسمان نه د دوى دپاره يوه داسے نخه راوړه چه دوى د ايمان په راوړو مجبوره كړى، نو كه ستا وس وى نو را ئے وړه ليكن تۀ داسے نشى كولے، ځكه چه الله تا ته داسے قدرت نۀ دے دركړے، ځكه چه كه داسے ممكن وے نو بيا ايمان راوړل ضرورى كيدل ليكن داسے ايمان به د دوى دپاره فائده مند نۀ وى۔ نو معلومه شوه چه هدايت ستا په اختيار كښ نۀ دے نو په دوى پسے خفګان مۀ كوه۔

فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ نه روستو (فَافْعَلْ) (وكړه) لفظ پټ دے۔

وَلَوْ شَآءَ اللهُ : اَیْ اِيْمَانَهُمْ جَبْرًا۔ الله فرمائى : كه الله د دوى ايمان غوختلے جبراً، (يعنى په زور سره) نو تمام انسانان به ئے د هدايت په لاره راجمع كړى وے، ليكن د هغه مشيت د انتهائى قهر او انتهائى لطف او مهربانى ښكاره كولو په غرض داسے ونكړل۔ پدے وجه اے نبى ! (ﷺ) ته د دوى د ايمان سخت آرمان مۀ كوه، يا د دوى د مطالبے پوره كولو سخت

خواهش کولو سره ددے ناپوهو په شان مهٔ جوړيږه، کوم چه د الله د مشيت يا د هغه د حکمت او مصلحت په تقاضا نهٔ پو هيږی۔ ځکه چه که الله په زوره دوی ايمان ته راوستلے نو بيا به په دنيا کښې ابتلاء (امتحان) نهٔ راتلو، بيا به د نيك او بد، د نبی او غير نبی کمال څه وو، ټول به هدايت والا وے نو امتحان به نهٔ وو او حال دا چه الله تعالیٰ په دنيا کښې بندګانو باندے امتحان کوی چه رسولان ورته راوليږی که چا په خپل بصيرت سره ايمان راوړو، نو د جنت مستحق به شی او که چا ايمان رانهٔ وړو نو د جهنم لائق به شی، نو ددے امتحان د وجه نه څه کسان جنت دپاره او څه د جهنم دپاره جوړوی۔ دا د هغه حکمت دے۔

بيا پدے امتحان کښې ډيرے فائدے وی، تميز د خبيث او د طيب کيږی، الله پدے سره پيژندلے شی، هغه ته عاجزی ډيره کيږی، د هغه بندګی زياته کيږی۔ عقلمند بنده به د الله تعالیٰ نه هدايت غواړی او ضد او عناد به نکوی۔

د آيت حاصل مطلب دا شو چه اے زما نبی ! زهٔ د هدايت په باب کښې په چا زور نکوم نو تهٔ هم زور مهٔ کوه او د الله نه ځان مهٔ مخکښې کوه، بلکه دعوت کوه۔

فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ : الله خپل نبی ته داسے خبره کولے شی، او دا تعليم دے هغه ته چه تهٔ ددے ناپوهو په شان مهٔ کيږه چه د معجزو طلب کوے۔ او پدے کښې هغه ته زجر ورکول مقصد نهٔ دے۔ دويم دا د (وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ) سره متعلق دے (يعنی فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجَاهِلِيْنَ بِقَوْلِهٖ وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ) يعنی ددے خبرے نه ځان مهٔ ناپوهه کوه چه که الله غواړی دوی ته هدايت کولے شی، الله پدے قادر دے۔ يعنی دا خبره دماغو کښې ياد ساته چه الله د دوی په هدايت قادر دے ليکن دغسے طريقے سره نهٔ کومه چه دوی غواړی بلکه په طريقه د امتحان سره هدايت کوی۔

اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ط وَالْمَوْتٰى
يقيناً خبره منی هغه کسان چه آوری او مړی (چه کافران ورسره مشابه دی)
يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾
راپورته به کړی دوی لره الله تعالیٰ بيا به خاص هغه ته واپس کولے شی۔

تفسير : پدے آيت کښې الله فرمائی چه دعوت کله وشی نو دوه قسمه خلك پيدا شی، يو مستجيبين (يعنی خبره قبلونکی) او بل موتیٰ (هغه کافران چه زړونه ئے د مړو په شان

وی)۔ پدے کښې اشاره ده چه بعض خلك استعداد والا وی او بعض بی استعداده، نو که تهولو باندے الله تعالیٰ زور وکړی، نو بی استعداده خلك به هم مؤمنان شی نو بیا څه فائده وشوه؟ نو الله تعالیٰ اختیار څکه ورکړو چه بعض خلك به په خپل اختیار ایمان راوړی، او څوك به کفر وکړی په خپل اختیار نو اهل خلك به د نا اهلو نه جدا شی او دغه د امتحان مقصد دے۔

اِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ : أَیْ دَعْوَتَكَ : یعنی ستا دعوت هغه خلك قبلوی۔

يَسۡمَعُونَ : چه هغوی خبرے ته غوږ ږدی او بیا ئے قبلوی۔ سَماع د انابت او د فهم حاصلولو مراد ده۔

وَالۡمَوۡتَىٰ : دے جمله کښې تشبیه ده، دلته ئے کافران د مړو سره مشابه کړیدی لکه څنګه چه مړی نهٔ آوری نو کفار اګرکه آوری لیکن استجابت نهٔ کوی نو ګویا که داسے دی لکه چه نهٔ ئے آوری۔ نو مړی به په قیامت کښې الله ته پیش کیږی نو دغه شان به دا کافران الله ته پیش شی او هغه به ورسره حساب کوی۔ او دا په لنډو الفاظو کښې ډیر مزیدار مثال دے۔

ځینی مفسرین (قاسمیؒ) ددے آیت مطلب داسے بیانوی : چه مخکښې په (۲۵) آیت کښې الله تعالیٰ د مشرکانو دا صفت بیان کړے وو چه د دوی په زړونو باندے پرده پرته ده، پدے وجه که قرآن آوری هم نو په هغے سره دوی ته هیڅ فائده نهٔ رسیږی۔

همدا خبره الله تعالیٰ په دے آیت کښې په یو بل انداز کښې بیان کړیده چه دا مشرکان د مړو په شان دی، د دوی نه د ایمان توقع څنګه کیدے شی؟ ایمان خو هغه خلق راوړی چه ژوندی وی او د الله او د رسول خبرے په سوچ سره آوری او د هغے نه عبرت حاصلوی۔ دوی ته خو د حیواناتو ژوند ورکړے شویدے لیکن د دوی زړونه د فاسدو عقیدو او د رذیل اخلاقو په زهرو سره مړهٔ شویدی۔

دے نه روستو الله تعالیٰ وفرمایل چه دا کافران چونکه نهٔ آوری او نهٔ جواب ورکوی پدے وجه مړهٔ دی۔ دوی به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ بیرته راپورته کوی او د هغه مخے ته به پیش کولے شی، په هغه وخت به هغه دوی ته د دوی د عملونو بدله ورکوی۔ (السعدیؒ والمنار وتیسیر الرحمن)

نو د (يَسۡمَعُونَ) نه مراد أَحياءُ القلوب (یعنی ژوندی زړونو والا) شو او د موتیٰ نه مراد موتی القلوب (یعنی مړو زړونو والا) شو۔

وَالۡمَوۡتَىٰ : خازن، نیشاپوری او السراج المنیر داسے وائی : چه دا مقابل د (اَلَّذِيۡنَ يَسۡمَعُونَ)

دے یعنی خبره هغه خلك قبلوی چه هغوی خبرے ته غوږ اړدی او انابت پکښ وی۔ [وَالْكُفَّارُ الَّذِيْنَ هُمْ بِمَنْزِلَةِ الْمَوْتٰى فِيْ عَدَمِ السَّمَاعِ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰه] او هرچه هغه کافران دی چه په شان د مړو دی په نهٔ آوریدو او نهٔ قبلولو د حق کښ نو دوی خبره نهٔ آوری او نهٔ ئے قبلوی نو دوی به الله تعالیٰ قیامت کښ راپورته کړی او هغه ته به د حساب کتاب دپاره وروګرځولے شی۔ نو پدے کښ ترغیب دے چه تاسو استجابت د الله او د رسول وکړئ او منع ده د مخالفت نه۔ (السعدیؒ)

قاسمیؒ وائی : پدے کښ اشاره ده چه د کفارو هدایت د مړو د راژوندی کولو په شان دے چه صرف الله تعالیٰ پرے قادر دے نو پدے کښ د رسول الله ﷺ نا امیده کول دی د دوی د ایمان نه۔ او کافرانو ته مړی وئیل دوی پورے دومره تهکم او سپکاوے دے چه په هیڅ پټ نهٔ دے۔ (محاسن التاویل)

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ
او وائی دوی ولے نشی نازلیدے په دهٔ باندے نخه د طرفه د رب دهٔ نه تهٔ ووایه!
اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾
یقیناً الله قادر دے پدے چه نازله کړی نخه لیکن ډیر د دوی نه نهٔ پو هیږی۔

تفسیر : اُوس د موتیٰ تذکره کوی چه دا دومره ضدیان او عنادګر خلك دی چه الله څومره معجزات رالیږلی دی، هغه نهٔ منی او نور معجزات غواړی۔ نو پدے آیت کښ زجر دے په اِقْتِرَاحُ الْآيَات (یعنی د ځانه د معجزاتو په طلب کولو)۔

اٰيَةً : اَیْ مَطْلُوْبَةً لَنَا۔ یعنی هغه معجزه دِے راوړی چه مونږه ئے طلب کوو مثلاً د مکے نه دِے غرونه لرے کړی، نهرونه او چینے دِے روانی کړی۔

وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ : ۱- یعنی الله تعالیٰ کولے شی چه دغه شان معجزه نازله کړی لیکن اکثر د دوی نهٔ پو هیږی په قدرت د الله۔ (قرطبیؒ) ۲- یا په عاقبت د معجزے باندے، ځکه چه که الله معجزه راولیږی او دوی ئے ونهٔ منی نو غرق به شی۔

۳- یا لَايَعْلَمُوْنَ بِالْمَصْلَحَةِ۔ (قرطبیؒ) په مصلحت باندے نهٔ پو هیږی ځکه چه که د مکے نه غرونه لرے شی نو بل تن به ووائی چه مکه ډیره آزاده ده، لږ غرونه پکښ مزه کوی هغه پکښ راوله، بل به وائی آسمان رابنکته کړه، او بل به وائی چه دیوال د سرو زرو کړه

نو دا خو د الله نظام خرابول دي نو د کافرو په خبرو کښې مصلحت نشته۔ بس الله چه څه رالیږلي دي دغه د هدایت دپاره کافي دي۔

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طَآئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَا حَيْهِ
او نشته هیڅ زنده سر په زمکه کښې او نۀ مرغۍ چه الوځي په وزرو خپلو
اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ط مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ
مګر ډلې دي ستاسو په شان۔ نۀ دي پریخې مونږ پدې کتاب کښې
مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾
هیڅ شے (ضروري د دین) بیا به خاص رب خپل ته دوي ورجمع کړے شي۔

تفسیر : دا تحقیقي جواب دے دوي ته، او ظاهر کښې دا کلام غیر مربوط ښکاره کیږي۔ لیکن ژوره معنیٰ پکښې پرته ده، د جواب حاصل روستو ذکر کیږي۔

فِي الْاَرْضِ : د في الارض قید ئے ځکه ولګولو چه دَابّه لفظ کله صرف انسان ته هم وئیلے شي نو خبره عامه کوي۔

يَّطِيْرُ بِجَنَا حَيْهِ : دا ورسره ځکه وائي چه (طائر) کله ډاکي ته هم وائي نو هغه ترے وباسي۔

اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ : ۱- مفسرینو وئیلي دي چه حیوانات او مارغان ستاسو په شان امتونه دي په نومونو کښې چه څوك اُمَّةُ الْحِمَار (د خرو ډله) دے او څوك اُمَّةُ الْكِلَاب (د سپو ډله) او څوك اُمَّةُ الطَّيْر (د مارغانو ډله) ده۔ ۲- یا امثالکم : اَيْ فِي الْخَلْقِ یعني په پیدائش کښې ستاسو په شان دي، یعني هغوي هم مخلوق دي او تاسو هم۔

۳- عطاء بن ابي رباحؒ وائي : اَمْثَالُكُمْ فِي التَّوْحِيْدِ وَالْمَعْرِفَةِ۔ یعني ستاسو په شان دي په توحید او معرفت د الله کښې یعني هغوي باندې هم توحید لازم وو او تاسو باندې هم لازم دے او هغوي منلے دے او تاسو نۀ دے۔ (بغويؒ)

٤- ابن قُتیبهؒ وائي : اَمْثَالُكُمْ فِي طَلَبِ الرِّزْقِ وَتَوَقِّي الْمَهَالِكِ ۔ ستاسو په شان دي په طلب د رزق کښې او د ځایونو د هلاکت نه په ځان ساتلو کښې، یعني هغوي هم ستاسو په شان ځانله روزي طلب کوي او د هلاکت د ځایونو نه ځان بچ کوي۔ (بغويؒ)

۵- في ظلال القرآن کښې دي : اَمْثَالُكُمْ اَيْ لَمْ تُخْلَقْ سُدًى (مُهْمَلَةً) بَلْ مُعَبَّدَةً مُذَلَّلَةً۔ یعني

ستاسو په شان دي پدې کښې چه دوی مهمل نۀ دي پیدا بلکه د الله تابع دي او هغه ته عاجزي کوی لکه تاسو مهمل نۀ یئ پیدا۔

٦- أَمْثَالُكُمْ فِي الْمَوْتِ وَالْبَعْثِ وَالْإِقْتِصَاصِ (ابو هريره ﷺ) په هغوی به هم مرګ راځي او دوباره به قیامت کښې راپورته کولے شي او د یو بل نه به قصاص اخلي لکه ستاسو په شان۔ (قرطبیؒ)

٧- أَمْثَالُكُمْ فِي التَّشْبِيهِ ۔ (سفیان بن عُیینۃ) یعنی ستاسو په شان دي چه په حیواناتو کښې کوم صفات دي نو انسانانو کښې هم هغه شان شته، بعض خلك د حمار سره مشابه وی۔ او بعض د سپو سره او بعضِ د چرګانو او بعض د غوایانو په شان وی۔ (بغویؒ، قرطبیؒ)

پدے ټولو تفسیرونو کښې د آیت ښه مطلب نۀ واضح کیږی او پوره فائده نۀ حاصلیږی۔

٨- نو ښه مطلب دا دے چه پدے آیت کښې د الله تعالیٰ د علم محیط او د هغه د قدرتِ کامله، شامله بیان دے چه انسان په دهشت کښې غورزوی او هغه پدے طریقه چه په زمکه کښې کوم حیوانات دي او په هوا کښې چه څومره مارغان الوزی چه په کروړاؤ او کربونو پیدا دي نو دا امتونه دي او یو یو نۀ دے لکه تاسو یو غټ امت یئ، مختلف قِسمه انسانان پکښې دي نو دا تشبیه په کثرت (ډیروالی) کښې ده۔او دا الله تعالیٰ په خپل طاقت پیدا کړیدی او دوی له رزق ورکوی۔ (تفسیر ابی السعود ۲/۳٦۰)

او دا ورته معلوم دي او بیا ئے په لوح محفوظ کښې لیکلی دي بیا به ئے مړه کوی بیا به د هغوی ذرات راجمع کوی او آخرت ته به ئے پیش کوی نو دا څومره عظیم قدرت او علم دے نو الله تعالیٰ ته معجزه رالیږل څه ګران دی او هغه پوهه دے نو کومه معجزه چه مناسبه وی هغه رالیږی۔

او (مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ) کښې د کتاب نه مراد لوحِ محفوظ دے یعنی بیا مے دا په لوح محفوظ کښې لیکلی هم دی، نو دا څیزونه اول معلومول او بیا د هغے پیدا کول او بیا د هغے لیکل، او ددے نه بیا لویه خبره دا ده چه ﴿ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ﴾ بیا د دوی حشر، دا ټول حیوانات او مارغان او انسانان به مړه شي نو د دوی ذرات الله ته معلوم دي، سل کاله او زر کاله مخکښې یو مارغه مړ دے، د هغے ذرات کوم ځای پراته دي، دا ټول الله ته معلوم دي نو د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ ستاسو حشر هم وکړی او ددے مخلوقاتو حشر به هم وکړی، روحونه به پکښې واچوی۔ نو دا د الله تعالیٰ څومره کامل علم دے چه د ټولو څیزونو نه ئے احاطه کړیده نو د الله دے علم او قدرت ته فکر وکړه۔

نو د مخکښ آیت سره ئې مناسبت داسې شو او د جواب حاصل دا شو چه تاسو یوه معجزه غواړئ حال دا چه الله تعالیٰ دا ټول کائنات روان کړیدی، او قیامت کښ به دا ټول راجمع کوی نو په دغه مطلوبه معجزه خو خامخا قادر دے، لیکن نهٔ ئې نازلوی دے دپاره چه د هغه د حکمتونو محافظت وشی۔ نو دا د (اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ) دپاره د دلیل په شان شو۔ (ابو السعود)

ددے آیت بل ربط ابن عطیهٔ او محمد رشیدؒ رضا دا بیان کړیدے چه مخکښ الله تعالیٰ د انسانانو حشر بیان کړو (ثم الیه یرجعون) نو اُوس د حیواناتو او مارغانو حشر بیانوی چه قیامت حق دے، انسانان لا څه چه حیوانات به هم قیامت کښ راپورته کولے شی۔ المحرر الوجیزوالمنار۷/۳۲٦)

مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ د کتاب یو مصداق مخکښ بیان شو یا د کتاب نه مراد قرآن کریم دے چه دا د هر شی تبیان دے لکه په سورة الاعراف کښ به ددے تفصیل راشی۔ یعنی ما په قرآن کریم کښ هیڅ شے د مهمو څیزونو نه نهٔ دے پریښے چه د هغے نه یو ددے خبرے بیان دے چه الله تعالیٰ د ټولو مخلوقاتو د مصلحتونو رعایت کوی څنګه چه مناسب وی۔ (ابوالسعودؒ)

مِنْ شَيْءٍ : یا (من شیء) په شان د مفعول مطلق دے دپاره د (فَرَّطْنَا) نو معنیٰ دا ده چه مونږ په کتاب کښ هیڅ تفریط نهٔ دے کړے بلکه په هغے کښ مو هر ضروری شے ذکر کړیدے۔ (ابوالسعودؒ)

ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ : څینی خلکو دا ضمیر صرف انسانانو ته راجع کړیدے او د حیواناتو حشر ئې نهٔ دے منلے، لیکن صحیح دا ده چه (رَبِّهِمْ) ضمیر ټولو حیواناتو، مرغانو او انسانانو ته راجع دے، لکه احادیثو کښ د هغے تفصیل موجود دے۔

د حیواناتو د حشر حکمتونه

د حیواناتو په حشر کښ ډیر حکمتونه دی، (۱) یو د الله تعالیٰ د عدل اظهار دے چه که حیواناتو کښ چا ظلم کړے وی هغه به هم قصاص کړے شی۔

(۲) دویم اظهار د قدرت د الله تعالیٰ دے، بندګانو ته خپل طاقت ورښائی۔

(۳) دریم د انسانانو د شرمولو دپاره ئې راجمع کوی دے دپاره چه د انسانانو سزاګانو ته وګوری نو حیوانات به د دغه مجرم انسانٌ پورے خاندی، نو د ملائکو، او انسانانو او

حیواناتو په مینځ کښې به د الله مخې ته ولاړ وی، الله تعالیٰ به ئے دے ټولو ته شرموی۔
(٤) څلورم دا حیوانات به خاورے شی نو د کفارو حسرت به ډیر شی، وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَالَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا۔ کافر به وائی چه اے ارمان! چه زۀ خاورے شوے وے۔
سوال: حیوانات خو مکلف نۀ دی نو قصاص به څرنګه واخستے شی؟
جواب: یو عذاب دے هغه پرے نشته او بل قصاص دے نو هغه شته۔ پدے کښې د الله تعالیٰ د عدل اظهار دے د قیامت په ورځ۔ لکه حدیث کښې دی: حَتّٰى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ۔(مسلم: ۲۳۳۷) په دے ذکر شوی آیت باندے ډیر خلك نۀ دی پو هه شوی۔

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ
او هغه کسان چه دروغژن ګڼړی آیتونه زمونږ کانړۀ دی او ګونګیان دی
فِي الظُّلُمٰتِ ط مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ط
په تیارو کښې دی، هغه څوك چه وغواړی الله تعالیٰ (نو) ګمراه کړی هغه لره
وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۳۹﴾
او هغه څوك چه وغواړی الله (نو) وګرځوی هغه په لاره نیغه۔

تفسیر: پدے آیت کښې الله فرمائی چه د کافرو د علم اسباب اخستلے شویدی څکه پدے خبرو نۀ پو هیږی، او پدے کښې زورنه ده چه حیوانات او مارغان خپلو مصلحتونو ته هدایت مونده کوی لیکن کافران هدایت نۀ مونده کوی، د علم ذرائع ئے ختم کړیدی۔
دارنګه مخکښې آیت کښې د الله د علم او قدرت عموم بیان شو نو دلته د هغه د مشیت عموم بیانوی۔ (احسن الکلام)
مطلب دا دے چه کوم خلك چه د الله د آیتونو تکذیب کوی، د هغوی مثال په جهالت او ناپوهئ او د فکر او نظر په بد حالئ کښې د هغه کونړ او ګونګی سړی په شان دے چه هغه په تیارو کښې د حیران روانیدو دپاره پریخودے شی، دغسے سړے هیڅ کله هم نیغه لاره نشی مونډے، او د تیارو نه هیڅ کله هم نشی وتلے۔
ابو السعودؒ وائی: دا متعلق دے د (مَا فَرَّطْنَا) پورے یعنی مونږ په قرآن کښې ټول ضروری څیزونه ذکر کړیدی او په هغے سره مو د خلکو عذرونه او بهانے ختمے کړیدی لیکن کوم خلك چه زما د آیتونو تکذیب کوی نو هغوی په تیارو کښې ړاندۀ کانړه پراته دی چه هیڅ

نـهٔ آوری په سوچ او پوهے سره، پدے وجه دے ته اساطیر الاولین وائی او دا آیات نهٔ گنڑی او نـور آیتـونـه طلـب کوی او دوی (بُکم) گونگیان دی چه قادر نهٔ دی چه په حق باندے نطق وکړی پدے وجه خو ستا دعوت نهٔ قبلوی،آه۔

فـی الظلمات ئے په مخکښ عطف نکړو اشاره ده چه صرف (صُمٌّ بُكْمٌ) د هدایت نه مانع نهٔ دے بلکه ورسره په ډیرو تیارو کښ ننوتل سبب د گمراهئ دے۔

ابـو السعودؒ وائی : پدے ذکر کولو کښ مقصد د دوی په جهالت کښ ژور ننوتل او د دوی بد حالی ذکر ده ځکه کونړ او گونگے چه کله لیدونکے وی نو ډیر کرته د بل په اشاره سره په خبره پوهه شی اگرکه په الفاظو سره نهٔ پوهیږی، او بل هم په اشاره سره پوهه کولے شی او کله چه ددے سره ړوند وی یا په تیارو کښ وی، نو دهٔ باندے د فهم (پوهے) دروازه بیخی بنده شی نو ځکه ورپسے روستو تاکید کوی چه (من یشأ الله یضلله) یعنی دا خلك چه هرکله په داسے حال کښ دی نو دوی باندے مهر وهلے شویدے د دوی نه د ایمان طمع بیخی نشی کیـدے ځکـه چـه ځـانونـه ئے خپلـه گمـراهئ تـه وارتول نـهٔ د الله پـه جبر (زور) سره۔

(ابو السعود۲/ ۳۶۰)

قُلْ اَرَءَ يْتَكُمْ اِنْ اَتٰـكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ
تهٔ ووایه !آیا خبر راکړئ ما ته که راشی تاسو ته عذاب د الله تعالیٰ یا راشی تاسو ته
السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ج اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٠﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ
قیامت آیا غیر د الله نه بلئ تاسو که یئ تاسو رشتینی۔ بلکه خاص الله لره به بلئ تاسو
فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ
نو لرے به کړی هغه (تکلیف) چه بلنه کوئ تاسو هغے ته که وغواړی الله تعالیٰ
وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾
او هیروئ تاسو هغه چه تاسو ئے د الله سره شریکان جوړوئ۔

تفسیر : پـدے کـښ بـل عـقـلـی دلیل دے او پـه دے کـښ رد د شرك فی الدعاء دے او د مشـرکـانـو د جهالت ذکر دے چه دوی سَره ددے نه چه په مصیبتونو کښ صرف الله تعالیٰ ته آواز کوی او کله چه الله تعالیٰ مصیبت لری کړی نو بیا ورسره شرك کوی لکه دغه شان

په سورة یونس (۲۲) او اسراء (٦٧) او سورة لقمان (۳۲) کښې هم دی۔

اَرَءَ يْتَكُمْ : همزه د استفهام تعجبی دپاره ده، او رأیت په معنیٰ د لیدلو یا پیژندلو سره دے او (کُمْ) حرف خطاب دے د تاکید دپاره راغلے دے، اعراب نۀ غواړی، نو حاصل د معنیٰ دا شو : [ءَ أَبْصَرْتَ أَوْعَرَفْتَ الْحَالَةَ الْعَجِيبَةَ فَأَخْبِرْنِیْ عَنْهَا] یعنی آیا که تاسو عجیبه حالت لیدلے وی یا مو پیژندلے وی نو ما ته د هغے نه خبر راکړئ)

عَذَابُ اللهِ : یعنی په دنیا کښې عذاب راشي۔

السَّاعَةُ : ددے نه مراد یا وړوکے قیامت دے یعنی مرګ۔ یا لوی قیامت دے۔

دلته وقف دے أَیْ مَنْ تَدْعُوْنَ؟۔ یعنی خبر راکړئ چه د عذاب په وخت کښې به چا ته آواز کوئ۔ یا آ غیر الله به رابلئ۔

صٰدِقِيْنَ : فِیْ أَنَّ آلِهَتَكُمْ تَنْفَعُكُمْ ۔ ۱ - که تاسو رشتینی یئ چه ستاسو آلِهه تاسو ته فائده درکولے شی۔ ۲ - یا که تاسو رشتینی یئ نو خبر راکړی چه آیا تاسو به په تکلیف کښې غیر الله رابلئ۔ (ابوالسعودؒ)

بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ : دا دلیل دے چه مشرکان هم په سخت وخت کښې صرف الله ته آواز کوی او هغه ته رامدد شه وائی۔ نو پدے کښې په مشرکانو رد دے چه هرکله تاسو په مصیبت کښې صرف الله ته آواز کوئ نو بیا په راحت کښې هم دغه الله یاد کړئ۔ ددے آیت تشریح په سورة یونس (۲۲) آیت او په سورة النحل (۵۲/۵۳) کښې ده۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓی اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ
او یقیناً رالیږلی دی مونږ (رسولان) ډیرو امتونو ته مخکښې ستا نه پس ونیول مونږ دوی لره
بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾ فَلَوْلَآ
په تکلیفونو د مال او تکلیفونو د بدن دے دپاره چه دوی عاجزی وکړی الله ته۔ پس ولے نۀ وه
اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ
کله چه راغے دوی ته عذاب زمونږ چه عاجزی ئے کړے وے لیکن سخت شو زړونه د دوی
وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوْا
او ښائسته کړیدی دوی ته شیطان هغه عملونه چه دوی به کول۔ نو هرکله چه هیر کړو دوی

مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ
هغه خبرې چه نصیحت ورکړې شوې وو دوی ته په هغې نو راکولاؤ کړې مونږ په دوی باندې
اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰۤى اِذَا فَرِحُوْا بِمَاۤ اُوْتُوْۤا
دروازې د هر شي، تردې چه خوشحالي وکړه دوی په هغه څه چه ورکړې شوی وو
اَخَذْنٰـهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَقُطِعَ
نو راونیول مونږ دوی ناڅاپه پس دغه وخت دوی نا اُمیده وو۔ پس پریکړې شوې
دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ
جرړې د قوم هغه چه ظلم ئې کړې وو۔ او ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دی
رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٥﴾
چه پالونکې د مخلوقاتو دې۔

تفسیر: پدې آیت کښې الله تعالیٰ د رسولانو د رالیږلو او د هغوی د اقوامو په باره کښې یو قانون بیان کړیدې او هغه دا دې چه کله الله تعالیٰ پیغمبران راولیږی او خلك تکذیب وکړی نو الله امتحانات راولی، او دا امتحانات کله په مصائبو سره راولی او کله په راحت سره، که هغوی ښه شي نو ښه ده او که ښه نشي نو الله پرې استیصالي (بیخ ویستونکې) عذاب راولی چه ټول ختم کړی او نام ونشان ئې هم پاتې نشي۔ ددې اصولو نه روستو په شرك باندې رد کوی، بیا تخویف بیانوی، بیا د رسولانو د رالیږلو حکمت بیانوی بیا په (٥٠) آیت کښې جواب د اقتراح الآیات کوی۔

ربط :

بعض مشرکان خو لا داسې هم دی چه د عذاب د راتللو په وخت کښې هم الله نهٔ رابلی ځکه چه په ګمراهئ کښې سخت ننوتي وی۔ (ابوالسعود)

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ : دلته (رُسَلاً) لفظ پټ دې، هغه ئې نهٔ دې ذکر کړې ځکه چه مقصد حال د قومونو ذکر کول دی، نهٔ د رسولانو۔ او دلته (فَكَذَّبُوْا) لفظ پټ دې یعنی هغوی تکذیب وکړو۔

د بأساء او ضراء فرقونه

بِالْبَأْسَآءِ : یعنی مالی سختیٔ، فقر وغیره۔
وَالضَّرَّآءِ : دا د بدن مرضونه او دردونه دي یا نور آفات دي۔ (قرطبیؒ وابوالسعودؒ) او قحط او تکلیف ته هم وائي برابره ده حسي وي او که معنوي۔ (المنار)

صاحب المنار یو ښه فرق کړیدے چه بأساء هغه خارجي سخت واقع کیدونکی تکلیفونه دي چه چا ته ورسیږي لکه نن زمانه کښ د جنګ تاثیر شو ځکه چه ددے واقع کیدل ډیر سخت درد ورکوي هغه چا ته چه اولاد ئے مړه شوي وي، یا ئے کلي او کورونه ړنګ شوي وي، یا ئے ژوند تنګ شوے وي۔ (اګرکه بدن ته ئے څه زخم او تکلیف وغیره نهٔ وي رسیدلے) او ضراء هر هغه مصیبت ته وائي چه نفس ته سخت درد ورکوي، برابره ده چه سبب ئے نفسي وي یا بدني یا خارجي۔ نو بناء پدے باندے بأساء د اسبابو د ضراء نه دے۔ او دا دواړه په وزن د حَمْرَاء دي او ددے په مذکر کښ وزن د احمر نشته بلکه اسم تفضیل راغلے دے۔ (تفسیر المنار۷/۳٤۵)

لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ : ځکه چه مصیبت په انسان کښ عاجزي پیدا کوي، کیدے شي چه زړه به ئے نرم شي او د الله رسول ته به غاړه کیږدي۔ خو دا هم د الله رحم وي چه په مصیبت کښ بنده الله ته متوجه شي۔ تضرع : سوال کول دي په عاجزیٔ سره چه د شرك او کفر او ګناهونو نه توبه ورسره ملګری وي۔ (بغویؒ)

صاحب المنار وائي : د انسانانو طبائع او اخلاق مختلف دي، په شدائدو او تکلیفونو سره د انسانانو تربیت کیږي، مغرور خلك د غرور نه واپس شي او فجار (بد کار) د خپل فجور نه واپس کړي، نو څو مره لائقه ده چه اهل الاوهام (وهمونو والا خلك) به د خپل ځانونو په شان بندګانو او بتانو نه د دعا او رامدد شه وئیلو نه راواپس شي لیکن ډیر بد بخت شته چه شرك او فسق کښ داسے ژور ننوتي وي چه هیڅ تکلیف هغوي د ځای نه نشي خوزولے او نه د هغوي شرك او فسق زائله کولے شي۔ المنار۷/۳٤٦)

فَلَوْلَآ : دا په روستو (تَضَرَّعُوْا) باندے داخل دے۔

بَأْسُنَا : بأس په اصل کښ په جنګ کښ سختیٔ، په یره کښ سختیٔ، سخت عذاب، قوت، بهادریٔ، تنګ حالي، خضوع (عاجزي) او فقر ته وائي۔ (لسان العرب) او امام راغبؒ وائي : بؤس او بأس او بأساء : شدت او مکروه ته وائي۔ یعني سختي او مصیبت۔ مګر بؤس په فقر او جنګ کښ زیات استعمالیږي، او بأس او بأساء په نکایة (سزا ورکولو)

کښې زيات استعماليږي، او بيا ئې دے دپاره شوا هد ذکر کړيدي۔ (مفرداتِ راغب)
قَسَتْ قُلُوبُهُمْ : زړونـه ئـے سخت شو چه د قرآن او د دليلونو او وحی نه ئے هيڅ عبرت وانخستو۔
وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ : شيطان ورتـه عـملونه ښائسته کړل۔ شرك ئې ورته په صورت د تـوحيـد کښې او بـدعت ئې ورته په صورت د سنت کښې ښکاره کړو۔ او دا ئے ورته ووېل چه تاسو خو د پلار نيکه په دين او لاره روان يئ او دا ډير ښه کار دے۔
او زمـونږ پـه زمـانه کښې هم دغه شان عذابونه د سيلابونو او قحطونو او مختلف قسم بـحرانـونـو پـه شـکـل کښې راځي ليکن اکثر انسانان د سره حس نۀ لري چه دا ولے کيږي؟ زړونـه دومره سخت وی، او په کوم فساد کښې چه د عذاب نه مخکښې اخته وو، د عذاب نه روستـو هـم پـه هغوی کښې هيڅ تبديلي نۀ پيدا کيږی، والله المستعان فلا حول ولا قوة الا بالله العظيم۔
فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهٖ : مخکښې امتحان وو په مصيبتونو اُوس امتحان دے په نعمتونو۔
فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ : يـعـنـی مـا پـرے سَره د شرك او فسق نـه د هر شی نعمتونه راکولاؤ کړل، بارانونه به کيدل او هر قسم آمدنئ به ډيرے شوے۔
نَسُوا : دلتـه د نسيـان نه مراد قصداً پريخودل دی، او داسے معامله کول لکه د هير شوی شی په شان۔
مَا ذُكِّرُوا بِهٖ : د توحيد او د ايمان خبرے مراد دی۔
فائده : يـو فـتـح الابـواب ده لـکـه دلته او بل فتح البرکات ده، لکه سورة الاعراف (۹۶) آيت کښې ذکر ده ﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰىٓ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ﴾ فتح د ابـوابـو دے تـه وائی چه په انسان باندے نعمتونه سَره د نافرمانئ نه ډيريږی او فراخه کيږی او دا استدراج او مهلت دے چه دا په کافرانو او فاسقانو باندے کيږی، او دا کرامت نۀ دے، او فـتـح د برکـاتـو دا ده چـه تـۀ د الله په طاعاتو کښې مصروف ئې، او الله درله نعمتونه وخت په وخت زياتوی، چه څومره عبادت زياتوے هغو مره نعمتونه زياتيږی، او دا په نيکانو باندے کيږی۔ نو معلومه شوه چه هره فراخي ضرري نۀ ده او هره فراخي فائده منه نۀ ده۔
امـام احمدؒ د عقبه بن عامر رضی الله عنه نـه د نبی کريم ﷺ دا حديث روايت کړيدے (اِذَا رَأَيْتَ اللّٰهَ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلٰى مَعَاصِيْهِ مَا يُحِبُّ، فَاِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ ثُمَّ تَلَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ هٰذِهِ الْاٰيَةَ : فَلَمَّا نَسُوا الخ) چـې کله ته اُووينې چه الله خپل يو بنده ته د هغه د ګناهونو سَره سَره د

هغه د خواهش مطابق دنیاوی نعمتونه ورکوی نو پوهه شه چه د هغه رسیٔ سسته کړے شویده۔ بیا نبی ﷺ همدا آیت تلاوت کړو۔ (رقم: ۱۷۳۴۹،حدیث حسن- ارناووط)

فَرِحُوا : دلته فرح (خوشحالی) په معنیٰ د تکبر سره ده چه دے ته فَرَحَ الْبَطَر وائی یعنی د تکبر خوشحالی۔ نعمتونو نور په تکبر کښې واچول، او دائے دلیل د حقانیت وګڼړلو۔

مُّبْلِسُونَ : راغبؒ د ابلاس درے معانی کړیدی افسوس، حزن، او نا امیدی۔

صاحب المنارؒ وائی : ابلاس په لغت کښې : نا امیدی د خیر او راحت نه، انقطاع الحجة، (چه دلیل ئے ختم شی)، د حزن یا د یرے یا د غم په وجه غلے کیدل۔ یعنی دوی نا امیده وو د نجات نه او د هر خیر نه، او افسوس کونکی وو، یا هلاك کیدونکی وو، دلیلونه او بهانے ئے ختمے وے۔ (المنار) یا حیران وو (القرطبیؒ) یا پښیمانه غمژن وو۔ (بغویؒ)

بغویؒ وائی : ابلاس په اصل کښې د غم او پښیمانتیا د وجه نه سر ټیټولو ته وائی۔

مبلسون : نا امیده به وی د خپلو معبودانو نه۔

دَابِرُ : جرړے ته وائی مراد ترے نه آخر او نسل دے یعنی د ظالمانو نسل الله ختم کړو او د آخر نه ئے پریکړل، یعنی استیصالی عذاب به پرے راغلو۔

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ : دا آیت دلیل دے چه د ظالمانو په هلاکت باندے حمد لوستل پکار دی۔ او دا حمد پدے وجه دے چه د داسے کافرانو او ظالمانو هلاکول د ایمان والو دپاره لوی نعمت او رحمت دے، نو الحمد لله وئیل پکار دی، او بله دا چه د الله د دشمن په هلاکت باندے خوشحالی پکار ده۔ څکه چه یو ناسور (ګنده زخم) وو چه د هغے آپریشن وکړے شو۔ نو پدے کښې مونږ ته تعلیم دے چه تاسو د الله حمدِ ووایئ په هلاکت د ظالمانو، او پدے کښې اشاره ده چه د هر کارپه آخر کښې د الله حمد لوستل پکار دی۔ (المنار)

او اشاره ده چه الله تعالیٰ د دوی په هلاکولو کښې محمود دے ظلم ئے نۀ دے کړے والحمد لله۔

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ
تۀ ووایه ! خبر راکړئ (متوجه شئ) که واخلی الله غوږونه ستاسو او سترګے ستاسو
وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيْكُمْ
او مهر ووهی په زړونو ستاسو، څوك دے حقدار د بندګئ سوا د الله نه چه را ولی تاسو ته

بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿٤٦﴾

دا، وګوره څرنګ بیانوو مونږ (دوی ته) آیتونه بیا دوی اَوړی د هغې نه۔

تفسیر : پدے آیت کښې الله تعالیٰ موجوده کفارو ته خطاب کوی، ❁ او پدے کښې بل عقلي دلیل دے په توحید د الله باندے ❁ او پدے کښې د الله معرفت هم ذکر دے۔

ربط : مخکښې عام تکالیف ذکر وو، دلته خاص مصیبتونه بیانوی۔ ❁ یا مخکښې خارجي مصیبتونه وو دلته داخلي او نفسی مصیبتونه دی۔

مطلب د آیت : د مکے مشرکانو ته په نوی انداز کښې زجر او توبیخ ورکړے کیږی او د هغوی د شرکی اعمالو فساد بیانیږی، چه اے زما رسوله ! (ﷺ) ته دوی ته اُووایه ! چه که الله ستاسو غوږونه او ستاسو سترګے واخلی او ستاسو په زړونو باندے مهر اُووهی او لیونی مو جوړ کړی نو آیا د الله نه سویٰ څوك شته چه هغه دوباره راواپس کړی ؟!۔ د ګونګیانو او کنړو او لیونو کوم بابا شته ؟!

دا درے واړه اندامونه د انسانی جسم اشرف اندامونه دی، کله چه دا بیکاره شی نو د انسانی جسم نظام به ګډوډ وی، پدے وجه الله تعالیٰ دا درے واړه ذکر کړل۔

اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ الخ : نیشاپوریؒ وائی دا کنایه ده د عقل زائله کولو او لیونی کولو نه۔ او ددے په شان آیت په سورة النمل (٦٠) او سورة القصص (٧١) کښې ذکر دے۔

مَّنْ اِلٰهٌ : دا آیت دلیل دے چه (اِلٰـه) په معنیٰ د کار جوړونکو او حاجت پوره کونکی سره هم راځی۔ اګرکه اصل معنیٰ ئے د معبود ده۔

يَاْتِيْكُمْ بِهٖ : (بِهٖ) ضمیر ماخوذ ته راجع دے یعنی کوم شے چه ستاسو نه اخستے شویدے۔

اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ : یعنی ته وګوره چه څنګه مونږ نخے په مختلف انداز کښې بیانوو، لیکن دا مشرکان دے ته ګوری او اعراض کوی او د حسد او عناد او کبر او غرور په وجه په هغے کښې سوچ او فکر نهٔ کوی۔

نصرف : تصریف په مختلف قِسمه عبارتونو سره مضمون ذکر کول دی۔

الْآيَاتِ : دلته د آیات نه مراد یا خو مطلق دلائل دی، ❁ یا مطلق قرآنی دلائل، ❁ یا هغه دلائل چه د سورت د ابتداء نه واخله تردے ځای پورے بیان شویدی، ❁ یا هغه عقلي دلائل چه د آسمانونو او زمکے په پیدا کونکی او د هغه په وحدانیت باندے دلالت کوی۔ تول

مصداقات صحیح دي.

یَصۡدِفُوۡنَ : أَیۡ یُعۡرِضُوۡنَ عَنۡهَا مُکَذِّبُوۡنَ . د هغې نه اعراض کوي او تکذیب کوي. (بغویؒ)
صدف او صدُوف په اصل کښې سخت اعراض ته وائي، ځینې وائي چه دا د صَدَفَةُ الۡجَبَل نه دے یعنی اړخ او غر چه په کوم ځاې ختمیږي، نو دلته ترے معنیٰ د اَوړیدو مراد ده یعنی لرے اَوړي او په هغې کښې هیڅ تأمل او فکر نهٔ کوي. (المنار۷/۳۴۹)

نو په آیت کښې زجر شو په اعراض کولو د سوچ کولو نه په آیتونو د الله تعالیٰ کښې لکه په ابتداء د سورت کښې تیر شو.

قُلۡ اَرَءَیۡتَکُمۡ اِنۡ اَتٰـکُمۡ عَذَابُ اللّٰهِ بَغۡتَةً اَوۡ جَهۡرَةً
تهٔ ووایه ! خبر راکړئ که راشي تاسو ته عذاب د الله ناڅاپه (د شپے) یا ښکاره (د ورځے)
هَلۡ یُهۡلَكُ اِلَّا الۡقَوۡمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۴۷﴾
نهٔ به هلاکیږي مګر قوم ظالمان (مشرکان).

تفسیر : دا بل دلیل عقلي دے او پدے کښې تخویف دنیاوي دے او مخکښې په (۴۰) آیت کښې دوه قسمونه د عذاب ذکر وو، دنیوي او اُخروي، دلته دوه نور قسمونه ذکر کوي ناڅاپي بغیر د نخو نه، او سره د نخو نه، یا د شپے او د ورځے. نو په آیت کښې بیان د معرفت د الله تعالیٰ دے پدے طریقه چه د الله تعالیٰ عذاب په هیڅ شي سره نشي دفع کیدے.

اَرَءَیۡتَکُمۡ : أَیۡ أَرَأَیۡتَکُمۡ أَنۡتُمۡ أَنۡفُسَکُمۡ کَیۡفَ یَکُوۡنُ شَأۡنُکُمۡ، أَوۡ أَخۡبِرُوۡنِیۡ عَنۡ مَصِیۡرِکُمۡ (المنار).
یعنی تاسو خپل ځانونه لیدلي دي، یا تاسو خبر یئ د خپلو ځانونو نه چه ستاسو به څه حال وي یا ما ته خبر راکړئ چه ستاسو ګرځیدل به کوم طرفته وي کله چه د الله عذاب راشي.

بَغۡتَةً اَوۡ جَهۡرَةً : یعنی ناڅاپي چه څه نښه نښانه او اشارے ورکولو نه بغیر راشي، او جَهۡرَةً دا چه څه اشارات او خبر مخکښې نه ورکړے شي. یا لَیۡلًا او نَهَارًا ته وائي. (شپه او ورځ) (حسن بصریؒ - قرطبیؒ) ځکه چه د کافران قومونو هلاکونکے عذاب یا خو د شپے ناڅاپي یا د ورځے ښکاره راځي.

او په ((القوم الظالمون)) کښې د عذاب سبب طرفته اشاره ده چه د دوي د هلاکت سبب د دوي ظلم او طغیان او د الله نه سرکشي ده.

اشکال او جواب

دلته وائی چه عذاب راشی نو صرف ظالمان به هلاك کیږی او حال دا چه په حدیث کښې راغلی دی چه کله عذاب راشی نو مؤمنان هم هلاکیږی، او مشاهده هم ددے گواه ده، سیلاب راشی نو د نیکانو خلکو کورونه هم ویسی او خلك پکښې مره شی؟

جواب: ۱- ځینی مفسرینو وئیلی دی چه دلته د هلاکت نه مراد هلاکتِ حقیقی دے او حقیقی هلاکت دا دے چه جهنم ته لاړ شی، او هر چه مؤمن دے نو هغه صرف ووژلے شی خو جهنم ته نۀ ځی بلکه دغه عذاب ورله د گناهونو صفا کونکے شی۔

۲- بل جواب دا دے چه مؤمنان چه په دغه وخت هلاك کیږی، نو دوی کښې هم ظلم وی ځکه چه مؤمنان دوه قسمه دی یو مُصلحین او بل صالحین، نو د عذاب په وخت مصلحین نۀ هلاك کیږی (ځکه چه کومه علاقه کښې دعوت کیږی او د منکراتو نه منع کیږی نو هلته الله عذاب نۀ راولی) او چه کله صالحین موجود وی، او نهی عن المنکر نۀ کوی نو دوی ظالمان شو نو دوی به هم هلاك کیږی ځکه چه فریضه ئے پریښے ده، نو صرف په دنیاوی سزا کښې به اخته کیږی او آخرت به ئے ښه وی، او د کافرو هلاکت زیات دے چه دنیا او آخرت دواړه ئے تباه شول، جهنم ته لاړل۔

وَمَا نُرۡسِلُ الۡمُرۡسَلِيۡنَ اِلَّا مُبَشِّرِيۡنَ وَمُنۡذِرِيۡنَ ۚ فَمَنۡ
او نۀ دی رالیږلی مونږ رسولان مگر زیرے ورکونکی او یره ورکونکی نو چا چه
اٰمَنَ وَاَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿٤٨﴾
ایمان راوړو او نیك عمل ئے وکړو نو نۀ به وی هیڅ یره په دوی او نۀ به دوی غمژن شی۔
وَالَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الۡعَذَابُ
او هغه کسان چه دروغژن ئے وگڼل آیتونه زمونږ وبه رسیږی دوی ته عذاب
بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿٤٩﴾
په سبب د هغے چه دوی نافرمانی کوله۔

تفسیر: اُوس د پیغمبرانو د رالیږلو مقصد بیانوی، چه هغه بشارت او انذار دے، او دا

جواب د سوال دے چه مشرکانو نبی ﷺ ته وویل چه مونږ ستا خبره نهٔ منو، نو په مونږ باندے عذاب راوله یا معجزات راوړه۔

نو الله تعالیٰ فرمائی : د انبیاء او رسولانو ذمه واری دا ده چه هغوی الله طرف ته خلق راوبلی او د جنت زیرے ورکړی او د جهنم نه یره ورکړی۔ د هغوی ذمه واری دا نهٔ ده چه د کافرانو د خواهش او د هغوی د مرضیٔ مطابق به د الله نه د نخو رالیږلو دعا کوی۔ نو څوك چه د انبیاء او رسولانو علیهم السلام په تابعداریٔ کښ ایمان راوړی او نیك عمل اُوکړی نو د هغه ځای به جنت وی، چه نهٔ به په دوی کوم غم وی او نهٔ به په آینده کښ څه یره وی۔ او چا چه د الله د آیتونو تکذیب اُوکړو د هغه ځای به جهنم وی او دا به د الله د طرف نه د دوی د سرکشیٔ انجام وی۔

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا : دائے عقیده شوه او (بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ) ئے عمل شو۔

قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ
تهٔ ووایه ! څه نهٔ وایم تاسو ته چه ما سره خزانے د الله دی او نهٔ پو هیږم
الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّىْ مَلَكٌ ج اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا
په غیبو خبرو باندے او نهٔ وایم تاسو ته چه زهٔ ملائك یم، تابعداری نهٔ کوم مگر د هغے
يُوْحٰٓى اِلَىَّ ط قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ط اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٥٠﴾
چه وحی کیدے شی ما ته۔ تهٔ ووایه ! آیا برابر دے ړوند او لیدونکے آیا پس فکر نهٔ کویٔ تاسو۔

تفسیر : پدے آیت کښ جواب دے په طلب کولو د معجزاتو، او دا جواب د وَهم د مشرکانو هم دے چه هغوی دا وهم لری چه پیغمبر به دے ته وائی چه هغه ته به د غیبو علم وی، د الله د خزانو مالك به وی، خوراك څکاك به نهٔ کوی، د الله په مینه به پائی، لکه ډیرو پیرانو هم دا خبره جوړه کړیده چه فلانے پیر خوراك نهٔ کوی، ولاړ بابا دے چه هیڅکله نهٔ کینی، عوام دوکه کوی، آیا دا کارونه د نیکیٔ نښه ده؟۔

نو الله دلته فرمائی چه تاسو د نبوت تصور غلط کړیدے، د نبی کار خو صرف ثواب او عذاب بیانول دی، او عذاب او معجزات راوستل د هغه په اختیار کښ نهٔ دی، او نهٔ دغه مذکوره کارونه د هغه په اختیار کښ دی۔ نو په آیت کښ د رسول الله ﷺ نه نفی د هغه

صفاتو ده چه هغه د بشریت نه پورته دی او د اُلوهیت صفات دی۔
نو پدے آیت کښ نبی ﷺ ته د تعلیم طریقے بیان شویدی چه د مشرکانو د سوالونو جواب ورکړه۔
الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته فرمائی چه د مکے مشرکان ستا نه کله نخے طلب کوی او کله بل سوال کوی نو ته ورته اُووایه ! چه الله ما ته د رزق خزانے نهٔ دی حواله کړی چه زهٔ د هغے نه ستاسو د خواهش مطابق تاسو ته درکوم، او غر په سرو زرو بدل کړم، او نهٔ زهٔ په غیبو پوهیږم چه د قیامت یا د عذاب نازلیدو وخت تاسو ته بیان کړم او نهٔ زهٔ ملائك یم چه د ما فوق العاده (یعنی ناشنا) کارونو مظاهره اُوکړم، زهٔ خو صرف د هغه وحی اتباع کوم کومه چه د الله د طرف نه په ما نازلیږی چه هغه قرآن او سنت دی۔ وحی لفظ دواړو ته شاملیږی۔
لَآ اَقُوْلُ لَكُمْ : یعنی زما په باره کښ دا عقیده مهٔ ساتئ او نهٔ زهٔ تاسو ته ددے خبرے دعوت درکوم۔
فائده : د اُلوهیت دوه جامع صفتونه دی، یو تصرف او اختیار او د آسمان او د زمکے د خزانو قدرت، او دویم علم غیب (یعنی د اسبابو نه بغیر علم) او دا دواړه صفتونه ئے د نبی نه نفی کړیدی، نو ځوك چه دا دواړه یا یو ددے صفاتو نه نبی ﷺ ته ورکوی هغه نبی لره اِله جوړ کړو۔
اِنْ اَتَّبِعُ : هغوی ووئیل : چه هرکله ته دا کارونه نشے کولے نو بیا زمونږ او ستا فرق څه شو؟ نو جواب وشو چه فرق دا دے چه ما ته وحی کیږی، زهٔ د هغے تابعدار یم او تاسو ته وحی نهٔ کیږی۔
الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ : ړوند او بینا یعنی گمراه او هدایت والا دواړه برابر نشی کیدے، پدے وجه اے د مکے مشرکانو! تاسو د الله په نخو کښ فکر کولو سره د رشد او هدایت لاره ولے نهٔ اختیاروئ او ځان نه رانده ولے جوړوئ ؟۔
❁ یا اعمٰی کافر دے او بصیر مؤمن دے، ❁ یا اعمیٰ هغه دے چه د الله تعالیٰ د معرفت نه ړوند وی او بصیر هغه دے چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ پیژندونکے وی۔
❁ یا د اعمیٰ نه مراد باطل معبود او بصیر نه مراد الله تعالیٰ دے۔ ❁ یا اعمی عن الوحی او بصیر بالوحی۔ (د وحی نه ړوند او د وحی لیدونکے دے)۔
او داسے آیت په سورة هود (۳۱) کښ هم راغلے دے۔

وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا
او ویره ورکړه پدے (وحی) سره هغه کسانو ته چه یریږی ددے نه چه راجمع به کړے شي دوی
اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۵۱﴾
خپل رب ته نۀ به وی دوی لره سویٰ د الله نه څوك دوست او نۀ سفارشی، دے دپاره چه دوی کښې تقویٰ راشی۔

تفسیر : مضمون : پدے رکوع کښې الله تعالیٰ د صحابه کرامو او مؤمنانو صفات او د هغوی شان ئے بیان کړیدے، او د مشرکانو په هغوی باندے اعتراض، او بیا الله تعالیٰ خپل نبی ته د هغوی په باره کښې حکم کوی چه دوی کله ستا خوا ته راشی نو دوی ته هرکلے وایه او سلام پرے اچوه، او زیری ورله ورکوه یعنی کافران ئے خو نۀ منی خو د مؤمنانو قدر کوه دوی د الله د کتاب نه اثر اخلی۔

ربط او مناسبت

په تیر شوی آیتونو کښې الله تعالیٰ خبر ورکړے وو چه مشرکان د کانړۀ، ګونګی او د ړوند سړی په شان دی، بلکه مړۀ دی همدا وجه ده چه دوی د روښانه ورځے په شان ښکاره نخو نه هیڅ عبرت حاصل نۀ کړو، اُوس الله تعالیٰ خپل نبی (ﷺ) ته حکم اُوکړو چه ته پدے قرآن باندے هغه خلك ویره وه (او دعوت ورته وکړه) چه هغوی د الله نه یریږی او د الله د وحی نه متأثره کیږی او فائده حاصلوی۔ نو که مشرکان عبرت نۀ اخلی نو مؤمنان خو ئے اخلی، نو ستا بیان ضائع نۀ ځی۔ بله دا چه د قرآن نه د فائدے اخستو اسباب ئے بیان کړی چه هغه د آخرت نه یره ده او دا سبب مشرکانو کښې نشته۔

وَاَنْذِرْ بِهٖ : د به (ه) ضمیر قرآن ته راجع دے او دا دلیل دے چه انذار په وحی پورے خاص دے، په هسے قصو باندے انذار نۀ کیږی۔

اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ : یعنی د حشر د ورځے نه یریږی۔ ددے نه دا قانون معلوم شو چه څوك د آخرت د ورځے نه یریږی نو د قرآن نه به فائده اخلی۔ ددے وجه نه په قرآن کریم کښې د آخرت او د قرآن جمع په ډیرو آیتونو کښې شویده ځکه چه د یو بل سره لازم ملزوم دی۔ او د آخرت یره د قرآن نه د فائدے اخستو دپاره سبب دے۔

لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ : پدے کښې رد دے په یهود او نصاریٰ او مشرکانو چه دوی به

انبیاء او خپل مشران د خپلو ځانونو دپاره سفارشیان ګنړل نو الله فرمائی چه په قیامت کښې به ستاسو دوست او سفارشی هیڅوك نۀ وی سِویٰ د الله نه نو الله خبر ورکړو چه د کافرانو دپاره سفارشی نشته ځکه چه د دوی د الله سره دوستانه نشته۔ او که دا آیت د مؤمنانو په باره کښې وی نو د هغوی دپاره د رسول الله ﷺ شفاعت به د الله په اذن سره وی نو حقیقی سفارش کونکے الله تعالیٰ دے، لکه الله فرمائی: ﴿ وَلَا يَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى ﴾ (انبیاء: ۲۸) (قرطبیؒ)

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ: دے دپاره چه د دوی تقویٰ نوره هم زیاته شی۔ یا لغوی معنیٰ مراد ده یعنی دے دپاره چه همیشه د الله د عذاب نه بچ شی۔ اوله معنیٰ غوره ده ځکه چه متضمن ده دویمے معنیٰ لره۔

ځینی مفسرین وائی چه د (يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْا) نه هغه مشرکان هم مراد دی چه هغوی آخرت منلو نو الله وفرمایل چه دوی ته قرآن بیان کړه دوی باندے به اثر وکړی، او څوك چه آخرت نۀ منی نو په هغوی باندے اثر نکوی نو د (لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ) معنیٰ به دا وی چه دوی د شرك نه بچ شی۔ (زجاج- القرطبیؒ)

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ
او مۀ شړه تۀ هغه کسان چه رابلی رب خپل صبا او بیګاه، غواړی دوی مخ د الله،
مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ
نشته په تا باندے حساب د دوی هیڅ شے او نشته د حساب ستا نه په دوی باندے
مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾
هیڅ شے (یعنی ذمه واری) نو که تۀ وشړے دوی نو شے به د ظالمانو نه۔

تفسیر: شان نزول

ددے په شان نزول کښې مفسرینو مختلف روایات نقل کړیدی چه قرطبیؒ او ابن کثیرؒ وغیره ذکر کړیدی مګر ډیر معتمد روایت هغه دے چه:

امام مسلمؒ د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه او امام احمدؒ د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه ددے آیت کریمه د شان نزول په باره کښې روایت کړیدے چه د رسول الله ﷺ په مجلس کښې څه ضعیف او کمزوری شان صحابه کرامؓ موجود وو (په روایتونو کښې د سعد بن ابی وقاص،

عبد الله بن مسعود، بلال، صهيب، عمار بن ياسر او خباب رضى الله عنهم وغيرهم نو مونه راغلى دى) هلته د قريشو څه كسان تيريدل نو هغوى وويل چه اے محمده ! آيا تا د خپل قوم په بدله كښ دوى خپل كړيدى، آيا الله مونږ پريخودو او په دوى ئے احسان اُوكړو، آيا مونږ د دوى تابع شو ؟ كه ته دوى د خپل مجلس نه اُوباسے نو كيدے شى چه مونږ به ستا اتباع اُوكړو نو د رسول الله ﷺ په زړه كښ تيره شوه چه دا مؤمنان خو هسے هم ملگرى دى، دوى به ددے مجلس نه جدا كړو او كافران به راشى زمونږ خبرے به واورى، كيدے شى چه ايمان راوړى. (او په يو روايت كښ دى : مشركانو وويل : [أُطْرُدْ هٰؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِءُوْنَ عَلَيْنَا] دا خلك وشړه زمونږ په مجلس كښ ئے مهٔ كينوه چه په مونږ زړه ور نشى، نو دا آيت نازل شو، او الله تعالىٰ نبى كريم ﷺ د غريب او كمزورو مسلمانانو د خپل مجلس نه پدے لالچ شړلو نه منع كړو چه د قريش مشران خلق به ددهٔ مجلس ته راشى، او ددهٔ خبرے به واورى او متأثره به شى او ايمان به راوړى. (المنار والقرطبىؒ وابن كثيرؒ)

نو پدے آيت كښ د رسول الله ﷺ په دعوت باندے حرص او د كافرانو د ايمان نه د الله استغناء ذكر كيږى، هغه د كافرانو د ايمان څه پرواه كوى؟!. او د دغه مؤمنانو ډير لوى فضيلت دے چه دوى كښ ډير لوى كمالات دى، او رسول الله ﷺ يوه ورځ ابوبكر صديق رضی اللہ عنہ ته وفرمايل : [لَئِنْ أُغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أُغْضَبْتَ رَبَّكَ] كه تا دا ملگرى (عمار، بلال، صهيب رضی اللہ عنہم) غصه كړى وى (چه ابوبكر صديقؓ دوى ته څه خبره كړے وه) نو تا خپل رب غصه كړيدے، بيا صديق اكبر رضی اللہ عنہ لاړو او د هغوى نه ئے معافى وغوښته. (صحيح مسلم: ٦٤٩٦)

ربط

۱ - مخكښ د رسول الله ﷺ نه عمومى نفى وشوه چه هغه د خزانو اختيار مند نهٔ دے، اُوس وائى چه هغه د خپلو ملگرو د حساب اختيار هم نهٔ لرى. (المنار)

۲ - مخكښ د هغوى دا صفت وشو چه (يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْا اِلٰى رَبِّهِمْ) (دوى د خپل رب د حشر نه يريږى) نو دلته د هغوى په قرب امر كوى او منع كوى چه دوى د خپل مجلس نه مهٔ شړه او هم دغسے خلكو سره كينه.

يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ : د دعاء نه مراد دلته ذكر (د الله يادول) دى. (ابراهيم النخعىؒ - بغوىؒ) چه د قرآن تلاوت او عام ذكرونو ته شامليږى. او ظاهرى دعاء مراد كول هم صحيح دى، ځكه چه دعاء هم لوى عبادت دے.

بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ : سعيد بن مسيبؒ او مجاهدؒ ددے نه د (صبا او بيگاه) فرض

مونځونه مراد اخستې دي آه. ځکه چه په مکه کښې صرف د سهار او مازیګر دوه مونځونه وو، نو هغه هم پکښې داخل دي. او ددې نه معلومیږي چه د سهار او مازیګر ذکر ډیر بهتر دې. یا ددې نه عام اوقات مراد دي لکه دا په محاوره کښې ذکر کیږي. خلك وائي چه زۀ دا کار صبا او بیګاه کوم یعنې هر وخت.

يُرِيدُونَ وَجْهَهُ : یعنې صرف د الله د مخ اراده لري، پدې کښې اخلاص ته اشاره ده، ځکه چه په مکه کښې پدې وخت کښې هیڅ دنیاوي لالچ نۀ وو، انتهائي غربت وو، رسول الله ﷺ سره هیڅ نۀ وو سویٰ د تکلیفونو نه.

او په (وَجْهَه) ذکر کولو کښې اشاره ده چه دوي چه عمل کوي نو دا عمل متوجه کوي هغه چا ته چه د چا د وجه نه ئې کوي، نو دا داسې مزیدارې طریقې او اهتمام سره کوي چه دومره اهتمام په هغه عمل کښې نۀ کیږي کوم چه چا ته لیږلې شي، یا في الجمله مطلوب وي. او په هغې کښې عامل دا لحاظ نۀ ساتي چه ما ته دغه ذات ګوري. او ددې مثال داسې دې چه بعض خلك د بادشاهانو او امیرانو دپاره په بنګلو کښې کارونه او خدمتونه کوي چه هغوي ئې نۀویني، او بعض خلك داسې کارونه کوي چه بادشاهان په هغې باندې اجمالي نظر اچوي، او بعض داسې عملونه وي چه هغه ډارك بادشاهانو ته د تقرب دپاره د هغوي مخې ته پیش کیږي، نو لازمي خبره ده چه دا روستنی عمل به ډیر مزیدار وي د نورو په نسبت. (المنار۷/۳٦٥)

او (وجه) د الله تعالیٰ صفت دې بغیر د کیف او تشبیه او تمثیل او تاویل نه، د الله داسې مخ دې د چه نورو مخونو مشابه نۀ دې. (تفسیر السمعاني۲/۱۰٦)

او محاوره هم داسې ده چه خلك یو بل ته وائي : ستا د مخه مې دا کار وکړو او ستا د مخ لحاظ مې وکړو او ستا مخ ته مې وکتل. (تفسیر السمعاني)

مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ : یعنې هر چا سره به الله تعالیٰ خپل خپل حساب کوي، او دا جواب د مشرکانو ددې وینا دې چه هغوي ووئیل : دې غریبانو په تا باندې حقیقي ایمان نۀ دې راوړې، منافقت کوي ؟ جواب وشو چه ظاهري علامات د دوي د اخلاص دي، او د باطن حساب کول په تا باندې نشته، هغه الله ته سپارلې شویدي. پدې کښې الله تعالیٰ په خپلو دوستانو مؤمنانو باندې ډیر غیرت کړیدې او د دوي طرفداري او لنګه ئې کړیده.

وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ : دا جمله صرف د تاکید دپاره راوړې شویده. یا د حساب نه مراد مواخذه (نیوکه) ده، یعنې د هر چا خپل خپل عمل دې، او خپل خپل حساب به ورسره

کیږي، نبي کریم ﷺ د دوی د باطن ذمه وار نهٔ دے۔

فَتَطْرُدَهُمْ : دا جواب دے د (مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ) یعنی په تا باندے د دوی څه حساب نشته چه ته ئے وشړے۔ او (فتکون من الظالمین) جواب دے د (وَلَا تَطْرُدِ) یعنی مهٔ ئے شړه ګنے د ظالمانو نه به شے۔ (البغوی ۱٤٧/٣ والمنار)

او ددے نه معلومیږي چه دے مشرکانو پدے کار سره ګید او چل جوړ کړے وو دے دپاره چه ددے نبي نه دا خپل ملګري هم واوړي او ترے خفه شي او د دوی هم ایمان راوړل مقصد نهٔ وو ځکه الله تعالیٰ خپل نبي ته داسے ادب ورکړو چه د دوی پرواه مهٔ ساته۔

مِنَ الظّٰلِمِيْنَ : رسول الله ﷺ هغوی نهٔ دی شړلي نو پدے وجه هغه ته د ظلم نسبت نهٔ کیږي، او که په زړه کښ ئے راغلي وي نو هغے باندے رانیول نشته۔

وَ كَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ
او دغسے امتحان کوو مونږ د بعضو د دوی په بعضو سره
لِّيَقُوْلُوْآ اَهٰـٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ
دے دپاره چه ووائي دوی (کافران) دا کسان احسان کړیدے الله تعالیٰ په دوی باندے
مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿٥٣﴾
د مینځ زمونږ نه، آیا نهٔ دے الله ښه پوهه په شکر کونکو باندے۔

تفسیر : دا اوله عقبه ده چه په داعي باندے راځي او هغه دا چه مشرکین او موحدین په یو بل باندے امتحان دے، پدے طریقه چه الله تعالیٰ کمزورو او ضعیفانو خلکو ته د ایمان توفیق مخکښ ورکړي او غټان او سرداران ترے محرومه کړي، نو په موحدینو دا امتحان دے چه دوی ورته وائي چه آیا د حق پرستئ احسان صرف په تاسو باندے وشو بل څوك نشته، نو جواب وشو چه الله خپل شکر ګذار بندګان پیژني۔

(دارنګه یو تن چه کله ایمان راوړي او صحیح دین او حق زده کړي نو خلك هغه پسے خبرے کوي چه الله پاك صرف تهٔ لیدلے وے او تا ته ئے حق درکړو او مونږ ته ئے نهٔ راکولو، او الله ته صرف تهٔ ګران شوے، پدے کښ د هغه مقصد د هغه تحقیر او د هغه دعوت خرابول وي۔ نو ددے جواب دا دے چه الله ته خپل بندګان معلوم دي، ما کښ به ئے څه خیر لیدلے

وي او هغه به تاسو کښې نهٔ وي ځکه ئې ما ته حق رانصيب کړيدے)۔
او په غتهو خلکو دا امتحان دے چه هغوي وائي که مونږ ايمان راوړو نو ددے کمزورو تابع کيږو (لکه ابوجهل وغيره وئيلي وو چه مونږ به د بني عبد مناف تابع شو ځکه ايمان نهٔ راوړو) بل دا امتحان دے چه دوي وائي چه دا څنګه چل وشو چه مالداره او غټان ددے نبي نهٔ تابع کيږي او کمزوري ئے تابعداري کوي چه هيڅ رايه نهٔ لري او ناپوهه دي، معلوميږي چه دا دين او دا نبي حق نهٔ دے، ولے که دا حق وے نو مشرانو او عقل والو به منلے وے (او دا کافرانه ذهن دے) ځکه دين او حق پرستي خو د مالدارو جاګير او ټيکه نهٔ ده چه اول به ئے مالداره مني او بيا به ئے غريبان، نو دا امتحان شو۔
(او داسے امتحان هر وخت راځي چه کله د يو کمزوري بدن، غريب او کمزوري نسب والا سړي علم او تقویٰ د مالدارو او غټانو او مخوريزو دپاره د ګمراهۍ ذريعه وګرځي، وائي چه دا فلانکي خان به اُوس راځي او مونږ ته به دين بيانوي، دا د فلانۍ څوئ)
ددے آيت کريمه تفسير بيانولو سره حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي دي چه د اسلام په ابتداء کښې به په رسول الله ﷺ باندے اکثر ايمان راوړنکي کمزوري سړي، ښځے غلامان او وينځے وو۔ د قريشو د شريفانو نه ډيرو کمو خلقو اسلام قبول کړو لکه چه د نوح عليه السلام قوم نوح عليه السلام ته وئيلي وو: ﴿مَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ﴾ چه مونږ خو ونو چه ستا اتباع صرف سپك خلق کوي)۔ (هود: ٢٧)۔ او لکه هرقل ابوسفيان نه تپوس کړے وو چه ددے نبي اتباع شريفان خلك کوي که کمزوري خلك؟ ابوسفيان ووئيل چه کمزوري خلك۔ نو هرقل ووئيل چه [هُمْ اَتْبَاعُ الرُّسُلِ] د رسولانو اتباع همداسے خلك کوي۔ د مکے مشرکانو به د دغه کمزورو مسلمانانو پورے توقے کولے، هغوی ته به ئے عذاب ورکولو او وئيل به ئے چه آيا مونږه الله پريخودو او په دوي ئے احسان وکړو؟
نو الله ددے په جواب کښې دلته وفرمايل چه آيا الله شکر کونکي ښه نهٔ پيژني؟ يقيناً الله د دوي اقوال او افعال او د دوي د زړونو د پټو خبرو نه هم خبردار دے۔ پدے وجه دوي ته توفيق ورکوي او نيغے لارے طرف ته ئے لارخودنه کوي، او د تيارو او ظلمتونو نه ئے راوباسي او د اسلام او ايمان رڼړا ته ئے رسوي۔
امام مسلمؒ د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت کړيدے چه [اِنَّ اللّٰهَ لَايَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَلَا اِلٰى اَلْوَانِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ] الله تعالیٰ ستاسو صورتونو او ستاسو رنګونو ته نهٔ ګوري بلکه هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري۔ (صحيح مسلم: ٢٥٦٤)

او په يو بل روايت کښې ورسره ﴿وَلَا اِلٰى اَمْوَالِكُمْ﴾ لفظ راغلے دے، يعني نهٔ ستاسو مالونو ته ګوري۔

فَتَنَّا : په فتنه او امتحان کښې اچوو نو غريبان د غټانو دپاره فتنه او امتحان جوړ شي۔

بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ : د اول بعض نه مراد مشرکان دي او د دويم بعض نه حق پرست دي۔

لِّيَقُوْلُوْٓا : يعني دے دپاره چه دا مشرکان ووائي۔ په (لِيَقُوْلُوْا) کښې لام د عاقبت او حکمة دے۔

بِالشّٰكِرِيْنَ : يعني دے خلکو کښې شکر ګذاري ده او تاسو کښې ضد او عناد او تکبر دے ځکه ئے تاسو ته حق نصيب نکړو۔ نو اعتراض مهٔ کوئ۔

وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ
او کله چه راشي تا ته هغه کسان چه ايمان لري په آيتونو زمونږ نو تهٔ ورته ووايه
سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ
سلام دِے وی په تاسو، لازم کړيدے رب ستاسو په نفس خپل رحم کول چه بيشکه
مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ
چا چه عمل وکړو ستاسو نه بد په ناپوهئ سره بيا توبه وباسي روستو ددے نه
وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٥٤﴾
او عمل نيك کړي نو بيشکه هغه بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسير : مخکښې آيت کښې ئے ووئيل چه دا ملګري شړه مهٔ، دلته وائي چه دوی کله ستا مجلس ته راځي نو دوی ته هرکلے وايه او سترګی مشي ورته کوه او سلامونه پرے اچوه۔

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ : سوال : طريقه دا ده چه راتلونکے به سلام اچوی نو ددے څه مطلب دے چه تهٔ پرے سلام وايه؟۔ ددے (١) يو مطلب دا دے چه کله دوی ستا مخے ته راشي په لاره کښې نو تهٔ پرے په سلام کښې مخکښې کيږه۔ (٢) دويم دا چه دلته د سلام نه مراد مرحبا (هرکله راشه) وئيل دي۔ (٣) دريم دا چه د سلام نه مراد دعاء د سلامتيا ده يعني الله دِے تاسو ته سلامتيا درکړي۔

كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ : دا جواب دے د مخالفينو ددے طعن چه تاسو خو تر اوسه پورے په شرك او كفر او بدعاتو كښې وئ نو اوس مونږ ته مسئلے كوئ او اوس ښه سړي شوئ ؟ نو د هغے جواب وشو چه مخكښې مونږ په جهالت او ناپوهئ كښې وو او الله تعالىٰ د توبې نه روستو د جهالت كارونه معاف كوي.

يا دا د مخكښې سره لګي چه دغه ملګروته يو سلام او هركلے وايه او بل ورته د الله د رحمتونو تذكره كوه چه الله تعالىٰ زاړه ګناهونه معاف كوي دے دپاره چه دوي په دين باندے نور هم كلك شي او پدے زړي سره نور هم خوشحاله شي.

بِجَهَالَةٍ : د جهالت نه مراد جهل بالعاقبة دے (يعني د انجام نه ناخبري) ورنه پدے كښې قصداً او جهالت دواړه قسمه ګناهونه داخل دي لكه د ابوالعاليةؒ نه مونږ په تفسير د سورة النساء كښې نقل كړي چه هغه فرمائي : ما د رسول الله ﷺ د ملګرونه آوريدلي دي چه هر هغه څوك چه د الله تعالىٰ نافرماني كوي هغه جاهل دے. (القرطبيؒ)

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ
او دغسے تفصيلي بيانوو مونږ آيتونه (د توحيد)
وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٥٥﴾
او دے دپاره چه ښه ښكاره شي لاره د مجرمانو.

تفسير : [وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِيَهْتَدُوا وَلِتَسْتَبِيْنَ]. يعني مونږ آيتونه تفصيل سره بيانوو دے دپاره چه خلك په هدايت شي او د مجرمانو لاره ښه واضحه شي. يا تقدير داسے دے [لِيَتَبَيَّنَ الْحَقُّ] دے دپاره چه حق خلكو ته ښه ښكاره شي.

دا دويمه عقبه د تبليغ ده چه باطل پرست به ډير كرت دا اعتراض كوي چه تاسو دا يوه مسئله راتينګه كړيده بيانوئ ئے، بله مسئله درله نهٔ درځي، نو تا باندے به د جهالت تاپه لګوي، نو جواب دا دے چه دا مسئله مونږ بار بار ځكه بيانوو چه د توحيد او د شرك لارے جدا جدا معلومے شي، او د مجرمانو لاره ښكاره شي چه څوك دا حق مني او څوك ئے نهٔ مني، ولے كه تفصيل ونشي او خبره مجمله پريخودے شي نو د مجرمانو لاره نهٔ واضحه كيږي، او پدے باندے دِے داعي تجربه وكړي چه كله سسته شانه يو كرته خبره وكړي چه شرك ښه شے نهٔ دے نو چا باندے دومره زور نهٔ راځي او چه كله منبر ته وخيژي او تفصيل

سره د شرك رد وكړي او د هغې ټول اقسام او مثالونه بيان كړي او د باباګانو نومونه ئې واخلي نو پدې وخت كښې به تا ته د مجرم او غير مجرم معلومات وشي چه څو مره خلك به ورته غصه وي، اول كښې به تا ته عام خلك ټول حق پرست ښكاري ليكن كله چه دې حق په تفصيل سره بيان كړو نو حق پرست او باطل پرست به درته په يو مجلس كښې معلوم شي.

نو الله فرمائي : زۀ هم دا تفصيل ددې دپاره كوم چه مجرمان او غير مجرمان سره معلوم شي، او جدائي راشي، او دا د هرې مسئلې په باره كښې قانون دې لكه بدعات، خرافات، تقليد، جمهوريت رسمونه وغيره.

حكمة : نُفَصِّلُ د متكلم او تَسْتَبِيْنَ د غائب صيغې راجمع شوې، پدې كښې حكمة دا دې چه تفصيل د آيتونو سره خپله د مجرمانو لاره واضحه كيږي، او په تَسْتَبِيْنَ كښې اشاره ده چه مخاطب له اول او بيا نور خلكو له پكار دي چه پدې كښې تدبر او فكر او سوچ وكړي او پدې باندې ځان پوهه كړي او ددې نه عبرت واخلي ځكه چه ډير كرته يو آيت به خپله واضحه وي ليكن ډير خلك د هغې نه غافل وي ﴿ وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ﴾ (يوسف : ١٠٥) (المنار ٣٧٧/٧)

قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ
ته ووايه ! يقيناً زۀ منع شوې يم ددې نه چه بندګي وكړم د هغه كسانو
تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ ؕ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ
چه رابلئ تاسو هغوى سوىٰ د الله نه ته ووايه ! زۀ تابعدارى نۀ كوم د خواهشاتو ستاسو،
قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿٥٦﴾
يقيناً ګمراه به شم زۀ په دغه وخت او نۀ به يم زۀ د هدايت موندونكو نه.

تفسير : پدې ركوع كښې بيا د الله تعالىٰ تعارف بيانيږي. او په هر قسم شرك باندې ردونه دي، او دا هم د تعليم او ادب طريقې دي او د سوالاتو جوابونه دي. او پدې آيت كښې رد د شرك في العبادة دې، چه دا د خواهش تابعدارى ده او ګمراهي ده او د هدايت نه محروميدل دي.

او پدې آيت كښې د سبيل المجرمين بيان دې چه هغه عبادت د غير الله دې. او دا آيت

جواب دے د مشرکانو د دعوت چه رسول الله ﷺ ئے د غیر الله عبادت ته رابللے وو۔

سوال : رسول الله ﷺ ته دوی وئیلی وو چه ته زمونږ د معبودانو یو کال بندگی وکړه او مونږ به ستا د معبود یو کال بندگی وکړو؟ نو جواب وشو چه زهٔ ددے نه منع شوے یم چه د الله تعالیٰ نه سِویٰ د نورو معبودانو بندگی وکړم ځکه چه دا خو د خواهش تابعداری ده او گمراهي ده او د هدایت نه ځان محرومول دی۔

تَدۡعُوۡنَ : دلته دعاء په معنیٰ د عبادت سره دے، لیکن اکثر مشرکان شرك فی الدعاء کوي پدے وجه دعاء ذکر کیږی۔

لَاۤ اَتَّبِعُ : **سوال** : که زمونږ د دین او معبودانو عبادت وکړے نو څه نقصان به وشی، پدے کښې خو جوړجاړے راځی؟ جواب وشو چه دا خو د خواهشاتو تابعداری ده۔

قَدۡ ضَلَلۡتُ : د خواهشاتو تابعداری دوه قسمه ده یو هغه ده چه صرف گناه وی، او بل هغه ده چه انسان پرے د هدایت نه وځی او شرك او کفر کښې داخلیږی، نو دا ډیره خطرناکه تابعداری د خواهش ده، نو ځکه زهٔ ستاسو ددے خواهشاتو تابعداری نهٔ کوم پدے کښې خو هلاکت دے۔

قُلۡ اِنِّیۡ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنۡ رَّبِّیۡ وَ کَذَّبۡتُمۡ بِهٖ ؕ
تهٔ ووایه ! یقیناً زهٔ په ښکاره دلیل یم د طرفه د خپل رب نه او دروغژن گڼړے تاسو هغه،
مَا عِنۡدِیۡ مَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ بِهٖ ؕ اِنِ الۡحُکۡمُ
نو نشته ما سره هغه عذاب چه په جلتئ سره غواړئ تاسو هغے لره، نهٔ دے اختیار
اِلَّا لِلّٰهِ ؕ یَقُصُّ الۡحَقَّ وَهُوَ خَیۡرُ الۡفٰصِلِیۡنَ ﴿۵۷﴾
مگر الله لره دے۔ بیانوی حق لره او هغه غوره دے د فیصله کونکو نه۔

تفسیر : یعنی تاسو سره خواهش دے او ما سره واضح دلیل دے۔

دا د بل **سوال** جواب دے : چه ستا په خبره څه دلیل دے ؟ نو جواب وشو چه زهٔ د خپل رب د طرفنه په ښکاره دلیل روان یم، او تاسو د خواهشاتو پسے روان یئ، او زما بیّنه (ښکاره دلیل) نهٔ منئ نو ددے جواب پټ دے : [فَاَنۡتُمۡ تَسۡتَحِقُّوۡنَ الۡعَذَابَ] نو تاسو خو د عذاب مستحق یئ، ځکه چه څوك حق نهٔ منی هغه د عذاب حقدار وی۔

مَا عِنۡدِیۡ : بیا هغوی **سوال** وکړو چه هرکله مونږ حق نهٔ منو او د عذاب مستحق یو

نو راوله عذاب که ته رشتینی یی؟ جواب وشو چه تاسو د عذاب حقدار یئ او که تاسو ئے غواړئ نو دا زما په اختیار کښ نشته چه زۀ هغه فورًا راولم، پدے کښ د تعجیل یا تاخیر تعلق د الله تعالیٰ د فیصلے سره دے، هغه دا د یو عظیم حکمت د وجه نه روستو کړیدے، لیکن د هغے واقع کیدل ضروری دی۔ او که زۀ ئے دربانده اُوس نشم راوستے نو دا دلیل نۀ دے چه په تاسو به عذاب نۀ راځی۔

مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ : ددے نه مراد د دنیا عذاب دے لکه په سورة انفال (۳۲) آیت کښ دی۔

اِنِ الْحُكْمُ : دلته حکم تکوینی مراد دے یعنی د چا د عذاب او د مرګ فیصله کول۔

یعنی د عذاب د فیصلو اختیار د الله سره دے او هغه ئے د څه حکمتونو په بنیاد روستو کوی، هر شے د هغه سره په اندازه دے۔ (المنار)

يَقُصُّ الْحَقَّ : قص تفصیلی بیان ته وائی۔ ۱-أَیْ يَقُصُّ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْقَصَصَ الْحَقَّ فِیْ جَمِیْعِ أَخْبَارِهٖ وَوَعْدِهٖ وَوَعِیْدِهٖ]۔ بیانوی په خپل رسول بانده حق بیان په ټولو خبرونو او وعدو او وعیدونو کښ۔ ۲- قص کله په معنیٰ د تالاش کولو سره راځی

[أَیْ يَتَتَبَّعُ الْحَقَّ وَيُصِيْبُهٗ فِیْ أَقْوَالِهٖ وَأَفْعَالِهِ الَّتِیْ يَتَصَرَّفُ بِهَا فِیْ عِبَادِهٖ]

الله تعالیٰ تالاش کوی حق او هغے ته رسیدل کوی په خپلو هغه خبرو او کارونو کښ چه په هغے سره په بندګانو کښ تصرف کوی۔ (المنار ۳۷۹/۷)

په (اِنِ الْحُكْمُ) کښ حکم تکوینی مراد شو او قَصُّ الْحق کښ حکم تشریعی مراد دے۔

الْفٰصِلِيْنَ : د وضاحت کونکو نه۔ او په دویمه معنیٰ فاصل په معنیٰ د فیصله کونکی سره دے۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ) نو فاصلین : حق (او صفا) وینا کونکی او د عدل فیصله کونکی دواړو ته شاملیږی۔ (التحریر والتنویر)

قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِیْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ
تۀ ووایه ! که چرته وے زما سره هغه عذاب چه په جلتئ غواړئ تاسو هغے لره
لَقُضِیَ الْاَمْرُ بَيْنِیْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾
خامخا فیصله د کار به شوے وے په مینځ زما او مینځ ستاسو کښ او الله ښه پوهه دے په ظالمانو۔

تفسیر : دا تفصیلی جواب دے چه حاصل ئے دا دے چه که عذاب زما په اختیار کښ وے نو ما دربانده نازلولو ځکه چه زۀ انسان یم، تاسو چه بار بار د عذاب مطالبه کوئ نو

زما زړه به تنګ شي او صبر به مې تمام شي، نو زۀ به ئې دربانديې نازل کړم او دا خو الله تعالیٰ دې چه عذاب د هغه په اختیار کښې دې، او هغه صبرناك ذات دې چه خلك ئې غواړي او هغه ئې نۀ نازلوي ځکه چه حلیم دې، او پدې کښې هم د الله تعالیٰ تعارف دې چه پدې آیت کښې د الله رسول وائي چه ما کښې دومره صبر نشته چه تاسو به عذاب غواړئ او زۀ به درته انتظار وکړم او الله صبرناك ذات دې، هغه ئې په خپل وخت نازلوي ځکه چه الله تعالیٰ په ظالمانو پوهه دې خامخا به پرې عذاب رالیږي.

لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ : یعنې ما به دربانديې عذاب نازل کړې وې، او زمونږ او ستاسو فیصله به شوې وې چه تاسو ټول به په یوځل هلاك شوي وې.

او قُضِيَ ئې مجهول راوړه اشاره ده چه که د عذاب اختیار نبي سره هم وې او هغه پرې فیصله کولې نو هغه به هم د الله په مشیت باندې کیدلې. (المنار)

سوال : حافظ ابن کثیرؒ دلته یو سوال او جواب لیکلې دې چه په حدیث د مسلمؒ کښې دي چه د طائف نه په واپسئ کښې نبي کریم ﷺ ته مَلِكُ الْجِبَالِ رانبکاره شو او ورته ئې ووئیل چه که ته غواړې نو زۀ به ستا دا دشمنان د دوه غرونو ترمینځ وچقوم، نو معلومه شوه چه د نبي کریم ﷺ په اختیار کښې عذاب وو او دلته وائي چه زما په اختیار کښې عذاب نشته؟

جواب دا دې چه کله منکرینو د نبي کریم ﷺ نه د عذاب مطالبه کوله نو په دغه وخت کښې د رسول الله ﷺ سره د عذاب اختیار نۀ وو ګنې پرې راګوزار کړې به ئې وې، او هرچه دغه حدیث دې نو په هغې کښې دا خبره نشته چه پدغه وخت کښې دغه دشمنانو د عذاب مطالبه کړې وه، او رسول الله ﷺ ته د هغې اختیار حاصل شوې وو، نۀ بلکه په هغې کښې صرف دا خبره ده چه مَلِكُ الجبال ورته یو عرض کړې وو چه که ته غواړې نو زۀ به داسې وکړم، لیکن رسول الله ﷺ هغه عرض رد کړو او دا ئې ووئیل چه کیدې شي چه د دوي د شاګانو نه په داسې خلك پیدا شي چه د الله خالصه بندګي به کوي. (ابن کثیر ۳/ ۳٦٤)

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ : هرکله چه الله تعالیٰ په ظالمانو پوهه دې نو پدې وجه ئې ما ته عذاب نۀ دې راسپارلې. (المنار)

ظاهر مطلب دا دې چه الله تعالیٰ په ظالمانو ښه پوهه دې نو په هغوي باندې به په خپل مناسب وخت کښې عذاب نازلوي ځکه چه هغه د دوي په حال ښه خبردار دې او د دوي د ګناهونو اندازه ورته معلومه ده او هغه د دوي نه هیڅکله غافل نۀ دې.

وَعِنۡدَهٗ مَفَاتِحُ الۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعۡلَمُ مَا
او د الله سره چابیانے د غیبو دی نۀ پو هیږی په هغے مګر هغه (الله) او پو هیږی په هغه څه
فِى الۡبَـرِّ وَالۡبَحۡرِ ؕ وَمَا تَسۡقُطُ مِنۡ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعۡلَمُهَا
چه په وچه او درياب کښ دی او نۀ پريوزی يوه پانړۀ مګر پو هيږی الله په هغے
وَلَا حَبَّةٍ فِىۡ ظُلُمٰتِ الۡاَرۡضِ وَلَا رَطۡبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِىۡ كِتٰبٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۵۹﴾
او نۀ پريوزی يوه دانه په تيارو د زمکه کښ او نۀ لوند او نۀ وچ مګر په کتاب ښکاره کښ دی

تفسیر : اُوس د الله د تعارف بل انداز، او دا جواب د سوال هم دے چه صحيح ده اختيار د عذاب خو نشته ليکن د عذاب وخت خو به درته معلوم وی چه کله به راځی؟ نو جواب کوی چه ددے علم صرف الله ته سپارلے شويدے، ځکه چه د غيبو خزانے د هغه سره دی. دويم پدے کښ اشاره ده چه علم د الله تعالىٰ محيط دے، وخت د عذاب، سبب د عذاب ټول هغه ته معلوم دی، دريم : دارنګه د قرآن کريم طريقه دا ده چه د بعض اشياؤ پورے د علم خاص کولو نه روستو تعميم کوی دپاره د دفع د وَهم.

نو پدے آيت کښ د الله تعالىٰ د علم، قدرت، حکمة او مشيت بيان دے.

تفصيل ئے دا دے چه دا ټول کائنات او د هغے ذرات د الله په علم کښ وو، بيا الله تعالىٰ دا ټول کائنات ددے د پيدائش نه مخکښ وليکل او دا ډير مشکل کار وی او بيا د الله ليکل داسے نۀ وی چه په ډيرو پانړو کښ ئے وليکی بلکه دا په يوه تخته کښ ليکی نو په يوه تخته کښ ټول کائنات جمع کول دا د الله بل قسم قدرت او علم دے ځکه ورته کتاب مبين وائی چه بيخی واضح دے، بيا دريم : الله تعالىٰ دا مخلوقات په خپل مشيت سره پيدا کړل او وجود ته ئے راوستل، او بيا د هغوی دپاره ئے چه کوم څيزونه د آبادئ او ژوند تيرولو مقرر کړيدی هغه ورته په همغه وخت کښ رسوی، دا ډير ناشنا علم او ناشنا قدرت دے، لکه د يو تن دپاره ئے مرګ وليکو چه مثلًا صبا لس بجے به په پينښور ښار کښ زيد مړ کيږی، دا الله د آسمانونو او د زمکے د پيدائش نه پنځوس زره کاله مخکښ وليکل نو دا زيد به دنيا کښ پيدا کيږی او پينښور ښار ته به راځی او دے ورځے ته به برابريږی، او اسباب به ورته برابروی او په همدغه وخت به ترے ساه اخلی او د الله نه دا غائب کيږی نۀ چه زيد رانه هير شو پدے ورځ ئے مرګ وو خو څه صبا ته به ئے مړ کړو، يا ووائی چه راته ياد دے خو اسباب

نۀ دی برابر، یا بل کوم مانع شته نو د هغه د ارادے او مشیت نه بیخی تخلف (روستو والے) نۀ کیږی، او همدے ته د تقدیر مسئله وائی چه اول د یو شی علم راځی بیا د هغے لیکل بیا په هغے باندے قدرت د پیدا کولو، بیا په هغے باندے فیصله کول چه دے ته قضاء وائی۔ نو تقدیر مخکښ دے د قضاء نه۔ بیا پدے مقرر وخت کښ مرګ راوستلو کښ د الله ډیر حکمتونه وی چه صرف هغه پرے پو هیږی۔ نو پدے کښ د الله تعالیٰ کمال ذکر دے۔

مَفَاتِحُ الْغَيْبِ : جمع د مَفتح ده خزانو ته وائی یعنی خزانے : هغه څیزونو چه د انسانانو د علم نه غائب دی۔ یا جمع د مِفتح ده چابیانو ته وئیلے شی۔ یعنی هغه وسائل چه په هغے سره علم د غیبو ته رسیدل کیږی۔ (المنار)

الله تعالیٰ د غیبی کارونو د هغه قیمتی او اهم اشیاؤ سره تشبیه ورکړیده چه هغه په صندوقونو کښ بندولے شی او په ډیر احتیاط سره هغے ته تاله لګولے شی۔ د هغه غیبی کارونو علم د الله نه سویٰ هیچا ته نشته۔ (قاسمیؒ)

وَيَعْلَمُ مَافِي الْبَرِّ : اوله جمله کښ د الله تعالیٰ علم محیط کلی ذکر شو په ټولو مغیباتو (غائب څیزونو) او دا یوه قضیه عقلی ده او د قضیه عقلیه پو هه په مثال باندے بناء وی نو اُوس د هغے تفصیل بیانوی چه موجودات په دوه قسمه دی، اعیان او اعراض، بیا اعیان دوه قسمه دی، برّی او بحری، او اعراض هم دوه قسمه دی، اَوصاف او حرکات، اَوصاف دوه قسمه دی، رطب (لوند) او یابس (اُوچ) او حرکات هم دوه قسمه دی، یو حرکت د اُوچت نه زمکے ته نو دا (وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ) شو او حرکت د زمکے د سطح نه داخل د زمکے ته نو دا (لَا وَحَبَّة) شو، نو پدے کښ ټول موجودات (کائنات) داخل شو۔

(احسن الکلام والتفسیر الکبیر)

وَيَعْلَمُ مَافِي الْبَرِّ : یعنی الله تعالیٰ د وچے او د دریاب په څیزونو پو هیږی کوم چه د بندګانو نه اکثر پټ دی، او لږ ورته ښکاره دی۔ برئے مخکښ کړو ترقی ده د ادنیٰ نه اعلیٰ ته ځکه چه دریاب کښ ډیر څه پټ دی۔ او دارنګه د انسان اول علم په اُوچه باندے راځی۔

وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ : پدے کښ ډیر عموم دے چه صرف علم د وَرقے (پاڼړے) نۀ بلکه د هغے د حرکت علم هم د الله تعالیٰ سره دے۔ معلومه شوه چه د الله تعالیٰ علم په ټولو جزئیاتو باندے احاطه کړیده۔

وَلَا حَبَّةٍ : یعنی دانه چه زمیندار (کِسان) په پټی کښ ګوزاری او د خلکو د سترګو نه پناه شی، یا ئے هغه دانه چه میږانئے خپلو سوړو ته ویسی، یا خپله د بوټی نه تخم

پریوځی او په ځمکه کښې داخل شی ددې ټولو علم د الله سره دې۔

وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ : دا تعميم بعد التخصيص دې، دې نه هر ژوندې او مړ انسان او جن او ملائك بلكه ټول څيزونه مراد كيدې شي۔ نو د مثالونو ذكر كولو نه روستو دا بيرته رجوع ده قضيه عقلي ته۔ (الكبير، والمنار)

صاحب د ((فتح البيان)) ليكلي دي چه پدې آيت سره د كاهنانو، نجوميانو او د غيبو خبرې خودونكو رد كيږي، كوم چه د كشف او د الهام د دروغو دعوې، كوي، چه هيڅ علم ورله نشته او نۀ د هغوی په قدرت كښې دي۔

په مسند احمدؒ كښې د ابو هريره ﷺ روايت دې چه رسول الله ﷺ وفرمايل : ((څوك چه كوم كاهن يا نجومي خواته راغلو نو هغه په محمد (ﷺ) باندې د نازل شوی كتاب نه انكار اُوكړو))۔ (مسند احمد : ٩٥٣٢) وسنده حسن رجاله رجال الصحيح - شعيب)

د عبد الله بن مسعود ﷺ وينا ده چه نبی كريم ﷺ ته د غيبي امورو د چابيانو نه سِوىٰ هرڅه وركړې شوی وو۔ (قاسميؒ)

د مفاتح الغيب مصداقات

١ - د ابن عباس رضی الله عنهما وينا ده [اَلْأَقْدَارُ وَالْأَرْزَاقُ] چه د مفاتح الغيب نه مراد تقدير او روزی ده۔

٢ - ضحاكؒ وائی : [خَزَائِنُ الْأَرْضِ وَعِلْمُ نُزُوْلِ الْعَذَابِ]۔ د زمكې خزانې او د عذاب د نازليدو علم۔

٣ - عطاءؒ وائی : [مَا غَابَ عَنْكُمْ مِنَ الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ] ۔ ثواب او عقاب چه ستاسو نه غائب دې۔

٤ - ځينی وائی : [اِنْقِضَاءُ الآجَالِ وَعِلْمُ أَحْوَالِ الْعِبَادِ مِنَ السَّعَادَةِ وَالشَّقَاوَةِ وَخَوَاتِيْمِ أَعْمَالِهِمْ] قاسميؒ) د نيتو ختميدل او د بندګانو د حالاتو يعنی د نيك بختئ، بد بختئ او د هغوی د اعمالو د خاتمې علم دې۔ ليكن مفاتيح ددې نه هم ډيره فراخه معنىٰ لري۔ (قاسميؒ)

د ابن عمر ﷺ نه روايت شويدې چه رسول الله ﷺ وفرمايل : ((مفاتح الغيب (د غيبو چابيانې) پنځه څيزونه دي، د هغې علم د الله نه سِوىٰ هيچا ته هم نشته : صبا به څه كيږي، رَحِم كښې څه دي، صبا به بنده څه كوی، د انسان مرګ به چرته راځي، او باران به

کله کیږی))۔ په یو روایت کښې دی چه ((قیامت به کله راځی))۔ (صحیح بخاری: ۱۰۳۹)
او پدے حدیث کښې دا پنځه ځیزونه د حصر دپاره نهٔ دی، لکه علماء وائی چه مفهوم العدد له اعتبار نهٔ وی او مشرکانو به ددے پنځه ځیزونو د علم دعوه کوله نو ځکه الله تعالیٰ پدے کښې حصر وکړو۔ او دے پنځو ځیزونو ته ئے چه مفاتیح الغیب وئیلی دی نو ددے ډیره ښه وجه صاحب المنار ذکر کړیده او هغه وئیلی دی چه ما پدے باندے ډیر سوچ د طالبئ زمانے نه کړیدے خو الله پرے زما ذهن کولاؤ کړیدے هغه دا چه غیب هغه شی ته وائی چه د وجود یا د شهود نه غائب وی چه هغه عالم البرزخ او عالم الآخرة دے، او بعض عالَم د دنیا هغه گیاه ده چه لا پیدا شوی نهٔ وی او هغه حیوان چه لا پیدا شوے نهٔ وی او د انسان گټه چه په مستقبل کښې به حاصلیږی نو د سورة لقمان په آیت کښې ﴿ إِنَّ اللّٰهَ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي الۡاَرۡحَامِ وَمَا تَدۡرِيۡ نَفۡسٌ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدًا وَمَا تَدۡرِيۡ نَفۡسٌ بِاَيِّ اَرۡضٍ تَمُوۡتُ ﴾ کښې دے ته اشاره شویده نو قیامت د آخرت مفتاح (چابی) ده، او باران د عالم النبات چابی ده، او (مَا فِي الۡاَرۡحَامِ) د عالَم الحیوان چابی ده او (وَمَا تَدۡرِيۡ نَفۡسٌ) د کسبونو او عملونو چابی ده۔ او (وَمَا تَدۡرِيۡ نَفۡسٌ بِاَيِّ اَرۡضٍ تَمُوۡتُ) یعنی مرگ د عالم البرزخ چابی ده۔ او دا ټول ځیزونه لا موجود او مشاهد نهٔ دی نو ځکه ئے دے ته مفاتیح الغیب (د غیبو چابیانی) وئیلی دی۔ (المنار۷/۳۹۱)
فِيۡ كِتٰبٍ مُّبِيۡنٍ : ددے نه مراد یا علم د الله تعالیٰ دے، نو دا به بدل کُل وی د (اِلَّا يَعۡلَمُهَا) نه۔ یا ددے نه مراد لوح محفوظ دے۔ نو په (اِلَّا يَعۡلَمُهَا) کښې علم ته اشاره ده او په (اِلَّا فِيۡ كِتَابٍ مُّبِيۡنٍ) کښې د هغے لیکلو ته اشاره ده، او همدا قول غوره دے ځکه چه په (کتاب مبین) کښې کیدل مستلزم دی علم د الله تعالیٰ لره۔ نو په آیت کښې به دواړو خبرو ته (چه علم او لیکل دی) اشاره راشی، او دا د الله تعالیٰ د کتاب کمال او بلاغت دے۔
نو ځوك چه کتاب مبین د الله تعالیٰ د علم نه کنایه گرځوی نو دا ظاهر نهٔ ده بلکه لوح محفوظ مراد دے، پدے کښې ډیر کمال دے لکه مخکښې ذکر شو ځکه چه لیکل د علم نه گران کار دے۔

وَهُوَ الَّذِيۡ يَتَوَفّٰكُمۡ بِالَّيۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا
او خاص الله هغه ذات دے چه اُودهٔ کوی تاسو په شپه کښې او پوهیږی په هغه څه

جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ج
چه کوئ تاسو په ورځ کښې بیا پاڅوی تاسو په ورځ کښې دے دپاره چه پوره کړے شی نیټه مقرره
ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾
بیا خاص هغه ته واپسی ده ستاسو بیا به خبر درکوی تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ

تفسیر: دا د الله تعالیٰ بل تعارف او دلیل عقلی دے۔

ربط :

۱- په مخکښې آیت کښې ئے ووئیل چه الله په هر څه پو هیږی، دلته وائی چه ستاسو په عملونو هم پو هیږی، دا ئے ولے خاص کړل ؟ نو وجه دا ده چه عمل د انسان ډیر مقصودی دے په نسبت د نورو څیزونو۔ ۲- یا مخکښې عموم علم د الله تعالیٰ وو دلته عموم قدرت د الله تعالیٰ بیانیږی چه ستاسو اُوده کیدل او بیداریدل هم د الله په اختیار کښې دی۔

يَتَوَفّٰكُم: دلته توفی نه مراد خوب دے۔ او په اصل کښې یو شے پوره اخستل دی نو دلته هم د انسان هغه نفس چه تمییز او تصرف کوی هغه په خوب کښې اخلی۔ (سمعانیؒ)

جَرَحْتُم: أَيْ كَسَبْتُمْ : چه تاسو ئے کوئ۔

يَبْعَثُكُمْ فِيهِ: د فیه ضمیر راتلونکے ورځے ته راجع دے۔

أَجَلٌ مُّسَمًّى : ددے نه مراد د انسان د مرګ نیټه ده۔ نو هره ورځ او شپه چه تیریږی بنده مرګ ته نزدے کیږی۔

فوائد او علوم

پدے آیت کښې هم ډیر فوائد او علوم دی (۱) یو بیان د علم او د قدرت د الله تعالیٰ دے، او (۲) بل اهتمام په اعمالو د بندګانو۔ (۳) او ناشنا خبره پکښې دا ده چه إِثْبَاتُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ بِالدَّلِيلِ الْعَقْلِيِّ الْعَجِيبِ ۔ په ناشنا عقلی دلیل سره د قیامت د ورځے اثبات کوی، هغه دا چه ماسخوتن اُوده کیدل داسے دی لکه مرګ او قبر ته تلل، مړے هم په ځان نۀ پو هیږی او اُودۀ هم نۀ پو هیږے، او مړے نۀ ژوندے دے (د دنیا په احکامو کښې) او نۀ مړ دے (ځکه چه برزخ کښې ژوندے دے) او دغه شان اُوده شخص هم دے، چه نۀ مړ دے ځکه چه ساه په کښې شته او نۀ ژوندے دے ځکه چه تصرف نشي کولے، آوریدل او لیدل نشي کولے۔ نو خوب بعینه د مرګ مثال دے لکه قرآن او حدیث کښې اکثر د مرګ تشبیه د خوب سره ورکوئ [اَللّٰهُمَّ

بِاسْمِكَ أَمُوْتُ] ماسخوتن ووائی او د سهار پاڅیدو وخت کښې وائی [أَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَحْیَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَیْهِ النُّشُوْر]- نو هره ورځ مونږ ته الله تعالیٰ قیامت یادوی۔

(٤) بیا پدے آیت کښې اشارةً اثبات د عذاب قبر هم شته، پدے طریقه چه سړے چه اُوده وی نو په خوب کښې پرے خوشحالی او تکلیف راځی، او ویښ خلك ورته خواته ناست وی د هغه په حال نهٔ پو هیږی، نو دغه بعینهٖ د قبر او برزخ مثال دے چه مړی باندے نعمتونه او راحتونه راځی او عذابونه راځی، او ژوندی پرے نهٔ پو هیږی۔

فائده : یُنَبِّئُکُمْ : دا ډیر سخت عذاب دے. د ډیرو عذابونو مرادف دے ځکه د الله تعالیٰ مخامخ د انسان عیبونه راښکاره شی او ټول خلك ئے هم وینی۔

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَیُرْسِلُ عَلَیْکُمْ حَفَظَةً ط
او هغه (الله) زوروَر دے، دپاسه دے د بندګانو خپلو نه او رالیږلی په تاسو حفاظت کونکی ملائك
حَتّٰی اِذَا جَآءَ اَحَدَکُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا
(څوکیداران) تردے چه کله راشی یو تن ستاسو ته مرګ وفات کوی هغه لره ملائك زمونږ
وَهُمْ لَا یُفَرِّطُوْنَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَی اللّٰهِ مَوْلٰـهُمُ الْحَقِّ ط
او دوی هیڅ کوتاهی نهٔ کوی۔ بیا به واپس شی دوی الله ته چه مالك د دوی دے یقینی،
اَلَا لَهُ الْحُکْمُ قف وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِیْنَ ﴿٦٢﴾
خبر شئ خاص هغه دپاره اختیار د فیصلے دے او هغه جلت حساب کونکے دے۔

تفسیر : د الله تعالیٰ بل قِسم تعارف او عقلی دلیل دے چه الله زورآور ذات دے، د بندګانو په کارونو کښې صرف الله تصرف کوی، هغه چه د دوی سره څنګه غواړی معامله کوی، او هغه د بندګانو حفاظت د ملائکو په ذریعه کوی او بیا پرے مرګ راولی او تاسو د مرګ نه نشئ بچ کیدے۔

اَلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ : د قهر معنیٰ مخکښې (١٨) آیت کښې تیره شوه چه په یو شی باندے غلبے ته وائی، بیا غلبه په یو شی باندے اُوچتوالی لره مستلزم ده. پدے وجه د قهر سره فوق ذکر کیږی، او قهر د الله تعالیٰ په مختلفو طریقو سره دے، قهر د معدوم په ایجاد سره دے، او قهر په موجود باندے په فناء کولو سره دے، او قهر د نُور په ظُلمت سره دے. او

ددے برعکس۔ او قهر د شپے په ورځے سره او برعکس نو ټولو قسمونو د انقلابی تصرف ته قهر وئیلے شی۔

بیا په (۱۸) آیت کښ تصرف د نفع او ضرر ذکر وو نو د هغے سره ئے قهر ذکر کړو ځکه چه دا هم د الله د قهر یو اثر دے، او دلته مخکښ تصرف د اُوده کولو او بیدارولو ذکر دے چه دا بل قِسم د اثر د قهر د الله دے، نو ځکه ئے وړپسے دوباره (القاهر) ذکر کړو۔ احسن الکلام)

د ((حفظه)) نه مراد هغه ملائك دی چه د انسان نه مخکښ روستو هر وخت لګیدلی وی او د هر قسم آفت او مصیبت نه ئے د الله په حکم سره بچ کوی، که دا ملائك نۀ وے نو شیطانانو به انسانان تس نس کړی وے۔ او ددے یو حکمة دا هم دے چه کله یو بنده پو هه شی چه زما عملونه ما پسے لیکلے شی او په قیامت کښ به په ما باندے د ټولو خلکو مخامخ پیش کولے شی نو دے د ګناهونو نه ډیر منع کیدونکے ګرځی۔ (قاسمیؒ)

ابن ابی العزؒ په ((شرح العقیدة الطحاویه)) کښ لیکلی دی چه ددے ملائکو شمار څلور دے، دوه په ورځ کښ اُوسیږی او دوه په شپه کی۔ دا تر هغه وخته پورے حفاظت کوی ترڅو چه د انسان مقرر اجل (نیټه) رانۀ شی لکه چه الله تعالیٰ په سورة رعد آیت (۱۱) کښ فرمایلی دی: ﴿ لَهٗ مُعَقِّبَاتٌ مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ یَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ﴾۔ (د هر یو دپاره د یو بل پسے روستو راتلونکی ملائك مقرر دی، چه ددۀ مخے او روستو وی او د الله د حکم مطابق ددۀ حفاظت کوی)۔

ځینی روایاتو نه معلومیږی چه هغه ابن جریرؒ او ابن کثیرؒ ذکر کړیدی په تفسیر د سورة الرعد کښ چه دا لس ملائك د ورځے او لس ملائك د شپے دی نو ټول شل ملائك شو۔

(ابن کثیر ٤/٤٣٩) وابن جریر (١٦/٣٧٠)

په دے کښ هغه ملائك هم داخل دی چه د بندګانو اعمال شماری او لیکی، دغه شان پدے آیت کښ د ملائکو درے قسمونه بیان شویدی۔ تردے پورے چه کله د مرګ وخت راشی نو روح اخستونکی ملائِك او نور مددګار ملائك راشی بغیر د تاخیر نه د هغه روح اخلی، او د الله د حکم مطابق که نیك روح وی، نو ((علیین)) کښ، او که فاجر وی نو په ((سجین)) کښ ئے محفوظ کوی۔

رُسُلُنَا : ددے نه معلومیږی چه وفات کونکی ملائك ډیر دی، او د سورة السجده (۱۱) آیت ﴿ یَتَوَفّٰکُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ الَّذِیْ وُکِّلَ بِکُمْ ﴾ نه معلومیږی چه یو ملائك دے؟ ځینی وائی چه مَلَكُ الموت جنس دے ډیرو ملائکو ته وائی، لیکن حقه دا ده چه ددے تفسیر په

حدیث کښې راغلي دي هغه دا چه ملك الموت هر مړی پسې ورځي، او دا نور ملائك د هغه سره أعوان (مددګار) دي لکه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما هم فرمائی : [اِنَّ لِمَلَكِ الْمَوْتِ أَعْوَانًا] (التحریر والتنویر) د ملك الموت سره ملګري وي. او د مسند احمدَ وغیره په روایت کښې دي [فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا بِيَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ] یعنی کله چه ملك الموت روح واخلي نو نور ملائك دغه روح د ملك الموت په لاس کښې د سترګې د رپ په اندازه نهٔ پریدی او زر ئې ترې اخلي او په یوه ټوټه کښې ئې تاووی. (مسند احمد : ۱۸۵۵۷ باسناد صحیح)

د ملك الموت نوم بعض مفسرینو (عزرائیل) لیکلے دے لیکن په صحیح نصوصو کښې دده نوم نهٔ دے ذکر شوے صرف ملك الموت نوم ئې دے.

سوال : یو ملك الموت څنګه په دنیا کښې ټولو مړوته په یو وخت حاضر شي؟ لکه دا معلومه ده چه په یو وخت کښې د لس لکهو نه زیات مړي کیږي؟ (ددے وجه نه بعض بې دینه خلك ددے پورے خندنۍ کوی)؟ **جواب** : ملك الموت د غر په شان جسم نهٔ لري چه په آرام بـه روانیږي بلکه دا نُور دے لکه ملائك نُور دی. او د نُور رفتار د پخوانو سائنسدانو په نیز په یوه ثانیه (سیکنډ) کښې یو لاکهـ شپږ اتیا زره میله دے نو په یو منټ کښې (1116000) میله دے او یو عرب سائنسدان لیکلي دي چه (درے لاکه میله دے) او دا عام انوارات مراد دی، او بیا د ملائکو انوارات ددے نه هم تیز دی. نو هغه ته الله تعالیٰ دا طاقت ورکړیدے چه د ټولے دنیا انسانان په یو لاس کښې ونیسي او ټولو نه په یو ځل روح واخلي لکه د قیامت د راتللو په وخت کښې به دغسې کوی. لکه ددے تفصیل د المنار نه روستو په آیت (۹۷) کښې راځي.

فائده : بعض مشرکان وائي چه ملك الموت ټولے دنیا ته رسیدلے شي نو رسول الله ﷺ خو د هغه نه بهتر دے هغه هم هر ځای حاضر ناظر کیدے شي. جواب دا دے چه د رسول الله ﷺ بهتر والے په خپل ځای دے لیکن هغه ته الله تعالیٰ دا قسم طاقت نهٔ دے ورکړے او ملك الموت ته ئې ورکړیدے لکه هغه انسان دے، خوراك، څکاك، نکاح او خوب ته حاجت لري او ملك الموت ئې نهٔ لري. او همیشه د داسې قسم قیاسونو په وجه دین او توحید تباه شویدے.

ثُمَّ رُدُّوٓا اِلَى اللّٰهِ : د مرګ نه روستو ټول انسانان الله تعالیٰ ته یو ځل واپس کیږي او روح ئې بره آسمان ته خیژي نو چاته د آسمان دروازے کولاوے شي او روح ئې علیین ته پورته کړے شي او چاته کولاوے نشي نو روح ئې سجین ته ګوزار شي.

مَوْلٰـهُمُ : د مَوْلیٰ نه مراد مالك او متصرف دے۔
الْحَقِّ : یعنی یقینی، او رشتینی۔
اَلَا لَهُ الْحُكْمُ : یعنی د روحونو پیش کیدو نه روستو فیصله او واك د الله تعالیٰ دے چه هغه د دوی په باره کښې څه فیصله کوی، او هغه به په ډیره جلتئ سره د مخلوقاتو حساب اخلی۔
یو حساب په قبر کښې دے چه (مَنْ رَّبُّكَ؟......) نو د قبر سوال جواب ددے آیت نه ثابت دے۔ او دویم په آخرت کښې دے، او حدیث کښې دی چه الله تعالیٰ به د ټول مخلوق د حساب نه دومره زر فارغه شی لکه د دنیا د ورځو نه چه د سهار نه تر غرمے پورے وخت وی۔

قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ
ته ووایه څوك دے چه نجات درکړی تاسو ته د تیارو د وچے او د دریاب نه،
تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ج لَئِنْ اَنْجٰنَا
رابلئ تاسو هغه په عاجزئ او په پټه سره، که چرے خلاص کړو هغه مونږ لره
مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ
ددے (مصیبت) نه نو خامخا شو به د شکر کونکو نه۔ ته ووایه ! الله بچ کوی تاسو
مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾
ددے (مصیبت) نه او د هر غم نه بیا تاسو شرك کوئ۔

تفسیر : دا بل قسم تعارف، او عقلی دلیل دے په رد د شرك باندے، او دلته د کلام سیاق د مشرکانو سره متعلق دے چه په سختو مشکلاتو کښې تاسو الله تعالیٰ ته رامدد شه وایئ او په وړو مصیبتونو کښې خپلو معبودانو ته آوازونه کوئ حال دا چه د ټولو مصیبتونو نه بچ کونکے صرف الله تعالیٰ دے نو بیا تاسو ولے د هغه سره شرك کوئ؟، نجات الله تعالیٰ درکړی او نسبت ئے بل چا ته کوئ، یا چه کومه وعده موکړی وی نو هغے کښې خلاف کوئ۔
ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ : د اُوچے د تیارو نه مراد مختلف قِسم مصیبتونه، د دشمن یره او لاره ورك کیدل دی او د دریاب د تیارے نه مراد د چپو یره، او د طوفان یره، او لاره ورك کیدل

دي۔ دلته الله تعالیٰ د مشرکانو د فطرت کوږ والے بیان کړیدے چه کله دوی ته څه یره اُورسیږي نو د الله مخے ته زاري او عاجزي کوي، او پټه پټه دعا کوي او الله سره وعده کوي چه که هغه ددے مصیبت نه نجات راکړو نو مونږ به د هغه د شکرګذار بندګانو نه جوړیږو او شرك به نۀ کوو۔

نو ته ورته ووایه چه ددے مصیبت نه او د هر مصیبت نه صرف الله نجات درکوي۔ لیکن د دوی د فطرت کوږ والي او د شرکي عادت نتیجے ته اُوګوره چه د نجات موندلو نه روستو دوی خپلے وعدے هیرے کړي او خپل نجات ورکونکے بل څوك یادوي۔

تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً : یعني بیا په تاسو کښ عاجزي په ژبه، او اخلاص په زړه کښ پیدا شي۔

كُلِّ كَرْبٍ :کرب هغه غم ته وائي چه ساه ورسره ډوبه شي یعني غټ غم۔

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ
تۀ ووایه الله تعالیٰ قادر دے پدے چه راولیږي په تاسو عذاب د بره طرف ستاسو نه یا د
تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ
لاندے د خپو ستاسو نه یا ګډوډ کړي تاسو مختلفے ډلے او وبه څکوي بعض ستاسو ته
بَأْسَ بَعْضٍ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾
جنګ د نورو، وګوره څنګه بیانوو مونږ آیتونه دے دپاره چه دوی پوهه شي۔

تفسیر : یعني اے زما رسوله ! (صلی الله علیه وسلم) کومو مشرکانو چه وعده کړے وه چه دوی به د مصیبت نه د نجات موندلو نه روستو د الله شکر ګذار بندګان جوړیږي، لیکن خپله وعده ئے هیره کړه او بیا ئے شرك شروع کړو، (نو دے خلکو ته پدے آیت کښ سخته دهمکي بیان شویده) چه ته دے خلقو ته اُووایه ! چه د الله د عذاب نه په امن کښ کیدل په هیڅ شان نشته څکه چه هغه خو په هر وخت او هر حال کښ په مختلف قسم عذاب کښ اخته کولو باندے قادر دے، که هغه غواړي نو د اُور او کاڼو باران به وُکړي، یا به آسمان ستاسو په سرونو راوغورزوي، یا که اُوغواړي نو طوفان به راولیږي، یا به مو په زمکه کښ خخ کړي، یا به مو په مختلفو ډلو کښ تقسیم کړي او بیا به تاسو خپل مینځ کښ یو بل لره قتلوئ۔

څیني وائي : (مِنْ فَوْقِكُمْ) نه مراد ناکاره مشران راتلل دي او (من تحت ارجلکم) نه

نافرمانه خدمتګاران او اولاد دی. یا دا چه د بره نه به بارانونه بند کړی او د زمکے نه به بوټی بند کړی نو دا هم عذاب دے. (زمخشری)

بخاري د جابر ﷺ نه روایت کړیدے چه کله دا آیت ﴿ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَاباً مِنْ فَوْقِكُمْ ﴾ نازل شو نو رسول الله ﷺ وویل : [اَعُوْذُ بِوَجْهِكَ] (زهٔ پناهی طلب کوم ستا په مخ سره) او چه کله ﴿ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ ﴾ نازل شو نو نبی ﷺ دوباره وویل :[اَعُوْذُ بِوَجْهِكَ] بیا کله چه ﴿ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ ﴾ نازل شو نو نبی ﷺ وویل : (وَهٰذَا أَهْوَنُ) (دا زیات آسان دے). (بخاری: ٤٦٢٨) (٧٣١٣) (٧٤٠٦)

دے ته ئے آسان ځکه وویل چه د انسانانو یو بل ته ضرر ورکول آسان وی، یو بل باندے څه نا څه زړه یخ کړی، لیکن د الله تعالیٰ عذاب چه نازل شی هغه ډیر سخت وی نو ځکه رسول الله ﷺ ددے نه پناهی طلب کړه.

مسلمؒ د سعد بن ابی وقاص ﷺ نه روایت کړیدے چه یوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره په یو نزدی کلی راتلو نو د بنی معاویه د مسجد په خوا کښ تیر شو. نبی ﷺ مسجد ته داخل شو او دوه رکعاته مونځ ئے وکړو او مونږ هم د هغه سره مونځ وکړو. هغه ډیره اُوږده دعا اُوکړه، بیا ئے مونږ طرف ته مخ راوګرځولو وے فرمایل چه ما د خپل رب نه درے څیزونه وغوختل، نو هغه ما ته دوه راکړل او یو ئے بند کړو. ما د خپل رب نه اُوغوختل چه زما امت په غرق کیدو هلاك نکړی نو دا ئے ماته راکړو. او ما د خپل رب نه اُوغوختل چه زما امت په قحط سالئ سره هلاك نکړی، نو هغه ئے ما ته راکړو. او ما د خپل رب نه سوال اُوکړو چه زما امت په خپل مینځ کښ د یو بل سره په جګړو اخته نکړی نو دا دعائے رانه منع کړه. (صحیح مسلم: ٧٤٤٢) باب هلاك هذه الامة بعضهم ببعض

شِيَعًا : جمع د شِيْعَةٌ ده، هغه ډلے ته وائی چه په یو غرض، یا عقیده یا خواهش کښ متفق وی. او شیعه د سړی تابعدارو او اهل ته هم وائی.

وَّيُذِيْقَ : دا ئے پرے عطف کړو اشاره ده چه مختلفے ډلے جوړیدل سبب د اختلافاتو او جنګونو دے، نو د بأس نه مراد قتل او شر دے.

صاحب التحریر وائی چه پدے کښ دهمکی ده مشرکانو د مکے ته، او تائید دے د مسلمانانو چه الله تعالیٰ دغه شان وکړل چه عمومی عذابونه خو پرے رانغلل مګر په بدر او نورو غزواتو کښ ئے د مسلمانانو بأس (د جنګونو تریخوالے) وڅکلو. ددے وجه نه رسول الله ﷺ دے ته آسان ووئیلو چه کله سزا مشرکانو ته رسیږی نو دا به د مسلمانانو

په لاس وي اګرکه دوی ته به هم پکښ تکلیف رسي۔ او هغه دا وئیلی دي چه دا خطاب مسلمانانو ته نهٔ دے پدے وجه رسول الله ﷺ ددے نه تعوذ نهٔ دے کړے۔ اګرکه الفاظ صلاحیت د دواړو فریقینو د خطاب لري۔ (التحریر والتنویر ١٤٨/٦)

وَكَذَّبَ بِهٖ قَوۡمُكَ وَهُوَ الۡحَقُّ ؕ قُلۡ لَّسۡتُ
او دروغجن ګڼړی دے لره قوم ستا او حال دا چه دا حق دے، تهٔ ووایه ! نهٔ یم زهٔ
عَلَيۡكُمۡ بِوَكِيۡلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسۡتَقَرٌّ وَّسَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٦٧﴾
په تاسو باندے ذمه وار۔ د هر خبر دپاره وخت مقرر دے او زر دے چه تاسو به پو هه شئ۔

تفسیر : دا زورنه ده منکرینو ته او (بهٖ) ضمیر قرآن ته یا عذاب، یا تصدیق د آیتونو ته راجع دے۔

او پدے کښ د مکے مشرکانو واقعی احوال بیانیږی او نبی کریم ﷺ ته وئیلے شی چه ستا قوم د قرآن تکذیب اُوکړو، حال دا چه دا حق دے، او پدے کښ بیان شوے هره خبره رشتینی ده۔ تهٔ دوی ته اُووایه چه زهٔ ستاسو ذمه وار نهٔ یم چه تاسو به ضرور ایمان راوړئ، زما کار خو صرف د الله تعالیٰ پیغام رَسَول دی۔

بِوَكِيۡلٍ : وکیل هغه چا ته وائی چه کار او اختیار ورسپارلے شوے وی، نو معنیٰ دا ده چه زهٔ تاسو په زوره د تکذیب نه نشم اړولے، دا د الله په اختیار کښ دے۔

لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسۡتَقَرٌّ : دا جواب د سوال دے چه دوی تکذیب کوی نو عذاب پرے ولے نهٔ راځی؟ نو جواب وشو چه د الله د هر خبر او د هرے فیصلے واقع کیدو یو وخت مقرر دے۔ او ما تاسو ته د قرآن او د رسول د تکذیب او د شرك انجام بیان کړیدے چه تاسو به یوه ورځ عذاب راګیروی لکه د بدر په میدان کښ د هغه خبر تصدیق وشو۔

نبأ : هغه خبر چه قرآن ورکړیدے چه عذاب به راځی، د دنیا یا د آخرت عذاب۔ یعنی د قرآن او د نبی وعدے به رشتینی کیږی۔ یا د نبأ نه مراد هر خبر دے چه تکذیب ته هم شامل دے او د مستقر (ځای د قراری) نه مراد انجام دے یعنی ستاسو د تکذیب به هم څه انجام خو راوځی او هغه به تاسو ته رسیږی۔

مُّسۡتَقَرٌّ : ځای د قراری، یا وخت مقرر۔

وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا

او کله چه ووینے ته هغه کسان چه ننوزی (بحث کوی په باطله) په آیتونو زمونږ کښ

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ

نو مخ واړوه د هغوی نه تردے چه شروع شی په خبره بله کښ او که چرته هیر کړو ستا نه

الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾

شیطان نو مهٔ کینه روستو د یاداشت نه سره د قوم ظالمانو نه۔

تفسیر : پدے آیت کښ ایمان والو ته یو ادب ورکوی چه کله په یو مجلس کښ د شرك، بدعت او فسق خبرے کیږی نو دغه مجلس کښ شریك کیدل منع دی، صرف د هغوی د نصیحت دپاره ورتلل جائز دی۔

د اسلام په ابتداء کښ چه به د مکے مشرکانو صحابه کرامؓ لیدل چه قرآن به ئے لوستلو نو دوی به ورپورے توقے کولے او خبرے به ئے جوړولے، د هغه حالاتو مطابق الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او رسول الله ﷺ او صحابه کرامؓ ئے منع کړل چه کافران کله د قرآن پورے توقے کوی نو داسے مجلسونو نه به پاخیږئ تردے چه دوی په بله خبره کښ شروع شی۔

او کله چه نبی کریم ﷺ هجرت وکړو او مدینے منورے ته راغلو نو هلته هم د کافرانو او منافقانو همدا رویّه وه چه دوی به هم د قرآن کریم او رسول الله ﷺ پورے توقے کولے نو الله تعالیٰ د داسے مجلسونو نه د پرهیز کولو حکم وکړو، لکه چه د سورة النساء په آیت (۱۴۰) کښ راغلی دی: ﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ اِنَّكُمْ اِذاً مِّثْلُهُمْ ﴾ (او الله په قرآن کریم کښ ستاسو دپاره نازل کړیدی چه کله تاسو واورئ چه د الله د آیتونو انکار کیږی او د هغے پورے توقے کیږی نو د هغوی سره مهٔ کینئ تردے پورے چه ددے نه سوئ په بله خبره کښ شروع شی ورنه تاسو به د هغوی په شان شئ)۔

مفسرینو لیکلی دی چه دا حکم عام دے او د امت مسلمه په هر فرد دا فرض دی چه چرته هم د اسلام یا د قرآن یا د سنت وغیره پورے توقے کیږی، یا بدعت او خرافاتو طرف ته دعوت کیږی نو د هغه مجلس نه به بائیکاټ کوی، که نهٔ وی نو په هغه باندے به هم دغه حکم لګی کوم چه اُوس د سورة النساء په آیت کښ تیر شو ﴿ اِنَّكُمْ اِذاً مِّثْلُهُمْ ﴾ چه (تاسو به

هـم د هغوی په شان شئ)۔ او ددے پوره تشریح او فوائد د سورة النساء د آیت (١٤٠) لاندے تیر شویدی۔

يَخُوْضُوْنَ : خوض په اصل کښ اَلدُّخُوْلُ فِي الْبَاطِلِ یعنی په یو باطل کار کښ ننوتو ته وائی۔

فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ : د کافرو سره د دنیاوی خبرو یا د تجارت په خبرو کښ په مجلس کښ ناسته جائز ده چه دین ته پکښ نقصان نۀ وی۔

وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ : یعنی که شیطان درنه دا قول (فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ) او (فَلَا تَقْعُدْ) امر هیر کړی، یا دا چه انسان غافل وی او د هغوی د توقو نه خبر نشی نو بیا به گناهگار نۀ وی۔

وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ
او نشته په هغه کسانو چه ځان ساتی (د شرك نه) د حساب د دوی نه هیڅ شے
وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾
لیکن نصیحت کول دی (دوی ته) دے دپاره چه دوی بچ شی۔

تفسیر : دا جواب د سوال دے چه مونږ په علاقه کښ موجود یو او دغسے مجرمان په مجلسونو کښ د الله د آیتونو پورے توقے کوی، او مونږ ورسره نۀ شریك کیږو نو آیا پدے به مونږ الله تعالیٰ راګیروی او مونږ به گناهگار یو؟

(لکه د ابن عباسؓ نه نقل دی چه کله دا مخکښ حکم نازل شو نو صحابه کرامو ؓ وویل چه مونږ به څنګه په مسجد حرام کښ کینو او د بیت الله نه به طواف وکړو حال دا چه مشرکان خو همیشه بکواس کوی؟۔ (بغوی))

نو الله جواب کوی : چه کله کافران د الله د آیتونو پورے توقے کوی، په هغه وخت که د الله نه یریدونکی مسلمانان د دوی د مجلسونو نه بچ شی نو د کافرانو گناه به هغوی پورے نۀ پیوسته کیږی، لیکن هغوی ته به امر بالمعروف او نهی عن المنکر نۀ پریدی دا نصیحت ورکول په دوی باندے لازم دی۔

وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى : أَيْ لٰكِنْ يُذَكِّرُوْنَهُمْ ذِكْرٰى ۔ لیکن دوی باندے لازم دی چه هغوی ته به نصیحت کوی، شاید چه هغوی به هم د گناه نه بچ شی۔

١- یعنی څوك چه په گناه کښ شریك نۀ وی نو په هغه گناه نشته خو په شرط د

دعوت باندے۔

۲- ددے دویم مطلب دا بیان شویدے چه د الله نه یریدونکی خلق که د یوے مجبورتیا په وجه د داسے خلقو سره کینی، یا کافران راشي او د دوی په مجلس کښ د ګناه خبرے کوی، او یا د الله د آیتونو پورے توقے کوی، نو د هغوی ګناه به د مؤمنانو پورے نۀ پیوسته کیږی لیکن پدے صورت کښ به هم هغوی ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی۔

د تفسیر علماؤ وئیلی دی چه داسے مجلسونو کښ د شرکت اجازت د اسلام په ابتداء کښ وو، کله چه مسلمانانو خپل ایمان پټ ساتلو لیکن په مدنی ژوند کښ کله چه د سورة نساء والا آیت نازل شو کوم چه مخکښ ذکر شو نو دا اجازت منسوخ شو۔ لکه د هغه آیت په معنیٰ کښ سوچ وکړه۔ او سورة الانعام مکی سورت دے او سورة النساء مدنی دے۔ (ابن کثیر ۲/۴۳۵)

هان، د نیوی د تجارت معامله وغیره منسوخ نۀ ده، د هغے د اثبات ډیر دلائل شته۔

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ : علامه سعدیؒ فرمائی : ۱- دا دلیل دے چه داعی به داسے الفاظ استعمالوی چه هغه مقصد یعنی تقویٰ ته نزدے کول کوی۔

۲- او ددے نه دا هم معلومه شوه چه تذکیر او وعظ که چرته موعوظ (یعنی مخاطب) دپاره نور شر زیاتولو نو بیا به د هغے پریخودل واجب وی ځکه چه کله دعوت د مقصود خلاف راوځی نو د هغے پریخودل مقصود وی۔ (تفسیر السعدی ۱/۱۶۰)

وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّ لَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ
او پریږدۀ هغه کسان چه نیولے ئے دے دین خپل لوبے او مشغله او دهوکه کړیدی دوی لره
الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا
ژوند دنیوی، او بیان کړه قرآن چه هلاك نشي یو نفس په سبب د هغه عمل
كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ
چه کړے ئے وی، نشته هغه لره سویٰ د الله تعالیٰ نه دوست او نۀ سفارشي
وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
او که جرمانه ورکوی هره جرمانه نۀ به شي اخستے د هغے نه، دا هغه کسان دی

اُبۡسِلُوۡا بِمَا كَسَبُوۡا ج لَهُمۡ شَرَابٌ
چه هلاك به شي په سبب د هغه عمل چه كړے ئے دے، د دوي دپاره څكل دي
مِّنۡ حَمِيۡمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيۡمٌ بِمَا كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ ﴿۷۰﴾
د ګرمو نو اُوبو نه او عذاب دردناك دے په سبب د هغے چه دوي كفر كوي۔

تفسير : دا بل ادب دے په باره د هغه خلكو كښې چه دين نه ئے لهو او لعب جوړ كړيدے۔ او هغه كسانو ته توبيخ او زورنه ده چه د الله د آيتونو پورے توقے كوي۔

د آيت مطلب دا دے : الله تعالىٰ نبي كريم ﷺ ته حكم وكړو چه كوم خلق د دينِ اسلام پورے توقے كوي، تهٔ دوي په خپل حال پريده، دوي خو د دنيا ژوند په دهوكه كښې ارتولي دي، دوي مطمئن دي او ګمان كوي چه ددے ژوند نه روستو بل كوم ژوند نشته، او هره نيكبختي د دنيا په لذتونو او مزو كښې ده۔ تهٔ د دوي د تكذيب هيڅ پرواه مهٔ كوه، او دوي په خپل حال پريده، دا خلق لوئي عذاب طرف ته روان دي۔ او ددے قرآن په ذريعه خلق يره وه چه هسے نه دوي د خپلو بدو اعمالو په وجه د قيامت په ورځ هلاك او برباد نكړے شي، چه په هغه ورځ به د دوي دپاره د الله نه سوىٰ هيڅوك وَلي نهٔ وي چه د طاقت په ذريعه د دوي مدد وكړي او نهٔ به كوم سفارشي وي چه د سفارش په ذريعه د الله عذاب روستو كړي۔

او كه په هغه ورځ دوي هر قسمه فديي وركول غواړي نو نهٔ به قبليږي۔ د الله دين پورے توقے كونكي به په خپلو بدو عملونو او حرامو شهوتونو كښې د ډوبيدو په وجه هلاك كولے شي۔ په هغه ورځ به د دوي د څكلو دپاره ګرمے اُوبه وركولے شي چه د دوي په خيټو كښې به آوازونه كوي او د دوي كولمے به پريكړي او بهر به ئے ګوزار كړي او د دوي د كفر په وجه به دوي ته د اُور دردناك عذاب وركړے كيږي چه هغه اُور به د دوي په جسمونو كښې هميشه بليږي (الله تعالىٰ دِ ے زمونږ په جسمونو باندے د جهنم اُور حرام كړي آمين)۔

وذر الذين : ددے پريخودو مطلب دا دے چه دوي ما ته پريده زهٔ به ورسره ګورم۔ نو دا دهمكي ده۔ يا مطلب دا دے : لَاتُبَالِ بِهِمۡ ۔ يعني په دوي باندے هيڅ پرواه مهٔ ساته۔ او دا مطلب نهٔ دے چه نصيحت ورته مهٔ كوه۔

دِيۡنَهُمۡ لَعِبًا وَّ لَهۡوًا : ۱- يعني دين داسے سپك او ضائع شے ګڼړي لكه لوبي او تماشے۔ نو دين نه ئے لوبي او تماشے جوړي كړيدي۔

۲- دے کښې چا برعکس معنیٰ کړیده چه دوی لهو او لعب نه دین جوړ کړیدے یعنی لوبې او تماشې ئې داسے لازم کړیدی لکه دین، لیکن دا ظاهر القرآن نۀ دے۔
۳- ځینې وائي چه د (دِيْنَهُمْ) نه مراد (عِيْدَهُمْ) دے لکه خازن لیکلي دي۔ یعنی د اختر نه ئې لوبې او تماشې جوړے کړیدي۔ ٤- څلورم قول ډیر بعید دے چه اِتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ ذَرِيْعَةً لِّلَّهْوِ وَاللَّعِبِ ۔ یعنې دین ئې د لهو او لعب دپاره ذریعه جوړه کړیده چه هغه دنیا ده یعنی دین ئې د دنیا ذریعه جوړه کړیده۔ پدے کښې اول تفسیر صحیح دے۔
یا دا چه دین ئې د دنیاوی مقصد د حاصلولو ذریعه جوړه کړیده۔
وَذَكِّرْ بِهٖۤ اَنْ تُبْسَلَ : دلته (لِئَلَّا) کلمه پټه ده۔ یعنی په قرآن باندے نصیحت پدے وجه ورکړه چه چرته راګیر نشي یو نفس په سبب د خپلو عملونو۔
اَنْ تُبْسَلَ : خپله معنیٰ ئې د هلاکت ده، اَیْ اَنْ تُهْلَكَ (ابن عباسؓ) او حاصل ترجمے ئې داسے شویدی اَنْ تُحْبَسَ (قتادهؒ) چه راګیر نشي۔ اَنْ تُفْضَحَ۔ (بخاریؒ) چه ونۀ شرمولے شي۔
اَنْ تُسْلَمَ لِلْهَلَاكِ۔ (مجاهدؒ، عکرمهؒ، سُدیؒ- بغویؒ) چه هلاکت ته ونۀ سپارلے شي۔
اَنْ تُؤْخَذَ۔ (ابن زیدؒ) چه راونۀ نیولے شي۔
او حاصل معنیٰ دا ده چه قرآن ددے دپاره بیان کړه چه دا خلك ایمان راوړی او د خپلو بدو عملونو په وجه هلاك نشي۔
وَاِنْ تَعْدِلْ : یعنی که هره فدیه او جرمانه ورکوی نو هغه به ترے نۀ اخستے کیږی۔ او مطلب دا چه نۀ د بل زور شته او نۀ د خپل مال زور شته۔
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا : اَیْ اُهْلِكُوْا۔ هلاك کړے شویدی په سبب د بدو عملونو۔
لَهُمْ شَرَابٌ : دا د هغوی د هلاکت بیان دے۔

قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَا يَنْفَعُنَا وَلَا
تۀ ووایه !آیا راوبلو سویٰ د الله نه هغه معبودان چه فائده نۀ شي راکولے مونږ ته او نۀ
يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا
ضرر راکولے شي او واپس کړے شو په پوندو خپلو پس د هغے نه چه هدایت وکړو مونږ ته
اللّٰهُ كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِى الْاَرْضِ
الله تعالیٰ په شان د هغه چا شو چه ګوزار کړے وی هغه لره شیطانانو (پیریانو) په زمکه کښې

حَيْرَانَ ص لَهٗ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ط
چه حيران وی دهٔ لره ملګری وی، رابلی دهٔ لره نيغې لارې ته چه راشه مونږ ته (او هغه نهٔ راځی)
قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ط وَاُمِرْنَا
تهٔ ووايه يقيناً هدايت د الله همدا صحيح هدايت دے، او حکم کړے شويدے مونږ ته
لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ
چه تابع شو د رب العالمين۔ او دا (حکم شويدے مونږ ته) چه پابندی کوئ د مانځه
وَاتَّقُوْهُ ط وَهُوَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾
او يره کوئ د هغه نه او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه خاص هغه ته به ورجمع کړے شئ۔

تفسير: دا نتيجه ده د مخکنو دليلونو، او پدے کښې بله طريقه د تعليم ده، او پدے کښې جواب د هغوی د سوال دے چه هغوی وئيلی وو زمونږ معبودان شته هغوی ته به آواز کوو، هغه به زمونږ سفارشيان جوړيږی، او ايمان والو ته ئے دعوت ورکړے وو چه تاسو هم زمونږ معبودانو ته په ښه نظر وګورئ، او د دوی نه هم کله مددونه وغواړئ۔

(لکه مفسرينو د سُدّیؒ نه نقل کړيدی چه د مکے مشرکانو مسلمانانو ته وئيل چه زمونږ په لاره روان شئ او دين د محمد (ﷺ) پريدئ، نو الله تعالیٰ خپل رسول (ﷺ) ته حکم وکړو چه هغه په ډير شدت (سختئ) سره د دوی د خبرے رد وکړی – المنار)۔

نو د جواب حاصل دا دے چه غير الله ته آواز کول او مدد غوښتل خو ارتداد او ليونتوب دے نو آيا تاسو مونږ مرتد کولو او ليونتوب ته راغواړئ۔ د الله هدايت زمونږ دپاره شته هغه کافی دے، او هغه دا دے (وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ) (وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوْهُ)۔

وَنُرَدُّ :أَیْ اِلَى الشِّرْكِ ۔ دا آيت دليل دے چه بغير د ظاهری اسبابو نه غير الله نه دعا غوښتل (لکه بابا، قبر او ولی ته رامدد شه وئيل) ارتداد دے۔

عَلٰٓى اَعْقَابِنَا : جمع د عَقِب ده، پوندو ته وائی او د رَجَعَ عَلٰى عَقِبَيْهِ معنی دا ده چه د کوم ځای نه راغلے وی هلته بيرته واپس شی، او دا کنايه ده د مرتد کيدو نه۔ (التحرير)

او عرب دا ددے دپاره استعمالوی چه کله يو شخص د قدرت نه روستو عاجز شی، يا د اُوچتوالی نه روستو ښکته شی، يا کمال ته ورمخکښې کيدو نه روستو بند شی، او ددے

اصل استعمال د شکست یا تاوان راواپس کیدل دی، یا د نیك عمل نه عاجز کیدل دی۔ او بیا په هر مذموم (بد) راګرځیدو کښې استعمالیږی۔ (المنار)

یعنی دا خو د اوچتے مرتبے نه ښکته راپریوتل دی، دا مونږ چرته کوو۔

بَعْدَ اِذْهَدٰنَا اللّٰهُ : اَیْ اِلٰی دِیْنِ الْاِسْلَامِ وَالتَّوْحِیْدِ (الخازن۲/۱٤۲)

پس د هغے نه چه مونږ ته ئے د دین اسلام او توحید لاره وخودله۔

كَالَّذِیْ اسْتَهْوَتْهُ : اَیْ نَصِیْرُ كَالَّذِیْ (قاسمی) یعنی زمونږ حال به ددے سړی په شان شی۔ مطلب دا چه کوم بنده چه د توحید د دعوت قبلولو نه روستو بیا په شرك کښې اخته کیږی او د بتانو او د قبرونو عبادت شروع کوی، نو الله تعالیٰ د داسے سړی دلته مثال بیان کړیدے چه لکه یو سړے د خپلو ملګرو سره په یوه صحراء ورتیریږی او د شیطانانو جناتو په ګیره کښې راشی (پیران پرے کینی) چه دا د نیغے لارے نه واړوی او بل طرفته ئے روان کړی، او هغه حیران او پریشان نهٔ پوهیږی چه څه وکړی، او د هغه ملګری دهٔ ته آواز کوی چه مونږ طرف ته راشه، سیده لاره دلته ده، لیکن هغه د شیطانانو په چکر کښې داسے ننوتے وی چه نهٔ هغه د خپلو ملګرو د آواز جواب ورکوی او نهٔ هغه طرف ته ځی۔

نو مشرك هم دغه شان پیرانے، بی عقله، بی وقاره وی لکه پیران چه پرے ناست وی او پریشانه وی چه کوم طرفته لاړ شی، کوم بابا نه ئے وغواړی، ټول ژوند ئے پریشانه وی۔

اِسْتَهْوَتْهُ : اَیْ سَیَّرَتْهُ فِیْ هُوِیٍّ مِنَ الْاَرْضِ۔ یعنی هغه ئے یو یے شاړے او خکته زمکے ته بوتلے دے۔ (التسهیل واللباب)

قتادهٔ وائی : [أَضَلَّتْهُ فِي الْأَرْضِ] په زمکه کښې ئے بی لارے کړے وی۔ (ابن کثیرؒ)

قاسمیؒ وائی : [اِسْتَمَالَتْهُ عَنِ الطَّرِيْقِ الْوَاضِحِ] د ښکاره لارے نه ئے کوږ کړے وی۔

جَعَلَتْهُ الشَّيَاطِيْنُ مُتَّبِعًا لِهَوَاهُمْ۔ شیطانانو د خپل خواهش تابع ګرځولے وی۔ (اللباب)

ذَهَبَتْ بِهَوَاهُ وَعَقْلِهِ۔ شیطانانو ددهٔ خواهش او عقل ختم کړے وی۔ (المنار)

ابن ابی حاتمؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه دا یو مثال دے چه الله تعالیٰ د باطلو معبودانو د حالت دپاره بیان کړیدے۔ او دارنګه دا مثال دے د هغه خلکو هم چه باطل معبودانو طرفته دعوت ورکوی او د هغه کسانو چه الله طرف ته دعوت ورکوی، د هغوی د حالت بیانولو دپاره الله تعالیٰ ذکر کړیدے۔ لکه یو سړے دے چه لاره ئے ورکه کړی وی او حیران ګرځی روان وی نو پدے کښې ورته یو تن آواز وکړی چه اے فلان بن فلان! زمونږ لارے ته راشه، او ددهٔ نور ملګری وی هغه ورته آواز کوی چه زمونږ لارے ته راشه، نو که د

اول آواز کونکی خبره ومنی نو هغه به ئې بوځی تردې چه هلاکت ته به ئې گوزار کړی، حال دا چه دې گمان کوی چه ددې خلکو دا آواز صحیح دې، او دوی په صحیح لاره روان دی، او د دوی په خبره منلو کښې زه په یو صحیح لاره روان شوم، او مینځ کښې هلاکت ته غورزیدلې وی، او که د هدایت والا آواز قبول کړی نو نیغې لارې ته به ورسیږی.

او بیا ډیر کرته دغه پیران او شیطانان دهٔ لره وخوری، یا ئې په یوه شاړه زمکه کښې پریدی چه د تندې او د لوږې نه مړ شی، نو دغه شان به دا د گمراهئ داعیان دهٔ لره پریدی چه هیڅ مدد به ورسره نشی کولې، نو بیا به پښیمانه وی او ارمانونه به کوی لیکن وخت به تیر وی. (ابن جریر وابن کثیر۳/ ۲۸۰)

نو کله چه سړې مشرك شی نو دغه شان حیران وی چه د نیکانو ملگرو خبره نهٔ منی او هغه ورته شیطان بد ښکاره کړی چه دوی خو د پلار نیکه لاره او طریقه پریښې ده، او حال دا چه خپله په هلاکت روان وی، د گمراهانو خبره منی. او دا حال د عامو انسانانو دې چه د دوه متعارضو دعوتونو ترمینځ حیران وی اِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللّٰه (تفسیر السعدی)

ابن عاشورؒ وائی : دلته د بیل بیل اجزاؤ تشبیه هم صحیح ده چه ارتداد بعد الایمان مشابه دې د لیونی د عقل ختمیدو سره، او کفر مشابه دې په زمکه کښې د حیران گرځیدو سره، او مشرکان چه مسلمانانو ته دعوت ورکوی هغه د شیطانانو سره مشابه دی، او د الله دعوت چه انسانان ایمان ته رابلی او ملائك د هغه وحی راوړی دا د هغه ملگرو مشابه دی چه دې هدایت ته رابلی نو بناء پدې (كَالَّذِیْ) نه مراد به غیر معین شخص وی. (التحریر۶/ ۱۶۳)

هُدَی اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰی : یعنی هدایت د الله چه الله پرې رسولان رالیږلی دی همغه اصل هدایت دې او ماسوئ د هغې نه گمراهی ده. (قاسمیؒ)

لِنُسْلِمَ : یعنی د الله تعالیٰ به یواځې بندگیانی کوو. وَنَنْقَادَ. یعنی مونږ تابع او منقاد شو.

وَاَنْ اَقِیْمُوا : دا په (لِنُسْلِمَ) باندې عطف دې اَیْ وَأُمِرْنَا اَنْ أَقِيْمُوا . یعنی مونږ ته دا حکم هم شویدې چه مونځ قائم کړئ.

وَهُوَ الَّذِیْٓ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ : او مونږ ته دا حکم شویدې چه ددې یقین سره ژوند تیر کړئ چه د قیامت په ورځ ستاسو د ټولو د هغه مخې ته جمع کیدل دی. یا (وَهُوَ الَّذِیْٓ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ) علتِ غائیه دې د (اُمِرْنَا) دپاره. ځکه منقاد شئ چه ستاسو حشر کیدو والا دې.

وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط وَیَوْمَ
او الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه په حق سره او په هغه ورځ
یَقُوْلُ كُنْ فَیَكُوْنُ ؕ ط قَوْلُهُ الْحَقُّ ط وَلَهُ الْمُلْكُ
چه وبه وائی شه نو شی به، وینا د هغه حقه (رشتینې) ده، او خاص هغه لره بادشاهی ده
یَوْمَ یُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ ط عٰلِمُ الْغَیْبِ
په هغه ورځ چه پوکے به وکړے شی په شپیلۍ کښ هغه عالم دے په هر پټ
وَالشَّهَادَةِ ط وَهُوَ الْحَكِیْمُ الْخَبِیْرُ ﴿۷۳﴾
او ښکاره باندے او هغه حکمتونو والا خبر دار دے۔

تفسیر : (تُحْشَرُوْنَ) کښ د قیامت تذکره وشوه نو اُوس عقلی دلیل راوړی د هغے د اثبات دپاره، او رد کوی په منکرینو د قیامت۔ او دا د الله تعالیٰ تعارف هم دے او د توحید دپاره عقلی دلیل هم دے۔ چه پیدا کول او ورانول د دنیا دواړه د الله په اختیار کښ دی، بل څوك کار ساز او واکدار نشته۔

بِالْحَقِّ : یعنی د حق دپاره چه هغه د الله بندګی ده۔ یا لِاِظْهَارِ الْحَقِّ : د حق د راښکاره کولو دپاره چه هغه توحید دے۔ یا بِالْعَدْلِ وَالْحِكْمَةِ۔ (ابن کثیرؒ) په عدل او حکمة سره۔

مطلب د آیت دا دے : کوم الله چه مونږ ته حکم کړیدے چه هغه ته تسلیم شو، هغه آسمانونه او زمکے په عدل او حکمت سره پیدا کړیدی، هغه ددے دواړو او پدے کښ د تمام موجود مخلوقاتو مالك او مدبر دے، او د قیامت په ورځ دوی لره د حشر میدان ته د (كُنْ) په کلمے سره په جمع کولو قادر دے۔ د هغه مراد او خواهش، د هغه د امر او د حکم نه نشی روستو کیدے۔ د هغه حکم او وینا بهر حال نافذ او واقع ده۔

وَیَوْمَ یَقُوْلُ كُنْ فَیَكُوْنُ : یعنی الله به دا آسمانونه او زمکه د كُنْ په کلمه سره وران کړی او قیامت به راولی۔

یَوْمَ یُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ : یعنی په کومه ورځ د قیامت کښ چه شپیلۍ اُوپوکلے شی نو په هغه ورځ به د هغه بادشاهی وی، او د خپلو مطیع (فرمانبردارو) او عاصی (ګناهګارو) بندګانو سره به د هغوی د عملونو مطابق سلوك کوی۔

د نفخ فی الصور پوره بیان به په سورة الکهف یا سورة یس کښې راشي ان شاء الله که عمر وفاداري وکړله.

د (صُوْر) نه مراد هغه شے دے چه په هغے کښې به اسرافیل (علیه السلام) پوکے کوي. اول پوکے د فناء کیدو او دویم د راپورته کولو دپاره، لکه چه په مسند احمدؒ کښې د ابو سعید خدري (رضي الله عنه) نه روایت شویدے چه نبي کریم ﷺ به فرمایل: ((زهٔ به څنګه آرام محسوس کړم حال دا چه شپیلۍ وهونکي (ملائك) شپیلۍ په خوله کښې نیولے ده، او تندے ئے راکوږ کړیدے او په انتظار کښې دے چه کله به دهٔ ته حکم کیږي چه پدے کښې پوکے وکړي)). (الترمذي: ۳۲٤۳ ومسند احمد: ۳۰۱۰ بسند صحیح- الباني)

په مسند احمد کښې د عبد الله بن عمرو (رضي الله عنه) نه روایت دے چه یو باندچي د رسول الله ﷺ نه د شپیلۍ په باره کښې تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: ((هغه یو ښکر دے چه په هغے کښې به پوکے وهلے شي)). دا حدیث ابو داود، ترمذي (۳۲٤٤) او حاکمؒ هم روایت کړیدے. (مسند احمد: ٦٥۰۷) حدیث صحیح)

او د هغه چا قول خطاء دے (لکه ابو عبیدؒ) چه وائي صُوَر جمع د صُوْرَةٌ ده یعني د مړو او ارواحو په صورتونو کښې به پوکے ووهلے شي. یو خو دا د حدیث خلاف ده، او بل د لغت هم خلاف ده ځکه چه هغه د صُوَرٌ لفظ دے چه مفرد ئے صُوْرَةٌ راځي، او دا لفظ صُوْرٌ خپله مفرد دے.

امام قرطبيؒ د ابو الهیثمؒ نه نقل کړیدي چه څوك ددے نه انکار وکړي چه صور ښکر دے نو دا داسے دے لکه چه د عرش، میزان او صراط نه انکار وکړي او د هغے دپاره تاویلونه ولټوي. څوك چه احادیث د رسول الله ﷺ ته رجوع نکوي هغوي به دغه رنګه ګډے وډے خبرے کوي والعیاذ بالله.

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ج
او کله چه ووئیل ابراهیم (علیه السلام) خپل پلار ته چه آزر وو آیا نیسے تهٔ بتان لائق د بندګۍ
اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷٤﴾ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ
یقیناً زهٔ وینم تا لره او قوم ستا په ګمراهۍ ښکاره کښې. او دغسے خودلې وو مونږ ابراهیم ته
مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴿۷۵﴾
بادشاهي د آسمانونو او د زمکے (چه دلیل ترے ونیسي) او دے دپاره چه شي د یقین کونکو نه.

تفسير: پدے کښې دليل نقلي ذکر کوی د ابراهيم عليه السلام نه په رد د شرك د مشرکانو چه اے مشرکانو! تاسو چه د ابراهيم عليه السلام د محبت دعوے کوئ او د هغه د دين تابعدار ځان ګنړئ او هغه خپل مشر ګنړئ، او هغه طرفته په خپل نسبت باندے فخر کوئ، نو راشئ وګورئ هغه خو د الله د خاطره د خپل مشرك پلار هم پرواه نۀ ده کړے، او د هغه د مشرکانه کردار او اعمالو نه ئے ښکاره انکار کړے وو۔ او تاسو د الله سره برخه داران جوړوئ او د خپل پلار نيکه خلاف کوئ۔

أَزَرَ : دا آيت پدے باندے قطعي دليل دے چه آزر د ابراهيم عليه السلام د پلار نوم وو، او ددے تائيد د بخاري د هغه حديث نه هم کيږی چه ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړيدے چه د قيامت په ورځ به ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزر سره ملاويږی، نو د آزر په مخ به خړوالے او غبار الوزی او پريشاني به پرے راغلے وی۔ ابراهيم عليه السلام به هغه ته وائي: آيا ما تا ته نۀ وو وئيلي چه زما نافرماني مۀ کوه، نو پلار به ئے ووائي: نن ورځ به زۀ ستا نافرماني نۀ کوم، نو ابراهيم عليه السلام به خپل رب ته ووائي: اے ربه! تا ما سره وعده کړے وه چه د قيامت په ورځ به ما نۀ رسوا کوے، او ددے نه لويه رسوائي څه کيدے شي چه زما پلار ستا د رحمت نه لرے کړے شي؟ نو الله تعالىٰ به وائي چه ما جنت په کافرانو حرام کړيدے۔ بيا به ووئيلے شي، اے ابراهيم! د خپلو خپو لاندے وګوره، هغه به وګوری [فَإِذَا هُوَ بِذِيخٍ مُلْتَطِخٍ فَيُؤْخَذُ بِقَوَائِمِهِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ]۔ نو هغه سره به په وينه کښې لت پت د ګورګتهئ په شکل يو جسم ملاؤ شي چه د هغه خپے به ونيولے شي او جهنم ته به ګوزار کړے شي)۔ (صحيح بخاري: ۳۳۵۰)

او تاريخ والو چه ليکلي دی چه نوم ئے (تارخ) وو، يا ئے آزر د تره نوم وو او تره ته هم پلار وئيلے شي، نو دے اقوالو ته د قرآن په خلاف هيڅ اعتبار نشته۔ آؤ دا کيدے شي چه آزر ئے خپل نوم وی او تارخ ئے لقب وی۔

أَصْنَامًا : جمع د صَنَم ده، دا لفظ په قرآن کښې پنځه کرته ذکر دے، بتانو ته وائي بيا په هر معبود من دون الله باندے ئے اطلاق کيږی۔ ابن جرير رحمه الله وئيلي دی چه هر هغه شکل چه د لرګی يا د ګټے وغيره نه جوړ کړے شي چه په شکل د انسان يا د بل شي سره وی، او هغه شکل ته هم وئيلے شي چه په ديوال وغيره باندے په شکل د انسان وغيره سره جوړ شي۔

او د ابراهيم عليه السلام قوم دا بتان د ملائکو په شکل جوړ کړی وو، دے دپاره چه د هغے په عبادت سره ملائکو ته ځان نزدے کړی، او بيا ملائك د الله په دربار کښې وسيله جوړه کړی

دے دپاره چه د الله په دربار کښې د دوی دپاره په رزق او مدد وغیره کارونو کښې سفارش وکړي کوم ته چه دوی محتاج وي. (ابن کثیرؒ)

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ : سوال: په دعوت کښې خو نرم الفاظ استعمالول پکار وي او دا خو سخت الفاظ دي؟ جواب دا دے چه ابراهیم علیه السلام نرمه لهجه استعمال کړه لکه په سورة مَريم (۴۲/۴۳) آیت کښې هغه ذکر دي، خو کله چه هغه په هغې سره هدایت ته رانغې نو روستو ئے ورته دا الفاظ ووئیل چه کیدے شي متوجه شي، او پلار ئے په دعوت کښې مخکښې کړیدے ځکه چه د پلار حق مخکښې دے، یا پدے وجه چه آزر د هغه مشرکانو مشر وو او هغهٔ به خلك شرك ته رابلل، ځکه ئے ورته (وَقَوْمَكَ) لفظ استعمال کړو. نو پدے وجه هغه ته دعوت مخکښې وکړے شو.

وَكَذٰلِكَ : أَيْ كَمَا أَرَيْنَاهُ قُبْحَ الشِّرْكِ كَذٰلِكَ أَرَيْنَاهُ مَلَكُوْتَ الخ. یعنی لکه څنګه چه ما هغه ته د شرك بدي خودلے وه نو دغه شان مے ورته ملکوت السموات خودلی وو.

مَلَكُوْتَ : په وزن د رَهَبُوْت او جَبَرُوْت، د مبالغے په وزن مصدر دے. ددے معنیٰ لوئی مُلك (بادشاهی) ده،

پدے کښې بیا دوه تفسیره دي (۱) یو دا چه فُتِحَ لَهُ الْكَائِنَاتُ. چه الله تعالیٰ د آسمانونو او زمکے هر شے د هغه مخے ته ښکاره راوستو او هغه د عرش پورے او د زمکے آخري تل پورے هرڅه اُولیدل. (مجاهدؒ وعطاءؒ - ابن کثیرؒ)

بعضو وئیلی دي چه ددے نه مراد په آسمانونو او زمکو کښې موجود عجائب او غرائب دي. مګر ظاهر او راجح دا ده چه ددے نه دا ظاهري آسمانونه او زمکه مراد دي لیکن ابراهیم علیه السلام ترے ډیر عبرت اخستے وو، لکه کافران هم آسمان او زمکه ویني او مونږه ئے هم وینو، هغوی ترے الله نهٔ معلوموي او مونږه ئے ترے معلوموو، نو ابراهیم علیه السلام خپل توحید او په الله باندے یقین ډیر ددے نه معلوم کړے وو. هغه به همیشه په خپلو دلائلو کښې آسمانونه او زمکه ذکر کول ځکه چه څوك د کوم شي نه ډیر متأثر وي هغه ډیر ذکر کوي. او آسمان او زمکه د الله ډیر عجیب مفتوح (کولاؤ) کتاب دے چه ډیر عبرتونه پکښې پراتهٔ دي.

دوَلِيَكُوْنَ نه مخکښې (لِيَسْتَدِلَّ) لفظ پټ دے، یعنی دے دپاره چه پدے سره دلیل ونیسي. او یقین ئے پرے زیات شي.

یعنی هغه به د آسمانونو او د زمکے په خِلقت (پیدائش) او پدے کښې موجود عجائبو او

غرائبو کښې سوچ کولو سره د الله په وحدانیت باندې دلیل نیولو دعوت ورکړې وو. دې دپاره چه د الله په توحید باندې د هغه یقین زیات مضبوط شي.

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ج قَالَ هٰذَا
نو هرکله چه تیارۀ راوسته په دۀ باندې شپې، ولیدو دۀ ستورې وې وئیل: (آیا) دا
رَبِّيْ ج فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَلَمَّا
زما رب دې، نو هرکله چه پریوتو وې وئیل زۀ مینه نکوم د پریوتونکو سره. پس هرکله
رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ج فَلَمَّآ اَفَلَ
چه ولیدله دۀ سپوږمۍ ښکاره وې وئیل: آیا دا زما رب دې نو هرکله چه پریوتۀ
قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَ كُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿٧٧﴾
وې وئیل که هدایت ونکړي ما ته رب زما خامخا زۀ به شم د قوم گمراهانو نه.

تفسیر: دا د مخکښې ذکر شوي اجمال تفصیل دې، او ددې خبرې بیان دې چه څنګه ابراهیم عليه السلام د آیاتو او براهینو نه دلیل نیولو سره د یقین مرتبه حاصل کړه. مفسرینو لیکلي دي چه د ابراهیم عليه السلام پلار او د هغه قوم به د بتانو، نمر او سپوږمۍ او ستورو عبادت کولو. ابراهیم عليه السلام غوختل چه د هغوی دیني غلطي ښکاره کړي چه د کومو باطلو معبودانو عبادت دوی کوي د هغوی نه هیڅوك هم د معبود جوړیدو مستحق نۀ دې. پدې وجه ابراهیم عليه السلام ووئیل چه زۀ پریوتونکي او غائبیدونکي نۀ خوښوم څکه چه داسې سپك صفت د الله نشي کیدې.

ځیني مفسرین وائي چه دا د ابراهیم عليه السلام د بلوغ نه مخکښې واقعه ده چه مور په یو سورنګ کښې لوی کړې وو چه کله راووتو، نو ستوري بیا سپوږمۍ بیا نمرئې ولیدو، او هر یو ته ئې رب وئیلو څکه چه په دغه وخت کښې ئې الله نۀ پیژندلو، او آخر کښې ئې رب معلوم کړو. دا غلطه خبره ده او د ابراهیم عليه السلام په شان کښې بې ادبي ده، دا نشي کیدې چه په نبي باندې داسې وخت راشي چه هغه ته توحید معلوم نۀ وي.

اګرکه ډیرو مفسرینو او اهل سیرت لکه محمد بن اسحاقؒ او قرطبيؒ او ابن کثیرؒ وغیره دا واقعه تفصیل سره ذکر کړیده، او بیا پرې ځینو رد هم کړیدې، صاحب المنار وائي دا ابن

اسحاقؒ د یهودو نه اخستے ده۔

صحیح خبره هغه ده چه مونږ ذکر کړه چه دا مخاصمة الکفار ده، یعنی د کافرو سره ئے بحث او مناظره کړیده لکه د روستو (یَا قَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْءٌ مِّمَّا تُشْرِکُوْنَ) نه معلومیږی۔ دارنګه روستو (وَحَاجَّهٗ قَوْمُهٗ) او (وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَیْنَاهَا اِبْرَاهِیْمَ عَلٰی قَوْمِهٖ) پرے دلیل دے۔

نو په مخکښ آیت کښ د ابراهیم علیه السلام یقین بیان شو، نو اوس ئے د مشرکانو سره مناظره بیانوی۔ او مخکښ رد وشو په زمکے والا بتانو باندے، نو اوس په هغه باطلو معبودانو رد کوی چه په آسمان کښ دی، دے دپاره چه د دوی په ټولو باطلو معبودانو رد وشی۔

فائده : اشاره ده چه داعی له اولًا خپل یقین مضبوطول پکار دی، بیا دعوت کښ اثر ډیر وی۔

فَلَمَّا جَنَّ : جَنَّ د جُنُوْن نه دے په معنیٰ د تیاره کیدو سره۔

هٰذَا رَبِّیْ : یعنی ستاسو په ګمان آیا دا زما رب دے۔ (قرطبیؒ) نو دلته استفهام انکاری همزه پټه ده۔ (قاله قطربؒ) أَهٰذَا رَبِّیْ۔ آیا دا زما رب کیدے شی؟۔ او دائے په طریقه د قیام حجت په هغوی باندے یا په طریقه د استهزاء سره وئیلی دی۔ (المنار)

فَلَمَّآ اَفَلَ: د اُفُوْل نه دے په معنیٰ د پریوتو او زائله کیدو سره۔

لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِیْنَ : یعنی کوم څیزونه چه فانی کیږی او پریوزی نو د هغوی سره زهٔ د عبودیت مینه نهٔ کوم چه عبادت ورله شروع کړم، ددے نه معلومه شوه چه ټول انبیاء علیهم السلام، اولیاء او بزرګان آفلین دی، هغوی قبرونو ته تلی او تلونکی دی نو د عبادت مستحق بیخی نهٔ دی۔

رومی چه د وحدة الوجود والا دے مثنوی کښ ئے لیکلی دی :

آندرین وادی مروبی این دلیل　　لا احب الآفلین گو چون خلیل۔

بَازِغًا : یعنی ښکاره، او بزغ په اصل کښ څیرولو ته وائی او سپوږمئ او نمر چه کله راښکاره شی نو تیاره په خپلے رڼا سره وچوی۔ او بزوغ عرب د اول راښکاره کیدو د ستوری او غاښ وغیره دپاره استعمالوی۔ (المنار)

هٰذَا رَبِّیْ : ربی لفظ کښ اشاره ده چه ابراهیم علیه السلام د مخکښ نه رب پیژندلو۔

لَئِنْ لَّمْ یَهْدِنِیْ رَبِّیْ لَاَ کُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّیْنَ : پدے کښ د ابراهیم علیه السلام قوم ته تنبیه کړے شویده چه څوك سپوږمئ خپل معبود جوړوی هغه یقیناً ګمراه دے، او دا چه

حقې لارې طرف ته هدایت د الله په توفیق او د هغه په لطف او کرم سره ملاویږي.

او په الضالین کښې ئې اشاره وکړه چه تاسو خو ګمراهان یئ چه د پریوتونکو او زائله کیدونکو څیزونو عبادت کوئ.

فَلَمَّا رَاَی الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّیْ هٰذَآ اَکْبَرُ ج
پس هرکله چه ولیدو دهٔ نمر ښکاره وې ویل آیا دا زما رب دې دا لوئی دې (ستاسو په خیال)
فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ یٰقَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا
نو هرکله چه پریوتو هغهٔ دهٔ ووئیل : اې قومه زما ! یقیناً زهٔ جدا یم د هغې نه چه
تُشْرِکُوْنَ ﴿۷۸﴾ اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ
تاسو ئې شریکوئ د الله سره. یقیناً ما متوجه کړیدې مخ خپل هغه ذات ته چه
فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ﴿۷۹﴾
پیدا کړي ئې دي آسمانونه او زمکه، مضبوط یم په توحید او نهٔ یم زهٔ د مشرکانو د ډلې نه.

تفسیر : لا تر اوسه د نمر د معبود کیدو رد کول باقي وو. پدې وجه د نمر د ښه راختلو انتظار ئې وکړو او کله چه هغه راوختلو نو خپل مشرك قوم ته مخاطب شو وې وئیل چه کیدې شي دا به زما رب وي ځکه دا د ټولو نه لوئی دې، او مقصد په مناظرانه انداز کښې د هغوی رد کول وو. نو کله چه یو څو ګینټې روستو هغه هم پریوتو او قوم د هغه سره د هغې د پریوتو نظاره وکړه، او د هغه د ضعیف او ناقص کیدو یقین ئې وکړو، نو هغوی ته دوباره مخاطب شو وې وئیل چه اې زما قومه ! لږ خو راته ووایئ چه داسې بې ثباته او سپك شې معبود څنګه کیدې شي؟ زهٔ ستاسو د شرکی اعمالو او دروغژنو معبودانونه د براءت اعلان کوم.

هٰذَآ اَکْبَرُ : اَیْ جَرْمًا وَنُوْرًا. یعنی د جُثې او رڼا په اعتبار سره لوی دې.

اِنِّیْ وَجَّهْتُ : مخکښې د مشرکانو نه براءت وو اوس ذکر د توحید دې، او پدې کښې اظهار د خپلې عقیدې دې.

ابراهیم علیه السلام ووئیل چه ما خو خپل نیت او خپل هر عبادت او عمل صالح د الله دپاره خالص کړیدې، او د زړهٔ او د روح په کومې کښې مې دا محبت کینولې دې، د هغه پاك ذات

محبت چه هغه آسمانونه او زمکه پیدا کړیدی او تمامو باطلو دینونو او فاسدو عقیدو نه د لرې والی اختیارولو سره اعلان کوم چه زهٔ مشرك نهٔ یم او نهٔ د مشرکانو د ډلې نه یم۔
وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ : یعنی تهوله توجه مې الله ته ده، او حاصل معنیٰ ئې ده : قَصَرۡتُ تَوۡحِيۡدِيۡ بِاللّٰهِ۔ ما خپل توحید بند کړیدې په الله باندې۔

وَحَآجَّهٗ قَوۡمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوۡٓنِّيۡ فِي اللّٰهِ
او جګړه وکړه ددهٔ سره قوم ددهٔ، دهٔ ووئیل آیا تاسو جګړې کوئ ما سره په باره د الله کښې
وَقَدۡ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشۡرِكُوۡنَ
او یقیناً هدایت کړې هغه ما ته، او نهٔ یریږم زهٔ د هغې نه چه شریکان جوړوئ تاسو
بِهٖٓ اِلَّآ اَنۡ يَّشَآءَ رَبِّيۡ شَيۡـًٔا ؕ وَسِعَ رَبِّيۡ كُلَّ شَيۡءٍ
د هغه سره، مګر که وغواړی رب زما څه شے (ځکه) فراخه دے رب زما هر شی ته
عِلۡمًا ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۸۰﴾
په علم کښې، آیا نو تاسو نصیحت نهٔ اخلئ۔

تفسیر : وَقَدۡ هَدٰىنِ : یعنی په وحی او فطرت سره ئې ما ته هدایت کړیدې چه شرك مهٔ کوه۔
مطلب د آیت دا دے : د ابراهیم علیه السلام قوم د خپلو شرکی عقائدو په تائید کښې او د هغه د دعوت د توحید په رد کښې ئې کله هغه ته دهمکی ورکړه او کله په ګنده دلیلونو سره ئې خپله خبره مناوول غوختل۔ نو ابراهیم علیه السلام هغوی ته جواب ورکړو وے فرمایل چه آیا تاسو ما سره ددے په باره کښې مناظرے کول غواړئ چه د الله هیڅ شریك او مثیل نشته؟ د الله تعالیٰ په توحید باندې خو ما حجت قائم کړو او ددې خبرې قطعی نفی وشوه چه د الله نه سویٰ څوك دُ عبادت لائق شته، ځکه چه کامل صرف د الله ذات دے، او د هغه نه سویٰ ټول څیزونه ناقص دی، او ناقص معبود نشی کیدے۔
وَلَآ اَخَافُ : هغوی ورته ووئیل چه زمونږ باباګان او معبودان به دِې ووهی، د هغوی غضب به درباندې نازل شی، نودهٔ ورته ووئیل چه زهٔ ستاسو د معبودانو نه نهٔ یریږم ځکه هغه خو بې ساه جمادات دی، هغوی نفع یا نقصان نشی رسولے۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی : ابراهیم علیه السلام هغوی ته ووئیل چه ستاسو د وینا د باطل کیدو دلیل دا دے چه دا بالکل بی اثره دی، پدے وجه زهٔ نهٔ یریږم او نهٔ د هغوی پرواه ساتم. که د هغوی په وَس کښ څه وی نو وُدِے کړی او ما ته دِے مهلت نهٔ راکوی.

اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ: دا استثناء منقطعه ده لیکن که زما رب یو کار وغواړی هغه کوی. داسے نهٔ چه الله په ما باندے یو مصیبت راولی نو تاسو به وایئ چه باباګانو ووهلو، هغے کښ به د باباګانو هیڅ دخل نهٔ وی، څکه ډیر کرت داسے کیږی چه په یو موحد باندے یو تکلیف راشی نو مشرکان وائی چه اولیاؤ پسے به ئے خبرے کولے هغوی څنګه ووهلو. او مینځ کښ هغه د الله امتحان وی.

وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ : أَيْ أَحَاطَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ فِيْ عِلْمِهٖ.

الله هر شے په خپل علم کښ راګیر کړیدے، نو الله تعالیٰ پو هیږی چه دے مؤمن ته تکلیف رسولو کښ څو مره فائده ده؟!.

وَكَيْفَ اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ
او څنګه به یره وکړم زهٔ د هغے نه چه شریکوئ تاسو د الله سره او نهٔ یریږئ تاسو
اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ
چه بیشکه تاسو شریکان جوړ کړیدی د الله سره هغه څوك چه نهٔ دے نازل کړے الله
بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ
په هغے سره په تاسو هیڅ دلیل، پس کوم یو د دواړو ډلو نه ډیر لائق دے په امن (د عذاب نه)
اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ
که تاسو پو هیږئ. هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او نهٔ ئے دے ګډ کړے ایمان خپل
بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾
د شرك سره، دا کسان دوی له امن دے (بچکیدل دی د عذاب نه) او دوی هدایت والا دی.

تفسیر : ابراهیم علیه السلام ووئیل : دا څنګه کیدے شی چه زهٔ د هغه بتانو نه ویریږم چه نهٔ نفع رسولے شی او نهٔ نقصان، او نهٔ خالق دی او نهٔ رازق. او تاسو د هغه الله نه نهٔ یریږئ چه د هغه سره تاسو ډیر باطل معبودان بغیر د دلیل او برهان نه شریکان جوړ کړیدی، حال دا چه

هغه یواځې خالق او رازق دے، او د هر نفع او نقصان صرف هغه مالك دے، نو تاسو له یره پکار ده. دے نه روستو ابراهیم علیه السلام ووئیل چه زما معبود الله دے، چه په هر شی قادر دے او ستاسو معبودان د خاورو ډهیری دی. نو لږ سوچ خو وکړئ چه د امن او سکون حقدار تاسو مشرکان یئ او که مونږ ایمان والا ؟. که تاسو کښ د علم څه اثر هم وي، نو یقیناً ستاسو به جواب همدا وي چه بیشکه ایمان والا د امن او سلامتیا مستحق دی.

فَأَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ : ځان ته ئے هم فریق وو. او د امن نه مراد امن د الله د عذابونو نه دے.

اَلَّذِيْنَ : دلته وقف دے هغوی غلی شو نو دهٔ ووئیل : چه هغه خلك چه ایمان ئے راوړیدے او د ایمان سره ئے شرك نهٔ دے یو ځای کړے، هم دوی د امن مستحق دی.

د ظلم نه مراد دلته شرك دے. امام احمدؒ د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه کله دا آیت نازل شو نو په خلقو باندے ډیر گران پریوتو نو دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووئیل چه اے د الله رسوله ! مونږ نه څوك دے چه په خپل ځان ئے ظلم نهٔ وی کړے. یعنی څوك گناه نهٔ کوی. نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه د آیت دا مطلب نهٔ دے کوم چه تاسو فهم کړیدے، آیا تاسو د الله د نیك بنده (لقمانؑ) وینا نهٔ ده آوریدلے :

﴿ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾

چه ((اے ځویه ! د الله سره هیڅوك شریکان مهٔ جوړوه یقیناً شرك ډیر لوئی ظلم دے)). نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل دلته د ظلم نه مراد شرك دے. نو دلته په (بِظُلْمٍ) کښ تنوین د تعظیم دپاره دے. رواه البخاری فی کتاب الایمان رقم (۳۲) ورقم : (۳۳٦۰) ومسلم (۳٤۲).

ابن ابی حاتمؒ لیکلی دی چه تمامو صحابه کرامو او تابعین عظامو د ظلم معنیٰ شرك بیان کړیده.

او ایمان سره د شرك یوځای کول اکثر خلك کوی، الله هم منی لیکن بیا ورسره شرك هم کوی. ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللهِ اِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُوْنَ ﴾ (یوسف :۱۰۵).

لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُوْنَ : دا د خالص ایمان دوه فائدے دی چه امن به د عذابونو نه ورته ملاویږی، او هدایت به ورته کوی او په نیغه لاره به ئے روانه وی.

فائده : انسانان څلور قسمه دی (۱) هغه چه په الله ایمان نهٔ راوړی. (۲) هغه چه په الله ایمان راوړی مگر د هغه سره بل څوك هم شریکوی. (۳) هغه چه هیڅ دین نهٔ لری، نو دا ټول کفار دی، همیشه به په اُور کښ وی. (٤) هغه چه په الله ایمان راوړی او هیڅ شے ورسره نهٔ شریکوی نو دا مؤمن موحد دے، کامیاب دے الله تعالیٰ دِے مونږ ددے نه

وګرځوی، آمین۔

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ط
او دغه دليل وو زمونږ ورکړے وو مونږ ابراهيم (عليه السلام) ته په مقابله د قوم د هغهٔ کښې
نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ط اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿٨٣﴾
پورته کوو مونږ درجے د هغه چا چه وغواړو يقيناً رب ستا حکمتونو والا پوهه دے۔

تفسير: **مضمون:**

پدے رکوع کښې الله تعالیٰ دليلي نقلي اجمالي د ټولو انبياؤ نه بيان کړيدے په توحيد باندے چه دے ټولو پيغمبرانو د الله سره شرك نهٔ دے کړے او دوی د توحيد د بيان دپاره راغلي وو۔ نو مشرکان ددے انبياؤ مخالفت کوی۔ بيا په بله رکوع کښې په منکرينو د وحی باندے تفصيلي ردونه دی، په مختلفو طريقو سره ﴿وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ﴾ کښې دا بيانوی چه څوك د الله وحی نهٔ مني، نو دوی د الله بې قدری کونکي دی، بيا ئے د وحی تفصيلات بيان کړيدی چه الله تورات راليږلے دے او قرآن ئے راليږلے دے او قرآن څه دپاره راغلے دے او څوك ترے فائده اخلي،

بيا (وَمَنْ أَظْلَمَ) کښې د دروغژن نبوت دعويدار يا د قرآن مقابله کونکي باندے رد دے، او په مرګ سره ئے تخويف ورکړيدے چه د دوی به د مرګ په وخت کښې څومره بد حالت وی، بيا تخويف د آخرت مشرکينو ته چه يواځے به الله له راځئ چه نهٔ به ستاسو سره مال وی او نهٔ به شفعاء وی۔ او دا بيانوی چه دوی به بيا دنيا ته د واپس کيدو ارمانونه کوی ليکن وخت به تير وی۔ او تخويف ئے په شرك باندے ورکړيدے بيا په بله رکوع کښې پنځه عقلي دليلونه ذکر دی چه په هغے کښې يو د الله معرفت او د هغه د توحيد بيان دے او مقصد پکښې رد د شرك هم دے۔ او په (١٠٥) کښې ترغيب دے قرآن کريم ته۔ او د هغے نه روستو به نور عنوانات د قرآن کريم متعلق ذکر کيږی۔

حُجَّتُنَآ : د حجت نه مراد هغه دلائل دی چه د آيت (٧٤) ﴿اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً﴾ نه تردے ځای پورے بيان شو، چه د هغے رد نشي کيدے، او دغه حجتونه عقلي هم وو او شرعي هم، يعني الله ورته په وحی باندے خودلي وو او ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته پيش کړل او عقلي دليلونه هم وو۔ او عقل او نقل چه دواړه جمع شي نو ډير کمال پيدا کوی۔

عَلٰى قَوْمِهٖ : ددے نه معلومیږی چه دا مخکنی دلائل د مناظرے په شکل بیان کړی وو د قوم د مقابلے دپاره، دے دپاره چه هغه په قوم باندے غالبه شی۔

نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ: یعنی الله تعالیٰ چه په چا باندے غواړی خزانے د علم او حکمت راکولاووی، او په نورو خلقو ورته فوقیت ورکوی، الله تعالیٰ حکمتونو لره پیژندونکے دے۔

رفع د درجات دا هم ده چه په دنیا کښ به ئے عزت وی او په آخرت کښ جنت۔

او دے کښ عمومی معنیٰ هم اخستے شی چه الله تعالیٰ درجات د چا چه وغواړی پورته کوی بِالْاِیْمَانِ وَبِالْحُجَّةِ وَالْبَیَانِ۔ په ایمان سره او په دلیل او بیان سره هم لکه دلته ئے ابراهیم علیه السلام ته پورته درجه ورکړه د دلائلو په وجه۔

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ
او وبخښلو مونږ هغهٔ ته اسحاق او یعقوب (علیهما السلام) هر یو ته هدایت کړے وو مونږ
وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ
(توحید ته) او نوح ته هدایت کړے وو مونږ مخکښ ددے نه او د اولادو د هغه (نوح) نه
دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ
داود او سلیمان او ایوب او یوسف او موسیٰ او هارون (علیهم السلام) ته (مونږ هدایت کړے وو)
وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا
او دغسے بدله ورکوو مونږ نیك عمل کونکو ته۔ او (هدایت کړے وو مونږ) زکریا
وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَ
او یحیٰی او عیسیٰ او الیاس (علیهم السلام) ته دا ټول وو د نیکانو نه۔ او اسماعیل او
الْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ
الیسع او یونس او لوط ته، او هر یو مونږ غوره کړے وو په مخلوقاتو۔ او بعض
اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ
د پلارانو د دوی نه او د اولادو د دوی نه او د ورونو د دوی نه، او غوره کړی وو مونږه دوی

وَهَدَيْنٰـهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٨٧﴾
او هدايت كړے وو مونږه دوى ته لارے نيغے ته۔

تفسير : هركله چه ابراهيم عليه السلام د الله دپاره سخته تيره كړه او د قوم مقابله ئے وكړه او د الله تعالىٰ د رضا د خاطره د خپل ټول قوم او د هغوى د معبودانو نه د براء ت (بيزارئ) اعلان كړه نو هغوى اُور ته گوزار كړو بيا د اُور نه روستو هغه هجرت وكړو نو د الله سبحانه وتعالىٰ عادت دا دے چه څوك سخته تيره كړى هغه ورته انعام وركوى نو الله هغه ته او د هغه ښځے سارے رضى الله عنها ته د نيكے بدلے وركولو په توګه په بوډا والى كښ په اسحاق سره زيرے وركړو او د هغه د ځوى يعقوب زيرے ئے وركړو۔ دارنګه دا زيرے ئے وركړو چه ځوى او نمسے دواړه به نبيان وى۔ لكه چه الله تعالىٰ په سورة هود آيت (٧١) كښ فرمايلى دى : ﴿ فَبَشَّرْنَاهَا بِاِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ اِسْحَاقَ يَعْقُوْبَ ﴾ چه مونږ سارے ته د اسحاق او د اسحاق نه روستو د يعقوب زيرے وركړو) يعنى ستاسو د دواړو په ژوند كښ به الله تعالىٰ ستاسو ځوى اسحاق ته د يعقوب په شان ځوى وركوى چه د هغے په ليدلو به ستاسو سترګے يخيږى لكه څنګه چه د اسحاق په پيدائش سره ستاسو سترګے يخے شوے وے۔ الله تعالىٰ په سورة مريم آيت (٤٩) كښ دا خبره پدے الفاظو سره بيان كړيده : ﴿ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ وَهَبْنَا لَهٗ اِسْحَاقَ وَيَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴾

وَوَهَبْنَا : هبه دے ته وائى چه چا يو شے غوښتے نۀ وى او هغه ته وركړے شى۔ نو ابراهيم عليه السلام صرف اسماعيل عليه السلام غوښتلے وو، نۀ اسحاق او نۀ يعقوب عليهما السلام۔

كُلًّا هَدَيْنَا : ١- دلته د هدايت نه مراد د الله معرفت دے۔

٢- هَدَيْنَا اِلَى الدِّيْنِ الْحَقِّ ثُمَّ الْوُصُوْلِ اِلَى الْجَنَّةِ۔ الله ورته حق دين طرفته هدايت كړے وو او بيا ئے جنت ته ورسول۔

٣- او دلته د هدايت نه مراد توحيد او په هغے باندے كلكوالے هم دے، نو مطلب دا دے چه دا پيغمبران چه په كوم توحيد او د الله په بندګئ روان وو همدغه هدايت دے۔

وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ : يعنى مونږ د ابراهيم عليه السلام نه مخكښ نوح عليه السلام ته هم لوئى هدايت يعنى نبوت وركړے وو او دا خبره هم د ابراهيم عليه السلام دپاره د شرافت باعث ده چه د دوى پلار نوح عليه السلام هم نبى وو۔ او د هدايت نه هدايت د توحيد هم مراد دے لكه نزدے راروان دے۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه الله تعالیٰ نوح او ابراهیم علیهما السلام هر دواړو ته یو عظیم خصوصیت ورکړے وو. الله چه کله نوح علیه السلام او په هغه باندے ایمان راوړونکو نه سِویٰ ټول غرق کړل نو په زمکه باندے صرف د هغه اولاد پاتے شو. او ابراهیم علیه السلام نه روستو چه څومره انبیاء علیهم السلام پیدا شویدی دا ټول د هغه د اولادو نه وو. انتهیٰ.

پدے وجه د اکثرو خلقو رائے ده چه (وَمِنۡ ذُرِّيَّتِهٖ) نه مراد د ابراهیم علیه السلام اولاد دی. او لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره وو. پدے وجه د هغوی په ذریت (نسل) کښې شمار دے، او همدا قول راجح دے او مخکښې نوح علیه السلام ته هم ضمیر راجع کول صحیح دی.

وَمِنۡ ذُرِّيَّتِهٖ : أَیْ هَدَيۡنَا مِنۡ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ الخ. او مونږ هدایت کړو ددهٔ د اولادو نه داود علیه السلام ته.

وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ : پدے کښې خبره عامه کوی چه ددے انبیاؤ په شان نورو نیکانو ته هم زهٔ هدایت کوم چه خپل معرفت او حق دین ورنصیب کوم او جنت ته ئے رسوم. نو دا هدایت پیغمبرانو پورے خاص نهٔ دے. او محسنین لفظ راوړو کښې اشاره ده چه دغه معرفت صرف احسان والو ته نصیب کیږی.

وَعِيۡسٰى : او عیسیٰ علیه السلام د ابراهیم علیه السلام په ذریت کښې شمار شو حال دا چه هغه خو د مریم علیها السلام د خیټے نه بغیر د پلار نه پیدا شوے وو، دا دلیل دے چه د لونړو اولاد د انسان په ذریت (اولادو) کښې داخل دے.

د صحیح بخاری روایت دے چه رسول الله ﷺ د حسن بن علی رضی الله عنهما په باره کښې وفرمایل: ((زما دا ځوی به سردار وی)). او کله چه نبی کریم ﷺ د نجران د عیسایانو سره مباهله کوله، نو د آیت کریمه ﴿فَقُلۡ تَعَالَوۡا نَدۡعُ اَبۡنَآءَنَا وَاَبۡنَآءَكُمۡ﴾ په تقاضا حسنؓ او حسینؓ ئے ځان سره واخستل او ورغلو. (القرطبیؒ وابن کثیرؒ).

ابن ابی حاتمؒ روایت کړیدے چه حجاج بن یوسف یحیی بن یَعۡمُر ته پیغام ولیږلو چه ما آوریدلی دی چه ته حسن او حسینؓ د نبی کریم ﷺ په ذریت کښې شمار کوے، ما خو ټول قرآن ولوستو چرته هم دا ملاؤ نشو نو یحییٰ خبر ور اُولیږلو چه آیا تا د سورة الانعام آیت: ﴿وَمِنۡ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيۡمٰنَ وَاَيُّوۡبَ وَيُوۡسُفَ وَمُوۡسٰى وَهٰرُوۡنَ ‌ؕ وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ وَزَكَرِيَّا وَيَحۡيٰى وَعِيۡسٰى وَاِلۡيَاسَ﴾ نهٔ دے لوستلے؟ نو هغه وویل آؤ، نو وے وئیل چه آیا پدے آیت کښې عیسیٰ علیه السلام د ابراهیم علیه السلام په ذریت کښې نهٔ دے شمار کړے شوے، حال دا چه د هغه څوك پلار نهٔ وو؟ نو هغه ووئیل چه تا رشتیا ووئیل.

حافظ ابن کثیر رحمه الله وائی : هـمدا وجه ده چه کله یو سړے د خپل ذریت دپاره وصیت وکړی یا وقف وکړی یا هغـه تـه څه هبه کړی نو د لونړو اولاد به هم شاملیږی۔ د آیت په ضمـن کښې یـوه بله خبره هم د ذکر کولو قابل ده چه اسماعیل ﷺ ئے د اسحاق ﷺ سره پدے وجه ذکر نکړو چه دلته مقصود د بنی اسرائیلو د انبیاؤ ذکر دے چه هغه د اسحاق او یعقوب د اولادو نه وو۔ د اسماعیل ﷺ د شا نه صرف خاتم النبیین پیدا شویدے چه علی الاطلاق افضل الانبیاء وو۔ او نبی کریم ﷺ پدے وجه ذکر نشو چه الله تعالیٰ پدے آیت کښې هغـه تـه حکم کړیدے چه هغـه د عربو قومونو په خلاف د شرك په نفی باندے د ابراهیم ﷺ په عمل سره دلیل قائم کړی۔

بله دا چه روستو رسول الله ﷺ ته د دغه انبیاء علیهم السلام په اقتداء امر شوے نو هغه هم کامل هدایت والا شو۔

وَالْيَسَعَ : دا د بنی اسرائیلو پیغمبر دے او ددهٔ قصه په قرآن کښې نهٔ ده بیان شوے، یعنی اَلْيَسَع بن اَخْطُوب بن الْعَجُوْز۔ (بغویؒ) ځینی وائی چه دا د الیاس ﷺ ملګرے وو۔ ځینی وائی چه دا د الیاس ﷺ خلیفه او د هغه خادم وو او دهٔ ته په عبرانیٔ کښې (الیشاع) وائی، لکه الیاس ته چه ایلیا وائی، او په تورات کښې ددهٔ لویه قصه ذکر ده چه په هغې کښې ددهٔ نبوت او معجزات خودلے شویدی۔ (القاسمیؒ)

او د زکریا علیه السلام نه مخکښې راغلے وو۔ (قرطبی)

او الیاس بن فنحاص بن العیزار بن هارون (ﷺ) بن عمران (ﷺ) د ((آخاب)) بادشاه په زمانه کښې راغلے وو کله چه دوی د بتانو عبادت شروع کړو خاصکر د بعل بت چه هغه د کنعانیینو بت وو چه دا د اُردن په مشرقی طرف کښې وو او هلته بعلبك ښار هم دے۔ (التحریر والتنویر)

فائده : دلته الله تعالیٰ دغه پیغمبران چېه چېه طریقے سره ذکر کړل، او ډله ډله ئے ذکر کړل، نهٔ په ترتیب د زمانو او تاریخ سره او نهٔ په ترتیب د فضیلت سره ځکه چه دا کتاب د مناقب او مدائحو نهٔ دے بلکه د وعظ او نصیحت او عبرت کتاب دے۔ نو دلته الله دوی درے قسمه ذکر کړل ځکه چه په دوی کښې په هر یو قسم کښې یوه جامعه معنیٰ پرته ده۔

اول قسم : داود، سلیمان، ایوب، یوسف، موسیٰ او هارون (علیهم السلام) دوی کښې جامع صفت دا وو چه دوی ته الله تعالیٰ د نبوت او رسالت سره سره بادشاهی او امارت او حکم او سرداری ورکړے وه، د داود او سلیمان علیهما السلام بادشاهی او مشری خو ښکاره ده، او ایوب

او یوسف (علیهما السلام) کښې اول لوی مالداره محسن امیر وو، او دویم لوی وزیر او تصرف کونکے حاکم وو۔ او دوی دواړه هر یو په تکلیف د بدن مبتلا شوی وو نو دواړو صبر کړے وو او په مالدارئ پرے امتحان راغلے وو نو شکر ئے کړے وو۔ او هرچه موسیٰ او هارون (علیهما السلام) دی، نو هغوی حاکمان وو لیکن بادشاهان نهٔ وو، نو هره یوه جوړئ په یو خصوصیت باندے ممتازه ده، یا په دوی کښې د دنیا د نعمتونو او مزو په اعتبار سره اول داود او سلیمان (علیهما السلام) وو بیا وروستے ایوب او یوسف (علیهما السلام) وو او بیا وروستے موسی او هارون (علیهما السلام) وو۔ ځکه ئے دوی سره محسنین ذکر کړو چه دوی سره الله تعالیٰ دنیاوی او دینی دواړه احسانات کړی وو۔ (پدے وجه چه دوی کښې احسان زیات وو)

او دویم قسم : زکریا، یحیی، عیسیٰ او الیاس علیهم السلام، دوی په سخت زهد او د دنیا د مزو نه په اعراض باندے د نورو پیغمبرانو نه جدا دی، دے وجه نه دوی سره ئے صالحین ذکر کړل۔

دریم قسم : اسماعیل، الیسع، یونس او لوط علیهم السلام۔ او دا ئے د ټولو روستو راوړل ځکه چه دوی سره بادشاهی او مشری هم نهٔ وه او نهٔ د مخکنو په شان په زهد باندے مشهور وو (او د دوی فضیلت په خلکو کښې مشهور نهٔ وو) پدے وجه ئے دوی سره عام فضیلت په مخلوقاتو ذکر کړو۔ (المنار۷/٤٩٠)

صاحب المنارؒ وائی : چه زما په علم کښې دے نکتے ته مخکنو مفسرینو سبقت نهٔ دے کړے او دا د الله تعالیٰ فضل دے چه په ما باندے ئے راکولاؤ کړو۔

او ددے ټولو حاصل دادے چه دے انبیاؤ په حالت د مشرئ او په حال د بادشاهئ کښې او په حال د مصائبو کښې او په حال د سختے کښې او په حال د زهد او په حال د کموالی د ملګرو کښې په توحید باندے کلك والے کړے وو۔ (احسن الکلام)

دارنګه داود او سلیمان علیهما السلام اصحاب الملك مع النبوة وو۔ او ایوب او یوسف علیهما السلام اصحاب المصائب الکثیره وو (ډیر مصیبتونه ئے تیر کړیدی) او موسی او هارون علیهما السلام اصحاب کثرة المعجزات وو (معجزات ئے زیات وو) او ټول محسنین وو۔ او زکریا او یحیی او عیسیٰ او الیاس علیهم السلام په دنیا کښې زهد والا وو۔ او اسماعیل او الیسع او یونس او لوط علیهم السلام اصحاب قلة الاتباع وو۔ (تابعدار ملګری ئے کم وو)۔

وَمِنْ اٰبَآءِ هِمْ : دا د (هَدَیْنَا) د لاندے دے نو په (نوحًا) باندے عطف دے۔ په دغه مخکنو پیغمبرانو کښې څه پلاران دی او څه ئے ځامن دی او څه ورونه دی۔

وَاجْتَبَيْنٰهُمْ : اجتباء د جَبِیٌ نه دے په اصل کښې راجمع کولو ته وائی، بیا اجتباء، اَلْإِخْتِيَارُ لِمَعَالِى الْأُمُوْرِ ته وئیلے شی یعنی د اُوچتو کارونو دپاره غوره کول۔ یعنی دوی به د الله دین او توحید ته دعوت ورکولو نو ددے نه بل لوی کار کوم یو دے ؟!۔

صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ : یعنی د الله دپاره یواځې بندګی کول۔ او معلومه شوه چه صراط مستقیم د انبیاؤ علیهم السلام لارے ته وائی۔

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِىْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ
دا هدایت د الله دے هدایت کوی په دے سره چا له چه وغواړی د بندګانو خپلو نه او که
اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾
شرك کړے وے دوی خامخا برباد شوی به وے د دوی نه هغه عملونه چه دوی کول۔
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ
دا هغه کسان دی چه ورکړے مونږه دوی ته کتاب او پوهه د دین او پیغمبری، پس که
يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا
انکار کوی ددے (مسئلے د توحید) نه دا کسان، نو یقیناً سپارلے ده مونږه دا هغه قوم ته
لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ
چه نهٔ دی هغوی ددینه انکار کونکی۔ دا هغه کسان دی چه هدایت کړے وو دوی ته الله
فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ
نو په لاره د هغوی پسے روان شه، ته ووایه نهٔ غواړم زهٔ ستاسو نه پدے څه بدله
اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۰﴾
نهٔ دے دا مګر نصیحت دے دپاره د خلقو۔

تفسیر : پدے کښې اشاره ده چه توحید دین د تولو انبیاؤ دے۔ ذلك اشاره ده مخکښې (هدینا او هدینا هم) کښې ذکر شوی هدایت ته۔ یعنی انبیاؤ ته چه الله کوم هدایت ورکړیدے، دغه د الله هدایت دے ورکوی ئے چا ته چه وغواړی۔

وَلَوْ اَشْرَكُوْا : پدے کښې اشاره کوی چه انبیاء علیهم السلام په توحید راغلی وو او امے

مشرکانو! ستاسو د دین نه سراسر مخالف وو- حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه پدے آیتِ کریمه کښې د شرك هیبت، او انتهائی بدی ذکر ده چه دا داسے زهریله گندگی ده چه د انسان عملونه بربادوی لکه چه الله تعالیٰ په سورة الزمر آیت (٦٥) کښې فرمایلی دی :

﴿ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾

چه ((تا ته او ستا نه مخکښې انبیاء کرامو ته د وحی په ذریعه وئیلے شویدی چه که تا شرك وکړو نو ستا عمل به ضائع کیږی))-

اُولٰٓئِكَ: پدے کښې الله تعالیٰ د انبیاء علیهم السلام دوباره لوی شان بیانوی چه دا واړه خلك مهٔ گنړئ او پدے کښې د مخکښې (هدی الله) تفصیل دے-

د الکتاب نه مراد جنس کتابونه دی او دا کتاب ورکول عام دی که بالذات ورکړے شوے وی، یا ورته د بل نبی نه په میراث کښې پاتی شوے وی-

مفسر ابوالسعودؒ لیکلی دی چه دلته د آسمانی کتابونو ورکولو نه مراد په هغے کښې د موجود حقائقو تفهیم او په تمامو غتو کارونو احاطه ده ځکه چه د دوی نه په بعضو باندے هیڅ متعین کتاب نهٔ وو نازل شوے-

وَالْحُكْمَ : هر نبی ته الله تعالیٰ د کتاب نه علاوه زیاتی وحی ورکړی وی چه هغے ته حکمة او سنت وئیلے شی نو دلته د حکم نه مراد حکمة دے- د حکمة او حکم کله یوه معنیٰ وی لکه دلته او په سورة یوسف (٢٢) ﴿آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا﴾ او ﴿ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا﴾ (مریم: ١٢) کښې راغلے دے- او کله پکښې فرق وی، حکم فیصلے ته او د فیصلو علم ته وائی چه د خلکو ترمینځ فیصلے کولے شی، او پدے علم کښې ډیر طاقت وی چه خپل علم تطبیق کولے شی-

ددے نه معلومه شوه چه توحید د داسے اُوچتو خلکو عقیده وه، نو معلومیږی چه توحید ډیر لوی شے دے، ځکه چه غټو خلکو ته الله تعالیٰ کومه عقیده ورنصیب کړی وی هغه ډیره غټه وی-

فَاِنْ يَّكْفُرْبِهَا: پدے کښې الله تعالیٰ خپله استغناء د توحید بیانوی د مشرکانو نه چه تاسو ډیر پکښې نهٔ یئ زما نور ښه بندگان شته، هغوی به دا خبرے منی- او پدے کښې اشاره ده چه کوم دین الله تعالیٰ رالیږلے دے نو د هغے نه په انکار د بعضو خلکو سره د الله دین نهٔ ختمیږی بلکه که لږ څه خلك انکار وکړی نو نور خلك الله پیدا کړی چه دغه صحیح دین راپورته کړی- نو د الله دین چا ته نهٔ دے محتاج- او پدے کښې اشاره ده چه د

مؤمنانو صحابه کرامو جماعت داسے دے چه د الله تعالیٰ دین ئے راپورته کړے دے او د قریشو مشرانو پورته نکړو نو کشرانو ته الله تعالیٰ ورکړو۔

بِهَا : دا ضمیر یا (هدایة) ته راجع دے چه مراد ترے توحید دے، او یا کلمے د لا اله الا الله ته راجع دے۔ او دا مراد دے په لفظ د هدیٰ کښ۔ او نبوت ته یا کتاب او نبوت او حکم درے واړو ته راجع کول بعید دی۔

هٰؤُلَاءِ : ددے نه مراد موجوده کافران دی او (قومًا) نه مراد ځوك وائی انبیاء علیهم السلام دی، او ځوك وائی چه ملائك دی، او ځوك وائی چه ددے نه ددے امت انصار او مهاجرین صحابه کرامؓ مراد دی، او ځوك وائی چه د هرے زمانے موحدین دی۔ او همدا آخری قول غوره دے۔ (القرطبیؒ والبغویؒ) او علامه ابن القیمؒ فرمائی : [وَالظَّاهِرُ أَنَّ كُلَّ مَنْ قَبِلَهَا إِيمَانًا وَعَمَلًا وَدَعْوَةً وَجِهَادًا فَهُوَ مِنْ أَهْلِهَا] ۔ ظاهر دا ده چه هر هغه ځوك چه دغه توحید او هدایت په ایمان او عمل او دعوت کولو سره قبول کړی، او بیا د هغے دپاره مجاهده کوی نو دا اهل د دغه هدایت دے۔ (التفسیر القیم لابن القیمؒ والبدائع)

او پدے امت کښ د صحابه کرامو نه روستو ډیر داسے خلك شته چه د الله یواځے بندگی کوی، او د شرك مقابله او دشمنی کوی، او د هغے په دلیل او مناظرے سره رد کوی، او په طریقه د درس او تدریس او تعلیم او تعلم سره هغه عقیدةً او عملًا رد کوی، نو پداسے خلکو کښ د الله تعالیٰ نه ځان داخلول غوښتل پکار دی۔

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ : مفعول پټ دے یعنی هَدَاهُمُ اللَّهُ۔ الله ورته هدایت کړیدے۔

فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ : د هُدی نه مراد سنت او سیرت دے۔ (بغویؒ)

سوال دا دے چه زمونږ نبی ته حکم شویدے د پخوانو انبیاؤ اقتداء وکړه نو ددے نه خو معلومه شوه چه زمونږ نبی د پخوانو انبیاؤ نه افضل نهٔ دے ځکه چه د مقتدِی مرتبه د مقتدیٰ نه ښکته وی؟ او آیا د رسول الله ﷺ شرع د پخوانو انبیاؤ نه کامله نهٔ ده ؟

جواب : دلته په دے حکم د اقتداء کښ دوه کماله دی، یو د رسول الله ﷺ خپل ذاتی کمالات، او بل د پخوانو پیغمبرانو په اقتداء سره ئے د هغوی صفات هم راجمع کړیدی۔

صاحب المنار ددے ډیر ښه تفصیل کړیدے هغه فرمائی : د الله په توحید علم او د هغه په تنزیه او په اثبات د صفات کمالیه ؤ او د دین ټول اصول او عقائد لکه ایمان په ملائکو او د قیامت په جزا او سزا وغیره پدے کښ خو اقتداء او امر په اقتداء نشی کیدے ځکه چه ددے ټولو وحی الله تعالیٰ خپل رسول ته په ډیره کامله طریقه سره کړیده، نو دا خو د رسول الله

ﷺ دپاره په علمِ ضروري او برهاني سره ثابت وو۔ او کوم آیت کښې چه دی ﴿ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ﴾ نو د هغې مطلب دا دے چه هغه ملت چه د هغې وحی الله تعالیٰ خپل رسول ته کړیده او د هغې په اتباع ئے ورته امر کړیدے چه هغه عقیده او د دین اصول دی نو هغه د ابراهیم ملت دے، او دے به د هغې تابعداری د الله په حکم سره کوی نۀ پدے وجه چه دا د ابراهیم ﷺ ملت دے ځکه چه نبی کریم ﷺ ته کوم ځیزونه معلوم شوی وو، نو هغه ئے د ابراهیم ﷺ نه نۀ وو اخستی، ځکه دے د هغه په زمانه کښې هم نۀ وو او نۀ ئے د هغه نه نقل کړی، او دغه شان عملی احکامو کښې هم رسول الله ﷺ د یو پیغمبر تابعداری نۀ ده کړے، بلکه هغه چه د هغې تابعداری کوی نو د الله په حکم سره، حاصل دا چه اقتداء صرف په عملی سیرت کښې کیږی چه هغه طریقه د دعوت د دین، او دین قائمول، او د مشرك قومونو نه بیزاری، او په باب د دعوت کښې صبر کول، او ښائسته اخلاق او ښائسته اعمال خپلول دی، لکه صبر، شکر، شجاعت او حلم، ایثار او زهد، سخاء او فیصله په عدل باندے الخ۔ (المنار۷/٤٩٧)

ځینی علماء وائی چه د هدی نه مراد تمام اصول، عقائد او اخلاق او طریقے د دعوت د انبیاء علیهم السلام دی او په فروعو (عملی احکامو) کښې هغه مراد دی چه د هغوی په دین پورے خاص نۀ دی۔ (احسن الکلام)

او امام رازیؒ فرمائی: دا آیت دلیل دے چه زمونږ نبی د ټولو انبیاؤ نه افضل دے او ددے بیان دا دے چه پدے مذکوره انبیاؤ کښې د کمال او شرافت صفات تقسیم وو نو داود او سلیمان علیهما السلام کښې د نعمتونو شکر او په ایوب ﷺ کښې صبر په بدنی مرضونو او په یوسف ﷺ کښې دواړه وو (او ورسره صبر په حسد د بدخواهانو وو) او موسیٰ ﷺ د ډیرو او قوی معجزاتو والا وو او د لوی سرکش سره ئے مقابله کړے وه او په زکریا، یحیٰی، عیسیٰ او الیاس علیهم السلام کښې زهد فی الدنیا او په اسماعیل ﷺ کښې صدق (رشتیا) او په یونس ﷺ کښې په سختئ کښې تضرع (عاجزی) وه، نو الله مخکښې انبیاء ذکر کړل بیا ئے زمونږ نبی ته حکم په اقتداء وکړو نو ګویا که دا حکم ئے ورته وکړو چه د عبودیت او طاعت ټول صفات په دغه انبیاؤ کښې وو دغه هم وکړه او بیا ئے خپل ذاتی صفات او کمالات هم ورکړی وو نو دے په ټولو کښې افضل شو۔ (الرازیؒ، والقاسمیؒ فی محاسن التاویل)۔

او پدے وجه به رسول الله ﷺ پدے آیت باندے عمل کولو، د پخوانو پیغمبرانو چه به کوم نیك عمل وو، هغې باندے به رسول الله ﷺ عمل کولو لکه داود ﷺ سجده کړے وه

نو رسول الله ﷺ به د سورت ص (په واقعه) کښې سجده کوله، لکه د ابن عباسؓ نه دغه شان روایت شویدے، او رسول الله ﷺ وفرمایل :

[رَحِمَ اللّٰهُ مُوسٰى لَقَدْ أُوذِيَ فِي اللّٰهِ فَصَبَرَ]

الله دِې په موسیٰ علیه السلام رحم وکړی هغه ته د الله دپاره ډیر ضرر ورکړے شو نو هغه صبر وکړو زۀ به هم صبر کوم۔

او بیا چه رسول الله ﷺ ته کوم حکم شویدے دا د هغه د امت افرادو ته هم شویدے چه هغوی دغه طریقے راجمع کړی۔ لکه یو د دغه هدایت نه د الله یواځې بندګی کول او د هغے دپاره دعوت کول دی۔

اقْتَدِهْ : کښې (هاء) د سکتے دپاره ده۔

قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ : یعنی یو د انبیاؤ د هدایت نه دا ده چه هغوی به د دین دعوت په اخلاص سره بغیر د دنیاوی لالچ نه کولو، نو ته هم ووایه چه زۀ تاسو نه پدے بیان د توحید او د قرآن باندے هیڅ اجرت نۀ غواړم۔ نو که ددے کتاب نه هدایت اخلئ نو دا د ټول عالَم دپاره د هدایت او نصیحت خزانه ده۔

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ : قرآن ته د ټول عالَم ذکریٰ وئیلے شی، دا دلیل دے چه په قرآن کریم کښې د ټول عالَم حاجت پوره شویدے، نو څوك چه قرآن ناقص ګڼړی بیا به دا د عالم دپاره څنګه نصیحت او یاداشت شی۔ او دا دلیل دے چه قرآن کریم او د رسول الله ﷺ رسالت (چه د قرآن تشریح ده) دا به تر قیامته پورے وی، نو د بل نبی د راتللو هیڅ ګنجائش نشته۔

الْعَالَمِيْنَ : نه مراد انسانان او پیریان دی او جمع ئے څکه راوړیده چه په انسانانو کښې ډیر مختلف اقوام دی، عرب، عجم وغیره۔ او عالمین کښې پیریان او ملائکو ته هم اشاره ده پدے وجه ئے جمع راوړیده۔

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
او قدر نۀ دے کړے دوی د الله په لائق قدر سره کله چه ووئیل دوی نۀ دے نازل کړے الله
عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى
په هیڅ بنده باندے هیڅ شے، ووایه چا نازل کړیدے کتاب هغه چه راوړیدے هغے لره موسیٰ

نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا
رنړا او هدایت دپاره د خلقو گرځوئ تاسو هغه تکړے تکړے ښکاره کوئ تاسو بعض د هغے
وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ
او پټوئ تاسو ډیر، او خودلے شویدی تاسو ته هغه خبرے چه نهٔ پیژندلے تاسو او نهٔ
اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾
پلارانو ستاسو، تهٔ ووایه ! الله تعالیٰ! بیا پریږدهٔ دوی په باطلو خبرو خپلو کښ چه لوبے کوی

تفسیر: ربط :

مخکښ د الله د توحید بیان وو اُوس پدے رکوع کښ د رسالت او د وحی بیان دے۔ او هغه پدے طریقه چه الله هغه ذات دے چه بندګان مُهمل نهٔ پریدی بلکه وحی ورته نازلوی، او څوك چه د وحی منکر دے نو هغه د الله ډیر غټ بی ادبه دے، یا دا چه په الله دروغ جوړ کړی الله ورته وحی نهٔ وی کړی او هغه دعوه کوی چه ما ته ئے وحی کړیده۔ او د هغوی سزا به بیانوی او په آخر کښ د مشرك سزا۔ او پدے آیت کښ د الله تعالیٰ د معرفت بیان هم دے۔

شان نزول او اختلاف

ځینی مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت مدنی دے او د مکی سورت په مینځ کښ کیخودلے شویدے، او دلیل دا دے چه پدے کښ تورات ذکر دے او د هغے د پټولو او ښکاره کولو تذکره ده، او دا خو یهودو کړے وو او یهود په مکه کښ نهٔ وو بلکه په مدینه کښ وو، بیا د تفسیر په کتابونو کښ یو تفسیری روایت هم ددے د شان نزول په باره کښ ذکر شویدے۔

ابن ابی حاتمؒ د سعید بن جبیرؒ نه مرسلًا روایت کړیدے چه یو یهودی چه هغه ته به ئے مالك بن الصیف وئیلو راغلو او د رسول الله ﷺ سره ئے بحث شروع کړو نو نبی کریم ﷺ ورته فرمایل : [أَنْشُدُكَ بِالَّذِيْ أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلٰى مُوْسٰى هَلْ تَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ الْحِبْرَ السَّمِيْنَ (وَكَانَ حِبْرًا سَمِيْنًا) فَغَضِبَ، وَقَالَ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ] تا ته په هغه الله قسم درکوم چه په موسیٰ علیه السلام ئے تورات نازل کړیدے چه آیا تهٔ په تورات کښ دا خبره مومے چه الله تعالیٰ د پیړ (چاق) ملا سره مینه نهٔ کوی (او دے خپله پیړ ملا وو) نو هغه

غصه شو او دائے وویل چه الله په هیڅ انسان باندے هیڅ وحی (کتاب) نۀ دے رالیږلے۔ بیا روستو پدے خبره خپلو یهودیانو ملامته کړو نو هغه وویل چه ما په غصه کښې دا خبره کړے وه، آخر دا چه هغه ئے د خپل ملاتوب نه ویستلو۔ نو ددے په باره کښې دا آیت نازل شو۔ او په دغه یهودوئے رد وکړو چه تاسو د وحی او کتابونو نه انکار کوئ نو بیا تاسو سره چه د تورات دا کاغذونه پراته دی دا د کوم کتاب دی؟۔ (دا روایت سندًا ثابت نۀ دے پدے وجه پدے باندے پوره اعتماد نشته)۔

او بله دا چه یهودیان د پخوانی آسمانی کتابونو منکر نۀ وو۔

۲- دویم قول: ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهدؒ فرمائی چه دا آیت د قریش کافرانو په باره کښې نازل شوے وو۔ انتهیٰ۔ او حافظ ابن کثیرؒ فرمائی دا اصح قول دے، او ابن جریرؒ غوره کړیدے۔ او قریشو په رسول الله ﷺ باندے د قرآن نازلیدلو نه د زیات انکار په توګه وویل چه الله هیڅ کتاب په هیڅ انسان نۀ دے نازل کړے۔ او دا د الله په خلاف د دوی د جرأت او بهادرئ انتهاء وه چه د انبیاء او رسولانو د بعثت نه ئے بالکل انکار وکړو۔ او پدے باندے دلیل دا قول د الله تعالیٰ دے: ﴿قَالُوْا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوْا اِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُوْنَ﴾ (القصص:٤٨) (دوی وویل: دا دواړه (تورات او قرآن) جادو دے چه د یو بل مددئے کړیدے دارنګه ﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ (سبا:٣١)۔ (او کافرانو ووئیل: مونږ پدے قرآن او نۀ ددے نه په مخکښې کتابونو هیڅکله ایمان نۀ راوړو) ددے قول مطابق چه دلته د تورات تذکره شویده او دوی ته الزامی جواب ورکړے شویدے نو دا پدے وجه صحیح کیږی چه د عربو خلقو به د یهودو په ذریعه د تورات خبرے آوریدلے او اقرار به ئے کولو، او د هغوی تصدیق به ئے کولو چه دا اهل کتاب او اهل علم دی۔ او بیا هم د ضد د وجه نه دے ظالمانو د تورات نه او د ټولو آسمانی کتابونو نه انکار وکړو۔

لکه همدا خوئی د اُوسنئ زمانے په بدعتیانو او ډیرو مقلدینو کښې هم موجود دے چه ډیر کرته دوی ته د قرآن او حدیث دلیلونه ښکاره شی نو دوی په مذهبی جنون کښې راشی او ددے نه چورلټ انکار شروع کړی۔ او ددے ډیر مثالونه او واقعات لیدلے شویدی۔ الله تعالیٰ دِے مونږ د داسے مرض نه محفوظ وساتی۔ آمین۔

قُلْ مَنْ اَنْزَلَ: دَ دواړو قولونو مطابق الله تعالیٰ د هغوی الزامی جواب د سوال په صورت کښې ورکړو چه اے زما رسوله! (ﷺ) تۀ لږ د دوی نه تپوس وکړه چه هغه تورات چه په موسیٰ علیه السلام باندے نازل شویدے چه هغه د خلقو دپاره نُور او هدایت او د حق او

باطل ترمینځ فرق کونکے کتاب وو، دا چا نازل کړے وو ؟ هغه تورات چه هغه یهودیان د خپل خواهش مطابق په ټکړو کښ تقسیم کړے راښکاره کوی، او کوم چه د دوی د خواهش مطابق نۀ وو نو هغه پټوی.

تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ : بیا د دویم قول مطابق **سوال** دا دے چه که دا مشرکانو ته جواب شی نو دا خطاب به څنګه صحیح شی چه تاسو دا تورات ټکړے ټکړے کړیدے او بعض ښکاره کوئ او بعض پټوئ؟ جواب دا دے چه په یو قراءت کښ (يَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ) او (يُبْدُوْنَهَا) راغلی دے نو دا غائب ضمیرونه به یهودیانو ته راجع وی لکه ددے مطابق تشریح وشوه. نو بیا دلته په یهودو باندے رد شو چه الله دغه کتاب رالیږلے وو او یهودو په کښ وړانے وکړو. لیکن مشهور قراءت د خطاب په صیغه دے نو بیا ښه **جواب** دا دے چه پدے کښ جنس انسانانو ته خطاب دے لکه دا د قرآن کریم طرز دے چه انتقال کوی د نوع نه جنس ته یا د خطاب د یو قوم نه خطاب د بل قوم ته لکه علامه خفاجیؒ وئیلی دی چه دا هم د اُدَبَاؤ په نیز یو قسم التفات دے (چه په کلام کښ حُسن پیدا کوی) نو پدے کښ به د مشرکانو نه خطاب یهودو ته نقل شی او پدے کښ به په مشرکانو تعریض وی چه ستاسو انکار د الله د وحی نه داسے بې دلیله او باطل دے لکه چه یهودیانو د تورات سره کوم کار کړے وو چه هغه ئے د خپل خواهش مطابق تس نس کړے وو او د خپلے مرضۍ مطابق به ئے پکښ تصرف کولو. (محاسن التاویل للقاسمی بتصرف)

نو د (تَجْعَلُوْنَهٗ) ضمیر به الکتاب ته راجع شی په طریقه د صنعتِ استخدام مشهور سره چه دا د علم بلاغت یو قانون دے چه د یو لفظ دوه معانی وی، د ظاهری لفظ نه یوه معنیٰ واخستے شی لکه دلته ترے تورات واخستے شو او په ارجاع د ضمیر سره ترے بله معنیٰ لکه دلته ترے مطلق کتابونه د الله مراد اخلو. (تلخیص المفتاح)

او ددے التفات مثال په سورة الاعراف کښ ﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ کښ راغلی دے چه هلته ئے آدم علیه السلام او حواء ذکر کړیدی، بیا ئے روستو ﴿فَلَمَّا اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ﴾ کښ عام انسانان ذکر کړیدی، او دا په خطاب کښ د مشرانو طریقه هم وی چه کله خاص خطاب وکړی (یوه ډله وړانے وکړی) نو بیا عامو خلکو باندے رد وکړی چه په تاسو کښ دا نقصان دے، اګرکه په هغوی کښ به ښه خلك هم وی. نو دلته به معنیٰ دا جوړه شی چه په تاسو انسانانو کښ دا مرض دے چه د الله کتاب تس نس کوئ او څه پکښ پټوئ چه د هغه انسانانو سر فهرست یهودیان دی، او بیا چه هر څوك وی. او

مشرکان هم د یهودو په شان دی چه مشرکان د وحی منکرین دی او یهودو پکښې تحریف کړیدے، نو د دواړو د یو بل سره مشابهت دے. نو دواړو ته خطاب صحیح شو.

فوائد الآیة:

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ : د قدر دلته درے مصداقه دی (۱) ابو العالیهٔ وائی: قدر په معنیٰ د وصف (صفت) سره دے اَیْ مَا وَصَفُوا اللّٰهَ حَقَّ تَوْصِیْفِهٖ. د الله لائق صفتونه ئے نهٔ دی کړی.
(۲) مَا عَظَّمُوا اللّٰهَ حَقَّ تَعْظِیْمِهٖ. (ابن عباسؓ) دوی د الله لائق تعظیم نهٔ دے کړے.
(۳) مَا عَرَفُوا اللّٰهَ حَقَّ مَعْرِفَتِهٖ (ابوعبیدؒه، اخفشؒ - قرطبیؒ والبغویؒ - والمنار)
یعنی دوی د الله معرفت نهٔ دے کړے په لائق معرفت سره، او دا تعبیر د سورت د موضوع سره ښه مناسب دے.

فائده : دا جمله په قرآن کریم کښې درے ځله راغلے ده دلته د الله د وحی او کتاب نه د منکرینو په رد کښې راغلے ده. او سورة الحج (۷۴) آیت کښې د دوی بی قدری دا وه چه د الله سره ئے کمزورے مخلوق شریك جوړولو نو د هغے رد دپاره راغله، او سورة الزمر (۶۷) آیت کښې د الله تعالیٰ د عظیم قدرت نه د انکار د رد دپاره راغلے ده.

اِذْ قَالُوْا : دا تفصیل د بی قدرئ دے، او دا دلیل دے چه د الله د وحی نه انکار کول د الله د حکمة د تقاضا او د هغه رحمت د آثارو او د هغه د محیط علم، او د هغه د قیام بالقسط خلاف دی. (المنار) لنډه دا چه د الله وحی نهٔ منل الله ته د ډیرو نقصاناتو نسبت دے، یو دا چه الله مخلوق پیدا کړو او بیا ئے هیڅ پرواه نهٔ کوی، هغه ترے غافل دے (والعیاذ بالله). دویم دا چه الله کائنات پیدا کړل او هغه ئے مُهمل پرینبی دی، نهٔ به ورته امر کیږی او نهٔ نهی، او حساب کتاب نشته، نو دا الله ته د عبث نسبت دے. او ددے په نتیجه کښې بیا د قیامت نه انکار راځی ځکه چه وحی او پیغمبران نهٔ وی او احکام شرعیه نهٔ وی نو بیا حساب کتاب او آخرت نشته نو د عالَم ټول نظام پدے باندے ګډوډ کیږی او هغه ته د ظلم نسبت کیږی.

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ : دا انکار د مکے مشرکانو کړے وو لکه سورة القصص کښې به قصه راشی چه دوی به په عام اوقاتو کښې وئیل چه پیغمبران هم شته او تورات او انجیل د الله کتابونه دی لیکن کله چه ضد کښې راغلل، نو بیا ئے د هر څه نه انکار وکړو او دا ئے په هغه وخت کښې ووئیل چه دوی باندے دلیلونه پیش کړے شو چه دا مسئلے خو په تورات کښې دی چه

توحید د الله حق دے او قیامت حق دے لکه دوی یو وفد یهودو ته لیږلے وو چه دا محمد (ﷺ) چه کومے مسئلے کوی آیا دا حقے دی؟ نو هغوی ورته جواب ورکړو چه آؤ، دا خو په تورات کښں هم لیکلے شویدی، نو دوی انکار وکړو او ویے وئیل چه ﴿سِحْرَانِ تَظَاهَرَا﴾ دا قرآن او تورات دواړه جادو دے چه د یو بل مدد ئے کړیدے ﴿وَقَالُوٓا اِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُوْنَ﴾ او دا ئے ووئیل چه مونږ دا دواړه نهٔ منو. نو الله پرے هلته رد وکړو ﴿قُلْ فَاْتُوْا بِكِتَابٍ مِنْ عِنْدِ اللهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَا اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ﴾ ځئ تاسو د الله د طرفنه یو داسے کتاب راوړئ چه هغه د تورات او انجیل نه زیات هدایت والا وی چه د هغے تابعداری وکړو، نو چه دا کتابونه نهٔ منے او خپل هم یو کتاب نشے پیش کولے نو معلومه شوه چه د خواهش پسے روان یئ، لکه زمونږ د زمانے د بدعتیانو په شان چه نهٔ قرآن او حدیث کامل منی او نهٔ خپل کوم آیت او حدیث لری او نهٔ د خپل امام نه کوم صفا دلیل پیش کولے شی نو د څه پسے مو روانوی؟!.

مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ : دوی سلبِ کلی کړے وو نو د هغے په رد کښں ایجاب جزئی راغلو. او ددے رد او احتجاج طریقه دا ده چه هرکله تاسو قرآن نهٔ منئ نو دا خو تاسو عامو اوقاتو کښں منئ (چه کله ضد نکوئ) چه تورات الله تعالیٰ په موسیٰ علیه السلام باندے نازل کړے وو نو بیا هغه چا رانازل کړو؟ هغه خو منئ چه الله رالیږلے وو، نو دغه شان ئے دا هم رالیږلے دے. دویمه طریقه دا ده چه که تاسو هغه هم نهٔ منئ او جاهلان یئ نو بیا د بنی اسرائیلو د علماؤ نه تپوس وکړئ هغوی به خبر درکړی چه آؤ، تورات حق کتاب وو. نو دغه شان دا قرآن هم حق کتاب دے.

نُوْرًا وَّهُدًى : نُور کښں دلیلونو او هدی کښں حکمتونو ته اشاره ده. یا نور نه مراد د توحید رنړا ده چه بنی اسرائیل ئے د شرك او کفر د تیارو نه راویستل او هدی نه مراد دا چه احکام شرعیه دی چه دوی پرے د ګمراهئ نه بچ کیدل. (المنار)

قَرَاطِيْسَ : قراطیس جمع د قِرْطَاس ده، اصل کښں معنیٰ ئے د کاغذ ده، دلته ترے قطعه (ټکړه) مراد ده. یعنی اے یهودو! تاسو د خپل غرض دپاره دغه کتاب ټکړے ټکړے کړیدے چه ځینی د خپل غرض دپاره ښکاره کوئ او ځینی پټوئ، څکه چه د دوی ملیانو به کله چه د دوی په فائده کښں حکم وو، نو هغه به ئے په یو کاغذ باندے ولیکلو او مستفتی ته به ئے ورکړو، اوکله چه به ئے په پټولو کښں فائده وه، نو د عوامو نه به ئے پټ ساتلو، او دا څکه چه دغه کتاب د دوی په لاسونو کښں وو، او د عوامو په لاسونو کښں د هغے نه هیڅ

نُسخه نۀ وه، او ددے پټ والی نه مراد په حوادثو کښې د هغې نصوص پټول دی ماسویٰ د هغه حصې نه چه مخکښې يهوديانو هير کړے وو کله چه قدس خراب شو او دوی عراق ته وشړلے شو۔ او دا آيت به په مکه او دغه شان په مدينه کښې لوستلے کيدو تردے چه په مدينه کښې د يهوديانو علماؤ د رجم آيت پټ کړو او ددے نه لوی د رسول الله ﷺ بشارت او د هغه صفات ئے پټ کړی وو۔ (المنار)

ځينې مفسرينو ددے آيت د وجه نه د قرآن کريم سيپارې سيپارې کول مکروه ګڼړلی چه پدے کښې د قرآن کريم بې ادبی ده، د قرآن کريم عظمت پرے کميږی، قرآن کريم يو کتاب دے، ډيرو کتابونو ته تقسيمول ئے مناسب نۀ دی البته که د تعليم دپاره ترے څه حصه جدا کړے شي نو جائز به وی۔

وَعُلِّمْتُمْ مَّالَمْ تَعْلَمُوْٓا : يعنې د تورات په ذريعه دارنګه د محمد ﷺ په ذريعه تاسو ته او ستاسو پلارانو ته هغه علمونه حاصل شو کوم چه تاسو ته مخکښې نه نۀ وو معلوم لکه د پخوانو انبياء عليهم السلام واقعات، احکام شرعيه او صحيح عقيدے، نو دا تاسو ته د کوم ځای نه معلوم شو؟ (ولے که د الله کتاب نۀ وی نو انسان به په ډيرو تيارو کښې پروت وے او لوی جاهل به وے دا خو قرآن او حديث دے چه مونږ انسانانو ته ددے په وجه د عالَم صحيح تاريخ معلوم دے)

قُلِ اللّٰهُ :نو دوی به غلي شی نو الله خپله ددے جواب ورکړو، چه تۀ اُووايه چه په موسیٰ عليه السلام باندے تورات الله نازل کړے وو او محمد (ﷺ) ته هغه علوم او معارف د الله د طرف نه د وحی په ذريعه ملاؤ شويدی۔ او کله چه دا خبره ثابته شوه نو بيا په رسولانو باندے بالعموم او په نبی کريم ﷺ باندے بالخصوص د وحی د نزول نه تاسو څنګه انکار کولے شئ ؟!۔

او دا دليل دے چه د الله په کتاب سره هغه علمونه حاصليږی چه مخلوق د هغې علم نۀ لري۔

قُلِ اللّٰهُ: دلته علامه ابن کثيرؒ په ذکر مفرد والو باندے ردونه کړيدی۔ ذکر مفرد دے ته وائي چه صرف الله، الله کوی يا هو هو کوی، دا قرآن او حديث کښې نشته صرف صوفيانو د ځان نه جوړ کړيدے، بدعت دے، سبحان الله، الحمد لله دا قسم اذکار کول پکار دی، او ددے زيات تفصيل په مجموع الفتاوی د ابن تيميةؒ او فتاوی الدين الخالص (۲) کښې وګوره۔

او دلته (الله) کلمه فاعل د (اَنْزَلَ) دے يا مبتداء ده او (اَنْزَلَهَا) ئے خبر دے۔

ثُمَّ ذَرْهُمْ : هرکله چه الله تعالیٰ حجت قائم کړو نو خپل رسول ته ئے حکم وکړو چه دوی د خپلو باطلو عقائدو او اعمالو په تیارهٔ کښې حیران پریده، پدے کښې دهمکی پرته ده۔

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِىْ
او دا کتاب دے نازل کړیدے مونږه، برکت والا دے، تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو
بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ
چه مخکښې ددهٔ نه دی، او دے دپاره چه ویرویے تهٔ اصل د کلو (مکے) والا او هغه څوك
حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ
چه چاپیره دی ددینه، او هغه کسان چه ایمان په آخرت لری ایمان لری پدے کتاب
وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾
او دوی په مونځونو خپلو ساتنه کوی۔

تفسیر : د تورات د صفت نه روستو د قرآن کریم صفت راوړی، او پدے کښې اشاره ده چه لکه څنګه چه الله تعالیٰ تورات د توحید د حقانیت دپاره رالیږلے وو، نو دغه شان قرآن ئے هم رالیږلے دے، نو چه هغه منئ نو دا هم اُومنئ، او دا د الله تعالیٰ زاړهٔ سنت راروان دی چه هغه انسانانو ته کتابونه رالیږی۔ نو پدے آیت کښې د قرآن کریم عظمت او صدق ذکر دے په پنځه صفاتو سره چه یو عظیم کتاب دے، (اَنْزَلْنَاهُ) الله رالیږلے دے، مبارك دے (هر قسم خیرونه پکښې دی)، تصدیق د مخکنو آسمانی کتابونو کوی۔

كِتٰبٌ : کښې تنوین د تعظیم دے۔ یعنی لوئی کتاب دے۔

مُبٰرَكٌ : قرآن کریم کښې ظاهری برکات هم شته چه ددے په لوستلو سره شفاء د مرضونو ملاویږی۔ او باطنی برکات ئے دا دی چه پدے کتاب کښې الله تعالیٰ هر قسم احکام او اعمال او اخلاق ذکر کړیدی، نو ظاهر کښې یو کتاب ښکاری او په مینځ کښې د ټول عالَم د ضروریاتو د حل کولو لاره ده۔ هر فن او هر علم والا چه د کوم علم تحقیق کوی نو د قرآن نه پکښې استفاده کوی۔ او دنیاوی او اُخروی فائدے پکښې دی، ددے په لوستو سره په بدن کښې هم برکت راځی، او انسان پرے په نورو خلکو باندے پورته کیږی او عزت ئے زیاتیږی۔

فائده: که یو لاکهـ علماؤ تـه مختلف موضوعات په دینی او دنیاوی مسائلو کښې ورکړې شي او هغوی ته ووئیل شي چه تاسو خپله موضوع د قرآن نه ثابته کړئ نو ټول موضوعات به په قرآن کریم کښې وموندل شي. وبالله التوفیق.

وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى : یعنـي دے دپاره راغلـے دے چه مکے والا او دغه شان د هغے ماحول - چـه ټـول عـالَم دے ځکـه چـه مکـه د دنیا مینځ دے - دوی پرے ویرولے شي او د الله د مخالفتونو نه بچ شي. او دا انذار به کله بالذات وی لکه صحابه کرام او قریشو ته شویدے او کله بالواسطه چه د صحابه کرامؓ او د امت د علماؤ په واسطه سره ئے ټول امت یرولے دے.

مکے مکرمے ته ام القرىٰ پدے وجه وئیلے شویده چه هلته دا اولنے کور دے چه د انسانانو دپاره د الله په حکم سره جوړ شویدے، او د ټول جهان قبله او د حج ځای دے.

او دا دلیـل دے چه رسول الله ﷺ د ټول عالَم نبی دے. په صحیحینو کښې د جابر بن عبد الله ﷜ نـه روایت شویدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: ((هـر نبی به خپل قوم ته په خاص توګه رالیږلے کیدو، او زهٔ ټولو انسانانو ته رالیږلے شوے یم)). (بخاري: ۳۳۵) ومسلم (۱۱۹۱)

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ : پدے کښې د قرآن کریم اهل بیانوی چه څوك ایمان په آخرت لری او د مانځه پابندی کوی، دا د قرآن اهل دی.

د قـرآن کـریـم او د آخرت خپل مینځ کښې ډیر جوخت تعلق دے او ددے وجه دا ده چه کله یـو تـن د آخـرت د عـذابونو نه یریږی نو هغه ګرځی چه کوم شے به وی چه ما به د آخرت د عـذابـونـو نـه بـچ کړی، نو کله چه قرآن واوری چه پدے کښې د آخرت د عذابونو نه د بچاؤ اسباب ذکر دی، نو هغه دے پورے کلك ونښلی چه پدے کښې خو زما مقصد ملاؤ شو بیا ئے د قرآن سره ډیره مینه پیدا شی، او دغه شان څوك چه د قرآن سره تعلق لری نو د هغه به د آخرت نه ډیره یره وی ځکه چه د آخرت عذابونه خو قرآن بیانوی.

وَهُمْ عَلٰى صَلَا تِهِمْ يُحَافِظُوْنَ : یعنی یو تـن کښې چه کله په آخرت باندے یقین راشی او د قـرآن سـره ئـے تـعـلـق پیـدا شی، نو په دهٔ کښې عملی تبدیلی هم پیدا شی هغه دا چه د مانځه سخت پابند شی ځکه چه مونځ هغه سبب دے چه انسان په آخرت کښې د عذابونو نـه بـچ سـاتـی. او مـونـځ د الله په نیز ډیر لوی عمل دے پدے وجه دا ډیر ذکر کوی. او مونځ نښـه د ایمان ده.

مـحـافظت نه مراد د هغے لحاظ ساتل په خشوع او خضوع سره او په هغے باندے پابندی کـول دی. او ددے نـه دا مـعـلـومـه شـوه چـه څـوك صحیح طریقے سره مونځ کوی او ددے

پابندي کوي نو دا د قرآن کريم صحيح اهل دي، او چه ځوك د مانځه پرواه نۀ کوي او مونځونه پريږدي نو دا نۀ د قرآن اهل دي او نۀ د آخرت صحيح منونکے دے۔

فائده: دلته بعض مُليان د صَلَاتِهِمُ نه مراد بلنه اخلي يعني بلنه د الله کوي نۀ د غير الله۔ دا معنیٰ دلته غلطه ده، تحريف دے او د مرجئو تفسير دے۔

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ
او ځوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوي په الله باندے دروغ يا وائي وحي کړے شويده
اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ
ما ته او وحي نۀ وي شوی هغه ته دهيڅ شي، او هغه ځوك چه وائي زر دے چه نازل به کړم
مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ
په شان د هغے کتاب چه رالیږلے دے الله تعالیٰ، او که وینے تۀ هغه وخت چه ظالمان به په
غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ج اَخْرِجُوْٓا
سختو د مرگ کښ وي او ملائك به اُوږدونکي وي لاسونه خپل (وائي به) راوباسئ
اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا
ساه گانے خپلے، نن ورځ بدله درکولے شي تاسو ته په عذاب د ذلت سره په سبب د هغے
كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾
چه جوړول تاسو په الله باندے ناحقه (د شرك او بدعت) خبرے او وئ تاسو چه د آيتونو د هغه نه مو لوئی کوله۔

تفسير: په دے آيت کښ درے قسمه خلکو ته زورنه ورکړے شويده او هغوی ته ئے لوی ظالمان وئيلي دي، اول هغه خلك چه په الله باندے دروغ وائي او د هغه سره شريکان جوړوي او د اولادو نسبت ورته کوي، يا د خپل ځان نه حلال حرام احکام جوړ وي۔ او دويم هغه خلق چه د نبوت د دروغو دعوے کوي، او وائي چه په مونږ باندے د الله د طرف نه وحي نازليږي۔ لکه په دے امت کښ دغه شان گنده خلك تير شويدي لکه مختار بن ابي عبيد الثقفي، اسود عَنْسِي، مُسَيلمة الكذاب، سَجَاح چه يوه تميميه ښځه وه، طليحة

الاسدی، متنبیّ، مرزا غلام احمد قادیانی۔ او پدے کښې اشاره ده دے ته چه محمد رسول الله ﷺ په خپلو خبرو او دعوو کښې دروغژن نۀ دے، که دۀ ته وحی نۀ وے شوے او دۀ دعوه کړے وے نو دا به په ظالمانو کښې شمار شوے وے او ظالمانو سره د الله تعالیٰ مدد نۀ وی بلکه هغوی زر تر زره هلاکوی نو هرکله چه الله تعالیٰ خپل نبی ته وخت په وخت غلبه او نصرت ورکوی معلومېږی چه د الله تعالیٰ حق رسول دے۔

وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ : اَیْ مِنْ مُّخِّيْ ۔ او دریم هغه خلق چه دعوی کوی چه دوی د قرآن په شان کلام پیش کولے شی۔ یعنی د خپلو دماغو نه ئے راکوزولے شم۔ لکه دا خبره بعض مشرکانو کړے وه په سورة الانفال (۳۱) آیت کښې راځی چه دا رسول الله ﷺ وزګار دے بل کارئے نشته ځکه داسے کتاب جوړوی ﴿لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَا﴾ که مونږ وغواړو مونږ به هم داسے کتاب ووایو۔ لیکن مونږ دومره وزګار نۀ وو، دوی د جوړه ولو نه عاجز وو نو دا بهانه ئے وکړه، دا د باطل پرستو طریقه وی۔

وَلَوْ تَرٰٓی اِذِ الظّٰلِمُوْنَ : اُوس د هغوی د قبر او د مرګ حالت بیانوی۔

الظّٰلِمُوْنَ : په ظالمانو کښې دغه درے قسمه خلك داخل دی، او قرطبیؒ وئیلی دی چه پدے کښې هغه صوفیاء هم داخل دی چه د قرآن او سنت او د طریقے د سلف صالحینو نه اعراض کوی او دا وائی چه ما ته خپل زړه دا وویل او ما ته خپل زړه خبر راکړو (احکام شرعیه په زړه سره معلوموی) او دا وائی چه زمونږ زړونه د خِیرو نه صفا دی پدے وجه علوم الٰهیه او حقائق ربانیه پدے باندے نازلیږی نو دوی د کُلیاتو په رازونو او په احکامو د جزئیاتو باندے پو هیږی او پدے سره د احکام شرعیه ؤ نه مستغنی کیږی او دا وائی چه دا احکام خو د عوامو دپاره دی او خواص دے نصوصو ته محتاج نۀ دی، او دلیل نیسی په علم د خضر علیه السلام سره نو دا زندقت او کفر دے۔ آه۔

فِیْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ : اَیْ شَدَائِدِ الْمَوْتِ ۔ د مرګ سختیانی۔ غَمْرة په اصل کښې د اُوبو ژوروالی ته وائی۔ کله چه انسان د اُوبو مینځ ته پریوځی نو ډیره سخته پرے راځی نو دلته ترے د مرګ سختیانی مراد دی، او دا د زنکدن حال دے۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه د کافرانو نه چه د روح وتلو وخت راځی او ملائك هغوی ته د اُور د عذاب او د رحمان د غضب خبر ورکوی، نو د هغوی روحونه به (په بدن کښې) اُوتختی، او د بهر وتلو نه به انکار کوی۔ ملائك به ئے وهی دے دپاره چه د دوی روحونه د دوی د جسمونو نه بهر اُوځی، په هغه وخت به ملائك وائی چه خپل روحونه د

خپلو جسمونو نه اُوباسئ، تاسو چه به د الله په باره کښې کومې ناحقه خبرې جوړولې نو نن ورځ به د هغې په بدله کښې تاسو ته د ذلت او رسوائئ عذاب درکولے شي.

بَاسِطُوٓا اَيۡدِيۡهِمۡ : ۱- د هغوی د ارواحو د قبض کولو دپاره به ئې لاسونه اُوږده کړی وی. ۲- او د هغوی د وهلو دپاره. لکه سورة الانفال (۵۰) آيت کښې دی :

﴿ وَلَوۡ تَرٰىٓ اِذۡ يَتَوَفَّى الَّذِيۡنَ كَفَرُوا الۡمَلٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُوۡنَ وُجُوۡهَهُمۡ وَاَدۡبَارَهُمۡ ﴾

(او كه ته ووينې هغه حال چه كافرانو لره ملائك وفات كوی چه د دوی مخونه او شاګانې به وهي) او داسې به ئې راکاږی لکه کونډه چه د لمدې وړئ نه راښکلے شي. او سورة محمد (۲۷) آيت کښې هم دی.

اَخۡرِجُوۡٓا اَنۡفُسَكُمۡ : يعنی په وخت د مرګ کښې به روح ته ملائك آواز وکړی چه اے خبيث روحه! راوځه د الله غضب ته چه هغه دربانديې سخت غصه او ناراضه دے نو هغه په بدن کښې وتبنتي. يا معنیٰ دا ده : [خَلِّصُوۡهَا مِنَ الۡعَذَابِ اِنۡ اَمۡكَنَكُمۡ] (قرطبیؒ) خپل روحونه د عذاب نه اُوباسئ كه دا مو په وس کښې وی) او دا امر د توبيخ او تهكم دپاره دے.

او اَخۡرِجُوۡهَا مِمَّا هِىَ فِيۡهِ اِنِ اسۡتَطَعۡتُمۡ] (المنار).

دا چه په کوم حال د تکليف کښې دی ددې نه ئې وباسئ که وس مو وی.

اَلۡيَوۡمَ : ددې نه مراد يا برزخ دے، يا عذاب د محشر دے.

الۡهُوۡنِ : سپکونکے عذاب ځکه چه د دوی دا درے واړه دعوے د تکبر د وجه نه وے.

غَيۡرَ الۡحَقِّ : دا اول دواړه قسمونو ته راجع دے او (وَكُنۡتُمۡ عَنۡ اٰيٰتِهٖ) دريم قسم ته راجع دے.

وَلَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقۡنٰكُمۡ
او يقيناً راغلئ تاسو مونږ ته يواځې لکه څنګه چه پيدا کړی وئ مونږ تاسو
اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكۡتُمۡ مَّا خَوَّلۡنٰكُمۡ وَرَآءَ ظُهُوۡرِكُمۡ ج
اول ځل او پريخودو تاسو هغه چه درکړے وو مونږ تاسو ته روستو د شاګانو ستاسو نه
وَمَا نَرٰى مَعَكُمۡ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيۡنَ زَعَمۡتُمۡ
او نۀ وينو مونږ تاسو سره سفارشيان ستاسو هغه چه تاسو پرې ګمان کولو

اَنَّهُمۡ فِيۡكُمۡ شُرَكٰٓؤُا ؕ لَقَدۡ تَّقَطَّعَ بَيۡنَكُمۡ
چه بیشکه دوی ستاسو (په مال او اولاد) کې شریکان دي، یقیناً پریکړے شو تعلق ستاسو ترمینځ
وَضَلَّ عَنۡكُمۡ مَّا كُنۡتُمۡ تَزۡعُمُوۡنَ ﴿۹۴﴾
او ورك شو ستاسو نه هغه څه چه تاسو به گمان کولو۔

تفسیر: سوال پیدا شو چه زمونږ معبودان شته هغوی به زمونږ سفارش کوی، او هغوی به مو د عذابونو نه خلاصوی؟ نو الله به ورته په برزخ کښې بیا په قیامت کښې وائی چه تاسو ته هیڅ اَنداد او شریکان فائده نشي درکولے بلکه تن تنها ما ته راغلئ، نو نۀ به دوی سره مال وی، نۀ به اولاد، او نۀ به هغه بتان او د دوی د دروغو معبودان وی چه دوی به هغه سفارشیان گنړل۔ د پیدائش په وخت کښې چه د دوی کوم حالت وو په همغه حالت کښې به راپورته کولے شي۔ ابن جریر طبریؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه هغوی کله دا آیت اُولوستلو نو وے وئیل اے د الله رسوله ! څنگه د شرم خبره به وی چه په میدان محشر کښې به سړی او ښځے د یو بل عورتونو ته گوری ؟ نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل چه په هغه ورځ به هر سړے په خپل حال کښې ورك وی، هیڅوك به هیچا ته نۀ گوری۔ او پوره حدیث په صحیحینو کښې راغلے دے۔ (بخاری : ٦٥٢٧ ومسلم : ٧٣٧٧)

وَلَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا : اَیۡ یُقَالُ لَهُمۡ۔ یعنی دوی ته به وئیلے شي۔ او دا وینا به ورته په برزخ او په قیامت کښې کیږی۔

فُرَادٰی : اَیۡ عَنِ الۡاَمۡوَالِ وَعَنِ الۡاَنۡدَادِ۔ یعنی نۀ تاسو سره مالونه شته او نۀ شریکان۔

مَّا خَوَّلۡنٰكُمۡ : یعنی کوم نعمتونه مے چه دنیا کښې درکړی وو هغه تاسو په دنیا کښې پریخودل، درنه پاتې شول په کوم باندے چه به تاسو نازیدئ او تکبر به مو کولو۔ لکه مالونه، اولاد، خادمان او عهدے وغیره۔

وَمَا نَرٰی مَعَكُمۡ شُفَعَآءَكُمۡ : یعنی ستاسو دا گمان وو چه دوی دپاره چه مونږ کوم عبادت او نذر او منښتے کوو نو پدے نیت چه دوی به زمونږ سفارش کوی؟

مشرکانو خو آخرت نۀ منلو ؟ مگر د هغوی دوه حالته وو، یو دا چه دوی به وئیل چه که بالفرض قیامت راشی لکه څنگه ئے چه خلك وائی (خپله ئے پرے یقین نۀ وو) نو دا معبودان به زمونږ دپاره سفارش کوی، او د عذابونو نه به مو خلاصوی، دویم دوی د دنیا

په امورو کښې شفعاء (سفارشیان) نیولي وو لکه ﴿ هٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ﴾ مطلب هم دا دے چه دوی په دنیاوی کارونو کښې زمونږ الله ته سفارش کوی ځکه چه مشرکانو سره د آخرت غم نۀ وی بلکه کوم شرك چه کوی دا هم د دنیا دپاره کوی، یو مشرك به هم چرته یو بابا ته ددے دپاره نۀ وی ورغلے چه هغه ته ووائی چه زۀ دے له راغلے یم چه ما ته د تهجدو توفیق راکړه، یا دا چه آخرت مے ښه شی او جنت ته لاړ شم، بلکه د ښځو او بچو دپاره او د نارینه اولاد دپاره او د دنیا مال زیاتوالی او د مرض ښه کیدو او د دشمن غلبے دپاره ورځی۔

او د آیت مطلب دا دے چه نۀ ستاسو مالی طاقت شته او نۀ شرکی (د معبودانو) طاقت۔

اَنَّهُمْ فِيْهِ شُرَكٰٓؤُا : یعنی دوی ستاسو په مال او اولاد کښې شریکان دی۔

لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ : د تقطع دپاره فاعل مصدر ددے فعل دے۔ اَیْ وَقَعَ التَّقَطُّعُ بَيْنَكُمْ۔

یعنی ستاسو ترمینځ جدائی راغله۔ او په یو قراءت کښې بَيْنُكُمْ په رفع (پیش) د نون سره فاعل د تقطع دے او بین په معنیٰ د وصلت او تواصل (یوځای والی) سره دے۔ (بغوی۱۷۰/۳) یعنی تاسو خو د خپلو آلهو سره انبنتی وئ خو اُوس درنه هغه جدا شو۔ د بینکم نه مراد د محبت او د نذر او منبنتے او د پیرئ مریدئ تعلقات دی۔

اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ
یقیناً الله چونکے د دانو او اَدوکو دے راوباسی ژوندے د مړی نه او ویستونکے د مړی دے
مِنَ الْحَيِّ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾
د ژوندی نه دا (صفتونو والا) الله دے نو کوم طرف ته ګرځولے شئ تاسو۔

تفسیر : ربط : د مشرکانو په شرك دلیل نشته نو د الله په توحید دلیلونه بیانوی۔دا عقلی دلیلونه دی او دا نعمتونه هم دی، او پدے باندے الله تعالیٰ ډیر څیزونه ثابتوی لکه ددے بیان په سورة البقره آیت (۲۲) کښې ذکر شویدے۔ دلته پکښې یو مقصد بیان د معرفت د الله تعالیٰ دے۔ نو پدے کښې بیان د عظمة د الله تعالیٰ او د هغه د کمال او د هغه د لطف او احسان او حکمة دے، لکه دا د قرآن طریقه ده چه د شرك رد وکړی نو د الله عظمت بیانوی۔او بل مقصد پکښې رد د شرك دے لکه روستو ئے تفریع د رد د شرك په طریقه کړیده۔ او کله پکښې مقصد جلب (راخکل) د عبادت د بندګانو وی چه ددے نعمتونو په مقابله کښې د الله بندګی وکړئ، لکه دلته به دا مقصد هم راځی۔ (ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ) ۔ ځکه چه يو تن الله وبيژنی او دا وبيژنی چه هغه مستحق د عبادت دے، او بيا ورله بندګی نهٔ کوی نو دا نيمګړے شخص دے لکه يو تن تجارت او ګټه پيژندلے ده ليکن ګوتے نهٔ وروړی۔ او پدے کښ به مقصد اثبات د بعث بعد الموت هم وی۔

فَالِقُ الْحَبِّ : فالق د فَلَق نه دے اصل معنیٰ ئے ده چوَول، څيری کول۔ او حاصل معنیٰ ئے ده خالق۔ (زاد المسير)

الْحَبِّ : جمع د حَبَّةٌ ده، يعنی دانے۔

وَالنَّوٰى : جمع د نَوَاةٌ ده، زړی او هډوکی ته وائی۔

يعنی الله تعالیٰ په زمکه کښ دانے اُوچوی نو تازه تيغ، او د کجورے هډوکے اُوچوی نو تازه ونه راوباسی۔ د هغه د قدرت کاريګرئ ته اُوګوره چه د مړی نه ژوندے راوباسی لکه د نطفے نه حيوان او د اُوچے دانے نه سرسبز او تازه ګل راوباسی۔ او د ژوندی نه مړے راوباسی يعنی د حيوان نه د هغه نطفه، يا انډه، او د بوټی نه دانه راوباسی۔ دا هر څه الله کوی، چه د عظيم الشان قدرتونو مالك او د عبادت د تمامو قسمونو تنها مستحق دے۔ بيا دا څنګه عجيبه خبره ده چه انسان د هغه لوی ذات په ځای د بل چا عبادت کوی۔

وَمُخْرِجُ : ئے صيغه د اسم فاعل راوړه دا خو يا عطف دے په (فالق) باندے ځکه چه (يُخْرِجُ الْحَيَّ) آه د (فَالِق) تفسير وو، او مُخْرِج د (فالق) تفسير نهٔ وو پدے وجه ئے دا په صيغه د اسم فاعل سره ذکر کړو، يا دا عطف دے په (يُخْرِجُ) باندے ځکه چه اسم فاعل مشابه دے د فعل مضارع سره، مګر هرکله چه حی اشرف وو د ميت نه نو هغه ئے په لفظ د فعل سره ذکر کړو چه دلالت کوی په اهتمام د فاعل باندے۔ (الرازی واحسن الكلام)

يا راويستل د ژوندی د مړی نه په اول نظر کښ زر ښکاره کيږی، او اول په قدرت کښ د دويم نه ډير ښکاره دے نو ددے وجه نه هغه لائق وو چه د هغے تصور وکړے شی او مقدم کړے شی لکه چه پدے تصوير باندے فعل مضارع دلالت کوی۔ (المنار)

الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ : د اهل لغتو په نيز کوم شے چه نامی (غټيدونکے) وی هغه په منزله د حی (ژوندی) دے او کوم چه نامی نهٔ دے په منزله د ميت دے، نو دے کښ داسے هم وئيلے شی چه تازه ګياه (بوټی) د اُوچے دانے نه او وچه دانه د بوټی نه راوباسی۔ يا ژوندے انسان او حيوان د مړے نطفے يا هګئ نه او مړه نطفه او هګئ د ژوندی انسان او حيوان نه راوباسی۔ (قرطبیؒ)

يا معنوی حياة او موت مراد دے يعنی مؤمن د مشرك نه او مشرك د مؤمن نه، نبی او

عالم د غیر نبي او جاهل نه راوباسي۔
ذٰلِكُمُ اللهُ : يعني د دغه کارونو کونکے خو صرف الله تعالیٰ دے، بل بابا او ولي او بزرګ او بت او معبود نشته چه دا کارونه وکړي۔ او دلته علامه قاسميؒ د دانو او د میوه جاتو او هر قسم بوټو په راوتو کښ د الله د قدرت ډیر دلائل او عجیب رازونه لیکلي دي که د طوالت نه یره نۀ وے نو مونږ به نقل کړي وے، شوق لرونکے دِے هغے ته رجوع وکړي۔
فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ : افك کښ معنیٰ د دروغو ده یعني کومو دروغو طرفته اړولے شئ د الله د توحید او د هغه د بندګئ او د هغه د ایمان بالبعث نه۔ (ابوحیان فی البحر المحیط)

فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ج وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ
څونکے د صبا دے او ګرځولے ئے ده شپه آرام والا او نمر او سپوږمئ
حُسْبَانًا ط ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾
دپاره د حساب، دا اندازه د غالب ذات ده چه پوهه دے

تفسیر : مخکښ د زمکے احوال دلیل وو اوس آسماني احوالو سره دلیل بیانوي۔
فالق الاصباح : دلته مضاف حذف دے [أَیْ فَالِقُ ظُلْمَةِ الْاِصْبَاحِ]۔ یعني څونکے د تیارے دے د صباح نه څکه چه تیارۀ څوي او د هغے نه صبا راوځي۔ یا داسے تعبیر دے : [فَالِقُ ظُلْمَةِ اللَّيْلِ بِالْاِصْبَاحِ] ۔ څونکے د تیاره د شپے دے په صبا ښکاره کولو سره، نو دلته به اصباح په معنیٰ د مصدر سره وي۔ یا فالق په معنیٰ د مُظهر سره دے یعني راښکاره کونکے د صباح دے۔ او څونکه فلق (یعني څول) سبب د اظهار وو نو پدے وجه ئے د فلق لفظ ذکر کړو۔ (البحر المحیط)
الاصباح او صباح او صبح درے واړه یوه معنیٰ ده، ابتداء او شروع د ورځے (یعني صبا) ته وائي۔ (لیثؒ، زجاجؒ، فراءؒ- ابوحیانؒ) مجاهدؒ وائي : اصباح : د فجر رنړا ته وائي۔
او دا هم د الله عجیب قدرت دے چه سمدست رنړا نۀ راکاړي او نۀ سمدست تیاره راولي څکه چه پدے سره په نفسونو باندے بوج راځي بلکه په آرام سره د یو بے پرده د بل نه جدا کړي، پدے کښ د بندګانو دپاره فائدے دي۔ اول الله تعالیٰ صبا کاذب راوخیژوي چه هغه د ذَنَبُ السِّرْحَانِ (د شرمخ د لکئ په شان وي) بیا وروستو صبا صادق راوخیژي چه هغه د سهار د مانځه وخت وي۔

وَجَعَلَ الَّيۡلَ سَكَنًا : شپه کښې دوه قسمه سکون وی، یو دا چه په هغې کښې خوب وکړے شی نو بدن نه چه کوم تحلیل شوے وی هغه په خوب سره بدن ته بیرته راواپس شی ځکه چه دماغ پکښې بند شی نو صحت ئے برابر شی۔ او دے کښې سکون باطنی هم شته ځکه چه د عامے دنیا شر شور ختم شی، او دماغ په آرام شی، کارونه شا ته شی، او بیا پکښې بندګی د الله تعالیٰ بیل سکون دے۔

حُسۡبَانًا : ۱-لِلۡحِسَابِ الۡمُقَرَّرِ، (اَیۡ لِاَجَلٍ مُسَمًّی) یعنی ګرځی دوی په حساب مقرر سره چه هغه یوه خاص نیته ده چه د هغې نه پس به قیامت وی۔ نو حسبانا د حساب په شان د مصدر صیغه شوه۔ (بغویؒ)۲- یا دپاره د حساب د ورځو او میاشتو او کلونو۔

۳- یا دپاره د ویشتو د شیطانانو (رُجُوۡمًا لِلشَّیَاطِیۡنِ)۔ لیکن دا ئے حاصل معنیٰ ده۔

ذٰلِكَ تَقۡدِیۡرُ الۡعَزِیۡزِ الۡعَلِیۡمِ : پدے کښې اشاره ده چه دا تقدیر هیڅوك نشی بدلولے۔ او اشاره ده چه دا خپله په طبیعت او خاصیت سره نهٔ دی پیدا شوی بلکه دا یو فاعل مختار پیدا کړیدی۔ (ابوحیان)

العزیز کښې اشاره ده چه دا هیڅ شے د هغه نه سر نشی اړولے، او علیم کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ ددے په احوالو باندے هم عالِم دے۔

وَهُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوۡمَ لِتَهۡتَدُوۡا بِهَا فِیۡ ظُلُمٰتِ
او الله هغه ذات دے چه ګرځولی ئے دی تاسو له ستوری چه لار موندهٔ کړئ پدے سره په تیارو
الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ ؕ قَدۡ فَصَّلۡنَا الۡاٰیٰتِ لِقَوۡمٍ یَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۷﴾
دوچه او د دریاب کښې یقیناً په تفصیل سره بیان کړیدی مونږ دلیلونه هغه قوم لره چه پوهیږی

تفسیر : دا بل عقلی دلیل دے۔

لِتَهۡتَدُوۡا بِهَا : د هدایت نه لغوی معنیٰ هم مراد ده (چه تاسو لارے مونده کړئ او معلومے کړئ پدے سره) یعنی د ستورو د وجه نه خلکو ته (او خاصکر عربو ته) په کشتو کښې لارے معلومیږی، او په وچه کښې هم کله انسان ګډوډ شی نو ستورو ته په کتو سره هغه معلوموی، او پخوانی خلك پدے ډیر ښه پوهیدل، پدے سره به ئے اَوقات د شپے، یا د کال معلومول، او مشرق او مغرب او جنوب او شمال او سمتِ قبله به ئے د ستورو نه معلومول۔ او پدے کښې د ستورو یوه فائده ذکر ده، او دوه نورے فائدے هم شته چه هغه د

آسمان زینت او د شیطانانو ویشتل دی کوم چه آسمانونو کښې ملائکو ته غوږ اېږدی لکه په سورة الملك (٥) آیت کښې ذکر دی.

علامه شوکانیؒ وائی که ددے درے فائدو نه علاوه څوك د ستورو په باره کښې د بلے کومے خبرے عقیده لری نو هغه به په الله تعالیٰ باندے روغ جوړوی.

فائده : صاحب المنار د علماء الهیئة نه نقل کړیدی چه په آسمان کښې ستوری د شمار نه بهر دی او په ملیارونو دی مگر علماؤ هغه معلوم کړیدی کوم چه زمکے ته نزدے دی او زمونږ د نمر په شان رڼړا والا دی، دے دپاره چه پدے سره زمونږ د رب د علم او د بادشاهئ فراخی معلومه شی، هغه وئیلی دی چه د نور (رڼړا) رفتار د زمانے په اعتبار سره په یوه ثانیه (سیکنډ) کښې (86000) شپږ اتیا زره میله دے او په یو منټ کښې (51600000) پنځوس کروړه شپاړس لاکه میله، او په یو کال کښې (6000000000000) شپیته کربه میله دے او په رصد سره دا خبره موندلے شویده چه مونږ ته چه کوم ستوری ډیر نزدی دی نو د هغے رڼړا مونږ ته په څلور نیم کاله کښې رارسیږی نو دغه ستوری زمونږ نه په څلور نیم نوری کلونو وړاندی دی. او بعض ستوری داسے دی چه د هغے رڼړا مونږ ته زر کاله یا ددے نه زیات کښې رارسیږی نو هغه ستورے چه د هغے نوم (النسر الواقع) دے د هغه رڼړا مونږ ته په دیرش کاله کښې رارسیږی څکه چه د هغه وړاندے والے (180000000000000) میله دے، او د (السماك الرامح) ستوری رڼړا مونږ ته تقریباً په پنځوس کاله کښې رارسیږی څکه چه هغه زمونږ نه (300000000000000) میله وړاندے دے او شعریٰ ستورے چه دا په کښې ډیرے رڼړا والا دے، دا زمونږ نه نهه نُوری کاله وړاندے دے او (اَلْعَیُوْق) ستورے زمونږ نه (٣٢) کاله وړاندے دے.

پدے وجه ئے د آیت په تتمه کښې (لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ) ذکر کړو چه پدے کښې ډیرو علمونو ته اشارے دی. (تفسیر المنار ٧/٥٣٢)

وَهُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّ
او الله هغه ذات دے چه تاسو ئے پیدا کړی یئ د نفس یو نه نو تاسو له ځای د وسیدو دے او
مُسْتَوْدَعٌ ؕ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾
ځای د امانت (قبر) یقیناً په تفصیل سره بیان کړیدی مونږ دلیلونه هغه قوم له چه پو هیږی.

تفسیر : دا بـل عقلی أَنْفُسِی دلیل دے۔ یعنی الله تاسو د یو نفس آدم علیه السلام نه پیدا کړئ بیا هغه تـه ددے انسان د ځایونو معلومات شته چه دے به چرته وسیږی او چرته به آرام کوی۔ نو دا د الله د قدرت لویه نښه ده۔

د ټولو انسانانو د یو نفس نه پیدا کولو کښ د الله د قدرت او د هغه په علم او حکمة او وحدانیت باندے ډیر ښکاره دلیلونه دی، او ددے په ذکر کولو کښ دا رهنمائی ده چه د هغه د نعمتونو شکر واجب دے، او یو بل پیژندل او یو بل سره مینه او تعاون کولو طرفته ترغیب دے او دے تـه اشاره ده چه د دوی ډلو او قبیلو تـه تقسیمول سبب د دشمنئ او د جګړو نهٔ دے۔ (المنار)

فَمُسْتَقَرٌّ : ددے خبر پټ دے اَیْ فَلَکُمْ مُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ) نـو ستاسو دپاره ځای د قراری او ځای د امانت شته۔

د مستقر او مستودع فرقونه

۱- مستقر (ځای د قرارئ او وسیدو) په دنیا کښ دے لکه بقره کښ تیر شوی وو ﴿ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ﴾۔ او مستودع په قبر کښ دے، ځکه قبر د انسان دپاره د امانت ځای دے۔ لکه دا د ﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ﴾ (محمد: ١٩) په شان دے۔ او دا صاحب المنارؒ د ابن مسعودؓ نـه نقل کړیدے۔ یعنی بعض نفسونه دنیا کښ وسیدونکی دی او بعض نفسونه په قبر کښ امانت کیخودلے شویدی۔

۲- مُسْتَقَرٌّ فِي الْاَرْحَامِ وَمُسْتَوْدَعٌ فِي الْقَبْرِ ۔ یعنی پـه رَحِم کښ وسیدل او په قبر کښ کیخودل۔ دا هم الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ (قاله ابن مسعود رضی الله عنه)

۳- مُسْتَقَرٌّ فِیْ أَصْلَابِ الآبَاءِ وَمُسْتَوْدَعٌ فِیْ اَرْحَامِ الْأُمَّهَاتِ ۔ بعض قراری والا وی پـه شاګانو د پلارانو کښ او بعض کیخودلے شوی وی په رحمونو د میندو کښ۔

٤- مستقر : کوم ځای چه د شپے پناهی حاصلوی او مستودع : کوم ځای چه مری۔ (زاد المسیر، والمنار)

۵- مستقر : هغه دے چه ډیره موده پورے ژوندے وی او مستودع هغه دے چه پیدائش سره زر وفات شی۔ أَیْ فَمِنْهَا ذُوْ اسْتِقْرَارٍ وَذُو اسْتِیْدَاعٍ۔ (المنار)

یعنی بعض نفسونه قرارے نیونکی وی ډیرے مودے پورے، او بعض هغه دی چه امانت کیخودے شی یعنی زر وفات شی۔

٦- صاحب المنارؒ وائی : د تولو اقوالو د خلاصے نه روستو ما ته دا خبره ښکاره شویده چه د مستقر نه مراد روح دے (ځکه چه دا مذکر او مؤنث دواړه راځی) او مستودع بدن دے۔ او پدے جمله کښې ددے ټولو اقوالو ګنجائش شته۔ اول قول د نورو دلائلو په وجه راجح دے۔

يَّفْقَهُوْنَ : فقه ژور او باريك علم ته وائی لکه چه د یو شی په راز باندے پوهیدل نو پدے ځیزونو کښې باریکی زیاته ده پدے وجه ئے دلته (يَفْقَهُوْنَ) وویل۔

امام راغبؒ وائی : اَلْفِقْهُ هُوَ التَّوَصُّلُ اِلٰى عِلْمِ غَائِبٍ بِعِلْمٍ شَاهِدٍ فَهُوَ اَخَصُّ مِنَ الْعِلْمِ)۔

فقه : غائب علم ته په حاضر علم سره رسیدو ته وائی نو دا د علم نه خاص دے۔

وَهُوَ الَّذِىْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ج فَاَخْرَجْنَا بِهٖ
او الله هغه ذات دے چه نازل کړی ئے دی د بره نه اوبه نو راویستلے دی مونږ په هغے سره
نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا
ګیاه د هر شی نو راویستلے دی مونږ د هغے نه شینکے، راوباسو مونږ د هغے نه دانے
مُّتَرَاكِبًا ج وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّ
لاندے باندے او د کجورو نه د کخوړو د هغے نه غونچکونه نزدے او باغونه د انګورو او
الزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ط اُنْظُرُوْٓا
ښونۀ او انار چه یو شان دی (په پاڼړو کښې) او نۀ دی یو شان (په میوه کښې)، وګورئ
اِلٰى ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ط اِنَّ فِىْ ذٰلِكُمْ
میوے د هغے ته کله چه میوه ونیسی او پخیدو د هغے ته، یقیناً پدے کښې
لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾
خامخا ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان لری۔

تفسیر: دا بل عقلی دلیل دے دیته وسطی دلیل وئیلے شی، او پدے کښې پنځه ځیزونه د انسان د تربیت دپاره ذکر کیږی، حَب (دانے) دپاره د غذا، نخل دپاره د غذا او تفکه، اعناب دپاره د تفکه او د مشروباتو۔ زیتون دپاره د تیلو، انار دپاره د دوائی وغیره او دا د تربیت

اصول دي۔

د دليل حاصل دا دے : الله تعالیٰ په مخلوقاتو باندے رحم کولو دپاره د وريځے نه اُوبه راوروی، په هغه اُوبو سره قسماقسم بوټی پيدا کوی، بيا هغه بوټی تازه او سرسبز ونه جوړوی، بيا په هغه ونو کښ د غونچکونو په شکل کښ ډيرے دانے پيدا کوی، لکه د غنمو او جوارو او وريژو غونچکونه۔ او د کجورو په ونو کښ کسوړے پيدا کوی چه هغه په آرام آرام سره د غونچك شکل اختياروی، او هغه يو بل سره نزدے وی او ځه لرے هم وی۔ دغه شان الله تعالیٰ د اُوبو په ذريعه د انګورو باغونه خوروی۔ او زيتون او انګور پيدا کوی، چه د هغے نه بعض خو په شکل او هيئت او رنګ او ذائقه کښ د يو بل مشابه وی او بعض مشابه نهٔ وی۔ او د هغے نه لږ خو اُوګوره چه کله ميوه راوځی نو څنګه کمزوری او بيکاره شان وی، او چه کله پخه شی نو څنګه فائده منه او خوندوره وی۔ يقيناً پدے ټولو څيزونو باندے د عبرت نظر انسان ته دعوت ورکوی چه هغه ددے د پيدا کونکی په عظيم قدرت باندے ايمان راوړی۔

مَآءً : يعنی سبب ئے يو دے چه اُوبه دی او مسببات (بوټی) جدا جدا دی، نو دا د الله د قدرت او د توحيد لويه نښه ده۔

نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ : يعنی هر قسم بوټی۔ عالَمُ النبات والا وائی چه په دنيا کښ اتيا زره نوعه بوټی دی۔

فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ : (ه) ضمير نبات ته راجع دے۔يا ماء ته يا كل شیء ته۔

خَضِرًا : يعنی شينکيانی او شنه بوټی، او شنه تيغونه۔

نُخْرِجُ مِنْهُ : (ه) ضمير خضر (شين بوټی) ته راجع دے۔

حَبًّا مُّتَرَاكِبًا : يعنی دانے يو بل دپاسه لکه د غنمو او وريشو او جوارو وږی شو۔ دا د هغه وړوکو بوټو بيان شو چه پنډۍ نهٔ لری۔

وَمِنَ النَّخْلِ : نخل جمع او مفرد دواړه استعماليږی او جمع ئے نخيل ده۔ او دا خبر مقدم دے او (مِنْ طَلْعِهَا) د هغے نه بدل دے او روستو (قِنْوَانٌ) ئے مبتدا ده۔

طَلْعِهَا : طلع : اَوَّلُ مَا يَطْلُعُ اَیْ يَظْهَرُ مِنْ زَهْرِهَا) اول هغه ګل چه راښکاره کيږی چه د هغے نه ميوه پيدا کيږی، مراد ترے نه کسوړی دی چه دے ته کافور هم وئيلے شی۔ (المنار) او پدے سره ئے حفاظت کيږی۔

قِنْوَانٌ : جمع د قِنْوٌ ده، هغه غونچك ته وائی چه په هغے کښ ميوه وی۔ او ددے تثنيه او

جمع په وزن کښې شریکه ده.

دَانِیَةٌ : یو بل ته نزدے، یا رانیونکو ته نزدے دي. او بل طرف (غَیْرُ دَانِیَةٍ) ئے نهٔ دے ذکر کړے، مقایسةً یعني بعض لرې دي. دا خبره ځینو مفسرینو کړیده لیکن دا خبره خطاء ده ځکه چه د کجورو تولې میوے اصل النخل (د کجورے بیخ) ته نزدے وي او پدے باندے څه عقلي یا نقلي دلیل نشته.

وَّجَنّٰتٍ : دا منصوب دے عطف دے په (حَبًا) باندے أَیْ نُخْرِجُ مِنَ الْخَضِرِ جَنّٰاتٍ. مونږ د دغه شین بوټي نه باغونه د انګورو راویاسو.

مُشْتَبِهًا وَّغَیْرَ مُتَشَابِهٍ : دا حال دے صرف د رُمان (انار) نه ځکه چه په هغے کښې بعض په صفاتو کښې د یو بل مشابه وي لیکن په خوندونو کښې نهٔ وي ځکه چه بعض انار خوارهٔ او بعض تراوهٔ او بعض ترخه دي. یا حال د مجموعه زیتون او رُمان نه دے.

او مفسرینو دلته مشتبه او متشابه یوه معنیٰ اخستے ده،

مګر غوره دا ده چه فرق شته، د [اِشْتَبَهَا] معنیٰ ده دوه څیزونه یو بل سره د سخت مشابهت په وجه ګډوډ کیدل او د تَشَابَهَا معنیٰ ده یو څیز د بل سره یو شان کیدل اګرکه په بعض وجوه او صفاتو کښې وي، نو دا عام دے د اول نه، او دا خبره یقیني ده چه بعض مذکوره څیزونه یو بل سره یو شان وي لیکن نهٔ ګډوډ کیږي او بعض یو بل سره داسے یو شان وي چه په بنده ګډوډالے راولي تردے چه په ماهر باغبان باندے هم راځي. (المنار۷/۵۳۵)

او دغه شان زیتون او رمان په پاڼو کښې یو شان دي چه نظر کونکي باندے اشتباه راولي او په میوه کښې مشابه نهٔ دي.

مُشْتَبِهًا فِي اللَّوْنِ وَغَیْرَ مُتَشَابِهٍ فِي الطَّعْمِ وَالْمَنْفَعَةِ. یعني یو بل سره په رنګ کښې مشابه دي او په خوند او فائده کښې مشابه نهٔ دي.

اُنْظُرُوْآ : د عبرت او استدلال نظر مراد دے. ځکه چه بعض میوے په زمکه پیدا کوي او بعض په ونه کښې پورته. وجه دا ده چه بعض لوي وي چه که په ونه کښې وي او په انسان باندے راپریوځي نو میوه به هم ضائع شي او انسان ته به هم تکلیف ورسي.

اِلٰی ثَمَرِهٖٓ : (ه) ضمیر الله ته راجع دے. یا راجع دے هر یو ددے میوو ته.

اِذَآ اَثْمَرَ : کله چه میوه ونیسي.

وَیَنْعِهٖ اَیْ اِلٰی یَنْعِهٖ.(اَوْ اِلٰی حَالِ نَضْجِهٖ) او ددے پخیدو ته. یعني د هر یو ددے دواړو حالونو کښې سوچ وکړئ اول سر او بیا وخت د پخیدو ته، نو د الله قدرت او لطف او حکمة

به درته معلوم شی، څکه ئے وریسے (لآیَاتٍ) ذکر کړل. او هره میوه کښ الله تعالیٰ یو خصوصیت پیدا کړیدے چه په بدن کښ د کمزورو موادو پوره والے کوی.

یَنْع د مصدر صیغه ده په معنیٰ د نَضْج (پخیدو) سره او ضمیر مخکښ هر یو ته راجع دے. او د ابن الانباریؒ نه نقل دی چه یَنْع جمع د یَانِع ده لکه رَکْبٌ او رَاکِبٌ او تَجْرٌ او تَاجِرٌ یعنی پخے میوے. (قرطبی ۷/۵۰)

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ: یعنی بالفعل مؤمنانو دپاره پکښ د الله په عظمت ډیر لوی دلائل دی، او د ایمان اراده لرونکو دپاره هم ډیر لوی د الله د قدرت دلائل موجود دی. او هرچه نور خلك دی نو د هغوی نظر داسے دے لکه د ماشوم په شان اګرکه د عالم النبات د رازونو نه خبردار وی لیکن د هغوی نظر خالق او مدبر طرفته نهٔ پورته کیږی. (المنار)

پدے آیتونو کښ د موجود بلاغت دپاره تفسیر المنار (۷/۵۳۶) ته رجوع وکړئ.

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ
او ګرځولی دی دوی الله لره شریکان پیریان او پیدا کړی دی الله دوی
وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ
او جوړ کړی دی دوی (په دروغه) الله لره ځامن او لونړهٔ بغیر د پوهے نه، پاك دے الله تعالیٰ
وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾
او اُوچت دے د هغے نه چه دوی ئے ورله بیانوی.

تفسیر: کله چه عُلوی او سفلی (یعنی پورته او ښکته) عالَم سره د الله په عظیم قدرت او حکمت باندے دلائل پیش کړے شو، او د هغه ورکړی قسماقسم نعمتونه ذکر شو او دا ثابته شوه چه د عبادت مستحق صرف هغه ذات دے، نو اُوس د مشرکانو زجر او توبیخ او د هغوی د شرکی اعمالو رد کیږی.

چونکه مشرکانو د بتانو عبادت د جناتو په حکم سره کړے وو پدے وجه ګویا که دوی د جناتو عبادت کړیدے. حال دا چه د الله نه سویٰ هیڅوك خالق نشته، نو بیشکه چه همدا بغیر د شرکت د بل چا نه د هر قسم عبادت مستحق دے. په راتلونکی آیت کښ د هغه خلقو ګمراهی بیان شویده چه د الله په باره کښ دروغ جوړوی او چا لره د الله ځوی یا لور

جوړوي، لکه چه یهودیانو عزیر علیه السلام او نصاراؤ عیسیٰ علیه السلام ځوی ګڼړلو. او د عربو مشرکانو به د ملائکو په باره کښې دا عقیده ساتله چه دا د الله لونړۀ دي. الله تعالیٰ د داسے قسم تمامو حوادثو او ناقصو صفاتو نه په یو ځل پاك دے.

اَلْجِنَّ: دا بدل دے د (شرکاء) نه او هغه مفعول د (جَعَلُوْا) دے.

نو پدے آیت کښې په مشرکین بالجن باندے رد دے لکه چه ډیر خلك پیریان د الله سره شریکان جوړوي او د هغوی نه یرے کوی لکه څنګه چه د الله نه یره کیږی او د هغوی په نوم منښتے کوی او د مکے مشرکانو به د پیریانو نه مددونه غوښتل. اَعُوْذُ بِسَیِّدِ هٰذَا الْوَادِیْ مِنْ سُفَهَاءِ قَوْمِهٖ] - (پناه غواړم په سردار ددے وادی د بیوقوفانو د قوم د هغه نه). او اُوس هم عام جادوګر د پیریانو په واسطه جادو کوی او د هغوی نه پکښې مددونه غواړی.

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی: دا آیت د زنادقه ؤ په باره کښې نازل دے چه هغوی وائی (العیاذ بالله) چه الله او ابلیس دواړه ورونه دی، نو الله خالق د انسانانو او حیواناتو او چارپیانو او د هر خیر دے، او ابلیس خالق د درنده ګانو، مارانو او لړمانانو او د هر شر دے. (تفسیر الامام الطبرانیؒ والقاسمیؒ)

وَخَلَقَهُمْ: (هُمْ) ضمیر جن ته راجع دے، یا مشرکانو ته. یعنی پیریان خپله مخلوق دے هغه د الله سره څنګه شریك کیدلے شی؟ یا تاسو خو د الله مخلوق یئ او شرك د هغه سره کوئ.

وَخَرَقُوْا: خرق په معنیٰ د بی اندازے او بی نظامه او بی فکره د دروغو وئیلو سره دے او په معنیٰ د څیری کولو دے. او امام راغبؒ وائی خرق: یو شے پریکول په طریقه د فساد په غیر د اندازے او ترتیب نه. (او په غیر د تدبر او فکر نه) او دا ضد د خلق دے چه هغه یو کار کول دی په اندازه او نرمئ سره، یعنی دوی الله لره د دروغو څامن وئیلی دی.

بِغَیْرِ عِلْمٍ: یعنی دوی ته ددے وینا د حقیقت هیڅ معلومات نشته چه خطاء ده او که رسا بلکه اټکله خبره ده. او پدے کښې د خرق د معنیٰ تاکید دے. او دا د قرآن کمال دے چه د یو شی معنیٰ په روستو کلماتو سره کوی. (کشاف)

بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط اَنّٰی یَکُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ
ناشنا پیدا کونکے د آسمانونو او د زمکے دے، څرنګه کیدے شی هغه لره اولاد

وَلَمْ تَكُنْ لَّهُ صَاحِبَةٌ ط وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ج وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٠١﴾
او نشته هغه له ښځه او پیدا کړے ئے دے هر شے، او هغه په هر شي پوهه دے۔

تفسیر: اُوس د دغه مخکنو خلکو نور رد ذکر کوی په څلورو طریقو سره چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه بغیر د اصل سابق نه پیدا کړیدی، هغه فاعل او مؤثر مطلق دے، هغه د هیڅ شي اثر نۀ قبلوی، او پلار د ځوی عنصر (اصل) وی او منفعل کیدو سره د هغه اثر قبلوی، هله د ځوی ماده د هغه نه رامنتقل کیږی، پدے وجه د الله هیڅ ځوی نشته۔

۲- او پدے وجه هم د الله ځوی نشي کیدے چه د هغه کومه ښځه نشته، او بغیر د دوه همجنسو د ملاویدو نه هلك نۀ پیدا کیږی او د الله هیڅ همجنس نشته۔

۳- او پدے وجه هم د هغه ځوی نشي کیدے چه الله تعالیٰ هر شے پیدا کړیدے، او د هغوی نه هغه شخص هم دے چه مشرکانُ ئے د الله ځوی جوړوی، او مخلوق د خالق ځوی نشي کیدے، ٤- او پدے وجه هم د هغه ځوی نشته چه د الله تعالیٰ علم تمام معلومات راګیر کړیدی، هیڅ شے د هغه نه پټ نۀ دے۔ که د هغه ځوی وے نو هغه به هم پدے صفاتو سره متصف کیدے، هغه به هم د هر شي علم لرلے حال دا چه دا صفت د غیر الله نه بالاجماع منفی دے، (افاده ابو السعودؒ قاله القاسمیؒ)

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج خَالِقُ
دے (کارونو والا) الله دے، رب دے ستاسو، نشته لائق د عبادت سِویٰ د هغه نه، پیدا کونکے
كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ج وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿١٠٢﴾
د هر شي دے پس بندګی خاص کړئ هغه لره، او هغه په هر شي باندے ذمه وار دے۔

تفسیر: پدے کښې نتیجه ده د مخکنو دلیلونو او پدے کښې اثبات د توحید د ربوبیت، الوهیت او خالقیت او د تصرف دے۔

فَاعْبُدُوْهُ : دا تفریع ده په ماقبل باندے چه هر کله الله تعالیٰ خالق دے او مستحق د عبادت دے نو خالص د هغه بندګی وکړئ۔

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ : یعنی د الله عبادت پدے وجه هم کول پکار دی چه د مخکنو صفاتو په وجه سره هغه په ذاتی طور باندے د معبود جوړیدو مستحق دے او

پدے وجه هم چه هغه د تمام مخلوق کارساز دے۔

هرکله چه په عبادت کښې انسان د الله مدد او توکل ته محتاج دے، نو دلته ئے د عبادت نه روستو توکل ذکر کړو۔ دارنګه لکه چه الله تعالیٰ خالق د اشیاؤ دے نو بیرته تصرف هم د هغه په کښې چلیږی، د بل چا واك نشته۔

حکمة : په سورة المؤمن آیت (٦٢) کښې (خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ) په (لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ) باندے مقدم ذکر دے ددے څه وجه ده ؟ نو وجه دا ده چه دلته رد په مشرکانو شروع دے، نو پدے کښې کلمه د توحید مخکښې کول مناسب دی او په سورة المؤمن کښې بحث د الله د خلق (پیدائش) او د هغه د نعمتونو دے نو هلته خَلق مخکښې کول او توحید روستو کول مناسب دی ځکه چه توحید نتیجه ده د دغه نعمتونو۔ (المنار٧/٥٤٣)

لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ز وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ج
نشی راګیرولے هغهٔ لره نظرونه او هغه راګیروی نظرونو لره
وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٠٣﴾
او هغه باریك څیزونو لره لیدونکے، خبردار دے۔

تفسير : پدے آیت کښې د الله بل قسم تعارف او د هغه څلور صفتونه ذکر دی۔ او ددے دوه مطلبه بیان شویدی یو دا چه د تیر شوی آیت په آخری جمله کښې چه کومه خبره بیان شوه چه الله تعالیٰ د تولو نګرانی کوی، نو د هغے تاکید پدے آیت سره کوی چه هغه تمام څیزونه وینی، هیڅ شے د هغه نه پټ نهٔ دے، او پدے کښې مقصد د بندګانو یره ول دی، چه الله تعالیٰ لره اګرکه ظاهری سترګے نشی لیدلے لیکن هغه هر څه وینی۔ پدے وجه د هغه د نیولو نه بچ کیدل پکار دی۔

(٢) او دویمه معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ لره د دنیا والو سترګے نشی لیدلے نو بیا دا څنګه کیدے شی چه یو دنیاوی وجود لرونکے شخص د هغه څوی وګنړلے شی ؟!۔

د آیت نه دا هم ثابته شوه چه په دنیا کښې الله تعالیٰ لره هیڅوك نشی لیدلے۔ د حدیث نه هم دا ثابته ده۔ بخاری او مسلم د عائشه رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه څوك تا ته دا ووائی چه محمد (ﷺ) خپل رب لیدلے وو نو هغه دروغژن دے۔ دے نه روستو هغے دا آیت تلاوت کړو۔ لیکن دا خبره د رسول الله ﷺ نه په تواتر سره ثابته ده چه مؤمنان به الله

تعالیٰ لره د محشر په میدان کښ او په جنت کښ وینی۔

بخاریؒ او مسلمؒ د جریر بن عبد الله بَجَلی رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه مونږ د نبی کریم ﷺ سره ناست وو چه هغه څوارلسمے سپوږمئ طرف ته وکتل ویے وئیل :

[اِنَّكُم سَتَرَوْنَ رَبَّكُم كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ]) (بخاری : ٥٥٤) (مسلم : ١٤٤٦)

چه یقیناً تاسو به خپل رب داسے وینئ لکه څنګه چه دا سپوږمئ وینئ)۔

ددے آیت نه معتزله ؤ استدلال کړیدے چه الله تعالیٰ هیڅکله نهٔ لیدلے کیږی نهٔ په دنیا کښ او نهٔ په آخرت کښ، او دا غلطه عقیده ده ځکه چه دا خو بیا عدمِ محض جوړیږی چه د هغه لیدل نا ممکن وی، او حال دا چه دلته الله تعالیٰ خپل عظمت او خپل کمال بیانوی لیکن د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د وئیلے شوے قاعدے مطابق چه آیت کښ سوچ وکړے نو په همدے آیت کښ د دوی پدے دلیل باندے رد موجود دے او هغه دا چه دلته الله تعالیٰ [لَا تَرَاهُ الْأَبْصَارُ] نهٔ دے وئیلے چه سترګے الله تعالیٰ لره نشی لیدلے۔ بلکه (لَا تُدْرِكُ) ئے وئیلے دے او ادراك احاطے ته وائی یعنی د بندګانو دنیاوی نظر دومره لوی نهٔ دے چه الله تعالیٰ په خپل نظر کښ راګیر کړی، د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه تپوس وشو (وفی روایة عن عکرمة) چه دا څنګه کیدے شی چه یو شے به ښکاری او په نظر کښ به نهٔ راګیریږی؟ نو هغه جواب ورکړو : [أَتَرَى السَّمَاءَ ؟] آیا تهٔ آسمان وینے ؟ هغه ووئیل : آؤ، آیا تهٔ دا ټول رالاندے کولے شے؟ هغه ووئیل : نهٔ، نو الله خو ددے نه ډیر اجل او اعظم دے۔

نو د عدم احاطے نه عدم رؤیة نهٔ لازمیږی لکه څنګه چه د عدم احاطے د علم نه عدم علم نهٔ لازمیږی لکه الله فرمائی : ﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا﴾ (طه : ١١٠)

بندګان الله تعالیٰ لره په خپل علم کښ نشی راګیرولے۔ نو ددے مطلب خو دا نهٔ دے چه ګنے الله تعالیٰ باندے د بندګانو بیخی علم نشی راتللے۔

او لکه په حدیث کښ دی : [لَا أُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ] زهٔ تا باندے ثناء نشم راګیرولے۔ نو ددے نه دا نهٔ ثابتیږی چه ګنے د الله ثناء نهٔ وئیلے کیږی۔ (تفسیر ابن کثیر٣/ ٣١٠)

بندګان آسمان لره وینی لیکن د هغے حقیقت او وزن او اندازه ورته نهٔ ده معلومه نو الله خو خالق د کائناتو دے۔

صاحب المنارؒ وائی : ادراك کښ معنیٰ د لحوق (پیوسته کیدو) او د یو شی انتهاء ته د رسیدو ده، پدے وجه مفسرینو د ادراك معنیٰ په احاطے د رؤیة سره کړیده۔ نو دا جمله به د ﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا﴾ په معنیٰ سره شی۔ او د آیت او د صحیح احادیثو د جمع او تطبیق

دا ډیره قوی طریقه ده چه د لغت نه خپله ثابته شوه۔
پدے کښې ځینې مفسرین تاویلي معنے کوی لکه (۱) لَاتُدْرِکُهُ الْأَبْصَارُ اَیْ فِی الدُّنْیَا] په دنیا کښې ئے سترګے نشي لیدلے۔ (۲) یا الابصار کښې الف لام استغراقي دے۔ اَیْ جَمِیْعُ الْاَبْصَارِ۔ یعنی ټول نظرونه ئے نشي راګیرولے، اوبعض مؤمنان به ئے په آخرت کښې وینی۔ یا لا تدرکه الابصار سالبه مهمله ده په قوت د جزئیه کښې ده، نو معنیٰ دا ده چه (لَاتُدْرِکُهُ بَعْضُ الْاَبْصَارِ] یعنی بعض نظرونه الله تعالیٰ لره نشي لیدلے چه هغه د کافرانو نظرونه دی۔ (شرح المواقف والقاسمی)
(۳) یا د ابصار نه مراد عقول (عقلونه) دی۔ (ابن کثیر والمنار) اول قول اصح دے ځکه چه د لغت او شرع موافق دے۔
وَهُوَ یُدْرِكُ الْاَبْصَارَ :[اَیْ یَرَی الْعُیُوْنَ الْبَاصِرَةَ او قُوَی الْاِبْصَارِ الْمُوْدَعَةِ فِیْهَا رُؤْیَةَ اِدْرَاكٍ وَاِحَاطَةٍ] یعنی الله تعالیٰ سترګو لره او په سترګو کښې چه کوم د لیدلو طاقت کیخودلے شویدے هغه داسے وینی چه په لیدو کښې ئے راګیروی چه د هغے هیڅ حقیقت د هغه نه پټ نهٔ دے، انسانانو هر څو مره د سترګے طبقات، او رطوبات او د هر یو وظائف او ډیر قدرتونه د الله تعالیٰ معلوم کړیدی لیکن د رؤیة (لیدلو) حقیقت او پدے کښې د رڼړا حقیقت او د لیدو د قوت حقیقت او د هغه کنکشن چه د لیدونکی او د لیدلے شوی شی ترمینځ دے هغه ئے نهٔ دے معلوم کړے۔لکه په لسان العرب کښې د ابواسحاقؒ نه نقل دی چه الله تعالیٰ خبر ورکړیدے چه الله نظرونه وینی نو پدے خبر کښې دلیل دے چه مخلوق د لیدو راګیرول نشي کولے یعنی دوی د سترګے حقیقت نهٔ پیژنی او نهٔ دا پیژنی چه دا څه شے دے چه انسان د هغے په ذریعه د سترګو نه لیدل کوی نهٔ د نورو اندامونو نه، آه۔ (المنار)۔
نو د الابصار نه مراد ظاهری سترګے او په هغے کښې دننه دید، دواړو ته وئیلے شی۔
ځکه ئے وروسته اللطیف الخبیر راوړیدے۔ لطیف هغه ذات ته وائی چه باریك ځیزونه وینی، اوخبیر هغه دے چه په باطنی ځیزونو عالِم وی۔ لطیف په بل مقام کښې مهربان ته هم وائی۔ یا لطیف : معنیٰ ده : نرمی کونکے دے د بندګانو سره، ❁ راویستونکے دے نری ځیزونو لره، ❁ او د هغے د حقیقتونو راښکاره کونکے دے۔

قَدْ جَآءَ كُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ج فَمَنْ
یقیناً راغلی دی تاسو ته دلیلونه د عقل د طرفه د رب ستاسو نه پس چا

اَبۡصَرَ فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ عَمِیَ

چه پوهه حاصله کړه (ددې دلیلونو نه) نو فائده ئې د ځان دپاره ده، او څوك چه ړوند شو

فَعَلَيۡهَا ؕ وَمَآ اَنَا عَلَيۡكُمۡ بِحَفِيۡظٍ ﴿۱۰۴﴾

(ددې نه) نو وبال به په هغه باندې وی او نۀ یم زۀ په تاسو ساتنه کونکې.

تفسیر: اُوس الله تعالیٰ دې مخکنو دلائل ته ترغیب ورکوی چه ددې نه عبرت واخلئ چه هرکله تاسو ته د الله تعالیٰ د طرفنه دلائل راغلل نو خپل الله وپیژنئ او د هغه سره شریکان مۀ جوړوئ او د هغه خالصه بندگی شروع کړئ، که بصیرت در پکښې وی.

بَصَآئِرُ مِنۡ رَّبِّكُمۡ: بصائر جمع د بَصِيرَةٌ ده. [اَیِ الآيَاتُ وَالدَّلَائِلُ الَّتِیۡ تُبۡصِرُوۡنَ بِهَا الۡهُدٰی مِنَ الضَّلَالَةِ] (القاسمیؒ) یعنی د عقلمندئ دلیلونه چه بصیرت زیاتوی او تاسو پرې هدایت د گمراهئ نه جدا وینئ)

ابن کثیرؒ وائی: دلته د بصیرت نه مراد هغه دلائل او نخې دی چه هغه الله په قرآن کریم کښې او رسول الله ﷺ په خپل سنت مبارکه کښې بیان کړیدی. څوك چه ددې دلائلو نه فائده اُوچتولو سره د حق اعتراف او اقرار وکړی او پدې باندې ایمان راوړی نو د هغې فائده به دۀ ته رسیږی او څوك چه په خپلو سترگو باندې پټئ اُوتړی او حق قبول نکړی، نو د هغې بد انجام به هغه ته رسیږی. دې نه روستو د رسول الله ﷺ په ژبه وویل شو چه زۀ ستاسو نگران او نگهبان نۀ یم چه تاسو د گمراهئ نه بچ کړم، زۀ خو صرف یرونکې یم. ستاسو عملونه خو الله لیکی، او تاسو ته به د هغې بدله درکوی.

او بصیرت هغه دلیل ته وائی چه په یو شی باندې عقلمندی او علم ثابتوی. (القاسمیؒ) او په اصل کښې نور القلب (د زړه رنړا) ته وائی. (فتح القدیر للشوکانیؒ)

فَمَنۡ اَبۡصَرَ: چا چه حق ولیدو پدې دلیلونو سره. نو د خپل ځان دپاره ئې ولیدل یعنی فائده به ئې دۀ ته رسیږی. (القاسمیؒ)

فَلِنَفۡسِهٖ: فائده به ئې ځکه وشی چه د الله معرفت به ورته حاصل شی او دا ډیر اوچت شے دے او حق ته به ورسیږی.

وَمَنۡ عَمِیَ: یعنی څوك چه ترې ړوند پاتے شو او د الله معرفت ئې پدې دلائلو ونکړو او حق او توحید ئې پرې ونۀ پیژندو نو جهنمی شو.

وَمَآ اَنَا عَلَيۡكُمۡ بِحَفِيۡظٍ : [اَیْ لِاَعْمَالِکُمْ وَاَقْوَالِکُمْ] : دا د رسول الله ﷺ بیان دے چه زه ستاسو نگهبان او ساتونکے د اعمالو او د خبرو نهٔ یم بلکه زما کار صرف بیان دے۔
۲- یا حفیظ په معنیٰ د ساتونکی د هلاکت او عذابونو نه۔
۳- یا راګیرونکے د عملونو په علم او په قدرت کښ۔ (ابن کثیرؒ)
٤- وَكِيۡلٌ مَسْئُوْلٌ۔ (ایسر التفاسیر) یعنی زهٔ ذمه وار او مسئول نهٔ یم۔

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الۡاٰيٰتِ
او دغسے په تفصیل سره بیانوو مونږه آیتونه (دے دپاره چه خلق ترے هدایت واخلی)
وَلِيَقُوۡلُوۡا دَرَسۡتَ
او دے دپاره چه ووائی دوی تا لوستلے دے (د فلانی نه)
وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾
او دے دپاره چه بیان کړو مونږ دا دپاره د هغه قوم چه پو هیږی۔

تفسیر : پدے آیت او روستنی آیت کښ بیا قرآن کریم ته ترغیب دے۔ او ورسره د دریمے عقیے بیان دے۔

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الۡاٰيٰتِ : دا جواب د سوال وو۔ الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ خپل آیتونه او دلائل په مختلف انداز او ګنړو طریقو سره بیان کړیدی، پدے باره کښ مشرکانو خبرے او اعتراضونه شروع کړل چه قرآن یوه خبره ولے بار بار بیانوی؟ نو ددے په جواب کښ الله تعالیٰ وفرمایل چه هغه خپل آیتونه په مختلف انداز کښ ددے دپاره بیانوی چه په مخالفینو باندے په پوره طریقے سره حجت قائم شی، او دے دپاره چه مشرکان او کافران دا ووائی چه اے محمده ! تا دا هرڅه د اهل کتابو نه زدهٔ کړیدی۔
ابن عباس ؓ وائی چه رسول الله ﷺ چه به کله مکے والو ته قرآن لوستلو نو وئیل به ئے چه تا دا تول د (يَسَار او جَبْر) دوه رومیانو نه زدهٔ کړیدی، او دعویٰ کوے چه دا د الله کلام دے۔
نو الله تعالیٰ خپل آیتونه په مختلف انداز کښ ددے دپاره هم بیانوی چه د حق طلبګارو دپاره دا قرآن صفا صفا بیان کړی دے دپاره چه هغوی د حق اتباع وکړی او د باطل نه ځان

وساتي۔

او د عقبې حاصل دا دے چه کله یو داعي د حق بیان شروع کړي لکه رسول الله ﷺ چه کله قرآن کریم بیانول شروع کړل نو مشرکانو کله په یوه طریقه او کله په بله طریقه انکار کولو، نو کله به ئے دا وئیل چه دا چه کومے خبرے او مسئلے بیانوي نو دا دهٔ خپلے خبرے نهٔ دي بلکه دا ئے د اهل کتابو نه زده کړیدي، د هغوي شاګرد دے او الله ورته وحي نهٔ ده کړے او د اهل کتابو اِزم او دین دلته راوړي، او زمونږ د پلار نیکه لاره او طریقه پرے خرابوي د خپلے مشرئ او عزت دپاره (په رسول الله ﷺ باندے ئے دروغ او بدنامه لګوله چه دا ئے په مکه کښې د جَبُر او یسار دوه هلکانو رومیانو نصرانیانو نه یاد کړیدے - (ابن عباسؓ) قرطبیؒ)

او کله به ئے وئیل چه په مکه کښې د یو رومي غلام نه ئے یاد کړیدے چه هغه به توري جوړولے، او رسول الله ﷺ به د هغه خوا ته زیات ورتللو - المنار)

او دا طریقه د ټولو باطل پرستو ده چه څوك حق بیانوي نو هغه باندے به دا اعتراض کیږي چه تا دا علم د غلطو خلکو نه زده کړیدے او تهٔ د وهابیانو شاګرد ئے، نو پدے طریقه د خلکو زړونه د حق نه اړوي (څکه پدے طریقه سره د خلکو په زړونو کښې شکونه پیدا کیږي) نو د دوي په مقابله کښې حق همیشه بیانول پکار دي او دوي به خپل اعتراضونه کوي هیڅ پرواه ئے مهٔ لره۔

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ : اَيْ لِمُرِيْدِي الْهِدَايَةِ ۔ یعني دغه شان مونږ بار بار او قسماقسم بیانوو آیتونه دپاره د اراده لرونکو د هدایت۔ یا داسے تعبیر دے [لِيَهْتَدِيَ بِهَا الْمُسْتَعِدُّوْنَ لِلْاِيْمَانِ عَلَى اخْتِلَافِ الْعُقُوْلِ وَالْاَفْهَامِ] (المنار) دے دپاره چه د ایمان اراده لرونکي ترے هدایت واخلي اګرکه د هغوي عقلونه او فهمونه به مختلف وي۔

تصریف : یوه خبره او مضمون په مختلفو تعبیرونو او اندازونو سره کولو ته وائي۔

وَلِيَقُوْلُوْا : یعني یو غرض خو هدایت ته د خلکو دعوت دے، او دے دپاره چه په هغوي باندے حجت هم قائم شي چه په خبره پوهه شي او بیا هم ایمان نهٔ راوړي نو الله به ئے راګیروي۔

او دویم غرض د قرآن په رالیږلو کښې دا دے چه خلك پرے امتحاناً ګمراه شي او پدے باندے اعتراضونه وکړي۔ او دا عاقبتي غرض دے چه خپله د فاسد فطرت والو نه راپیدا کیږي۔ نو په ولیقولوا کښې به لام د عاقبت وي۔

دَرَسْتَ : اَيْ تَعَلَّمْتَ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ وَلَيْسَ بِوَحْيٍ ۔ یعني تا دا کتاب د اهل کتابو نه زده

کریدے او دا وحی د الله د طرفنه نهٔ ده۔ (المنار)

علامه قرطبیؒ وائی : دا جمله عطف ده په پټه جمله باندے [اَیْ نُصَرِّفُ الْآیَاتِ لِتَقُوْمَ الْحُجَّةُ عَلَیْهِمْ وَلِیَقُوْلُوْا دَرَسْتَ] ۔ یعنی مونږ بار بار آیتونه بیانوو دے دپاره چه په دوی باندے حجت قائم شی۔

وَلِنُبَیِّنَهٗ لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ : یعنی علم والو دپاره ئے بیانوو چه هغوی ترے فائده واخلی او دا نور پرے اعتراضونه وکړی۔ او ددے مثال داسے دے لکه ﴿وَلَا یَزِیْدُ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا خَسَارًا﴾ (اسراء :۸۲) قرآن کریم د ظالمانو تاوان زیاتوی چه اعتراض پرے وکړی۔ ﴿یُضِلُّ بِهٖ کَثِیْرًا وَیَهْدِیْ بِهٖ کَثِیْرًا﴾ (الله گمراه کوی پدے سره ډیر خلك او هدایت کوی پدے سره ډیروته)۔

صاحب المنار وائی : دا جمله رد دے په دغه معترضینو مشرکانو باندے چه هغوی وائی چه دا آیتونه تا د بل چا نه لوستلی دی نو دوی لوی جاهلان دی، ددے آیتونو په مقصد ئے ځان نهٔ دے پوهه کړے کوم چه الله په مختلفو طریقو ذکر کړیدی، او ددے په راز باندے نهٔ دی خبر په کوم باندے چه د دنیا ټول منافع قربانول پکار دی، او کوم خلك چه ددے آیتونو په مقاصدو پوهیږی او ددے نه د ښائسته هدایت اخستو په انجام پوهیږی نو هغوی پدے کښې سوچ کولو سره د قرآن کریم حقیقت پیژنی۔ (المنار)

لنبینه : (ه) ضمیر دغه آیات ته راجع دے په تاویل د قرآن یا قول یا مذکور سره۔

اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ ج لَآ
تابعداری وکړه د هغه څه چه وحی شویده تا ته د طرف د رب ستا نه نشته
اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِکِیْنَ ﴿۱۰۶﴾
لائق د عبادت مگر هغه دے، او مخ واړوه د مشرکانو نه۔

تفسیر : یعنی هرکله چه دوی په تا باندے اعتراضونه کوی نو د دوی پرواه مهٔ کوه، بلکه د خپل رب د وحی تابعدار وسیږه۔ پدے آیتونو کښې رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته تعلیم او د دعوت آداب بیانوی۔

اِتَّبِعْ : یعنی په قرآن عمل کوه او د خلکو پرواه مهٔ ساته۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ : دا په مینځ کښې ددے دپاره وائی چه د الله نه سِویٰ بل اِلٰه نشته نو بل څوك داسے کتاب نشی رالیږلے او چه اهل کتابو ته ددے د جوړولو طاقت ملاؤ شو نو بیا

خو دوی د الله سره (العیاذ بالله) په طاقت کښې شریك شو۔ او د الله د وحی تابعداری ځکه پکار ده چه اُلوهیت صرف د الله دے نو خبره به هم صرف د هغه منلے کیږی۔

وَاَعۡرِضۡ عَنِ الۡمُشۡرِكِیۡنَ : ۱- اَیۡ عَمَّا یَدۡعُوۡنَكَ ۔ یعنی دوی چه تا ته کوم دعوت درکوی نو د هغے نه مخ واړوه۔

۲- بل مطلب ئے دا دے : لَا تَلۡتَفِتۡ اِلَیۡهِمۡ وَامۡضِ فِیۡ دَعۡوَتِكَ] یعنی د دوی د اعتراضونو پرواه مه ساته او خپل دعوت جاری ساته۔ ځکه چه دوی ډیر په اعتراضونو سره د کار نه وباسی۔ او کله چه داعی داسے خبرے واوری نو پریشانه شی او کار ترے پاتی شی۔ او دا مطلب نهٔ دے چه دعوت مه ورکوه۔

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشۡرَكُوۡا ؕ وَمَا جَعَلۡنٰكَ
او که غوختے الله نو دوی به شرك نهٔ وے کړے او نهٔ ئے گرځولے مونږ ته
عَلَیۡهِمۡ حَفِیۡظًا ۚ وَمَآ اَنۡتَ عَلَیۡهِمۡ بِوَكِیۡلٍ ﴿۱۰۷﴾
په دوی باندے څوکیدار، او نهٔ ئے ته په دوی باندے ذمه وار۔

تفسیر : د داعی په زړه کښې کله دا وسوسه پیدا شی چه هرکله د الله تعالیٰ شرك ډیر بدی شی نو بیا مشرکان ټول ولے په یو ځل نهٔ ختموی؟، نو دومره دشمنان د الله په زمکه وسیږی دا ولے نهٔ ختمیږی؟ نو د هغے حکمة بیانوی چه د مشرك او کافر د گمراه کولو حکمت الله ته معلوم دے، که هغه غوختلے نو ټول انسانان به ئے د هدایت په لاره راجمع کړی وے لیکن هغه د خپل مشیت او حکمت د تقاضے مطابق چا له چه غواړی هدایت ورکوی او چا له چه غواړی گمراه کوی۔ الله نه د هغه د افعالو په باره کښې تپوس نهٔ کیږی البته د بندگانو نه به د هغوی د اعمالو حساب اخستے کیږی۔

یعنی الله په خلکو په ایمان کښې زور نهٔ کوی او نهٔ ئے رسول الله ﷺ د دوی په ایمان راوړو مقرر کړیدے، او نهٔ د رسول الله ﷺ ذاتی زور شته چه خلك په زوره ایمان ته راولی نو بس پدے کښې د الله حکمة دے چه الله خپل بندگان په ابتلاء او امتحان کښې اچوی چه څوك خبره منی او څوك ئے نهٔ منی، خپل اختیار ته ئے پریخی دی۔

وَمَآ اَنۡتَ عَلَیۡهِمۡ بِوَكِیۡلٍ اَیۡ مِنۡ عِنۡدِ نَفۡسِكَ ۔ یعنی تا هم ددے ذمه واری نهٔ ده اخستے چه خلك به زهٔ په زوره دین ته راولم، او (وَمَا جَعَلۡنٰكَ عَلَیۡهِمۡ حَفِیۡظًا) او الله هم نهٔ ئے مقرر کړے

چه خلك به په زوره ایمان ته راولے بلکه ته ئے صرف داعی مقرر کړے۔

حفیظ : یعنی د نبی کریم ﷺ ذمه واری نۀ وه چه هغه د انسانانو اعمال او اقوال ولیکی او یا ورته هدایت وکړی۔ او نۀ هغه د دوی د روزئ او نورو کارونو ذمه وار وو۔

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
او کنځل مۀ کوئ هغه کسانو ته چه رابلی ئے دوی سوئ د الله نه
فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ كَذٰلِكَ
پس کنځل به وکړی دوی الله تعالیٰ ته د وجه د دشمنئ نه په ناپوهئ سره۔ دغسے
زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۪ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ
ښائسته کړیدے مونږ هر امت ته عملونه د دوی، بیا به رب د دوی ته واپسی وی د دوی
فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾
نو خبر به ورکړی دوی ته په هغه عملونو چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : پدے کښې ادب د دعوت دے او دے ته نهی د ذرائعو هم وائی۔

سب : په معنیٰ د نقصان بیانولو دے چه هغے کښې د یو شی د ذاتی شان کوتاهی او سپکاوے راځی نو دا کار د باطلو معبودانو په باره کښې جائز نۀ دے، البته د هغوی نه الوهی صفات نفی کول عیب نۀ دے لکه داسے ووئیل شی چه دوی لائق د بندگئ نۀ دی، او اختیارمند د نفع او د ضرر نۀ دی، او حاجت روا او مشکل کشا نۀ دی، او دوی لائق د تابعدارئ نۀ دی، نو دا کنځل او رد بد نۀ دی اگرکه مشرکان دا هم کنځلے گنړی بلکه ددے بیان ضروری دے۔

او پدے کنځلو او ردو بدو کښې خپله غصه سړول وی او خپل نفس ته سکون ورکول وی او هدایت د خلکو مطلب نۀ وی، نودا شخص د حق داعی نۀ دے، پدے وجه دا د دعوت د آدابو خلاف دی، نو دا جائز نۀ دی چه څوك معبودانو ته کنځل وکړی، یا د چا مشران وی هغوی ته کنځل وکړی، پدے سره دغه مخالف په غصه کښې راځی نو بیا هغه د الله او د رسول بی ادبی کوی، نو تۀ به د الله او د رسول د بی ادبئ کولو ذریعه جوړه شے، نو دا کار هم حرام شو۔

نو کله چه د یو مباح کار نه فتنه وغیره پیدا کیږی نو د هغه مباح نه ځان بچ کول پکار دی۔ ددے نه معلومه شوه چه په باب د دعوت کښ به داعی د خولے (الفاظو) ډیر زیات حفاظت کوی، ورنه بیهوده کلماتو وئیلو سره به د دعوت لاره بنده کړی۔

نو د رد د تقلید دپاره به داعی د علماؤ او ائمه کرامو مدح او صفت بیان کړی، او بیا به حقیقت بیان کړی چه دا علماء کرامؒ مبلغین د دین دی، او د الله او د رسول الله ﷺ تابعداری به د هیچا دپاره نشی پریخودلے، که چرته د دوی خبره د آیت یا د حدیث مخالفه وه نو هغه به سره د احترام د علماؤ نه پریخودلے شی۔ یا مثلاً یو تن بل ته د فقه حنفی یا بلے فقهے کمزورے او بی دلیله مسئلے ورښائی نو داسے به ورته نهٔ وائی چه د فقه گندگی وگوره بلکه داسے وئیل به مناسب وی چه راشه د فقهے کمزورے او بی دلیله مسئلے وگوره۔

السب : هُوَ تَنۡقِيۡصُ الشَّيۡءِ بِمَا لَايَلِيۡقُ بِشَانِهٖ ۔ سب د یو شی تنقیص (نقصان) بیانول په هغه طریقه چه د هغه د شان لائق نهٔ وی۔

شان نزول

امام عبد الرزاقؒ د قتادهؒ نه روایت کړیدے چه مسلمانانو به د کافرانو بتانو ته کنځلے کولے، نو هغوی منع شو، دے دپاره چه هغوی الله ته کنځل ونکړی۔ ابن جریرؒ او ابن ابی حاتمؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه مشرکانو ووئیل اے محمده! (ﷺ) تهٔ زمونږ معبودانو ته د کنځلو کولو نه منع شه، ورنه مونږ به هم ستا د رب بدی بیان کړو۔ نو الله تعالیٰ بتانو ته د کنځلو کولو نه مؤمنان منع کړل ځکه چه چرته د یوے لوئی بدئ دروازه کولاویدو خطره وی نو هلته به وړوکی نیکی پریخودے شی۔

بخاریؒ وغیره د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه د کبیره گناهونو نه دا دی چه سړے خپلو والدینو باندے لعنت ووائی۔ خلقو تپوس وکړو چه سړے په خپلو والدینو باندے څنگه لعنت وائی؟ نو نبی ﷺ وفرمایل: چه دا د چا پلار ته کنځل وکړی نو هغه سړے ددهٔ پلار ته کنځلے وکړی، او دا د هغه مور ته کنځل وکړی نو هغه ددهٔ مور ته کنځل وکړی۔ (ذکره ابن کثیرؒ وصحیح بخاری : ۵۹۷۳) وصحیح مسلم رقم : ۲۷۳)

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيۡنَ : الذین نه مراد معبودان او (یدعون) کښ فاعل ضمیر مشرکانو ته راجع دے او (هم) ضمیر پټ دے هغه معبودانو ته راجع دے۔

كَذٰلِكَ زَيَّنَّا : پدے کښ الله خپل اصول بیانوی چه هر انسان چه په کوم عمل کښ

مصروف شی الله ورته هغه ښائسته ښکاره کوی نو د هغې نه دفاع هم کوی۔
حافظ ابن کثیرؒ ددے داسے معنیٰ کوی: لکه څنګه چه ما دے خلکو ته د دوی د بتانو محبت ښائسته ښکاره کړیدے چه د هغوی په سر جګړے او وکالت کوَی نو دغه شان ما د هر تیر شوی ګمراه امت دپاره د هغوی بد عملونه ښائسته ښکاره کړیدی او پدے کښې د الله تعالیٰ حکمتونه دی۔ (ابن کثیرؒ)
او دا جمله هم علت دے د (لَا تَسُبُّوا) دپاره یعنی کنځل ځکه نهٔ دی پکار چه هر شخص او هر امت ته خپل عمل اُوچت ښکاری، نو هغې ته رد بد وئیل نهٔ برداشت کوی۔
او دا تزیین تقدیری او ابتلائی دے چه الله ورله په زړه کښې دغه شان اچولی دی، نهٔ شرعی، او دا ابتلاء ده۔

سوال وجواب

عَدۡوًا بِغَيۡرِ عِلۡمٍ: سوال: مشرکانو خو الله تعالیٰ منلو او د هغه د عظمت عقیده ئے هم لرله نو هغوی به څنګه الله ته کنځل وکړی؟
مفسرینو ددے ډیر جوابونه کړیدی (١) عِنۡدَ الۡغَضَبِ ۔ یعنی د ډیرے غصے د وجه نه به ئے دماغ بند شی او الله ته به کنځل وکړی۔
(٢) یا به رسول الله ﷺ ته کنځل وکړی او هغه داسے دی لکه الله ته کنځل کول۔
(٣) اَلۡمُجَادَلَةُ فِيۡ تَوۡحِيۡدِهٖ وَوَصۡفِهٖ بِمَا لَا يَلِيۡقُ۔ (زاد المسیر والراغبؒ)
چه په توحید کښې به جګړه وکړی او الله ته به د هغه څه نسبت وکړی چه هغه د الله سره لائق نهٔ دے۔ نو دا الله ته کنځل شو۔
(٤) يَسُبُّ مَنۡ اَمَرَكُمۡ بِهٖ ۔ یعنی تاسو ته چه چا ددے خبرو حکم کړیدے هغه ته به کنځل وکړی۔ (٥) ظاهر دا ده چه د مشرکانو نه دفاع نهٔ ده پکار بلکه هغوی بی ادبه خلك دے، الله ته هم کنځل کوی او قرآن ته ئے هم کوی، آیت او حدیث هم نهٔ منی کله چه ضد او دشمنئ کښې راشی ځکه دوی جاهلان دی۔ لکه روستو جمله (عَدۡوًا بِغَيۡرِ عِلۡمٍ) پرے دلیل دے۔ دوی په عامو حالاتو کښې د قرآن او حدیث تعظیم هم لری لیکن د اهل حقو په دشمنئ کښې ددے هر څه نه ووځی او د احترام حدود کراس کوی۔

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ
او قسمونه کوي دوی په الله مضبوط قسمونه خپل که راغله دوی ته معجزه
لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ
نو خامخا ایمان به راوړي په هغې، ته ووايه يقيناً د معجزو اختيار د الله سره دے
وَمَا يُشْعِرُكُمْ ۙ اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾
او څۀ پوهيږئ تاسو، کيدے شي دا معجزے که راشي (دوی ته) نو دوی به ايمان نۀ راوړي۔

تفسیر : دا آیت د اول د سورت سره لګی، د مکے مشرکانو د خپل عادت مطابق د رسول الله ﷺ نه د یوے نخے مطالبه وکړه او قسم خوړلو سره ئے ووئیل چه که دا نخے راشی نو مونږ به ضرور ایمان راوړو، لکه دوی ووئیل که تا د صفا غونډئ نه سرۀ زر جوړ کړل او ددے علاقے نه دِے غرونه لرے کړل، یا دِے په مکه کښ چینے روانے کړے نو مونږ به خامخا ایمان راوړو۔ (لکه دا د سیرت او تفسیری روایت دے) (البغوی والقرطبی وغیره)

او ابو الشیخؒ د ابن جُریجؒ نه ذکر کړیدی چه دا آیت د مستهزئینو په باره کښ نازل وو چه هغوی د رسول الله ﷺ نه دغه مطالبے کړے وے- (المنار)

بیا د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو دا تمنیٰ وه چه الله تعالیٰ دا معجزات راولیږی (الله ته څه ګرانه ده؟) کیدے شی چه دا خلك به ایمان راوړی؟ نو الله جبریل علیه السلام راولیږو او رسول الله ﷺ ته ئے اختیار ورکړو چه ستا خوښه ده چه دا معجزه به راشی، لیکن که دوی خبره ونۀ منله، نو سمدست عذاب به پرے راځی او که نه په خپل حال ئے پریدو [یَتْرُکُهُمْ حَتّٰی یَتُوْبَ تَائِبُهُمْ] چه په دوی کښ به څینی کسان توبه ویاسی؟، نو رسول الله ﷺ دا دویمه خبره غوره کړه، نو الله دلته مؤمنانو ته هم خطاب وکړو چه تاسو معجزات مۀ غواړئ چه دا دِے راشی۔ ځکه چه الله ته معلومه ده چه د مشرکانو مقصد ایمان راوړل نۀ وو بلکه د رسول الله ﷺ او د الله د آیتونو پورے توقے کول وو۔ پدے وجه الله تعالیٰ نبی ﷺ ته حکم وکړو چه د دوی په جواب کښ دوی ته ووائی چه آیتونه او نخے د الله سره ډیرے دی، لیکن ستاسو د مرضئ مطابق د هغے راوړل زما په اختیار کښ نۀ دی۔

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ : دوی به مضبوط قسم هغے ته وئیلو چه صرف په الله به ئے کولو، امام قرطبیؒ وئیلی دی چه ددے زمانے جاهلان په الله باندے قسم معمولی ګڼړی او په غیر الله

باندے قسم لوی او خطرناك گنړی (نو دوی پدے کار سره د زړو مشرکانو نه هم زیات گمراه دی)۔

وَمَا يُشْعِرُكُمْ : پدے کښ خطاب مؤمنانو ته دے۔ او اشعار او شعور په معنیٰ د پوهے سره دے۔ او ما استفهامیه انکاریه ده۔ یعنی تاسو څه پوهه کړی یئ چه کله معجزات راشی چه دوی به ایمان راوړی یعنی ایمان نۀ راوړی۔

اِذَا جَآ ءَ تْ لَا يُؤْمِنُوْنَ : **سوال** : پدے معنیٰ باندے خو بیا (یؤمنون) پکار دے؟

(۱) یو جواب دا دے چه دلته (لَا) مقحم (زائد) دے۔ او د تاکید د انکار دپاره راغلے دے۔ (قاله الکسائیؒ-بغویؒ) مگر د (لَا) زیادت ته زجاجؒ او نحاسؒ غلط او خطاء وئیلے دے۔

(۲) جواب : اَنَّهَا په معنیٰ د لَعَلَّ دے لکه حروف مشبه بالفعل کله نا کله د یو بل په معنیٰ سره راځی، او امام بغویؒ او قرطبیؒ وغیره ددے دپاره د عربو د اشعارونه مثالونه ذکر کړیدی۔ (قاله الخلیلؒ وسیبویهؒ) اَیْ لَعَلَّهَا اِذَا جَاءَ تْ لَایُؤْمِنُوْنَ۔

یعنی تاسو څه پوهه کړی یئ کیدے شی چه دا معجزے به راشی بیا به هم دوی ایمان رانۀ وړی۔ (نو معجزے غوښتل خو په هغه صورت کښ پکار دی چه د خلکو د ایمان د راوړو یقین وی)

(۳) ځینی وائی چه دلته د (ما یشعرکم) دویم مفعول پټ دے : [اَیْ وَمَا يُشْعِرُكُمْ مَا فِی الْوَاقِعِ وَفِیْ عِلْمِ اللّٰهِ اَنَّهُمْ لَایُؤْمِنُوْنَ) یعنی تاسو ته څه پوهه درکړیده چه په واقع کښ به څه کیږی، او د الله په علم کښ دا ده چه دوی ایمان نۀ راوړی)

(٤) نحاسؒ وغیره وئیلی دی چه دلته بل طرف پټ دے [اَیْ لَایُؤْمِنُوْنَ اَوْ يُؤْمِنُوْنَ] یعنی چه دوی به ایمان رانۀ وړی یا به ئے راوړی۔ (قرطبیؒ)

(٥) صاحب المنار ډیر ښه تعبیر کړیدے [وَمَا يُشْعِرُكُمْ اَیْ لَيْسَ لَكُمْ شَیْءٌ مِنْ اَسْبَابِ الشُّعُوْرِ بِهٰذَا الْاَمْرِ الْغَيْبِيِّ الَّذِیْ لَايَعْلَمُهٗ اِلَّا عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَهُوَ اَنَّهُمْ لَايُؤْمِنُوْنَ اِنْ جَاءَ تِ الْآيَةُ]

یعنی تاسو څه پوهه کړی یئ (یعنی تاسو پدے غیبی کار باندے نۀ پوهیږئ کوم باندے چه صرف علام الغیوب پوهیږی هغه دا دے چه دا معجزات که راشی نو دوی ایمان نۀ راوړی۔ نو ځکه الله دغه معجزات نۀ نازلوی۔ صاحب المنار دغه بعض مخکنی توجیهات بعید گنړلی دی او ځینو ته ئے غفلت وئیلے دے او پدے صورت کښ به د (لَا) داخلیدل په خپل حال باندے صحیح وی۔

وَنُقَلِّبُ اَفْئِدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا
او اړه وو راړو زړونه د دوی او سترګے د دوی لکه څنګه چه ایمان نهٔ وو راوړے دوی
بِهٖ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾
په هغے اول ځل او پریدو مونږ دوی لره په سرکشئ د دوی کښې سرګردانه به وی۔

تفسیر : دا آیت دوه طریقو سره لګی، (۱) شیخ الاسلام ابن تیمیۃ او صاحب المنار دے ته ترجیح ورکړیده چه دا عطف دے په (لَایُؤْمِنُوْنَ) باندے، او مقصد به دا وی چه د آیتونو راتګ سره سره به الله تعالیٰ د دوی زړونه اوسترګے د هغے نه واړوی او ایمان به پرے رانهٔ وړی څکه چه دوی به د هغے دپاره قِسم قِسم تاویلات او خیالات راپیدا کړی لکه مخکښې چه دوی ته کوم معجزات راغلی وو او په هغے باندے د ایمان نهٔ راوړو قسماقسم بهانے کړے وے۔ څکه چه چا ته قرآنی عقلی او علمی دلیلونه قناعت ورنکړی نو هغه ته به حسی معجزات هیڅ قناعت ورنکړی بلکه دا به وائی چه زمونږ سترګے دوکه شویدی او مونږ باندے جادو شویدے۔ ﴿اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ﴾۔

(۲) دویم تفسیر چه هغه زیات راجح دے او هغه دا چه پدے کښې علت د عدم ایمان د دوی ذکر دے، یعنی دوی ته به معجزه هم راشی، مګر دوی به بیا هم ایمان نهٔ راوړی، وجه ئے دا ده چه دے خلکو اول کښې ضد وکړو چه الله حق راولیږلو او ښه واضحه وو خو دوی د (لَا نُسَلِّمُ) (یعنی نهٔ منو) په ډیرئ ودریدل نو دوی ته الله تعالیٰ دا سزا ورکوی چه دوی به اُوس ایمان نهٔ راوړی او د ایمان نه به ئے محرومه کوی څکه چه دا قانون دے چه کله بنده ته اوله کښې حق راشی او دے ئے سمدست رد کړی، او په باطل باندے کلك ودریږی، نو که روستو ورته ښه حق مخے ته هم راشی او واضحه هم شی او پوهه هم پرے شی لیکن بیا به هم ورته توفیق نهٔ ملاویږی لکه پدے خبره باندے تجربه شویده چه ډیرو باطل پرستو اول کښې د حق خلاف کړیدے که روستو ورته کتاب او سنت ښه ښکاره شویدی هم ورته توفیق نهٔ ملاویږی۔ او پدے باندے دلیل دا قول د الله تعالیٰ دے ﴿فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكَافِرِيْنَ﴾ (اعراف ۱۰۱) یعنی دوی پرے مخکښې ایمان نهٔ وو راوړے نو څکه پرے الله تعالیٰ مهر ووهلو۔ او الله فرمائی : ﴿سَاَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ یعنی دوی د الله تعالیٰ د آیتونو نه تکبر کړے وو څکه ترے

الله تعالیٰ واړول او د ایمان توفیق ئے ورنکړو۔ او ددے په شان نور آیتونه واخله۔
كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا : كاف تعليليه دے په معنیٰ د (اِذْ) سره۔

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا
او كه چرے مونږ راوليږو دوی ته ملائك او خبرے وكړی دوی سره مړی او راجمع كړو
عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ
په دوی باندے هر شے مخامخ، نهٔ دی دوی چه ایمان راوړی مگر هغه وخت چه وغواړی
اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾
الله او لیکن زیات د دوی نه ناپوهه دی۔

تفسیر : پدے آیت کښې هم د مؤمنانو د سوال جواب دے، او هغوی ته تنبیه ده او پدے کښې ئے د مکے د مشرکانو په ډیره سختیٔ سره تکذیب کړیدے چه دوی په دے خبره کښې دروغژن دی چه نخے دِے راشی مونږ به ایمان راوړو نو الله فرمائی چه دا خلق د یوے نخے خبره کوی، که مونږ دوی ته ملائك هم راولو لکه څنګه چه دوی ددے نه مخکښې مطالبه کړے وه چه ﴿ لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَائِكَةُ ﴾(الفرقان : ۲۱) (په دهٔ باندے ملائك ولے نهٔ نازلیږی) او د قبرونو نه مړی راپورته شی او دوی سره خبرے هم وکړی لکه چه دوی ددے نه مخکښې دا سوال کړے وو چه ﴿ فَأْتُوْا بِآبَائِنَا اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ﴾ (الدخان : ۳۶) (زمونږ پلاران راولیٔ که تاسو رشتینی یئ) ﴿ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى﴾۔ (الرعد:۳۱)
(یا پدے کتاب سره د مړو سره خبرے وشی)

او د دوی مخے ته د دنیا ټول حیوانات، نباتات او جمادات د نخے په توګه راجمع کړو نو هم دا خلق د خپلے سرکشیٔ او تَمَرُّد په وجه ایمان نهٔ راوړی، آؤ، که الله غواړی نو ایمان به راوړی۔ لیکن اکثر خلق ناپوهه دی، پو هیږی نهٔ چه د ایمان دولت د الله په مشیت سره ملاویږی، د خلافِ عادت نخو ښکاره کیدو سره نهٔ۔

اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ : دا څکه وائی چه د الله مشیت آزاد دے، هغه کولے شی چه د کاڼړی په شان سخت کافر ته هم د ایمان توفیق ورکړی۔ نو الله د دوی په ایمان قادر دے لیکن د دوی د ضد د وجه نه ئے ورته نهٔ ورکوی۔

علامه قاشانیؒ لیکلی دی چه د داسے ایمان د الله په نیز هیڅ اعتبار هم نشته چه د عادت

خلاف نخو لیدلو سره راوړے شی۔

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ : نو د معجزاتو طلب کول د جهالت خبره ده، پدے سره نظام خرابیږی او که د دوی حق مطلب وی نو یوه معجزه هم کافی ده او که حق ئے مطلب نهٔ وی او ضد کوی نو که د ټولے دنیا معجزے د دوی مخے ته راشی نو هم ایمان نهٔ راوړی۔

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ
او دغسے گرځولی دی مونږ هر نبی له دشمنان شیطانان د انسانانو او د پیریانو نه
يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ
وسوسے اچوی بعض د دوی بعضو ته د ښائسته کړے شوے خبرے (یا رنګدارے خبرے)
غُرُوْرًا ؕ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ
دپاره د دهوکه کولو، او که اراده کړے وے رب ستا نهٔ به وے کړے دوی دا کار
فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾
نو پریږدهٔ دوی لره او هغه چه دوی څه دروغ جوړوی۔

تفسیر : پدے آیت کښې رسول الله ﷺ ته تسلی ده، او بله عقبه ده چه په داعی باندے راځی او بیا روستو د مشرکانو دلیل ذکر کوی، بیا تر آخر د سورت پورے د حلال او حرام مسائلو بیان دے۔

د آیت مقاصد

۱- پدے آیت کښې تسلی ده رسول الله ﷺ ته ځکه چه د مکے مشرکانو په دشمنیانو او اعتراضونو سره به کله نا کله د رسول الله ﷺ زړهٔ خفه شو، ځکه دے اعتراضاتو او پریشانیو ته تینګیدل ډیر ګران کار دے، نو الله تعالیٰ د وحی په ذریعه د هغه د زړهٔ خیال وساتلو۔ او د تسلئ حاصل دا دے چه هر نبی چه راغلے دے نو په مقابله کښې ئے اِنسی او جنی شیطانان ودریدلی دی او د حق په مقابله کښې ئے ملا تړ کړیدے نو دا د الله مخکنی اصول دی، نو ته خفګان مهٔ کوه. بیا سوال پیدا کیږی چه الله تعالیٰ ولے د شیطان ډله په دنیا کښې پریخوستے ده؟ نو الله فرمائی چه پدے کښې هم زما ډیرے حکمتونه دی چه په (وَلِتَصْغٰى) او (لِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا) سره ئے بیان کړیدی۔

۲ – د الله تعالیٰ عادت دا دے چه هغه دوه دعوتونه روان کړیدی د پخوا (آدم ﷺ د زمانے) نه یو دعوة الرحمن، بل دعوة الشیطان، او دواړه د الله په اراده روان دی، لیکن د شیطان د دعوت نه ئے منع کړیده او د رحمٰن دعوت ته ئے ترغیب ورکړیدے، نو دعوتِ رحمانی د انبیاؤ علیهم السلام طریقه ده، او دعوتِ شیطانی د شیطان طریقه ده، نو سوال پیدا شو چه شیطان ته الله تعالیٰ ولے توفیق ورکړیدے چه هغه لګیا دے خلك ګمراه کوی؟ نو الله فرمائی چه پدے کښ راز دا دے چه په انسانانو کښ دوه قسمه خلك دی، یو بصیرت والا او بل خباثت والا، نو زۀ پرے خباثت والا ګمراه کوم دے دپاره چه جهنم دپاره یوه ډله تیاره شی، او بصیرت والا د رحمٰن د دعوت پسے روان شی نو جنتیان شی۔ بیا خبیثان څوك دی؟ نو فرمائی چه دا هغه خلك دی چه د الله د ملاقات منکر دی او په آخرت ایمان نۀ لری، نو دوی باندے به د شیطان دعوت خوږ ولګی او هغه به ورله مزه ورکړی نو ګمراه به شی نو د جهنم خشاك به جوړ شی، او بعض خلك به د الله د ملاقات منکر نۀ وی بلکه د هغے نه به یره کوی نو هغوی به د رحمٰن د دعوت پسے روان شی نو د جنت اهل به شی۔

۳ – د عقبے حاصل داسے دے چه داعی کله دعوت کوی نو د هغه په مقابله کښ جنی شیطان راپورته شی، د هغه دعوت بندول غواړی نو هغه انسانانو ته وسوسه واچوی (د ملیانو په جامه کښ) نو هغه ددۀ په مقابله کښ ودروی نو هغه شیطانان دے شیطانانو ته دلائل وربنائی او چالاکی ورزده کوی چه ددے حق پرست په مقابله کښ داسے خبرے وکړه چه هغے ته الله تعالیٰ زخرف القول وئیلے دے، نو هغه رنګدارے خبرے کوی او هغه پدے سره داعی خکته کول او پر کول غواړی لیکن چرته ئے نشی پر کولے، بلکه پدے کښ غرض دا دے چه نور بے دینه خلك ګمراه شی کوم چه آخرت نۀ منی، نو دغه رنګدارو خبرو پسے روان شی لکه په مناظرو کښ دا کار ډیر کرته کیږی چه عوام د غلطو خبرو والو پسے ډیر ورځی او د حق پرست پسے لږ خلك ورځی، دا کار الله تعالیٰ د تمییز دپاره کوی۔ او دا مناظرے همیشه د حق پرستو سره شویدی، د رسول الله ﷺ سره هم شویدی، مشرکانو، یهودو او نصاراؤ کړیدی۔ قسماقسم اعتراضونه په هغه کیدل، نو نا اهله خلك به پرے ګمراه شو او اهل به نۀ ګمراه کیدل۔ نو الله تعالیٰ د هغے مناظرے طریقه به دا بیانوی ﴿ أَفَغَيْرَ اللهِ أَبْتَغِىْ حَكَمًا﴾ یعنی مونږ به بحث کوو لیکن فیصله کونکے به الله وی او د هغه فیصله به څنګه وی هغه دا ده چه ﴿ وَهُوَ الَّذِىْٓ أَنْزَلَ اِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا﴾ الله تعالیٰ قرآن رالیږلے دے۔ او د پخوانو اهل کتابؤ د علم نه به هم دلیل پیش کوو، نو حق پرست او

باطل پرست به معلومیږي۔

توضیحات

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا: [أَيْ كَمَا جَعَلْنَا لَكَ عَدُوًّا كَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا]۔ یعنې مونږ لکه څنګه چه ستا دشمنان پیدا کړیدي چه ستا مخالفت کښې لګیدلي دي، نو دغه شان مونږ ستا نه مخکښې د تمامو انبیاؤ علیهم السلام هم دشمنان پیدا کړي وو، (د امتحان دپاره) چه د انسانانو او جناتو اشرار به وو، او چه د خلقو د دهوکې ورکولو دپاره به ئې ناحقه خبره او ناحق کار د حق په جامه کښې پیش کولو، پدې وجه تهٔ مهٔ پریشانه کیږه۔ که الله غوختې نو دې شیاطین الجن والانس به ستا او د تیر شوي انبیاؤ مخالفت نهٔ وې کړې، تهٔ دوی پریده دې دپاره چه نور دروغ هم جوړ کړي، دوی ته به نزدې خپل بد انجام معلوم شي۔

مجاهدؒ ددې آیت په تفسیر کښې وئیلي دي چه د جناتو کافران شیاطین وي۔ هغه انسانانو کافرانو یعنې شیاطین الانس ته ښائسته شوې خبرې خلقو ته د دهوکې ورکولو دپاره رسوي۔

یُوحِيُ: ایحاء او وحي دلته وسوسې ته وائي۔ یعنې ابلیس د انسان په زړهٔ کښې اعتراض واچوي چه پدې حق پرست باندې دا اعتراض وکړه، او دغه شان په انسانانو کښې مشر ملا کشرانو ته اعتراضونه ښائي۔

زُخْرُفَ الْقَوْلِ: دولي کړې شوې خبرې۔ په قول کښې زخرف دې ته وائي چه ظاهر ئې ښائسته وي او باطن ئې خراب وي لکه خوشیانو (یا اُوسپنه او تانبې) لره د سرو زرو اُوبه ورکړې شي چه حقیقت ئې نشته، او ظاهر کښې سور ښکاره کیږي، خلکو له دهوکه ورکوي۔

نو باطل پرست د عوامو د ذهن جوړولو دپاره خبرې لره رنګ ورکړې وي چه په ظاهره کښې ښائسته او حقه ښکاره کیږي لیکن په باطن کښې هغه دروغ وي۔ او د هر باطل پرست (مشرکان، یهود او نصاریٰ او مبتدعینو) خبرې همدغه شان وي۔

د زخرف القول مثالونه

۱- مجوسیانو مشرکانو ته د رسول الله ﷺ په خلاف دا خبره خودلې وه چه کومه ګډه او بزهٔ چه تاسو ذبح کړئ هغه حلاله ګنړئ او چه الله ئې د سرو زرو په توره ذبح کړي (یعنې

مرداره شوي) نو هغه تاسو حرامه ګڼئ او نه ئې خورئ، آیا انسان ګنې د الله نه غوره شو ؟!
دا خبره په ظاهره کښې رنګداره ده، لیکن په مینځ کښې غلطه ده. که سوچ وکړې هغه دا
چه انسان چه ئې مړه کړي، نو پدې باندې د الله تعالیٰ نوم اخستې شوې وي، او بل ترې
مسفوح (ګنده) وینه بهیدلې ده نو ځکه حلاله ده او مرداره باندې بسم الله نه ده وئیلې شوې
او ګنده وینه ترې نه ده وتلې نو دغه الله وئیلي دي چه زما نوم پرې نه وي اخستې شوی هغه
به نه خورئ، د الله د حکم د وجه نه ئې مونږ نه خورو.

۲- یهودیانو به وئیل، الله چه د انسانانو د هدایت دپاره یو شریعت راولیږي هغه بیا
ځنګه منسوخ کړي؟ دا خو په جهالت باندې دلیل دې. نو دا خبره په عوامو اثر کوي، دا
رنګداره خبره ده. جواب دا دې چه په نسخ کښې ډیر فوائد دي، د انسانانو د مصلحت د
وجه نه دا کار کیږي او دا د الله په کمال دلیل دې چه په هره زمانه کښې د انسانانو د حال
مطابق احکام رالیږي.

۳- نصاراؤ به وئیل چه عیسیٰ علیه السلام ته په انجیل کښې ابن الله (د الله ځوی) وئیل شویدې
نو د هغې جواب دا دې چه ابن (ځوی) په انجیل کښې په معنیٰ د محبوب سره وو، او تاسو
ترې غلط مطلب واخستو.

٤- پدې امت کښې جهمیه ؤ د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو نه انکار کړیدې، او دې له ئې
ښه رنګ ورکړیدې چه مونږ د الله او د رسول خبرې منو، مسلمانان یو، لیکن اسماء او
صفات ډیرول د توحید منافي دي، پدې کښې تعدد د قدماؤ راځي. نو مونږ خالص
موحدین یو. نو ډیر علماء د جهمیه ؤ پدې غلطو شبهاتو باندې ګمراه شو. او ډیر اشاعره
او ماتریدیه هم ددې شبهاتو ښکار شو.

جواب دا دې چه تعدد د قدماؤ هله مُضر دې چه کله مستقل وي او صفات خو د الله د
ذات سره متعلق دي نو دا د الله په کمال باندې دلیل دې.

۵- شیعه ګانو به زخرف القول داسې کولو چه علي رضي الله عنه خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم دې او
هغه ته دې خلافت نه ورکړې کیږي او بل څوك ئې اخلي، دا خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رشته
دارو سره ظلم کوي نو خلکو باندې به اثر وشو. جواب دا دې چه د ابوبکر رضي الله عنه په خلافت
باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اشارات موجود دي او دا کار په مشوره د صحابه کرامو شویدې.

٦- که ته ووائې چه اې خلکو ! تقلید مه کوئ او د سنتو تابعداري شروع کړئ، نو
شیطانان به رنګدارې خبرې جوړې کړي چه مونږه د امام ابوحنیفة چه تابعي دې هغه

پسے لاړ شو چه علم ئے هم زیات او د رسول الله ﷺ زمانے ته هم نزدے دے، او که ددے زمانے یو ملا چه علم ئے هم دومره نشته او د یوے روپئ سره کینې پاڅی، او د ګناهونو نه ډك دے ددۀ پسے روان شو؟۔ دا رنګداره خبره ده چه په عوامو بلکه په نیمګړی ملیانو هم دا خبره اثر کوی چه دا خو رشتیا ده۔ ددے جواب دادے چه مونږ تاسو ته داسے نۀ وایو چه مونږ پسے روان شئ، یا زما استاذ پسے بلکه مونږ داسے وایو چه د رسول الله ﷺ د حدیثو پسے روان شه، که په یوه مسئله کښې د رسول الله ﷺ حدیث راغلو او د هغے په خلاف د امام ابوحنیفهؒ خبره راغله (لکه په مسئله د مُصراة کښې، د سجدۀ شکر، د ماښام نه مخکښې دوه رکعاته نفل وغیره مسائل) نو دغه حدیث د ابوحنیفهؒ دپاره مۀ پریده، دا زمونږ دعوت دے۔خو دوی زمونږ دعوت په وړان شکل کښې پیش کړی، دا شیطانی طریقه ده۔

۷– کله دا اهل الحدیث والسنة دعوت پدے طریقه خرابوی چه ستاسو وحید الزمان دا لیکلی دی او نزل الابرار کښې ئے دا لیکلی دی، د هغوی غلطے خبرے (بالفرض) په مونږ باندے راچسپانوی، حال دا چه زمونږ دعوت کتاب او سنت ته دے او په هغے کښې هیڅ عیب نشته۔

۸– د زخرف القول لوی مصداقات د اُوکاړوی ګمراه هغه درے سوه اعتراضات دی چه د حق په خلاف ئے لیکلی دی، او ټول بې ځایه د عوامو د ګمراه کولو دپاره دی۔ چه په مانځه کښې فرض او واجب او مستحب وښایئ، او د (نیا) سره د نکاح حرمت وښایئ، مقصد ئے دا دے چه دا تاسو نشئ خودلے نو بس ستاسو قرآن او حدیث نیمګړی شو، او راځئ زمونږ خلاصه کیدانی وغیره پسے روان شئ۔ د هغے لس جوابونه دی چه په خپله موقعه کښې بیانیږی۔ او زمونږ ورور حافظ زبیر علیزئ رحمه الله تعالیٰ د هغے په رد کښې جامع کتاب لیکلے دے «امین اوکاڑوی کا تعاقب»۔

۹– هغه دا هم لیکلی دی چه انسانان درے قسمه دی، حاکمان، رعیت او باغیان نو امامان حاکمان دی او مونږ (مقلدین) د هغوی رعیت یو او اهل حدیث باغیان دی۔ دا هم رنګداره خبره ده۔ جواب دا دے چه دا خبره سو چه غلطه ده بلکه خبره اُلټه ده، محمد رسول الله ﷺ حاکِم دے او مونږ د هغه رعیت او تابعدار یو او مقلدین (ستاسو په شان) د رسول الله ﷺ نه باغیان دی۔

دوی د رسول الله ﷺ د سنتو نه بغاوت کړیدے او مونږ د امامانو نه هیڅکله بغاوت نۀ

دے کړے، بلکه د هغوی کمزورے خبرے مو پرینبی دی او د هغے په ځای مو حدیثونه راتینګ کړیدی۔ او بیا دا چا وئیلی دی چه امامان حاکمان دی بلکه رسول الله ﷺ حاکِم دے (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ)۔

نو هره خبره چه د رسول الله ﷺ نه اَړول، او د الله د بندګئ نه پکښ اړول راځی دغه به زخرف القول کښ داخله وی۔

۱۰- پخوا به ئے وئیل تاسو چه د سنتو نه روستو په شریکه دعا نهٔ کوئ نو تاسو دعا نهٔ منئ۔ دا رنګداره خبره ده حال دا چه یو دعاء نهٔ منل دی، او بل دعاء په یو خاص مقام کښ نهٔ کول دی، دواړو کښ د زمکے او د آسمان فرق دے۔ د دعاء نه انکار خو کفر دے او په دغه خاص مقام کښ دعاء ځکه نکوو چه رسول الله ﷺ نهٔ ده کړے، بدعت دے۔

۱۱- مشرکان وائی چه تاسو اولیاء نهٔ منئ، دوی د اولیاؤ منل دے ته وائی چه د هغوی بندګی شروع کړی۔

۱۲- صوفیان وائی چه تاسو تبلیغ نهٔ منئ حال دا چه تبلیغ د دین لویه برخه ده، لیکن په دغه ترتیب باندے تبلیغ کول او بیا د یو څو خبرو دعوت کول سره د خرافاتو بیانولو نه، او دعوه د ټول دین کول دا صحیح طریقه نهٔ ده۔

د زخرف القول دومره مثالونه دی چه پدے باندے یو لوی مستقل کتاب لیکلے شی۔

غُرُوْرًا : دا مفعول له دے، اَیْ لِلْغُرُوْرِ۔ یعنی د رنګدارو خبرو وسوسه ددے دپاره اِنسی شیطانانو ته اچوی چه خلك پرے دهوکه کړی۔

وَلَوْشَآءَ رَبُّكَ : بیا الله تعالیٰ خپل مشیت بیانوی او جواب د سوال دے چه د پیغمبر په مقابل کښ رنګدارے خبرے څنګه کار ورکړی؟ نو الله فرمائی : [وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ اَیْ مَنْعَهُمْ] که ستا د رب اراده شوے او هغه د دوی منع کول غوښتلے نو دوی به دا کار نهٔ وے کړے لیکن الله ئے داسے پریدی دپاره د راتلونکو فائدو۔

وَلِتَصْغٰٓى اِلَيْهِ اَفْئِدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ
او دے دپاره چه مائل شی دے (دروغو) ته زړونه د هغه کسانو چه ایمان نهٔ لری په آخرت
وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا
او دے دپاره چه دوی خوښ کړی دا (دروغ) او دے دپاره چه وکړی دوی هغه څه

هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾
چه دوی ئے همیشه کونکی دی۔

تفسیر : وَلِتَصْغٰی : دا عطف دے په (غرورا) باندے او غرورا په معنیٰ د (للغرور) دے۔ انسی او جنی شیطانان پدے وجه هم د دهوکے بنائسته خبرو جوړولو نه کار اخلی چه کوم خلق په ورځ د آخرت ایمان نهٔ لری د هغوی زړونه هغوی طرف ته مائل شی، او دوی خپل امامان او پیشوایان اُومنی، او د خپل نفس د خواهشاتو مطابق چه څه غواړی، اُوکړی۔ نو څوك چه د آخرت مُنکر وی هغه پداسے خبرو او غلط دعوت باندے گمراه کیږی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ مِنْ سُلْطَانٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ﴾ (سبا: ۲۰)

او نشته شیطان لره په مؤمنانو باندے څه زور مگر مونږ پرے ددے دپاره مقرر کړیدے چه مونږ بنکاره کړو چه څوك په آخرت ایمان لری او څوك د آخرت نه په شك کښ دی۔

وَلِيَرْضَوْهُ : یعنی چه مائل شی نو څه به وشی؟ نو فرمائی : چه هغه خبره به پسند او خوښ کړی، او داسے به ووائی چه زمونږ پیر او مُرشد او ملا صاحب خو ډیره ښه خبره وکړه۔ او هر کله چه دغه خبره ورته خوښه بنکاره شی، نو بیا به په دغه غلطه خبره کلك ودریږی (په شرك، په بدعت، په تقلید به د مُلا د خبرے د وجه نه کلك پاتی شی) نو بله نتیجه پرے دا مرتب شوه۔

وَلِيَقْتَرِفُوْا مَاهُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ : دے دپاره چه وکړی هغه عملونه او شرکونه او بدعات چه دوی ئے د مخکښ نه کوی، بیا الله پرے دا شرکونه او گمراهیانے ولے کوی ؟ نو دا ددے دپاره چه جهنم دپاره ئے تیاروی۔ ای (لِيَزْدَادُوْا اِثْمًا) دے دپاره چه گناهونه ئے زیات شی او د جهنم خشاك ترے جوړ شی۔ لنډ مطلب دا شو چه د شیطان دعوت الله ولے جاری کړیدے ؟ نو دا ددے دپاره چه بی ایمانه خلك په هغے گمراه شی او جهنم ته ورسیږی۔

مُّقْتَرِفُوْنَ : أَیْ مُكْتَسِبُوْنَ۔ یعنی هغه چه دوی ئے کوی۔ یعنی په گناهونو کښ ښه ورننوزی او د خپلو خواهشاتو مطابق کارونه وکړی۔

اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ
آیا پس سِویٰ د الله نه طلب کړم فیصله کونکے، او الله هغه ذات دے چه رالیږلے ئے دے

اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ
تاسو ته کتاب ښه واضحه (تفصیلي)۔ او هغه کسان چه ورکړے دے مونږ هغوی ته
الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ
کتاب پو هیږی چه بیشکه دا نازل شویدے د طرفه د رب ستا نه په رشتیا سره
فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾
نو مهٔ کیږه تهٔ د شك کونکو نه۔

تفسیر: پدے کښې رسول الله ﷺ او هر داعی ته یو ادب ورکوی۔ یعنی داعی وائی چه هرکله چه تاسو ما سره بحثونه کوئ نو زمونږ او ستاسو حاکم به د الله کتاب وی۔

اَفَغَيْرَ اللّٰهِ: دا استفهام انکاری دے، د مکے د بعض مشرکانو د رد دپاره د تپوس اسلوب او طرز اختیار شویدے۔ د آیت مطلب دا دے چه اے محمد (ﷺ)! تهٔ مشرکانو ته اُووایه چه زهٔ څنګه لاره ورکه کړم او د الله نه سِویٰ بل څوك د ځان او ستاسو ترمینځ فیصله کونکے اُومنم ؟!۔

په اصل کښې دا جواب وو د قریشو کافرانو د سوال چه اے محمده! مونږ په خپلو بتانو باندے ستا د تنقیدونو نه تنګ راغلی یو۔ پدے وجه څوك زمونږ او ستا ترمینځ حَکم او فیصله کونکے جوړ کړه چه زمونږ فیصله وکړی۔ (سمعانیؒ)

نو الله خپل نبی ته وائی چه تهٔ دوی ته جواب ورکړه چه آیا زهٔ د الله نه سِویٰ بل کوم طاغوت خپل حَکم (فیصله کونکے) اُومنم، حال دا چه الله ستاسو د هدایت دپاره هغه قران نازل کړیدے چه په هغے کښې حق او باطل او حلال او حرام هرڅه بیان شویدی نو بس د هغے منل به ضروری وی بل فیصله کونکی ته څه ضرورت دے، بل فیصله کونکے لټول خو ګمراهی ده۔

او اهل کتاب خو ښه پو هیږی چه دا کتاب د الله د طرف نه نازل شویدے، ځکه چه تمام تیر شوی انبیاؤ ددے قرآن بشارت او زیرے ورکړیدے، او ځکه چه دا قرآن د تورات او انجیل تصدیق کوی۔ پدے وجه اے نبی! د قریشو کافرانو د انکار په وجه ته ددے قرآن د الله د طرفنه په نازلیدو کښې شك مهٔ کوه۔

مُفَصَّلًا : یعنی په قرآن کښې د عقائدو او ایمانیاتو او د هرے ضروری خبرے تفصیل

شویدي. نو بس قرآن چه کومې خبرې ته دعوت ورکړې وي هغه به حق وي او کومې نه ئې چه منع کړې وي، هغه به باطله وي نو ستاسو شرکيات او بدعيات او رسمونه خو الله رد کړيدي. او پدې کتاب کښ د الله تعالىٰ طريقې ذکر دي د اقوامو د عالَم سره چه هغوی کوم آيات طلب کړي وو او ايمان ئې رانۀ وړو نو هلاك شو.

وَالَّذِيْنَ : دا د پخوانو نيکانو اهل کتابو نه دليل د حقانيت د کتاب الله راوړی چه اهل کتاب هم دا اقرار کوی چه دا کتاب رسول الله ﷺ د ځان نه نۀ دې جوړ کړې بلکه د الله تعالىٰ د طرفنه راغلې دې.

مطلب دا شو چه قرآن هم شته او د پخوانو اهل کتابو تصديق هم شته، نو دا به زمونږ فيصله کوی. زمونږ په زمانه کښ ددې داسې مثال دې چه يو تن په مناظره کښ ووائی چه په دليل کښ به قرآن او حديث پيش کوو او ورسره د تائيد او تصديق دپاره به د مخکنو سلفو علماؤ اقوال هم پيش کوو.

فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ : دا خطاب رسول الله ﷺ ته دې او مراد ترينه امت دې. يعنی هرکله چه د الله کتاب شته نو بل چا ته فيصله وړل خو د الله په کتاب کښ شك کول دي نو بس حاکم به د الله تعالىٰ کتاب وي.

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ط
او پوره شویده خبره د رب ستا په رشتينوالي او په انصاف سره
لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ج وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾
نشته هيڅوك بدلونکې د خبرو د هغۀ، او هغه آوريدونکې پوهه دې.

تفسير : پدې آيت کښ د قرآن کريم د عظمتِ شان بيان دې. که يو سړې دا گمان وکړي چه قرآن څنگه فيصله کونکې جوړ کړو، کيدې شي پدې کښ طرفداري شوی وی، يا پکښ د ظلم خبرې شوی وی، او پدې کښ به کيدې شي خطاء خبره وی؟ نو الله جواب کوی چه د الله خبرې پوره رشتينې او پوره د عدل نه ډکې دی.

صِدْقًا : يعني د صدق او عدل په لحاظ سره.

كَلِمَتُ رَبِّكَ : د کلمې نه مراد (اَلْكُتُبُ الْمُنَزَّلَة) يعنی ټول آسمانی کتابونه دی، اول پکښ قرآن داخل دې. نو هرکله چه قرآن صادق او عادل کتاب دې، نو دۀ ته فيصله راوړل

پکار دی. یا د کلمې نه مراد وعدې د نصرت دی او وعیدونه (عذابونه) دی چه هغه رشتینی او عادل دی، عادل ځکه دی چه د کافرانو د کفر او عناد سره برابر دی، او دغه شان د مؤمنانو د ایمان سره برابر دی. (المنار)

کلمة جملې او د اقوالو یوې طائفې ته وائی چه د یو مقصد دپاره وی، لنډه وی که اوږده. ددې وجه نه کوم خطیبان چه په یوه موضوع کښې خطبه وکړی یا لیکل وکړی نو هغې ته کلمه وئیلې شی.

لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ : دلته د کلمات نه مراد د الله تعالیٰ د طرف نه رالیږلې شوی خبرونه، احکام، وعدې او وعیدونه دی. هغه تمام خبرونه او وعدې او عیدونه انتهائی درجه رشتینی دی، او هغه تمام احکام او اَوَامر د عدل او انصاف انتهاء ته رسیدلی دی.

هیڅوك دا نشی کولې چه د الله یوه وعده او خبره د رشتیاؤ نه دروغو ته او د عدل نه ظلم ته بدله ثابته کړی. لکه دلته الله تعالیٰ دا خبره وکړه چه قرآن صادق او عادل کتاب دې، نو هیڅوك نشته چه قرآن کاذب یا ظالم کتاب ثابت کړی. دارنګه الله وعده کړیده چه زهٔ به حق له غلبه ورکوم ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِیْ﴾ (المجادلة: ۲۱)

(الله دا لیکلی دی چه خامخا زهٔ او زما رسولان به غالبه وی)

نو که ټوله دنیا راجمع شی او حق مغلوبه کول غواړی، نو نهٔ ئې شی کولې، لکه د رسول الله ﷺ په مقابله کښې ټوله دنیا ولاړه وه لیکن هغه ئې مغلوبه نکړو.

نو ددې معنیٰ دا شوه چه د الله تعالیٰ د کتاب الفاظ او کلمات رشتینی او د عدل والا دی او دا مطلب نهٔ دې چه دې کښې څوك تحریف نشی کولې. (المنار) ددې جملې تفصیل مخکښې په آیت (۳٤) کښې بیرته وګوره.

وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِی الْاَرْضِ یُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِیْلِ
او که تهٔ تابعداری کوې د ډیرو د هغه چا چه په زمکه کښې دی وابه ړوی دوی تا لره د لارې
اللّٰهِ ؕ اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا یَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾
د الله نه، تابعداری نهٔ کوی دوی مګر د ګمان، او نهٔ دی دوی مګر اټکل کارونه کوی.

تفسیر : د اهل حقو دلیل ذکر شو نو اُوس د مشرکانو درې دلیلونه ذکر کوی. او جواب دې د هغوی د دلیل چه مونږ ځکه په حقه یو چه مونږ زیات یو او که تاسو په حقه وئ نو

تاسو به کمِ نهٔ وېے؟ نو الله جواب ورکوی۔

وَاِنۡ تُطِعۡ : هغه درے دلیلونه دا دی، (۱) اتباع د اکثریت، (۲) اتباع د ظن (۳) او خرص (توك) یعنی بی دلیله خبرو پسے تلل او هغه بیانول۔

د ظن تابعداری په عقیدو کښې وی او د خرص (اټکل) په عملونو کښې۔ دارنګه ظن د ګمراهانو عالمانو کار دے او خرص (بی دلیله) عملونه کول د مقلدینو طریقه ده۔ (احسن الکلام)

او خرص دے ته هم وائی چه د ځان نه بعض اعمال او عقائد او آداب د بعضو نه غوره ګنړی په توك او بغیر د دلیل نه۔ او د ځان نه اندازے لګوی چه فلانی بابا به داسے کارونه کول۔ امام راغبؒ وائی : خرص هغه تخمین (اندازے) ته وائی چه حس او دلیل ته مستند نهٔ وی۔

دا آیت دلیل دے چه اکثریت دلیل د حقانیت نشی ګرځیدے، بلکه که خبره برعکس کړے شی نو اکثریت دلیل د بطلان وی۔

مطلب د آیت : الله تعالیٰ پدے آیتِ کریمه کښې خپل نبی (ﷺ) خبردار کړیدے چه کثرت او ډیروالے ستا په نیز د حق دلیل کیدل نهٔ دی پکار، او صرف د کثرت په بنیاد باندے ستا د زمکے والو تابع کیدل نهٔ دی پکار، ورنه ته به د حقے لارے نه واوړے۔ دا کافران چه ډیر ګڼړ شمار لری، پدے باطل ګمان کښې اخته دی چه د دوی پلاران او نیکونه په حقه وو، پدے وجه د هغوی تقلید کوی۔ د دوی سره سِویٔ ددے نه بل هیڅ دلیل موجود نهٔ دے چه د خلقو اکثریت په هغه دین دے کوم چه د دوی دین هم دے۔

دا خلك د الله په باره کښې د اټکل خبرے کوی، کله چا ته د الله ځوی وائی، نو کله بتان د الله په دربار کښې خپل سفارشیان ګڼړی، او کله مردار او د غیر الله په نوم باندے پریخودلے شوی حیوانات حلال ګڼړی۔

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ مَنۡ يَّضِلُّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ ج
یقیناً رب ستا هغه ښه پو هه دے په هغه چا چه اوړی د لارے د الله نه
وَهُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۱۱۷﴾
او هغه ښهٔ پو هه دے په هدایت موندونکو۔

تفسیر : مخکښ د دلیل په اعتبار سره د نیکانو او گمراهانو تقابل ذکر شو، نو اوس د هغوی امتیاز او فرق بیانوی په علم د الله تعالیٰ سره، او هرکله چه الله تعالیٰ په دواړو فریقینو عالِم دے نو هر یو ته به د هغوی د عمل مطابق جزاء او سزا ورکوی۔

فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ
پس خورئ د هغے نه چه یاد شوے وی نوم د الله په هغے که یئ تاسو
بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾
په آیتونو د هغه ایمان لرونکی۔

تفسیر : **مضمون** : دا دویمه حصه د سورت ده چه پدے کښې د شرك عملی رد دے یعنی حلال او حرام به د ځان نه نهٔ جوړوئ بلکه د الله حلال خورئ او د حرامو نه ئے ځان ساتئ۔ بیا ئے د هغے په (اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا) کښې مثال راوړیدے، او بیا بله عقبه ده په (۱۲۳) کښې، بیا په انکار د رسالت کښې د هغوی دلائل او په هغے باندے رد، بیا د انسانانو دوه قسمونه هدایت والا او غیر هدایت والا، او هدایت چا ته کیږی او چا ته نهٔ؟ بیا ئے قرآن ته ترغیب او د آخرت تفصیلی یره ئے ورکړیده، بیا ئے د رسولانو د رالیږلو حکمة بیان کړیدے، او مسئله د برائت تر (۱۳۵) آیت پورے، بیا د هغه ځای نه روستو د مشرکانو رواجونه ئے نقل کړیدی چه دوی به د ځان نه حلال حرام جوړول۔

ربط او مناسبت

۱– مخکښې د مشرکانو په باطلو دلیلونو رد وشو نو اُوس د هغوی په شرك فعلی رد کوی۔

۲– هرکله چه د زمکے اکثر خلك د اټکل پسے روان دی او خپل تابعدار گمراه کوی، او الله په هدایت والاؤ او گمراهانو باندے پوهه دے نو اُوس الله فرمائی چه په باره د ذبائحو او تهولو گناهونو پرینبودو کښې ددے رسول تابعداری وکړئ او د گمراهانو مخالفت وکړئ۔ (المنار)

۳– مخکنی آیت کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ د گمراه کافرانو د اتباع نه منع کړو۔ د هغوی یوه گمراهی دا وه چه هغوی به د خپل طرف نه د حلال او حرام حکم لگولو، او

مسلمانانو سره به ئې جګړې کولې چه الله کوم شې ذبح کړي نو هغه تاسو نۀ خورئ او خپله ذبح کړې شوې خورئ، لکه چه نسائی د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدې (النسائی: ٤٤٣٧ وسنده صحیح)۔ پدې آیت کښې مسلمانانو ته حکم شویدې چه تاسو د کافرانو په خبره کښې راتلو سره د مردار حیواناتو خوراك شروع نکړئ، بلکه هغه حیوانات خورئ چه د هغې خوراك حلال وی او کوم چه د الله په نوم اخستلو سره ذبح شوی وی۔

او دوی ته د **جواب** حاصل دا دې چه دغه حیوان ځکه حلال دې چه پدې بسم الله وئیل شویدہ، او په کوم حیوان باندې چه په وخت د ذبح کښې د الله نوم یاد کړې شي او هغه نذر د غیر الله نۀ وی نو د هغې خوراك جائز دې او مرداره باندې خو بسم الله نۀ وی وئیلې شوی۔

دارنګه هغوی به حلال حیوانات (چه بحیره او سائبه وو)، د ځان نه د خپلو باطلو معبودانو دپاره نذر کړل او په ځان به ئې حرام کړل، نو الله ورته وفرمایل چه دا په ځان مۀ حراموئ دا پاك او حلال حیوانات دی بلکه د الله نوم پرې واخلئ او ددې د خوراك نه یره مۀ محسوس کوئ او حرام ئې مۀ ګنړئ۔

فَكُلُوْا : فاء ئې د عطف دپاره راوړه نو الله تعالیٰ د ذبائحو د خوراك مسئله د عقائدو د مسائلو سره پیوسته راوړه، پدې کښې ډیر اهتمام ته اشاره ده ځکه چه عربو مشرکانو ذبائح د عباداتو د امورو نه ګرځولی وو، او دا ئې د دین په اصولو او اعتقادیاتو کښې داخل کړی وو نو د خپلو آلهو دپاره به ئې ددې نذرونه کول او دا د الله سره شرك دې۔ (المنار)

ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ : ددې نه معلومه شوه چه کوم حیوان باندې د غیر الله نوم ذکر شي نو هغه حرام دې۔

اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ : پدې کښې اشاره ده چه د ایمان علامه دا ده چه مؤمن به د جاهلیت والو پدې ګنده عادت کښې مخالفت کوی چه په هغې سره د الله د شریعت تبدیلی او تغییر راځي۔ (السعدیؒ)

وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ
او څه وجه ده تاسو لره چه نۀ خورئ تاسو د هغې نه چه یاد کړې شی نوم د الله په هغې
وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ
او یقیناً هغه په تفصیل سره بیان کړی تاسو ته هغه څه چه حرام کړی ئې دی په تاسو

اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ
مګر هغه چه مجبوره شئ تاسو هغې ته او یقیناً ډیر خلق خامخا ګمراه کول کوی
بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَاَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۱۹﴾
په خواهشاتو خپلو په ناپوهئ یقیناً رب ستا هغه ښهٔ پوهه دے په زیاتی کونکو (د حد نه)۔

تفسیر : پدے آیت کښې د مخکښې حکم تاکید دے او مسلمانانوته د هغه حیواناتو د خوراك دوپاره ترغیب ورکړے شویدے چه هغه د الله په نوم سره ذبح شوی وی۔
وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ : یعنی د کومو څیزونو خوراك چه حرام دے الله هغه بیان کړیدی۔ بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا د سورة مائدے آیت (۳) ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ ﴾ طرف ته اشاره ده۔ لیکن دا صحیح نهٔ معلومیږی، ځکه چه مائده آخری مدنی سورت دے او انعام مکی سورت دے، بلکه کیدے شی چه اشاره ددے سورت آیت (۱٤۵) ﴿ قُلْ لَّا اَجِدُ فِيْ مَا اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا ﴾ طرف ته وی، یا مقصد دا دے چه مخکښې رسول الله ﷺ هغه احکام بیان کړی، نو دے نه روستو په قرآن کریم کښې د هغې سره متعلق آیت نازل شو۔ او ظاهر دا ده چه دا اشاره ده هغه خبرے ته کوم چه په سورة النحل (۱۱۵) آیت کښې ذکر ده۔
مَا اضْطُرِرْتُمْ : یعنی حرام بیان شویدی او ورسره په اضطراری حالتونو کښې د ځان بچ کولو دپاره حرام شے د حاجت په اندازه خوړلو اجازه هم ورکړے شویده۔
وَاِنَّ كَثِيْرًا : یعنی ډیر خلق نورو لره ګمراه کوی او بغیر د کوم شرعی دلیل نه د خپلو خواهشاتو او شهواتو مطابق د حرام او حلال حکم جاری کوی۔ لکه عمرو بن لحی الخزاعی او د هغه مقلدینو دا کار کولو نو دوی لوی مُعتدین دی۔
بِغَيْرِ عِلْمٍ : اَیْ مِنَ الْمُضِلِّيْنَ وَالْمُضَلِّيْنَ ۔ یعنی نهٔ د حرامونکو ګمراه کونکو سره څه دلیل شته او نهٔ د ګمراه کړے شوو سره۔
بعض مفسرینو لکه رازیؒ وغیره وئیلی دی چه په دین کښې په تقلیدی طریقه سره یا د مذاهبو د عصبیت په طریقه سره خبرے کول حرام دی ځکه چه دا اتباع الاهواء ده بغیر د علم او دلیل نه، ځکه چه مقلد ته د دغه مسئلے دلیل نهٔ دے معلوم۔ (المنار)
بِالْمُعْتَدِيْنَ : دا اعتداء دوه قسمه ده، یو دا چه د حلالو نه تیر شی (تجاوز وکړی) حرامو ته، یعنی د حلالو نه حرام جوړ کړی۔ او دویم دا چه په یو شی کښې دننه اعتداء وکړی چه د

حد د اعتدال نه اسراف ته ورسیږي. (المنار)

وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ
او پرېږدئ ښکاره ګناه او پټه ګناه یقیناً هغه کسان چه کوي ګناه لره
سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾
زر دے چه سزا به ورکړے شي دوی ته په سبب د هغه کارونو چه دوی ئے کوی.

تفسیر : د عربو بل مرض دا وو چه د ځان نه حلال حرامو جوړولو سره به ئے بی حیائی هم کوله، په بربنډه به ئے طوافونه کول، او ځان بربنډول ئے عیب نهٔ ګڼړلو. نو کوم شے چه الله حلال کړے وو چه هغه پاك حیوانات (اُوښان، ګډے بزے) دی، هغه به ئے د معبودانو د وجه نه بد ګنړل، او کوم شے چه حرام وو لکه بی حیائی نو هغے باندے به ئے هیڅ پرواه نهٔ کوله. نو الله په دوی رد کوی

ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ : د «ښکاره او پټه ګناه» په تفسیر کښ د علماؤ ډیر اقوال دی :

(۱) ابن زیدؒ وائی : ښکاره ګناه نه مراد ځان بربنډول دی په طواف کښ، او پټه ګناه زنا ده.

(۲) د مجاهدؒ په نیز ددے نه مراد ښکاره او پټ ګناهونه دی.

(۳) د قتادهؒ په نیز کم یا زیات، دارنګه پټ او ښکاره ګناهونه مراد دی.

(٤) د سُدیؒ او اکثرو مفسرینو په نیز د ظاهر نه مراد د زناکارو جنډو والا ښځو سره زنا او د باطن نه د یارانے او دوستانے والا ښځو سره زنا مراد ده.

(٥) د عکرمهؒ او سعید بن جبیرؒ په نیز د ظاهر نه مراد هغه ښځو سره وادهٔ کول دی چه د هغوی سره وادهٔ کول حرام دی. او د باطن نه مراد زنا ده.

(٦) کلبیؒ او د ابن عباسؓ نه نقل دی چه ظاهری ګناه زنا ده او باطنی (المخالة) د زنا خیال کول دی. (ابن کثیرؒ والبغویؒ) قصداً د زنا خیال کول او د هغے نه مزه اخستل هم ګناه ده.

(٧) د ظاهر الاثم نه مراد هغه ګناهونه دی چه د ښکاره بدن سره تعلق لری، یا ښکاره کیږی او پدے کښ شرك فعلی داخل دے. او باطن هغه ګناهونه دی چه د عقیدے او د زړه سره تعلق لری یا پټ کیږی او پدے کښ شرك اعتقادی داخل دے. (المنار واحسن الکلام)

(٨) ظاهر هغه دی چه قباحت یا ضرر ئے عامو ته ښکاره وی اګرکه په پټه کیږی او باطن هغه دی چه د هغے ضرر پټ وی صرف خواصو ته معلومیږی، اګرکه هغه ښکاره کولے

شي۔ (المنار)

(۹) یا ظاهر هغه دي چه د ظاهري اندامونو سره تعلق لري او باطن هغه دي چه د زړه سره تعلق لري لکه نیتونه، کبر، عجب، حسد، او د شرونو سوچ او فکرونه کول۔ (المنار)

حافظ ابن کثیر رحمه الله وائي: صحیح دا ده چه د آیت مفهوم عام دے، لکه چه الله تعالیٰ په بل ځای کښې فرمایلی دي: ﴿قُلۡ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّیَ الۡفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ﴾ (الاعراف: ۳۳) اُووایه چه زما رب ښکاره او پټ فواحش حرام کړیدي۔ پدے وجه روستو (یَکۡسِبُوۡنَ الۡاِثۡمَ) نه معلومیږي چه د (ظَاهِرَ الۡاِثۡمِ وَ بَاطِنَهٗ) نه ټول ګناهونه مراد دي۔

امام احمدؒ او مسلمؒ د نواس بن سمعان رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه ما د رسول الله ﷺ نه د ګناه په باره کښې تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: [اَلۡاِثۡمُ مَا حَاكَ فِیۡ صَدۡرِكَ وَکَرِهۡتَ اَنۡ یَّطَّلِعَ عَلَیۡهِ النَّاسُ] ((ګناه هغه ده چه ستا په زړهٔ کښې پریشاني پیدا کړي او ستا خوښه نهٔ وي چه خلقو ته د هغے اطلاع اُوشي))۔ (صحیح مسلم رقم: ۲۵۵۳)۔

وَلَا تَاۡکُلُوۡا مِمَّا لَمۡ یُذۡکَرِ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَیۡهِ وَاِنَّهٗ
او مهٔ خورئ د هغه حیواناتو نه چه یاد نکړے شي نوم د الله په هغے او یقیناً دا (خوراك)
لَفِسۡقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّیٰطِیۡنَ لَیُوۡحُوۡنَ اِلٰۤی اَوۡلِیٰٓئِهِمۡ
نافرماني (د الله) ده۔ او یقیناً شیطانان خامخا وسوسے اچوي دوستانو خپلو ته
لِیُجَادِلُوۡکُمۡ ۚ وَاِنۡ اَطَعۡتُمُوۡهُمۡ
دے دپاره چه جګړے وکړي تاسو سره او که تاسو تابعداري وکړه د دوي
اِنَّکُمۡ لَمُشۡرِکُوۡنَ ﴿۱۲۱﴾
یقیناً تاسو به خامخا مشرکان یئ۔

تفسیر: صاحب المنارؒ وائي چه ددے آیت تعلق د مشرکانو د هغو ذبائحو سره دے چه هغوي د خپلو باطلو معبودانو دپاره ذبح کړي وي، او د هغوي دپاره ئے نذر کړي وي ځکه چه هغے ته فسق ووئیل شو لکه بل آیت کښې دي ﴿اَوۡ فِسۡقًا اُهِلَّ لِغَیۡرِ اللّٰهِ بِهٖ﴾ (انعام: ۱۴۵) او ددے نه مراد هغه ذبائح نهٔ دي چه مشرکان د هغے په ذبح تقرب د غیر الله نهٔ حاصلوي، بلکه د خپل ځان دپاره ئے ذبح کړي یا مرداره خوري ځکه چه دلته الله تعالیٰ روستو ﴿وَاِنۡ

أَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ﴾ وئيلے دے يعنى كه تاسو د هغوى تابعدارى وكړه نو تاسو به مشركان شئ او د دغه روستنو حيواناتو په خوراك باندے څوك نۀ مشرك كيږى، او نۀ مشركانو د مؤمنانو سره په دغه ذبائحو كښ جګړه كوله۔ (المنار)

او دا قول د عطاءؒ نه هم نقل دے چه ددے نه مراد نذر د غير الله دے۔ (ابن كثيرؒ وابن جريرؒ) مګر د آيت الفاظ عام دى او د شان نزول نه هم معلوميږى چه پدے كښ مرداره هم داخليږى۔

شان نزول

ددے آيت په شان نزول كښ اصحاب السنن د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه څه كسان د نبى كريم ﷺ خوا ته راغلل او وے وئيل چه كوم حيوانات مونږ قتل كړو (يعنى ذبح ئے كړو) هغه تۀ خورے او كوم چه الله قتل كړى (يعنى مړ شى) نو هغه تۀ نۀ خورے نو ﴿فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ﴾ نه تر ﴿اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ﴾ پورے نازل شو۔ مخكښ د نسائى روايت ذكر شو چه مشركانو د مسلمانانو سره جګړه اُوكړه چه د الله ذبح كړى حيوان تاسو نۀ خورئ او چه خپله ئے ذبح كړئ نو هغه خورئ۔ انتهىٰ۔ او بعض رواياتو كښ دى چه اهل فارس (مجوسيانو) مشركانو ته دا اعتراض خودلے وو چه ددے آخرى نبى او دۀ د ملګرو نه دا تپوس وكړئ۔ (ابن جرير وابن كثير والمنار)

ابوداؤدؒ، ابن ماجهؒ او ابن ابى حاتمؒ په صحيح سند سره د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه شيطانان خپلو منونكو ته ښائى نو هغوى وائى چه اے مسلمانانو! تاسو د الله ذبح كړى حيوانات نۀ خورئ او كوم چه خپله ذبح كړئ هغه خورئ؟ نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو ﴿وَلَاتَأْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ﴾ چه په كوم باندے د الله نوم وانخستے شى هغه مۀ خورئ۔

مسئله: چه كوم حيوان باندے بسم الله نۀ وى وئيلے شوى آيا هغه جائز دے؟

كوم حيوان چه د الله په نوم اخستو سره ذبح نكړے شى برابره ده چه مشرك ئے ذبح كړى يا مسلمان، د هغے د حلت په باره كښ د علماؤ درے مشهور اقوال دى:

١ - اول قول: داود ظاهرىؒ، ابوثورؒ، ابن عمر رضى الله عنهما، نافعؒ، شعبىؒ، ابن سيرينؒ او د يو روايت مطابق مالكؒ او احمدؒ دے، چه كوم حيوان د بسم الله وئيلو سره ذبح نكړے شى د هغے خوړل جائز نۀ دى۔ كه قصداً ئے نۀ وى لوستلى يا هيره شوى وى، اګركه د نسيان په

صورت کښې به بنده ګناهګار نهٔ وي لیکن حیوان مردار شو۔ او دے قول ته شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ترجیح ورکړیده۔

١- دے کسانو ددے آیت د ظاهري الفاظو نه استدلال کړیدے۔

٢- او د سورة المائدے د آیت (٤) نه چه په هغے کښې د ښکار شوي حیوان د خوړلو حکم بیان شویدے۔ ﴿ فَكُلُوا مِمَّا اَمۡسَكۡنَ عَلَيۡكُمۡ وَاذۡكُرُوا اسۡمَ اللهِ عَلَيۡهِ ﴾ چه کوم حیوانات ښکاري سپو ستاسو دپاره رانیولي وي هغه خورئ او په هغے باندے بسم الله وایئ۔

٣- او د هغو احادیثو نه ئے هم دلیل نیولے دے چه په هغے کښې د ذبح او ښکار په وخت د بسم الله وئیلو حکم راغلے دے۔ لکه چه په صحیحینو کښې نقل شویدي چه رسول الله ﷺ عدي بن حاتم او ابو ثعلبه رضی الله عنهما ته وفرمایل: ((که تاسو خپل تعلیم یافته سپے بسم الله وئیلو سره پریدئ نو هغه ښکار خورئ))۔

او په صحیحینو کښې د رافع بن خدیج ﷛ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((کومه آله چه د ذبح په وخت وینه اُوباسي او په هغے باندے د الله نوم اخستے شوے وي هغه خورئ او په غاښ او نوک سره ذبح مهٔ کوئ))۔ او په صحیح مسلم کښې د عبد الله بن مسعود ﷛ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ جناتو ته وفرمایل: ((ستاسو دپاره هر هغه هډوکے خوړل جائز دي چه په هغے باندے د ذبح په وخت د الله نوم اخستے شوے وي))۔

او په صحیحینو کښې د جندب بَجَلي ﷛ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((چا چه د اختر مونځ نه مخکښې ذبح کړیده، هغه دِے یو بل حیوان ذبح کړي، او چا چه د مانځه نه مخکښې ذبح نهٔ ده کړے هغه دِے بسم الله وئیلو سره ذبح اُوکړي))۔

او د عائشه رضی الله عنها حدیث دے، څه کسانو د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو چه خلق مونږ له غوښه راکوي او مونږ ته پته نهٔ وي چه هغوي د ذبح کولو په وخت بسم الله وئیلے ده که نهٔ؟ نو نبي ﷺ اُوفرمایل: ((بسم الله اُووایئ او خورئ))۔ (بخاري رقم: ٥٥٠٧)، وابن کثیرؒ) یعني صحابه کرامؓ پوهیدل چه د ذبح په وخت بسم الله وئیل ضروري دي۔

٢- دویم قول: دا دے چه د ذبح په وخت بسم الله وئیل د مسلمان دپاره شرط نهٔ دے، بلکه مستحب دي، پدے وجه که یو مسلمان قصداً یا په هیره سره بسم الله پریدي، نو د هیڅ نقصان خبره نهٔ ده۔ دا قول د امام شافعيؒ او د هغه د اصحابو دے، او د یو روایت مطابق د امام مالكؒ او احمدؒ هم دا قول دے۔ د ابن عباس، ابو هریره رضی الله عنهما او عطاءؒ نه هم دا روایت شویدے۔ دے کسانو آیت کریمه ﴿ وَلَا تَأۡكُلُوا مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ اسۡمُ اللهِ عَلَيۡهِ وَاِنَّهٗ

لَفِسْقٌ ﴾ لره د غير الله دپاره په ذبح شوي حيوان محمول كړيدے۔ ځكه چه فسق هغه حيوان وي چه د غير الله په نوم سره ذبح شوے وي۔ د دوي په نيز ددے معنى تائيد د روستو راتلونكي آيت : ﴿ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ ﴾ نه كيږي چه هغه حيوان حرام دے چه د شرك په توګه د غير الله په نوم سره پريخوستے شوے وي۔

ابن ابي حاتمؒ د عطاءؒ نه روايت كړيدے چه دا آيت د هغه حيواناتو په باره كښې نازل شوے وو چه هغه به قريشو د خپلو بتانو په نوم ذبح كولو، او د هغه حيواناتو په باره كښې چه هغه مجوسيان ذبح كړي۔ او ابوداود په ((مراسيل رقم :٣٧٨)) كښې د صَلْت سَدُوْسِي نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : ((د مسلمان ذبيحه حلاله ده برابره ده بسم الله ووائي او كه نۀ، كه هغه نوم اخلي نو صرف د الله اخلي))۔ (مګر دا روايت ضعيف دے يو خو مرسل دے او بل صلت سدوسي مجهول دے (نصب الرايه ١٨٣/٤)

او ددے تائيد (د دوي په نيز) د ابن عباس رضي الله عنهما د قول نه كيږي چه هغه دارقطنيؒ روايت كړيدے چه كه مسلمان ذبح وكړي او د الله نوم واخلي نو هغه خوره ځكه چه د مسلمان په زړۀ كښې د الله د نومونو نه يو نوم شته))۔ (الدارقطني : ٢٩٥/٤) دے روايت ته حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (٥٣٩/٩) كښې صحيح موقوف وئيلے دے)۔

او د عائشه رضي الله عنها د تير شوي حديث نه ئے هم دليل نيولے دے چه په هغے كښې نبي كريم ﷺ د نوي مسلمانانو وركړے شوے غوښې په باره كښې وفرمايل چه ((تاسو بسم الله ووايئ او خورئ))۔ (بخاري)

دوي وائي چه كه بسم الله وئيل شرط وے نو ترڅو پورے چه د ذبح په وخت د هغے د وئيلو يقين نۀ وے نو نبي ﷺ د هغے د خوراك اجازت نۀ وركولو۔

امام خطابيؒ وائي چه دا حديث دليل دے چه بسم الله لوستل د ذبيحے د حلاليدو دپاره شرط نۀ دے۔ ځكه كه شرط وے نو په مشكوك حالت كښې د ذبيحے خوړل نۀ حلاليدل۔ دے كسانو د قرآن كريم د آيت ﴿ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ ﴾ ((او د اهل كتابو خوراك ستاسو دپاره حلال دے)) نه هم دليل نيولے دے، ځكه چه دا شك بهر حال باقي پاتے كيږي چه دوي به بسم الله وئيلي وي او كه نۀ ؟۔

دريم قول : د امام ابوحنيفةؒ او د هغه د اصحابو او د اسحاق بن راهويهؒ دے، او د امام مالكؒ او امام احمدؒ هم مشهور قول همدا دے چه كه ذبح كونكي نه بسم الله وئيل هير شي نو هيڅ حرج نشته، او كه قصداً بسم الله ونۀ وائي نو خوراك به ئے جائز نۀ وي۔ د

عليٌ، ابن عباسٌ، سعيد بن المسيبٌ، عطاءٌ، طاؤسٌ، حسن بصريٌ، ابو مالكٌ، ابن ابی ليلیٰ ٌ، جعفر بن محمدٌ او ربيعه بن ابی عبد الرحمنٌ همدا قول دے۔

دے کسانو د ابن عباس ﷺ د روایت نه استدلال کړیدے چه هغه بیهقیٌ او دارقطنی رقم (٤٨٠٨) مرفوعاً روایت کړیدے چه [اَلْمُسْلِمُ يَكْفِيهِ اسْمُهُ فَإِنْ نَسِيَ اَنْ يُسَمِّيَ حِيْنَ يَذْبَحُ فَلْيُسَمِّ وَلْيَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ ثُمَّ لِيَأْكُلْ]

((د مسلمان نوم کافی دے، که د ذبح په وخت بسم الله وئیل هیر شی نو د الله نوم دِے واخلی او خوری دِے))۔

لیکن صحیح دا ده چه دا د ابن عباس ﷺ قول دے، دا مرفوع حدیث نهٔ دے۔ البته د دوی دلیل د قرآن دا آیت کیدے شی : ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَأْنَا﴾ چه (اے الله ! که مونږ نه هیر شی یا غلطی اُوشی نو مونږ مهٔ رانیسه))۔ او نبی کریم ﷺ فرمایلی دی :

((زما د امت نه غلطی او هیره معاف کړے شویده))۔

(ابن ماجه رقم : ١٦٦٢ والطبرانی وسنده صحیح)۔

امام شوکانیٌ ظاهره کښ اولنۍ رائے ته ترجیح ورکړیده او حافظ ابن کثیرٌ دویمے رائے ته یعنی د هغوی په نیز بسم الله وئیل مستحب دی، شرط نهٔ دی۔ صاحب د محاسن التنزیل (علامه قاسمیٌ) هم دے رائے ته ترجیح ورکړیده۔

لیکن د احتیاط تقاضا دا ده چه که ذبح کونکی قصداً بسم الله نهٔ وی وئیلی نو هغه دِے ونهٔ خوړلے شی، ځکه چه د قرآن کریم ظاهری الفاظ په همدے دلالت کوی (چه په کوم حیوان باندے د الله نوم وانخستے شی نو هغه مهٔ خورئ، داسے حیوان خوړل فسق دے)

آؤ، که مسلمان ذبح کونکی نه بسم الله وئیل هیر شی نو په قرآن او سنت کښ د موجود هغه دلائلو د وجه نه به د هغے خوړل جائز وی چه د هغے نه ثابتیږی چه الله د امت مسلمه نه غلطی او هیره معاف کړیده۔ او دا چه په قرآن کریم کښ راغلی دی چه د اهل کتابو ذبیحه خوړل حلال دی، نو دا یو جدا حکم دے چه د مسلمان د ذبیحے سره ئے یوځای کول نهٔ دی پکار۔

او اول قول والا د غلطئ او هیرے معافی کیدو نه دا جواب ورکوی چه دا په اعتبار د گناه سره ده، یعنی دا هیره ونکے گناهگار نهٔ دے او هرچه ذبیحه ده نو په هغے بسم الله نهٔ ده وئیلے شوے، نو په خپل حرمت باندے باقی ده۔لکه په قتل خطاء کښ انسان گنهگار نهٔ دے لیکن دیت (تاوان) به ورکوی۔ اول قول راجح دے یو په هغے کښ احتیاط دے، دویم د

ظاهر د قرآن موافق دے او دا د باب د خطاب الوضع نه دے۔ انظر مجموع فتاوی ابن تیمیهؒ۔

وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ : یعنی دا خوراك وتل دی د الله د حکم نه، او دا فسق عملی دے۔ او د امام شافعیؒ د قول مطابق به معنیٰ دا وی : یقیناً دا نذر د غیر الله د دین نه وتل دی (یعنی پدے سره بنده مشرك کیږی) نو دا فسق اعتقادی دے۔

وَاِنَّ الشَّیٰطِیْنَ : دلته د شیاطین نه مراد د فارس والا مجوسیان وو، او د اولیاء نه مراد د مکے مشرکان وو۔

لَیُوْحُوْنَ : ابن عباسؓ ته یو شخص ووئیل چه مختار بن ابی عبید وائی چه ما ته بیگاه شپه وحی شویده، نو هغه ووئیل چه صحیح وائی، راوی وائی (زما نفرت پیدا شو) چه ابن عباسؓ څنګه دا خبره کوی چه رشتیا ده، نو ابن عباسؓ وفرمایل :

[هُمَا وَحْیَانِ، وَحْیُ اللّٰهِ وَوَحْیُ الشَّیْطَانِ]

دا دوه وحی دی، یو وحی د الله ده محمد ﷺ ته او بله وحی د شیطان ده خپلو دوستانو ته۔ (ابن کثیرؒ)

لِیُجَادِلُوْکُمْ : مجادله دے ته وائی چه هسے چالاکی کوی او هیڅ رشتینی دلیل ورسره نهٔ وی۔

وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ : [أَیْ فِیْمَا یَأْمُرُوْنَکُمْ بِهٖ وَیَنْهَوْنَکُمْ عَنْهُ] (فتح القدیر) یعنی که د مشرکانو تابعداری مو د هغوی په امر او نهی کښې وکړه نو مشرکان به شئ۔

۲- فِیْ تَحْلِیْلِ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ اَوْ تَحْرِیْمِ مَا اَحَلَّ] (قاسمی)

که تاسو د مشرکانو خبره ومنله په تحلیل او تحریم کښې، نو مشرکان به شئ ځکه چه مشرکان مردارے ته حلاله وائی، او الله ورته حرامه وئیلے ده، نو څوك چه د مشرك دا خبره ومنی نو هغه به مشرك شی، ځکه چه پدے کښې غیر الله ته د شارع صفت ورکول دی۔

۳- [اَیْ اَطَعْتُمْ اَوْلِیَاءَ الشَّیْطَانِ اِنَّکُمْ لَمُشْرِکُوْنَ لِاَنَّ طَاعَتَهُمْ طَاعَةٌ لِلشَّیَاطِیْنِ وَذٰلِكَ اِشْرَاكٌ] (البحر المحیط)۔ که تاسو د شیطانانو د دوستانو خبره ومنله نو تاسو به مشرکان شئ ځکه چه د هغوی خبره منل د شیطانانو خبره منل دی او دا شرك دے، (کله چه ددے عقیده لری)۔

٤-[وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ فِیْمَا یُجَادِلُوْنَکُمْ فِیْهِ وَهُوَ الطَّعْنُ فِی الْاِسْلَامِ وَالشَّكُّ فِیْ صِحَّةِ اَحْکَامِهٖ] (التحریر)۔ یعنی که تاسو ددے اولیاء الشیطان هغه خبره ومنله په کوم باندے چه تاسو سره جګړے کوی چه هغه په اسلام باندے تنقید کول او ددے په احکامو کښې شك کول دی نو

تاسو به خامخا مشركان شئ ځكه چه د شيطانانو پدے خبره كښ تابعداری كول اګركه د الله سره ئے شريكان نۀ وی جوړ كړی هم شرك دے ځكه چه د اسلام احكام خطاء ګڼړل د شرك سره برابر دی۔

لَمُشْرِكُوْنَ : زجاج وئيلی دی چه دا دليل دے چه څوك حرام لره حلال وګڼړی يا حلال لره حرام وګڼړی يا نذر د غير الله حلال ګڼړی نو دا مشرك دے۔ (بغویؒ) خو پدے شرط چه دغه شے په قطعی دليل سره ثابت وی۔ (التفسير المظهری)

ترمذیؒ د ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ په تفسير كښ د عدی بن حاتم ﷺ نه روايت كړيدے چه هغوی ووئيل، يارسول الله ! اهل كتابو خو د خپلو احبارو او رهبانو عبادت نۀ وو كړے؟ نو نبی كريم ﷺ وفرمايل : چه احبارو او رهبانو به حلال حرام او حرام حلال كړل او خلقو به د هغوی اتباع وكړه نو همدا د هغوی عبادت وو۔

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ
آيا هغه څوك چه وی مړ پس ژوندے كړو مونږ هغه او وګرځوو هغه له رڼړا چه ګرځی په هغے سره
بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ
په خلقو كښ په شان د هغه چا كيدے شی چه د هغه صفت دا دے چه په تيارو كښ دے،
لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾
نۀ دے وتونكے د هغے نه دغسے ډولی كړے شويدی كافرانو ته هغه عملونه چه دوی ئے كوی۔

تفسير : پدے آيت كښ د مؤمن او د كافر مثال راوړی، په مؤمن كښ دوه صفتونه دی، يو حيات او بل نور اوكافر كښ دا دواړه نشته، نو آيا دا دواړه ګنے برابريدے شی؟۔

فائده : د انسان كمال په دوو صفاتو كښ دے يو حياة دويم نور، د حياة نخه دا ده چه انسان د الله تعالیٰ او د آخرت طلبګار شی او د نُور نخه دا ده چه د سنتو متبع شی، د دواړو صفاتو مثال د كاړی دے چه يو سټارټ كيدو ته او بل لائټونو ته ضرورت لری، په يو كار نۀ كيږی، نو دغه شان د انسان دپاره هم دغه دواړه صفات ضروری دی، دا ډير عجيب مثال دے كه چا سوچ وكړو،

په حياة سره په يو شی كښ حركت پيدا كيږی، او په نُور سره لاره واضحه كيږی، او پدے دواړو سره بنده مقصد ته رسيږی، لكه كاړے چه سټارټ شی او بيا لائټونه ولګوی نو

مقصد ته به رسیږی او چه ګاړے سټارټ شي او لائټونه ئے نهٔ وی، یا لائټونه ولګوی لیکن ګاړے سټارټ نهٔ وی نو انسان مقصد ته نشي رسیدلے۔
نو د مؤمن دپاره حیاتِ قلبی هم ضروری دے چه هغه د الله طلب او هغه طرفته رغبت او مینه پیدا کیدل دی، او نُور د وحی دے، نو کله چه د بنده په زړه کښ د الله سره مینه او توجه پیدا شي او بیا د وحی په رنړا روان شي نو سیده به جنت ته ورسیږی۔

مناسبت :

په انسان کښ حیاتِ قلبی په څه سره راځی؟ نو هغه دا چه مردارے او حرام څیزونو نه ځان وساتی ځکه چه د حرامو په خوړلو سره زړهٔ مری۔
او پدے کښ اشاره ده چه هرکله چه مؤمنانو حرامے او مردارے پریخودے نو الله څنګه حیاتِ قلبی ورکړو او مشرکان مردارے خوری پدے وجه په تیارو کښ پراتهٔ دی او توحید طرفته نهٔ راځی۔
مَيْتًا : أَیْ بِالْكُفْرِ وَالشِّرْكِ فَأَحْيَيْنَاهُ بِالْإِيْمَانِ۔ یعنی مړ دے په دغه کفرونو او شرکونو سره کوم چه مخکښ بیان شو نو مونږه ئے راژوندے کړو په ایمان سره۔
وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا : د نور نه مراد د وحی رنړا ده۔ (قتادة)
یا میتا نه مراد فِیْ ظُلُمَاتِ الْكُفْرِ وَالْجَهْلِ وَالْمَعَاصِیْ (یعنی د کفر او جهالت او د ګناهونو په تیارو کښ دے) او اَحْيَيْنَاهُ بِنُوْرِ الْإِيْمَانِ وَالْعِلْمِ وَالطَّاعَةِ دے
(یعنی مونږه ئے د ایمان او علم او طاعت په رنړا سره راژوندے کړو)۔ (السعدیؒ)۔
يَّمْشِیْ : ګرځی راګرځی، یعنی ژوند تیره وی، اشاره ده چه اصلی ژوندے همدا دے۔
مَّثَلُهٗ فِی الظُّلُمٰتِ : یعنی صفت د هغه دا دے چه په تیارو کښ پروت دے۔ نو پدے کښ اشاره ده چه نشي ګرځیدے ځکه چه حیات پکښ نشته او رنړا هم نشته۔
لِلْكٰفِرِيْنَ : ددے نه معلومه شوه چه دا د کافر او د مؤمن مثال دے۔
نو پدے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ د مؤمن او کافر یو مثال بیان کړیدے، او مقصد مؤمنانو ته د کافرانو د اتباع نه یو نفرت ورکول دی۔ انسان په کفر او ګمراهئ کښ حیران وو او ګویا که هغه مړ وو، نو الله د هغه زړهٔ د ایمان په ذریعه ژوندے کړو، او هغه مؤمن شو، لیکن چا له چه الله د ایمان توفیق نهٔ ورکوی هغه به د کفر او شرك په تیارو کښ ګمراه پروت وی او ګویا که هغه به د ژوند سره سره مړ وی، ځکه چه اصل ژوند د ایمان ژوند دے۔

الله تعالیٰ د قرآن کریم په ګڼرو آیتونو کښ د (ایمان) نه په ژوند او رڼړا سره او د (کفر) نه په مرګ او تیارو سره تعبیر کړیدے۔

کَذٰلِكَ زُيِّنَ : دا جواب د سوال دے چه چا کښ ذره برابر عقل وی هغه به دا حالت څنګه غوره کړی چه په تیارو کښ باقی پاتې وی؟ نو جواب وشو چه (زُيِّنَ لِلْكَافِرِيْنَ) یعنی چه شیطان کافرانو ته د هغوی بد عملونه ښائسته ښکاره کړیدی تردے چه هغه د هغوی په زړونو کښ کور کړیدے، او مضبوط شویدی پدے وجه هغوی ته دغه بد عملونه غوره ښکاره شویدی۔ (السعدیؒ)

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِىْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا
او دغسے ګرځولی دی مونږ په هر کلی کښ مشران، مجرمان د هغے
لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ؕ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾
دے دپاره چه چل ول وکړی په هغے کښ او مکر نۀ کوی دوی مګر په خپلو ځانونو او نۀ پوهیږی۔

تفسير : پدے آیت کښ ١–یو نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړے شویده چه لکه څنګه چه مونږ په مکه کښ څه مشران (مجرمین) پیدا کړیدی چه خپلو تابعدارو ته دهوکه ورکولو دپاره باطل ښائسته پیش کوی، او حق پټوی، دغه شان ستا نه مخکښ هم مونږ په هر کلی کښ څه غټان مجرمان پیدا کړی، چه هغوی د حق نه انکار کړیدے، او باطل ئے ښائسته رنګ والا جوړولو سره عامو خلقو ته پیش کړیدے، او هغوی ئے په دهوکه کښ اچولو سره د الله د نبی د اتباع نه منع کړیدی۔ او دا قانون اُوس هم دے چه د حق خلاف همیشه غټان خلك کوی۔

٢– او دا بله عقبه د دعوت هم ده۔ ٣– او پدے آیت کښ دغه مجرمانو ته تهدید (زورنه او دهمکی) هم ده۔ د عَقَبے حاصل دا دے چه کله یو تن د دین دعوت کوی، نو د هغه سره د مناظرو نه روستو به خلك راځی او حکومتونو او اقتدار والو ته به د داعی په خلاف رپوټونه کوی چه دلته یو شری پیدا شویدے او خلکو کښ اختلافات پیدا کوی، او چا ته به وائی چه ستاسو ووټونه خرابوی، نو هغوی به راشی، دۀ ته به دهمکیانی ورکړی چه جیل ته دِے اچوم، او د کلی نه دِے شړم، او ددۀ د دعوت د بندولو پروګرامونه به وکړی او مدرسے به ورله بندول شروع کړی، نو الله فرمائی چه پدے کار به صبر کوے او خپل دعوت

به نۀ پریدی، دا په هره زمانه کښې د انبیاؤ او د حق د داعیانو سره شویدی۔ او مجرمانو ته د همکی داسے ده چه دا مجرمان خو د الله په مقابله کښې ودریدل، د هغه دین ختمول غواړي، دا خو د داعي خپلے ذاتي خبرے نۀ دي بلکه د الله دین دے نو دوی ځان تباه کوی۔

فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ : یعنی په هره علاقه او کلی کښې چه د حق دین دعوت کیږی نو دا کار به ضرور کیږی۔

اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا : اکابر مفعول اول او (مجرميها) مفعول ثاني دے یعنی ما غټان او مشران خلك د کلی مجرمان گرځولی دی۔ لکه سورة بني اسرائيل (١٦) آیت کښې دی:

﴿ وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا﴾ ۔

(او کله چه مونږ وغواړو چه یو کلے هلاك کړو نو مونږ حکم وکړو د هغے مستانو ته نو هغوی فسق شروع کړی په دغه کلی کښې) یعنی مترف (مستان) خلك گمراه وی۔

او د دوی د گمراهئ وجه دا ده چه حق اکثر د خواهش خلاف وی، او په دے مشرانو کښې تکبر او د خواهش تابعداری او دنیا پرستی وی، نو ځکه دوی د حق خلاف کوی، ځکه که حق ښکاره شی نو بیا خلکو ته د دوی غلا او فساد ښکاره کیږی۔ نو کله مال، شهرت او مشری هم امتحان گرځی۔

لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا : ابن کثیر رحمه الله وائی چه د مکر نه مراد دا دے چه هغه مجرمانو خپلو منونکو ته د دهوکے په ښائسته خبرو سره دگمراهئ دعوت ورکړو، او انبیاء او رسولان علیهم السلام ئے په امتحاناتو کښې اخته کړل، لیکن آخر کښې انبیاؤ ته د الله نصرت حاصل شو او د هغه مجرمانو سازشونه ذره ذره پاتے شو۔

(لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا) ددے نه روستو جمله پټه ده اَیْ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ ۔ دے دپاره چه په هغے سره حق ته دیکه ورکړی او هغه ورك کړی۔

وَمَا يَمْكُرُوْنَ : دا تهدید دے چه دا خلك ځان غرق کوی ځکه چه د حق مقابله د الله مقابله ده، او د الله مقابلے ته څوك ټینگیدے شی؟! ځکه چه د حق مقابله شروع کړی نو د هغوی ذلت او رسوائی او هلاکت شروع شی، یا ئے الله قتل کړی۔

وَاِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى
او کله چه راشي دوی ته څه نخه وائی دوی هیچرے ایمان نۀ راوړو مونږ تردے چه

نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔ اَللّٰهُ
راکړے شي مونږ ته په شان د هغے چه ورکړے شویدي رسولانو د الله ته، الله تعالیٰ
اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ
ښه پيژني هغه ځای چه ګرځوی (په هغے کښې) پيغام خپل، زردے چه وبه رسی
الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ
هغه کسانو ته چه جرم ئے کړيدے ذلت په نيز د الله تعالیٰ او عذاب سخت
بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾
په سبب د هغے چه دوی مکرونه جوړوی۔

تفسیر : اُوس د مشرکانو مجرمانو تکبر ذکر کوی۔ او دا هم د هغوی د مکرونو نه یو مکر دے۔

شان نزول

د ولید بن مغیره په باره کښې نقل شویدی چه هغه رسول الله ﷺ ته ووئیل چه که نبوت رشتینے شے وے نو د هغے به زهٔ حقدار وے، ځکه چه زهٔ په عمر کښې مشر او زیات مالداره یم۔ او د ابوجهل په باره کښې نقل شویدی چه هغه ووئیل چه قسم په الله، نهٔ به مونږ دا منو او نهٔ به ئے اتباع کوو، مګر دا چه په مونږ هم وحی نازله شی لکه څنګه چه په محمد (ﷺ) باندے نازلیږی۔ (تفسیر القرآن العظیم للامام الطبرانی)

الله تعالیٰ پداسے خلقو رد اُوکړو وے فرمایل چه د نبوت په رڼړا سره الله تعالیٰ هرڅوك نهٔ کامیابوی، الله پو هیږی چه ددے اهل څوك دے، او ددے امانت حفاظت څوك کولے شی۔

په مسند احمدؒ او صحیح مسلم کښې د واثله بن الاسقع ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((الله اول د ابراهیم علیه السلام د اولادو نه اسماعیل چانړ کړو بیا ئے د بنی اسماعیلو نه کنانه نه بیا ئے د کنانه قریش او بیائے د قریشو نه بنی هاشم چانړ کړل او بیائے د بنی هاشمو نه زهٔ غوره کړم))۔ (احمد : ١٧٠٢٧ بسند صحیح علی شرط مسلم)

د مسند احمدؒ یو بل حدیث دے چه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ لره د تمام مخلوقاتو د تمامو قبائلو او د تمامو خاندانونه چانړ کړو او بیائے نبی جوړ کړو۔

نُوْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ : ددے نه مراد ملائك دی چه هغه دِے مونږ ته راشی او

خبرے دِے وکړی چه دا د الله رسول دے۔ لکه د سورة الفرقان (۲۱) آیت کښې دی: ﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ لَايَرْجُوْنَ لِقَاءَ نَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا﴾ (ابن کثیرؒ)

(او ووئیل هغه کسانو چه زمونږ د ملاقات امید نهٔ لری ولے نهٔ نازلیږی په مونږ باندے ملائك یا ولے نهٔ وینو رب خپل)

او ابن جریرؒ وائی ددے نه مراد دا دے چه دوی به وئیل چه دا نبی دِے مونږ ته داسے معجزات راوړی لکه پخوانو رسولانو ته چه ورکړے شوی وو چه هغه موسیٰ علیه السلام ته د دریاب کولاویدل، او عیسیٰ علیه السلام ته د مړی ژوندی کول، او مورزادی ړوند او برګی بیمار روغول دی. صاحب المنار وائی اول مطلب د روستو جملے (اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ) سره زیات مناسب دے۔

یو داعی ته الله عزت ورکړی نو مجرمان وائی چه مونږ ددهٔ پسے نهٔ ورځو، مونږه ته ولے داسے عزت نهٔ ملاویږی۔

اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ : یعنی دا پیغمبری څه داسے مصادفةً او په اټکل باندے چا ته نهٔ ملاویږی بلکه الله تعالیٰ ددے اهل او صلاحیت والا خلك پیژنی بیا پیغمبری ورکوی، او هرچا ته نشی ملاویدے، نو ابوجهل په شان خلك ددے چرته لائق کیدے شی۔

عِنْدَ اللّٰهِ : ۱- یعنی په آخرت کښې. لکه د صحیح بخاری روایت دے چه د قیامت په ورځ به د هر دهوکه باز شا ته یوه جنډه ناله شی او وئیلے به شی چه دا د فلان بن فلان د دهوکے جنډه ده۔ (بخاری: ٦١٧٨)

۲- یا عند الله په معنیٰ د (مِنَ اللّٰهِ) دے (فراءؒ) (یعنی د الله د طرفنه) نو بیا دا دنیا ته هم شامل دے۔

صَغَارٌ : ذلت، او سپکوالے. بیا دا قید ځکه ولګیدو چه جزاء من جنس العمل وی، دوی تکبر وکړو نو الله تعالیٰ ذلیله کړل۔

فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ج
پس چا له چه وغواړی الله چه هدایت وکړی هغه ته نو کولاوه کړی سینه د هغه اسلام ته
وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا
او چا له چه وغواړی چه ګمراه کړی هغه نو وګرځوی سینه د هغه تنګه ډیره تنګه ګویا که

يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجۡعَلُ اللهُ الرِّجۡسَ عَلَى الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۲۵﴾

په زوره خيژي په بره طرف كښې دغسې ګرځوي الله پليتي په هغه كسانو چه ايمان نۀ راوړي۔

تفسير : دا متعلق دے د مخكښې آيت سره چه دوه دعوته به روان وي، ته به هم د حق دعوت كوے، او اكابر مجرمان به هم دعوت كوي، نو د انسان شك پيدا شي چه مجرمان خو ډير زورور دي، چالاكه هم دي، نفري ئے هم زياته ده، او زۀ خو يواځے يم هيڅوك راسره نشته، او دغه شان چالاكي مے هم نشته نو دوي خو به عوام الناس ټول زما نه واړوي او ګمراه به ئے كړي، نو الله تسلي وركوي چه الله چه د چا د هدايت اراده وكړه هغه هيڅوك نشي ګمراه كولے، نو سره ددے غلط دعوت نه به بيا هم الله تعالىٰ هدايت عام كړي او په ډيرو انسانانو كښې به ئے راولي۔ او دا داسے آيت دے لكه سورة الفرقان (۳۱) آيت كښې دي :

﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِنَ الۡمُجۡرِمِيۡنَ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيۡرًا﴾۔

(او دغه شان مونږ د هر نبي دپاره د مجرمانو نه دشمنان جوړ كړيدي او ستا رب پوره هدايت كونكے او مددګار دے)۔

O او دارنګه پدے آيت كښې الله تعالىٰ خپلو بندګانو ته خبر وركړيدے چه هدايت او ګمراهي د هغه په اختيار كښې ده۔ چا له چه وغواړي په خپل رحمت سره ورته هدايت كوي او چا له چه وغواړي د عدل د تقاضا مطابق ئے ګمراه كوي۔ او هدايت اوګمراهي د هر دوريو مقرر رباني نظام دے، څوك چه هدايت غواړي او هغه رشتيني طلب ګاروي، نو الله تعالىٰ ورته د هغے لارے آسانوي، او ټول اسباب ورته برابروي، او د ايمان قبلولو او د اسلام د اتباع دپاره د هغه سينه كولاووي۔ او څوك چه ګمراهي غواړي او د هغے خواهش كوي نو د هغه دپاره الله تعالىٰ د ګمراهئ تمامے دروازے كولاووي۔ او د هغه زړۀ تنګ شي چه د ايمان داخليدو دپاره په هغے كښې ګنجائش باقي نۀ پاتے كيږي او د هغه حالت د هغه سړي په شان شي چه په تكلف سره آسمان طرف ته ختل غواړي، ليكن دغسے نشي كولے، يعني توحيد او ايمان د هغه په زړۀ كښې نۀ داخليږي۔

يَشۡرَحۡ صَدۡرَهٗ لِلۡاِسۡلَامِ : يعني بيا د چا غلط دعوتونه په هغه باندے اثر نكوي، د دماغ او زړه فيوض ئے برابر شي نو رڼړا پكښې راشي۔

يَشۡرَحۡ صَدۡرَهٗ : ددے ډير مطلبونه بيان شويدي (۱) يَهۡدِ قَلۡبَهٗ لِلتَّوۡحِيۡدِ وَالۡاِيۡمَانِ] (ابن كثير) يعني زړه ته ئے د توحيد او ايمان هدايت وكړي بيا پرے ايمان او توحيد او نيك اعمال ښه

لګی، او دے ته غاړه اږدی او د اسلام هر رکن ته تیاریږی، نو دا نښه ده چه الله دۀ ته هدایت کړیدے۔ (السعدی)

٢- يَجْعَلُ نَفْسَهٗ مُهَيَّئَةً لِقَبُوْلِ الْحَقِّ۔ ددۀ نفس د حق د قبلولو دپاره تیار کړی۔

٣- علامه محمد رشید رضاؒ وائی : د کوم انسان د زړه نه چه د حق د قبلولو دوه موانع ووځی چه هغه کبر او حسد دے، او فکر ئے د تقلید د پلارانو نه مستقل او آزاد شی، او اراده ئے مضبوطه شی کومه چه د مشرانو د اتباع نه اړونکے ده، نو څوك چه د الله په تقدیر سره د اسلام د دعوت قبلولو اهل جوړ شی نو په دغه وخت کښې دے په سینه کښې یو کولاؤ والے محسوس کړی او زړه کښې ئے خوشحالی او د قبلولو داعیه (باعث) پیدا شی ځکه چه موانع ختم وی نو دے صحیح سوچ وکړی نو د اسلام او د حق حقانیت ورته ښکاره شی او دا هغه رڼا ده چه په ده باندے د قرآن نه رانازلیږی۔ نو دا آیت د مقابل مخکنی آیت شو چه په هغے کښې د مؤمن او د کافر مثال ذکر وو۔ (المنار)

٤- او په یو حسن حدیث کښې دی چه د رسول الله ﷺ نه د شرح صدر پوښتنه وشوه هغه وفرمایل : نُوْرٌ يَقْذِفُهُ اللّٰهُ فِيْ قَلْبِ الْمُؤْمِنِ فَيَنْشَرِحُ لَهٗ وَيَنْفَسِحُ] ۔ دا یوه رڼا ده چه الله ئے کله د مؤمن زړه ته واچوی نو هغے دپاره کولاؤ او تازه شی۔ تپوس وشو : آیا ددے څه نښه شته ؟ وے فرمایل : [نَعَمْ، اَلْاِنَابَةُ اِلٰى دَارِ الْخُلُوْدِ وَالتَّجَافِيْ عَنْ دَارِ الْغُرُوْرِ وَالْاِسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُوْلِ الْمَوْتِ] ۔ آؤ، د آخرت دپاره انابت، او د دنیا نه اعراض او د مرګ دپاره د هغے د راتللو نه مخکښې تیاری کول دی۔ (البيهقى فى الاسماء والصفات ١/٢٥٧) وابن جرير) ضعفه احمد شاكر وقواه ابن كثير لتعدد طرقه)

یعنی د آخرت فکر ورسره پیدا شی او دنیا ته شا واړوی او د آخرت عملونه شروع کړی۔

٥- او شرح د صدر دے ته هم وائی چه په توحید او سنت ئے پوهه کړی او د زړه نه ئے شکونه لرے کړی او د دین تکالیف ورته آسان کړی۔ (احسن الكلام)

٦- حاصل د شرح الصدر دا دے چه د الله تعالیٰ هر حکم منلو ته تیار شی، داسے نۀ وائی چه دا خو زمونږ مشرانو نۀ دی وئیلی، زمونږ مذهب کښې نشته، ما ندی آوریدلی۔

يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا : او څوك چه ګمراه کول غواړی نو توحید او سنت آوریدلو باندے ډیر تنګیږی او بیا سخت غصه شی او ددے منل ورته دومره سخت ښکاره شی لکه په یو غر باندے خیژول۔

عمر فاروق ؓ د یو اعرابی د بنو مدلج نه تپوس وکړو چه حَرِجَة څه ته وائی؟ نو هغه

وويل : [أَلشَّجَرَةُ تَكُوْنُ بَيْنَ الْأَشْجَارِ لَاتَصِلُ اِلَيْهَا رَاعِيَةٌ وَلَا وَحْشِيَّةٌ وَلَا شَيْءٌ] (بغوى، ابن كثير)
چه هغې ونې ته وائي چه د نورو ونو په مينځ كښې وي چه هغې ته هيڅ حيوان او هيڅ شے نشي رسيدلے. ځكه چه ډيره اُوچته وي. نو د حَرَجًا معنىٰ دا شوه چه ډيره تنګه وي چه د هدايت هيڅ خبرے ته نۀ فراخه كيږي او د ايمان او د خير هيڅ خبره هغې ته نۀ ننوزي.
(مجاهدؒ، عطاء الخراسانيؒ - ابن كثيرؒ)

كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ : ددے دوه مطلبه دي (۱) يو دا چه داسے مثال ئے دے لكه يو تن ته چه وويل شي چه بره غر يا ډيرئ ته وخيژه نو د هغه سينه به څنګه تنګه وي او زړه به ئے مرئ ته راغلے وي نو دغه شان ددے سړي سينه ايمان او توحيد او د دين ته لو اعمالو ته تنګه وي او دا ورته مشكل او ګران كار ښكاري چه اُوس به پدے څوك عمل كوي، د خپل رواج او عادت نه مجبوره وي.
(۲) دويم مطلب دا دے چه (السماء) په معنىٰ د آسمان سره دے يعني لكه څنګه چه سړے آسمان ته نشي ختلے نو دغه شان ددۀ زړه ته توحيد او ايمان نشي داخليدے، دا د ناممكن په درجه كښې شي. (ابن عباسؓ - ابن كثيرؒ)
او مشركان او د سنتو مخالفينو ته وګورئ دا حالت به تاسو ته ښكاره شي. بهر به شراب خانه جوړه وي، نائي خانه كښې به خلك ګيرې خريوي، څوك به هيڅ نۀ وائي او په مسجد كښې به آمين وويل شي نو زړه به ئے تنګ شي او چغے او سورے به جوړې كړي او جنګ او فساد به خور كړي.
صاحب المنار وائي دا صفت د هغه كافر دے چه ددۀ فطرت د شرك او د اعمال شركيه ؤ په وجه خراب شويدے او د حسد او تكبر په وجه ئے نفس ګنده شويدے نو دے تأمل او صحيح فكر ته او د داعي خبرے آوريدو ته نۀ پريدي، نو دۀ باندے د تكبر او حسد د وجه نه دا ګرانه وي چه دا څنګه د بل چا تابع شي حال دا چه دے خو د هغه نه په امامت او مشرئ ډير لائق دے نو ددۀ اراده سخته ضعيفه وي او تصرف ئے كمزورے وي، د اكثريت مخالفت ورته ګران وي......الخ (المنار)

كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ :

د رجس مصداقات

رجس كُلُّ مُسْتَقْذَرٍ ته وائي يعني هر ګنده شے چه طبيعت ئے بد ګڼري.

۱- او دلته د رجس نه مراد عدم الایمان (یعنی کفر) دے۔ ۲- اَللَّعْنَةُ فِي الدُّنْيَا وَالْعَذَابُ فِي الْآخِرَةِ (په دنیا کښې لعنت او په آخرت کښې عذاب) (الزجاجؒ) (ذكره البغویؒ)

۳- ابن عباس رضی الله عنه وائی چه دلته د رجس نه مراد شیطان دے۔ یعنی لکه څنګه چه الله تعالیٰ د کافر زړۀ تنګوی او په هغے کښې د ایمان نور نۀ داخلیږی، دغه شان الله تعالیٰ په هغه باندے شیطان هم مسلط کوی چه هغه ئے همیشه ګمراه کوی او د حقے لارے نه ئے منع کوی۔

٤- او كُلُّ مَا لَا خَيْرَ فِيهِ ته وائی یعنی هر هغه شے چه خیر پکښې نۀ وی۔ (مجاهدؒ) (ابن کثیرؒ)

عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ : دلته د دغه رجس سبب بیانیږی هغه دا چه: رجس الله تعالیٰ په هغه چا وراچوی چه ایمان نۀ لری او نۀ د ایمان اراده لری، په ګندګئ کښې خوشحاله وی نو دا ګندګی د کفر او شرك پرے الله تعالیٰ واچوی۔

حکمة : په سورة یونس (۱۰۰) کښې ئے (عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ) ووئیل: ځکه چه بی عقله خلك بی ایمانه وی او بی ایمانه خلك بی عقله وی، دواړو ترمینځ ملازمه ده، دلته ئے (لَا يُؤْمِنُوْنَ) ووئیل ځکه چه دے سورت کښې د قرآن متعلق بحث ډیر دے، او سورة یونس کښې د ایمان بالله او په هغے دلائل ذکر کول دی نو ځکه ئے هلته (لَا يَعْقِلُوْنَ) ووئیل، روستو ترے ﴿قُلِ انْظُرُوْا مَا ذَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ راغلے دے۔

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ۭ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ
او دا لاره د رب ستا ده نیغه، یقیناً په تفصیل سره بیان کړیدی مونږ آیتونه
لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ
هغه قوم لره چه نصیحت اخلی۔ د دوی دپاره کور د سلامتیا دے په نیز د رب د دوی
وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾
او هغه مددګار د دوی دے په سبب د هغے عملونو چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : اُوس قرآن ته ترغیب ورکوی چه د هدایت مزیداره او آسانه لاره شته، او په یو تن باندے بده لګی او پدے نۀ روانیږی نو د هغه خپل جرم دے لکه څنګه چه د مؤمنانو

صفت کوی او زیرے ورکوی۔

ربط :

مخکښ شرح صدر ذکر شوه نو اُوس سبب د شرح صدر ذکر کوی چه هغه قرآن دے۔

وَهٰذَا : دا اشاره ده بیان او مضمون د قرآن ته، یا اشاره ده دین اسلام او قرآن کریم او توحید او ایمان طرف ته۔ نو پدے کښ الله تعالیٰ د گمراه شوی خلقو حال او د هغوی د طریقے بیانولو نه روستو د دین اسلام او د حقے لارے فضیلت بیان کړیدے۔

يَّذَّكَّرُوْنَ : یعنی خبره رایادوی او عبرت اخلی۔

لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ : د ((دار السلام)) نه مراد جنت دے، یعنی په دین اسلام باندے تلونکی خلقو ته به د قیامت په ورځ الله تعالیٰ جنت ورکوی، او دوی سره به محبت کوی، او د دوی حافظ او ناصر به وی۔ او دوی ته دار السلام ځکه ورکوی چه دوی د سلامتیا لاره اختیار کړیده۔

دار السلام : سلام یا د الله نوم دے۔ (حسن بصریؒ) یا مصدر دے په معنیٰ د سلامتیا د ټولو آفتونو نه۔ یا د سلام نه مراد تحیه ده یعنی کور د ډیرو سلامونو، چه د هر طرفنه به پرے سلامونه وئیلے کیږی۔

وَلِی نه مراد حافظ او ناصر او مُؤَیِّد دے (ابن کثیرؒ) او ولی دوست ته هم وائی نو ددے نه معلومه شوه چه ولایت د الله تعالیٰ، په صحیح عقیده او نیک عملونو حاصلیږی۔

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ج يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ
او په هغه ورځ چه راجمع به کړی دوی لره ټول (وبه وائی) اے ډلے د پیریانو! یقیناً
اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ج وَقَالَ اَوْلِيٰٓـؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا
ډیر گمراه کړیدی تاسو د انسانانو نه او وبه وائی دوستان د دوی د انسانانو نه اے ربه زمونږ!
اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِىٓ
فائدے اخستی دی بعضو زمونږ په بعضو سره او ورسیدو مونږ نیتے زمونږ هغے ته
اَجَّلْتَ لَنَا ط قَالَ النَّارُ مَثْوٰكُمْ خٰلِدِيْنَ
چه تا مقرر کړے وه مونږ له، وبه وائی الله، اُور ځای د وسیدو ستاسو دے همیشه به یئ

فِيهَآ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾

په هغې کښې مگر هغه چه غواړي الله، یقیناً رب ستا حکمتونو والا پو هه دے۔

تفسیر: مخکښې د شیاطین الانس والجن بیان وشو په دنیا کښې نو اُوس د دوی حال په خپل مینځ کښې په آخرت کښې بیانیږی چه اے محمد (ﷺ)! ته خلقو ته بیان کړه چه په کومه ورځ به مونږ جنی شیطانان او د هغوی تابعدار انسانان راجمع کړو، کومو چه به د هغوی عبادت کولو او د هغوی پورے به ئے پناه اخستـه۔ په هغه ورځ به مونږ شیطانانو ته اُووایو چه تاسو انسانان ډیر گمراه کړی وو او د هغوی نه مو ډیر کسان خپل تابع جوړ کړی وو، نو نن ورځ ستاسو د ټولو انجام ستاسو د سترگو مخامخ دے۔

ددے په جواب کښې به د هغوی منونکی انسانان د خپلو گناهونو د اقرار کولو سره ووائی چه اے زمونږ ربه! په دنیا کښې مونږ ټولو د یو بل نه فائده پورته کړے وه، انسانانو د جناتو په ذریعه د بدیانو او مصیبتونو نه پناه غوختله او د هغے په عوض به د جناتو تعظیم کیدو نو الله تعالیٰ به خپله فیصله صادره کړی چه نن ورځ د ټولو ځای د اُوسیدو جهنم دے۔

نو پدے آیت کښې د هغه خلکو حال واوره چه د شیطانانو پسے تلی وی او روستو آیت کښې به ووائی چه چا رسولان پریښی وی د هغوی حال هم واوره۔

قَدِ اسْتَكْثَرْتُم: اَیْ اَسْتَضْلَلْتُمْ کَثِیْرًا۔ تاسو ډیر انسانان گمراه کړی وو ځکه چه انسانان د پیریانو په وجه ډیر گمراه کیږی، د هغوی نه مددونه اخلی، او د هغوی دپاره نذر او منښتے کوی۔

رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ: ۱- حسن بصریؒ وائی ددے استمتاع معنیٰ دا ده چه جناتو امر کړیدے او انسانانو په هغے عمل کړیدے۔ (ابن کثیرؒ) لیکن دا خبره مجمله ده۔

۲- د پیریانو استمتاع دا وه چه د هغوی طاعت به کیدو او د انسانانو استمتاع د پیریانو نه دا وو چه هغوی به په دوی سره دنیاوی فائدے اخستلے لکه د عربو عادت دا وو چه صحراء کښې به روان وو او شپه به پرے راغله نو پیریانو ته به ئے آواز وکړو [اَعُوْذُ بِسَیِّدِ ھٰذَا الْوَادِیْ مِنْ سُفَهَاءِ قَوْمِهٖ] ددے علاقے په مشر پیری بانـدے پناه غواړم چه د هغه د قوم بیوقوفان ما تـه تـکـلـیف رانکړی۔ نو هغه به کشرانو ته وویل چه ما پورے ئے پناه طلب کړیده دۀ ته به ضرر نۀ ورکوئ، نو دۀ به په امن کښې شپه تیره کړه، نو پدے سره به پیرے په

تکبر کښې راغي چه انسانان مونږ نه پناه غواړي. او دا کار شرك وو ځکه چه د غير الله نه مدد طلب کول وو په غير د اسبابو نه. او ظاهر دا ده چه دے کښې تذلل او محبت پروت وو ځکه شرك شو.

دارنګه انسانانو به خپلے ګډے بزے پيريانو ته سپارلے بيا به د هغے حفاظت کيدو.

د استمتاع نور هم ډير صورتونه کيدے شي، بعض خلك پيريان تابع کړي چه د هغے په وجه هغه ته ناشنا خبرونه راوړي او حالونه ورته وائي، بعض ورله دنياوي مالونه راوړي، او بعض ددوي په وجه ډيرے پيسے وګټي، پيرے تابع کړي بيا ئے په چا کينوي يا پرے تعويذونه وکړي، نو هغه دے دمګري لره راشي دا ئے ترے پاځوي، يا ورته ووائي چه تعويذونه راوباسه نو هغه بيا ددے شخص نه زرګونو روپئ ووهي. پدے کښې د پيريانو فائده دا وشي چه خلك ګمراه شي او دے انسان ته دنياوي مالونه حاصل شي او د پيريانو په ذريعه دا کار پدے زمانه کښې سخت زيات دے چه زنانو هم دے کارونو ته ګوتے اچولي دي، او په اخبارونو کښې او مختلفو اشتهاراتو کښې راځي چه فلانے عامل نجومي په يو منټ کښې حاجت پوره کوي، او هيڅ کار مشکل نهٔ دے،

او کله داسے اشتهار ورکوي (کون کہتا ہے کہ قرآن میں شفاء نہیں) حال دا چه دا جادوګر وي. او کوم خلك چه پيريان وباسي هغوي اکثر دا کار کوي اګرکه په هر چا بد ګماني بنه نهٔ ده. او کله نا کله يو پيرے انسان ته د ګناه او بي حيايئ ځايونه مهيا کوي، کله يو زنانه ته ووائي چه د فلاني خواله ورشه نو انسان د هغه زنانه نه فائده واخلي نو د پيري د ګمراه کولو فائده وشي او ددے انسان خواهش پوره شي.

وَّبَلَغۡنَآ اَجَلَنَا الَّذِیۡۤ اَجَّلۡتَ لَنَا : مقصد پدے دواړو جملو کښې اقرارکول دي د خپلو جرمونو چه مونږ په دنيا کښې د يو بل نه فائدے اخستي دي، او دا دے اُوس ستا مخے ته د مرګ نيته پوره کولو سره راورسيدو نو مونږ چه څه کړي پدے پښيمانه يو، مونږ معاف کړه. نو ذکر د بلوغ الاجل دے او مراد ترے نه لازم دے چه هغه اظهار د افسوس او پښيمانتيا دے چه مونږ د دنيا په ژوند کښې ډير تقصير او کوتاهي کړيده او اُوس مجبوره يو چه د خپل رب مخے ته اقرار وکړو. (المنار)

صاحب المنارؒ وائي چه دلته د ضالين خبره ذکر شوه او د مُضلينو ذکر نشوه، ددے وجه چا دا ذکر کړيده چه دلته مضلين د جواب نه عاجزه شو نو ځکه غلي شو. مګر صحيح دا ده چه الله تعالیٰ مونږ ته د قيامت بعض احوال ذکر کوي په مختلفو آيتونو کښې دپاره د

عبرت او نصيحت اخستلو، او په بل ځاى كښې ئې فرمايلي دي : ﴿ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا﴾ (العنكبوت : ٢٥) بيا د قيامت په ورځ به ځينى ستاسو د ځينو نه انكار وكړى، او په يو بل باندے به لعنتونه وايئ.

قَالَ : نو الله به جواب كښې وائى چه ستاسو معافى نشته بلكه اُور كښې به هميشه يئ.

اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ : يعنى جهنميان به هميشه په جهنم كښې اُوسيږى سِوىٰ د هغه وخت نه چه الله دوى په هغې كښې ساتل نۀ غواړى. قتادۀ وائى : [اَللّٰهُ أَعْلَمُ بِثُنْيَاهُ] الله د خپلے استثناء په مقصد ښه پوهيږى. بعضو ددے معنىٰ دا بيان كړيده (مگر هغه چه الله غواړى چه هغه د اُور نه علاوه نور عذابونه وركول دى مثلًا د زمهرير (يعنى ډير يخ عذاب وركول غواړى) العياذ بالله. او اكثر اهل علم وائى چه دا استثناء د زمانے د محشر ده، يعنى په زمانه د محشر كښې به اُور كښې نۀ وى او روستو به ئې اُور ته هميشه دپاره بوځى.

ځينى وائى : زمانه د قبر مراد ده. او ځينى وائى دا په اُور كښې زيادت ته اشاره ده يعنى هغه چه الله غواړى نو د دوى اُور به زياتوى.

ځينى وائى : ددے نه مؤمنان گنهگاران مراد دى چه دوى به اُور كښې هميشه نۀ وى.

او بعضو وئيلى دى چه پدے سره مقصد خالص د الله تعالىٰ كامل قدرت ښكاره كول دى، چه كه الله غواړى نو كافرانو ته به عذاب نۀ وركوى، د هغه په مرضئ كښې هيڅوك مداخلت نشى كولے. او همدا وجه ظاهره ده لكه دا د قرآن كريم عادت دے چه په داسے ځايونو كښې (اِلَّا اَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ) او (اِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ) ذكر كوى.

حافظ ابن قيمؒ ليكلى دى : چه پدے آيت كښې هغه كسان ذكر دى چه په هغوى كشفونه، شيطانى احوال، او شيطانى كشفونه راځى او د بعض مغيباتو نه په ذريعه د مدد د پيريانو سره خلكو ته خبرونه وركوى، او خلك گمان كوى چه دا اولياء الرحمٰن دى حال دا چه هغوى اولياء الشيطان دى.

وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا
او دغسے مسلط كوو (ملگرى كوو) مونږ بعض ظالمانو لره په بعضو سره
بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٢٩﴾
په سبب د هغے چه دوى ئے كوى.

تفسیر : دا شپږمه عقبه د داعی ده۔

نُوَلِّیُ : دا د ولایت نه دے په معنیٰ د تسلط او حاکم جوړولو سره ۔ ۱ – أَیُ نَجُعَلُهٗ وَالِیًا۔ یعنی مونږه بعض ظالمان په بعضو باندے د هغوی د بدو عملونو په وجه مسلط کوو۔ نو ددے ربط د مخکښ سره واضح دے چه شیطانان په بعض انسانانو ولے مقرروی؟ دا د دوی د ظلم د وجه نه، که دوی صحیح موحدین وے نو الله به پرے شیطان نهٔ مقررولے ځکه چه شیطان د مؤمن موحد نه یره کوی او تښتی، لیکن هرکله چه دهٔ کښ بد عملونه راشی نو الله ددهٔ د گمراه کولو دپاره شیطان په دهٔ مسلط کړی۔

او ددے نه دا معلومه شوه چه ظالم په ظالم باندے مسلط کیږی، کله چه انسان کښ ظلم او گناهونه پیدا شی نو الله پرے کله شیطانان مقرر کړی، او کله پرے انسانان مقرر شی۔ تورات کښ الله لیکلی وو چه زهٔ د منافقانو نه بدله په منافقانو باندے اخلم۔ او بیا د دواړو نه بدله اخلم۔ نو ددے نه عجیبه فائده راووته چه تهٔ د ځان نه ظلم لرے کړه نو الله به درنه ظالمان واړوی۔ الله تعالیٰ هغه کسانو ته غلط استاذان ورکوی چه هغه ظالمان او بی باکه وی، د دین هیڅ پرواه ورسره نهٔ وی۔ یا مقتدیانو ته غلط امام ورکړی دا عذاب دے۔

او علامه قرطبیؒ وائی چه پدے آیت کښ ټول هغه خلك داخل دی چه د ځان سره ظلم کوی، یا د رعیت سره، یا تاجر د خلکو سره په تجارت کښ ظلم کوی یا غل وغیره۔

۲ – یا نُوَلِّی د ولایت نه دے په معنیٰ د دوستانے سره۔ [أَیُ نَجُعَلُ بَعُضَ الظَّالِمِیُنَ أَوُلِیَاءَ بَعُضٍ فِی الشَّرِّ وَالُفَسَادِ] یعنی مونږ بعض ظالمان د بعضو دوستان جوړوو په شر او فساد کښ د دوی د بدو عملونو د وجه نه یعنی کشران غلط عملونه شروع کړی، او شر او فساد پکښ وی، نو پدے وجه ئے الله تعالیٰ د مشرانو ظالمانو ملگری جوړ کړی۔ غلط خلك د غلطو ملگری کړی چه بیا به ترے په قیامت کښ براء ت او بیزاری کوی۔ (قرطبیؒ)

او پدے معنیٰ باندے د عقبی حاصل دا دے چه کله داعی ته الله تعالیٰ دا امتحان رامخے ته کړی چه الله تعالیٰ بعض ظالمان د بعض ظالمانو ملگری کړی نو ټول مشرکان او مبتدعین د یو بل ملگری او متفق شی او د حق پرست په خلاف ودریږی او ددهٔ سره تعلقات پریدی۔ او د هر طرف نه ورته اذیتونه ورکوی۔

يٰمَعۡشَرَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ رُسُلٌ مِّنۡكُمۡ يَقُصُّوۡنَ
اے ډلے د پیریانو او انسانانو! آیا نهٔ وو راغلی تاسو ته رسولان ستاسو نه چه بیانول ئے

عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ط قَالُوْا
په تاسو آيتونه زما او يرول ئے تاسو د ملاقات د ورځے ستاسو نه چه دا ده ويه وائي دوي۔
شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا
گواهي كوو مونږ په خپلو ځانونو او دهوكه كړي وو دوي لره ژوند دنيوي
وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾
او گواهي به كوي دوي په خپلو ځانونو چه بيشكه دوي كافران وو۔

تفسير : اُوس د پيريانو او انسانانو نه حساب اخلي په باره د رسولانو كښې، او مخكښې هم تخويف وو او دا هم تخويف دے۔

ربط : په مخكني آيت كښې جناتو ته زورنه وركړے شوه چه دوي انسانان گمراه كړل، او د قيامت په ورځ به د هيڅ كافر پيري او انسان د انكار جرأت نۀ وي، او ټول به د خپل خپل كفر اقرار كوي۔ اُوس پدے آيتِ كريمه كښې دا بيانيږي چه الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ ددے دواړو ډلو نه د زيات زجر او توبيخ په توگه تپوس كوي چه آيا تاسو ته زمونږ انبياء او رسولان عليهم السلام نۀ وو راغلي؟۔

اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ : آيا په پيريانو كښې رسولان شته ؟

ابن جريرؒ د ضحاك بن مُزاحِمؒ نه او بغويؒ د كَلْبيؒ نه نقل كړيدي چه هغه ددے آيت نه دليل نيولے دے او وئيلي ئے دي چه په جناتو كښې انبياء او رسولان راغلي دي۔ ليكن د جمهورو امامانو د سلف او خلفو مذهب دا دے چه انبياء او رسولان صرف په انسانانو كښې راغلي دي۔ حافظ ابن كثير رحمه الله د قرآن كريم د گڼو آيتونو نه دليل نيولو سره دا ثابته كړيده۔ الله تعالىٰ په سورة يوسف آيت (۱۰۹) كښې فرمايلي دي :

﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾ ستا نه مخكښې مونږ كلو والو نه چه څومره رسولان ليږلي هغه ټول انسانان وو چه هغوي ته به مونږ وحي ليږله)۔ د آيت نه معلوميږي چه انبياء او رسولان صرف په انسانانو سړو كښې راغلي دي۔

او حافظ ابن كثيرؒ د ابن عباسؓ او بغويؒ د مجاهدؒ دا قول نقل كړيدے چه په بنيادمانو كښې رسولان راځي او په پيريانو كښې نُذُر (يره وركونكے داعيان) راځي۔ بيا ئے دا آيت ﴿وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ﴾ (احقاف : ۲۹) ولوستو۔ والله اعلم۔

او ددے وجه دا ده چه په انسانانو کښې خیر او په پیریانو کښې شر زیات دے۔
او ددے وجه نه ځینې مفسرینو دلته د رُسُل معنیٰ په مُبَلِّغِین سره کړیده نو انسانانو ته مبلغین رسولان وو او پیریانو ته مبلغین غیر رسولان دی۔ یا دلته چه رُسُل وئیل شویدی نو ددے مطلب دا دے چه انسانانو ته کوم رسولان راځی نو دا د پیریانو دپاره هم رسولان دی خو د پیریانو د جنس نه رسولان نۀ راځی لکه زمونږ رسول محمد رسول الله ﷺ فرمائی : [وَبُعِثْتُ اِلَی الْاَحْمَرِ وَالْاَسْوَدِ] مجاهدؒ وائی د اَحمر نه مراد انسانان او د اَسود نه پیریان دی۔ یعنی زۀ انسانانو او پیریانو ته رالیږلے شوے یم۔ (مسند احمد : ۲۱۳۳۷ وسنده حسن) وفی روایة : وَبُعِثْتُ اِلَی الْجِنِّ وَالْاِنْسِ) (شعب الایمان : ۱۴۰۳) مسند البزار : ۴۷۷٦) وسنن البیهقی (۴۴۳۹)۔ زۀ پیریانو او انسانانو ته رالیږلے شوے یم۔
يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ : د پیغمبرانو دعوت څه وو؟ د الله آیتونه خلکو ته لوستل او د آخرت نه هغوی یرول، دا د ټولو رسولانو نصاب تبلیغ وو۔ او دلته بیا د الله کتاب او آخرت جمع شو د وجه د سخت مناسبت نه۔
قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا : دا خبره د اندامونو د ګواهئ نه روستو ده۔
وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا : دا مینځ کښې جمله معترضه ده د طرفه د الله نه، او علت د تکذیب دے یعنی کله چه دوی په خپلو ځانونو اقرار وکړی چه آؤ مونږ ته رسولان او مبلغین راغلی وو او په مونږه ئے حجت قائم کړے وو، لیکن مونږ مجرمان وو، نو الله به وفرمائی چه دوی ځکه ددے رسولانو مخالفت کولو چه دوی د دنیا ژوند په دهوکه کښې اچولی وو۔
وَشَهِدُوْا : مخکښې ګواهی د رسولانو په راتللو وه او دا ګواهی د خپل کفر کولو ده۔
د قیامت په ورځ د کافرانو دا وینا هم مخکښې په دے سورت کښې په آیت (۲۳) کښې نقل شویده چه ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾ مونږ په خپل رب قسم خوړلو سره وایو چه مونږ شرك نۀ وو کړے)۔
امام شوکانیؒ ددے توجیه کړیده چه کافران د انتهائی درجه پریشانئ او د عقل او پوهے د ختمیدو په وجه به کله یو څه وائی او کله بل څه۔

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ
دا پدے وجه چه نۀ دے رب ستا هلاکونکے د کلو په ظلم (شرك) کولو سره

وَّاَهۡلُهَا غٰفِلُوۡنَ ﴿۱۳۱﴾
چه وسیدونکی د هغې ناخبره وی۔

تفسیر : اُوس د رسولانو د رالیږلو حکمت بیانوی چه الله تعالیٰ یو قوم ته د هغوی د غفلت په حالت کښې عذاب نهٔ ورکوی اګرکه هغوی مشرکان او ګنهګار وی بلکه د رسولانو په رالیږلو او د کتابونو په نازلولو په هغوی حجت قائم کړی، چه هغوی ونهٔ منی نو بیا عذاب ورکوی، په دنیا کښې یا په آخرت کښې۔

دا داسې آیت دے لکه د سورة بنی اسرائیل (۱۵) آیت

﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيۡنَ حَتّٰى نَبۡعَثَ رَسُوۡلًا ﴾۔

(مونږ عذاب نهٔ ورکوو تردے چه رسولان ولیږو) او خلك ئې خلاف وکړی۔

ذٰلِكَ : یعنی دا رسولان رالیږل۔ **بِظُلۡمٍ** : ۱- اَیۡ بِظُلۡمِ اَهۡلِهَا یعنی د هغوی په ظلم سره۔

۲- بعض مفسرینو وائی (بِظُلۡمٍ مِنَّا) که زهٔ په غفلت د خلکو کښې عذاب راولم بیا به ظلم شی او الله تعالیٰ د ظلم نه منزه دے نو ځکه عذاب نهٔ راولی۔

وَّاَهۡلُهَا : یعنی په داسې حال کښې چه د هغې وسیدونکی غافل وی۔

غٰفِلُوۡنَ : یعنی چه د انبیاؤ دعوت ورته نهٔ وی رسیدلے۔

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوۡا ؕ
او د هر یو دپاره مختلفې درجې دی د وجه د هغې عملونو نه چه دوی کړیدی
وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۳۲﴾
او نهٔ دے رب ستا ناخبره د هغې نه چه دوی ئې کوی۔

تفسیر : یعنی هر یو د پیریانو او انسانانو نه که جنت والا دی او که جهنم والا، دوی دپاره مختلفې مرتبې دی، او د هر چا مرتبه د هغه د عمل مناسب ده، که په دنیا کښې وی او که په آخرت کښې۔ او اشاره ده چه مدار د جزا او سزا په عمل باندې دے۔

وَلِكُلٍّ : اَیۡ لِكُلِّ اُمَّةٍ وَلِكُلِّ شَخۡصٍ۔ /وَلِكُلِّ اَحَدٍ مِنَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ ۔ د هر امت او هر شخص دپاره/ او هر یو د پیریانو او انسانانو نه۔

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ
او رب ستا بے حاجته دے خاوند د رحمت دے، که وغواړی هغه ختم به کړی تاسو
وَيَسْتَخْلِفْ مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ
او نائبان به کړی روستو ستاسو نه هغه څوك چه وغواړی لکه څنګه ئے
اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۳﴾
چه پیدا کړی یئ تاسو د اولادو د قوم نور نه۔

تفسیر: پدے کښې د دنیا یره ده نۀ منونکو ته۔ الله تعالیٰ د خپل مخلوق نه بے نیازه دے، نۀ د هغوی د عبادت محتاج دے، نۀ د هغوی په ایمان سره هغه ته فائده رسی، او نۀ د هغوی کفر هغه ته نقصان رسوی۔ لیکن هغه د خپلے کاملے بے نیازئ سره په خپلو بندګانو رحم کونکے هم دے۔ د هغه بے نیازی په هغوی باندے د رحم کولو نه مانع نۀ ده، که هغه وغواړی نو خپل نافرمان بندګان به تول هلاك کړی، او یو داسے قوم به راولی چه هغه به ډیر مطیع او فرمانبردار وی، لکه څنګه چه هغه په تیرو شوو زمانو کښې قومونه ختم کړل او نور قومونه ئے راوستل۔

يُذْهِبْكُمْ : أَيْ يُهْلِكْكُمْ۔ یعنی هلاك به مو کړی۔

ذُرِّيَّةِ : نسل۔ نو پدے کښې دعوت دے مونږ ته چه ځانونه صحیح بندګان جوړ کړئ ګنے هلاك به شئ، د الله څه پرواه ده۔

اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ
یقیناً هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شی خامخا راتلونکے دے
وَّمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۱۳۴﴾
او نۀ یئ تاسو عاجزه کونکښی (الله لره)۔

تفسیر : دا هم یره ده نۀ منونکو ته۔

د ما توعدون : نه مراد قیامت او دهغے احوال دی، او مقصد د هغه خلقو ردکول دی چه دا عقیده لری چه بنده د مرګ نه روستو خاوری کیږی د هغے نه روستو هیڅ بل ژوند

نشته۔ او د دنیا عذاب هم مراد کیدے شي۔

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ : د الله د عاجزه کولو صورت دا دے چه ته د الله نه منډه کړے او الله درپسے درځي لیکن ته ترے په منډه خلاص شے، نو د الله تعالیٰ په مقابله کښ داسے هیڅوك نشي کولے۔

قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ ج
ووایه ! اے قومه زما ! عمل وکړئ په طریقه خپله یقیناً زهٔ عمل کونکے یم
فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ لا مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ
نو زر دے چه پو هه به شئ تاسو چه څوك دے چه وی به هغه له انجام
الدَّارِ ط اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾
د کور د آخرت، یقیناً نهٔ کامیابیږی ظالمان۔

تفسیر : اُوس نهٔ منونکو نه د براءت اعلان دے او مقصد پکښ سخته زورنه ده چه تاسو په خپل شرك او کفر باندے مضبوط اُودریږئ، زما هم ستاسو او ستاسو د کفر هیڅ پرواه نشته، زهٔ به هم په اسلام باندے ثابت قدم اُوسیږم۔ تاسو ته به زر پته اُولګی چه په حق باندے څوك دے، او په باطل باندے څوك، او فتح او نصرت او عزت او غلبه به ستاسو نصیب کیږی که زمونږ۔ نو الله د خپل رسول سره کړے وعده پوره کړه۔ فتح د مکے اُوشوه، د اسلام دشمنان ظالمان ذلیله شو، او د نبی ﷺ په ژوند کښ ټول جزیرة العرب د اسلام په کړئ کښ داخل شو، او د هغه د وفات نه روستو د خلفاؤ په ژوند کښ د فتوحاتو سلسله جاری پاتے شوه۔ تردے پورے چه فارس او روم او د هغے نه روستو د برصغیر پاك وهند زمکه د اسلام په شعلو رنړا شوه۔ بیا په داسے قسم دعوت کښ خلك حق طرفته متوجه کول وی او سوچ کولو ته دعوت وی۔

مَكَانَتِكُمْ : أَیْ طَرِيْقَتِكُمْ وَنَاحِيَتِكُمْ ۔ یعنی په خپله طریقه عمل کوئ او په خپل طرف کښ وسیږئ۔

اعْمَلُوْا : دے کښ دا مقصد نهٔ دے چه تاسو خپل عمل کوئ دغه جائز دے، بلکه دے کښ دهمکی مقصد دے چه زهٔ به حق بیانوم او تاسو په شرك کلك ولاړ یئ نو داسے وخت به راشي چه پته به ولګی چه انجام به د چا ښه کیږی، نو پدے کښ د بندګانو متوجه کول

غـرض وی چـه دوی کښې عقلمند سوچ وکړي چه هرکله انجام راتللو والا دے، نو ولے داسے کارونه وکړو چه انجام مو خراب شي نو راځئ چه د؛ مخالفتونه پریدو او د حق تابع شو، نو دا د دعوت یوه طریقه شوه۔

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِیْبًا
او گرځوی دوی الله لره د هغے نه چه پیدا کړیدی هغه د فصلونو او د څارووو نه برخه
فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ج
نو وائی دوی دا برخه د الله تعالیٰ ده په گمان د دوی او دا برخه د شریکانو زمونږ ده،
فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ج وَمَا كَانَ لِلّٰهِ
نو هغه چه د دوی د شریکانو ده، نو نۀ رسیږی الله ته او هغه چه د الله دپاره ده
فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ط سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾
نو هغه رسیږی د دوی شریکانو ته، بده ده هغه فیصله چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : ددے ځای نـه روستو الله تعالیٰ د جاهلیت والو شرکونه او غلط رواجونه رانقل کـوی، او بیا پرے ردونه کوی۔ او پدے کښې ایمان والو ته تنبیه ده چه تاسو د داسے کارونو نه ځـان وساتـئ۔ او اشاره ده چـه کـه داسے کوم قِسم بیوقوف خلك د رسول الله ﷺ د راوړی حـق مـقـابله کوی نو دا په حق کښې هیڅ قدح او عیب نۀ پیدا کوی ځکه چه ددے خلکو د حق په مقابله کښې هیڅ اهلیت او حیثیت نشته۔ (السعديّ)

مناسبت :

۱– ددے تـعلق د (عَلٰی مَكَانَتِكُمْ) سره دے، یـعـنـی مـخـکـښې ئے وویل چه تاسو په خپله طـریـقه عمل کوئ نو دلته د مشرکانو طریقه بیانوی چه د هغوی دین څه شے دے ؟ صرف خرافات دی۔ ۲– د مضمون د سورت سره ئے تعلق دا دے چه د الله تعالیٰ د نۀ معرفت د وجه نـه خلك دا قسم جهالتونه کوی، که دوی الله تعالیٰ په حقیقی معنو سره پیژندلے وے نو دا کارونه به ئے نۀ کولے او د بتانو جانب به ئے د الله تعالیٰ په جانب نۀ غوره کولے۔

د عبد الله بن عباس ﷺ نـه نـقـل دی چه که ته غواړے چه د عربو د جاهلیت والو جهالت وپیـژنـےنـو سـورـة الانعام د یوسل دیرش آیت نه اخوا ولوله۔ (بخاریؒ –ابن کثیرؒ) او دوی به

شرك في التحليل والتحريم كولو، او دا زمونږ په زمانه كښې هم په مختلفو طريقو موجود دي۔

مشركانو په فصلونو، چارپيانو او خپلو بچو درې واړو كښې د الله سره شريكان جوړ كړي وو، نو دلته به درې واړه بيانيږي۔

نو د مشركانو د ايجاد كرده بدعاتو، دكفر او شرك او د الله په مقابله كښې د بتانو كوم اهميت چه د هغوي په زړونو او دماغو كښې وو، هغه خبرې پدې آيت كښې بيان شويدي۔ مشركانو به خپل زرعي پيداوار او حيواناتو كښې يوه حصه د الله دپاره او يوه حصه د بتانو او معبودانو دپاره مقرر كوله۔ د بتانو حصه به ئې په منجورانو او ملنګانو خرچ كوله او كله چه به هغه پوره خرچ شوه نو د الله حصه به ئې هم د بتانو دپاره خاص كوله او وئيل به ئې چه الله خو مالدار دے، نو كومه حصه چه به د بتانو وه هغه خو به الله ته په هيڅ حال كښې نۀ رسيدله (يعني په صدقه او صله رحمي وغيره به نۀ خرچ كيده) او كومه حصه چه به د الله وه نو هغه به ئې هم په بتانو باندې خرچ كوله۔ (تيسير الرحمن)

بِزَعۡمِهِمۡ : د الله دپاره خو حصه مقررول ګناه نۀ ده مګر دے كښې دوي دوه نقصانه كول،

(۱) يو بدعت كول (بِزَعۡمِهِمۡ) چه الله به ورته هغه مقرره حصه نۀ وه خودلے او دوي به دا وئيل چه مثلًا دومره دانے چه نۀ كمے وي او نۀ زياتے د الله دپاره خرچ كوم، نو دا د ځان نه تعيين دے او دے ته بدعت وئيلے شي۔ (۲) او دويم نقصان شرك وو : ﴿وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَا﴾ هغه دا چه فصل او چارپيان الله پيدا كړيدي او دوي پكښې د خپلو معبودانو دپاره برخه وكړله او د هغوي دپاره به ئې نذر وكړو۔ د شركاؤ نسبت ئې ځان ته وكړو ځكه چه دغه معبودان د دوي سره په فصلونو او مالونو كښې شريك وو، د الله سره شريكان نۀ وو۔ نو دوي شرك او بدعت دواړه جمع كړل۔

فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ : دا اوس بل ظلم يو ځاي كول دي چه هغه تَرۡجِيۡحُ جَانِبِ الۡمَخۡلُوۡقِ عَلٰى جَانِبِ الۡخَالِقِ ده۔ د مشرك طريقه دا ده چه د مخلوق جانب غوره ګڼړي د خالق د جانب نه، د بابا نوم بې اودسه نۀ اخلي او د الله د نوم هيڅ پرواه نۀ كوي، د بابا دربار ته چه ورشي د سترګو نه ئې اوښكې رواني وي او الله ته ښه بې ادبه ولاړ وي۔

علامه ناصر السعديؒ فرمائي: پدے كار كښې دوي درے ناروا كارونه جمع كړي وو۔

(۱) يو دا چه دوي په الله باندے احسان كولو چه مونږ د هغه په نوم برخه مقرر كړيده سره ددے نه چه د دوي عقيده وه چه دا زمونږ د طرف نه تبرع (احسان) دے۔ (او په احسان كښې

زبادنـه ناروا وي) (۲) د هغـه شرکاؤ برخه مقررول چه هغوی دوی ته رزق نۀ دے ورکړے او دوی له ئے دا یو شے هم نۀ دے ورکړے. (یعنی د الله مال ئے د غیر الله دپاره صرف کړو).

(۳) او بیا ظالمانه کار دا وو چه د الله د برخے هیڅ پرواه نۀ ساتل او د غیر الله د برخے اهتمام او حفاظت کول. (تفسیر السعدی۱/ ۲۷٤)

فَلَا يَصِلُ اِلَى اللهِ : ((د دوی د معبودانو برخه الله ته نۀ رسی)) ددے ډیر صورتونه دی یو صـورت ئے مخکښې بیان شو. (۲) دویم دا چه د دوی د معبودانو دپاره به کومه ډیره کئ د غنمو او د دانو او کجورو وغیره مقرر وه نو که د هغے نه به څه دانے د الله والا ډیری ته لاړے، چا بـه پـه خپـه ووهـل یـا بـه هـوا وروړل نـو هغه به ئے بیرته راجدا کوله او دا به ئے ویل چه زمونږ معبودان ډیر محتاج دی او الله خو غنی دے. او د الله دپاره به ئے چه کومه برخه مقرر کړے وه او پـه خطائی کښې به څه حصه د معبودانو والا ډیری ته لاړه نو دوی به ترے نۀ جدا کوله او دا به ئے ویل چه الله غنی ذات دے. نو د الله جانب ئے مرجوح کولو.

(۳) دریـم دا چـه کـوم نـذر چـه بـه د بـابـاګـانـو دپاره وو نو هغه به ئے صرف منجورانو ته ورکـولـو او عامو مسکینانو باندے به ئے نۀ خرچ کولو، (لکه د نن زمانے مشرکان وائی دا د بابا او د میان صاحب، حق او قلنګ دے) او کومه برخه چه به د الله تعالیٰ په نوم وه نو هغه بـه ئے د الله پـه نوم مسکینانو او میلمنو ته هم ورکوله او منجورانو ته هم، نو د الله برخه به ئے دواړو ته تقسیموله او د معبودانو برخه به ئے صرف سَدَنه (منجورانو) ته ورکوله. دا هم بی انصافی وه.

(٤) عبـد الـرحـمن بن زید بن اسلمؒ وائی : دوی چه به کوم څاروے د الله دپاره ذبح کولو نو هغـه به ئے نۀ خوړلو تردے چه د خپلو معبودانو نوم به ئے ورسره (د ذبح په وخت) ذکر کړو او کوم چه به ئے د معبودانو دپاره ذبح کولو نو په هغے به ئے د الله نوم نۀ اخستو.(ابن کثیر)

(٥) کـوم مـال چـه بـه د الله په برخه کښې وو که هغے نه به څه هلاك شو یا به کم شو نو په هغے به ئے څه باك نۀ کولو او که د معبودانو د برخے نه به څه شے کم شو یا به هلاك شو نو هغه به ئے د الله والا د برخے نه پوره کوله. (البغویؒ)

سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ : أَیْ سَاءَ حُكْمُهُمْ . د دوی دا فیـصلـه ډیره ناکاره ده. یو خو پدے کښې مـخـلـوق د خـالـق نـه غـوره کـول دی، بل دا چـه څیـزونـه د الله وو او دوی د غیـر الله دپاره وګرځول.

وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ
او دغسے ډولی کړیدی ډیرو د مشرکانو ته وژل د اولادو خپلو (محبت) د شریکانو د دوی،
لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ
دے دپاره چه هلاك کړی دوی لره او ګډوډ کړی په دوی باندے دین د دوی او که غوختے
اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾
الله تعالیٰ دوی به نهٔ وے کړے دا کار نو پریږدهٔ دوی او هغه چه دوی ئے دروغ جوړوی۔

تفسیر : دا په اولادو کښې د دوی شرك کول ذکر کوی او رد دے په نذر د غیر الله باندے چه اولاد د غیر الله په نوم منښته کوی او د هغوی په نوم ئے ذبح کوی۔

وَكَذٰلِكَ : یعنی لکه څنګه چه په تیر شوی تقسیم کښې شیطانانو شرك ښائسته ښکاره کولو سره د دوی مخے ته پیش کړو، او دوی هغه قبول کړو، نو دغه شان دغه شیطانانو یو بل لوئی جرم د مشرکانو په نظرونو کښې ښائسته او جائز ښکاره کولو سره پیش کړو۔

د رزق د تنګئ په یره سره د اولادو قتل، او د شرم او پیغور په یره سره ئے لونړه په خاورو کښې ژوندئ خښول رواکړل۔ او مشرکانو د شیطانانو اتباع اُوکړه او هغه ئے قبول کړل۔ او پُدے طریقه شیطانانو مشرکانو لره په شرك او د اولادو په وژلو کښې اخته کړل، او هلاکت طرف ته ئے دیکه کړل، او د باطل افکارو او نظریاتو په ترویج سره ئے دوی د حق دین نه واړول په کوم باندے چه د دوی مشر بزرګ اسماعیل علیه السلام ولاړ وو، او دوی باندے ئے صحیح دین ګډوډ کړو۔

شُرَكَآؤُهُمْ : **سوال** دا دے چه شرکاؤ (معبودانو) خو دوی ته دا نهٔ دی وئیلی چه زمونږ په نوم اولاد ذبح کړئ نو هغوی څنګه ورته د دوی قتل ښائسته ښکاره کړو؟ ددے تاویلی تفسیر دا دے چه دلته مضاف پټ دے [مَحَبَّةُ شُرَكَائِهِمْ] یعنی د شرکاؤ محبت پدے کار باندے مجبوره کړیدی۔ لکه دا کار اُوس هم مشرکان کوی چه د یو بابا سره ئے مینه زیاته وی نو خپلے لونړه د هغوی منجورانو او نمسو ته بخښی او په نکاح ئے ورکوی نو دا شرك دے او دا نکاح فاسده ده۔ (احسن الکلام)

(۲) مصداق : د شرکاء نه مراد سَدَنَةُ آلِهَتِهِمْ دی، یعنی د دوی د معبودانو منجوران۔

يعني منجورانو به ورته دا تلقين كولو چه ددے بابا په نوم څوك خپل بچے ذبح كړى نو په مال او بچو كښې به ئے دومره دومره بركت راشي لكه شيعه ګانو ته دا كار خپلو مشرانو ښائسته كړيدے چه د محرم په لسم باندے ځان ډير ووهه او وينه وباسه نو حسين ﷺ به ډير خوشحاله شي نو تهٔ به سيده جنت ته لاړ شے۔ او كوم څاڅكے وينه چه درنه پريوزى نو دومره دومره ثوابونه ملاويږى او دغه شان د متعے په باره كښې وائى۔

(٣) مصداق : شركاء نه مراد شيطانان دي چه دوى به كله نا كله په دغه بتانو كښې ننوتو سره راښكاره كيدل او آوازونه به ئے كول چه راشه زما په نوم بچے ذبح كړه او ما نه فلانے مدد وغواړه۔ نو د چا عقيده چه كمزورى وى شيطانان ورته راښكاره كيږى او د چا چه مضبوطه وى بيا ورته نهٔ راښكاره كيږى، ډيرو مشركانو به د شيطانانو آوازونه آوريدل او اُوس هم مشركانو ته د قبرونو نه آواز وشى، كله ورته د قبر نه لاس راښكاره شى او كله ورته د سپين ګيرى په شكل تحفه وركړى، نو دے وائى چه بابا دا كار وكړو او په مينځ كښې هغه شيطان وى۔ دے دپاره چه ددهٔ عقيده نوره هم خرابه شى، او دا كارونه د تصوف والو سره ډير كيږى، هغه دا كرامت ګڼړى، تهٔ به د دوى په كتابونو كښې دا قسم واقعات ډير ګورے چه كله به وائى چه ما ته الله آواز وكړو، او كله به وائى چه نبى ﷺ په جسد عنصرى سره د ديوبند مدرسے ته راغلے وو۔

لِيُرۡدُوۡهُمۡ : يعني دا كار د دوى د هلاكولو دپاره كوى۔ او پدے كښې درے هلاكتونه جمع دي يو خو ئے بچے مړ كړو (ظلم ئے وكړو) الله به ترے تپوس كوى۔ دويم شرك ئے وكړو چه سبب د اُور دے۔ دريم تاوان ئے وكړو چه بچے ئے ضائع شو او هيڅ فائده ونشوه۔

وَلِيَلۡبِسُوۡا عَلَيۡهِمۡ دِيۡنَهُمۡ : ١- د دين نه مراد دين ابراهيمى دے او د ګډوډ كولو صورت دا وو چه دا دليل به ئے وركولو چه ولے ابراهيم ؑ ګنے اسماعيل ؑ د الله دپاره نهٔ ذبح كولو؟

نو دغه شان مونږ له هم پكار دي چه ذبح وكړو۔ نو دا څومره غلطه خبره وه ځكه چه هغه ئے خو د الله په امر باندے ذبح كولو او الله بيا ذبح نهٔ كړو او تاسو ئے د باباګانو دپاره ذبح كوئ نو څومره فرق دے، دعوه د شرك كوى او دليل ورله توحيد پيش كوى، دا د مشركانو او باطل پرستو طريقه ده۔ (كله به دليل د الله د رسول او د صحابه كرامؓ د تابعدارئ وركوى او دعوه به ئے د تقليد د يو خاص امام وى، يا به د اتباع او اقتداء الفاظ په تقليد چسپانوى)۔

٢- يا د دين نه مراد د رسول الله ﷺ دين (دين اسلام) دے چه دوى په هغے فطرى پيدا

شویدی څکه چه دا قانون دے چه څوك په یو بدعت او شرك روان شو نو هغه باندے به حق ګډوډ کیږی۔ لکه دا سورت به ئے روستو (فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ) کښې ووائی۔ نو په باطل چه روان شوے نو د حق نه به خامخا محروم کیږے او حق به ورته ګډوډ ښکاره کیږی۔

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ: یعنی الله وائی چه زهٔ دوی ددے شرکونو نه منع کولے شم لیکن نهٔ ئے منع کوم دپاره د امتحان په دوی باندے، نو پدے وجه ته د دوی په هلاکت او بربادئ باندے هیڅ غم مهٔ کوه او دوی په خپل حال پریده، الله به ورسره ګوری۔

وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ق صلے لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ
او وائی دوی دا چارپیان دی او فصلونه دی بند دی، نهٔ به خوری دے لره مګر هغه څوك
نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا
چه غواړو مونږ په ګمان د دوی او نور چارپیان دی چه حرام شویدی شاګانے د هغے
وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ط
او نور چارپیان دی چه نهٔ یادوی نوم د الله په هغے باندے، دروغ جوړول دی په الله
سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣٨﴾
زر دے چه سزا به ورکړی دوی ته په سبب د هغے چه دوی څه دروغ جوړوی۔

تفسیر: اُوس د چارپیانو متعلق تفصیل ذکر کوی۔ او دا تحریمات د غیر الله دی او درے قسمه ئے ذکر کړیدی۔

د عربو مشرکانو عادت وو چه هغوی به ډیر احکام خپله وضع کول او هغه به ئے الله طرف ته منسوب کول، خاصکر د خپلو بتانو په باره کښې به ئے ډیر شرکی عقائد او اعمال خپل مینځ کښې رائج کول او هغه به ئے الله طرف ته منسوب کول۔

نو پدے آیتِ کریمه کښې د مشرکانو هغه بعض عقائد او اعمال بیان شویدی۔ کله به ئے داسے کول چه د بعض حیواناتو او د زرعی پیداوار په باره کښې به ئے په خپل ګمان وئیل چه دا صرف زمونږ د بتانو دپاره دی، د بل چا دپاره ددے خوراك ممنوع دے۔ دا به هغه خلق خوری چه کوم مونږ اُوغواړو او د دوی مقصد به دا وو چه دا به صرف د بتانو

خدمتگار او منجوران خوري۔ او کله به ئې څه حیوانات د خپلو بتانو په نوم پریخودل او وئیل به ئې چه په دوی باندې سورلی کول ممنوع دی۔ لکه سائبه او حام شو چه هغه مخکښې په سورة المائده آیت (۱۰۳) کښې ذکر شویدی۔

او کله به ئې څه حیوانات د بتانو په نوم ذبح کول او د الله نوم به ئې نهٔ اخستو او په الله باندې به ئې دروغ جوړول او وئیل به ئې چه همدا د الله شریعت دے۔ الله د دوی په اعمالو انکار اُوکړو وے فرمایل چه هغه به دوی ته د دوی د دروغو جوړولو بدله زردے چه ورکړي۔

حِجۡرٌ : یعنی بند او ممنوع دی۔ دا لفظ مفرد او جمع او مؤنث او مذکر ټولو دپاره یو شان استعمالیږي۔

مَنۡ نَّشَآءُ : ددے نه مراد سړي او منجوران دی لکه روستو آیت کښې هم راځي۔

لَّا يَذۡكُرُوۡنَ اسۡمَ اللّٰهِ عَلَيۡهَا : یعنی په وخت د ذبح کښې د الله نوم پرے نهٔ یادوی۔ یا دا چه حج به ئې په هغے نهٔ کولو۔

او دا به هغه خاروی وو چه د بابا او معبود دپاره به ئې نذر کړي وو چه که زهٔ چرته د بیمارئ نه روغ شوم نو دا اُوبنې به د فلانی بابا په نوم ذبح کوم، نو بیا به ئې پرے د الله نوم نهٔ اخستو۔ بلکه (بِسۡمِ اللَّاتِ وَالۡعُزّٰى) به ئې وئیل۔

افۡتِرَآءً عَلَيۡهِ : أَيۡ يَفۡتَرُوۡنَ اِفۡتِرَاءً عَلَيۡهِ ۔ دروغ جوړوی په الله باندے په دروغ جوړولو سره۔ یعنی الله تعالیٰ ته به ئې ددے بد عمل نسبت کولو چه هغه مونږ ته ددے حکم کړیدے۔

وَقَالُوۡا مَا فِيۡ بُطُوۡنِ هٰذِهِ الۡاَنۡعَامِ خَالِصَةٌ
او وائي دوی هغه څه چه په خیټو ددے چارپیانو کښې دی (بچي او اولاد) یواځے دی
لِّذُكُوۡرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰٓى اَزۡوَاجِنَا ج وَاِنۡ يَّكُنۡ
د نارینو زمونږ دپاره او حرام کړے شویدی په ښځو زمونږ او که وو به دا (بچے)
مَّيۡتَةً فَهُمۡ فِيۡهِ شُرَكَآءُ ط سَيَجۡزِيۡهِمۡ
مړ پیدا شوے نو دوی به په هغے کښې شریك وو، زردے چه بدله به ورکړي دوی ته
وَصۡفَهُمۡ ط اِنَّهٗ حَكِيۡمٌ عَلِيۡمٌ ﴿۱۳۹﴾
د غلط بیان د دوی یقیناً الله حکمتونو والا پوهه دے۔

تفسیر : دا د دوی بلـه بیـوقـوفـی بیانوی چه د ځان نه به ئے پابندیانی لګولے او دا به ئے وئیـل چـه ددے ښاروو (مثلًا د بحیرے) که بچے پیدا شو او ژوندے وو نو دا به صرف زمونږ نارینـه خوری او زنانه به ئے نۀ خوری، ځکه چه هغوی ته پدے سره ضرر رسی، او که هغه به مردار پیدا شو نو بیا به د زنانو او سړو ټولو دپاره حلال وو۔

نـو پـدے کښې دوه نـاروا جـمـع وو، یو به ئے د ځان نه حراموِل او حلالول کول، او بل به ئے مردارے په شریکه خوړلے۔ او وضعی قوانینو کښې اکثر دغه شان ګرانوالے وی۔

زمـونـږ پـه امـت کـښې هـم ډیـرو خـلـکـو دغـه شان پابندیانی لګولی دی، چا غسلونه، چا حـلـواګانے، چا غوړی، چا ماسته، او چا جامے او چا په یو خاص وخت کښې سفرونه په ځان بند کـړیـدی۔ لـکـه بـعـض زنـانـه وائی چه د جُمعے په ورځ غسل نۀ ووځی، څوک وائی چه شنے جـامـے مـۀ اچـوئ، پدے کښې ضرر دے۔ څوک وائی، دا ونه مه شوکوئ بابا ترے لاندے ناسته کـړیـده۔ څـوک وائـی : دا ځـای مـه جارو کوئ مسافر مری، څوک وائی: چرګه چه اذان وکړی حلاله ئے کړئ۔ څوک خپلے لونړه پیرانو ته ورکوی وغیره دا ټول شرك او خرافات دی۔

سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ : وصف بیـان تـه وائـی یـعنی الله به ددے غلط بیان سزا ورکړی چه دوی حلال ته حرام او حرام ته حلال ووئیل او د شرع مقابله او مخالفت ئے وکړو۔ (سعدیؒ)

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ
یقیناً تاوانیان دی هغه کسان چه وژلی ئے دی اولاد خپل په کم عقلتیا بغیر د علم نه
وَّحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَاءً عَلَى اللّٰهِ ط
او حرام کړی ئے دی هغه څه چه ورکړیدی دوی ته الله تعالیٰ، دروغ جوړول دی په الله،
قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾
یقیناً ګمراه شو دوی او نۀ دی دوی هدایت موندونکی۔

تفسیر : د عـربـو مشرکانو د رزق د تنګئ په یره سره ځامن او د شرم او پیغور په یره سره لونړۀ قتل کړل او الله تعالیٰ چه دکومو حیواناتو غوبنه خوړل د هغوی دپاره حلال کړی وو نو دوی د خپل خود ساخته شریعت په ذریعه هغه په ځانونو حرام کړل او پدے طریقه ددنیا او د آخـرت د هـر تـاوان مستـحـق شـو۔ پـه دنیـا کـښې ئے اولاد ختم شو او د الله د نعمتونو نه

محروم پاتے شو او په آخرت کښ په الله باندے د دروغو جوړولو په وجه د دردناك عذاب مستحق شو۔

قَدْ خَسِرَ : صاحب المنارؒ وائی : د اولادو قتل ته ئے ځکه خسران ووئیلو چه دا مستلزم دے تاوان د هغه فوائدو لره چه د اولادو نه د هغے امید ساتلے کیږی لکه عزت، نصرت (مدد)، بر (احسان) صله رحمی، فخر، زینت، سرور (خوشحالی) او غبطه (پسخیدل د خلکو) لکه څنګه چه پدے کښ د قاتل پلار تاوان دے چه د هغه نه د پلاروالی عاطِفه او شفقت ختم شو او ددے په وجه ئے په زړه کښ قسوت او سختی او بی رحمی په شان بد اخلاق پیدا شو چه په هغے سره د دنیا ژوند تنګیږی او په آخرت کښ پرے عذاب مرتب کیږی۔ ددے وجه نه دے ته ئے سفاهت (بیوقوفی) او جهالت ووئیل چه هغه د فائدو او ضرورنو نه ناخبری ده۔ (المنار)

سَفَهًا : ددے مصداق نذر د غیر الله دے۔ دے ته ئے سفاهت ځکه وئیلے دے چه پدے کښ نۀ د دنیا څه فائده شته او نۀ د آخرت اجر، نو دا لویه بیوقوفی ده۔ او د شرك ضرر هم دغه دے۔ او دارنګه د قتل د اولاد سره هم لګی لکه د منار په عبارت کښ ذکر شو۔

بِغَيْرِ عِلْمٍ : یعنی د نفع او د ضرر او د حسن او قبح نه ناخبره دی۔ (المنار)

قَدْ ضَلُّوْا : ګمراه ځکه شو چه بی دلیله او بی علمه کارئے وکړو او په هدایت ځکه نشو چه په الله ئے افتراء کړیده۔

وَهُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ
او الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی باغونه چتونو والا او بے چتونو او کجورے
وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا
او فصلونه چه مختلف دی میوے د هغے او ښونه او اناریو بل سره مشابه دی (په شکل کښ)
وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ
او نۀ دی مشابه (په خوند کښ) خورئ د میوو د الله نه کله چه میوے ورکړی او ورکړئ حق د الله
يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۱۴۱﴾
په ورځ دراشوکولو د هغے او اسراف مۀ کوئ یقیناً الله نۀ خوښوی اسراف (شرك) کونکی۔

تفسیر : دا عقلي دليل دے دپاره د رد د شرك فعلي او دا شرك اكثر په فصلونو او څاروو كښې وي، نو د هغے متعلق دليلونه هم راوړي او دا آيت تمهيد هم دے د روستو راتلونكو مختلفو حيواناتو د غوښے د حلالوالي او حراموالي متعلق احكامو دپاره كوم چه روستو بيانيږي، او په آيت كښې د الله تعالىٰ معرفت هم بيان شويدے۔

خلاصه : الله هغه ذات دے چه هغه په څپرونو او په زمكو باندے د خوريدونكي ونو او بوټو باغونه، د كجورو ونے، مختلف قسم فصلونه، د زيتون او د انار ونے پيدا كړيدي۔ زمكه يوه وي، خاوره يوه وي، ليكن د فصلونو د ميوو رنګونه، مزه، بوئي، فائده او حُجم كښې د يو بل نه مختلف وي۔ دغه شان د زيتون او انار ونے پاڼے په رنګ او شكل كښې يو شان وي ليكن په مزهٔ كښې د يو بل نه مختلف وي۔ دا ټول د الله د قدرت كاريګري ده، د هغه ذات باري تعالىٰ نه سِوىٰ څوك پدے خبرو قادر دے ؟!۔

اَنۡشَاَ : اِيۡجَادُ الۡاَحۡيَاءِ وَتَرۡبِيَتُهَا ۔ انشاء د ژوندو پيدا كول او د هغے تربيت كولو ته وائي۔ (المنار)

مَّعۡرُوۡشٰتٍ : يعني څپرونو او چهتونو والا وي چه په زمكه غوړيدلي وي او خلك هغے ته چهت وركوي لكه د انګورو بعض قسمونه وغيره يا كدوۂ او خټكے وغيره۔

۲– يا معروشات (اَىۡ مَزۡرُوۡعَاتٍ) هغه چه انسانانو كرلي وي، او هغوى پورته كړي وي۔

غير معروشات : چه په زمكه نهٔ وي غوړيدلي بلكه پنډۍ لري لكه كجوره او فصلونه او عامے ونے۔ يا (غَيۡرَ مَزۡرُوۡعَاتٍ) هغه چه الله راخيژولي وي په صحراوونو او غرونو كښې په غير د كرونده د خلكو۔ (دواړه قولونه د ابن عباسؓ دي –قرطبي والبغوي)

۳– يا معروشات معنىٰ ده (مَرۡفُوۡعَاتٍ) يعني هغه چه د زمكے نه اُوچت وي او غير معروشات (غَيۡرَ مَرۡفُوۡعَاتٍ) يعني هغه چه په زمكه پراته وي۔ لكه بادرنګ، خټكے او هندوانه اوخربوزه وغيره۔

وَّالنَّخۡلَ : دا په غير معروشات كښې داخله وه ليكن د زياتو فوائدو د وجه نه ئے جدا ذكر كړه۔ چه دا د غذاء، او فواكهو او شربتونو او هرڅه دپاره استعمالولے شي او ددے هډوكي د حيواناتو خوراك دے، او ددے پتونه د چهتونو او بالختونو او بسترو ډكولو دپاره دي۔

مُخۡتَلِفًا اُكُلُهٗ : ضمير راجع دے صرف زرع ته يا راجع دے نخل او زرع ته په تاويل د كُلُّ وَاحِدٍ سره۔

كُلُوۡا مِنۡ ثَمَرِهٖۤ : يعني دا خورئ او حرام ئے مهٔ ګڼړئ۔ بعضو وئيلي دي چه د مال نه د

الله د حق ويستلو نه مخكښ د هغې نه د خوراك اباحت بيانول مقصود دې.
مخكښ دا خبرې په طريقه د دليل بيان شوې چه الله وپيژنئ او دلته ئې د رد د شرك دپاره بيانوې نو پدې وجه تكرار نشته.
وَاٰتُوا حَقَّهٗ : د (حقه) ضمير الله تعالىٰ ته راجع دې، يا ثمر ته، اول زيات ظاهر دې.
ددې نه نفلي صدقه مراد ده يعني دميوې او فصل د پريكولو په ورځ د هغې نه غريبانو او د هغه خلقو حق اُوباسئ چه هلته موجود وي. د عطاءؒ په نيز ددې نه مراد زكاة نهٔ دې، بلكه د پريكولو په وخت چه كوم خلق راشي نو هغوي ته څه وركول دي. ځكه چه دا سورت مكي دې او زكاة په مدينه كښ فرض شوې وو.
د حسن بصريؒ هم تقريباً همدا قول دې. او د ابن عباسؓ، انس بن مالكؓ، طاؤسؒ، قتادهؒ او ابن جريجؒ وغيره قول دې چه ددې نه مراد زكاة دې.
دريم قول دا دې چه د اسلام په ابتداء كښ د فصل د پريكولو په وخت د حال مناسب حصه غريبانو ته وركول واجب وو. دې نه روستو الله تعالىٰ په عُشر (يعني لسمه حصه كه زمكه باران سره خړوبه كيږي) يا نيم عشر (يعني شلمه حصه كه زمكه د كوهي يا نهر وغيره په اُوبو سره خړوبه كيږي) واجبولو سره دغه حكم منسوخ كړو. ابن جريرؒ د ابن عباسؓ او ابراهيم نخعيؒ همدا قول نقل كړيدې او ديته ئې ترجيح وركړيده.

د اسراف مصداقات

وَلَا تُسْرِفُوْا : اسراف په لغت كښ مُجَاوَزَةُ الْحَد (د حد نه تيروتو) ته وائي لكه دا معنىٰ د اعتداء هم ده. (المنار) او دا په ډيرو طريقو سره كيدې شي.
١- بالشرك. لوى اسراف شرك دې، لكه آيت كښ دى ﴿ وَكَذٰلِكَ نَجْزِىْ مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيَاتِ رَبِّهٖ﴾ (طه : ١٢٧) يعني كه د غير الله په نوم دا وركړي نو دا به شرك وي.
٢- بِتَجَاوُزِ الْحَلَالِ اِلَى الْحَرَامِ. (السعدي والمنار)
اسراف مهٔ كوئ چه د حلالو نه حرامو طرفته تجاوز وكړئ.
٣- [لَا تُنفِقُوْا فِى الْمَعْصِيَةِ] يعني د الله په معصيت كښ ئې مه خرچ كوئ. (الزهري- نقله البغوي)
٤- يا دا چه په صدقه وركولو كښ داسې فضول خرچي وكړي چه انسان د هغې نه روستو فقير شي، يعني ټول مال ولګوي. (سُديؒ -بغويؒ والقاسميؒ)
٥- لَاتَتَجَاوَزُوا الْحَدَّ فِى الْبُخْلِ وَالْاِمْسَاكِ حَتّٰى تَمْنَعُوا الْوَاجِبَ مِنَ الصَّدَقَةِ] (سعيد بن

المسیبؒ-بغویؒ وابن کثیرؒ) په بخل او لاس بندولو کښې د حد نه تجاوز مهٔ کوئ چه بیا فرض زکاة او ضروری صدقه هم منع کړئ۔

٦- نفس اولاد ضائع کول هم اسراف دے۔

٧- عطاءؒ او ابن جریرؒ وائی چه دا نهی عام ده شاملیږی اسراف ته په خوراك کښې او یا په صدقه کولو کښې۔ (المنار)

٧- حافظ ابن کثیرؒ او صاحب المنارؒ وائی چه د آیت د سیاق نه ظاهر دا ده چه دا نهی د اسراف فی الاکل نه ده یعنی په خوراك کښې د اسراف او فضول خرچی نه ځان وساتئ ځکه چه پدے سره حِس او عقل دواړو ته نقصان رسیږی لکه چه الله تعالیٰ په سورة الاعراف آیت (٣١) کښې فرمایلی دی :

﴿ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ﴾ چه ((خورئ او څکئ او فضول خرچی مهٔ کوئ))

اوامام بخاری رحمه الله په کتاب اللباس کښې تعلیقاً روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : ((خورئ او څکئ او اغوندئ او صدقه ورکوئ، بغیر د فضول خرچی او بغیر دکبر او غرور نه))۔ حافظ وائی : د آیت الفاظ ټولو ته شاملیږی۔ (ابن کثیر٣/٣٥٠)

وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا
او (پیدا کړی ئے دی) د چارپیانو نه بار وړونکی او چیت قد والا، خورئ د هغے نه
رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ
چه درکړی تاسو ته الله تعالیٰ او مهٔ روانیږئ د قدمونو د شیطان پسے
اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٤٢﴾
یقیناً هغه تاسو له دشمن ښکاره دے۔

تفسیر : دا د (اَنْشَاَ) د لاندے دے، او پدے کښې هم رد د شرك فعلي دے، او ددے تعلق د مخکنی آیت سره دے، پدے کښې الله تعالیٰ د حیواناتو د حلت او حرمت په باره کښې د مشرکانو خود ساخته احکام ردکړیدی۔

حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا : حیوانات څو قسمه دی، د ابن عباس ﷺ په نیز د ((حَمُوْلَة)) نه مراد هغه لوی څاروی دی چه بارونه وړی، او د ((فرش)) نه مراد واړهٔ واړهٔ څاروی دی چه د هغے

غوبنـه خـوړلے شي، او بار نشي وړے لکـه ګډے بزے وغیره. دے تـه فرش ځکـه وائی ۱-لِافْتِرَاشِهَا عِنْدَ الذَّبْحِ. چـه دا پـه وخت د ذبح کښ پـه زمکه څملولے شي. ۲- لِافْتِرَاشِ جُلُوْدِهَا. د هغے څرمنے خلك په زمكه اچوی.

۳-لِقُرْبِهَا مِنَ الْفِرَاشِ. دا زمکے ته نزدے (یعنی ټیټ) وی.

كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ : یعنـی الله تاسو ته قِسماقسم میوے، زرعی پیداوار او څاروی د رزق پـه تـوګـه درکړیدی، دا تـاسـو د خپـلو جسمونو او روحونو د حفاظت دپاره خورئ، او ګـورئ چـه دهغـے د حلت او حرمت په باره کښ د شیطان د اوامرو او احکامو اتباع ونکړئ ځکه چه هغه ستاسو دشمن دے. نو د غیر الله په نوم هغه مهٔ نذر کوئ.

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ج مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ط قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ
(پیدا کړی ئے دی) اته جوړئ، د ګډانو نه دوه او د بزو (چیلو) نه دوه تهٔ ووایه آیا دوه نارینه
حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ
(ګډ او چیلے) حرام کړیدی الله که دوه مادے (ګډه او بیزه)، که هغه شے چه راګیر کړیدی
عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۴۳﴾
هغے لره رحمونو (بچه دانو) د میندو، خبر راکړئ ما ته په دلیل سره که یئ تاسو رشتینی.

تفسير : ثَمٰنِيَةَ : دا هم د (اَنْشَاَ) مفعول دے.

ددے تـعلـق هـم د مـخـکـنـی آیت سره دے یعنی الله تعالیٰ د انسانانو د خوراك دپاره اته قسمـه چارپیـان پیـدا کـړیدی، د هغے نه څلور دوه مذکر او دوه مؤنث ګډان، او دوه مذکر او دوه مؤنث چیلئ دی، او ددے ټولو خوراك ئے حلال ګرځولے دے، لیکن مشرکانو د ځان نه د جـوړ شـوی شـریعت پـه ذریعه ددینه بعض اقسام (چه هغه مخکښ ذکر شویدی او کوم له چـه قـرآن بحیره، سائبه او وصیله وغیره نومونه ورکړیدی) په خپل ځان حرام کړی وو، الله تـعـالیٰ پـه دوی باندے د رد کولو دپاره وفرمایل چه ما ته اُوښایئ چه ددے ګډانو او چیلو نه الله دواړه مـذکـر حـرام کـړیدی او که دواړه مؤنث؟، یا هغه بچی چه د دواړو مؤنثو په خیټو کښ پـرورش مـونـده کـوی؟. یـوه داسے خبره خو اُوښایئ چه د هغے بنیاد په علم او یقین باندے وی ؟!.

یـا مـطلب دا دے چـه ددے د حرمت سبب به یا ذکورت وی یا به انوثت وی او یا به اشتمال

(راګیرول) د رَحِم وی او حال دا چه دا یو هم وجه د حرمت نهٔ ګرځی ځکه چه دا خو په ټولو حیوانانو کښې جاری کیږی، او د هغې نه ډیر تاسو نهٔ حراموئ۔ نو څلورمه وجه به کیدے شی چه دا وی چه تاسو ته به د الله د طرفنه د رسول په واسطه خبر راغلے وی چه دا حیوانات حرام دی او هغه هم نشته نو ځکه تربے تپوس کوی چه (نَبِّئُوْنِیْ بِعِلْمٍ) یعنی په علم او دلیل سره خبره پیش کړئ چه یو رسول تاسو ته خبر درکړے وی چه دا حرام دی۔ نو هرکله چه دا یو سبب هم نشته نو بیا تاسو دا په څه وجه په ځانونو حراموئ؟۔ (د علم نه مراد هغه حکم دے چه معلوم وی په وحی سره)۔

اَزْوَاجٍ : د ازواج نه مراد افراد دی۔ او عرب هر هغه شے چه بل ته محتاج وی هغے ته زوج وائی لکه مذکر ته هم زوج او مؤنث ته هم زوج وائی۔ (قرطبیؒ)

الْاُنْثَیَیْنِ : یعنی د ګډو او بزو۔

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَیْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَیْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَیْنِ حَرَّمَ
او د اُوښانو نه دوه او د غوایانو نه دوه تهٔ ووایه آیا دوه نارینه (اُوښ او غوئے) حرام کړیدی الله
اَمِ الْاُنْثَیَیْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَیْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَیَیْنِ ؕ اَمْ كُنْتُمْ
که دوه مادے (اُوښه او غوا) یا هغه شے چه راګیر کړیدی هغې لره رحمونو د میندو آیا وئ تاسو
شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ
حاضر کله چه حکم کولو تاسو ته الله تعالیٰ پدے سره نو څوک دے لوئی ظالم
مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّیُضِلَّ النَّاسَ
د هغه چا نه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ دے دپاره چه ګمراه کړی خلق
بِغَیْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۴﴾
بے د علم نه، یقیناً الله تعالیٰ هدایت نهٔ ورکوی قوم ظالمانو (عنادیانو) ته۔

تفسیر : دغه شان الله تعالیٰ دوه اُوښان مذکر او مؤنث او دوه غواګانے پیدا کړیدی (دا د مخکښې سره مجموعه اته جوړیږی) او ددے ټولو خوراك ئے حلال ګرځولے دے، لیکن مشرکانو ددے نه د بعض ښاروو خوراك په خپل ځان حرام کړے وو۔

الله تعالیٰ دوباره د هغوی ددے بد فعل رد وکړو او د هغوی دروغ ئے ښکاره کړل۔ او ددے

رد او انکار زیات تاکید دپاره ئے وفرمایل چه کله الله تاسو ته حکم درکړے وو چه تاسو د خپل ځان نه د جوړ شوی شریعت په ذریعه بعض حلال او بعض حرام گرځوئ نو آیا تاسو په هغه وخت کښې موجود وئ؟ مطلب دا دے چه دا ټول هر څه د الله په باره کښې دروغ جوړول دی. الله خو اته واړه (۸) قسمونه د تماموانسانانو دپاره حلال کړی وو او تاسو د خپل منکرت شریعت په ذریعه کله یو څه حرام کړی او کله بل څه.

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ : مخکښې ئے د دوی نه مطالبه وکړه چه د یو رسول په واسطه د الله نه کوم دلیل درسره شته؟ نو اُوس وائی چه آیا تاسو ته الله تعالیٰ راښکاره شویدے چه دا خبر ئے خپله ذکرکړے وی چه آؤ، ما دا څیزونه حرام کړی دی. ځکه چه د علم هم دغه دوه لارے دی. نه درته الله وئیلی دی او نهٔ درته رسول الله ﷺ وئیلی دی. نو معلومه شوه چه تاسو دروغ جوړونکی یئ نو تاسو ډیر لوی ظالمان یئ چه د خپلو پلارانو د تقلید په وجه دا حرام گنړئ. (المنار)

فَمَنْ اَظْلَمُ : دا زورنه ده هغه مشرك ته چه خپله هم گمراه وی، او نور خلك هم شرك ته رابلی او اول پدے کښې عمرو بن لحی الخزاعی داخل دے چه هغه عربو ته اول دا شرکونه راوړی وو. (ابن کثیرؒ) نو دهٔ دوه جرمونه وکړل یو ئے په الله باندے دروغ جوړ کړل او بل ئے خلك گمراه کړل.

خطیب شربینیؒ او خازنؒ لیکی چه پدے وعید کښې هر هغه څوك داخل دے چه د الله په دین کښې هغه شے داخل گنړی کوم چه د هغے نه نهٔ وی آه. یعنی بدعات پیدا کوی، او د ځان نه بی دلیله د حلالو او حرامو فتوے ورکوی، کله وائی دا شے حرام دے او دا حرام دے. او هغه الله او رسول نهٔ وی حرام کړے. (الخازن۲/۱٦٦)

اِفْتَرٰی : فِی التَّحْلِیْلِ وَالتَّحْرِیْمِ. په حلال او حرام جوړولو کښې دروغ جوړوی.

لِیُضِلَّ النَّاسَ بِغَیْرِ عِلْمٍ : یعنی نهٔ د گمراه کونکی علم شته او نهٔ د گمراه کړے شوو خلکو.

بغیر علم کښې (علم) نکره ده یعنی نهٔ نقلی دلیل شته او نهٔ عقلی، او نهٔ په مصالحو او مفاسدو پوهیږی یعنی هیڅ قِسم علم ورسره نشته، او نفی د هر قسم علم ئے وکړه پدے کښې د دوی ډیر لوی جهالت ته اشاره ده، او د مفتری ډیره لویه بد نیتیٔ ته، چه دهٔ سره د علم هیڅ شے باقی نهٔ دے او نهٔ ئے د هدایت او د خیر د څه شی اراده شته. او دهٔ مقلدین بی عقله او بی هدایته دهٔ ړوند تقلید کوی. (المنار)

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ : يعنی حق او عدل ته ئے هدايت نۀ کوی، نۀ په وحی سره او نۀ په علم سره ځکه چه څو پورے چه دوی په ظلم اخته وی نو ظلم به ئے د عقل د استعمال نه منع کوی، نو حق ته به نۀ راځی۔ نو کله چه دا حال د ظالمانو شو نو د اَظلم به څه حال وی چه نور خلك گمراه کوی۔ (المنار)

قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا
ته ووايه ! نۀ مومندۀ کوم په هغه وحی کښې چه شویده ما ته حرام کړے شوے (د هغے نه
عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا
چه تاسو ئے حرام گنړئ) په يو خوړونکی چه خوری هغے لره مگر دا چه وی مرداره يا وينه
مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ
بهيدلے شوے يا غوښه د خنزير نو يقيناً دا پليت دی يا وی (يو شے) نافرمانی چه آواز شوے وی
لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ
په هغے سره د نذر د غير الله دپاره پس څوك چه مجبوره شو چه نۀ دے طلب کونکے د خوند
وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤٥﴾
او نۀ دے زياتے کونکے د حد نه نو يقيناً رب ستا بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسير : اُوس ورته وائی چه دغه څيزونه چه تاسو ئے حرام گنړئ دغه حرام نۀ دی بلکه حرام هغه دی چه الله حرام کړی وی او هغه تاسو حلال گنړئ لکه مرداره، خنزير، وينه او د غير الله په نوم نذر، نو دا څومره لوی ظلم دے او د الله په خلاف او ضد چليدل دی۔

ربط :

۱- حرام او حلال به په وحی سره معلومولے شی، نۀ په خپله رايه سره۔ (بغوی)

۲- د حيواناتو د تحليل او تحريم په باره کښې د عربو مشرکانو د ځان نه جوړ شوی شريعت او د هغوی د افتراء اتو بيانولو نه روستو الله تعالىٰ نبی کريم ﷺ ته حکم وکړو چه هغه څيزونه بيان کړی چه هغه الله د بندگانو دپاره حرام کړيدی۔

مُحَرَّمًا : اَیْ مِمَّا تُحَرِّمُوْنَ ۔ يعنی په وحی کښې ستاسو دغه حرام کرده څيزونه حرام نۀ دی۔ (ابن کثيرؒ)

دَمًا مَّسۡفُوۡحًا : هغه وینه چه د حیوان نه په حالت د ژوند کښې وبهیږی یا په وخت د ذبح کښې نو دا وینه حرامه او نجس ده۔ (خازن)

فَاِنَّهٗ رِجۡسٌ : (اِنَّهٗ) ضمیر صرف لحم الخنزیر ته راجع دے لکه دا قول بعض علماؤ غور کړیدے (التفسیر الثمین والبحر المحیط) یا درے واړو ته راجع دے په تاویل د مذکور سره (التحریر والسعدی والمنار) او همدا ظاهر دے ان شاء الله تعالیٰ۔

اَوۡ فِسۡقًا : اَیۡ اَوۡ یَکُوۡنُ الۡمَاۡکُوۡلُ ذَا فِسۡقٍ ۔ یا وی دغه خوړلے شوے شے فسق والا۔ یعنی د الله نافرمانئ والا، او د فسق نه اعتقادی فسق مراد دے یعنی ددے نه مراد هغه څاروے دے چه د بتانو په نومونو ذبح کړے شوے وی، او دغیر الله په نوم اخستو سره ذبح کړے شوی وی۔ قرآن کریم د داسے څاروی نه په فسق سره پدے وجه تعبیر کړیدے، چه د فسق معنیٰ د قرآن کریم په اصطلاح کښې د اسلام نه خارجیدل دی، او د غیر الله په نوم باندے ذبح کولو سره سړے د اسلام د دائرے نه خارجیږی۔

فَمَنِ اضۡطُرَّ : یعنی که څوك په اضطراری حالت کښې د ځان بچ کولو دپاره ددے څلورو محرّماتو نه د ضرورت په اندازه استعمال کړی نو الله تعالیٰ به هغه نۀ رانیسی۔ یعنی دغه څلور حرام دی مگر هغه هم د اضطرار په وخت کښې جائز دی۔

سوال :

دلته نه معلومه شوه چه د الله په وحی کښې صرف همدغه څلور څیزونه حرام دی، او حال دا چه په دین کښې نور ډیر څیزونه حرام ذکر شویدی؟ لکه زمری، گیدړان، شرمخان، سپی، کورنی خرۀ، شراب، جواری، هر نشائی ماده، حشرات، وزغ (څیرمبنکیٔ)، ماران، لړمانان، او نوکونو والا حیوانات، پنجے والا مارغان، چندخان، تیغکه، کارغه، تپوس، هدهد، شاتو مچۍ، میږیٔ لکه دا په احادیثو کښې ذکر دی۔ نو پدے وجه پدے آیت باندے چه د کومو علماؤ ذهن نۀ دے کولاؤ شوے نو هغوی وئیلی دی چه دغه څیزونه جائز دی لکه دا یو قول د امام مالك دے چه په فقه مالکی کښې ذکر دے، او حال دا چه عام امت دے ته حرام وائی۔

امام شوکانیؒ وائی چه د ابن عباس، ابن عمر او عائشه رضوان الله علیهم اجمعین قول دے چه حرام صرف هغه څیزونه دی چه د هغے ذکر پدے آیت کښې راغلے دے۔ لیکن دا قول د اعتبار لائق نۀ دے، څکه چه پدے سره بغیر د کوم دلیل نه د قرآن کریم د هغه آیتونو اهمال او اسقاط لازمیږی کوم چه ددے نه روستو نازل شویدی او د هغه احادیثو هم چه په

مدنی ژوند کښې راغلې دی. (فتح القدير ٢/ ٤٩٠)

او د جابر بن عبد الله ﷺ دا قول چه د علم درياب ابن عباس ﷺ ددے آيت د مخه كورنى خرۀ حلال ګڼرلي، لکه امام بخاريؒ روايت کړيدے، نو دا خبره د اعتبار لائق نۀ ده، ځکه چه هرکله د رسول الله ﷺ د حديث نه حرمت ثابت شو نو د صحابيؓ په قول باندے عمل كول به صحيح نۀ وى، دا به د هغه اجتهاد وى.

جواب : ١- ځينو علماؤ دا جواب ورکړيدے چه دا آيت مكى دے او په ابتداء د اسلام كښې صرف دغه څلور ځيزونه حرام وو او ددے عموم نه روستو تخصيصات شويدى لكه په مدينه كښې سورة المائده نازله شوه، چه په هغے كښې مُنخنقه، مَوقوذه، مُتَرديه او نَطِيحه حرام شول چه د هغے تفصيل د هغه سورت په تفسير كښې تير شويدے. او د نبى كريم ﷺ په صحيح احاديثو سره دغه مخكښې ذكر شوى ځيزونو حرمت ثابت شو. پدے وجه ددے آيتِ كريمه د نازليدو نه روستو (كوم چه مكى دے) د قرآن كريم يا د رسول الله ﷺ د سنت په ذريعه د كومو حيواناتو حرمت ثابت شوے هغه هم په اسلام كښې حرام دى. نو دا آيت عام مخصوص البعض شو.

٢-جواب : بنه جواب دا دے چه دلته پدے آيت كښې قصر قلب دے په نسبت سره د مشركانو محرماتو ته. يعنى اے مشركانو! تاسو چه څه شے حراموئ دغه زما په وحى كښې حرام نۀ دى بلكه تاسو چه كوم دغه ځيزونه حلال ګڼرئ هغه زما په دين كښې حرام دى نو د آيت نه نۀ ثابتيږى چه نور حرام نشته صرف څلور دى.

فائده : او ابن الجوزيؒ ليكى د مجاهدؒ او طاووسؒ نه نقل كوى :

لَااَجِدُ فِيۡمَا اُوۡحِىَ اِلَىَّ مُحَرَّمًا مِمَّا كُنۡتُمۡ تَسۡتَحِلُّوۡنَ فِى الۡجَاهِلِيَّةِ الا هذا (زاد المسير)

يعنى تاسو چه به په جاهليت كښې كوم ځيزونه حلال ګڼرل نو ما ته ددے نه سوئ نور حرام نۀ دى معلوم. نو دا ډير بنه قيد دے.

وَعَلَى الَّذِيۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا كُلَّ ذِىۡ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الۡبَقَرِ
او په هغه كسانو چه يهوديان دى حرام كړيدے مونږ هر يو نوك والا ځاروے او د غواګانو
وَالۡغَنَمِ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ شُحُوۡمَهُمَاۤ اِلَّا مَا حَمَلَتۡ
او ګډو بزو نه حرام كړيدى مونږ په دوى باندے وازدے د هغوى مګر هغه چه پورته كړى وى

ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَااخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ جَزَيْنٰـهُمْ
شاګانو د هغې يا کولمې يا هغه چه يو ځاى وى د اَډوکښ سره، دا سزا ورکړه مونږ دوى ته
بِبَغْيِهِمْ ۫ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾
په سبب د ظلم د دوى او يقيناً مونږ رشتينى يو۔

تفسير : دا جـواب د سـوال دے چـه تاسو وايئ د دغه غوړو څيزونو نه علاوه څيزونه د الله په وحى کښ حرام نهٔ دى نو بيا په تورات کښ الله تعالىٰ د اُوښانو غوښے او د غواګانو او ګډو بزو وازدے حرامے کړے نـهٔ وے څـه؟ د هـغـے جواب کوى چه دا حکم د هغوى پورے خاص وو، دغه څيزونه صرف په يهوديانو باندے حرام وو نهٔ په بل چا باندے، او دا د هغوى د ظـلـمونو د وجه نه، نو په هغے باندے به استدلال نشى کيدے، او د تخصيص دليل تقديم د معمول (عَلَى الَّذِيْنَ) دے په عامل (حَرَّمْنَا) باندے۔ (المنار)

ربط :

د مسـلـمـانـانـو دپاره چه کوم څيزونه حرام شويدى د هغے بيانيدو نه روستو اُوس د هغه څيزونو بيان کيږى چه صرف په يهوديانو باندے حرام شوى وو۔

ذِىْ ظُفُرٍ : د ((نوك والا)) نه مراد (غَيْرُ مُنْفَرِجَةِ الْاَصَابِع) دى يـعـنى هر هغه حيوان دے چه د هغـه ګـوتے خـيـرى (کـو لاوے) نـهٔ وى۔ ددے تـعريف مطابق پدے کـښ هر هغـه حيوان داخـليـږى چـه بـنـدو پـنـجـو والا وى، پـدے وجـه اُوښ، شتـرمرغ، بطخه، او هر هغه مارغه داخـليـږى چه د هغه پنجے وى، ددے تمامو حيواناتو غوښه په يهوديانو باندے حرامه وه۔ د هغـوى دپاره د هـغـه حيواناتو غوښه حلاله وه، چه د هغے ګوتے کولاوے وے لکه چرګه او مرغئ وغيره۔

او د ((مِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ)) نـه مـعـلـو ميږى چه د هغوى دپاره د غوا او چيلئ غوښه په خاص توګه حلاله شوے وه، صرف د هغو وازدهٔ حرامه کړے شوے وه، سوىٰ د هغه وازدے نه چه د هغوى شاګانو پورے انختى وى يا د هغوى د کولمو پورے پيوسته شوى وى، يا کومه چه د هډوکى سره پيوسته شوى وى لکه هغه وازدهٔ چه د لکئ، خپو، پښتئ، سر او سترګو سره پيوستـه وى نـو دا جـائـز وه، او دا ټـول د هـغـوى د سرکشئ او د الله د احکـامو نـه د نافرمانئ په وجه شوى وو۔ او د الله د دوى سره دا سلوك ډير عادلانه وو۔

اِلَّا مَا حَمَلَتۡ : دا د (حَرَّمۡنَا) نه استثناء ده۔
ظُهُوۡرُهُمَاۤ : د شا پورے او کولمو او هډوکو پورے انښتے وازدے جدا کول لړ گران وو پدے وجه ورله دا جائز شو۔
مگر یهودیانو به پدے حکمونو کښې هم غلا کوله او وازدے به ئے ویلی کولے او بیا به ئے خرڅولے او پیسے به ئے خوړلے چا به ورته ووئیل دا خو حرامے دی، هغوی به وئیل چه مونږ خو وازدے نهٔ دی خوړلی پیسے مو خوړلی دی۔ دغه یهودی خویونه زمونږ ډیرو مسلمانانو حیله گرو ته هم رانقل شویدی۔
بخاریؒ او مسلمؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : «الله دِے په یهودیانو لعنت وکړی کله چه وازدهٔ په هغوی حرامه کړے شوه نو دوی به ویلی کولو سره هغه خرڅوله او د هغے قیمت به ئے خوړلو» (صحیح بخاری : ۲۲۳۶)۔
بِبَغۡيِهِمۡ : علامه بغویؒ د کَلبیؒ نه نقل کړیدی چه یهودیانو به کله یوه لویه گناه وکړه نو الله به پرے پاك طعام حرام کړو۔ ﴿فَبِظُلۡمٍ مِّنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبٰتٍ﴾ (النساء : ۱۶۰)
وَاِنَّا لَصٰدِقُوۡنَ : په دے کښې اشاره ده چه یهودو وئیل چه د اُوښ غوخه په دین ابراهیم علیه السلام کښې حرام وه نو دا دروغ وائی۔ او د عربو عادت وو چه کله به ئے ووئیل چه زهٔ پدے خبره کښې رشتینی یم نو خلکو به د هغه تصدیق کولو۔
صاحب المنار وائی : ددے جملے راوړو وجه دا ښکاره کیږی چه رسول الله ﷺ او د هغه امت اُمیین دی، نو هغه چه د موسیٰ علیه السلام د شریعت نه خبر ورکوی نو کیدے شی چه یهود د هغے تکذیب وکړی نو ځکه ئے دا خبره په دے جمله سره مؤکده کړه چه مونږه پدے اخبار کښې رشتینی یو۔ (المنار)

فَاِنۡ كَذَّبُوۡكَ فَقُلۡ رَّبُّكُمۡ ذُوۡ رَحۡمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ
پس که دوی دروغژن ووائی تا ته نو ووایه ! رب ستاسو خاوند د رحمت دے فراخه
وَلَا يُرَدُّ بَاۡسُهٗ عَنِ الۡقَوۡمِ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۱۴۷﴾
او نهٔ شی واپس کیدے عذاب د هغه د قوم مجرمانو نه۔

تفسیر : پدے آیت کښې ترغیب او ترهیب دُنيَ او نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکوی چه که مشرکان او یهودیان ستا تکذیب کوی او وائی چه د تحلیل او تحریم متعلق تاسو چه د

کومو احکامو نسبت الله طرف ته کړیدے، په هغے کښې تاسو رشتینی نهٔ یئ، نو صبر کوه او دا ورته ووایه چه الله ډیر رحم کونکے دے چه ستاسو په نافرمانیو باندے تاسوته په عذاب درکولو کښې جلتی نهٔ کوی، لیکن دا خبره تاسو د ذهنونو نه مهٔ وباسئ چه ستاسو نه د عذاب روستو کولو هیچرے دا مطلب نهٔ دے چه د جرم کونکو قومونو نه به د الله عذاب روستو کیږی ځکه چه الله قهر او غضب والا هم دے۔ د الله د علم مطابق کله چه د هغے وخت راشی نو هغه هیڅوك نشی روستو کولے، یا دا مطلب دے چه که دنیا کښې عذاب نهٔ راځی نو په آخرت کښې به د مجرمانو نه هیڅ عذاب نهٔ نشی روستو کیدے۔

ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ : دا ترغیب دے چه راشئ ایمان راوړئ الله به درباندے رحم وکړی ورنه سزا ته انتظار کوئ۔

سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ
زر دے چه وائی به هغه کسان چه شرك ئے کړیدے که چرے غوختے الله
مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ
شرك به نهٔ وے کړے مونږ او نهٔ پلارانو زمونږ او نهٔ به حرام کړے وے مونږ هیڅ شے، دغسے
كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا
دروغژن گنړلے دے (توحید لره) هغه کسانو چه مخکښې د دوی نه دی تردے چه وڅکلو هغوی
بَأْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ
عذاب زمونږ ته ووایه ! آیا شته تاسو سره څه پوهه پس چه راوباسئ تاسو هغه مونږ ته
اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿۱۴۸﴾
تابعداری نهٔ کوئ تاسو مگر د گمان او نهٔ یئ تاسو مگر اټکل کوئ۔

تفسیر : د مشرکانو څلور دلیلونه مخکښې ذکر شو، اتباع الاکثریة، اتباع الظن، اتباع الخرص، اتباع الآباء، اُوس پنځم دلیل بیانوی چه هغه استدلال دے په مشیت د الله۔ او دا ناشنا زور دلیل دے۔ او دا په قرآن کریم کښې درے ځایه ذکر دے یو دلته او بل په سورة النحل (۳۵) او بیا سورة الزخرف (۲۰) آیت کښې۔

د استدلال (او شبهے) حاصل دا دے چه په دنیا کښې هر شے د الله په اراده کیږی او هر هغه

شے چه الله ئے اراده وکړی نو الله په هغې رضا وی نو مونږ چه کوم شرکونه کوو نو پدے الله راضی دے، ولے که الله پرے راضی نهٔ وی، نو بیا ئے اراده ولے کوی؟ او بیا به ئے زمونږ لاسونه نیولی وے او زمونږ سترګے او غوږونه به ئے ددے نه بند کړی وے او خپے به ئے زمونږ ماتے کړے وے؟۔

ځینی وائی : دائے مؤمنانو ته الزامًا وئیل چه تاسو وایئ [كُلُّ شَيْءٍ بِمَشِيَّةِ اللهِ] هر شے د الله په اراده کیږی نو بیا خو به مونږ هم دا شرك د الله په اراده کوو نو ولے غلط شو؟۔

ددے جواب دا دے چه د الله دوه قسمه ارادے دی (۱) اراده کونیه (۲) اراده شرعیه۔ په اراده کونیه کښې د الله رضا شرط نهٔ دے کله به ورسره د الله رضا ملګری وی او کله نهٔ، او په اراده شرعیه کښې د الله رضا شرط وی، زنا، قتل وغیره ګناهونه د الله په اراده کونیه سره کیږی که انسانان دا کارونه کوی نو الله ورله توفیق ورکوی مګر رضا پرے نهٔ دے بلکه انسان ئے ترے منع کړیدے۔ او اراده شرعیه هغه ده چه الله د بندګانو نه د هغې مطالبه کړی وی چه ایمان راوړئ، مونځ، زکاة، روژه ادا کړئ نو پدے الله راضی دے۔

نو که ستاسو په شرك الله راضی وے نو بیا الله پیغمبران او کتابونه په رد د شرك کښې ولے رالیږل؟ نو د شرك نه چه الله منع کړیده دا دلیل دے چه الله پرے راضی نهٔ دے۔

ابن الجوزیؒ لیکی : فَعَلَى الْعَبْدِ اِتِّبَاعُ الْاَمْرِ وَلَيْسَ لَهٗ اَنْ يَّتَعَلَّلَ بِالْمَشِيْئَةِ بَعْدَ وُرُوْدِ الْاَمْرِ)

(زاد المسير)

په بنده باندے لازم دی چه د الله تعالیٰ د امر تابعداری وکړی او دهٔ لره جائز نهٔ دی چه د امر د راتللو نه روستو په مشیئت باندے ځان قلار کړی۔

او دلته الله جواب ورکوی : كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ آه۔ یعنی که الله پدے رضا وی نو بیا پخوانی مشرکان او تکذیب کونکی په څه باندے تباه شو؟ که دوی د الله د رضا مطابق کار کولے نو بیا الله ولے هلاکول؟۔ او دا بیله خبره ده چه یو مشرك ته الله تعالیٰ څه زمانه صبر کړیدے (ځکه چه هغه ذُوْ رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ دے) عذاب پرے لا نهٔ راولی کیدے شی چه توبه وباسی نو دا صبر دلیل د الله د رضا نهٔ دے۔

نو د جواب دوه جزونه شو، یو خو هره اراده مرادِفه د رضا نهٔ ده، او بله دا چه د شرك نه الله منع کړیده او عملًا ئے مشرکانو ته سزاګانے ورکړیدی۔

سَيَقُوْلُ : سین د تاکید دپاره دے، یعنی مشرکان به دا خبره په ډیر تاکید سره کوی۔ یا سین د استقبال دے او دا پیشنګوئی ده، او ددے وقوع په سورة النحل او زخرف کښې ذکر

ده۔ (خو دا هـلـه چه سورة النحل ددے سورت نه روستو نازل شوے وی او که مخکښې نازل وی نو بیا به معنیٰ دا وی چه دوی به دا خبره او دا بهانه دوباره کوی۔ (التحریر والتنویر)

او په آخرت کښې دا وینا نۀ ده مراد لکه بعض تفاسیرو کښې لیکی چه آخرت کښې به ئے د تمنا په طریقه ووائی۔ (التسهیل)۔ دا تفسیر کول ډیر بعید دی۔

مَآ اَشۡرَكۡنَا : یعنی شرك اعتقادی او ﴿ حَرَّمۡنَا مِنۡ شَیۡءٍ﴾ شرك فعلی دے۔ مطلب ئے دا وو چه دا مونږ چه کوم شے کوو نو دا شرك نۀ دے بلکه دا تقرب الی الله دے او دا وسیله ده۔

كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِیۡنَ : ددے یو مطلب مخکښې واضح شو، او په كَذَّبَ کښې اشاره ده چه پیغمبرانو د شرك نه منع کړیده، لیکن مشرکانو هغه دروغژنه کړیده چه مونږه ئے نۀ منو۔ دویم مطلب دا دے چه د همدے شبهے د وجه نه ډیر خلق مخکښې هم گمراه شویدی، او دا انتهائی لچر دلیل دے، که ستاسو خبره صحیح وے، نو الله تعالیٰ تاسو په عذاب کښې ولے اخته کولئ؟۔ نو دواړه جوابونه ورته وشو۔

قُلۡ هَلۡ عِنۡدَكُمۡ : دا بل جواب او رد دے چه که تاسو وایئ چه الله پدے راضی دے، نو آیا که تاسو سره پدے خبره څه یقینی دلیل (عقلی یا نقلی) وی نو هغه راښکاره کړئ؟ نشته، نو معلومه شوه چه تاسو د ظن او تخمین پسے روان یئ چه پلارانو داسے کړیدی او کیدے شی چه الله پرے راضی وی۔ په الله باندے دروغ وایئ۔

مِّنۡ عِلۡمٍ : دا دلیل دے چه یقینی دلیل هغه دے چه ظن او تخمین نۀ وی ۔ (السعدی)

اِلَّا الظَّنَّ : یعنی ستاسو دغه دلیل په گمان بناء دے چه مونږ ته الله عذاب نۀ راکوی نو کیدے شی چه الله زمونږ نه رضا وی، نو دا هسے تخمین دے۔

قُلۡ فَلِلّٰهِ الۡحُجَّةُ الۡبَالِغَةُ ج
تۀ ووایه ! پس خاص الله لره دلیل دے پوره (ځای ته رسیدونکے)،
فَلَوۡ شَآءَ لَهَدٰىكُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۱۴۹﴾
نو که غوختے الله تعالیٰ خامخا هدایت به ئے کړے وے تاسو ټولو ته۔

تفسیر : ۱–پدے کښې د الله د طرفنه په توحید باندے یقینی دلیل بیانیږی، یعنی تۀ ووایه چه د الله دلیل کامل دے او ځای ته رسیدونکے دے او بالغة معنیٰ دا هم ده چه عذرونه د بندگانو ختموی، او هغه دا چه هغه رسولان رالیږلی او کتابونه ئے نازل کړیدی او

مشـركـان ئے هلاك كړيدى، نو د رد د شرك دپاره او د اثبات د توحيد دپاره دا پوره دليل شو۔
او هرچه د الله اراده او كلام دے نو هغه غيب دے، بنده په هغے نهٔ خبريږى مګر الله ئے بعض
رسولانو ته خبر وركوى۔ (بغويؒ والقرطبيؒ)

او بالغة مؤكد او مُحكم ته هم وائى لكه (حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ) (اَيْمَانٌ بَالِغَةٌ) او بالغه معنىٰ ده اَلَّتِیُ
بَلَغَ بِهَا صَاحِبُهَا اِلٰى صِحَّةِ دَعْوَاهُ ۔ چه د هغے په وجه بنده د خپلے دعوے صحت ته رسيږى۔
(قاسميؒ)

فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ : دلته لِلّٰهِ (خبر) مقدم شو دپاره د تخصيص، او مطلب دا چه د
مشركانو سره هيڅ داسے دليل نشته چه هغه كامل وى او مدعىٰ پرے ثابته شى او خاص د
الله دپاره كامل حجت دے۔ ددے وجه نه د ربيع بن انسؒ او ضحاكؒ نه نقل دى چه د هغه چا
سره چه د الله نافرمانى (او شرك) كوى په الله باندے هيڅ حجت نشته بلكه الله تعالىٰ لره
حجت كامله دے په بندګانو خپلو۔ (ابن كثيرؒ)

۲- حافظ ابن كثيرؒ ددے آيت داسے مطلب بيان كړيدے چه د چا په هدايت او د چا په
ګمراه كولو كښې د الله پوره حكمت او كامل حجت دے هغه كولے شى چه ټول انسانان
هدايت ته راولى لكه مخكښې آيت (۳۵) كښې تير شو: ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى﴾
(او كه الله غوختلے نو ټول خلق به ئے په هدايت راجمع كړى وے)۔ليكن دا كار نهٔ كوى د
وجه د دغه حكمتونو نه۔ (ابن كثيرؒ)

فَلَوْشَآءَ : مفعول د شاء (هِدَايَتَكُمْ) دے لكه روستو (هَدَاكُمْ) پرے دليل دے او تعلق د فعل
المشية د مفعول پورے غريب نهٔ دے پدے وجه مفعول حذف شويدے۔ (تلخيص المفتاح)
او پدے كښې هم په مشركانو رد دے چه الله په چا زور نكوى چه ايمان او هدايت ته ئے په
زوره راولى او ايمان ورله زړهٔ ته ورننباسى، ځكه كه زور وكړى بيا خو به ټول خلك مؤمنان
شى بيا به امتحان رانشى او الله خو دنيا د امتحان دپاره پيدا كړيده۔

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ج
تهٔ ووايه ! راولئ علماء خپل هغه كسان چه بيان وكړى چه بيشكه الله حرام كړيدى دا
فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ج وَلَا تَتَّبِعْ
نو كه دوى بيان وكړو (بے دليله) نو بيان مهٔ كوه تهٔ د دوى سره او تابعدارى مهٔ كوه

اَهْوَآءَ الَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَالَّذِیْنَ
د خواهشاتو د هغه کسانو چه دروغژن گنړی آیتونه زمونږ او هغه کسان
لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ یَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۰﴾
چه ایمان نۀ لری په آخرت او دوی د خپل رب سره نور برابروی۔

تفسیر: دا هم د مشرکانو د رد دپاره بل دلیل دے، هغه دا چه تاسو دا وایئ چه الله زمونږ په شرك راضی دے نو پدے باندے گواه راوړل پکار دی، صرف د الله صبر او د هغه دِحلم نه دلیل نیول صحیح نۀ دی بلکه په حلال او حرامو به د الله د طرفنه دلیل راوړئ، نو پدے آیتِ کریمه کښې د مشرکانو د لاجواب کولو طرز اختیار شویدے۔

نبی کریم ﷺ ته فرمائی چه تۀ دوی ته ووایه چه تاسو خپل گواهان پیش کړئ چه واقعی الله دا څیزونه حرام کړیدی، کوم چه تاسو حرام گنړئ (حال دا چه الله پوهیږی چه دوی سره هیڅ گواه نشته) که فرض کړو چه څوك د هغوی په تائید کښې گواهی ورکوی چه هغه به خالص دروغ او د تعصب په بنیاد وی نو تۀ د دوی تصدیق مۀ کوه، او نۀ د هغه خلقو د خواهشاتو تابعداری کوه کوم چه د الله آیتونه دروغژن گنړی، او په آخرت باندے ایمان نۀ لری، او بتان د الله سره شریکوی۔ نو د خواهش پرستانو گواهی هم د دروغو نه ډکه وی۔

هَلُمَّ : دا کلمه د حجازینو په نیز د مفرد او جمعے تولو دپاره یو شان استعمالیږی۔ او مفسرین وائی چه پدے کښې تعجیز دے د اقامت د شهداؤ نه۔ یعنی دوی عاجز دی ددے نه چه گواهان پیش کړی، او که گواه پیدا شی نو هغه به دروغژن وی او دا په بیان کښې ډیره مبالغه ده۔

شُهَدَآءَكُمُ : ددے نه مراد علماء او دارنگه عام گواهان دی۔

حَرَّمَ هٰذَا : یعنی دغه مذکوره بحیرے او سائبے وغیره۔

یَعْدِلُوْنَ : یعنی نور خلك د ربّ سره برابروی۔

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَیْكُمْ
تۀ ووایه! راشئ چه بیان کړم هغه چه حرام کړیدی رب ستاسو په تاسو باندے چه

اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ج وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ
شریك مهٔ ګنړئ د هغه سره هیڅ شے او د مور او پلار سره نیکی کوئ او مهٔ وژنئ اولاد خپل
مِّنْ اِمْلَاقٍ ط نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ج وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ
د وجے د لوږے نه، مونږ رزق درکوو تاسو ته او دوی ته او مهٔ نزدے کیږئ بے حیایانو ته
مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ج وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ
هغه چه ښکاره دی د دینه او هغه چه پټ دی، او مهٔ وژنئ نفس هغه چه حرام کړیدے
اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ط ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٥١﴾
الله تعالیٰ مګر په حق، دا مضبوط حکم کوی الله تاسو ته په دے، دے دپاره چه عقل نه کار واخلئ

تفسیر: سوال پیدا شو چه هر کله د مشرکانو دغه محرمات حرام نشو نو بیا کوم څیزونه حرام دی؟ نو الله جواب ورکوی چه دا لس څیزونه دی چه شپږ حرام څیزونه او پنځه حکمونه دی (چه د هغے خلاف کول حرام دی)۔

(لکه ډیر مبتدعین وائی چه تاسو هر شے منع کړو، جُمعه، چهیله، کلیزه، د مړو شپه، د اولے ورځے خیرات، اسقاط، نو بیا څه شے جائز شو؟ نو مونږ ورته وایو چه تاسو صحیح دین نهٔ دے پیژندلے او خرافات مو زده کړیدی، نو کله چه ستاسو په خرافاتو رد وشی نو تاسو وایئ چه ټول دین ئے ختم کړو)

نو دلته لس احکام بیان شویدی چه دے ته د حکمة احکام وائی چه انسان پرے حکیم جوړیږی۔ او روستو به ووائی چه دا لس احکام د ټولو انبیاؤ اتفاقی دی، نو تاسو اتفاقی خبرے نهٔ منئ او د ځان نه مو چه څه جوړ کړیدی هغے پسے روان یئ۔

ربط

تاسو چه کوم څیزونه حرام ګنړئ دغه حرام نهٔ دی بلکه راشئ چه هغه محرمات درته بیان کړم چه الله تعالیٰ واقعی حرام کړیدی او د کومو د حرمت علم چه د انسانانو دپاره ضروری دے۔ او دا هغه څیزونه دی چه مشرکانو به ئے پرواه نهٔ لرله۔

تَعَالَوْا: دے کښې اشاره ده چه دا حکمونه منل سبب د علو او رفعت دے۔ او علامه قرطبیؒ وائی چه په ټولو علماؤ باندے ددے محرماتو بیانول لازم دی، او ابن ابی حاتمؒ

مرفوع روایت نقل کړیدے چه رسول الله ﷺ به په دے درے آیتونو باندے د صحابه کرامؓ نه بیعت اخستلو ۔ آه او دا لس وصیتونه په تورات کښې هم ذکر شویدی۔

(فتح القدير للشوكانی)

اَتۡلُ مَا حَرَّمَ : سوال : اَلَّا تُشۡرِكُوۡا د حَرَّمَ دپاره مفعول دے نو معنیٰ دا ده چه په تاسو باندے نۀ شرك كول حرام دی او شرك كول درله جائز دی او دا معنیٰ خو صحیح نۀ ښكاری ؟ دارنګه د والدینو سره احسان هم حرام نۀ دے؟ نو مفسرینو دلته ډیر توجیهات کړیدی۔

(۱) ځینی وائی چه په آیت کښې تقطیع ده او خبره په (اَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ) باندے پوره ده او روستو (عَلَيۡكُمۡ) د اِغراء (یعنی تیزولو) دپاره دے، او اسم فعل دے په معنیٰ د لزوم سره۔ (اَىۡ عَلَيۡكُمۡ اَلَّا تُشۡرِكُوۡا وَبِالۡوَالِدَيۡنِ اِحۡسَانًا) په تاسو لازم دی چه شرك به نکوئ او د والدینو سره به احسان کوئ۔ دا بعید دے او د بلاغت خلاف دے۔

(۲) جواب : حَرَّمَ همیشه د حرام په معنیٰ سره نۀ وی بلکه په معنیٰ د (اَوۡجَبَ او فَرَضَ) سره دے لکه ﴿وَحَرَامٌ عَلٰى قَرۡيَةٍ اَهۡلَكۡنَاهَا اَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُوۡنَ﴾ (الانبياء: ۹۵) یعنی واجب او لازم دی۔

او تعبیرئے په حرامو سره وکړو سره ددے نه چه پدے کښې خو عام وصیتونه ذکر دی څه حرام او څه حلال، یو د ماقبل د مناسبت د وجه نه، ځکه چه مشرکانو دا حرام نۀ ګڼړل۔ دویم پدے وجه چه کله اصول د محرماتو بیان شی نو دا دلیل وی په حلت د ماسویٰ ددے باندے ځکه چه اصل په اشیاؤ کښې حل دے او ددے عامو حلالو نه ئے په اصول د واجبو باندے تصریح وکړله۔ (المنار۸/۱٦۲)

(۳) د حَرَّمَ دپاره مفعول (مُخَالَفَةَ) پټ دے او د (اَلَّا تُشۡرِكُوۡا) نه مخکښې (هُوَ) پټ دے۔ یعنی حرام کړے ئے دے په تاسو باندے مخالفت د هغے هغه دا چه شرك به نۀ کوئ او د والدینو سره به احسان کوئ۔

(٤) صاحب المنارؒ وائی دے اشکالاتو او جواباتو ته ضرورت نشته بلکه آیت چه په ظاهر باندے پریخودے شی، نو هم معنیٰ مراده ترے جدا جدا صحیح فهمیږی نو تحقیقات د سعد او حل د اشکالاتو د ابو حیانؒ ته ضرورت نۀ پاتی کیږی۔ هغه دا چه دلته معنیٰ دا ده چه راشئ چه زۀ تاسو ته ولولم هغه څیزونه چه تاسو باندے ربّ حرام کړیدی یا ئے تاسو ته په هغے باندے وصیت کړیدے لکه آخر د آیت کښې (وَصّٰكُمۡ) راغلے دے، اول د هغه محرماتو نه دا ده چه شرك به نکوئ یا اول د هغه وصیتونو نه دا ده چه شرك به نکوئ۔ (المنار۸/۱٦۲)

هغه کارونه او وصیتونه دا دی :

اَلَّا تُشْرِكُوْا : ۱- د الله سره بل څوك شريك جوړول : په مسند احمد، ترمذی او دارمی وغیره کښې د ابوذر ﷺ نه حدیث قدسی روایت شویدے چه الله تعالیٰ وائی : «اے د آدم ځویه ! ته که ما رابلے او ما نه امید ساتے نو زۀ به تا ته معافی کوم اګرکه تا نه کومه ګناه شوی وی او زۀ پرواه نۀ کوم، او که ډکه زمکه ګناهونه ما ته راوړے نو د هغے برابر به تا ته بخنه اُوکړم په دے شرط چه تا ما سره څوك شریکان نۀ وی جوړ کړی»۔

(ترمذی : ۳۵٤۰) احمد (۲۱۵۱۰) بسند صحیح)

۲- د والدینو نافرمانی : ځکه چه والدینو سره احسان نۀ کول حرام دی نو احسان کول لازم شو۔ الله تعالیٰ د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کښې خپل طاعت او بندګی او والدینو سره ښائسته سلوك یو ځای بیان کړیدی۔

په صحیحینو کښې د ابن مسعود ﷺ نه روایت شویدے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو، چه کوم عمل د تولو نه غوره دے؟ نو هغه وفرمایل : «په وخت باندے مونځ کول»، ما ووئیل، بیا کوم ؟ نو وے فرمایل : «والدینو سره ښائسته سلوك»۔ ما ووئیل : بیا کوم ؟ نو وے فرمایل : «د الله په لاره کښې جهاد کول»۔ (بخاری : ۵۲۷) مسلم (۲٦٤)

۳- اولاد قتلول : چه دا په هیڅ حال کښې جائز نۀ دی۔ د جاهلیت په دور کښې به عرب خلق د غربت او محتاجئ نه یریدل او خپل اولاد به ئے قتلول۔ او جینکئ به ئے د شرم او پیغور په یره سره ژوندئ خخولے۔ په صحیحینو کښې د ابن مسعود ﷺ نه روایت شویدے، هغوی د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه کومه ګناه د تولو نه لویه ده ؟ نو نبی ﷺ وفرمایل : «چه تۀ د الله سره څوك شریك جوړ کړے په داسے حال کښې چه تۀ هغه پیدا کړے ئے ؟»۔ ما ووئیل : بیا کومه ؟ وے فرمایل : [أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَّطْعَمَ مَعَكَ] (چه ته اولاد په دے یره قتل کړے چه هغه به تاسره خوراك وکړی)۔ الحدیث۔ (صحیح بخاری : ٤٧٦١)

او الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښې فرمایلی : چه تاسو او هغوی ته مونږ روزی درکوو، ځکه چه د غلامانو روزی د هغوی د آقا او مولیٰ په ذمه وی۔

د قتل الاولاد ډیر صورتونه دی (۱) ظاهراً وژل لکه لونړه ښخول وغیره طریقے۔

(۲) اسقاط حمل۔ (حامله زنانه خپل بچے ګوزار کړی نو دا هم د الله په نیز قاتله ده، بعض زنانو ته ډاکټر ووائی چه ستا بچے په رَحِم کښې کوږ یا اُلټه دے، یا کمزورے دے نو دے

ئے گوزار کړی، نۀ بلکه پدے باره کښې په الله باندے توکل لازم دے)

(۳) پدے کښې منصوبه بندی هم داخل ده، ډیر خلك منصوبه بندی د اقتصاد د خرابئ په یره سره کوی۔ البته ددے نه په شریعت کښې د خاص معذورو خلکو دپاره استثناء ات شته۔

(٤) امام راغبؒ وائی: حِرْمَانُهُمْ مِنَ الدِّيْنِ ۔ بچی د دین نه محرومول۔ ډیر خلك په خپلو بچو باندے د وړوکوالی نه انګریزی تعلیمونه کوی تردے چه بیا کالجونو او یونیورستیانو ته بیا بهر ملکونو ته د اعلیٰ تعلیم دپاره لاړ شی نو ټول ژوند ئے په دنیاوی تعلیم کښې تیر شی، د دین د هیڅ مسئلے نه خبر نۀ وی، دا بیا د ملك مشر شی نو خلك ددۀ نه د اسلام طمع کوی حال دا چه هغه د اسلام نه خپله هم خبر نۀ دے۔

٤- د فحش ګناهونو کول: مفسرینو لیکلی دی چه ددے نه مراد بالخصوص زنا ده۔ په صحیحینو کښې د مغیره بن شعبه ﷺ نه روایت شویدے چه سعد بن عباده ﷺ ووئیل: که زۀ د خپلے بی بی سره یو پردے سړی اُووینم نو هغه به په توره وژنم، کله چه رسول الله ﷺ ته دا معلومه شوه نو وے فرمایل: ((آیا تاسو د سعد په غیرت باندے تعجب کوئ؟ قسم په الله، زۀ د سعد نه زیات غیرتمند یم، او الله ما نه زیات غیرت والا دے، پدے وجه خو هغه ښکاره او پټه زنا او د فواحشو تمام قِسمونه حرام کړیدی))۔ (بخاری: ٦٨٤٦)

(د حدیث مطلب دادے چه که یو تن خپلے ښځے سره یو سړے په زنا مشغول وینی نو هغه به نۀ وژنی تردے چه څلور ګواهان راوړی، الله تعالیٰ ګواهان ضروری کړیدی، که ګواهان نۀ وی نو د سړی دپاره د دغه زناکار وژل صحیح نۀ دی بلکه د ښځے سره به لعان وکړی او هغه به تر ے همیشه دپاره جدا شی لکه تفصیل دپاره شرح ابن بطال او فتح الباری وغیره وګورئ)

٥- د بی ګناه سړی قتل: په صحیحینو کښې د ابن مسعود ﷺ روایت نقل شویدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

((د هیڅ مسلمان سړی وینه حلاله نۀ ده چه ګواهی ورکوی چه د الله نه سوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته او زۀ د الله رسول یم، سِویٰ د درے قسمه انسانانو نه: وادۀ کړے زنا کار، د نفس په بدله کښې نفس، او د الله دین پریخودلو سره د جماعت (د مسلمانانو) نه جدا کیدونکے انسان))۔ (صحیح بخاری: ٦٨٧٨) ومسلم (٤٤٦٨)

نو نفس عام دے کافر، معاهد، اهل الذمه ټول وژل تیك نۀ دی صرف حربی کافر وژل دی۔

وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى
او مهٔ نزدے کیږئ مال د یتیم ته مګر په هغه طریقه چه هغه ښائسته وی تردے
يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ
چه ورسیږی ځوانئ خپلے ته او پوره کوئ پیمانه او تول (وزن) په انصاف سره،
لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا
تکلیف نهٔ ورکوو مونږ هیڅ نفس ته مګر په اندازه د وَس د هغے، او کله چه
قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ؕ
خبره کوئ تاسو نو انصاف کوئ اګرکه هغه خپلوان وی، او په لوظ د الله پوره والے کوئ
ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۲﴾
دا مضبوط حکم کوی الله تاسو ته پدے سره، دے دپاره چه تاسو نصیحت واخلئ۔

تفسير: پدے آیتِ کریمه کښ نور څلور محرمات یا وصیتونه ذکر شویدی:

۱- د یتیم په مال کښ ناجائز تصرف کول: د یتیم نګران او ذمه وار ته دا حکم شویدے چه د هغه د مال حفاظت اُوکړی، او د تجارت په ذریعه په هغے کښ د زیاتوالی کوشش اُوکړی، او کله چه بالغ شی نو د هغه مال هغه ته حواله کړی۔

حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ: دا د پټ (وَاحْفَظُوْا) پورے متعلق دے یعنی ددے مال حفاظت کوئ۔ دا ورسره ځکه وائی چه کله یتیم بالغ شی، نو بیا ترے ځوك مال نشی خوړلے ځکه طاقتور شی، او دا مطلب نهٔ دے چه تر بلوغ پورے د یتیم مال ته مهٔ نزدے کیږئ او روستو ورته نزدے کیدے شئ۔ او عربو به د یتیمانو مالونه خوړل او اُوس هم ډیر خلك دا کار کوی چه یتیمانانو ته میراثونه نهٔ ورکوی۔

۲- په ناپ تول کښ کمے کول: الله تعالیٰ په سورة مطففین کښ فرمایلی دی: ﴿وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ﴾ ((تول کښ کمی کونکو دپاره ویل (یعنی هلاکت او بربادی ده))۔

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا: ځوك به وائی چه دا احکام خو به ډیر ګران وی نو الله پدے باندے د عمل کولو دپاره ترغیب ورکوی چه دا آسان احکام دی او د هر شخص د طاقت نه زیات او بهر نهٔ دی۔

یا دا ددے نزدے سره متعلق دے او معنیٰ دا ده چه که یو شخص د حق په ادا کولو او خپل حق اخستو کښې د عدل او انصاف پوره کوشش وکړی او د هغې نه روستو هم د هغه نه کومه غلطی په ناپوهئ سره وشی نو الله تعالیٰ به هغه نهٔ راګیروی۔ (السعدی)

۳– په وینا او حکم کښې زیاتی یا نقصان: ډیر انسانان په خبرو او فیصلو کښې د عدل نه کار نهٔ اخلی بلکه د خپلولئ، قبیلے او د ژبے او یارانے او دوستانے رعایت کوی، او مذاهبو والا د خپل مذهب رعایت کوی چه په ټولو مسئلو کښې ترجیح خپل مذهب ته ورکوی حال دا چه مذهب ئے کمزورے وی، دا ډیر زیاتے دے او لوی لوی ملیان دا کار کوی۔ او د اهل الحدیث والسنة دے بی عدلئ ته ضرورت نهٔ راځی بلکه هغه کتاب او سنت ته ترجیح ورکوی که د هر مذهب والا سره وی۔

او مخکښې په سورة النساء آیت (۱۳۵) کښې فرمایلی دی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ﴾ چه (اے ایمان والو! په عدل او انصاف باندے کلك اُوسیدونکی او د الله د خوشحالولو دپاره رشتینی ګواهی ورکونکی جوړ شئ اګرکه هغه ستاسو په خلاف وی یا د خپل مور او پلار یا خپلوانو)۔

٤– لوظ او عهد ماتول: د عهد الله نه مراد ټول اوامر او نواهی دی، ځکه چه څوك ایمان راوړی هغه د الله سره پدے کښې لوظ وکړو، او دارنګه برابره ده که دغه لوظونه د الله سره وی یا د یو انسان سره۔

وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ج وَلَا تَتَّبِعُوا
او بیشکه دا (قرآن) لاره زما ده نیغه نو تابعداری کوئ ددے او تابعداری مهٔ کوئ
السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ط ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ
د نورو لارو پس ګډوډ به کړی تاسو د لارے د الله نه، دا مضبوط حکم کوی الله تاسو ته
بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۵۳﴾
پدے سره، دے دپاره چه تاسو وویریږئ (د الله نه)۔

تفسیر: پدے آیت کښې لسم حکم دے یعنی امر په قرآن او منع د بدعاتو نه۔ او هغه دا چه د اسلام نه سوی نورو دینونو او مذاهبو او افکارو او نظریاتو اتباع ونکړئ۔

وَاَنَّ : ددې عامل پټ دې أَیْ وَأَمَرَكُمْ۔ او الله تعالیٰ تاسو ته حکم کړیدې چه دا زما لاره ده۔
هٰذَا: اشاره قرآن او اسلام دواړو ته ده چه مطلب ئې یو راوځي۔
صِرَاطِیْ : یعنی دا ما ته رارسیدونکې لاره ده، او رب ته رسیدل پوره کامیابی ده، او د هغې نه بغیر کامیابی نشته نو اتباع د قرآن او اسلام فرض شوه۔

امام احمدؒ او حاکمؒ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ زمونږ مخې ته یوه کرخه راخکله او وې وئیل چه دا د الله لاره ده، بیا ئې د هغې ښي او ګس طرف ته لکیرخې راخکلې او وې فرمایل چه ددې لارونه په هره لاره یو شیطان ولاړ دې چه پدې باندې تلونکي ته دعوت ورکوي، بیا ئې دا آیت اُولوستو : ﴿ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا ﴾ الآية۔ (احمد : ٤١٤٢) وابن ماجه (رقم : ١١) مستدرك (٢٩٣٨) بسند صحيح)

او جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمائي : مونږ د نبی کریم ﷺ سره ناست وو نو هغه یوه لکیرخه راخکله او دوه لکیرخې ئې د هغې ښي طرفته او دوه لکیرخې ئې د هغې ګس طرفته راخکلې بیا ئې په مینځنئ لکیرخه لاس کیخودو او وې فرمایل : همدا د الله لاره ده، بیا ئې دا آیت ولوستلو ﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ﴾ ۔ دې حدیث کښې یوه اشاره دا ده چه حق یو دې او هغه سیده الله ته رسیدلې دې او ښي او ګس طرفونو ته چه کومې لارې کږې شویدي هغه ټولې باطلې لارې دي۔ او پدې کښې (والله اعلم) مذاهب اربعه ؤ ته هم اشاره کیدې شي کله چه خلك پدې کښې تعصب کوي، نو دا هم الله تعالیٰ ته رسیدلې لارې نشي کیدې۔

(دا روایت ابن ماجه او مسند احمدؒ وغیره راوړیدې او پدې کښې مجالد بن سعیدؒ راوی باندې کلام دې۔ عامو علماؤ ورته ضعیف وئیلې دې او امام نسائيؒ ورته یو کرته ضعیف او بل کرته ثقه وئیلې دې۔ او ابن عديؒ وائي : کله چه هغه شعبيؒ عن جابر ووائي نو بیا ئې روایت صحیح دې، او دلته ئې د شعبي عن جابر نه نقل کړیدې۔ (سیر اعلام النبلاء ٢٨٦/٦ والتهذیبین) پدې وجه شیخ البانيؒ ورته صحیح وئیلې دې۔ (صحیح ظلال الجنة رقم ١٦ وصحیح سنن ابن ماجه رقم : ١١)

حافظ ابن کثیر او قاسمی رحمهما الله وائي چه پدې آیت کښې د اسلام دپاره ئې لفظ د سبیل مفرد راوړیدې۔ او د نورو مذاهبو او فرقو دپاره ئې ((سبل)) جمع راوړې ده، ځکه چه حق یو دې او تقلیدي مذاهب او د عقیدو فرقې ګڼړې او قسماقسم دي۔

د سبل مصداقات

ابن عطیہؒ او بغویؒ وائی چه د سُبُل لفظ یهودیت، نصرانیت، مجوسیت او نورو تمامو ملتونو، بدعتونو او گمراهیانو ته شامل دے کوم چه اهل الاهواء او خواهشاتو والا پیدا کړیدی۔ دغه شان د علم کلام هغه تمامے فرقے پدے کښې داخلیږی چه خامخا په تفصیلاتو کښې داخلیږی۔ قتادهؒ وائی چه پو هه شه چه لاره صرف یوه ده، او د هدایت والو جماعت او د هغوی انجام جنت دے، او ابلیس مختلفې لارے پیدا کړیدی، چه د گمراهیو جماعتونه دی او د هغوی انجام جهنم دے۔

عبد الله بن عباس ﷺ د السبل نه مراد (الضلالات) ټولے گمراهیانے او د کتاب او سنت نه اوړیدلے لارے مراد کړیدی۔ (فتح القدیر)

د بدعاتو تردید د مشکاة باب الاعتصام والسنة او کتاب السنة د لالکائیؒ او الابانة د ابو الحسن الاشعریؒ کښې او کتاب البدع والنهی عنها د ابی وضاح القرطبیؒ کښې وګورئ۔

حسان بن عطیہؒ وائی : [مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِيْ دِيْنِهِمْ اِلَّا نَزَعَ اللّٰهُ مِنْ سُنَّتِهِمْ مِثْلَهَا ثُمَّ لَايُعِيْدُهَا اِلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ] (الدارمی رقم : ۹۸ باسناد صحیح – حسین سلیم)۔

یو قوم چه په دین کښې بدعت پیدا کړی الله تعالیٰ د هغوی نه د هغے په شان سنت طریقے وباسی بیا ورته د قیامت د ورځے پورے نۀ راواپس کوی۔ دا د بدعت سپیرهٔ والے دے۔

د عبد الله بن مسعود ﷺ او حسن بصریؒ او ایوب سختیانیؒ نه نقل دی : (بالفاظ متقاربة) : [مَا ازْدَادَ الْمُبْتَدِعُ اجْتِهَادًا اِلَّا ازْدَادَ مِنَ اللّٰهِ بُعْدًا]

بدعتی چه څومره په بدعت کښې کوشش کوی هغومره به د الله نه وړاندے کیږی۔ (ځکه لاره ئے غلطه اختیار کړیده) (البدع واسرها السیء فی الامة ص : ۳۹)

او دا آیت ټولو عقیدوی او عملی بدعاتو ته شاملیږی۔

دا آیت دلیل دے چه د امت مسلمه اتحاد صرف په یو صورت کښې موجودیدے شی چه هغوی ټولے فرقے او مذهبونه پریدی، او صرف د صحیح اسلام متبعین جوړ شی، چه هغه صرف د قرآن او سنت نوم دے۔ ددے نه بغیر د مسلمانانو متحد کیدل محال دی، لکه چه د امام مالك رحمة الله علیه وینا ده چه دا امت په هره زمانه کښې هم په هغه لاره باندے روانیدو سره اصلاح والا کیدے شی کومه چه صحابه کرامؓ خپله کړے وه او اصلاح والا گرځیدلی وو۔

او دا آیت دلیل دے چه څوك د محمد رسول الله ﷺ نه بغیر د بل چا پسے ځان وتړی نو خامخا به د رسول الله ﷺ د لارے نه خرابیږی۔

فائده: د تقلید لاره خامخا د محمد رسول الله ﷺ د اتباع نه د اوریدو لاره ده که څوك پو هیږی او که نهٔ. په السبل کښ د صوفیاؤ، مقلدینو، متکلمینو، خوارجو، معتزله، روافض، بریلویه، دیوبندیه ټول داخلیږی، څوك د رسول الله ﷺ د لارے نه لرِ او څوك ډیر اوریدلی دی، والعیاذ بالله۔

صاحب المنار وائی: تفرق په دین کښ دا دے چه خلك د دین نه ډیر مذهبونه جوړ کړی او ددے دپاره ډله بازی شروع کړی چه د خپلے ډلے دپاره تعصب کوی او ددے مخالف ته د خطائی نسبت کوی، او ددے مخالفینو ته د جهالت او ګمراهئ او کفر او بدعت نسبتونه کوی، او دا سبب ګرځی د دین د ضائع کیدو ځکه چه پدے طریقے سره طلب د حق پاتے کیږی ځکه چه هره ډله د خپل مذهب تائید کوی، او دا ممکن نهٔ ده چه د الله د طرفنه حق په یو معیّن عالِم باندے بند شی یا د هغه په تابعدارو باندے، بلکه هر بحث کونکے عالم خطاء کیدے هم شی او حق ته هم رسیدے شی۔ او دا خبره یقینی ده په عقل او نقل او اجماع سره ثابته ده۔ لیکن ټول متعصبین د مذاهبو ددے مخالف دی او څوك چه داسے وی نو هغه به د الله د لارے تابعدار نهٔ وی کوم چه یو حق دے۔ الی آخر ما قال (المنار)۔

په تیر شوی درے آیتونو کښ چه کوم لس محرمات ذکر شویدی، په حقیقت کښ دا د اسلام لس وصیتونه دی، چه په دے باندے د اسلام دارومدار دے، او چه پدے باندے عمل کولو سره انسان د دنیا او آخرت سعادت حاصلولے شی، پدے وجه عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ به وئیل چه څوك د رسول الله ﷺ هغه وصیت لیدل غواړی په کوم باندے چه د هغه مهر لګیدلے دے، نو دا درے آیتونه دِے ولولی: ﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا﴾ نه تر ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ پورے۔ (قاسمیؒ)

لطیفة:

اول ئے (تَعْقِلُوْنَ) بیا ئے (تَذَكَّرُوْن) بیا ئے (تَتَّقُوْنَ) ذکر کړو، پدے کښ نکته دا ده چه انسان اول فکر کوی بیا نصیحت اخلی او خبره رایادوی او چه کله خبره رایاده کړی نو د محارمو نه ځان ساتی۔ (قاسمیؒ)

ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ
بیا (دا هم واورهٔ چه) ورکړے وو مونږ موسیٰ (علیہ السلام) ته کتاب

تَمَامًا عَلَى الَّذِیٓ أَحۡسَنَ وَتَفۡصِيلًا لِّكُلِّ شَیۡءٍ
دپاره د پوره کولو (د نعمت) په هغه چا چه نیکی ئے کړے وه او تفصیل د هرے خبرے (د دین)
وَّهُدًى وَّرَحۡمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٥٤﴾
او هدایت وو او رحمت وو دے دپاره چه دوی په ملاقات د رب خپل ایمان ولری۔

تفسیر : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د تورات او د موسیٰ علیه السلام صفت کوی ددے دوه مناسبته دی یو د مخکښې سره لګی چه دا احکام په ټولو ادیانو کښې راغلی دی لکه دا احکام په تورات کښې هم موجود وو۔ ابن کثیرؒ وائی چه کله الله د قرآن تذکره کوی نو تورات هم ذکر کوی۔ دویم د روستو سره لګی چه روستو د قرآن صفت کوی نو اول د تورات تذکره کوی چه دا ناشنا مهٔ ګنړئ چه الله څنګه قرآن راولیږلو؟ نهٔ بلکه الله دغه شان کتابونه رالیږی۔

او دا دلیل نقلی دے د موسیٰ علیه السلام نه په دغه اوامرو او نواهیو۔

ثُمَّ : دا د ترتیب ذکری دپاره دے۔ یعنی اے زما نبی ! ته د تلاوت په ذریعه د خپل رب دا خبره هم دوی ته ووایه چه مونږ موسیٰ علیه السلام ته یو کتاب ورکړے وو چه په هغے سره مونږ خپل نعمت په هغه باندے تمام کړے وو، او چه په هغے کښې د بنی اسرائیلو دپاره د عقائدو او عباداتو او نورو تمامو خاصو او عامو احکامو تفصیل موجود وو چه هغه د هدایت ذریعه او د رحمت باعث وو، او د عدل او انصاف دعوت ئے ورکولو۔

تَمَامًا : أَیْ نِعۡمَةً تَامَّةً۔ دا پوره نعمت وو۔ یا تَمَامًا لِلنِّعۡمَةِ عَلٰی مُوسٰی۔ دپاره د پوره کولو د نعمت په هغه شخص چه نیکی ئے کړیده چه هغه موسیٰ علیه السلام دے۔ یا تَامًّا کَامِلًا یعنی پوره تمام کتاب وو۔

الَّذِیٓ اَحۡسَنَ : ددے درے تفسیره دی : ۱– موسیٰ علیه السلام مُحسِن انسان وو۔ نو پدے کښې اشاره ده چه که تاسو کښې احسان پیدا شی نو ددے کتاب په شان نعمت به درنصیب کړی۔

۲– **الَّذِیٓ اَحۡسَنَ** : أَیِ الَّذِیٓ أَحۡسَنَ مِنۡهُمۡ۔ نو (الذی) نه مراد ځینی بنی اسرائیل دی چه په هغوی کښې د احسان ماده وه۔ په هغوی ډیر احسانات شوی وو، یو په هغے کښې تورات وو۔ (سعدیؒ)

۳– یا الذی نه مراد طریقه ده أَیۡ تَمَامًا لِلۡأَحۡكَامِ عَلَى النَّهۡجِ الَّذِیٓ أَحۡسَنَ۔ یعنی پوره کتاب

وو د احکامو دپاره په هغه طریقه چه ښائسته ده. یعنی په ښائسته طریقه په کښې احکام بیان شوي وو لکه څنګه چه په قرآن کښې بیان شویدي. اوله معنیٰ زیاته ظاهره ده.

لِّكُلِّ شَيْءٍ : یعنی ضروری شیان.

لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ : بیا د الله کتاب او آخرت جمع کوی اشاره ده چه د الله کتاب سره تعلق ساتل په آخرت باندے د ایمان د مضبوطوالی سبب دے.

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ
او دا کتاب دے چه نازل کړیدے مونږ، برکت والا دے، نو تابعداری وکړئ ددۀ
وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾
او وېرېږئ دے دپاره چه په تاسو رحم وکړے شي.

تفسیر : پدے کښې قرآن کریم ته ترغیب او معرضینو ته رټنه ذکر کوی. او اشاره ده دے خبرے ته چه اګرکه په تورات کښې هغه صفات وو کوم چه مخکښې ذکر شو، لیکن قرآن د هغے نه زیات جلیل القدر، عظیم المرتبة او د دنیاوی او اُخروی منافعو په اعتبار سره زیات برکت والا کتاب دے، پدے وجه اے مسلمانانو! اُوس ددے اتباع کوئ او ددے د مخالفت نه ځان اُوساتئ!. او روستو آیت کښې وائي چه د آخرت ورځ راروانه ده جلتئ وکړئ پدے کتاب منګولے ولګوئ.

فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا : اتباع دا ده چه پدے عمل وکړئ، او تقویٰ دا ده چه ددے د حرامو نه ځان وساتئ. یا وَاتَّقُوا مُخَالَفَتَهٗ. یعنی ددے د مخالفت نه ځان وساتئ.

أَن تَقُولُوٓا إِنَّمَآ أُنزِلَ الْكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا ص
(دے دپاره چه) ونۀ وایئ چه بیشکه نازل کړے شوے وو کتاب په دوه ډلو مخکښې زمونږ نه
وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا
او یقیناً وو مونږ د لوستلو د هغوی نه ناخبره. یا ونۀ وایئ چه که نازل شوے وے په مونږ باندے
الْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ج فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ
کتاب خامخا وے به مونږ ډیر هدایت والا د دوی نه، نو یقیناً راغلو تاسو ته ښکاره بیان

مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَهُدًى وَّرَحۡمَةٌ ۚ فَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ
د طرف د رب ستاسو نه او هدايت او رحمت پس څوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه
كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنۡهَا ؕ سَنَجۡزِی
چه دروغژن گنړی آيتونه د الله او مخ اړوی د هغے نه، زر دے چه بدله به ورکړو مونږ
الَّذِيۡنَ يَصۡدِفُوۡنَ عَنۡ اٰيٰتِنَا سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ بِمَا كَانُوۡا يَصۡدِفُوۡنَ ﴿۱۵۷﴾
هغه کسانو ته چه اوړی د آيتونو زمونږ نه بد عذاب په سبب د هغے چه دوی اوړی۔

تفسير: پدے آيت کښ د قرآن کريم د راليږلو مقصد بيانوی چه دا الله ددے دپاره راليږلے دے چه د بندگانو عذرونه زائل کړی نو پدے آيتونو کښ مقصد الزام د خصم او قطع د حجت د مخالفينو ده۔

اَنۡ تَقُوۡلُوۡٓا : دا متعلق دے د پټ (اَنۡزَلۡنَاهُ) سره يعنی مونږ دا قرآن نازل کړو او د (اَنۡ تَقُوۡلُوۡا) نه مخکښ (لَا) يا (كَرَاهِيَةَ) لفظ پټ دے يعنی چه ونۀ وايئ۔

مطلب دا دے چه الله تعالیٰ په نبی کريم ﷺ باندے قرآن نازل کړو، او خلقو ته ئے ددے د رسولو حکم وکړو دے دپاره چه د عربو کافران د قيامت په ورځ ونۀ وائی چه د الله کتاب خو په يهود او نصاراؤ نازل شوے وو، (که الله دوی ته ووائی چه د يهودو نصاراؤ نه به مو زدۀ کړے وے) نو دوی به وائی چه مونږ د هغے نه خبر هم نۀ وو چه پدے دواړو کتابونو کښ څه دی؟ ځکه چه هغه د هغوی په ژبو کښ وو، او بله دا چه د يهودو او نصاراؤ دا عادت وو چه هغوی به عربو ته د تورات او انجيل دعوت نۀ ورکولو۔ نو دوی به وائی چه مونږ د هغوی د درسونو نه غافله وو۔

يا دا ونۀ وائی چه که په مونږ باندے د الله کتاب نازل شوے وے نو مونږ به ددے يهود او نصاراؤ نه زيات هدايت موندونکی وے۔ لکه دا قسم عذر د دوی په سورة الاعرف آيت (۱۷۲) کښ هم راځی۔ الله تعالیٰ وفرمايل چه اُوس ستاسو عذر ختم شو او دے رسول دا کتاب راوړو چه د الله ښکاره نخه او د هدايت چينه او سراسر رحمت دے۔

لَكُنَّآ اَهۡدٰى : دوی ځان ته ډير هدايت والا پدے وجه ووئيل چه ځانونه ډير عقلمند، تيز ذهنونو والا او فکر والا گنړی۔ ليکن د دوی دا بهانه هم دروغژنه شوه لکه سورة الفاطر (۴۲) کښ راغلی دی ﴿فَلَمَّا جَآءَهُمۡ نَذِيۡرٌ مَّا زَادَهُمۡ اِلَّا نُفُوۡرًا﴾ هرکله چه راغلو دوی ته يره

ورکونکے، زیات نهٔ کړو هغه دوی لره مګر نفرت۔

بَيِّنَةٌ : دا د قرآن نوم دے یعنی واضح کتاب او واضح بیان۔ چه تَوَهُّم د سحر پکښې نهٔ کیږی، یا ښکاره حجت۔ (القاسمیؒ)

وَهُدًى : بِاِقَامَةِ الدَّلَائِلِ وَرَفْعِ الشُّبَهِ۔ هدایت دے چه دلائل ذکر کوی او شبهات ختموی۔ (قاسمیؒ)

وَّرَحْمَةٌ : قرآن ځکه رحمت دے چه پدے سره د الله رضا حاصلیږی، جنت حاصلیږی، د زړونو د خوشحالئ ذریعه ده، د مرضونو د شفاء چینه ده، اشرف الکمالات ته بندګان رسوی نو ځکه پدے رحمت باندے خوشحالی پکار ده۔

وَصَدَفَ عَنْهَا: أَیْ أَعْرَضَ غَیْرَ مُتَفَکِّرٍ فِیْهَا ۔ یعنی مخ اړوی چه پدے کښې هیڅ فکر نکوی۔

صدف لازم او متعدی دواړه راځی لیکن ابن کثیرؒ دلته متعدی معنیٰ غوره کړیده یعنی خلك اړوی ددے نه۔ صاحب المنارؒ وائی چه لازم او متعدی دواړه معنے دلته صحیح دی ځکه چه په کُبراء د قریشو وغیره ؤ کښې دواړه کارونه موجود وو۔ چه خلك به ئے د قرآن د آوریدو نه منع کول او رسول الله ﷺ به ئے د تبلیغ د رسالت نه منع کولو او خپله به هم د هغے نه منع کیدل۔ نو د لازم او متعدی ترمینځ دلته تلازم دے ځکه چه څوك بل د قرآن نه منع کوی نو خپله به ترے په طریق اولیٰ مخ اړوی۔ (المنار)

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ
انتظار نهٔ کوی دوی مګر ددے چه راشی دوی ته ملائك یا راشی رب ستا یا راشی بعض
اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ
نخے (د عذاب) د رب ستا، په هغه ورځ چه راشی بعض نخے د عذاب د رب ستا فائده به نهٔ ورکوی
نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ
هیڅ نفس ته ایمان راوړل د هغے چه نهٔ ئے وی راوړے ایمان مخکښې ددے نه یا ئے نهٔ وی کړے
فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾
په حال د ایمان خپل نیکی، تهٔ ووایه ! انتظار کوئ یقیناً مونږه انتظار کونکی یو۔

تفسير : اُوس تـخـويف بيـانـوی چـه دوی ايمان نهٔ راوړی نو د څه خبرے په انتظار کښ دی؟ هـلـه به دوی ايمان راوړی چه الله ورله عذاب ورکړی او کله چه عذاب راشی بيا به دوی ايـمـان راوړی لیـکـن هـغـه به فائده ورنکړی، ځکه ايمان بالمشا هده فائده نهٔ ورکوی بلکه راشئ ايمان بالغيب راوړئ۔

ربط :

مـخکښ الله تعالیٰ د دين اسلام د راتللو نه روستو په خپل وحدانيت او د شرك په بطلان او د نبی کـريـم ﷺ پـه رشتينوالی باندے حجت قائم کړو۔ دلائل ئے راوليږل، او آيتونه ئے نـازل کـړل، ددے بـاوجود د بتانو عبادت کونکی که د دين اسلام او د خاتم النبيين مخالفت کـوی نـو آيـا اُوس ددے انـتـظـار کـوی چه مـلائك د دوی روحـونه قبض کړی، يا الله تعالیٰ قيـامـت راولـی او د دوی د ختـمـولـو دپاره د دوی مـخے تـه راشـی، يـا د قيامت بعض نخے رابـسکاره شی، هغه نخے چه د هغے د رابـسکاره کيدو نه روستو به د توبی دروازه بنده شی او هيڅ ايمان او عمل به په کار نهٔ راځی۔

تـاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ : د الله د عـذابـونـو دغـه درے طـريقے دی يا ئے خپله ورکوی يا ملائك راليږی يا مرگ راځی۔

الـمـلائـکـة : يـعـنی ملائك د دوی د روحونو اخستو دپاره راشی، يا د عذاب استيصالی ملائك راشي چه بيخ ورله وباسی، او دا آخری عذاب د پخوانو امتونو دپاره وو۔ (المنار)

اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ : د الله اتيـان (راتـلل) د متشابهاتو نه دی چه لفظی معنیٰ ئے معلومه ده او کيفيت ئے الله ته معلوم دے۔ عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی : چه دا اتيان به په قيامت کښ وی۔ او ځينی وائی چه دا اتيان عبارت دے د هغه وعدو د مدد نه چه الله نبی کريم ﷺ سره کـړے وے او د هـغـه دشـمـنـانو سره ئے د دنياوی عذاب وعدے کړے وے لکه د يهوديانو بنو نضيرو په باره کښ ئے وئيلی دی : ﴿ فَأَتَاهُمُ اللهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ﴾ (الحشر : ۲) (المنار) (الله راغلو دوی ته د هغه ځای نه چه د دوی گمان هم نهٔ وو)

ليکن دا تاويل به هله کول صحيح وی چه د الله اتيان منی۔

او نـور تـاويـلـی تفسيرونو ته ضرورت نشته لکه چه د اتيان نه مراد امر او عذاب د هغه مراد اخلی، يا ټول آيتونه د رب مراد اخلی۔

د بعضو نخو راتللو مصداقات

۱- کله دنیاوی استیصالی عذاب راشي، او په هغې کښې د مرګ زیات خطر وي چه انسان په ځان پوهه شي چه زهٔ مرم.

۲- طُلُوْعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا ـ لکه امام بخاری رحمة الله علیه ددې آیت په تفسیر کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : «ترڅو پورې چه نمر د مغرب د طرف نه راونهٔ خیژي قیامت به نهٔ راځي، کله چه خلق دا ووینې نو ټول زمکې والا به ایمان راوړي، او دا به هغه وخت وي چه یو داسې سړی ته به ایمان راوړل فائده نهٔ ورکوي چه مخکښې نه مؤمن نهٔ وي»۔

۳/٤- مسلمؒ او ترمذيؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : «درې خیزونه چه کله راښکاره شي نو د هیچا ایمان به فائده مند نهٔ وي چه مخکښې ئې ایمان نهٔ وي راوړې، د مغرب نه د نمر راختل، دجال او د زمکې حیوان (دابة الارض) »۔ (صحیح مسلم : ٤١٧)

صاحب المنارؒ وائي چه پدې باندې اشکال دا دې چه په نورو صحیح احادیثو کښې دا راغلي دي چه کله عیسیٰ علیه السلام راشي نو ټول خلك به ایمان راوړي۔ نو پدې حدیث کښې کیدې شي په اعتبار د معنیٰ سره تبدیلي شوې وي، او دا روایت بالمعنیٰ وي اګرکه سند ئې صحیح دې۔ (المنار۸/۱۸٦) صحیح دا ده چه عیسیٰ علیه السلام باندې چه خلك ایمان راوړي نو هغه ټول نهٔ دي بلکه څه به د دجال ملګري کیږي، په عیسیٰ علیه السلام به ظاهراً ایمان راوړي د یرې نه۔

۵- یا وخت د زنکدن دې چه ساه مرئ ته راورسي یعني وخت د غرغرې۔

لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ : یعنی که کوم کافر د مغرب د طرف نه د نمر راختلو نه مخکښې ایمان نهٔ وي راوړې نو د هغې نه روستو به ایمان د هغه دپاره فائده مند نهٔ وي، او که مؤمن د هغې نه مخکښې نیك عمل نهٔ وي کړې نو ددې نه روستو به نیك عمل هغه ته فائده نهٔ ورکوي۔

نو د (اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا) : تقدیر د عبارت به داسې شي : [وَلَا يَنْفَعُ نَفْسًا كَسْبُهَا الْخَيْرَ لَمْ تَكُنْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا] ـ یعني یو سړې مؤمن دې خو نیك عمل ئې نهٔ دې کړې نو ددې علاماتو د راښکاره کیدو نه روستو نیك عمل شروع کوي نو دا نیك عمل به

ورته فائده ورنکړي ځکه دا ایمان بالمشاهده شو نهٔ ایمان بالغیب۔ او دا ایمان اضطراري شو نهٔ اختیاري۔ د دواړو مطلب به دا راوځي چه یو کافر نوے مسلمانیږي یا یو فاسق بزرګ کیږي نو دے له به اعتبار نهٔ وي۔ او دا مطلب امام ابن جریر طبريؒ او حافظ ابن کثیرؒ ذکر کړیدے۔

۲- دویم مطلب چه علامه صدیق حسن خان القنوجيؒ ذکر کړیدے او هغه د اهل سنتو مذهب هم دے چه ایمان د درے خیزونو نه مرکب دے، تصدیق بالجنان، (په زړه باندے تصدیق او یقین) عمل بالارکان، (په اندامونو باندے عمل) اقرار باللسان، (په ژبه باندے اقرار کول) نو دلته الله دوه حالته بیانوي چه د یو تن بیخي تصدیق قلبي نشته او اُوس تصدیق جوړوي نو دا هم نهٔ قبلیږي، یا د یو سړي تصدیق قلبي وو لیکن عملونه ئے نهٔ وو نو دغه ایمان ئے هم الله ته قبول نهٔ دے ځکه چه ایمان بلا عمل الله ته نهٔ قبلیږي کله چه ټول عملونه نهٔ کوي ځکه چه ددے اهل سنتو په نیز تارك د ټولو اعمال کافر دے لکه ددے دلائل په خپل ځای کښ بیانیږي۔ نو معنیٰ به دا وي: لَمۡ تَكُنۡ آمَنَتۡ مِنۡ قَبۡلُ: یعنی مخکښ نه ئے تصدیق نهٔ وو اُوس تصدیق قلبي پیدا کوي، نو دے له به اعتبار نهٔ وي۔

اَوۡ كَسَبَتۡ فِيۤ اِيۡمَانِهَا خَيۡرًا: یا کوي په زوړ ایمان کښ نیك عمل لره چه مخکښ ئے نیك عمل نهٔ وو نو دا ایمان ئے هم الله ته قبول نهٔ دے۔ پدے اُوسنی عمل باندے ددهٔ مخکنے ایمان نهٔ قبلیږي۔

او د بعض اهل سنتو مذهب دا دے چه که د یو تن مخکښ ایمان (یعنی تصدیق قلبي وي) لیکن عمل نهٔ کوي نو بیا هم ورته ایمان فائده ورکوي لیکن ناقصه فائده۔ نو دلته به معنیٰ دا وي چه کامله فائده به ورنکړي یو نفس ته ایمان د هغه کله چه هغه په دغه ایمان کښ عمل نهٔ وي کړے۔ او کامله فائده دا ده چه په غیر د عذاب نه جنت ته داخل شي۔ والصحیح ما قاله القنوجيؒ۔

مسلمؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: ((څوك چه د مغرب د طرف نه د نمر راختلو نه مخکښ توبه وباسي، الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوي))۔ (صحیح مسلم: ٤٦٣٥)

قُلِ انۡتَظِرُوۤا: پدے کښ کافرانو ته سخته دهمکي ده، چه جلتي وکړئ سوچ وکړئ او خپل عملونه برابر کړئ ګنے د الله عذابونه درباندے راروان دي۔ نو پدے د همکئ سره دوي خپله ایمان ته مجبوره کیږي۔ او پدے آیت کښ سخت وعید دے هغه خلقو ته چه

ایمان او توبه هغه وخت ته روستو کوی چه ایمان او توبه به ورته فائده نهٔ ورکوی، او هغه به د مغرب نه د نمر راختلو وخت وی۔

اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ
یقیناً هغه کسان چه ټکړے کړے ئے دے دین خپل او شویدی ډلے مختلفے، نهٔ ئے ته
مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ط اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ
د دوی نه په هیڅ کښ، یقیناً کار د دوی سپارلے شویدے الله ته
ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾
بیا به خبر ورکړی دوی ته په سبب د هغے چه دوی ئے کوی۔

تفسیر : پدے آیت کښ تخویف دے یهودو او نصاراؤ او هر هغه چا ته چه د الله او د رسول الله ﷺ د لارے نه اوړی او مختلفے ډلے جوړیږی۔

ربط : د مشرکانو د حال بیانیدو نه روستو اُوس د اهل کتابو حال بیانیږی۔

اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا : دا څوك دی ؟ نو اول دا مشرکان او یهود او نصاریٰ دی۔ مشرکانو د ابراهیم علیه السلام دین تس نس کړو او جدا دین ئے جوړ کړو۔ او دغه شان یهود او نصاراؤ د انبیاؤ علیهم السلام صحیح لارے پریخودے او خپل بدعات ئے ایجاد کړل۔ لکه د هغوی تفریق په سورة البینه (۳) آیت او سورة النساء (۱۵۰) آیت کښ ذکر دے۔

بعضو وئیلی دی چه دا آیت تمامو کافرانو او هر هغه شخص ته شامل دے چه په دین کښ یوه نوے خبره ایجاد کړی چه د هغے حکم الله تعالیٰ نهٔ وی کړے۔

امام شوکانیؒ لیکی چه صحیح همدا ده چه پدے حکم کښ اهل کتاب او د مشرکانو تمامے ډلے او د مسلمانانو هغه ټول جماعتونه داخل دی چه هغوی په اسلام کښ بدعتونه ایجاد کړی او په مختلفو فرقو او جماعتونو کښ تقسیم شول۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه پدے آیت کښ هر هغه شخص داخل دے چه هغه د الله دین پریخودو او د هغه مخالفت ئے وکړو، دا دین یو دے، پدے کښ هیڅ اختلاف او افتراق نشته، کومو خلقو چه اختلاف پیدا کړے او په مختلفو فِرقو کښ تقسیم شو لکه چه مبتدعین او ګمراه ډلو وکړل، الله خپل رسول د هغوی نه بری ګرځولے دے۔

ابوداودؒ د معاویه رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((ا هل کتاب په دوو

اویا (۷۲) فرقو کښې تقسیم شوی وو، او دا امت به په درې اویا (۷۳) فرقو کښې تقسیمیږی، د دوه اویا (۷۲) ځای به جهنم وی او د یو ځای به جنت وی، او هغه به جماعت وی».او ترمذیؒ د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما نه روایت کړیدې چه خلقو تپوس وکړو، یارسول الله ! هغه به څوك وی؟ نبی ﷺ وفرمایل : [مَا أَنَا عَلَیْهِ وَأَصْحَابِیْ] (کوم خلق چه په هغه لاره وی چه په هغې باندې زهٔ او زما صحابه دی). (ترمذی : ۲٦٤١ بسند حسن- البانی) نو دې روایت د مخکښې «جماعت» تشریح وکړه.

لَسْتَ مِنْهُمْ فِیْ شَیْءٍ : ددې جملې دوه فائدې دی. (۱) اَیْ مِنْ عِقَابِهِمْ ـ یعنی دوی ته سزا مهٔ ورکوه بلکه ما ته ئې پریده. (۲) زیات ظاهر دا دې چه أَنْتَ بَرِیْءٌ مِنْهُمْ وَهُمْ بُرَءَاءُ مِنْكَ. یعنی تهٔ د دوی نه بری او بیزاره ئې او دوی ستا نه بیزاره دی، او رسول الله ﷺ چه د چا نه بیزاره شو هغه تباه شونو دا لوی وعید دې دغه خلکو ته چه رسول الله ﷺ به د دوی نه بیزاری کوی. (بغویؒ)

(۳) یا دا چه ستا نه به د دوی په باره کښې تپوس نشی کیدې. (احسن الکلام)

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ج
چا چه راتلل وکړل په نیك عمل سره نو وی به هغه له لس چنده ثواب د هغې
وَمَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ فَلَا یُجْزٰٓی اِلَّا مِثْلَهَا
او چا چه راتلل وکړل په بدئ نو بدله به نشی ورکیدې هغه ته مګر په مثل د هغې
وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۱٦۰﴾
او دوی باندې به ظلم نشی کیدې.

تفسیر : ربط او مناسبت

۱– مخکښې د اعمالو د خبر ورکولو بیان وشو اُوس د هغې تفصیل بیانوی چه پدې طریقه به الله خبر ورکوی.

۲– په تیر شوی آیت کښې د الله تعالیٰ د اوامرو مخالفت کونکو ته دهمکی ورکړې شویده، پدې وجه اُوس د الله اطاعت کونکو دپاره لوئی اجر بیانیږی، او دا اجر به دوی ته د قیامت په ورځ ملاویږی. او دلته کم نه کم اجر مراد دې، ځکه چه په احادیثو کښې د بعض

اعمالو اجر اويا چنده او د بعضو اُوه سوه چنده او بعض بے حسابه خودلے شويدے۔

امام احمدؒ او مسلمؒ د ابوذر ؓ نه روايت كريدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل ((الله تعالىٰ وائى چه څوك نيكى وكړى نو هغه ته به لس چنده يا زيات اجر ملاويږى او څوك چه بدى وكړى، نو هغه ته به همغه ملاويږى يا به ئے زهٔ معاف كوم، او څوك چه ما ته يو لويشت رانزدے كيږى نو زهٔ به هغه ته د دوه لاسونو د اُوږد والى برابر نزدے كيږم، او څوك چه ما ته پيدل راروان وى نو زهٔ به هغه طرف ته په منډه راځم))۔ الحديث۔ (مسلم: ٧٠١٠)

او په يو روايت كښې دى: چه د نيكئ په اراده باندے هم اجر ملاويږى۔ (بخارى: ٦٤٩١) (مسلم: ٣٥٤)

مَنْ جَآءَ: لفظ د جَاءَ كښې اشاره ده چه نيكى كول آسان دى، دا هر څوك كولے شى اګر كه منافق هم وى ليكن د نيكئ آخرت ته وړل (او هغه محفوظ ساتل تر مرګه پورے) ډير ګران كار دے۔ او ډير كرته انسان نيك عمل وكړى نو د غيبت او بهتان په وجه ئے ترے بل تن واخلى، يا د نيك عمل پسے روستو بد عمل وكړى لكه كفر او ارتداد۔ يا نيكؔ عمل وكړى ليكن رياء او سمعت پكښې وكړى نو برباد شى۔

فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا : او په حديث كښې دى [أَوْ يَغْفِرُهَا] يا به ئے الله معاف كړى، نو پدے وجه رسول الله ﷺ وريسے وفرمايل : [وَلَا يَهْلِكُ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا هَالِكٌ] اُوس چه څوك هلاك كيږى نو هغه به لوى بد بخته وى۔ ځكه چه د نيكئ بدله په لس چنده ده او د ګناه په يو چند او بيا هم د بنده ګناه د نيكئ نه زياتيږى نو دا په رشتيا هلاك دے۔ (البخارى ومسلم: ٣٥٦) باب اذا هم العبد بحسنة، رقم الباب (٦١) والنسائى) ابن كثيرؒ)

قُلْ اِنَّنِىْ هَدٰىنِىْ رَبِّىْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ
تهٔ ووايه يقيناً هدايت كړے ما ته رب زما لارے نيغے ته چه دين پوخ دے، ملت
اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٦١﴾
د ابراهيم (عليه السلام) دے چه كلك وو په توحيد او نهٔ وو د مشركانو نه۔
قُلْ اِنَّ صَلَاتِىْ وَنُسُكِىْ وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِىْ
تهٔ ووايه ! يقيناً مونځ زما او قربانى (عبادت مالى) زما او ژوند زما او مرګ زما

لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ج
خاص الله تعالىٰ لره دے چه پالونكے د مخلوقاتو دے۔ نشته هيڅ شريك هغه له
وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾
او پدے سره حكم شويدے ما ته او زهٔ اول يم د منونكو نه۔

تفسير: په آخره كښې د رسول الله ﷺ بيان دے او دا ددے سورت د مضمون سره انتهائى مناسب دے او دا هم طريقے د دعوت دى چه نبى ﷺ د خپل عقيدے اظهار هغوى ته وكړى۔

او دا جواب د سوال دے چه د نبى ﷺ كوم دين دے چه مونږ په هغے روان شو؟ او خلك د كوم دين نه واوړيدل چه هلاك شول؟ نو اُوس د هغهٔ د صحيح دين بيان كوى چه صراط مستقيم دے، په ملت ابراهيمى روان دے، او په دين كښې ئے هيڅ قسم شرك نشته او هر بدنى او مالى عبادت، او ژوند او مرگ ئے د الله دپاره دے۔ دا حق دين دے چه چا اختيار كړو كامياب دے۔

بل دا آيتونه په جواب د دعوت د مشركانو كښې راغلى دى چه هغوى ووئيل: راشه زمونږ د آلهو يو كال عبادت وكړه۔ نو د هغے جواب دا دے چه الله ما ته نيغه لاره راخودلے ده نو زهٔ څنگه شرك وكړم، توحيد پريدم او په كږو وږو روان شم۔

دارنگه پدے آيتِ كريمه كښې د مكے مشركانو او د يهودو او نصاراؤ رد شويدے چه هغوى پدے باطل گمان كښې پراتهٔ وو چه دوى په دين ابراهيمى باندے قائم دى۔ الله تعالىٰ رسول الله ﷺ ته حكم وكړو چه تهٔ دوى ته ووايه چه ستاسو دعوىٰ غلطه ده، دين د ابراهيم عليه السلام خو دين اسلام دے چه الله د خپلو مخلصو بندگانو دپاره خوښ كړيدے، او په كوم باندے چه زهٔ ولاړ يم۔

امام احمدؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ نه تپوس وشو: (اَیُّ الْاَدْيَانِ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ ؟ قَالَ: الْحَنِيْفِيَّةُ السَّمْحَةُ) چه كوم دين د الله په نيز زيات خوښ دے؟ نو نبى ﷺ وفرمايل: دين حنيفى چه په هغے كښې تنگى نشته۔ (يعنى دين اسلام)۔
(احمد ٢١٠٧) بسند صحيح لغيره)

امام احمدؒ د عائشه رضى الله عنها نه يو حديث روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ زما

زنه په خپلو دواړو اوګو باندې کیخوده دې دپاره چه زهٔ د حبشو لوبې ته وګورم، تردې چه زهٔ ستړې کیدو سره واپس شوم. عائشه رضی الله عنها ووئیل، رسول الله ﷺ په هغه ورځ وفرمایل : [لِتَعْلَمَ يَهُوْدُ اَنَّ فِيْ دِيْنِنَا فُسْحَةً اِنِّيْ اُرْسِلْتُ بِحَنِيْفِيَّةٍ سَمْحَةٍ] ((یهودیان دِې پوهه شي چه زمونږ په دین کښې فراخي ده، زهٔ په دین حنیفي رالیږلې شوې یم چه په هغې کښې فراخي ده))۔ (احمد : ٢٤٨٩٩) حدیث قوی وهذا سند حسن)

دِيْنًا : دا بدل دې د محل د صراط مستقیم نه. یا (اِتَّبِعْتُ) فعل پټ دې یعني زهٔ تابع یم د داسې دین الخ۔

قِيَمًا : ١- یعني مُسْتَقِيْمًا ثَابِتًا ۔ یعني نیغ دین چه افراط او تفریط پکښې نهٔ وي. او مضبوط دین. ٢- هُوَ الدِّيْنُ الَّذِيْ يَصْلُحُ وَيَقُوْمُ بِهِ اَمْرُ النَّاسِ فِي الْمَعَاشِ وَالْمَعَادِ ۔ دا هغه دین دې چه پدې باندې د خلکو کار په ژوند او آخرت کښې برابریږي. (المنار)

مِّلَّةَ : اَيْ اَعْنِيْ مِلَّةَ ۔ یعني زهٔ قصد کوم ملت. یا اِلْزَمُوْا ۔ (لازم ونیسئ ملت ابراهیمي)۔

حَنِيْفًا : چه مائل دې د ټولو شرکیاتو او باطل، او کږلیچ او ګمراهئ نه او کلک ولاړ دې په دین توحید باندې۔

قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ : دا تشریح ده د ملت ابراهیمي. نو مخکښې آیت کښې د دین بنیادي عقیدوي خبرې ته اشاره ده، او پدې آیت کښې بعض عملي جزئیات ذکر شویدي. (المنار)

او نبي کریم ﷺ ته حکم شویدې چه هغه مشرکانو ته ووائي کوم چه د غیر الله عبادت کوي او د غیرو په نوم ذبح کوي چه زهٔ ستاسو په تمامو شرکي خبرو کښې ستاسو مخالف یم، او زما مونځ، زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ ټول د رب العالمین دپاره خاص دي۔

صَلَاتِيْ: عبادت بدني۔

وَنُسُكِيْ : ١-عبادت مالي، ٢- یا نسك جمع د نَسِيْكَةٌ ده، ذبحې ته وائي. (مجاهدؒ، ضحاكؒ، وسعید بن جبیرؒ) ٣- نسك : كُلُّ مَا يُتَقَرَّبُ بِهٖ اِلَى اللّٰهِ ۔ هر عبادت چه په هغې سره الله ته نزدیکت کیږي. ٤- یا ددې نه ټول اعمال د بِرّ او طاعات دي. (قرطبيؒ) او دا دوه عبادتونه ئې خاص ذکر کړل ځکه چه دا اشرف او افضل دي، او دا دواړه د الله په محبت او اخلاص او تقرب باندې دلالت کوي. او څوك چه پدې دواړو کښې اخلاص وکړي نو هغه به په باقي اعمالو کښې هم اخلاص کوي. (السعديؒ)

او یا پدې وجه چه دا هغه لوی عبادتونه دي چه شرك پدې کښې ډیر شویدې. (المنار)

او رازيؒ دا مطلب کمزورې اخستې دې چه [صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ بِقَدَرِ اللّٰهِ وَقَضَائِهٖ] زما مونځ

او قربانی د الله په تقدیر ده او د الله مخلوق ده. ځکه چه دا خو په ټولو عباداتو کښې ده او پدے کښې خو مشرك او موحد ټول برابر دی. بیا خصوصیت څه شو. (المنار)

وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ : دا دواړه مصدر میمی دی. په معنیٰ د حیات او موت سره. أَيْ مَا آتِيهِ فِيْ حَيَاتِيْ وَمَا يُجْرِيهِ اللّٰهُ عَلَيَّ، وَمَا يُقَدِّرُ عَلَيَّ فِيْ مَمَاتِيْ (السعدی).

یعنی کوم کارونو ته چه زهٔ په ژوند کښې راتلل کوم او په ما باندے چه الله کوم کارونه په وخت د مرګ کښې راولی دا ټول به د الله دپاره وی. ۲- یا هغه عملونه چه زهٔ ئے په ژوند کښې کوم او هغه چه زهٔ په هغے باندے پس د وفات نه وصیت کوم. (قرطبیؒ)

۳- یا هغه کارونه چه زهٔ ئے په ژوند کښې کوم او هغه ایمان او عمل صالح چه زهٔ پرے مرم (کشاف) ٤- یا هغه عملونه چه زما دپاره صدقه جاریه ګرځی لکه نیك کارونه او تصانیف چه خلك ترے فائده اخلی. نو دا آیت جامع شو ټول اعمالو صالحهٔ لره چه هغه د مؤمن غرض دے د ژوند نه او ذخیره وی د هغه د مرګ دپاره دا ټول به د الله دپاره کوی. (المنار)

صاحب المنارؒ وائی : ددے مطلب دا دے چه ما خپل مخ متوجه کړیدے او نیت مے رابند کړیدے او عزم مے مضبوط کړیدے په ټول ژوند کښې د الله د طاعت او د هغه رضا دپاره. او دا ژوند به زهٔ خرچ کوم د الله په لاره کښې تردے چه په ما مرګ راشی د الله د رضا دپاره.

یعنی الله دپاره به ژوند تیروم او د الله دپاره به مرم. نو هرکله چه مؤمن ددے خبرے یاد دهانی وکړی چه زما ژوند او مرګ د الله دپاره دے، نو په ټولو اعمالو کښې خیر تلاش کوی او د ځان دپاره پکښې کمال لټوی او کوشش کوی چه ددهٔ مرګ پداسے حال کښې راشی چه الله ترے راضی وی نو دا په ژوند باندے په ذاتی طور سره حرص نکوی او د مرګ نه یره نکوی چه یره ئے د جهاد فی سبیل الله نه منع کړی کوم چه د اِحقاق د حق او د ابطال د باطل او اقامت د عدل او ظالمانو د مخنیوی او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دپاره کیږی. (المنار).

وَبِذٰلِكَ : یعنی په دغه اخلاص.

وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ : یعنی زهٔ ددے امت اولنے مسلمان یم.

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ط وَلَا تَكْسِبُ
ته ووایه ! آیا سویٰ د الله نه طلب کړم رب لره او هغه رب د هر شی دے، او نهٔ کوی

كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ
هیڅ نفس مګر وبال به ئے په هغه وی او نۀ پورته کوی پورته کونکے (ګنهګار)
وِّزْرَ اُخْرٰى ج ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ
بوج د بل چا، بیا رب ستاسو ته واپس کیدل ستاسو دی نو خبر به درکړی
بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٦٤﴾
په هغې چه تاسو په هغې کښې اختلاف کولو۔

تفسیر : مخکښې د توحید الوهیت بیان وشو اُوس توحید ربوبیت بیانیږی چه د الوهیت دلیل دے۔ او مشرکانو نبی کریم ﷺ ته د خپلو بتانو د عبادت دعوت ورکړو نو الله تعالیٰ هغه ته وفرمایل چه تۀ دوی ته ووایه چه آیا زۀ د الله نه سویٰ بل کوم رب ونیسم چه هغه د الله په عبادت کښې شریك کړم، زۀ د الله نه سویٰ نۀ په بل چا توکل کوم او نۀ بل چا طرف ته رجوع کوم، ځکه چه الله د هر شی خالق او مالك دے، د هغه په لاس کښې هر څه دی۔

وَلَاتَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ : دا جواب د سوال دے چه هغوی ووئیل چه آزار او ګناه دِے ئے زمونږ په غاړه وی خو ته د جوړ جاړی دپاره زمونږ سره شرك وکړه۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی: ولید بن مغیره وویل : [اِتَّبِعُوْا سَبِيْلِىْ اَحْمِلْ عَنْكُمْ اَوْزَارَكُمْ] (بغوی)

زما خبره ومنئ زۀ به ستاسو نه بوجونه پورته کړم۔ نو جواب وشو چه د هر عمل جزا او سزا به کونکی ته ورکړے کیږی او په بل چا باندے د هغه بوج نشی اچولے۔ نو که ما شرك وکړو نو تاسو ما د الله نه نشئ خلاصولے۔

یا بغیر د سوال وجواب نه هم صحیح دے۔ او دا یوه قاعده او شرعی قانون دے چه د هر کسب کونکی جزا او سزا به د هغه په سر راځی یعنی که زۀ شرك وکړم نو په قیامت کښې به هر انسان ته جزا او سزا ملاویږی نو الله به ما ته د هغې سزا راکوی، نۀ تاسو ته، نو ولے داسے عمل وکړم چه صبا ما ته په هغې سزا راکړے کیږی۔ ځکه چه دا بل قانون دے چه (وَلَا تَزِرُ) یعنی یو تن د بل چا د ګناه بوج نشی پورته کولے۔ بلکه هر سړے به د خپل ځان په غم اخته وی۔ او دا جزا او سزا به کوم ځای ملاویږی؟ نو فرمائی چه دا به هله ملاویږی چه بنده خپل رب ته په قیامت کښې واپس شی، هغه به بندګانو ته د اعمالو بدلے ورکوی،

او هیڅ یو سړے به د بل چا په کار نهٔ راځي. او پدے قانون کښې رد د شرك هم دے چه مشرکان پدے وجه د معبودانو عبادت کوی چه دوی دا ګمان لری چه دوی به په قیامت کښې د دوی نه بوجونه د ګناهونو پورته کوی یا به ئے په الله باندے معاف کوی. (المنار)

وَهُوَ الَّذِىْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ
او الله هغه ذات دے چه ګرځولی ئے یئ تاسو نائبان د زمکے او پورته کړی ئے دی
بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ
بعض ستاسو دپاسه د بعضو په درجو (د علم او مال کښې) دے دپاره چه امتحان وکړی په تاسو
فِىْ مَآ اٰتٰـكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ
په هغے کښې چه درکړی ئے دی تاسو ته، یقیناً رب ستا زر عذاب ورکونکے دے
وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾
او یقیناً هغه خامخا بخونکے رحم کونکے دے.

تفسیر: په آخری آیت کښې بَيَانُ اِبْتِلَاءِ اللهِ عَلَى الْخَلْقِ دے. یعنی الله تعالیٰ دا انسانان د امتحان دپاره پیدا کړیدی، او پدے خبر کښې ډیرے فائدے دی، یو دا چه کله انسان پدے پوهه شی چه زهٔ د امتحان دپاره پیدا یم نو بیا په ژوند کښې ډیر احتیاط کوی. او کله چه ناخبره وی نو هغه کښې تکبر او فساد راځي.

او په اوله حصه د آیت کښې رد دے په مشرکانو چه دوی ته الله تعالیٰ د علاقے مشری ورکړه او د مالونو او رزقونو فراخی ئے پرے راوسته، نو دوی په تکبر کښې راغلل او ګمان ئے راغے چه دنیا زمونږ جاګیر دے، او همیشه به دا مزے کوو لکه اکثرو حُکامو ته چه کله حکومت ملاؤ شی دا ګمان کوی چه بس دا بادشاهی زما ده او زما به وی او د مخکنو نه عبرت نهٔ اخلی نو الله دا ذهن سازی کوی چه اے انسانه! تهٔ به پدے زمکه کښې همیشه نهٔ یې یو وخت پوزے راغلے ئے د امتحان دپاره.

وَهُوَ الَّذِىْ: او دا جمله ئے په ماقبل عطف کړه ځکه چه دا هم د توحید د سیاق سره مناسبه ده ځکه چه پدے کښې د مشرکانو د خرافاتو رد دے.

.. الله تعالیٰ انسانانو لره زمکے ته رالیږلی دے دپاره چه دوی د یو بل نه روستو آباد کړی او

یـو مړ شي نو بل د هغه وارث شي، او کله چه هغه مري نو د هغه اولاد د هغه وارثان کړي.
معلومه شوه چه انسانانو لره همیشوالے نشته نو فکر وکړه، فناء دربانديے راروانه ده.
وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ : او د دوی ترمینځ ئے د مراتبو فرق کړے، او یو له ئے په بل باندے په مختلفو اعتبارونو سره فوقیت ورکړے، دا درجات عام دی په ارزاقو، اخلاقو، محاسن، مساوی، مناظر، اشکال، الوانو، او قوت او عافیت، مالداری، او غریبی، جهل او علم، عقل او حُمق (کم عقلتیا) او عزت او ذلت کښې فرق دے. (بغوی، ابن کثیر، قرطبی، المنار)
نو پدے کښې دا مقصد نهٔ دے چه انسان به تکبر کوی بلکه دا ددے دپاره چه په دوی امتحان وکړی، چه بندګانو کښې څوك د الله بندګی کوی او د هغه سره شرك نهٔ کوی او څوك د هغه مخالفت کوی او د هغه سره شرك کوی. نو پدے کښې بندګانو ته دعوت دے چه راشئ د الله صحیح بندګی وکړئ.
اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ : پدے کښې مخالفت کونکو ته یره ورکول او خپل بندګی کونکو ته ترغیب دے یعنی بیشکه ستا رب ډیر جلت سزا ورکونکے دے هغه خلقو ته چه د هغه نافرمانی او د هغه د رسول مخالفت کوی، او څوك چه د هغه او د هغه د رسول اطاعت کوی نو د هغه مغفرت کوی او په هغه باندے رحم کوی. اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنَا يَا رَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاَدْخِلْنَا دَارَكَ دَارَ النَّعِيْمِ بِأَمْنٍ وَسُكُوْنٍ، آمین.


امتیازات او خصوصیات د سورت

١- پدے کښې د شرك د ټولو انواعو رد دے.
٢- شپږ عقبات پکښې خصوصی ذکر دی.
٣- د جهل العرب تذکره پکښې خصوصی ده.
٤- لس احکام د حکمة پکښې ذکر دی.
(٥) او د الله تعالیٰ د معرفت عجیب تفصیل پکښې ذکر دے.
٦- محاجة المشرکین. (د مشرکانو سره بحث او مناظره) پکښې ذکر ده.
(٧) انواع (اقسام) د مشرکینو.
(٨) توحید العبادة ته هدایت وئیلے شویدے.
(٩) په فِرقو باندے رد.

(۱۰) د عذاب قبر او د حساب اثبات په مثال سره شویدے۔
(۱۱) حشر الحیوانات۔ (د حیواناتو آخرت ته راجمع کیدل)
(۱۲) د الله تعالیٰ علم محیط او په دنیا او آخرت کښې د هغه د قدرت تامه بیان په ﴿ وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ﴾ کښې شویدے۔
(۱۳) د (وَلِيًّا، حَكَمًا، رَبًّا) تذکره پکښې ناشنا شویده۔
(۱٤) د نمر د مغرب نه د راختو او د دابة الارض تذکره۔
(۱۵) د رسول الله ﷺ براءت د هغه چا نه چه د هغه د سنتو خلاف کوی۔ او دغسے نور۔

ختم شو تفسیر د سورة الانعام

په خصوصی رحم او کرم د رب العالمین سره، ولله الحمد والمنة وله الثناء الحسن وسبحانك اللهم وبحمدك لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك وصلى الله عليه وسلم على نبينا محمد ﷺ وعلى اله وصحبه اجمعين۔
د رمضان د څلیریشتم روژه ماتی نه روستو۔
المرقوم: ساعت: ۳۹ : ۸ تاریخ: ۱٤۳۵ هجری رمضان۔
الموافق ۲۲/۷/۲۰۱٤ء لیلة الاربعاء۔
اسریت – کالام روډ سوات۔ بید الفقیر ابی زهیر سیف الله عفی عنه۔
قال الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله: زهٔ د تصحیح نه فارغ شوم په یوم الاحد صفر (۷) ۱٤۳٦ هـ، په دمام سعودی عرب کښې عند هجرتی هناك۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

آياتها (٢٠٦)	(٧) سورة الاعراف مكية (٣٩)	ركوعاتها (٢٤)

تفسير سورة الاعراف

نوم : ددے سورت همدا يو نوم دے او بعض وائى چه دے ته (المص) هم وائى، اعراف ورته ځكه وائى چه پدے كښې د اعراف والو ناشنا واقعه ذكر ده، نو پدے نوم سره هغه دعوت ته متوجه كول مقصد دے چه د هغے تفصيل روستو راځى.

فضيلت :

عائشه رضى الله عنها د نبى كريم ﷺ ارشاد نقل كوى :

[مَنْ اَخَذَ السَّبْعَ الْأُوَّلَ مِنَ الْقُرْآنِ فَهُوَ حَبْرٌ]

دا سورت په هغه سَبع طِوَال (اُوه اوږدو) سورتونو كښې داخل دے، څوك ئے چه ياد كړى نو په علماؤ كښې شمارلے كيږى.

(احمد : ٢٤٥٧٥ و ٢٤٤٨٧) واسناده حسن، والحاكم ١/٥٦٤) وقيام الليل لابن نصر ص (٦٩) ومشكل الآثار للطحاوى (٢/١٥٣/١٥٤) والصحيحة (٥/٣٨٥)

د نزول زمانه: د اتو آيتونو نه سِوىٰ ټول سورت مكى دے. هغه اته آيتونه د ﴿وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ﴾ نه تر ﴿وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ﴾ پورے دى. (بغوىؒ)

ابوداوُدؒ او نسائىؒ روايت كړيدے چه نبى كريم ﷺ به دا سورت د ماښام په دوه ركعتونو كښې لوستلو.

مناسبت

١- مخكښې سورت كښې د شرك فى التحليل والتحريم رد وشو نو پدے سورت كښې يوه بله نوع د دغه شرك ده چه هغه په بربنډه طواف كول او د بعض حلالو څيزونو حرامول دى د حج په ورځو كښې.

٢- مخكښې سورت كښې د الله تعالىٰ تعارف بيان شو نو دلته حكم كوى په اتباع د مَا

اُنْزِلَ۔ یعنی هرکله چه الله دِے وپیژندو نو اُوس به د هغه د کتاب او وحی تابعداری کوئ۔
۳- مخکښ سورت کښ عقلی دلیلونه زیات وو په مسئله د توحید باندے او پدے سورت کښ نقلی دلیلونه زیات دی۔
٤- زمونږ شیخ محترم (رستمیؒ) فرمائی : مخکښ سورت کښ اثبات د توحید وشو په تفصیل سره نو پدے سورت کښ د منکرینو احوال ذکر کوی په دولس نمونو د عذاب سره چه هغه اُوه تیر شوی قومونه دی او بل ابلیس او هغه قوم چه په خپلو اصنامو (بتانو) باندے منجوران شوی وو او د سخی عبادت کونکی او د قول شرعی بدلونکی او سبت (خالی) والا او (وَالَّذِیْ آتَیْنَاهُ آیٰتِنَا) (یعنی هغه ملا چه آیتونه ورکړے شوی وو، بیا هغه گمراه شو) په ټولو باندے مختلف عذابونه راغلی وو۔ (احسن الکلام)

مقصد او موضوع د سورت :

پدے سورت کښ غټ درے مقاصد دی چه د یو بل مُمِدّ (مدد کونکی) او تاکید دے۔
(۱) اَلْاِنْذَارُ۔ بندګانو ته د انکار او تکذیب نه یره ورکول چه د پخوانو قومونو په شان عذابونه به درباندے راشی۔ (۲) وَالتَّذْکِیْرُ۔ مؤمنانو ته نصیحت او ترغیب ورکول چه تاسو ته به نجات ملاویږی لکه پخوانو مؤمنانو ته چه ملاؤ شوے وو۔
(۳) مقصودی موضوع پکښ دعوت دے اتباع د مَا اُنْزِلَ ته۔ یعنی تاسو ته چه د کتاب او سنت په شکل کښ کومه وحی راغی ددے مطابق ژوند تیر کړئ۔ او چا چه د مَا اُنْزِلَ تابعداری نهٔ ده کړے نو د هغوی قباحتونه او پریشانیانی بیانوی لکه ابلیس ونکړه نو تباه شو، فرعونیانو، عادیانو، ثمودیانو، قوم لوط او قوم شعیب ونکړه نو هلاك شو۔ بنی اسرائیلو اول کښ تابعداری وکړه لیکن روستو ئے مخالفت شروع کړو نو الله تعالی هغوی هم ذلیله کړل۔ یو مُلا ته الله آیتونه ورکړی وو نو هغه دنیا غوره کړه او هغه ئے پریخودل نو الله د شیطان تابع کړو۔
پدے وجه پدے سورت کښ به (کَذَّبُوْا بِآیٰتِنَا) (وَكَانُوْا عَنْهَا غَافِلِیْنَ) الفاظ زیات راځی۔ نو د الله د آیتونو فضائل او د هغے نه د اعراض بیان به ډیر کوی او ورسره په هغے باندے شکر کول به بیانوی۔ او دا درے واړه موضوعات په دویم او دریم آیت کښ راغلی دی۔

خلاصه :

د سورت په اول کښې ترغیب دے قرآن کریم ته بیا دغه دوه موضوعات بیا په دریم آیت کښې اتباع د مَا اُنْزِلَ، بیا په (٤) کښې تخویف چه دا هغه انذار دے، بیا د قیامت تخویف چه د وحي په باره کښې به د رسولانو او قومونو نه تپوس کیږي، او د اعمالو وزن بیانوي چه په اتباع د ما اُنزل سره به حساب کیږي۔ بیا د چا وزن چه سپک شو نو هلاك شو او په (١٠) آیت کښې شکر طرفته ترغیب دے چه ددے نعمتونو په مقابله کښې د الله وحي نۀ منل ناشکري ده، بیا ئے واقعه د آدم علیه السلام راوړے ده د ډیرو مقاصدو دپاره یو مقصد پکښې اتباع د مَا اُنزِلَ ته دعوت دے، د واقعے نه روستو په هغے باندے په درے ځل (يَا بَنِيْ آدَمَ) سره څلور تفریعات کوي او بل په (قُلْ مَنْ حَرَّمَ) سره کوي، بیا تخویف او بشارت دے په (٣٥) آیت کښې۔ بیا ئے د آخرت سخت تخویفات او حالات تر (٥٤) (إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ) پورے بیان کړیدي۔

بیا په یو رکوع کښې الله خپل تعارف کړیدے چه د هغے مناسبت به هلته راځي ان شاء الله تعالیٰ۔ د هغے نه روستو واقعات الانبیاء (نقلي دلیلونه) ئے پدے خبرو باندے پیش کړیدي چه د هغے فوائد به په خپل خپل مقام راځي تر نهمے سیپارے پورے، بیا د هغے نه روستو ئے پدے واقعاتو باندے تعقیب کړیدے او د هغے نه روستو ئے تفصیلي واقعه د موسیٰ علیه السلام بیان کړیده بیا ئے په هغے باندے تفریعات کړیدي بیا ئے په آخري رکوعاتو کښې رد د شرك ذکر کړیدے بیا په آخر د سورت کښې د تبلیغ او دعوت لس طریقے او آداب خودلي دي۔ دا وو ددے سورت اجمال۔

الٓمّٓصٓ ﴿١﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ
الله پوهه دے په معنیٰ ددے حروفو، دا کتاب دے نازل کړے شویدے تا ته
فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ
نو نۀ دي وي په سینه ستا کښې تنګسیا ددے نه، دے دپاره چه یره ورکړے پدے سره
وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢﴾
او یاداشت دے دپاره د ایمان والو۔

تفسیر : الٓمّٓصٓ : د حروف مقطعاتو تفصیل مخکښې تیر شویدے، دلته ورسره (ص) زیات شو اشاره ده چه پدے سورت کښې به رازونه زیات وي او اشاره ده ډیرو قصو ته۔

او پدے کښې مجازي معنیٰ عبد الله بن عباس رضی الله عنه او سعید بن جبیر رحمه الله داسے کړیده چه [أَنَا اللّٰهُ،

أَعْلَمُ وَأُفَصِّلُ] زهٔ الله يم، عالِم يم، او تفصيل درته كوم) (ابن جريرؒ وابن كثيرؒ والبغويؒ)
صاحب المنارؒ فرمائي : په اُوږدو سورتونو كښ حروف مقطعات راغلي دي ځكه چه دا سورتونه به په مكه كښ په مشركانو او په مدينه كښ په اهل كتابو لوستلے كيدل نو پدے حروفو كښ اشاره وه اثبات د نبوت او كتاب ته.
او پدے حروفو كښ اشارات دي مُعيّنو معنو ته چه بعضو خلكو ته ښكاره كيږي نهٔ بعضو ته، يا غير مُعيّنو معنو ته چه په هغے كښ د خلكو ذهنونه مختلف طرفونو ته لاړ شي او د هغے نه علم او عبرت حاصل كړي خو پدے شرط چه د قرآن د هدايت سره به متفق وي، پدے وجه بعض سلفو مفسرينو دا حروف د الله نو مونو ته اشاره گڼلے ده، يا د كلام جملے ئے جوړے كړيدي، محمد بن كعب القرظيؒ وائي : الف، الله او ميم الرحمن او صاد صمد ته اشاره ده. (ابن ابی حاتمؒ وابو الشيخؒ)
ابوالشيخ د ضحاكؒ نه نقل كړيدي چه دا اشاره ده (أَنَا اللّٰهُ الصَّادِقُ) ته يعني زهٔ الله يم چه رشتيني بيان كوم. يا دا نومونه د سورتونو دي. (المنار)
او ابن رَوْقؒ او قُطربؒ وائي چه كافرانو به وئيل چه دے قرآن ته غوږ مهٔ ايږدئ او پدے كښ شور كوئ نو الله اراده وكړه چه د دوی اصلاح وشي او قرآن ته غوږ كيږدي نو د سورتونو په اول كښ ئے داسے ناشنا الفاظ راوړل دے دپاره چه كفار ورته په تعجب كښ پريوځي او دا سبب جوړ شي د غوږ كيخودو نو بيا به پرے نور قرآن ولوستلے شي)
(تفسير الرازی والمنار)
مطلب د آيت : نبي كريم ﷺ ته وئيلے كيږي چه دا كتاب ستا د رب د طرف نه نازل شويدے، پدے وجه ته پدے يره زړهٔ مهٔ تنگوه چه دا مشركان تا دروغژن گڼړي، ستا خبره نهٔ مني، او تا ته تكليف دررسوي. تهٔ د صبر او استقامت نه كار واخله، الله په هر حال كښ ستا حمايت كونكے او مرسته كونكے دے.
كِتٰبٌ : دا خبر د مبتدا دے (هُوَ، يا هٰذَا) او كتابٌ ئے نكره راوړه اشاره ده تعظيم او تفخيم ته.
اُنْزِلَ : دا ئے مجهول راوړه، اشاره ده ادعاء د ظهور د فاعل ته. يعني نازلونكے ئے هر چا ته معلوميدل پكار دي ځكه چه دا بل څوك نشي نازلولے سوئ د الله نه.
اُنْزِلَ اِلَيْكَ : دا صفت د كتاب دے او پدے كښ تعظيم او قدر د قرآن او د رسول ته اشاره ده. (المنار)
فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ : ١–أَيْ مِنْ اِبْلَاغِهٖ. يعني ددے د بيانولو او تبليغ نه

سینه مهٔ تنګوه چه دا خو ګران کار دے او پدے کښې به د خلکو مخالفتونه مخے ته راځي۔
۲- أَيْ عَنْ عَدَمِ إِيْمَانِهِمْ۔ یعنې که دا کافران پرے ایمان نهٔ راوړی نو زړه ورته مهٔ تنګوه۔
۳- حرج په معنیٰ د شك سره دے۔ (ابن عباسؓ ومجاهدؒ وقتادهؒ)
یعنې ستا په زړهٔ کښې دِے دا شبهه او شك تیر نشي چه قرآن د الله کلام دے، بلکه یقین کوه چه دا د الله کلام دے۔ (الدر المنثور وابن کثیر)
فائده۱ : حافظ ابن القیمؒ په بدائع التفسیر او الصواعق المرسله کښې ډیر مزیدار کلام لیکلے دے چه څوك د الله کتاب (وحی) نهٔ مني نو ددهٔ سینه تنګه ده، څوك چه د الله وحی مني او بیا وائي چه پدے کښې پوره احکام نشته نو ددهٔ سینه هم تنګه ده، څوك چه دا وائي چه د قرآن ظاهر مخالف دے د صریح معقول (عقل) نه نو ددهٔ سینه ډیره تنګه ده ځکه چه د سړی چه څومره عقل زیاتیږی نو د قرآن نه ئے د سینے تنګوالے وړاندے کیږی۔
څوك چه وائي قرآن الله په خپل رسول نازل کړیدے لیکن دا اقرار نهٔ کوی چه دا د الله کلام دے چه پدے باندے ئے تکلم کړیدے بلکه دا ئے مخلوق ګڼړلے دے نو ددهٔ په سینه کښې هم تنګوالے دے، او څوك چه وائي چه په معانیو ئے تکلم کړیدے نهٔ په الفاظو، ددهٔ هم ددے مناسب سینه تنګه ده، او څوك چه دا ګمان لری چه قرآن په معرفة د حق کښې کافي نهٔ دے بلکه بندګان ددے سره معقولاتو او آراؤ او قیاسونو او منطقي قواعدو او عقلي مباحثو ته محتاج دی نو ددهٔ په سینه کښې د تولو نه زیات حرج دے۔
او څوك چه وائي چه قرآن کښې بعض هغه خبرے دی چه د صریح عقل خلاف دی، ددهٔ سینه خو ډیره تنګه ده، څوك چه عقیده لری چه د قرآن آیتونو نه علم او یقین نهٔ حاصلیږی نو ددهٔ سینه ډیره تنګه ده،
څوك چه وائي چه قرآني خطاب جمهوری دے چه عوامو ته د فائده منو څیزونو خیال وراچوی او ددے په نفس الامر کښې هیڅ حقیقت نشته نو ددهٔ په سینه کښې د تولو نه لوی حرج دے۔ څوك چه دا وائي چه پدے کښې د الله اسماء او صفات (کوم چه اُوچت او اشرف توحید دے) تول مجازات او استعارات او تشبیهات دی او حقائق ئے نهٔ دی مراد (یعنې پدے کښې تحریفات او تاویلات کوی) نو ددهٔ په سینه کښې لوی حرج دے۔
دارنګه څوك چه قرآن پریدی او پدے باندے بل کتاب دپاسه کوی نو ددهٔ سینه تنګه ده او دا ګمان لری چه په قرآن کښې پوره هدایت نشته۔ نو ددے تولو خلکو په سینو کښې د قرآن نه حرج او شك موجود دے او د دوی په حق کښې نهٔ هدایت دے، نهٔ شفاء او نهٔ رحمت

دے او نۀ دوی لره کافی کتاب دے، دا ددوی په خپل ځان ګواهی ده۔ نو مسلمان به قرآن ته سینه فراخه کوی او دا به وائی چه پدے کښې هر شے او هر خیر شته او ټول هدایت دے، دارنګه د بیان او د تبلیغ نه به ئے هم سینه نۀ تنګوی۔ (الصواعق المرسلة ١٥١٩/٤)

فائده۲ : امام راغبؒ وائی : دا جمله یا دعاء ده (یعنی ستا سینه دِے الله تنګه نکړی) یا نهی ده (یعنی خپله سینه پدے سره مۀ تنګوه) او دا ئے پدے وجه وئیلے ده چه دا مقام ډیر لوی دے نو دا ګمان کیدے شو چه د رسول الله ﷺ په سینه کښې تنګی پیدا شی ځکه چه د قرآن نازلیدل څه وړه خبره نۀ ده او دا ذمه واری سرته رسول ډیر مشکل کار دے مګر که الله د بنده سره تائید او مدد ملګرے کړی، رسول الله ﷺ باندے به په سخته یخه ورځ کښې وحی نازلیدله نو هغه به خُوَله شو، د الله کلام ته کوم زړه ټینګیدے شی کله چه د الله تعاون او مدد ورسره نۀ وی۔ (نقله فی المنار)

لِتُنْذِرَ بِهٖ : انذار معنیٰ مخکښې تیره شویده اَلْإِعْلَامُ مَعَ التَّخْوِیْف ۔ یعنی خلکو ته داسے خبر ورکړه چه د هغے سره یره ملګرے وی یعنی خلکو ته ووایه چه که دا کتاب نۀ منئ نو داسے عذاب به درباندے راشی لکه په عادیانو او ثمودیانو چه راغلے دے۔

وَذِكْرٰى : ۱- د مؤمنانو دپاره یاداشت شی ځکه چه هغوی به خبره رایاده کړی چه پخوانو مؤمنانو طاعت کړے وو نو الله ورله ښه انجام ورکړو نو مونږ له به ئے هم راکړی۔

۲- پخوانی قومونه د مخالفت کولو سره هلاك شو که مونږ ئے وکړو دغه شان به هلاك شو۔ نو مؤمن به د مؤمنانو او د کفارو دواړو د حال نه فائده اخلی۔

راغبؒ وائی : ذكرىٰ زیات ذکر (یادولو) ته وائی نو دا د ذکر نه اَبلغ (ډیر کامل) لفظ دے۔

اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَیْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ
تابعداری وکړئ د هغه څه چه نازل کړے شویدی تاسو ته د طرف د رب ستاسو نه
وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِیَآءَ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾
او تابعداری مۀ کوئ سویٰ د هغه نه د نورو دوستانو، لږ شان نصیحت اخلئ تاسو۔

تفسیر : پدے آیت کښې د قرآن د راليږلو حکمة بيانيږی۔ او دا د انذار یو صورت دے۔ الله تعالیٰ ټول عالَم ته خطاب کوی فرمائی : اے خلقو ! تاسو د هغه شی تابعداری وکړئ چه ستاسو د رب د طرف نه ستاسو دپاره نازل شویدے، او هغه قرآن او سنت دے، (کما قال

القرطبیؒ والشوکانیؒ) لکه چه الله تعالیٰ په سورة النجم آیت (۴/۳) کښې فرمایلي دي :
﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُوْحٰى﴾ یعنی نبی کریم ﷺ د خپل نفس د خواهش مطابق خبرې نهٔ کوی بلکه دا خو وحی ده چه په دهٔ نازلیږی).

وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ : اَلَّذِيْنَ يَدْعُوْنَكُمْ اِلَى الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَاتِّبَاعِ الْبِدَعِ وَالْاَهْوَاءِ الْفَاسِدَةِ] یعنی څوك چه تاسو کفر او د بتانو عبادت او بدعاتو او د نفس د خواهشاتو تابعدارئ ته راغواړی نو د هغوی خبره مهٔ منئ. (خازن۲/۱۸۱)

څکه څوك چه د چا عبادت کوی یا ئې طاعت کوی نو د هغه سره ئې دوستي وی نو الله فرمائی چه زما نه په غیر بل داسې دوست مهٔ نیسه چه تهٔ ورله عبادت وکړې یا ورله مطلقاً اطاعت وکړې. (قرطبیؒ)

[وَلَا تَتَّخِذُوْا مَنْ عَدَلَ عَنْ دِيْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا].

یعنی څوك چه د الله د دین نه واوړیدو نو هغه دوست مهٔ جوړوئ. (قرطبیؒ)

نو کوم ملا یا پیر وغیره چه ددې نه خلاف وی نو د هغه تابعداری مهٔ کوئ.

دا آیت اشارةً دلالت کوی چه کوم امامان، مجتهدین، محدثین، او مفسرین (کوم چه د الله اولیاء دی) د دوی خبره چه کله د کتاب او سنت خلاف راشي نو د هغې منل نشته. او د هغې نه الله تعالیٰ منع وفرمائیله.

مِنْ دُوْنِهٖٓ : کښې ضمیر (ما) ته هم راجع کیدل صحیح دی، معنیٰ به دا وی : [وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِ كِتَابِ اللّٰهِ اَوْلِيَاءَ تُقَلِّدُوْنَهُمْ فِيْ دِيْنِكُمْ] . تاسو د الله د کتاب نه سویٰ د نورو دوستانو پسې مهٔ روانیږئ چه تاسو په دین کښې د هغوی تقلید کوئ او د هغوی حلال او حرام منئ. (فتح القدیر للشوکانیؒ).

صاحب المنار جامع اُورد تعبیر کوی : [مِنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَاءَ : تَتَّخِذُوْنَهُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ وَلَا مِنَ الشَّيَاطِيْنِ الَّذِيْنَ يُوَسْوِسُوْنَ لَكُمْ بِمَا يُزَيِّنُ لَكُمْ ضَلَالَ تَقَالِيْدِكُمْ وَالْاِبْتِدَاعِ فِيْ دِيْنِكُمْ فَتُوَلُّوْنَهُمْ اُمُوْرَكُمْ وَتُطِيْعُوْنَهُمْ فِيْ وَضْعِ اَحْكَامِ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ زَاعِمِيْنَ اَنَّهٗ يَجِبُ عَلَيْكُمْ تَقْلِيْدُهُمْ لِاَنَّهُمْ اَعْلَمُ مِنْكُمْ اَوْ لِلْاِقْتِدَاءِ بِمَا كَانَ عَلَيْهِ آبَاؤُكُمْ ٢- وَلَا اَوْلِيَاءَ تَتَّخِذُوْنَهُمْ لِاَجْلِ اِنْجَاءِ كُمْ مِنَ الْجَزَاءِ عَلٰى ذُنُوْبِكُمْ وَجَلْبِ النَّفْعِ لَكُمْ اَوْ رَفْعِ الضُّرِّ عَنْكُمْ زَاعِمِيْنَ اَنَّهُمْ بِصَلَاحِهِمْ يُقَرِّبُوْنَكُمْ اِلَيْهِ زُلْفٰى، اَوْ يَشْفَعُوْنَ لَكُمْ عِنْدَهٗ فِي الْآخِرَةِ اَوِ الدُّنْيَا]

یعنی تاسو د الله نه سویٰ دوستان مهٔ نیسئ چه د ځان نه ئې مقرر کړئ او نهٔ د شیطانانو نه دوستان نیسئ چه هغوی تاسو ته ستاسو گمراه تقلیدونه او په دین کښې بدعات

ښائسته ښکاره کوي دي دپاره چه تاسو هغوي ته خپل ديني کارونه وسپارئ او د احکامو په جوړولو کښې د هغوي تابعداري وکړئ پدے گمان چه په تاسو باندے د دوي تقليد واجب دے ځکه چه دوي ستاسو نه ښه پوهه دي يا پدے وجه چه تاسو د خپل پلارانو اقتداء کوئ۔ ۲- دارنګه داسے دوستان هم مۀ نيسئ چه تاسو دا گمان لرئ چه دوي به تاسو د گناهونو د سزا نه بچ کوي او فائده به درکوي او ضرر به درنه دفع کوي پدے گمان چه دوي نيکان دي چه تاسو به الله ته په مرتبه کښې نزدے کوي يا به د الله په دربار کښې ستاسو په دنيا يا آخرت کښې سفارش کوي۔ آه۔ (المنار۸/۲۷۲)

قَلِيْلًا مَّاتَذَكَّرُوْنَ: حقيقت دا دے چه تاسو ډير کم نصيحت اخلئ، د الله حق دين پريدئ او د نفس د خواهش او د باطلو دينونو او نظرياتو تابعداري کوئ۔

وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَ هَا بَأْسُنَا
او ډير د کلو والو نه هلاك کړيدي مونږ. هغه نو راغے هغوي ته عذاب زمونږ
بَيَاتًا اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿٤﴾ فَمَا كَانَ دَعْوٰهُمْ اِذْ جَآءَ هُمْ
په وخت د شپه کښې يا به دوي د غرمے اُودۀ وو۔ نو نۀ وو آواز د دوي کله چه راغے دوي ته
بَأْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥﴾
عذاب زمونږ مگر دا چه وئيل به ئے يقيناً مونږ وو ظلم کونکي۔

تفسير : دا د مخکنى انذار بيان دے۔يعنى کوم خلق چه د الله د طرف نه د نازل شوى کتاب او سنت تابعدارى نۀ کوي، هغوي ته دهمکي ورکړے شويده چه ستاسو نه مخکښې هم ډيرو کلو والو زمونږ د رسولانو مخالفت کړے او د هغوي تکذيب ئے کړے، نو زمونږ عذاب هغوي ته د شپے په خوب حالت کښې راغے (لکه د لوط عليه السلام د قوم سره وشو) يا په ورځ کښې د غرمے د آرام کولو په وخت راغے (لکه چه د شعيب عليه السلام د قوم سره وشو)۔ په هغه وخت دوي د خپلو گناهونو اقرار کولو او وئيل ئے چه مونږ پخپله په خپلو ځانونو ظلم کړيدے، او مونږ ددے عذاب مستحق يو، ليکن وخت تير وو۔ لکه د سورة انبياء (۱۵) آيت کښې هم دغسے راغلي دي۔ نو پدے کښې ترغيب دے چه د عذاب د راتللو په وخت به چغے وهئ نو راشئ مخکښې نه اتباع د مَا اُنْزِلَ وکړئ چه د عذابونو نه خلاص شئ۔

فَجَآءَ هَا : فاء تفصيليه ده او دا تفصيل او بيان دے د (اَهْلَكْنَا) دپاره۔ فاء تفريعيه نۀ ده چه

اشكال پيدا شي چه اول هلاك شو بيا روستو عذاب راغے؟۔ او كوم علماء چه فاء د تفريع دپاره گرځوي نو هغوي (اَهْلَكْنَا) په معنى د اراده د هلاكولو اخلي۔

بَيَاتًا : اَیْ بَائِتِيْنَ : يعني كله ئے چه شپه تيره وله۔

قَائِلُوْنَ : دا د قَيْلُوْلَةٌ نه دے، د غرمے خوب ته وائي او دا دواړه وختونه كنايه ده د غفلت نه۔

فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ
نو خامخا تپوس به كوو مونږ د هغه كسانو نه چه ليږل شوي وو هغوي ته
وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦﴾ فَلَنَقُصَّنَّ
او خامخا تپوس به كوو د ليږلے شوو (پيغمبرانو) نه۔ نو خامخا بيانوو به مونږ
عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿٧﴾
په دوي باندے په عِلم خپل سره او نهٔ يو مونږ غائب (د دوي د عملونو نه)۔

تفسير : اُوس د آخرت تخويف بيانوي۔

ربط :

اَلْحِسَابُ وَالْوَزْنُ حَقٌّ فَلِذٰلِكَ يَجِبُ عَلَيْكُمْ اِتِّبَاعُ مَا اُنْزِلَ۔

يعني حساب او وزن حق دے نو پدے وجه د مَا اُنْزِلَ اتباع واجب ده۔

د اقوامو نه به دا تپوس كيږي (مَا ذَا اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ؟) تاسو د پيغمبرانو خو مره خبره منلے ده؟، آيا هغوي چه كوم كتابونه راوړي وو او د الله د توحيد او د هغه د بندگئ دعوت ئے وركړے وو دا مو منلي دي او كه نه؟۔ او د رسولانو نه به دا تپوس كيږي چه تاسو دين بيان كړيدے او كه نهٔ؟ نو پدے كښ تيزي ده پدے خبره چه اے خلكو! د ځان غم وكړئ، تاسو نه به د رسول الله ﷺ په باره كښ تپوس كيږي او دا تپوس په سورة الحجر (٩٣) آيت كښ هم راغلے دے ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ ۔ او بل طرفته په سورة القصص (٧٨) آيت ﴿وَلَا يُسْئَلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ﴾ او سورة الرحمن (٣٩) آيت ﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْئَلُ عَنْ ذَنْبِهٖ اِنْسٌ وَّلَا جَانٌّ﴾ كښ تپوس نكول راغلي دي نو د هغے جدا مطلبونه دي چه د استعلام (يعني د معلومات) تپوس به نهٔ كيږي چه آيا تا دا گناه كړيده او كه نهٔ؟۔

او دلته د توبیخ او زورنے تپوس دے چه دا کار دِے ولے کړے او دا فلانے کار (طاعت) دِے ولے نهٔ دے کړے؟۔ او د حجت قائمولو او د عدالت ښکاره کولو دپاره به دا تپوس وی او دکافرانو او سرکشانو جهنم ته د داخلولو نه مخکښ د زجر او توبیخ دپاره به وی۔

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِمۡ : یعنی الله تعالیٰ به دوی ته د دوی د ښکاره او پټو اعمالو خبر ورکوی او هغه خلك به هیڅ عمل هم نشی پټولے، ځکه چه د الله تعالیٰ نه هیڅ شے پټ نهٔ دے۔

د ابن عباس ﷺ نه روایت شویدے چه د قیامت په ورځ به یو کتاب راوړے شی نو هغه به خلګو ته د عملونو خبر ورکوی۔ (ابن کثیرؒ)

وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيۡنَ : یعنی مونږ د دوی د عملونو نه غائب نهٔ یو۔ ځکه چه الله د بره عرش نه تهولو انسانانو ته ګوری او د هغه نه هیڅ حرکت د زړه او عمل د انسان پټ نهٔ دے۔ او غائب په معنیٰ د غافل سره هم دے۔

وَالۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذِ ۨالۡحَقُّ ۚ فَمَنۡ ثَقُلَتۡ مَوَازِيۡنُهٗ
او تول (د عملونو) په دغه ورځ حق دے پس هغه څوك چه درانهٔ شو تلے د عملونو د هغهٔ
فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۸﴾ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَازِيۡنُهٗ
نو دغه کسان هم دوی کامیاب دی۔ او هغه څوك چه سپك شو تلے د عملونو د هغهٔ
فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ خَسِرُوۡٓا اَنۡفُسَهُمۡ بِمَا
نو دا هغه کسان دی چه تاوان کښ ئے اچولی دی نفسونه خپل پدے وجه
كَانُوۡا بِاٰيٰتِنَا يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۹﴾
چه وو دوی چه په آیتونو زمونږ ئے ظلم کولو۔

تفسیر : ربط : هرکله چه د قیامت په ورځ اعمال تللے کیږی نو عمل به په څه وزنی کیږی او په څه بی وزنه کیږی؟ نو هغه په اتباع د مَا اُنۡزِلَ باندے، که د حق او وحی تابعداری نهٔ وی نو د غرونو هومره اعمال به د وړئ نه هم زیات سپکیږی۔

د اعمالو د خبر ورکولو نه روستو به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ میزان (تله) قائموی، دے دپاره چه د بندګانو عملونه وزن کړی، د چا د نیکیانو تله چه درنه شی او خکته لاړه شی نو هغه به د جهنم نه نجات مونده کوی او جنت ته به داخلیږی، او د چا تله چه د نیکیانو د

کمی او د گناهونو د ډیر والی په وجه سپکه شی او پورته لاړه شی نو هغه به جهنم ته ارتولے شی۔

مَوَازِيْنُهٗ : جمع د میزان ده، تلے ته وائی یا جمع د موزون ده عملونو ته وائی۔

په قیامت کښې د عملونو د تول بیان

تله یوه ده لیکن جمع ئے پدے وجه راوړیده چه د هر چا د عملونو بیل بیل تول به کیږی۔ د قیامت په ورځ د بندګانو عملونه په تله باندے تلل حق دی، او دا د اهل سنت والجماعة مذهب دے سوئ د معتزله ؤ نه چه هغوی ئے نهٔ منی۔

او په حدیث کښې راغلی دی چه [لَهٗ لِسَانٌ وَ كَفَّتَانِ] ددے به یوه ژبه او دوه چابړی وی۔

(شعب الایمان للبیهقی والدر المنثور)

او یو یو چابړے ئے دومره غټ دے لکه د آسمان او د زمکے په مقدار او هغے ته به جبریل علیه السلام ولاړ وی، او دا به د پل صراط په سر باندے وی چه دلته عمل وتللے شی او دغلته به په صراط ورتیریږی او دا ډیر سخت وختونه دی چه انسانان اګرکه نیکان وی سم به رپیږی چه اُوس به څه کیږی۔ ددے وجه نه په عمل کښې وزن پیدا کول پکار دی۔

په عمل کښې وزن په څه سره پیدا کیږی؟۔

۱- یو په توحید سره لکه په حدیث د تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ سِجِلًّا کښې راغلی دی۔

(احمد ۲/۲۱)، ترمذی (۵/۲٤) (۲٦۳۹) ابن ماجه (صحیح الجامع : ۱۷۷٦)

۲- په اتباع الرسول ﷺ سره۔

۳- په اتباع الحق سره، سیدنا ابوبکر صدیق ؓ سیدنا عمر فاروق ؓ ته وصیت کښې وفرمایل : [اِنَّمَا ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُ مَنْ ثَقُلَتْ بِاتِّبَاعِهِمُ الْحَقَّ وَحُقَّ لِمِيْزَانٍ يُوْضَعُ فِيْهِ الْحَقُّ اَنْ يَّثْقُلَ] (بغوی)

د چا تلے چه درنیږی نو دا پدے وجه چه د حق تابعداری کوی او لائق ده د هغه تلے سره چه په هغے کښې حق کیخودے شی چه هغه به درنیږی۔ او دغه شان خبره ئے د باطل په باره کښې وکړه چه هغه به سپکیږی۔

٤- حُسْنُ الْخُلُقِ۔ (ښائسته اخلاق) ٥- الصمت۔ (غلے او چُپ کیناستل)۔

٦- سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله) کلماتو سره ذکر کول۔

٧- اَلْوَلَدُ الصَّالِحُ يُتَوَفّٰى لِلْمَرْءِ الْمُسْلِمِ- نیك عمله بچے چه د مسلمان مړ شي-
٨- سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم وئیلو سره- لکه د بخاری آخری حدیث دے-
او په هر نیك عمل باندے درنیږی پدے شرط چه اخلاص او اتباع د سنت پکښ وی-
او پدے وزن کښ یو مقصد اظهار د عدل او بل احسان کول دی- ځکه چه په دے وزن کښ به یو طرف ته نیکی وی او بل طرفته گناه، نو که د چا گناه کمه شوه او نیکی ئے زیاته شوه نو بس کامیاب شو- نو دا د الله احسان شو چه د زیاتو نیکیو په مقابله کښ گناهونه ختموی-

وزن به څنگه کیږی؟

د اهل سنتو په کیفیت د وزن کښ اختلاف دے، بعض وائی چه د اعمالو صحیفے به په حقیقی معنو کښ وزن کولے شی لکه چه په صحیح حدیث کښ راغلی دی چه د «لا اله الا الله» پرچه به د نهه نوی رجسترو نه درنیږی- دا حدیث امام احمدؒ او ابن ماجهؒ او حاکمؒ وغیرهم روایت کړیدے- شوکانیؒ دے ته ترجیح ورکړیده-
بعضو وئیلی دی چه خپله اعمال به وزن کولے شی، اگرکه هغه جسم نۀ لری لیکن الله به په هغه ورځ هغے ته جسم ورکړی دے دپاره چه د هغے وزن وشی لکه چه د قرآن کریم په باره کښ په سنن ابن ماجه کښ په روایت شوی صحیح حدیث کښ راغلی دی چه دا به د قیامت په ورځ د بنائسته ځوان په شکل راځی-
بعضو وئیلی دی چه د عملونو والا شخص به تللے کیږی لکه چه په صحیح بخاری کښ د ابو هریره ﷺ نه روایت شویدے چه د قیامت په ورځ به یو چاق سړے راوستے شی چه د الله په نیز به د ماشی د وزر هم برابر نۀ وی-
حافظ ابن کثیر رحمه الله وائی چه ډیره ممکن ده چه د وزن دا ټول صورتونه صحیح وی- کله به د اعمالو وزن وی، نو کله به د صحیفو (عملنامو)، او کله به خپله د عمل کونکو-
الله تعالیٰ په هر شی قادر دے، او د پیمائش او وزن جدید او سائنسی وسائل او ذرائعو ته نظر کولو سره اُوس خو انسانی عقل ددے د قبلولو دپاره بیخی تیار دے- اُوس خو هواگانے، فضاء گانے، یخنی، گرمی او تبه او نور په نظر نۀ راتلونکی څیزونه وزن کیږی نو د کائناتو د خالق او قادر مطلق دپاره دا کومه د تعجب خبره ده چه هغه د قیامت په ورځ هر شے وزن کړی او بندگانو ته د هغوی د نیك او بدو اعمالو حساب وښکوی-

يَظْلِمُوْنَ : د الله په آيتونو باندے ظلم يو كفر دے او بل ترك العمل دے (په هغے عمل نۀ كول)۔ او ددے نه معلومه شوه چه د وزن د سپكوالي وجه هغه ظلم دے يعني د حق تابعداري نۀ كول او په هغے عمل نكول۔ او دليل دے چه د كافرانو د عملونو وزن به هم كيږي۔

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا
او يقيناً ځاى دركړے مونږ تاسو ته په زمكه كښې او كړځولي مو دي تاسو لره په دے كښې
مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۞۱۰۞
اسباب د ژوند، ډير لږ شكر كوئ تاسو۔

تفسير: الله تعالىٰ په خپل قسماقسم نعمتونو يادولو سره بندګانو ته د خپلو اوامرو د اتباع او د نواهيو نه د اجتناب ترغيب وركړيدے۔ د كائناتو خالق زمكه د انسانانو دپاره د سكون او وسيدو ځاى جوړ كړيدے، پدے ئے غرونه خوارۀ كړيدي، نهرونه ئے روان كړي، د وسيدو مزيدار مكانات او ځايونو جوړولو طريقے ئے خودلي دي، په زمكه كښې موجود څيزونو او ښاروونه فائده اخستل ئے مباح كرځولي دي، او د خوراك او څكاك مختلف څيزونه ئے پريمانه كړيدي، ددے نعمتونو تقاضا دا وه چه انسان د الله ښه شكر كولے او د هغه ښه عبادت ئے كولے او د هغه ټول حكمونه ئے عملي كولے ليكن واقع دا ده چه اكثر او زيات انسانان د الله كم شكر كوي۔

مَكَّنّٰكُمْ : يعني ځايونه د وسيدو مے دركړيدي۔ دا دليل دے چه په غير د زمكے نه د انسان بل ځاى د وسيدو نشي كيدے۔

معايش : جمع د مَعِيْشَةٌ ده، يعني اسباب د ژوند۔

وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ
او يقيناً مونږ پيدا كړي يئ تاسو بيا (واورئ چه) شكل دركړے وو مونږ تاسو ته
ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖق صلے فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ
بيا وئيلي وو مونږ ملائكو ته سجده وكړئ آدم ته نو سجده وكړه هغوى سوئ

اِبۡلِیۡسَ ؕ لَمۡ یَکُنۡ مِّنَ السّٰجِدِیۡنَ ﴿۱۱﴾
د ابلیس نه، نهٔ شو هغه د سجده کونکو نه.

تفسیر : د آدم علیه السلام واقعه راوړی پدے کښ ډیرے فائدے دی (۱) یو مقصد دا دے چه مُشَابَهَةُ الْمُشْرِکِیْنَ وَالْیَهُوْدِ وَالنَّصَارٰی بِاِبْلِیْسَ فِیْ تَرْكِ اتِّبَاعِ مَا اُنْزِلَ.
مشرکان، یهودیان او نصاریٰ د ابلیس سره د وحی د تابعداریٔ په پریخودو کښ مشابه دی.
(۲) رد دے په مشرکانو په دوه ځیزونو کښ چه مشرکانو به په حج کښ طواف په بربنډه کولو او غوړی او غوښه به ئے نهٔ خوړل، او دا به ئے وئیل چه دا په مونږ حرامه ده.
نو پدے واقعه کښ په هغوی رد دے چه دا کارونه کول خو د شیطان مقصد پوره کول دی، شیطان خو د آدم او حواء علیهما السلام نه جامے ویستلی دی او هغوی پدے کار خو مره خفګان کړیدے. په تاسو باندے ئے حلال ځیزونه بند کړل لکه څنګه ئے چه آدم علیه السلام او د هغه بی بی ئے د جنت نه محروم کړل.
(۳) دارنګه پدے باندے تفریع کوی په اتباع الرسول صلی الله علیه وسلم سره چه دوه دعوتونه روان دی، یو دعوت شیطانی او بل دعوت رحمانی نو تاسو به د رحمانی دعوت پسے ځئ. (یَا بَنِیۡۤ اٰدَمَ اِمَّا یَاۡتِیَنَّکُمۡ رُسُلٌ) . دارنګه د الله د وحی په مقابله کښ شیطان ولاړ دے نو یا به اتباع د ما انزل کوے یا به د شیطان.
خَلَقۡنٰکُمۡ : د جمع صیغه استعمال شویده، او مراد آدم علیه السلام دے، د جمع صیغه پدے اعتبار سره ده چه هغه د تمامو انسانانو پلار دے.
ثُمَّ صَوَّرۡنٰکُمۡ : ۱- دلته ثم د تعقیب ذکری دپاره دے یعنی بیا دا احسان هم واوریٔ چه الله تاسو ته شکلونه هم درکړیدی. ۲- یا دا چه اول خلق د مادے د آدم علیه السلام دے اَیۡ خَلَقۡنَا اُصُلَکُمۡ اَوۡ اٰبَاکُمۡ . یعنی مونږ ستاسو اصل او ستاسو پلار پیدا کړو، او بیا صورت جوړول د هغه دی. ۳- یا دا چه خَلۡق په شا د پلار کښ او تصویر ورکول په رَحِم د مور کښ مراد دی. ٤- یا خلق د مادے د انسان دے په مختلفو اطوارو سره او بیا تصویر ورکول دی لکه په سورة الحج (۵) او مؤمنون (۱٤) آیت کښ دی.

قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسۡجُدَ اِذۡ اَمَرۡتُكَ ؕ قَالَ
ووئیل الله څه منع کړے ته چه سجده ونکړه تا کله چه حکم وکړو ما تا ته ووئیل هغهٔ،

اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ج خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿۱۲﴾

زهٔ غوره يم دده نه پيدا كړې يم تا د اُور نه او پيدا كړې تا دهٔ لره د خټې نه.

تفسير : اَلَّا تَسْجُدَ : كښې (لا) زائده دے لكه په سورة ص (۷۵) آيت كښې بغير د (لا) نه دے. او چونكه دلته اَمَرْتُكَ لفظ وو او ددے سره ترك د سجدے مناسبت لرى.

صاحب المنار وائى چه د (لا) په سياق د نفى صريح او غير صريح كښې د تاكيد او تقويت دپاره زياتيدل په فصيح كلام د عربو كښې مشهور دى او ددے قبيلے نه دا آيتونه دى ﴿ قَالَ يَا هَارُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْا اَلَّا تَتَّبِعَنِ﴾ (طه۹۳) ﴿ وَمَا يُشْعِرُكُمْ اَنَّهَا اِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ (انعام: ۱۰۹) ﴿ قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا ﴾ (انعام : ۱۵۱) او پدے ټولو كښې معنىٰ د نفى ده.

۲- يا مَنَعَكَ په معنىٰ د دَعَاكَ سره دے، او (اِلٰى) لفظ پټ دے يعنى كومے خبرے دے ته راوبللے چه سجده ډِے ونكړه. ۳- حافظ ابن كثيرؒ او ابن جريرؒ دا غوره كړيده چه: دا متضمن دے بل فعل لره چه هغه [مَا اَحْوَجَكَ، وَاَلْزَمَكَ وَاضْطَرَّكَ اِلٰى اَلَّا تَسْجُدَ] يعنى څه محتاجه او مجبوره كړے چه سجده ډِے ونكړه.

صاحب المنارؒ وائى : داسے تضمين د قرآن په ډيرو ځايونو كښې راغلے دے لكه ﴿ وَلَا تَأْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ اِلٰى اَمْوَالِكُمْ﴾ (نساء :۲) او دے ته نزدے تعبير د سورة الحجر (۳۲) آيت دے ﴿ مَا لَكَ اَنْ لَّا تَكُوْنَ مَعَ السَّاجِدِيْنَ﴾ اَىْ اَىُّ شَىْءٍ عَرَضَ لَكَ فَحَمَلَكَ عَلٰى اَنْ لَّا تَكُوْنَ مَعَهُمْ] تا ته كومه خبره راپيښه شوه چه هغے راپورته كړے پدے خبره چه د هغوى سره په سجده كښې شريك نشوے. (المنار۸/۲۹۶)

اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ : ددے سره كبرىٰ پټه ده (وَالنَّارُ خَيْرٌ مِنَ الطِّيْنِ) او اُور خو د خټے نه غوره دے نو بس زهٔ د آدم نه غوره شوم (نتيجه) نو بيا زهٔ څنګه ناغوره شخص ته سجده وكړم؟!.

دا د ابليس يو غلطه بهانه او عذر وو او د نص په مقابله كښې قياس وو، او د سوچ قابله دا خبره ده چه ابليس د اُور او خاورو په عناصرو نظر كيخودو او دا ترے هير شو چه الله آدم ؑ لره په خپلو لاسونو جوړ كړيدے او په هغه كښې ئے خپل روح پو كلے دے. هغه د بنكاره نص ﴿فَقَعُوْا لَهٗ سَاجِدِيْنَ ﴾ (چه تاسو هغه دپاره په سجدے پريوځئ) په مقابله كښې د فاسد قياس نه كار واخستو. او د سجدے نه منكر شو نو د الله د رحمت نه وړاندے كړے شو.

او علماؤ د ابلیس مقابله کړیده او ددهٔ دا قیاس ئې د دیارلسو وجو نه فاسد ګرځولے دے چه هغه حافظ ابن القیمؒ وغیره ذکر کړیدی، ځکه چه د خاورے په فطرت کښې غوره والے، بُردباری سوچ او آرام دے، په خاوره کښې قسماقسم حیوانات او بوټی پیدا کیږی، پدے کښې د انسانانو او حیواناتو روزی پیدا کیږی، ددے په خلاف اُور ځیزونه سیزی او پدے کښې د جذبے او تیزئ صفت موجود دے، اُور کښې تکبر دے لکه همدا وجه ده چه ابلیس اُور دهوکه کړو، او آدم ؑ (د خاورے نه جوړیدو په وجه) الله ته خشوع او خضوع نه کار واخستو، او د خپلے ګناه اقرار کولو سره د توبے او استغفار لارئې اختیار کړه۔

(اللباب والقاسمی)

بله دا چه دا قیاس د الله د حکم په مقابله کښې وو، که بالفرض اُور غوره هم شی بیا هم د الله حکم دے نو آدم ؑ ته سجده کول لازم وو د الله د حکم د وجه نه۔

بل دا چه ملائك د نور نه پیدا وو چه هغه د اُور نه ډیر غوره وو، هغوی سجده کوی د الله د حکم د وجه نه نو دے ظالم له خو خامخا پکار وه۔

بله دا چه دا لعین د آدم ؑ د خصوصیات او فضائلو نه غافل شو چه الله هغه په خپل لاس پیدا کړو او هغه کښې ئې خپل روح ویوکلو او د هغه علمی او عملی استعدادئې د ټولو مخلوقاتو نه تردے چه د ملائکو نه هم پورته کړو او ملائك ئې هغه ته په سجده کړل چه هغوی د ابلیس نه په عنصر د خلقت او طاعت کښې ډیر غوره وو۔ (المنار)

ددے وجه نه محمد بن سیرینؒ فرمایلی دی: [أَوَّلُ مَنْ قَاسَ فِيْ مُقَابَلَةِ النَّصِّ إِبْلِيْسُ فَمَنْ قَاسَ الدِّيْنَ بِرَأْيِهِ قَرَنَهُ اللّٰهُ مَعَ إِبْلِيْسَ] (بغوی۲۱۷/۳ وابن کثیر ورواه ابو نعیم فی الحلیة والدیلمی عن جعفر الصادق- المنار) اول قیاس د نص په مقابله کښې ابلیس کړیدے نو چا چه دین په خپلو قیاسونو بنا کړو هغه به الله د ابلیس سره یو ځای کړی۔

او د ابن سیرینؒ نه دا هم نقل دی: [وَمَا عُبِدَتِ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ إِلَّا بِالْمَقَايِيْسِ]
د نمر او سپوږمئ عبادت هم په قیاسونو سره شویدے۔

(اسناد صحیح- ابن کثیر والبغوی والقرطبی)

دلته بیا مفسرینو د غلطو قیاسونو سخت تردید کړیدے چه نص موجود وی او خلك خپل قیاس مخکښې کوی لکه قیاسونه د اهل الرأی او خوارجو شو۔ تفصیل دپاره محاسن التاویل د قاسمیؒ وګوره۔

قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا

ووئیل الله نو کوز شه ددے نه پس نۂ دی مناسب تا لره چه تکبر وکړے تهٔ پدے کښې

فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ

نو ووځه یقیناً تهٔ د ذلیلانو نه ئے۔ ووئیل هغهٔ، مهلت راکړه ما ته تر هغه ورځې پورے

يُبْعَثُوْنَ ﴿۱٤﴾ قَالَ اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۱٥﴾

چه خلك به دوباره پورته کولے شي۔ ووئیل الله یقیناً تهٔ د مهلت درکړے شوو نه ئے۔

تفسیر : الله تعالىٰ ابلیس ته خطاب وکړو وے وئیل چونکه تا زما د حکم مخالفت کړیدے پدے وجه ته د جنت نه ووځه، دا ځای د الله د نافرمانو دپاره نهٔ دے۔ بعض خلقو ددے تفسیر دا بیان کړیدے چه تهٔ چه تر اُوسه پورے په کوم ځای کښې وے (یعنیٰ د ملائکو مرتبه) نو اُوس ذلیل اوخوار کیدو سره د هغے نه لاندے لاړ شه، اُوس به تا ته هغه ځای نهٔ ملاویږی ځکه چه هغه د اطاعت کونکو او خشوع اختیارونکو ځای دے۔

فَاهْبِطْ مِنْهَا : نو هبوط (خکته کیدل) حسي او معنوی دواړو ته شامليږی۔

فَمَا يَكُونُ لَكَ : أَيْ لَايَنْبَغِيْ لَكَ وَلَيْسَ مِمَّا تُعْطَاهُ مِنَ التَّصَرُّفِ] یعنی تا لره دا مناسب نهٔ دی او نهٔ تا ته دا تصرف درکړے شویدے چه تهٔ پدے ځای کښې تکبر وکړے۔ (المنار)

اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا : تکبر : ځان لوی ګنړل د هغه حالت نه چه انسان په هغے باندے وی۔ یا ځان لوی ګنړل د هغه شخص نه چه په حقیقت کښې د هغه نه صغیر (وړوکے او ذلیل) وی۔ او په حدیث د مسلم کښې ددے تفسیر په (بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ) سره راغلے دے، او دا تفسیرئے په اعتبار د مَظْهَر عملی سره دے چه په هغے باندے جزا مرتب کیږی یعنی چه یو شخص ته حق ښکاره شي او دے ورته غاړه نهٔ ږدی او هغے ته نهٔ قانع کیږی بلکه هغه دیکه کوی، یا ترے د تجبر او ترفع په وجه انکار کوی، او بل شخص سپك ګنړی په قول او عمل سره چه هغه دلالت کوی په نهٔ اقرار د هغه د فضیلت، یا دغه فضیلت سپك ګنړی بل کم فضیلت په هغے باندے پورته ګنړی، برابره ده چه دا دعوه د ځان دپاره کوی چه خپل ځان په بل باندے په باطله طریقه پورته کوی یا ددے دعوه د بل چا دپاره کوی پدے طریقه چه بعض خلك په بعضو باندے غوره کړی مقصد ئے پکښې احتقار او سپکاوے د مفضل علیه (یعنی بل طرف) وی او د هغه د شان تنقیص وی۔ (المنار)

يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ : ابلیس ووئیل، ای ربه ! ما ته مهلت راکړه او تر هغه ورځې پورې مرګ مهٔ راکوه چه آدم ﷺ او د هغه اولاد د قبرونو نه پورته کولې شي. نو الله تعالیٰ دهٔ ته د دنیا د ختمیدو ورځې پورې مهلت ورکړو لکه چه په سورة حجر آیتونو (۳۸/۳۷) کښې راغلي دي : ﴿قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِیْنَ اِلٰى یَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ﴾ دلته د (وقت معلوم) نه د دنیا فنا مراد ده، چه دا به د اسرافیل ﷺ په اوله شپیلۍ سره کیږي او د دوباره راپورته کیدو پورې ئې وخت ورنکړو ځکه چه په دغه وخت کښې به ابلیس هم مړ وی او د اولې او د دویمې شپیلۍ ترمینځ څلویښت کاله زمانه ده.

قَالَ فَبِمَآ اَغْوَیْتَنِیْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ
ووئیل دهٔ، پس په دې وجه چه تا ګمراه کړم زهٔ خامخا کینم به دوی ته په لاره ستا کښې
الْمُسْتَقِیْمَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ لَاٰتِیَنَّهُمْ مِّنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ
چه نیغه ده. بیا به خامخا راځم دوی ته د مخې د دوی نه او د شا طرف د دوی نه
وَعَنْ اَیْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ
او د ښي طرفونو د دوی نه او د ګس طرفونو د دوی نه، او نهٔ به مومې تهٔ ډیر د دوی نه
شٰكِرِیْنَ ﴿۱۷﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ
شکر کونکی. ووئیل الله، ووځه ددینه بد حاله رټلې شوې، خامخا څوك چه
تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿۱۸﴾
تابعداری کوی ستا د دوی نه، خامخا ډکوم به جهنم ستاسو د ټولو نه.

تفسیر : فَبِمَا أَغْوَیْتَنِیْ: یعنی پدې وجه چه تا زهٔ ګمراه کړم نو زهٔ به ستا په نیغه لاره کینم او خلك به ترې اړوم. د ابلیس او د آدم ﷺ طریقه کښې څومره فرق دې چه ابلیس په الله تعالیٰ اعتراض کوی چه زهٔ تا ګمراه کړم حال دا چه خپله فسادی وو او آدم ﷺ وائی ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا﴾ (اې ربه ! مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړیدې) د مؤمنانو طریقه دا ده چه د ګناه نسبت ځان ته کوی.

لَاَقْعُدَنَّ : کیناستل کنایه ده د لزوم نه. یعني زهٔ به ورسره لازم او انښتې یم.

مِّنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ : ۱- دا یا کنایه ده د ټولو اطرافو نه یعنی (لَاَجْتَهِدَنَّ فِیْ اِضْلَالِهِمْ) د دوی

په ګمراه کولو کښې به ښه کوشش کوم. او دا قول ابن جریرؒ غوره کړیدے.
۲- یا بین ایدی آخرت ته وائی او مِنْ خَلْفِهِمْ اشاره ده دنیا ته چه دا به ورته ښائسته کوم.
او اَیْمَانِهِمْ نیکیو ته وائی چه ددے نه به ئے اړوم او شمائل ګناهونه دی چه دا به ورته ښائسته کوم، دا تاویل هم صحیح دے ځکه چه شیطان دا ټول کارونه کوی. (ابن کثیرؒ)
د ابن عباس ﷛ نه نقل دی چه (مِنْ فَوْقِهِمْ) ئے ونهٔ وئیل ځکه چه رحمت د بره نه نازلیږی. (ابن کثیرؒ)
وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ : د ابلیس مقصد د آدم ﷵ د اولادو نه ډیر مخلوق ګمراه کول وو دے دپاره چه د آدم ﷵ نه بدل واخلی چه د هغهٔ په وجه هغه د الله د رحمت نه لرے کړے شو او دا هم د هغه حسد وو.
او کله چه الله تعالیٰ د هغه طلب ومنلو نو په عناد او سرکشئ کښې نور زیاتیدو سره ئے ووئیل چه هرکله تا زهٔ ګمراه کړم نو اُوس به زهٔ دا انسانان په آرام نهٔ پریدم، د دوی پسے به لګیږم او دوی به د نیغے لارے (د دین اسلام) نه ګمراه کوم، دوی به د هر طرف نه راګیروم، د نیکئ نه به ئے منع کوم، او بدی به ورته ښائسته جوړولو سره پیش کوم، دے دپاره چه دوی په سرکشئ کښې راشی، او بیا به نتیجه دا وی چه د دوی نه به اکثر خلق ناشکری کوی، ستا عبادت به نهٔ کوی، او د توحید په عقیده به ولاړ نهٔ پاتے کیږی. او د الله حکمت ته وګورئ چه د ابلیس دا ګمان او وَهم د واقعے مطابق شو چه اکثرو انسانانو د هغه تابعداری وکړه لکه چه الله تعالیٰ سورة سبا آیت (۲۰) کښې فرمایلی دی :
﴿ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾
(او ابلیس د انسانانو په باره کښې خپل ګمان رشتینی کړو، نو د مؤمنانو د یو جماعت نه سوئ ټولو د هغه تابعداری وکړه).
پدے وجه نبی کریم ﷺ د شیطان نه د هر طرف نه پناه غوختلو تعلیم ورکړیدے. امام احمدؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، ابن حبانؒ او حاکمؒ د عبد الله بن عمرو ﷛ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ به لاندینئ دعا صبا او بیګاه هیڅ کله نهٔ پریخوده :
[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِيْ دِيْنِيْ وَدُنْيَایَ وَاَهْلِيْ وَمَالِيْ، اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِيْ وَآمِنْ رَوْعَاتِيْ، اَللّٰهُمَّ احْفَظْنِيْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِيْ وَعَنْ يَمِيْنِيْ وَعَنْ شِمَالِيْ وَمِنْ فَوْقِيْ، وَاَعُوْذُ بِعَظَمَتِكَ اَنْ اُغْتَالَ مِنْ تَحْتِيْ]. پدے دعا کښې رسول الله ﷺ په الله سره د مردود شیطان د شر نه د هر طرف نه پناه غوختلے ده. (ابن کثیرؒ)

شٰکِرِیۡنَ : پدے کښې اشاره ده چه د الله په کتاب شکر وکړئ او د الله شکر د هغه خالصه بندګي ده۔
قَالَ اخۡرُجۡ مِنۡهَا : دا ئے دوباره همغه (فَاخۡرُجۡ) والا حکم راوړو ځکه مینځ کښې ډیر بحث مباحثه وشوه۔ یا د زیات لعنت او رحمت نه د وړاندے والی اعلان دپاره ئے راوړو۔ یا اول امر په طریقه د فیصله الهي وو او دویم نافذ کول د امر دی، یا اول اخراج (ویستل) د جنت نه او دویم د آسمان نه دی۔
مَذۡءُوۡمًا : د ذَأۡمٌ نه دے په معنیٰ د سخت عیبژن او بد حالے او بد وئیلے شوے۔ او سیدنا ابن عباسؓ فرمائی : (مَمۡقُوۡتًا) غضب کړے شوے۔ / لعنت وئیلے شوے۔ (قتادۃ) (بغویؒ)
مَّدۡحُوۡرًا : رټلے شوے، شړلے شوے۔
لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ : دلته د ډکوالی نه مراد اچول دی په جهنم کښې ځکه چه بیا سوال راځی چه په حدیث کښې راغلی دی چه جهنم کښې به انسانان غورزولے شی لیکن هغه به نهٔ ډکیږی، آخر دا چه الله به پکښې خپل قدم کیږدی نو په قدم به ډك شی۔ او دا په طریقه د محاوره وئیلے شویده لکه یو بادشاه خپل رعیت ته په غصه کښې ووائی چه (زهٔ به تاسو نه جیلونه ډك کړم) دا مطلب نهٔ دے چه بیخی به جیل کښې ځای پاتی نشی بلکه جیل ته اچول او بوتلل مراد دی۔

وَيٰٓاٰدَمُ اسۡكُنۡ اَنۡتَ وَزَوۡجُكَ الۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ
او اے آدم ! اُوسه تهٔ او بی بی ستا په جنت کښې پس خورئ دواړه د هغه ځای نه
شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوۡنَا مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۱۹﴾
چه خوښوئ تاسو او مهٔ نزدے کیږئ دے ونے ته پس شئ به دواړه د ګنهګارو نه۔
فَوَسۡوَسَ لَهُمَا الشَّيۡطٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ
نو وسوسه واچوله دواړو ته شیطان (عاقبت دا شو) چه ښکاره کړی دواړو ته هغه چه پټ کړے شوی وو
عَنۡهُمَا مِنۡ سَوۡاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ
د دوی نه د عورتونو د دوی نه او ووئیل هغهٔ، نهٔ یئ منع کړی تاسو لره رب ستاسو ددے ونے نه

اِلَّآ اَنۡ تَكُوۡنَا مَلَكَيۡنِ اَوۡتَكُوۡنَا مِنَ الۡخٰلِدِيۡنَ ﴿۲۰﴾
مگر ددے وجه نه چه شئ به دوه ملائك يا به شئ د هميشه پاتے كيدونكو نه۔

تفسیر: علامه قاسمیؒ د علامه جشمیؒ نه نقل کړیدی چه د آدم او حواء علیهما السلام دا تولـه قصه په سورة البقره کښ تیره شویده، چونکه قرآن کریم په درویشت کاله کښ نازل شویدے، او پدے موده کښ د عالَم د اطرافو نه مختلف وفدونه راغلي وو، پدے وجه قرآن یوه واقعه په ډیرو ځایونو کښ په مختلف اندازونو کښ بیان کړیده، دے دپاره چه آوریدونکی ددے نه د خپلے موقعے مناسب عبرت حاصل کړی۔ (محاسن التاویل)

الله ابلیس لره د جنت نه یا د ملائکو د ډلے نه وویستو، او آدم علیه السلام او د هغه بی بی حواء دپاره ئے د جنت تمام نعمتونه او میوے حلالے کړے، صرف د یوے ونے د خوړلونه ئے منع کړو، او تنبیه ئے ورکړه چه ګوره که دے ونے ته نزدے شوے نو په خپل ځان به ظلم وکړے۔ شیطان چه کله دوی پدے حال کښ ولیدل نو د هغه د حسد اُور بَل شو او د هغوی سره د چل او فریب سوچ ئے وکړو، دے دپاره چه هغوی په کومونو نعمتونو کښ بختور دی او کوم ښائسته لباس او جامه ئے چه اغوستے ده چه دا ترے واخستے شی، نو د الله په خلاف ئے دروغ ووئیل او هغه ته ئے دا وسوسه واچوله چه ستا رب تهٔ ددے ونے نه پدے وجه منع کړے ئے چه که دا وخورے نو تهٔ به ملائك شے، بیا به د خوراك څکاك محتاجی پاتے نهٔ شی یا به په تا مرګ نهٔ راځی، او په جنت کښ به همیشه دپاره وسیږے۔ او ابلیس هغه ته د رشتینوالی د یقین ورکولو دپاره په الله تعالیٰ قسم وکړو ورته ئے ووئیل چه زهٔ ستاسو د دواړو انتهائی خیرخواه یم، ځکه مے دا راز تاسو ته ووئیلو۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه ابلیس په الله قسم کولو سره آدم علیه السلام او حواء لره په دهوکه کښ واچول، ځکه چه مؤمن د الله په نوم سره دهوکه خوری۔

لِيُبْدِيَ : لام د عاقبت دے یعنی انجام به دا شی چه دوی ته پټ کړے شوی عورتونه ښکاره کړی۔ ځکه چه ابلیس ته دا پته نهٔ وه چه پدے سره به د دوی عورتونه ښکاره کیږی۔

مَا وُرِيَ : اشاره ده چه عورت د انسان طبعًا پټ وی او طبعًا د هغے ښکاره کول بد ګنړی پدے وجه ئے مجهول صیغه راوړه۔

سَوْاٰتِهِمَا : بخاری کښ دی (كِنَايَةٌ عَنْ فَرْجَيْهِمَا) دا کنایه ده د هغوی د عورتونو نه۔ او سوئه هغه شی ته وائی چه انسان د هغے په ښکاره کولو خفه کیږی او شرم محسوس

کوی، نو کوم خلك چه دا وائی چه د سوء ه نه مراد بدن وو او عورت ئے نهٔ وو ښکاره شوے یا دا چه دوی ته عیبونه او سخت ژوند ښکاره شو نو دا خبره د ظاهر د قرآن خلاف ده۔

(البحر المحیط)

او پدے کښې رد دے په مشرکانو چه د دوی فطرت خراب شویدے چه د خلکو مخامخ ئے عورتونه ښکاره کړیدی او هیڅ پرواه نهٔ لری.

اِلَّآ اَنۡ تَکُوۡنَا مَلَکَیۡنِ : د شیطان مقصد دا وو چه الله تعالیٰ تاسو پدے وجه منع کړی یئ چه هسے نهٔ چه ملائك درنه جوړ شی او په جنت کښې همیشه پاتے نشئ نو زهٔ ستاسو (العیاذ بالله) د الله تعالیٰ نه هم زیات خیر خواه یم چه هغه مو همیشوالے نهٔ غواړی او زهٔ ئے غواړم۔ دا همیشه د شیطان کار وی چه د الله او د رسول او د اهل حقو دعوت اُلټه ښکاره کوی۔

سوال وجواب

سوال : آدم او حواء علیهما السلام خو د ملائکو نه غوره وو نو څنګه ورته وائی چه ملائك به جوړ شئ ؟

ددے چا جواب کړیدے چه د ملکین نه مراد (طَوِیْلَیِ الْعُمُر) دی یعنی اُوږد عمر والا به شئ لکه د ملائکو په مقدار، د خوراك څکاك به محتاج نهٔ یئ او هر قسم شکلونه به اختیارولے شئ او په الوتلو باندے به قدرت لرئ۔ نو کیدے شی چه آدم علیه السلام پدے کښې طمع کړی وی۔ (القاسمی وابن کثیر)

ښه جواب دا دے چه د هر انسان فطرت دا دے چه خپل ځان نه ملائك غوره ګڼړی ځکه پاك مخلوق دے او په قوت او قدرت او شدت باندے مشهور دی۔

وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّیۡ لَکُمَا لَمِنَ النّٰصِحِیۡنَ ﴿۲۱﴾
او قسم ئے وخوړو دواړو ته چه یقیناً زهٔ تاسو دواړو له خامخا د خیر خواهی کونکو نه یم۔
فَدَلّٰهُمَا بِغُرُوۡرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا
پس راکوز ئے کړل دواړه په دهوکه سره نو هرکله چه وڅکله دواړو ونه، ښکاره شو دواړو ته
سَوۡاٰتُهُمَا وَطَفِقَا یَخۡصِفٰنِ عَلَیۡهِمَا مِنۡ وَّرَقِ الۡجَنَّةِ ؕ
عورتونه خپل او شروع شو چه یوځای کولے ئے ځانونو پسے د پاڼړو د جنت نه

وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ

او آواز وکړو دواړو ته رب د دوی آیا نۀ وی منع کړی ما تاسو دواړه د دغه ونے نه

وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا

او نۀ وو وئیلی ما تاسو ته چه یقیناً شیطان تاسو له دشمن ښکاره دے۔ ووئیل دواړو

رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۚ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا

اے ربه زمونږ! ظلم کړے مونږ په ځانونو خپلو او که بخښنه ونکړه تا مونږ ته

وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾

او رحم دِے ونکړو په مونږ خامخا شو به د تاوانیانو نه۔

تفسیر : وَقَاسَمَهُمَآ: شیطان د خپلے خبرے د مضبوطوالی دپاره هغوی ته په الله قسم وکړو۔ آدم علیه السلام ته الله وفرمایل : آیا ما نۀ وے منع کړے ددے حرامے ونے نه ؟ هغه وفرمایل: ولے نۀ اے ربه! لیکن قسم مے دِے ستا په عزت وی چه ددے نه مخکښ ما دا ګمان نۀ کولو چه یو څوك به په الله باندے په دروغه قسم خوری۔ (ابن کثیرؒ)

نو ابلیس اولنے هغه شخص دے چه په الله باندے ئے په دروغه قسم خوړلے دے۔ (بغویؒ)

قَاسَمَ : په معنیٰ د اَقْسَمَ سره دے۔

فَدَلّٰهُمَا بِغُرُوْرٍ : دا د اُوچتے درجے نه خکته درجے ته راکوزول دی، یا د طاعت نه معصیت ته۔

ازهریؒ وائی : تَدْلِيَه دے ته وائی چه یو تږے سړے کوهی ته بوکه کوزه کړی دے دپاره چه تنده پرے ماته کړی لیکن په کوهی کښ اُوبه مونده نۀ کړی نو دا زوړندونکے دهوکه شی۔ (بغویؒ)

بِغُرُوْرٍ : غرور د نصیحت ښکاره کول او په زړه کښ شر پټ ساتلو ته وائی۔

شیطان دواړو له دهوکه ورکړه او د پورته ځای نه ئے خکته ځای ته اُورسول۔

ددے تفسیر یو دا هم شوید ے چه هغه دے دواړو ته د ګناه کولو همت ورکړو نو کله چه دواړو منع شوے ونه د شیطان په دهوکه کښ راتلو سره وخوړله نو د هغے د نافرمانئ انجام فوراً د دوی مخے ته راغلو چه د دوی لباس د دوی د جسمونو نه جدا شو، او دوی ته د یو بل

عورتونه ښکاره شو چه مخکښ به دوی د یو بل عورتونه نهٔ لیدل نو د جنت د ونو پاڼږے ئے راخستلے او خپل بدن سره ئے یوځای کولے، دے دپاره چه پرده وکړی۔ نو په هغه وخت کښ الله ورته د ملامتیا په طریقه ووئیل چه آیا ما تاسو ددے ونے د خوړلو نه نهٔ وئ منع کړی، او ما نهٔ وو وئیلی چه شیطان ستاسو د دواړو ښکاره دشمن دے؟ نو په هغه وخت کښ دوی د خپلے غلطئ د الله په حضور کښ اقرار وکړو او الله هغوی ته وخودل چه د خپلے غلطئ د معاف کولو دپاره دا دعا وکړی: ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ ﴾

علامه قاسمیؒ د علامه جشمیؒ نه نقل کړیدی چه په آدم علیه السلام کښ پنځه ښه خویونه موجود شو: هغه د ګناه اقرار وکړو، په هغے پښیمانه شو، خپل نفس ئے ملامته کړو، فوراً ئے توبه وویستله، او د الله د رحمت نه نا اُمیده نشو۔ او په ابلیس کښ پنځه بدیانے موجودے شوے: د خپلے ګناه اقرار ئے ونکړو، په هغے پښیمانه نشو، خپل نفس ئے ملامته نکړو، بلکه په خپل رب ئے اعتراض وکړو، او توبه ئے ونهٔ ویستله، او د الله د رحمت نه نا امیده شو۔ (محاسن التاویل)

يَخْصِفٰنِ: خصف ګنډلو ته وائی یعنی ځان سره ئے یو ځای کولے۔

رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا: دلته سکته ده او دا سکته د ډیر خفګان نه او د مرئ د بار بار انښتلو نه کیږی۔

وَاِنْ تَغْفِرْلَنَا: هر انسان دوه څیزونو ته محتاج دے، یو د مخکنو ګناهونو د معاف کیدو او په راتلونکی زمانه کښ د رحم کولو۔

قَالَ اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ
ووئیل الله، کوز شئ، بعض ستاسو به د بعضو دپاره دشمنان وی او تاسو له په زمکه کښ
مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيْهَا
ځای د وسیدو دے او فائدے دی تر یو وخت پورے۔ ووئیل الله، پدے زمکه کښ به
تَحْيَوْنَ وَفِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿٢٥﴾
ژوند تیروئ او پدے کښ به مړۀ کیږئ او ددے نه به راویستلے کیږئ۔

تفسیر: الله د آدم علیه السلام او حواء رضی الله عنها دعا قبوله کړه او هغوی ئے معاف کړل لیکن

هغوی ته ئے ووئیل چه د ګناه کولو نه روستو به اُوس په جنت کښ ستاسو دپاره ځای نهٔ وی۔ ابلیس د سجدے نه انکار وکړو، او تاسو دواړو د منع شوے ونے په خوړلو سره د الله نافرمانی وکړه، پدے وجه اُوس به ستاسو دپاره ځای زمکه وی، او تر دنیا پاتے کیدو پورے به تاسو او ستاسو اولاد او د ابلیس او د هغه د اولادو ترمینځ دشمنی روانه وی۔ تاسو ټول به په زمکه کښ وسیږئ او د دنیا د عارضی نعمتونو نه به تر مرګ راتلو پورے فائدے اخلئ، هلته به ژوندی کیږئ او هم هلته به مرئ او د قیامت په ورځ به هم د هغه ځای نه راپورته کیږئ۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه مفسرینو د غیر معتمد اسرائیلی روایاتو نه فائده اخستو سره هغه ځایونه ذکر کړیدی کوم ځای چه آدم ؑ، او حواء رضی الله عنها او ابلیس هر یو په زمکه کښ راکوز شوی وو، که د هغے په ذکر کولو کښ څه فائده وے نو الله به په خپل کتاب کښ یا رسول الله ﷺ به ضرور هغه ذکر کړی وے۔

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ
اے اولاد د آدم! یقیناً رالیږلے ده مونږ تاسو له جامه پټوی عورتونه ستاسو
وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ
او جامه د ډول، او جامه د تقویٰ دا ډیره غوره ده، دا د نعمتونو د الله نه دی
لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾
دے دپاره چه دوی نصیحت واخلی۔

تفسیر : پدے مخکنی تاریخ باندے څلور تفریعات بیانیږی چه دا د مخکنئ واقعے نه فائدے راویستل دی، اول دا چه الله تعالیٰ ستاسو دپاره په دنیا کښ د عورت پټولو دپاره او د زینت او ډول کولو دپاره لباس پیدا کړو پس د هغے نه چه د جنت لباس ئے ترے واخستو نو ددے نعمت تقاضا دا ده چه بندګان ددے په ذریعه خپل ځانونه پټ کړی لیکن مشرکان راولګیدل او د شیطان په لاره روان شو چه ځانونه ئے بربنډ کړل۔

اَنْزَلْنَا : اِنزال دلته په معنیٰ د خلق (پیدا کولو) دے، لیکن انزال لفظ ئے ورله پدے وجه استعمال کړو چه په آسمانی تدبیر سره پیدا کیږی لکه باران ورول او په هغے سره بوټی راویستل او په دغه بوټو کښ د پنبی بوټی او وریښم او ربړ وغیره پیدا کیدل۔ لکه دغه

شان لفظ په سورة الحدید (۲۵) آیت ﴿وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ﴾ او سورة الزمر (٦) آیت کښې ﴿وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ﴾ راغلے دے۔

وَرِيشًا : لباس په دوه قسمه دے، یو هغه دے چه صرف عورت پرے پټیږی او ددے نه چه سوئ وی نو هغه د زینت (ډول) دپاره دے هغے ته ریش وائی۔ لکه ټوپئ، پټکے، رومال وغیره۔ او دا د لباس دوه فائدو ته هم اشاره ده چه هغه عورت پټول او د بدن نوره حصه پټول دی۔

ریش : دا په اصل کښې د ریش الطائر نه اخستے شویدے یعنی د مارغه بنړے۔ او د مارغه دپاره بنړکے زینت دے پدے وجه دا په معنیٰ د زینت سره استعمالیږی۔ جو هريٌ وائی : ریش او ریاش فاخر (غوره) لباس ته وائی۔ ریش کله مال ته هم وائی۔ (ابن عباسؓ، مجاهدؒ)۔

او ریش کله مصدر هم استعمالیږی (ابن جریرؒ) یعنی دپاره د زینت۔

صاحب المنارؒ وائی چه زمونږ په نیز غوره دا ده چه د ریش نه مراد لباس الحاجة (چه د یخنئ او گرمئ نه حفاظت راولی) او لباس د زینت دے ځکه چه دا د لباس الستر سره یو ځای ذکر شویدے۔ (المنار۸/۳۱۹)

وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ : دا د قرآن طریقه ده چه کله د دنیا خبره بیانه کړی نو زر آخرت طرفته ترغیب ورکوی، نو مخکښې لباسونه ذکر شو نو کیدے شی چه د بندګانو ذهن هغے طرفته زیات متوجه شی نو اُوس ئے د آخرت والا لباس ته متوجه کوی۔

لباس التقویٰ : ددے نه مراد ایمان او عمل صالح دے۔

نو لباسونه دوه قسمه دی، یو ظاهری دی، ددے استعمال هم ضروری دے دپاره د عورت پټ ساتلو، او دغه شان ایمان او عمل صالح او د شرکیاتو او ګناهونو نه ځان ساتلو لباس هم ضروری دے، او په مشرکانو کښې دا دواړه لباسونه نۀ وو نۀ ظاهری، او نۀ باطنی۔

بیا ئے د تقویٰ لباس ته زیات غوره ووئیلو ځکه چه دا د انسان سره همیشه وی، نۀ زړیږی او نۀ شوکیږی او دا د زړه او د روح جمال دے او په ظاهری لباس کښې صرف د عورت پټولو او کله د زینت حاصلولو فائده وی نۀ بل څه۔ دارنګه که ظاهری لباس نۀ وی نو صرف عورت به ښکاره شی نو د ضرورت په وخت کښې دا ضرر نۀ رسوی او که د تقویٰ لباس نشو نو باطنی عورت به ښکاره شی چه بنده به د شرم او رسوائی سره مخامخ شی۔
(تفسیر السعدی ۱/ ۲۸۵)

لباس التقویٰ څه شے دے ؟

د لباس التقویٰ مفسرینو ډیر مصداقات ذکر کړیدی د فائدے دپاره ذکر کولے شي :

(۱) مخکښې ایمان او عمل صالح ذکر شو۔ (۲) اَلسَّمْتُ الْحَسَن (عثمان بن عفان ﷺ)
چه د بنده ناسته پاسته ښائسته او د وقار وي، د دین مطابق وي۔

(۳) الحیاء۔ ځکه چه دا د تقویٰ باعث ده۔ (الحسنؒ)

(٤) د وړئ او زیړه جامه اچول ځکه چه پدے کښې عاجزي زیاته ده۔ (فتح القدیر)
لیکن دا قول د ټولونه ضعیف دے ځکه چه دا شر لباس دے او د شهوت او مذموم شهرت لباس دے۔ (المنار)۔

(٤) د الله نه یره۔ (عروه بن الزبیرؒ)

یعنی چه د بنده هر وخت په زړه باندے د الله یره طاري وي۔

(٦) العفاف۔ (پاکدامني)۔ (کلبیؒ)

یعنی لباس د تقویٰ باندے عمل کول غوره دي د هغه لباس نه چه کوم د ډول دپاره وي۔

(۷) ابن الانباریؒ وائي : لباس التقویٰ دغه مخکنے لباس دے لیکن دوباره ئے ذکر کړو پدے کښې دا تنبیه ده چه عورت پټ ساتل د بربنډوالي نه په طواف کښې بهتر دي۔ (ابن کثیرؒ، بغویؒ، فتح القدیر) علامه شوکانیؒ وائي : غوره دا ده چه د لباس د تقویٰ نه مراد د وَرَع او د ګناهونو نه د ځان ساتلو لباس دے نو پدے کښې ټول هغه څه داخلیږي چه په هغے کښې تقویٰ وي نو دا ټولو اقوالو ته شامل شو۔

ذٰلِكَ : دلته ئے اسم اشاره د (هُوَ) ضمیر په ځای کیخوده، اشاره ده تاکید د مضمون ته۔

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ
اے اولاد د آدم ! ګمراه دِے نهٔ کړي تاسو لره شیطان لکه چه راویستل مور او پلار ستاسو
مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ
د جنت نه، ویستل ئے د دوی نه جامه د دوی دے دپاره چه وښائي دوی ته عورتونه د دوی
اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ
یقیناً شان دا دے چهویني تاسو لره دے او ددهٔ قبیله د هغه ځای نه چه نهٔ وینئ تاسو دوی لره

اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾
یقیناً مونږ ګرځولي دي شیطانان دوستان د هغه کسانو چه ایمان نۀ راوړي۔

تفسیر: دا بله تفریع ده او مقصد پکښ دا دے چه دوی دوباره د شیطان لعین د شر نه ویروی، او د هغه په سازشونو کښ د ګرفتاریدو نه یره ورکړي چه دوی د جنت نه محروم نکړي لکه د دوی مور او پلار ئے د جنت نه د تکلیف او مشقت والا کور ته راویستلي دي او د هغه د تابعدارئ نه ئے منع کړي۔

لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ : د شیطان فتنه کښ اچول دا دي چه ګناهونه ښائسته ښکاره کړي او هغے ته دعوت او ترغیب ورکړي۔ (السعدیؒ) یا دا چه انسان ګمراه کړي او د دین نه ئے واړوي۔ (القرطبیؒ) یا دربانديے په طواف کښ لباسونه حرام کړي۔

مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ : حیث لفظ ذکر کولو سره دا سوال ختمیږي چه شیطانان خو په بعض اوقاتو کښ لیدلے کیږي؟ نو جواب دا دے چه په هغه حیثیت سره ئے بندګان نشي لیدلے په کوم حیثیت سره چه دوی پیدا شویدي او کله چه خپل شکل بدل کړي لکه د مار، لړم، یا بل حیوان شکل اختیار کړي نو بیا ئے انسان لیدلے شي، خو په خپل اصلي شکل ئے نشي لیدلے۔نو دا آیت د هغه احادیثو او آثارو خلاف نۀ دے چه په هغے کښ دا دي چه رسول الله ﷺ په مسجد کښ د شیطان د تړلو اراده وکړه لیکن د حکمة دپاره ئے پریخودو، ابو هریره رضی الله عنه نه ئے غلا کړیده، ابی بن کعبؓ ورسره ځملکولے کړیدي او رسول الله ﷺ د یو صحابي نه د کوترې په شکل په دم سره ویستلے دے۔ ډیر ظالمان ددے تولو احادیثو نه انکار کوي او دا وائي چه دا د قرآن خلاف دي حال دا چه دوی په قرآن نۀ پوهیږي، په خپلو دماغو باندے د قرآن غلط تفسیر کوي۔ او دا حکم د ملائکو هم دے چه شکل بدل کړي نو بیا لیدلے شي۔

او پدے خبر کښ څه فائده ده چه الله تعالیٰ فرمائي چه ابلیس او د هغه لښکر تاسو ویني او تاسو هغه نۀ وینئ؟۔ نو پدے کښ مقصود انسانانو ته دا خبره رایادول دي چه ستاسو د داسے دشمن سره واسطه راغلے ده چه هغه نۀ لیدلے کیږي۔ او داسے دشمن ډیر خطرناك وي۔ او د هغه نه بچ کیدل مشکل کار وي۔

مالك بن دینارؒ به وئیل چه داسے دشمن چه په نظر نۀ راځي او تاسو هغه نۀ وینئ ډیر سخت دشمن دے۔ او د هغه نه خلاصیدل ډیر مشکل کار دے۔ د هغه د شر نه هغه څوك

بچ کیدے شی چه الله ئے بچ کړی۔ (بغویؒ)
قَبِيْلُهٗ : ددے نه مراد لښکرے دی، ابن عباسؓ وائی : اولاد د هغه،
قتادهؒ وائی : الجن والشياطين۔ (بغویؒ) (جنات او شیطانان)۔
اَوْلِيَآءَ : یعنی الله تعالیٰ شیطانان د کافرانو دوستان جوړوی او په هغوی باندے ئے مسلط کوی چه د هغوی د زړونو نه د ایمان رڼړا راکاږی او د شر او فساد لاره ورته پرانیزی او د نیکانو نه ئے وړاندے کوی۔

وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا
او کله چه وکړی دوی بدکار وائی دوی موندلی دی پدے باندے پلاران خپل
وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ط قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ط
او الله تعالیٰ حکم کړیدے مونږ ته پدے، ته ووایه یقیناً الله حکم نهٔ کوی په بد کار
اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾
آیا وایئ تاسو په الله باندے هغه څه چه پرے نهٔ پو هیږئ۔

تفسیر: اُوس د شیطان د فتنے په عربو مشرکانو کښ یوه نمونه ذکر کوی چه مشرکانو (سړو او ښځو) به د بیت الله طواف په بربنډه کولو، نو که یو عزتمند سړے به د بهر نه راغلو، هغه به په بربنډه طواف کښ شرم محسوسولو نو هغه به په جامو کښ طواف وکړو، بیا به ئے دغه جامه صدقه کړه او دا صدقه په هغه واجبه وه د هغوی د رواج مطابق، یا به ئے داسے وکړل چه خپلے جامے به ئے ویستلے او یو قریشی ته به ئے ووئیل چه ته ما ته یوه جامه په هدیه کښ راکړه، هغه به ورله اکرام وکړو (څکه چه دوی پیران او بزرګان وو د دوی په جامه کښ طواف کیدو- دا شیطانی فریبونه وو) او زنانو به د شپے په بربنډه طواف کولو او په عورت به ئے لاس کیخودو او دا به ئے وئیل :

اَلْيَوْمَ يَبْدُوْ كُلُّهٗ اَوْ بَعْضُهٗ	❁	وَمَا بَدٰى مِنْهُ فَلَا اُحِلُّهٗ

نن به ټول اندام ښکاره کیږی یا بعض اندام او کوم چه ښکاره شو نو هغه زهٔ چا ته نهٔ حلالوم۔
دا عملونه ورته شیطان ښائسته کړی وو چه مونږ پدے جامو کښ ګناهونه کړیدی نو حرم کښ به ددے سره نهٔ ګرځو، حال دا چه زړونه ئے د شرکی ګندونو نه ډك وو۔ او شیطان

یو په شرك او بل په بدن ښکاره کولو (بی حیائی) ډیر خوشحالیږی. او دا دواړه ځیزونه زمونږ پدې زمانه کښ د سیلاب په شان راروان دی.
فَاحِشَةً: د فاحشے نه مراد یو په بربنډه طواف دے، او بل د الله په عبادت کښ نور خلك شریکول او نور لوی لوی گناهونه دی. ددے تهولو نسبت به ئے پلارانو ته کولو او د هغوی په تقلید کښ به ئے دا کارونه کول. او په الله به ئے دا دروغ وئیل چه الله مونږ ته ددے حکم کړیدے.
یا مطلب دا دے چه د پلار نیکه تابعداری کول دا بعینه د الله حکم دے ځکه چه هغوی خو د الله دشمنان نهٔ وو.
اَمَرَنَا بِهَا : د دوی شبهه دا هم وه چه که الله تعالیٰ ته دا اعمال خوښ نهٔ وے نو هغه به زمونږ د زړونو نه ددے رغبت او مینه ویستلے وے. د مشرکانو دا دواړه دلیلونه صحیح نهٔ وو، ځکه چه اولنے دلیل د جاهلانو تقلید دے، او تقلید هیڅ کله د علم ذریعه نهٔ وی.
دارنگه د مشرانو په یو قبیح کار باندے روانیدل خو دوی ته د هغے کول نهٔ جائز کوی.
او دویم دلیل په الله تعالیٰ باندے افتراء او دروغ تړل دی، پدے وجه الله ددے رد وکړو او وے فرمایل چه الله کله هم د گناه او بدے خبرے حکم نهٔ کوی، هغه خو د ښائسته اخلاقو او کارونو حکم کوی، او هغه خو د انبیاؤ علیهم السلام او آسمانی کتابونو په تابعداریٔ حکم کړیدے. (قاسمیؒ)
امام شوکانی رحمه الله لیکلی دی چه پدے آیتِ کریمه کښ ډیر لوی زجر او رټنه ده هغه خلقو ته چه حقه لاره پریدی او د خپلو پلارانو نیکونو تقلید کوی، ځکه چه دا د حق پرستو په ځای د کافرانو اتباع ده. کافرانو به وئیل : ﴿ اِنَّا وَجَدْنَا آبَاءَ نَا عَلٰی اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰی آثَارِهِمْ مُهْتَدُوْنَ ﴾ (یقیناً مونږ خپل پلاران نیکونه په یوه طریقه موندلی وو او مونږ به د هغوی په نقش قدم روان یو. (الزخرف : ۲۲) . او دا به ئے هم وئیل : ﴿ وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَائَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ﴾ . مونږ خپل پلاران نیکونهٔ پدے لاره موندلی دی، او الله مونږ ته پدے باندے د روانیدو حکم کړیدے. (الاعراف : ۲۸). که مقلد په باطل گمان کښ مبتلا نهٔ وے چه زمونږ پلاران پدے روان وو او الله ددے حکم کړیدے، نو هغوی به په تقلید همیشوالے نهٔ کولے. او ددے بد خصلت د وجه نه یهودی په خپل یهودیت او نصرانی په خپل نصرانیت او بدعتی په خپل بدعت مضبوط ولاړ وی. دے نه روستو ئے لیکلی چه ددے نه لوئی د دین نه غفلت او د حق نه اعراض کوم کیدے شی چه دا مقلدین د الله د کتاب او د رسول الله ﷺ د

سنت د موجودیدو سره د خلقو د اقوالو او آراؤ اتباع کوی او سره ددے نه چه عقل او د پوهے آله ورسره ده۔ (فتح القدیر للشوکانی ۲۷/۳)

قُلْ اَمَرَ رَبِّىْ بِالْقِسْطِ قف وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ
تهٔ ووایه ! حکم کریدے رب زما په انصاف سره او برابر کرئ مخونه خپل خواته د هر
مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ط كَمَا
مسجد او دعاگانے غواړئ د هغه نه خالص کونکی هغه له د بلنے لکه څنگه ئے
بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَرِيْقًا هَدٰى
چه اول پیدا کری یئ تاسو دوباره به واپس کیږئ تاسو۔ یو ډلے ته ئے هدایت کریدے
وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ط اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ
او بله ډله ثابته شویده په هغوی باندے گمراهی، یقیناً دوی نیولی دی شیطانان
اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾
دوستان سوئ د الله نه او گمان کوی دوی چه بیشکه دوی هدایت والا دی۔

تفسیر : دا دریم دلیل دے په رد د مشرکانو کښ چه الله ددے څیزونو حکم کریدے نو ددے تابعداری وکړئ۔

بِالْقِسْطِ : قسط په اصل کښ حقدار ته د هغه مناسب برخه ورکول دی نو دا جامعه کلمه ده، توحید ته هم وائی (ابن عباسؓ) او په ټولو کارونو کښ عدل کولو ته هم شامل دے۔ نو شرك او ظلم بی عدلی ده۔

ابو مسلمؒ وائی : (جَمِيْعُ الطَّاعَات) ټول عبادتونه۔ (قاسمیؒ)

او د حافظ ابن کثیر رحمه الله په نیز د ((قِسط)) نه مراد د انبیاء کرامو علیهم السلام اتباع او د هغوی د شریعتونو پابندی ده۔

وَاَقِيْمُوْا : دا بل امر دے۔ یعنی هغه ددے خبرے حکم کوی چه بنده هرکله او هر ځای چه مونځ کوی نو د هغه د رضا دپاره ئے وکړی، او د هغه مخ قبلے طرف ته وی،

عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ : ۱– یعنی الله ته په هر مسجد کښ مخونه متوجه کړئ۔ یعنی هر مسجد کښ د الله بندگی وکړئ۔ ۲– یا مسجد په معنیٰ د سجدے سره دے اَیْ اَخْلِصُوْا

وُجُوْهَكُمْ فِيْ كُلِّ سَجْدَةٍ۔ (يعنى خالص كړئ مخونه خپل په هره سجده كښې۔ (دا تاويلى تفسير دے)

٣- قاسمىؒ وائى : مسجد يا مصدر ميمى دے او وقت لفظ پټ دے او عند په معنىٰ د فِيْ دے [اَىْ أَقِيْمُوْا ذَوَاتَكُمْ فِيْ كُلِّ وَقْتِ سُجُوْدٍ] يعنى خپل ځانونه د الله دپاره د هرے سجدے په وخت كښې برابر كړئ يا په منع كولو د مخونو سره د التفات او توجه د غير نه، او لحاظ ساتلو د موافقت د امر او رشتينى نيت سره، يا په هغے كښې قبلے ته متوجه شئ۔

٤- يا دا اسم زمان او مكان دے په معنىٰ لغوى سره يعنى فِيْ كُلِّ وَقْتِ سُجُوْدٍ اَوْ مَكَانِهٖ۔ يعنى مخونه برابر كړئ الله ته په هر ځاى د سجدے يا وخت د سجده كښې۔ او د سجدے نه مراد مونځ دے۔ يا معلوم مسجد مراد دے او معنىٰ به دا وى چه په كوم مسجد كښې تاسو ته مونځ حاضر شو نو هلته ئے وكړئ او مه ئے روستو كوئ دے ته چه تاسو خپل مسجدونو ته واپس شئ۔ ليكن دا بعيد دے۔ (محاسن التاويل وفتح القدير)

وَّادْعُوْهُ : دا رد د شرك فى الدعاء دے۔

مُخْلِصِيْنَ : اخلاص دا دے چه په هغے كښې شرك ونكړے شى۔

كَمَا بَدَأَكُمْ : دا تخويف دے او د مخكنى امرونو د عملى كولو دپاره علت دے۔

كَمَا بَدَأَكُمْ : يعنى په هغه كيفيت به الله ته واپس كيږئ څنګه چه اول كښې ئے پيدا كړى وئ چه بربنډ، نا سنته، خپے ايبله لكه دا په حديث كښې راغلى دى۔

يا ددے نه مراد دا دے چه د دنيا په ژوند كښې ځوك هدايت والا وو او ځوك د ګمراهئ والا وو او دغه شان د مور په خيټه كښې شقى او سعيد وو نو په دغه طريقه به آخرت ته هم راځى۔ لكه روستو آيت پرے دليل دے۔ او ددے سره هغه حديث د صحيحينو منافات نۀ لرى چه هر ماشوم په فطرت پيدا كيږى ځكه چه د هغے مطلب دا دے چه د هر ماشوم په فطرت كښې اسلام شته ليكن روستو ورله مور او پلار او غلطه معاشره فطرت خراب كړى نو پدے وجه بعض مؤمن شى او بعض كافر لكه الله تعالىٰ فرمايلى دى: ﴿هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ﴾ (هغه الله تاسو پيدا كړى يئ پس ستاسو نه ځوك كافر دے او ځوك مؤمن)۔ (التغابن : ٢)۔

دغه شان د قيامت په ورځ به دوى مؤمنان او كافران راپورته كوى۔

پدے وجه الله تعالىٰ دے نه روستو وفرمايل : ﴿فَرِيْقًا هَدٰى وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ﴾ (الله يوے ډلے ته هدايت كړے او د بلے ډلے په قسمت كښې ګمراهى راغلے ده)۔

دے نه روستو الله ددے علت بیان کړو او وے فرمایل چه دا پدے وجه وشو چه دوی د الله په ځای شیطانانو لره خپل مشران او مددګاران جوړ کړی وو او ګمان ئے کولو چه دوی په حق دی۔

فَرِيْقًا : دا حال دے د تَعُوْدُوْنَ د ضمیر نه یا د ضمیر د بَدَأَكُمْ نه او مطلب ئے مخکښ بیان شو۔

هَدٰى : یعنی الله ورته هدایت کړیدے۔

اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا : دا علت د روستو ډلے دے یعنی د ګمراهئ سبب تقدیر نهٔ دے بلکه دوی د شیطانانو تابعداری کړیده او په خپله خوښه ئے ګمراهی اختیار کړیده۔ لکه چه مخکښ بیان شو۔

اَوْلِيَآءَ : د ولایت نه مراد دا نهٔ دے چه دوی شیطان سره دوستی کوی او هغه ښه ګڼړی بلکه د ولایت نه مراد طاعت دے۔

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ : دا رد دے په هر مشرك او بدعتی باندے چه خپل شرك او بدعت ته ښه وائی او ځان په هدایت ګڼړی۔

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا
اے بنیادمانو ! ونیسئ ډول خپل په نیز د هر جمات او خورئ او څکئ
وَلَا تُسْرِفُوْا ج اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾
او اسراف مهٔ کوئ، یقیناً الله مینه نکوی د اسراف کونکو سره۔

تفسیر : دا دریم خطاب او تفریع ده او پدے کښ د دوی په نورو بدعاتو باندے رد دے، یو خو په برېنډه طواف کول وو، او بل بدعت دا وو چه دوی به کله د حج دپاره احرام وتړلو نو ډیر لږ خوراك به ئے کولو (قُوْتَ مَا لَا يَمُوْتُ) چه ایله د مرګ نه به پرے بچ وو، او بعضو به غوړی او غوښه او بعضو به د چیلو پئ په ځان حرام کړی وو او دا به ئے وئیل چه مونږ د الله میلمانه یو، نو د ځان نه بزرګی ئے شروع کړے وه نو الله پرے رد کوی، چه دا څه نیکی او د تقویٰ خبره نهٔ ده، بلکه د الله ورکړی لباس په وجه خپل ځانونه الله ته ښائسته کړئ دے دپاره چه د الله د نعمت اثر په تاسو ولیدلے شی او د الله خوراکی نعمتونه استعمال کړئ۔

خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ : د زینت نه مراد جامے دی، ددے وجه نه په مانځه کښ دومره لباس

اغوستل چه عورت او اُوګے پرے پټې کړی فرض دی۔ او ددے آیت او ددے په معنیٰ د احادیثو د نظره د مانځه په وخت کښ ښائسته لباس او پاك صفا لباس اغوستل مستحب دی، په نسبت ددے چه د کار یا د شپے په جامو کښ مونځ کوی او ځان ترینه خلاصوی، خاصکر چه د جُمعے او د اختر ورځ وی۔ او خوشبوئی لګول ځکه چه دا په زینت کښ داخل دی، او مسواك کول ځکه چه دا د زینت تکمیل دے او د ټولو نه افضل سپین لباس دے، لکه چه په صحیح احادیثو کښ راغلی دی۔

وَّ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا : یعنی دا حلال ګڼړئ۔

وَلَا تُسۡرِفُوۡا : اسراف د حد نه تجاوز ته وائی او ددے ډیر صورتونه دی :

(۱) حلال حرام کړی، لکه مشرکانو دغه کار کړے وو۔

(۲) یا د حلال نه تجاوز کولو سره حرام هم وخوری۔ (۳) یا د حلال او حرام تمییز کولو نه بغیر په حرص سره هغه وخوری۔ (٤) په غیر د اشتهاء نه خوراك وکړی۔

(٥) یا دومره کمه وخوری چه په هغے سره جسمانی صحت او د عمل قوت کمزورے شی۔

(٦) یا مُضر صحت څیزونه وخوری۔

(۷) یا په خوراك څکاك کښ فضول خرچی کول هم پدے کښ داخلیږی، اسراف دے ټول څیزونو ته شاملیږی، پدے وجه د بعض سلفو نه نقل دی چه [جَمَعَ اللّٰهُ الطِّبَّ كُلَّهٗ فِيۡ نِصۡفِ اٰيَةٍ] الله ټول طب (ډاکټری) په نیم آیت کښ راجمع کړیده۔ که پدے آیت باندے عمل وشو، انسان به د ډیرو بیماریانو نه خلاص شی۔ لکه دے باره کښ قصه واوره۔

عجیبه قصه

د هارون الرشید یو نصرانی طبیب وو، هغه زین العابدین علی بن الحسینؓ ته ووئیل چه ستاسو په کتاب (قرآن) کښ د علم طب هیڅ خبره نشته، حال دا چه عِلمونه دوه قسمه دی، علم الادیان، او علم الابدان نو زین العابدین ورته ووئیل چه الله تعالیٰ ټول طب د قرآن کریم په نیم آیت کښ راجمع کړیدے۔ هغه تپوس وکړو هغه کوم آیت دے؟ نو هغه وفرمایل : الله فرمائی :﴿ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا وَلَا تُسۡرِفُوۡا ﴾

(خورئ او څکئ او د حد نه تجاوز مهٔ کوئ)۔

په مره ختیه خوراك نه ډیرے بیماریانی پیدا کیږی۔ نبی کریم ﷺ فرمایلی دی : [مَا مَلَأَ اٰدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنۡ بَطۡنِهٖ، حَسۡبُ ابۡنِ اٰدَمَ اُكُلَاتٍ يُقِمۡنَ صُلۡبَهٗ، فَاِنۡ كَانَ فَاعِلًا لَامَحَالَةَ فَثُلُثٌ

طَعَامٌ وَثُلُثٌ شَرَابٌ وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ] چه بنده د خپلې خيټې نه زيات بد لوښے بل نۀ ډکوی، د بنده دپاره يو څو نوړئ کافی دی چه د هغه ملا نيغه وساتی، او که خامخا ډير خوراك كونكے وی نو يوه حصه د خوراك دپاره او يوه د اُوبو څكلو دپاره او يوه حصه د ساه دپاره (پكار ده)۔ (مسند احمد، ۱۷۲۲۵ نسائی: ٦٧٣٧) بسند صحيح)۔

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ
ووايه ! چا حرام كړيدے ډول د الله هغه چه راويستلے ئے دے بندګانو خپلو له
وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ؕ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ
او پاك څيزونه د رزق، ووايه ! دا دپاره د هغه كسانو دی چه ايمان ئے راوړيدے په ژوند
الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ
دنيوی کښ، يواځے به وی (دوی لره) په ورځ د قيامت۔ دغسے
نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳۲﴾
په تفصيل سره بيانوو مونږ آيتونه دپاره د هغه قوم چه پو هيږی۔

تفسير: پدے آيتِ كريمه كښ په هغه مشركانو رد دے چه د خپل نفس د خواهش مطابق د لباس او د خوراك څكاك څيزونه حلال او حرام جوړوی۔

ابن ابی حاتمؒ او طبرانیؒ وغيره د ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے چه قريشو به په بربنډه د بيت الله طواف كولو او شپيلی او لاسونه به ئے تقول، نو دا آيت نازل شو، او مسلمانانو ته د لباس اغوستلو حكم وشو۔

مَنْ حَرَّمَ : يعنی حرامونكے خو الله دے نو بل څوك راغلو چه هغه دا څيزونه حرام وګرځول، نو پدے كښ سخته زورنه ده هغه كسانو ته چه د ځان نه حلال حرام جوړوی۔

د (زينة) نه مراد هر هغه مباح شے دے چه انسان ئے د ښائست دپاره استعمالوی۔ او د (طيبات) نه مراد د خوراك څكاك هر هغه شے دے چه الله بندګانو دپاره مباح كړيدے۔

ابن جرير طبریؒ ليكلی دی چه چا د مالوچو او كتان لباس پريخوده او د وړينتو او د وړئ لباس ئے اختيار كړو نو هغه ډيره لويه غلطی وكړه، او چا چه د غنمو روټئ پريخوده او سبزيانے او دال ئے شروع كړل او چا چه د شهوت د يرے د وجه نه غوښه خوړل پريخودل دۀ

ډیره غټه غلطي وکړه، آه۔ یعني دا هیڅ بزرګي نۀ ده بلکه بې ځایه تصوف دے۔

لِعِبَادِهٖ : یعني دا لباسونه او خوراکونه خو الله ددے دپاره پیدا کړیدي چه بندګان ترے فائده واخلي او د هغه بندګي پرے وکړي۔

مهایميؒ وائي چه مشرکانو دغه څیزونه د عبادت منافي ګڼړل نو الله په هغوی رد وکړو چه دا خو د عبادت دپاره دي۔ (قاسميؒ)

قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : نو پدے اعتبار سره د دنیا ټول نعمتونه په اصل کښ د مؤمنانو او فرمانبردارو دپاره پیدا شویدي، البته کافران هم ددے نه نۀ دي منع کړے شوي، هغوی هم په خپلو اعمالو او تدبیرونو سره دنیوي فائدے حاصلوي، بلکه کله چه مؤمنان په قوتِ ایماني او تقویٰ کښ کمزوري شو نو په دنیاوي څیزونو باندے دا کافران غاصبان په خپل کوششونو سره زیات کامیاب معلومیږي، یا خو دا د کافرانو د بد اعمالو نتیجه هم ده چه الله ورته فراخي ورکوي او بیا ئے سخت راګیروي او پدے کښ مؤمنانو ته تنبیه او توبیخ دے۔ او هرچه د آخرت نعمتونه دي نو هغه خالص د ایمان والو برخه ده۔

نو ایمان دومره ښه شے دے چه د دنیا نعمتونه هم پرے ملاویږي او د آخرت هم۔ او ددے برعکس د کفر سپیرۀ والے دے۔

خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ : ددے دویم مطلب ځینو دا بیان کړیدے چه دنیاوي نعمتونه خالص نۀ دي ځکه ددے سره ډیر غمونه او فکرونه او تکلیفونه برداشت کیږي او د آخرت نعمتونه د هر قسم تکلیفونو نه خالي دي۔

خَالِصَةً : دا منصوب دے په [يُخْلِصُ اللّٰهُ] فعل سره۔ یعني الله به ئے خالص ورکوي مؤمنانو ته په قیامت کښ۔ یا حال دے د (هِيَ) مبتداء نه۔ اَیْ هِيَ لَهُمُ الْآنَ حَالَ كَوْنِهَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ) یعني دا نعمتونه د ایمان والو دپاره اُوس دي پداسے حال کښ چه په آخرت کښ به یو ائے د دوی وي۔ (التحریر ٧٤/٨)

يَّعْلَمُوْنَ : یعني دا د علم والا خبرے دي۔ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ فِي الْحِلِّ وَالْحُرْمَةِ۔ یعني پدے پوهیږي چه په حل او حرمت کښ د الله سره شریکان نشته۔

قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا
ووایه! یقیناً حرام کړیدي رب زما بے حیا کارونه هغه چه ښکاره دي ددے نه او هغه

بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللّٰهِ مَا

چه پټ دي او هره ګناه او ظلم په ناحقه او دا چه شريك تاسو د الله سره هغه څه چه

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

نۀ دے رالیږلے الله په هغے دلیل او دا چه جوړ کړئ په الله هغه څه چه تاسو پرے نۀ پو هیږئ.

تفسیر : آیتِ کریمه کښې اساسی محرمات او د بنیادی ګناهونو حرمت بیانوی.

د ((فواحش)) نه مراد هغه لوی ګناهونه دی چه د هغے تعلق د عورت سره وی، یا هغه چه د هغے فساد عقل والا ته ښکاره وی، لکه زنا، دروغ او نوره بی حیائی. او د ((اثم)) نه مراد هره ګناه ده. او د ((بغی)) نه مراد په خلقو ظلم او زیاتے دے، او په الله دروغ جوړول دا دی چه چا لره د هغه خوی جوړ کړے شی، یا په حلت او حرمت کښې د ځان نه جوړ شوی احکام الله طرف ته منسوب کړے شی.

یا اثم کښې د حقوق الله خلاف وی او په بغی کښې د حقوق العباد.

بِغَيْرِ الْحَقِّ : دا د زیات قباحت دپاره ذکر کیږی، یا احتراز دے د بغی بالحق نه چه هغه جهاد فی سبیل الله دے.

فائده : انسان چه کمال ته رسیږی نو په یو څو صفاتو (۱) اَلْعِفَّة، چه بنده کښې عفت (پاکدامنی) راشی. (۲) اَلْحِلْم. (صبر). (۳) اَلشَّجَاعَة. (بهادری). (٤) العلم، (٥) اَلْإِنْقِيَاد. (د الله حکمونو ته غاړه کیخودل)

نو فواحش د سړی نه عفت ختموی او الاثم انقیاد ختموی او بغی د انسان نه حِلم، او شرك شجاعت، او تقول علی الله علم لره ختموی. پدے وجه ددے پنځه څیزونو نه منع وشوه.

وَأَنْ تُشْرِكُوا : دا شرك اعتقادی ته اشاره ده او (أَنْ تَقُولُوا) کښې شرك فعلی د حلال او حرامو ته اشاره ده. او د تقول علی الله او افتراء بعض صورتونه په سورة الانعام آیت (۲۱) ص (۳۳) کښې ذکر شو.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ

او د هر امت دپاره یوه نیټه ده نو کله چه راشی نیټه د هغوی (نو عذاب به ورکړے شی)

لَا يَسْتَأْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٤﴾
نهٔ به شي روستو کيدے دوی یو ساعت او نهٔ به مخکښ کيدے شي۔

تفسیر: جواب د سوال دے چه هرکله چه دا خلك شرکونه او گناهونه کوی نو الله پرے عذاب ولے نهٔ راولی؟ جواب وشو چه الله تعالیٰ د هر قوم او د هرے زمانے وسیدونکو دپاره د مرگ او وفات کیدو یو وخت مقرر کړیدے کله چه هغه ساعت راشی نو هغه به هیڅوك نشی روستو کولے۔

سوال وجواب

سوال: کله چه اجل راشی نو روستو کیدل خو امکان لری لیکن مخکښ کیدل امکان نهٔ لری نو د هغے په نفی کولو کښ څه فائده ده؟

جواب ۱: د (اِذَا جَاءَ) جزا پټه ده (يُعَذَّبُوْنَ) یعنی کله چه نیټه راشی نو خلکو ته به په خپله نیټه سزا ورکولے شی۔ جواب ۲: وَلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ عطف دے په اذا جاء باندے۔

جواب ۳: دا عبارت په تشبیه حمل دے أَیْ لَايَسْتَأْخِرُوْنَ سَاعَةً كَمَا لَايَسْتَقْدِمُوْنَ ۔ نهٔ به شی روستو کیدے لکه څنگه چه نشی مخکښ کیدے۔

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ ۙ
اے اولاد د آدم! که راشی تاسو ته رسولان ستاسو نه بیانوی تاسو ته آیتونه زما
فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا
پس څوك چه د الله نه ویریدو او عمل ئے نیك کړو نو نهٔ به وی هیڅ یره په دوی او نهٔ به
هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا
دوی غمژن شی۔ او هغه کسان چه دروغژن گنړی آیتونه زمونږ او لوئی کوی
عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٦﴾
د هغے نه دا کسان اُور والا دی، دوی به په هغے کښ همیشه وی۔

تفسیر: دا بله تفریع ده چه اے انسانانو! تاسو خو دنیا ته راغلئ خو تاسو پسے به زما

كتابونه او رسولان راځي تردې چه دغه سلسله د نبوت په رسول الله ﷺ باندې ختمه شوه نو ځان بيرته د جنت مستحق كړئ۔

ځيني وائي دا خطاب دې دې امت ته او رُسُل ئې جمع راوړيده د عزت دپاره۔ ليكن ظاهر دا ده چه د سورة البقره (۳۸) آيت په شان دې ﴿فَاِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى﴾

مطلب دا دې چه الله تعالىٰ د ابتداء د پيدائش نه بنيادمانو ته خبر وركړيدې چه هغه به خپل انبياء او رسولان دوى ته راليږي چه د هغه آيتونه به دوى ته لولي، نو څوك چه د تقوىٰ او د اصلاح لاره اختياره كړي نو د قيامت په ورځ به په هغه نۀ يره وى او نۀ به غمژن شي او څوك چه د الله آيتونه دروغژن ګڼړي او د كبر او عناد نه كار اخلي نو د هغه ځاى به جهنم وى۔

اتَّقٰى : الشِّرْكَ وَمُخَالَفَةَ الرَّسُوْلِ ـ څوك چه د شرك او د رسولانو د مخالفت نه ځان بچ كړي۔

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ
پس څوك دې لوئى ظالم د هغه چا نه چه جوړوى په الله دروغ او دروغژن ګڼړي آيتونه د هغۀ
اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ ؕ حَتّٰٓى
دا كسان رسيږي به دوى ته حصه د دوى د ليكلے شوى (عمر او رزق) نه تردې
اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ قَالُوْٓا
چه كله راشي دوى ته استازى (ملائك) زمونږ وفات كوى دوى لره وائى به ورته
اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا
چرته دى هغه معبودان چه تاسو به رابلل سوىٰ د الله نه، وائى به دوى ورك شو زمونږ نه
وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾
او ګواهي به وكړي په خپلو ځانونو چه يقيناً دوى وو كافران۔

تفسير : څوك چه اتباع د مَا اُنْزِلَ نۀ كوى او د الله آيتونه دروغژن ګڼړي نو د هغوى دپاره د آخرت تفصيلي يرې او احوال بيانيږي چه د دوى نه لوئى ظالمان څوك نشته، ليكن ددې باوجود د دوى دپاره په دنيا كښې چه كوم عمر، روزى او د خير او شر اعمال ليكلے

شویدی، هغه به د الله د طرف نه ضرور مونده کوی، بیا کله چه دوی ته د مرگ وخت راشی او ملائك د دوی روحونه قبض کوی او جهنم ته ئې بوځی نو د زجر او توبیخ په توگه به ورته وائی چه چرته دی ستاسو هغه معبودان چه تاسو به ئې عبادت کولو، نن هغوی تاسو ددې عذاب د اُور نه ولې نهٔ بچ کوی؟ نو هغوی به جواب ورکړی چه هغه خو غائب شو، اُوس زمونږ د هغوی نه هیڅ امید نشته، او د خپل ځان په باره کښې به اقرار وکړی چه واقعی مونږ په دنیا کښې کافران وو۔ نو الله مشرك ته دعوت ورکوی چه په آخرت کښې به ځان ته کافر وائې راشه مخکښې نه د ځان غم وکړه۔

يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ الْكِتٰبِ : مَا كُتِبَ لَهُمْ مِنَ الْعُمُرِ وَالرِّزْقِ ۔ یعنی دوی له چه کوم عمر او رزق لیکلے شویدے هغه به ورته رسیږی۔ او دا مهٔ وایه چه یو تن کافر شو نو الله ئې سمدست ولې نهٔ هلاکوی؟ نهٔ بلکه الله ورله دنیا کښې چانس او موقعه ورکړیده۔

ضَلُّوا عَنَّا : دا دلیل دے چه مشرکان کومو معبودانو ته آوازونه کوی هغوی په هیڅ طریقه د مشرکانو سره مدد نشی کولے۔

كٰفِرِيْنَ : دوی الله منلو لیکن شرك ئې ورسره کولو نو معلومه شوه چه شرك كفر دے۔ او معلومه شوه چه دعا د غیر الله کفر دے۔

قَالَ ادْخُلُوا فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ
وبه وائی الله داخل شئ په هغه ډلو کښې چه تیر شویدی مخکښې ستاسو نه د پیریانو
وَالْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ؕ
او د انسانانو نه په اُور کښې، هرکله چه داخله شی یوه ډله لعنت به وائی په ملگرو خپلو
حَتّٰۤى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ
تردے چه کله یوځای شی دوی په هغې کښې ټول، وبه وائی روستنئ ډله (مریدان)
لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا
په باره د مخکنئ (پیرانو) کښې اے ربه زمونږ! دے کسانو گمراه کړی وو مونږ
فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ؕ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ
نو ورکړه دوی ته عذاب دوچنده د اُور نه، وبه وائی الله، د هر یو دپاره دوچنده عذاب دے

وَّلٰكِنۡ لَّا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَقَالَتۡ اُوۡلٰـهُمۡ لِاُخۡرٰهُمۡ فَمَا كَانَ
او ليكن نهٔ پو هيږئ تاسو۔ او وېه وائي مخكني خلق روستنو خلقو ته پس نشته
لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِنۡ فَضۡلٍ فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَكۡسِبُوۡنَ ﴿۳۹﴾
تاسو له په مونږ باندې څه فضيلت نو وڅكئ عذاب په سبب د هغې چه تاسو كول۔

تفسير : اُوس د برزخ او د قيامت سزاگانې بيانيږي۔

فِي النَّارِ : د ټولو كافرو پيريانو او انسانانو ارواح اُور ته (سجين) ته ځي۔

اُمَم جمع د اُمت ده، او دلته د تير شوو قومونو كافران مراد دي۔ كله هم چه يو قوم جهنم ته داخليږي نو په هغه خلقو به لعنت وائي كوم چه د دوی نه مخكښ جهنم كښ وي، او د دوی سره په شرك او كفر كښ مشابه وو۔ د (اُخۡتَهَا) نه مراد هغه ده چه په شرك او كفر كښ مشابه وي، او وائي به چه زمونږ د گمراهئ سبب خو همدا تاسو وئ۔ خپل مينځ كښ د لعنت او ردويدو او ملامته كولو نه روستو به بيا د مشرانو او كشرانو خپل مينځ كښ لعنتونه وي او د الله نه به د هغوی دپاره عذابونه طلب كول وي لكه داسې په سورة العنكبوت (۲۵) آيت كښ دي۔

په آيت كښ د «اُولٰى» نه مراد هغه كافران پيريان او انسانان دي چه خلقو په كفر او شرك كښ د هغوی تابعداري كوله، يعنې مشران او د «اُخرٰى» نه مراد د دوی منونكي (كشران) دي۔

كشران به ووائي چه اے الله ! دې خلكو مونږ گمراه كړي وو لهذا دوی ته دوچنده عذاب وركړه مگر الله به وفرمائي چه ستاسو ټولو دپاره دوچنده عذاب دے، ځكه چه تاسو ټول په شرك كښ شريك وئ۔ بيا په كفر او شرك كښ سرداران به خپلو منونكو ته وائي چه تاسو كفر او گمراهي نهٔ وه پريخې چه زمونږ په مقابله كښ ستاسو جرم نرم شي، تاسو هم دغسې گمراه شوي وئ لكه څنگه چه مونږه وو، پدې وجه زمونږ په شان تاسو هم د عذاب مستحق يئ او تاسو په مونږ باندې څه فضيلت نهٔ لرئ، نو د عملونو په بدله كښ د جهنم عذاب وڅكئ۔

ادَّارَكُوا : اَیۡ تَدَارَكُوا۔ او تدارك تلاحق يو بل پسې پيوسته كيدل او راجمع كيدل دي۔

ضِعۡفًا : دوچنده عذاب ځكه دے چه يو خپله گمراه وو او بل ئې نور خلك گمراه كړي وو

لکه حدیث کښې دي چه چا ګمراهۍ ته دعوت ورکړو نو په هغه باندې به خپله ګناه او د هغه چا د ګناه بوج وي چه ددهٔ تابعداري ئې کړې وي.

لِكُلٍّ ضِعْفٌ : تپوس ته ولې دوچنده سزا ورکړې کیږي؟ ځکه چه یو د کفر سزا او بل د معاصیو (ګناهونو) ده ځکه چه دوي ټول پدې کښې شریك وو اګرکه د جرم او د تابعدارو د زیاتوالي په اعتبار سره به د بعضو سزا کښې ډیروالې وي. (السعدیؒ)

یا د هر یو دپاره دوچنده عذاب ځکه دې چه هغه کافر وو او داعي وو او دا نورکافران او ضدیان دي.

وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ : أَيِ الْمَقَادِيْرَ وَصُوَرَ التَّضْعِيْفِ . تاسو ته اندازې او د دوچند والي صورتونه نهٔ دي معلوم، ځکه چه ځوك خپله په عذاب اخته وي هغه به د بل په عذاب څه پوهه شي. (المحرر الوجيز۳/۳٦)

ابن عاشورؒ وائي : پدې محاوره کښې د مسلمانانو مشرانو دپاره پوره نصیحت پروت دې چه دوي چرته خپل کشران په ګمراهۍ کښې ګوزار نکړي چه هغوي ته خپل خواهشات ښه ښکاره کړي او کشرانو ته نصیحت دې چه د هر چا د خواهش پسې روان نشي. (التحریر۸/٩٦)

مِنْ فَضْلٍ : یعنی هیڅ قسم غوره والې. ځکه چه تاسو هم کافران وئ او مونږ هم وو، نو عذاب به هم یو شان وي او دا دوي ته د لِكُلٍّ ضِعْفٌ نه معلومه شوه.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا
یقیناً هغه کسان چه دروغژن ئې ګنړلي آیتونه زمونږ او لوئي ئې کړېده د هغې نه
لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ
کولاوې به نهٔ شي دوي ته دروازې د آسمان او نهٔ به داخلیږي جنت ته تردې چه ننوزي
الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ لَهُمْ
اُوښ په سوري د ستنه کښې، او دغسې بدله ورکوو مونږ مجرمانو ته. دوي لره به
مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ؕ
د جهنم نه بسترې وي او دپاسه د دوي به پړستنې (د اُور) وي (یا به سرپندې وي)

وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الظّٰلِمِيۡنَ ﴿٤١﴾

او دغسې سزا وركوو مونږ ظالمانو ته.

تفسير : پدې آيتونو كښې د جهنميانو د جنت نه محروميدل بيانيږي او د دوى د روحونو بدحالى. وَاسۡتَكۡبَرُوۡا عَنۡهَا : يعنى د الله د آيتونو نه ځان لوى ګڼړي په هغې عمل نكوي، هغه نۀ نافذ كوي.

لَا تُفَتَّحُ: كافرانو ته به د آسمان دروازې نۀ كولاويږي، ددې يو څو مصداقه دى :

(١) اَىۡ لِاَرۡوَاحِهِمۡ. لكه دا تفسير په حديث كښې د براء بن عازبؓ كښې راغلې دې چه كله كافران مړۀ شي نو د دوى روحونو ته به د آسمان دروازې نۀ كولاويږي بلكه د هغه ځاى نه به ښكته راغورزولې شي. (ځكه چه دنيا كښې ئې روح الله طرفته نۀ تللو نو اُوس به څنګه لاړ شي) (تفسير ابن كثير) (مسند احمد : ١٨٥٥٧ باسناد صحيح)

(٢) لِاَعۡمَالِهِمۡ. بعضو وئيلي دى چه د دوى عملونو ته به دروازې كولاوې نشي. (ځكه چه په شرك او كفر او په مخالفت د رسول بناء وى).

(٣) او بعضو وئيلي دى چه د دوى دعاګانو ته، لكه چه د ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت شويدې چه نۀ ددوى نيك عمل آسمان طرف ته پورته كولې شي او نۀ د دوى دعاګانې.

(٤) خازنؒ وئيلي دى چه دا كنايه ده ددې نه چه (لَاخَيۡرَ وَلَا بَرَكَةَ لَهُمۡ) يعنى دوى كښې به هيڅ خير او بركت نۀ وى. دا ټول مصداقات صحيح دى.

حَتّٰى يَلِجَ الۡجَمَلُ : يعنى لكه څنګه چه د اُوښ د ستنې د سورى نه تيريدل محال دى، دغه شان د كافرانو جنت ته داخليدل محال دى. دا تعليق بالمحال دې د زيات تاكيد دپاره.

سَمِّ : سورى ته وائى، خياط او مخيط : ستنې ته وائى.

الۡمُجۡرِمِيۡنَ : يعنى جنس مجرمانو ته سزا وركوو چه جرم ئې كفر او شرك ته رسيدلې وى. مجرم هغې ته وائى چه د هغه جرم وصف لازم ګرځيدلې وى ځكه چه مؤمن زر پښيمانه كيږي او توبه وباسي. (المنار)

لَهُمۡ مِّنۡ جَهَنَّمَ مِهَادٌ : دا هم نور تخويف دې يعنى دوى به په كوم ميدان كښې نۀ وى ناست بلكه لاندې باندې به اُور وى.

مِهَادٌ : غوړيدلې بستره د اُور.

غَوَاشٍ : اَللِّحفُ مِنُ نِيُرَانٍ. د اُور بړستنے چه د بره به ئے پټ کړی وی۔(ابن عباسؓ- المنار)
غـواش : سربـندی ته هم وائی چه په يو تنور باندے سربندے کيخودے شی نو اُور پکښې رابند شی۔
نَـجُزِی الظّٰلِمِيُنَ : يعـنـی هغـه کسان چه ظلم د هغوی وصف لازم گرځيدلے وی او دا صـفـت د کافرو دے پدے وجه الله بل ځای فرمائی : [وَالُكَافِرُوُنَ هُمُ الظَّالِمُوُنَ] (البقره : ٢٥٤) (المنار) (کافران هم دوی ظالمان دی)۔

وَالَّذِيُنَ اٰمَنُوُا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ
او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے او عملونه ئے کړی نيك، تکليف نۀ ورکوو مونږ
نَفُسًا اِلَّا وُسُعَهَآ اُولٰٓئِكَ اَصُحٰبُ الُجَنَّةِ ج هُمُ فِيُهَا
هيڅ نفس ته مگر په اندازه د وس د هغه، دا کسان جنت والا دی، دوی به په هغے کښې
خٰلِدُوُنَ ﴿٤٢﴾ وَنَزَعُنَا مَا فِيُ صُدُوُرِهِمُ مِّنُ غِلٍّ تَجُرِيُ
هميشه وی۔ او وبه باسو مونږ هغه څه چه په سينو د دوی کښې وی د کينے نه، بهيږی به
مِنُ تَحُتِهِمُ الُاَنُهٰرُ ج وَقَالُوا الُحَمُدُ لِلّٰهِ
لاندے د دوی (د بنگلو) نه نهرونه او وائی به دوی صفتونه د کمال خاص الله لره دی
الَّذِيُ هَدٰنَا لِهٰذَا قف وَمَا كُنَّا لِنَهُتَدِيَ
هغه ذات دے چه راوے رسولو مونږه دے ځای ته، او نۀ وو مونږ چه رارسيدلی وے دے ته
لَوُلَآ اَنُ هَدٰنَا اللّٰهُ ج لَقَدُ جَآءَتُ رُسُلُ
که چرته نۀ وے رارسولی مونږ لره الله تعالیٰ، يقيناً راغلی وو رسولان
رَبِّنَا بِالُحَقِّ ط وَنُوُدُوُٓا اَنُ تِلُكُمُ الُجَنَّةُ
د رب زمونږ په حق سره، او آواز به وکړے شی چه دغه جنت دے
اُوُرِثُتُمُوُهَا بِمَا كُنُتُمُ تَعُمَلُوُنَ ﴿٤٣﴾
په ميراث کښې درکړے شو تاسو ته په سبب د هغے عملونو چه تاسو به کول۔

تفسیر : الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې بالعموم د جهنم او جهنمیانو ذکر نه روستو د جنت او د جنتیانو ذکر کوی، او همدا حال ددے په عکس هم وی۔ دلته هم د جهنمیانو نه روستو د جنتیانو ذکر راغلے دے۔

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ : دا جمله معترضه ده دپاره د دفع د سوال، چه په الله او د هغه په آیتونو ایمان راوړل او په ژوند کښې همیشه نیك عملونه کول خو به ډیر مشکل کار وی؟ نو الله جواب کوی چه دا مشکل نهٔ دی، ځکه چه د الله نظام دے چه هغه بندګانوته د هغوی د طاقت نه زیات نهٔ تکلیف نهٔ ورکوی۔ او پدے احکامو کښې دننه هم الله تعالیٰ اجازے ورکړیدی چه جهاد نشی کولے، حج ته نشی تللے نو لازم پرے نهٔ دے، خو منل ئے ضروری دی۔

او پدے کښې اشاره ده چه مؤمن دپاره ضروری ده چه خپل وس او طاقت به د جنت د حصول دپاره خرچ کوی

وَنَزَعْنَا : دا هم جواب د وَهُم دے چه جنتیان کله د یو بل اُوچتے درجے وینی نو کیدے شی چه په زړه کښې ئے غیر اختیاری او طبعی خفګان راشی؟ نو جواب وشو چه دا قسم غِل (یعنی کینه) به هم د دوی د زړونو نه وباسو او دا به هم د جنت د نعمتونو نه یو نعمت وی چه الله تعالیٰ به د جنتیانو د زړونو نه کینه او حسد او بغض او دشمنی بیخی وباسی، ځکه که هلته هم د دنیا په شان د دوی زړونه په خپل مینځ کښې صفا نهٔ وی نو د جنت نعمتونه نهٔ کامل کیږی۔ او جنتیان به د الله شکر ادا کوی او وائی به، اے الله! تا په مونږ احسان وکړو چه مونږ ته دِے د ایمان او عمل صالح توفیق راکړو چه د هغے په سبب نن مونږ د جنت د نعمتونو نه مزے اخلو۔

په حدیث د بخاری کښې دی «چه کله مؤمنان د اُور نه پورے وځی نو د جنت او د جهنم په مابین کښې به په یوه قنطره (پل) باندے ایسار شی نو خپل مینځ کښې به د یو بل نه د ظلمونو بدلے واخلی کوم چه دوی نه په دنیا کښې شوی وو حَتّٰى اِذَا هُذِّبُوْا وَنُقُّوْا اُذِنَ لَهُمْ فِيْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ) تردے چه پاك او ښه صفا شی نو دوی ته به د جنت د داخلیدو اجازه ورکړے شی۔ نو قسم په هغه الله چه زما نفس د هغه په لاس کښې دے یو تن ددوی نه به په جنت کښې خپل کور د دنیا د کور نه هم زیات پیژنی»۔ (صحیح بخاری: ۲٤٤٠)

هَدٰنَا لِهٰذَا : یعنی راوړے رسولو دے ځای ته (په سبب د ایمان او عمل صالح سره)۔ یا هدایت ئے کړے وو زمونږ ایمان او عمل صالح ته ددے ځای دپاره۔

لَوْلَآ اَنْ هَدٰنَا اللّٰهُ : دے نه معلومیږی چه هرکله هدایت د الله په اختیار کښې دے نو د هغه نه ئے غوښتل پکار دي۔

وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ : او ددے آواز په تفسیر کښې امام مسلمؒ د ابو سعید او ابو هریره رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((کله چه جنتیان جنت ته داخل شي نو یو آواز کونکے به آواز وکړی چه بیشکه تاسو به پدے جنت کښې همیشه وسیږئ هیڅ کله به نهٔ مرئ او بیشکه تاسو به روغ (صحتمند) یئ هیڅ کله به بیماریږئ نهٔ، او بیشکه تاسو به ځوانان یئ هیڅ کله به بوډاګان کیږئ نهٔ او بیشکه تاسو به د مزو ژوند تیروئ هیڅ کله به پریشانه کیږئ نهٔ۔ دے نه روستو نبی ﷺ وفرمایل چه دا د الله قول دے : ﴿ وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ ﴾)) الآية۔ (صحیح مسلم : ۷۳۳۶)

اُوْرِثْتُمُوْهَا : ۱- میراث ئے ورته ځکه وئیلے چه په جهنم کښې د هر مؤمن کور دے لکه څنګه چه په جنت کښې د هر کافر کور دے نو د کافر کور به مؤمن ته پاتې شي او د جهنم کور به کافر واخلي۔ ۲- یا میراث په معنیٰ د استحقاق دے۔ یعنی تاسو مستحق وګرځیدئ د عمل په وجه، لکه میراث چه د وارث حق وي۔

سوال وجواب

سوال : په حدیث د صحیحینو کښې دي : [لَنْ يَّدْخُلَ اَحَدُكُمُ الْجَنَّةَ بِعَمَلِهٖ] هیڅ یوتن ستاسو نه په عمل جنت ته نشي داخلیدے (مګر د الله په رحمت به ځي) او دے آیت کښې دي چه په عمل به جنت ته ځي؟ جواب دا دے چه هیڅ تعارض نشته ځکه چه عمل ظاهری سبب دے او رحمت باطني سبب دے۔ ځکه چه دا عملونه د انسان نه د الله په رحمت سره کیږی چه هغه توفیق ورکوی۔ (ابن کثیرؒ) نو اصلي سبب رحمت د الله دے۔ نو قرآن ظاهری سبب او رسول الله ﷺ اصل سبب ته اشاره کړیده۔ چونکه قرآن د عوامو کتاب دے پدے وجه ئے عمل ذکر کړیدے او رسول الله ﷺ پټ د حکمة خبره ذکر کړیده۔

وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ اَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا
او آواز به وکړی جنت والا اُور والو ته چه یقیناً موندلے دے مونږ هغه (جنت)
وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ
چه وعده کړے وه مونږ سره رب زمونږ حقه نو آیا وموندلو تاسو هغه (اُور) چه وعده کړے وه

رَبُّكُمْ حَقًّا ط قَالُوْا نَعَمْ ج فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ
رب ستاسو حقه، وبه وائي دوی آؤ، نو اعلان به وکړي يو اعلان کونکے په مينځ د دوی کښ
اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
چه لعنت د الله دے په ظالمانو۔ هغه کسان دی چه منع کوی د لارے د الله نه
وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ج وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٥﴾
او لټوی په هغے کښ کوږوالے (په شکونو اچولو) او دوی د آخرت نه منکر دی۔

تفسیر : کله چه جنتیان او جهنمیان ټول خپلو خپلو ځایونو ته ورسیږی نو جنتیان به د جهنمیانو د افسوس او نا اُمیدئ زیاتولو او د هغوی د شرمولو دپاره هغوی ته آواز وکړی او دغه خبره به ورته وکړی چه مونږ سره الله د جنت وعده رشتینی کړه او تاسو سره ئے د جهنم وعده کړے وه او هغه وعدے چه مخکښ مکذبینو سره (د ۳۷ آیت نه تر ٤١) پورے وشوے۔ نو آیا تاسو هغه ومونده ؟ نو د نَعَمْ (آؤ) وئیلو نه سویٰ به دوی نور څه ووائی نو پدے وخت کښ به دوی ته د زیات ذهنی تکلیف رسولو دپاره د الله د طرف نه آواز کونکے آواز وکړی، وبه وائی چه په ظالمانو باندے د الله لعنت دے، او د هغه رحمت نه به همیشه دپاره جدا وی چه خپل ځانونه او نور خلك ئے د الله د دین نه منع کول او پدے کښ به ئے تحریف، او شکونه پیدا کول او د آخرت د ورځے نه منکر وو۔

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی چه رسول الله ﷺ په بدر میدان کښ کافران مقتولینو ته آواز کولو سره همدا خبره کړے وه۔

لَّعْنَةُ اللّٰهِ : دا جمله دعائیه هم ده (یعنی الله دِے پرے لعنت وکړی) یا جمله خبریه ده۔ یعنی خبر شیٔ چه دوی د الله د رحمت نه جدا شو۔

سَبِيْلِ اللّٰهِ : عام دے توحید، ایمان، قرآن او سنت ته چه ددے نه خلك منع کول لوی ظلم دے۔ او پدے کښ د اسلام او د قرآن او حدیث هره مسئله داخلیږی چه څوك د هغے نه خلك منع کوی نو پدے وعید کښ داخل دے۔

وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا : اَیْ يَبْغُوْنَ اَنْ تَكُوْنَ السَّبِيْلُ مُعَوَّجَةً ۔ یعنی لټوی چه دا لاره کږه شی دے دپاره چه څوك پرے روان نشی۔ یعنی حق خلکو ته په غلطه لهجه او بد بنکاره کول مراد دی۔ (ابن کثیرؒ) ابن عباسؓ ددے مصداق بیانوی : چه مونځونه د غیر الله دپاره کوی او د

هغه شي تعظيم کوي چه الله ورله تعظيم نهٔ دے ورکړے۔ (بغویؒ)

قرطبیؒ وائی : يَطْلُبُوْنَ اِعْوِجَاجَهَا۔ يعنی ددے لارے کوږوالے طلب کوی۔

يا : يَبْغُوْنَهَا په معنیٰ د يَبْغُوْنَ فِيْهَا دے۔ يعنی لټوی پدے لاره د الله کښې کوږوالے۔ يعنی اعتراضونه او شبهات او تحريفات پکښې لټوی۔ دا بيان د صد عن سبيل الله دے۔

عِوَجًا : عِوج په زير د عين سره په دين او معنوی څيزونو کښې او په زور د عين سره په اجسامو کښې استعماليږی۔

صاحب المنارؒ وائی : د الله د لارے کوږ والے لټول په ډيرو شکلونو دے : (۱) مشرکان د الله توحيد ته ډير شبهات اچوی په صورت د دعاء کښې او معبودان خپل وسيله ګنړی۔

(۲) مبتدعين ئے په بدعاتو او نظری فکريات او جدلی تاويلاتو سره او (۳) مقلدين ئے په تقليد سره۔ (٤) او منافقان او زنديقان ئے په شکونو اچولو سره۔

(٥) او ظالمان ئے په پريخودو د حکمونو د الله سره۔ او دا چه د شريعت آسانی ګرانوی او فراخی ئے تنګوی دا خو د هغه خلکو کوږوالے دے چه ددے لارے داعيان او دے ته منسوب دی، کافران خو په ځای پريده۔ او بيا ئے ډيره مزيداره تشريح کړيده هغے ته رجوع وکړه۔

(تفسير المنار)

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ : يعنی دوی چه د حقے لارے نه اوړيدلی وو ددے وجه دا وه چه دوی په آخرت ايمان نهٔ لرلو او د الله د عذابونو نه نهٔ يريدل او د هغه د ثواب اميد ئے نهٔ لرلو۔ او ددے آواز مفهوم دا شو چه د الله رحمتونه به صرف په مؤمنانو وی۔ (السعدیؒ)

صاحب المنارؒ وائی چه د همدے نکتے د وجه نه جار مجرور په معمول باندے مقدم شو۔

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ج وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ
او په مينځ د دوی کښې به پرده وی او په اعراف (اُوچت ځای) به سړی وی چه پيژنی به
كُلًّا بِسِيْمٰهُمْ ج وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ
هر يو لره په نخو د هغوی او آواز به وکړی دوی جنت والو ته چه سلامتيا دِے وی
عَلَيْكُمْ قف لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿٤٦﴾
په تاسو، نهٔ دی داخل شوی دوی (اعراف والا) جنت ته او دوی طمعه لری۔

وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا
او كله چه واړولے شي نظرونه د دوی په طرف د اُور والو وائي به دوی اے ربه زمونږ !
لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾
مۀ گرځوه مونږ سره د قوم ظالمانو نه۔

تفسير : حجاب (پرده) او اعراف ديوال دے او په سورة الحديد (۱۳) كښې سور لفظ ذكر دے، دا درے واړه يو شے دے۔

د جنت او جهنم ترمينځ به يو ديوال حائل وی، چه د هغے نه په قرآن كريم كښې په (سور) سره تعبير كړے شويدے، د هغے دننه طرف ته به د الله رحمت او جنت وی او بهر طرف ته به جهنم او د هغۀ عذاب وی۔ دے حجاب (پردے) ته اعراف وئيلے شويدے چه د عَرف جمع ده، چه ددے اطلاق په هر اُوچت ځای كيږی، پدے وجه د اعراف نه مراد د جنت او جهنم ترمينځ د ديوال اُوچت ځای دے۔ نو جنتيانو ته به اعراف والا هم زيرے وركوی او ملائك هم۔ او دغه شان جهنميانو ته به دواړه زورنه وركوی۔

اصحاب الاعراف څوك دی؟

د اعراف والو په باره كښې مفسرينو د صحابه كرامؓ او تابعينو نه تقريباً لس اقوال نقل كړيدی۔ (۱) چا وئيلی دی چه دا به ملائك وی، ليكن دا قول ضعيف دے ځكه چه د رجال اطلاق په هغوی باندے بعيد دے۔ او بل دوی د جنت طمع لری او ملائك طمع نۀ لری۔

(۲) ځينی وائی چه دا پيغمبران او اُوچت مؤمنان دی چه الله ورسره حساب يسير كړيدے او د ټولو خلكو نه ئے په اُوچت ځای كينولی دی، د كافرو د توبيخ دپاره او د مؤمنانو د زيری دپاره۔ ليكن روستو نه معلوميږی چه په اصحاب الاعراف باندے يرے تيريږی، او ډير وخت د جنت نه محروم دی۔ (۳) ځينی وائی چه دا به هغه خلك وی چه احد الوالدين ترے راضی وی۔ مور ترے راضی پلار ترے خفه وی يا برعكس۔

(٤) يا هغه شهيدان دی چه په غير د اجازه د والدينو شهيدان شوی وی۔

(٥) ځينی وائی : دا د مشركانو ماشومان دی چه د بلوغ نه مخكښې وفات شويدی۔

(٦) ځينی وائی : دا هغه خلك دی چه په زمانه د فترت (د رسولانو نۀ راتللو) كښې وفات

شویدی او دعوت ورته نۀ دے رسیدلے مګر خپل فطرت ئے نۀ دے بدل کړے۔ (بغویؒ)
(۷) راجح دا ښکاره کیږی چه [هُمُ الَّذِيۡنَ اسۡتَوَتۡ حَسَنَاتُهُمۡ وَسَيِّئَاتُهُمۡ] دا به هغه خلك وی چه د هغوی نیکیانے او بدیانے برابرے شوی وی، فی الحال لا جنت ته نۀ وی تلی لیکن طمع لری، دا قول د ابن مسعود، حذیفه بن الیمان او ابن عباس رضی الله عنهم وغیرهم دے، او بعض مرفوع حدیثونه ددے تائید کوی۔ (ابن کثیرؒ، قرطبیؒ، بغویؒ وغیره)
دا درمیانه خلك دی، نیکی ئے جهنم ته او بدی ئے جنت ته نۀ پریدی، پدے وجه د جهنمیانو او جنتیانو دواړو سره ئے تعلق دے او دواړو ته به آوازونه کوی، جنتیانو ته زیرے او جهنمیانو ته یره ورکوی۔
دا خلق به جنتیان او جهنمیان ټولو لره د هغوی د نخو نه پیژنی جنتیانو ته به سلامونه کوی،
بِسِيۡمٰهُمۡ : مؤمنان به په سپینوالی د مخونو او لاسونو او خپو پیژنی او کافران به په توروالی او بد رنګئ د مخ او شنو سترګوسره پیژنی۔
لَمۡ يَدۡخُلُوۡهَا : یعنی دوی خپله لا جنت ته نۀ دی داخل شوی لیکن طمع لری چه داخل به شی۔
وَهُمۡ يَطۡمَعُوۡنَ : د اُور نه ئے بچ ساتلی دی نو پدے وجه ئے د جنت طمع پیدا شویده۔
وَاِذَا صُرِفَتۡ اَبۡصَارُهُمۡ : یعنی اعراف والا چه کله جهنم طرف ته نظر پورته کړی، وګوری نو هغه جهنمیان به وپیژنی کوم چه په دنیا کښ دوی په شرك او کفر او د الله نه په بغاوت او سرکشئ کولو لیدلی وی، نو ډیرے نه به د جهنم د عذاب نه په الله پناه وغواړی او وبه وائی چه اے زمونږ ربه ! مونږ د ظالمانو سره جهنم ته مۀ داخلوه۔
صُرِفَتۡ ئے مجهول صیغه راوړه ځکه چه د بنده یو مکروه (ناکاره) څیز ته د کتلو طاقت نۀ وی مګر ملائك به د دوی نظرونه واړوی چه دا به دوی له لره سزا شان وی چه لره یره ورکړی او کله به ئے دے دپاره ورله اړوی چه جهنمیانو سره خبری وکړی۔
رَبَّنَا : هرکله چه د دوی مخونه اُور والو طرفته واړولے شی نو دوی به دا ګمان وکړی چه مونږ ګوزاری، یا د هغے د هیبت د وجه نه به د الله نه دعا وکړی چه د هغوی سره ئے ملګری نۀ کړی۔
الۡقَوۡمِ الظّٰلِمِيۡنَ : اشاره ده چه دوی ظلم او شرك کړے وو پدے وجه جهنم ته راغلل او مونږ خو د دوی نه په عقیده کښ مخالف وو نو د دوی سره مو مۀ شریکوه۔

وَنَادٰٓى اَصۡحٰبُ الۡاَعۡرَافِ رِجَالًا يَّعۡرِفُوۡنَهُمۡ بِسِيۡمٰهُمۡ قَالُوۡا
او آواز به وکړی اعراف والا څه سړو ته چه پیژنی به ئې په نخو د هغوی وبه وائی دوی
مَآ اَغۡنٰى عَنۡكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنۡتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿٤٨﴾
فائده درنکړه تاسو ته جمع کولو ستاسو (مالونو لره) او هغه چه تاسو به لوئی کوله۔
اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيۡنَ اَقۡسَمۡتُمۡ
(ملائك به ووائی کافرانو ته) آیا دا هغه کسان دی چه قسمونه به کول تاسو
لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحۡمَةٍ ؕ اُدۡخُلُوا
چه وبه نهٔ رسوی دوی ته الله هیڅ رحمت۔ (وبه وئیلے شی اعراف والو ته) داخل شئ
الۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ تَحۡزَنُوۡنَ ﴿٤٩﴾
جنت ته نهٔ به وی هیڅ یره په تاسو او نهٔ به تاسو غمژن شئ۔

تفسیر : اصحاب الاعراف به د کفر او شرك سردارانو ته آواز وکړی (چه دوی به هغوی په نخو پیژنی چه د بیل بیل نوم به واخلی، اے ابوجهل، اے ولید بن المغیره وغیره (کلبیؒ)) چه چرته لاړو ستاسو جماعت او ستاسو خاندان او قبیله او چرته دے نن ستاسو استکبار؟ (تکبر کول)

بِسِيۡمٰهُمۡ : یعنی هر کافر به په خپله خپله نښه پیژنی۔

مَآ اَغۡنٰى عَنۡكُمۡ : ما نافیه او استفهامیه دواړه صحیح دی۔

جَمۡعُكُمۡ : جمع په معنیٰ د جماعت او ډلے، یا د راجمع کولو د مالونو سره دے۔ ځکه چه مشرکانو به په خپلو ملګرو او ډله باندے او په خپلو مالونو او اولادو باندے فخرونه کول او مسلمانانو به ئې سپك ګڼړل۔

وَمَا كُنۡتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ : ددے نه مراد د دنیا مشری او تابعداران (مریدان) دی۔ یا جمع نه مراد د مالونو جمع او مَا كُنۡتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ نه مراد زیاته نفری او ډله ده۔ او کافرو به دواړو فخر کولو۔ دوی به وئیل ﴿اَیُّ الۡفَرِيۡقَيۡنِ خَيۡرٌ مَّقَامًا وَّاَحۡسَنُ نَدِيًّا﴾ (مریم : ۷۳) (کوم یو د دواړو ډلو نه غوره دے په اعتبار د مرتبے او ښائسته مجلس والا دے)﴿وَقَالُوۡا نَحۡنُ اَكۡثَرُ اَمۡوَالًا وَّاَوۡلَادًا﴾ (سبا : ۳۵) (او دوی به وئیل چه مونږ ډیر یو په اعتبار د مالونو او اولاد سره)

اَهٰٓؤُلَآءِ : دا هم د اصحاب الاعراف قول دے او په (هٰؤُلَاءِ) کښې اشاره کوی جنتیانو ته او اَقْسَمْتُمْ کښې خطاب مشرکانو ته دے یعنی دوی به جنت طرف ته وګوری نو هلته به هغه کمزوری خلق ووینی کوم چه کافرانو ذلیل او رذیل ګنړل (لکه صهیبؓ، عمارؓ، بلالؓ وغیره) او ګمان ئے کولو چه الله به خپل رحمت دوی ته زمونږ نه سِویٰ څنګه ورکړی.

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ: جنتیانو ته به د کافرانو د ذلیله کولو دپاره ووائی چه جنت ته داخل شئ، اګرکه هغوی جنت ته داخل دی لیکن دا خبره به کافرانو ته د آورولو دپاره وکړی چه دوی خو جنت ته راغلل او همیشه به جنت کښې وسیږی او تاسو به دغه شان ذلیله او خوار په عذاب کښې یئ او دے ته خطاب تاکید وائی لکه یو تن په نعمت کښې وی او ته ورته ووائے چه ننوزه په نعمت کښې او مزے کوه. یا د (اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ) نه مخکښې (قِيْلَ لَهُمْ) پټ دے، اصحاب الاعراف به ووائی چه دوی ته خو وئیل شویدی چه جنت ته داخل شئ.

یا دا قول د ملائکو دے اصحاب الاعراف ته او (هٰؤُلَاءِ) نه مراد اصحاب الاعراف دی او (اَقْسَمْتُمْ) کښې کافرانو ته خطاب دے. څکه کله چه اصحاب الاعراف جهنمیانو ته دغه خبرے وکړی نو هغوی به پیغور ورکړی چه که جنتیان جنت ته تلی دی نو تاسو خو جنت ته نهٔ یئ تلی او قسم به وکړی چه تاسو به هم اُور ته راځئ نو دے وخت کښې به ملائك یا الله تعالیٰ اعراف والو ته آواز وکړی چه (اُدْخُلُو الْجَنَّةَ) تاسو جنت ته داخل شئ. نو کافران به نور هم ذلیله شی. (بغوی۳/۲۳٤)

اول قول د سیاق سره زیات برابر دے مګر د دویم نه هم مانع نشته.

لَايَنَالُهُمُ اللهُ بِرَحْمَةٍ : دوی ته به الله رحمت (جنت) ورنکړی څکه چه په دنیا کښې ئے دوی ته هغه څه نهٔ دی ورکړی کوم ئے چه تاسو ته درکړی وو. (المنار)

وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ
او آواز به وکړی اُور والا جنت والو ته چه راواړوئ په مونږ باندے د اُوبو (د جنت) نه یا
مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ ؕ قَالُوْٓا اِنَّ اللهَ حَرَّمَهُمَا
د هغے نه چه درکړیدی تاسو ته الله تعالیٰ، وبه وائی دوی یقیناً الله حرام کړیدی دا دواړه
عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ
په کافرانو. هغه کسان دی چه نیولے ئے دے دین خپل مشغله او لوبے او دهوکه کړیدی دوی لره

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَاج فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ
ژوند دنیوی نو نن ورځ به هیر کړو مونږ دوی لره لکه څنګه چه هیر کړے وو دوی ملاقات
يَوْمِهِمْ هٰذَا لا وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾
د ورځے د دوی چه دا ده، او هغه چه وو دوی د آیتونو زمونږ نه به ئے انکار کولو۔

تفسیر : اعراف والا د مینځ نه لرې شو او جنت ته داخل شو نو پدے وخت به د جهنمیانو آوازونه شروع شی۔

او پدے کښې مقصود د جهنمیانو انتهائی رسوائی بیانول دی، چه په دنیا کښې ئے خو کمزوری مسلمانان ذلیل او سپك ګنړل او وئیل به ئے چه الله تعالیٰ به مونږ پریخودلو سره دوی ته څنګه خپل رحمت ورکړی، لیکن اُوس حال دا دے چه د خپلے انتهائی بے وسئ په عالَم کښې به جنتیانو ته آواز کوی او د مکمل عجز او انکسارئ سره به هغوی ته وائی چه مونږ ته د هغه اُوبو نه لږے راکړئ کومے چه الله تاسو ته د رحمت په توګه درکړیدی، دے دپاره چه د اُور د ګرمائش او د تندے د سختئ نه نجات ومومو، یا تاسو ته چه کوم د خوراك او څکاك څیزونه درکړے شویدی د هغے نه څه راکړئ، نو جنتیان به وائی چه الله دا دواړه څیزونه په جهنمیانو حرام کړیدی، کومو چه د الله د دین نه لوبے جوړے کړے وے او دے پورے به ئے توقے کولے، او په دنیا او د هغے په ډولونو کښې د آخرت نه غافل شوی وو۔

اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ : یعنی هر یو چه راکوئ خو ضرورت دے۔ نو (او) دلته تخییر او مانعة الخلو دپاره دے، جمع ئے جائز ده۔ د رَزَقَكُمُ الله نه مراد نور نعمتونه او شربتونه دی۔

رَزَقَكُمُ الله : دے نه معلومه شوه چه د انسان خوراك څكاك ته د هر څه نه ډیر زیات ضرورت دے، ځکه چه انسان الله تعالیٰ داسے پیدا کړیدے چه دے نه بغیر ئے ګوزاره نهٔ کیږی، ددے وجه نه د انسان اصلاح په خوراك څكاك بندولو باندے زیاته کیږی ځکه چه په دهٔ کښې پدے سره عاجزی پیدا کیږی، پدے وجه روژه زمونږ د اصلاح دپاره مونږ ته خودلے شویده۔

بعض مفسرینو د (مما رزقکم الله) نه مخکښې (اَلْقُوْا عَلَيْنَا) (راګوزار کړئ په مونږ) پټ ګنړلے دے لیکن حقه دا ده چه اِفاضه دا په غیر د اُوبو او اُوبنکو نه هم استعمالیږی، وئیلے شی : (فَاضَ الرِّزْقُ وَالْخَيْرُ وَاَفَاضَ عَلَيْهِ النِّعَمَ) المنار ٨/ ٣٩٠)

(رزق او خير راتوی شو او نعمتونه ئے پرے راواړول)۔
حَرَّمَهُمَا : دلته حرام لغوی مراد دے یعنی بند والے۔
الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا : سوال پیدا کیږی چه خوراك او څکاك خو فراخه څیزونه دی نو دا ولے په دوی باندے بند شو، رحم دِے په دوی وکړے شی؟۔ نو الله دلته داسے اسباب بیانوی چه په هغے سره د الله شفقت هم نهٔ راځی او د بندګانو هم نهٔ، چه دوی کښې دا مرضونه وو، دوی دین ګپ شپ ګڼړلو او د الله په حدودو به نیغ راوړیدل، هیڅ پابندی ئے نهٔ کوله او دنیا کښې ددے ورځے نه غافله شوی وو۔
دِيْنَهُمْ لَعِبًاوَّلَهْوًا : ١-یعنی دوی د دین اسلام نه (کوم باندے چه مکلف وو او دوی ته د هغے دعوت ورکړے شوے وو) هغے نه ئے تماشه او لوبی جوړے کړے وے چه توقے او مسخرے ئے ورپورے کولے۔
٢-عبادت د بتانو د لهو او لعب په شان دے هغے نه ئے دین جوړ کړیدے۔
٣-کافرانو به د الله په دین کښې د خپل خواهش او تمنیٰ مطابق فیصلے کولے، بحیرے او سائبے به ئے حرامولے او د دین په باره کښې به ئے هیڅ احتیاط نهٔ کولو او پدے کښې په تقلید پسے روان وو نو الله ددے نه په لهو او لعب سره تعبیر کړیدے۔ چه دوی هسے توقے کوی دین ورته ګپ ښکاری۔ ٤- دین د دنیا او د ریاست او د مالونو د جمع کولو ذریعه جوړوی او توله دنیا لهو او لعب ده، یعنی دا هغه کسان وو چه دین ئے د دنیا د راجمع کولو ذریعه جوړه کړے وه۔ ٥- متبادر مطلب دادے چه دوی کوم دینی اعمال کول دا د دوی دپاره د تزکیه نفس او د اخلاقو د صفایئ ذریعه نهٔ وه او نهٔ په داسے طریقه وو چه الله پرے راضی شی او جنت ته پرے داخل شی او نهٔ پرے د معاشرے اجتماعی اصلاح کیدله نو دا عملونه د وخت ضائع کول وو بغیر د فائدے نه لکه د لوبو په شان یا د بعض غمونو او کارونو نه ځان مشغوله کول وو لکه د لهو (تماشو) په شان. دا وجوه امام رازیؒ ذکر کړیدی او صاحب المنار په (وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا انعام : ٧٠ آیت) کښې نقل کړیدی۔ (المنار٧/٤٣٢)
علامه سعدیؒ وائی : لَهَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاَعْرَضَتْ عَنْهُ وَلَعِبُوْا وَاتَّخَذُوْهُ سُخْرِيًّا۔
غافله شوی وو زړونه د دوی او د دین نه ئے مخ اړولے وو او دین پورے ئے لوبی او توقے کولے۔یا دا چه د دوی د دین په بدل کښې لوبی او تماشے راتینګے کړے وے آه۔
د لهو او لعب فرقونه مخکښې سورت کښې ذکر شویدی، بل فرق دا دے چه لعب هغه دے چه په هغے کښې مقصد زر خوشحالی حاصلول وی او لهو هغه دے چه مشغولتیا پیدا

كوي اګركه خوشحالي پكښې نۀ وي. (لكه تماشه).
وَّغَرَّتۡهُمُ الۡحَيٰوةُ : دهوكه دا ده چه انسان د هلاكت كندي ته پريوزي او دے خوشحاله وي.
فَالۡيَوۡمَ نَنۡسٰهُمۡ كَمَا نَسُوۡا : يعني نن به مونږ د دوی سره د هغه چا په شان معامله كوو چه د خلكو نه هير شوي وي او هيڅوك ئے نۀ تالاش كوي، يعني دوی به هميشه دپاره په جهنم كښې پريدم لكه څنګه چه دوی د نن ورځے ملاقات هير كړے وو، لكه ګويا كه چه صرف دنيا له پيدا وي او د دوی مخے ته نۀ حساب وي او نۀ پيشي، او لكه څنګه چه دوی د الله د آيتونو نه انكار كولو.
نسيان په معنیٰ د ترك سره په عربئ كښې ډير استعمال دے. څكه په الله باندے نسيان نۀ راځي الله فرمائي :﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ (مريم: ٦٤)
(ستا رب هيره ونكے نۀ دے) يعني هيڅ پرواه به پرے نكوو، د دوی دعا به آوري ليكن ګوري به ورته نۀ لكه ګويا كه چه هير كړے ئے وي.
ترمذيؒ د ابو سعيد او ابو هريره رضي الله عنهما نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : ((د قيامت په ورځ به يو سړے راوستے شي نو الله به د هغه نه تپوس وكړي چه آيا ما تا له غوږونه، سترګے، مال او اولاد نۀ وو دركړي؟، آيا ستا دپاره مے څاروي او فصلونه نۀ وو مسخر كړي؟، او آيا ما تاته رياست او مشري نۀ وه دركړے؟، آيا ستا ګمان وو چه نن ورځ سره به ملاويږے؟ نو هغه به ووائي چه نۀ، نو الله به وائي : زۀ به تا نن داسے هيروم لكه څنګه چه تا ما لره هير كړے وو))۔ (ترمذي: ٢٤٢٨) وصحيح الجامع (٧٠٣٢)
كَمَا نَسُوۡا : دے نه معلومه شوه چه څوك د آخرت ورځ څومره اندازه هيروي هغومره به الله تعالیٰ دۀ لره هلته هيروي، او څومره چه ورته ياده وه نو الله به ئے هلته يادوی.
كما : ظاهر دا ده چه كاف د تشبيه دپاره نۀ دے بلكه كاف تعليلي دے. لكه د﴿ وَاذۡكُرُوۡهُ كَمَا هَدٰاكُمۡ ﴾ په شان. يعني څكه چه دوی هيره كړے وه زما د ملاقات ورځ. لكه روستو (وَمَا كَانُوۡا) ورسره پدے طريقه لګيږي.
په مسند احمد كښې راځي چه عائشے رضي الله عنها وفرمايل : عبد الله بن جُدعان به ډيرے صدقے كولے يارسول الله ﷺ دا صدقے به قيامت كښې څه فائده وركړي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: دا ورله فائده نۀ وركوي څكه : (اِنَّهٗ لَمۡ يَقُلۡ يَوۡمًا رَبِّ اغۡفِرۡ لِيۡ يَوۡمَ الدِّيۡنِ) دۀ په ټول ژوند كښې يوه ورځ هم دا نۀ وو وئيلي چه اے الله ! ما ته د جزا په ورځ بخښنه وكړه. (آخرت نه غافل وو) (احمد : ٢٤٩٣٦ حديث صحيح)

د انسانانو د اصلاح لویه ذریعه د آخرت یادول دی او په انسان کښې هیڅ خیر نشی راتللی ترڅو چه د آخرت نه یریدلے نهٔ وی۔

وَمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا : دے نه معلومیږی چه په دنیا او آخرت کښې جزاء په عقیده او عمل دواړو ده۔ او ددے خلکو عقیده هم خرابه وه (نَسُوا لِقَاءَ) او عمل ئے هم خراب وو (يَجْحَدُونَ)۔ (المنار)

وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ
او یقیناً راوړیدے مونږ دوی ته کتاب، په تفصیل سره بیان کړے مونږه هغه
عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾
په علم سره، هدایت دے او رحمت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان لری۔

تفسیر : پدے آیت کښې قرآن ته ترغیب او ددے نه اعراض کونکو ته زجر دے۔

او دا دفع د وَهم ده چه دے خلکو آخرت هیر کړے وو او سزا ورته ملاؤ شوه نو کیدے شی چه چا به تنبیه نهٔ وی ورکړی؟ نو الله فرمائی چه دوی ډیر ښه خبردار وو، ما دوی ته انبیاء او رسولان علیهم السلام رالیږلی او کتابونه نازل کړی وو او دوی ته مے اعتقادات، احکام او تمام اُخروی کارونو خبر ورکړے وو لیکن دوی د هغے نه انکار کولو، نو دا څه چه پرے وشو دا د دوی د عملونو نتیجه ده۔ نو دا آیت علت شو د هغه زجر دپاره چه مخکښې آیت کښې ذکر دے۔

فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ : مونږ واضح بیان کړے هغه په خپل علم سره۔ نو د الله په علم سره راغلی هم دے او الله په کښې خپل بعض علمونه بیان کړیدی۔

تفصیل عبارت دے ددینه چه د کومو حقائقو او مسائلو بیان مقصود وی هغه د یو بل نه جدا جدا کړے شی پداسے طریقه چه اشتباه پکښې ختمه شی او په ذهنونو باندے د یو بل سره اختلاط (گډوډوالے) لری کړی۔ او ددے دا معنیٰ نهٔ ده چه هره نوعه ددے جدا جدا بیان کړے شی او د ټولو فروعو اوږد بیان پکښې وکړے شی بلکه په قرآن کښې د هر شی تفصیل موجود دے چه مونږ ورته حاجت لرو نو کوم ځای چه اوږدوالے مناسب دے هلته ئے اوږدوالے کړیدے او کوم ځای چه اختصار مناسب دے هلته ئے اختصار کړیدے۔

لکه ددے مثال په عقائدو کښې توحید ربوبیت او توحید الوهیت او د وسیلے او دعاء

شرکونه الله تعالیٰ اوږده بیان کړیدی ځکه چه د مشرکانو شبهات او شکونه زیات وو او په عملی عباداتو کښ د مانځه طریقے او د رکعاتونو شمار کښ ئے اختصار کړیدے ځکه چه په هغے کښ د رسول الله ﷺ اقتداء کافی ده، صرف په اقامت باندے ئے بار بار امر کړیدے او د هغے فائدے او حکمتونه ئے ذکر کړیدی ځکه چه ددے نه اکثر انسانان غفلت کوی۔ او مشرکانو علم ضائع کړے وو او تقلید د مشرانو ئے شروع کړے وو نو الله تعالیٰ په قرآن کښ په نظر او استدلال او بحث او تالاش او تحقیق او عقل کولو باندے بار بار حکمونه کوی۔ الی آخر ما قال۔ (المنار۸/۳۹۳)

هُدًى : د آخرت لاره ئے خودله خو دوی ترے اعراض وکړو نو ځکه اُورته لاړل۔

وَّرَحۡمَةً : او د رحمت دپاره راغلے دے چه په بندګانو رحم وشی او د الله د ملاقات اهل شی۔

هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا تَاۡوِيۡلَهٗ ؕ يَوۡمَ يَاۡتِىۡ
انتظار نهٔ کوی دوی مګر د انجام د انکار ددے کتاب، په کومه ورځ
تَاۡوِيۡلُهٗ يَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ نَسُوۡهُ مِنۡ قَبۡلُ
چه رابه شی انجام د انکار ددے وائی به هغه کسان چه هیر کړے ئے دے دا د مخکښ نه
قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِالۡحَقِّ ۚ فَهَلۡ
یقیناً راغلی وو رسولان د رب زمونږه په حق سره (لیکن مونږ نهٔ منل) نو آیا شته دے
لَّنَا مِنۡ شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُوۡا لَنَآ اَوۡ نُرَدُّ
مونږ لره سفارشیان پس چه سفارش وکړی مونږ له یا واپس کړے شو مونږ
فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ الَّذِىۡ كُنَّا نَعۡمَلُ ؕ قَدۡ خَسِرُوۡۤا
پس چه عمل وکړو سویٰ د هغے نه چه مونږ به کول، یقیناً تاوان کښ اچولی دی دوی
اَنۡفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۵۳﴾
ځانونه خپل او ورك به شی دوی نه هغه دروغ چه دوی جوړول۔

تفسیر : دا د آخرت یره ده، تَاۡوِيۡلَهٗ : د تاویل یو معنیٰ ده حقیقت۔ لکه د خوب تاویل

معنىٰ دا وي چه د هغے حقيقت معلوم کړے شي۔ او حقيقت د قرآن دا دے : (مَا وَعَدَهُمْ مِنَ الْعِقَابِ فِي الْقُرْآنِ) د کومو سزاګانو چه دوی سره الله تعالىٰ په قرآن کښې وعده کړيده د هغے انتظار کوی نو دا به داسے شی لکه د بقرے آيت (۲۱۰) ﴿هَلْ يَنْظُرُونَ اِلَّا اَنْ يَّأْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِنَ الْغَمَامِ﴾ ۔ يعنی دوی انتظار نکوی مګر د حقيقت د قرآن يعنی چه پدے کښې کوم عذابونه بيان شويدی د هغے حقيقت راشی۔

دويم : تاويل په معنىٰ د انجام سره دے او (ه) ضمير قرآن ته راجع دے۔ دوی انتظار نهٔ کوی مګر د انجام د انکار د قرآن چه هغه همیشه عذاب دے۔

او مقصد دا دے چه اُوس خو مونږ خبر درکړو بيا به ئے وينئ نو اقرار به کوئ۔

نَسُوْهُ : يعنی الله ئے هير کړے وو او د هغه کتاب ئے هير کړے وو۔

قَدْ جَآءَ تْ رُسُلُ رَبِّنَا : يعنی کله چه د قيامت ورځ راشی نو بيا به هغوی د خپل کفر اقرار کوی او وائی به چه زمونږ د رب انبياؤ خو د حق تولے خبرے ښکاره بيان کړے وے۔ نو دلته وقف دے اَیْ فَکَذَّبْنَا ۔ نو مونږ د هغے تکذيب کړے وو۔ نو مونږ غټ مجرمان يو نو اُوس مونږ له دوه کارونه پکار دی، يو شفعاء (سفارشيان) چه هغوی الله ته زمونږ سفارش وکړی چه مونږ معاف کړی، او دويم دا چه الله مونږ ته دنيا ته د بيرته واپسئ موقعه راکړی او امتحان کښې مو واچوی نو مونږ به نيك عمل وکړو۔ اُوس ئے سترګے کولاوے شوے۔

فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ : دا ئے مخکښې ذکر کړو ځکه چه ددے څه امکان به ورته ښکاره کيږی او دنيا ته د واپسئ خبره خو ډيره بعيده ده۔ او دا هم د نا اميدئ جمله ده يعنی دلته خو زمونږ باطل آلهه هم کار نهٔ ورکوی او پيغمبران هم زمونږ سفارش نکوی ځکه چه مونږ خو د هغوی دشمنان وو۔

قَدْ خَسِرُوْا : يعنی قرآن باندے ايمان او عمل د ګټے شے وو دوی هغه پريخوستهٔ او په وهمی خبرو پسے روان وو نو تاوان کښې پريوتل۔ او دا متعلق دے د (اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ) سره۔

وَضَلَّ : دا متعلق دے د (شفعاء) سره۔

مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ : لکه دوی به دا دروغ جوړول چه ﴿نَحْنُ جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ﴾ مونږ ډله يو چه د يو بل مدد به کوو او کله به ئے وئيل (هٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَاللّٰهِ) دا آلهه به زمونږ سفارش کوی۔ بعض کافرو به وئيل چه مونږ طاقتور يو د ملائکو مقابله به وکړو او ځانونه به ترے خلاص کړو۔

اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
یقیناً رب ستاسو الله دے هغه ذات چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه په (اندازه د)
فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ قف يُغْشِى الَّيْلَ النَّهَارَ
شپږو ورځو کښ بیا برابر شو په عرش باندے (د خپل شان مطابق) پټوی شپه په ورځ،
يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ
طلب کوی هره یوه بلے لره په جلتئ سره او پیدا کړی ئے دی نمر او سپوږمئ او ستوری
مُسَخَّرٰتٍ بِاَمْرِهٖ ط اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ط
چه تابع کړے شوی دی په حکم د هغهٔ، خبردار هغهٔ دپاره پیدا کول دی او اختیار دے،
تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٥٤﴾
برکت اچونکے دے الله چه پالونکے د مخلوقاتو دے۔

تفسیر : پدے رکوع کښ الله تعالیٰ خپل تعارف بیانوی په عقلی دلیلونو بیانولو سره او پدے دلیلونو کښ نعمتونه هم وی، د دلیلونو حاصل دا دے چه (۱) الله ستاسو رب دے، (۲) خالق دے، (۳) عرش والا دے، (٤) نظام چلونکے دے، (٥) هرڅه د هغه د حکم د لاندے دی، (٦) اختیارمند دے، (۷) برکات ورکونکے دے۔

ربط او تړون

۱- کله چه الله د خپل کتاب تذکره وکړی نو بیا خپل شان بیانوی نو مخکښ عظمت د وحی وو اُوس عظمت د مُوْحِیْ (وحی رالیږونکی) دے۔ لکه دا طریقه په سورة الرعد کښ هم ده۔ اے خلکو ! دا قرآن د یو پیری، یا د یو وزیر او د یو بنده کتاب نهٔ دے بلکه دا د کائناتو د خالق کتاب دِے، پدے وجه روستو به مثال راوړی چه د لوی الله کتاب دے لیکن انسانانو کښ دوه ډلے دی، خبیثان او طیبین، طیبین ددے کتاب نه فائده اخلی او خبیثانو کښ نور نقصانات پیدا شی۔ کله چه د بنده په زړه کښ د الله عظمت راشی نو د هغه کتاب به خامخا منی۔ او دا متعلق د (اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ) سره دے۔

۲- کله چه د کفارو کفر او شرك بیان شو نو اُوس الله تعالیٰ خپل لوئی مخلوقات ذکر کوی وائی چه کوم یو ذات دا پیدا کړیدی د هغه نه سویٰ هیڅوك لائق د عبادت نشته۔

د ستة ایام حقیقت

فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ : ددې تفصیل په سورة حم السجده (۳) آیت کښې راغلے دے، یعنی الله آسمانونه او زمکه او ددې ترمینځ ټول څیزونه د اتوار د ورځې نه تر جمعې پورې په شپږو ورځو کښې پیدا کړیدی. ۱- چا وئیلي دي چه هره ورځ د دنیا د ورځو برابر وه،
۲- او د ابن عباس ﷺ نه بیهقیؒ په کتاب الاسماء والصفات (رقم: ۹۱۰) کښې روایت کړیدے چه هره ورځ د زرو کالو برابره وه. (خو دا په مرفوع حدیث کښې نشته).
۳- څینې وائي چه ورځې خو د نمر او سپوږمۍ نه پیدا کیږي او دا خو نۀ وو نو ورځې به څنګه وې؟ نو بیا وائي چه دلته مضاف پټ دے (مِقْدَارِ سِتَّةِ اَيَّامٍ) یعنی په اندازه د شپږو ورځو. لکه زمونږ مشائخ په ترجمو کښې همدا معنیٰ کوی. لیکن ظاهر د قرآن دا دے چه ورځې به وې لیکن مونږ ته ئې معلومات نشته او دا ضروری نۀ ده چه مونږ دِې د هر شی په حقیقت پوهه شو.
او کوم علماء چه د يَوْم نه مراد یوه لمحه (سیکنډ) اخلي او دا وائي چه د یوم اطلاق په مطلق ورځ کیږي لکه په آیت ﴿وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗ﴾ (انفال:۱٦) کښې راغلے دے نو دا هم ظاهر نۀ ده ځکه چه په احادیثو کښې د ورځو نومونه راغلي دي.
او الله تعالیٰ خو پدې قادر وو چه په کلمه د کُنْ سره ئې ټول څیزونه په یوه لمحه کښې پیدا کړي وې لیکن د یو حکمت په وجه چه هغه ته معلوم دے په شپږو ورځو کښې ئې پیدا کړل. بعض مفسرینو لیکلي دي چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته په خپلو معاملاتو کښې د نرمی او سوچ او فکر د تعلیم ورکولو دپاره داسې وکړل. او بعضو لیکلي دي چه د الله په نیز د هر کار یو وخت مقرر دے. (معالم التنزیل للبغویؒ وابن کثیرؒ)
ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ: د استویٰ علی العرش معنیٰ او مفهوم بیانولو کښې د علماؤ ډیر اقوال دي چه د هغې د تفصیل دا مقام نۀ دے. او په لغت کښې استواء په معنیٰ د علو، صعود، ارتفاع، استقرار سره دے، دا معاني د عبد الله بن عباسؓ، عبد الرحمن الکلبيؒ، محمد بن اسحاقؒ نه نقل دي. د استواء په صله کښې چه کله (علیٰ) راشي نو په معنیٰ د پورته کیدو دے.
مګر د سلف صالحینو مسلك دا دے چه الله تعالیٰ په عرش باندې داسې مستوی (برابر) دے لکه څنګه چه د هغه د اُوچت مقام او د عظمت او جلال لائق دے، نۀ د هغې نه انکار

کیدے شي او نهٔ د هغه تشبیه ورکیدے شي، او نهٔ د هغه کیفیت بیانیدے شي۔ او الله عرش ته محتاج نهٔ دے لکه مخلوق چه کرسئ وغیره ته محتاج وي بلکه دا د الله د بادشاهئ مقام دے او عرش د الله په امر باندے تینګ دے او ددے دپاسه کیدو مطلب دا دے لکه مونږ چه وایو چه آسمان زمونږ دپاسه دے نو ددے مطلب دا نهٔ وي چه زمونږ په سر باندے پروت دے بلکه پورته دے یعنی الله هم د عرش نه پورته دے او سره ددے نه عرش ته ضرورت نهٔ لري۔ (کما فی شرح العقیدة الطحاویه)

او د سلف صالحینو عقیده د تفویض نهٔ ده ځکه چه په صفاتو کښې تفویض دادے چه مثلاً د (استواء، مجیئة، ید وغیره) ښکاره لغوی معانی نهٔ مني او ددے معنیٰ او کیفیت دواړه الله ته سپاری بلکه د سلفو په نیز ددے ښکاره لغوی معنیٰ به کولے شي لیکن کیفیت به ئے الله ته سپاری۔ او نهٔ د سلفو نه تاویلات د صفاتو نقل دی۔ کوم خلك چه د استویٰ معنیٰ په اِسۡتَوۡلٰی (غلبه کول) سره اخلي نو هغه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او ابن القیمؒ د شلو وجوهو نه رد کړیدی۔ ځکه چه استیلاء دے ته وائی چه د دوه کسانو په یو شي باندے جګړه وي نو یو په بل غالب شي نو بیا خلك وائی چه (اِسۡتَوٰی بِشۡرٌ عَلَی الۡعِرَاقِ) بشر په عراق باندے غلبه وکړه۔ او چه کله جانب مقابل نهٔ وي نو بیا به استویٰ په معنیٰ د استیلاء نشي اخستلے لکه دلته شو۔ (کما نقل عن ابن الاعرابیؒ) نو د سلف صالحینو په نیز صفات د الله تعالیٰ کښې تعطیل هم نشته (یعنی داسے تاویلات به نهٔ کوی چه د هغے په وجه د الله د صفت تعطیل او انکار راشی) او تفویض د معنیٰ هم نشته۔ بلکه تفویض په اعتبار د کیفیت سره دے۔

په احادیثو کښې د الله تعالیٰ د عرش صفت دا بیان شویدے چه هغه په آسمانونو او زمکو او د دوی ترمینځ او بره په هر شي محیط دے۔ او په آسمانونو دپاسه د قُبے په شکل دے او ددے اندازه صرف الله ته معلومه ده او د یوے زاوے نه بلے زاوے پورے د پنځوس زره نوری کال په اندازه مزل دے۔

د امام بخاریؒ د استاذ نعیم بن حمادؒ قول دے [مَنۡ شَبَّهَ اللّٰهَ بِخَلۡقِهٖ فَقَدۡ کَفَرَ، وَمَنۡ جَحَدَ مَا وَصَفَ اللّٰهَ بِهٖ نَفۡسَهٗ فَقَدۡ کَفَرَ، وَلَیۡسَ فِیۡمَا وَصَفَ اللّٰهُ بِهٖ نَفۡسَهٗ اَوۡ رَسُوۡلُهٗ تَشۡبِیۡهٌ......) چا چه الله لره د مخلوق سره مشابه کړو هغه کافر شو، او چا چه د یو داسے صفت نه انکار وکړو چه الله خپل ځان دپاره بیان کړیدے، هغه کافر شو، او الله د خپل ځان دپاره چه کوم صفت بیان کړیدے یا د هغه رسول بیان کړیدے په هغے کښې د مخلوقاتو سره مشابهت نشته دے،

پـدے وجه چا چه د الله دپاره هغه صفات کوم چه په قرآنی آيتونو او صحيح احاديثو کښې راغـلـی دی داسے ثابت کړل لکه څنګه چه د هغه د ذات لائق دی، او د هغه ذات ئے د تمامو نـقـائـصـو او عيبـونـو نـه پـاك وګـنـړلـو نـو هغـه پـه نيغـه لاره باقی پاتے شو انتهیٰ۔ (ابن کثير۳/۴۲۷ والمنار) ددے مسئلے د زيات تفصيل دپاره ((العلو للعلی الغفار)) د ذهبیؒ۔ او ((مـختصر العلو)) د شيـخ البانیؒ او فتاوی د شيخ الاسلام جلد (۵) او جلد (۳) او الصواعق المرسلة د ابن القيمؒ او شرح العقيدة الطحاوية د ابن ابی العز الحنفیؒ ته رجوع پکار ده۔

د امام ابوحنيفهؒ نه ابو مطيع البلخیؒ تپوس وکړو چه څوك دا ووائی چه ما ته پته نشته چه زما رب د آسمان دپاسه دے او که په زمکه کښې دے؟ نو امام صاحبؒ وفرمايل : (مَنْ قَالَ : لَا أَعْرِفُ رَبِّىْ فِى السَّمَاءِ اَوْ فِى الْأَرْضِ فَقَدْ كَفَرَ، لِاَنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى﴾ وَعَرْشُهٗ فَوْقَ سَبْعِ سَمٰوَاتٍ) څـوك چه دا ووائی چه ما ته پته نشته چه زما رب په آسـمـان کـښې دے (يـعـنـی پورته طرفته) يا په زمکه کښې نو دا يقينی کافر دے ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی : رحمن ذات په عرش برابروالے کړيدے۔ او د الله عرش د اُوه آسمانونو دپاسه دے۔ ابو مطيعؒ وائی : ما تپوس وکړو : (فَاِنْ قَالَ : اِنَّهٗ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى وَلٰكِنَّهٗ يَقُوْلُ لَا اَدْرِىْ الْعَرْشُ فِى السَّمَاءِ اَمْ فِى الْاَرْضِ؟ قَالَ : هُوَ كَافِرٌ) کـه يـو تـن ووائی چه الله په عرش برابروالے کـړيـدے لـيـکـن دا وائـی چـه مـا تـه پته نشته چه عرش په آسمان کښې دے او که په زمکه کـښې؟ نـو امام صاحب وفرمايل : دا شخص کافر دے، ځکه چه الله تعالیٰ د بره نه رابللے شی نـهٔ د خکته نه۔ (الـفـقـه الاكبر والفقه الابسط ص : ٤٩) د ابو مطيع البلخی، العلو د ذهبیؒ ص (١٠١/ ١٠٢) رقـم (٣٦٣) مـجـمـوع الـفـتـاوی لابـن تيمیةؒ ٥/ ٤٨) اجتماع الجيوش الاسلامية لابن القيمؒ ص (١٣٩) العلو لابن قدامة ص (١١٦) شرح العقيدة الطحاوية لابن ابی العزؒ ص (٣٠١)۔

او دغه شان عقيده د امام ابويوسف او محمد رحمهما الله هم ده۔ ليکن ډيرو مقلدينو د امام صاحب دا صحيح عقيده پريخے ده۔

فائده : کـوم ځـای کښې چه د استواء علی العرش خبره راغلے ده نو هغه مقام د تعارف د الله تـعـالـیٰ وی لـکـه دا اوه ځـايـونـو کښې راغلے دے۔نو پدے کښې اشاره ده چه څوك استواء عـلـی العرش نهٔ منی نو هغه الله نهٔ پيژنی۔ او استواء علی العرش د صفاتو فعليه ؤ نه دے او صـفـت فعلی دا دے چه د الله اختيار وی چه هغه کار کوی او که نهٔ، کله به ئے کوی او کله نـهٔ، نـودا پـه ظـاهـر بـنـاء دے او مقصد پکښې دا دے چه د بندګانو په زړونو کښې د الله په باره کښې ښه تصور واقع کړی چه زمونږ رب بره دے او لوی عرش لری او هغه د هغے دپاسه دے

نو پدے سره به ایمان جوړ شی او د الله سره به مینه پیدا شی۔

يُغْشِي الَّيْلَ : یعنی د شپے تیارهٔ د ورځے په رنړا سره او د ورځے رنړا د شپے د تیارے په وجه غائبیږی۔ وراَغوندوی شپه ورځے ته اَیُ یَجْعَلُ اللَّیْلَ کَالْغِشَاءِ لِلنَّهَارِ۔

شپه د ورځے دپاره د پردے په شان گرځوی۔ نو ورځ ملبوس او شپه لباس شی۔

یغشی : د اِغْشَاء نه دے اَغْشَا او غَشِیَ یو معنیٰ ده (اَیُ یَلْحَقُهٗ وَیَغْلِبُ عَلَیْهِ اَوْ یُغَطِّیْهِ وَیَسْتُرُهٗ) (المنار) یعنی پیوسته کیږی شپه په ورځ پسے او غالبه کیږی په هغے، یا پټوی شپه په ورځ کښ۔

يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا : هر یو د بل پسے وی او په مینځ کښ داسے وخت نهٔ راځی چه نهٔ شپه وی او نهٔ ورځ وی، په هیڅ حال کښ هم دواړه په رفتار کښ تاخیر نهٔ کوی۔

حَثِيْثًا : اَیُ سَرِیْعًا۔ یعنی په جلتئ سره۔

مُسَخَّرٰتٍ : یعنی نمر او سپوږمئ او ستوری تابع کړے شویدی د الله د ارادے چه هغه ترے څه غواړی هغه ترے اخلی لکه بنکاره کیدل، پټیدل وغیره۔ او ددے نه معلومه شوه چه دا مُدَبِّرَات (تدبیر کونکی د عالم) نهٔ دی (لکه چه کهکشان والا وائی) بلکه دا مُسَخرات (تابع) دی او پدے کښ ذاتی نحوست (سپیرهٔ والے) او سعادت (نیکبختی) نشته۔ او د ستورو درے فائدے مخکښ ذکر شویدی نورے فائدے دا دی چه پدے سره میوے پخیږی او د آسمان د مضبوطوالی ذریعه ده لکه الله تعالیٰ په سورة الانفطار کښ آسمان او ستوری ددے حکمة د وجه نه جمع کړیدی ﴿ اِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَاِذَا الْکَوَاکِبُ انْتَثَرَتْ﴾

د سائنسدانانو په اصطلاح په ستورو کښ الله تعالیٰ کشش او غازات (یعنی گیسونه) پیدا کړیدی او پدے سره آسمان مضبوط دے۔

او په حدیث کښ هم دی [اَلنُّجُوْمُ اَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ فَاِذَا ذَهَبَتِ النُّجُوْمُ اَتَی السَّمَاءَ مَا تُوْعَدُ] (صحیح مسلم : ٦٦٢٩) ستوری د آسمان دپاره د امن ذریعه ده، کله چه ستوری راپریوزی نو آسمان ته به هغه شے راځی چه د کوم ورسره وعده شویده۔ (یعنی ماتیدل)

اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ : یعنی د الله دپاره د پیدائش نظام هم دے (پیدا کول صرف الله کوی) او د هغه دپاره تصرف هم دے چه هغه د کائناتو چلول دی۔ او دے ته امرگونی وائی۔

علامه سعدیؒ وائی : الخلق کښ احکام کونیه قدریه ته اشاره ده او الامر کښ احکام دینیه شرعیه ته۔ (تفسیر السعدی ١/٢٩١)

دا دليل دے چه په كائناتو كښې د بل چا، كوم قطب، غوث او بابا او پير امر نهٔ چليږي۔
امام ابن جرير پدے مقام كښې د عبد العزيز الشاميؒ د پلار نه (چه هغه صحابي دے) د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل كړيدے : [مَنْ زَعَمَ اَنَّ اللّٰهَ جَعَلَ لِلْعِبَادِ مِنَ الْاَمْرِ شَيْئًا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا اُنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى اَنْبِيَائِهٖ] ۔ (چا چه دا عقيده وساتله چه الله تعالىٰ د بندګانو دپاره د خپلو اختياراتو نه څه حصه وركړيده (عزت، ذلت وركول، مالداري، غريبي وركول) نو هغه كفر وكړو په هغه كتابونو چه الله تعالىٰ په انبياؤ باندے نازل كړيدي ځكه چه الله فرمائي چه (پيدائش او اختيارات خاص د هغه دي) (الطبري١٢/٤٨٦)
تَبٰرَكَ اللّٰهُ : د بركت معنىٰ ده زيادت او نُمُو يعني په يو شي كښې ډيروالے پيدا كيدل۔
ازهريؒ وائي : تَبَارَكَ : تَعَالىٰ وَتَعَاظَمَ وَارْتَفَعَ۔ اوچت او لوى او پورته شو۔
او قرطبيؒ وائي : د بركت معنىٰ ده كثرت (ډير والے) او اتساع۔ (يعني فراخي) (٧/٢٢٣)
صاحب المنارؒ وائي : اَلْبَرَكَةُ هِيَ الْخَيْرُ الْكَثِيْرُ الثَّابِتُ۔ بركت ډير هميشه خير ته وائي۔
دلته ترے ددے عالَم هغه نعمتونه او خيرات مراد دي چه په بندګانو باندے الله لره شكر او عبادت واجبوي۔
سعديؒ معنىٰ كوي : عَظُمَ وَتَعَالىٰ وَكَثُرَ خَيْرُهٗ وَاِحْسَانُهٗ، فَتَبَارَكَ فِيْ نَفْسِهٖ لِعَظَمَةِ اَوْصَافِهٖ وَكَمَالِهَا وَبَارَكَ فِيْ غَيْرِهٖ بِاِجْلَالِ الْخَيْرِ الْجَزِيْلِ وَالْبِرِّ الْكَثِيْرِ)
(لوى دے، اوچت دے، او خير او احسان ئے زيات دے، نو ذات ئے د بركت والا دے ځكه چه صفات ئے عظيم او د كمال والا دي او نورو ته بركت وركونكے دے چه د لږ خير نه زيات او د لږے نيكئ نه ډيره جوړه وي)۔
د بركت نسبت به (په صيغه د اسم فاعل او فعل سره) صرف الله ته كولے شي داسے به نشي وئيلے (تَبَارَكَ الرَّسُوْلُ، تَبَارَكَ زَيْدٌ) ځكه چه يو شے پيدا كول بيا په كښې زيادت او ترقي پيدا كول صرف د الله پورے خاص دے، بركت اچونكے او بركت وركونكے صرف الله دے۔
نو د تبارك دوه معنے دي لازم معنىٰ : تَزَايَدَ خَيْرُهٗ وَتَعَاظَمَ۔ خير د الله زيات دے او خپله لوى دے۔ او متعدي معنىٰ : تَبَارَكَ فِي الْاَشْيَاءِ۔ په څيزونو كښې زيادت او فائدے پيدا كونكے۔
او بركت دے ته وائي چه لږ شے ډير شي، يا د لږ عمر نه ډيره فائده واخستل شي۔ د الله بركت ته وګوره چه نطفه څومره وړوكے او سپك شے دے نو الله ترے ښائسته انسان جوړ كړي دغه شان د دانو او تخمونو نه ونے جوړې كړي۔

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٥٥﴾

دعا غواړئ د رب خپل نه په عاجزئ او په پټه یقیناً الله مینه نهٔ کوی د حد نه تیروتونکو سره۔

تفسیر : هرکله چه الله تعالیٰ خالق او قادر دے او د ټولو خیرونو مالك هغه دے نو د هغه په بندګانو دا فرض دی چه صرف د هغه عبادت وکړی او ښکاره او پټ په هر حال کښ صرف هغه ته آواز وکړی او د هغه مخکښ لاس خور کړی۔

ربط : ۱- مخکښ دلائل د الله د توحید ربوبیت او معرفت بیان شو نو د الله معرفت د هغه د بندګئ دپاره ذریعه ده، هسے معرفت بغیر د بندګئ نه مقصود نهٔ دے۔ نو اُوس په بندګئ او عاجزئ باندے حکم کوی۔

دعاء : په ډیرو معانو راځی دلته ئے معنیٰ ده غوښتل او سوال او حاجت طلب کول دی۔

تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً : پدے آیتونو کښ د دعا ډیر آداب ذکر دی او ددے سورت په آخر کښ هم راځی، (۱) یو ادب دا دے چه د رب نه به دعا غواړی، نهٔ د قبرونو او اولیاؤ نه۔

(۲) دویم ادب : په عاجزئ سره به ئے غواړی، حافظ سیوطیؒ په «الاکلیل» کښ لیکلی دی چه د دعا دپاره لاس پورته کول عاجزی او انکساری ده۔ حافظ بزارؒ د انس ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د عرفات په میدان کښ لاس پورته کولو سره دعا کوله۔

(محاسن التاویل)

(۳) ادب : وَخُفْيَةً۔ یعنی په پټه باندے دعا وکړئ او دا بهتره ده او واجبه نهٔ ده او دلیل پرے هغه احادیث دی چه په هغے کښ ثابته ده چه رسول الله ﷺ په جهر دعا کړیده او بعض صحابه کرامو دعا کړیده او نورو پرے آمین وئیلے دے لکه د سعد او د عبد الله بن جحش رضی الله عنهما واقعه په اُحد کښ راغلے ده۔

حسن بصریؒ نه نقل دی : (بَيْنَ دُعَاءِ السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ سَبْعُوْنَ ضِعْفًا) د پټے او ښکاره دعا ترمینځ اویا چنده فرق دے، یعنی په پټه دعا ډیره بهتره ده۔

حافظ ابن القیمؒ په «بدائع الفوائد» کښ د پټ ذکر او پټے دعا دپارلس وجے د غوره والی ذکر کړیدی۔ مګر که چا په جهر دعا وکړه نو هغه ته به بدعتی نشی وئیلے، او ددے په باره کښ عبد الحی اللکهنویؒ په "سباحة الفکر" کښ تقریباً اته ځلویښت روایتونه جمع کړیدی۔

په صحیحینو کښ د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روایت شویدے چه خلقو په اُوچت آواز

سره دعا کوله نو رسول الله ﷺ وفرمایل :
((خلقو! لږ د آرام نه کار واخلئ، تاسو کوم ګونګا، کوڼ او غائب نۀ رابلئ، کوم ذات چه تاسو رابلئ هغه ډیر آوریدونکے او نزدے دے))۔
د حسن بصریؒ وینا ده چه اول به مسلمانانو په دعاکولو کښې ډیر محنت کولو او د هغوی آوازونه به نۀ آوریدے کیدل، د هغوی او د رب ترمینځ به خبرے وے یعنی هغوی به په پټه دعا کوله۔ لکه چه الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ اُدۡعُوۡا رَبَّکُمۡ تَضَرُّعًا وَّخُفۡیَةً ﴾ او د زکریا علیہ السلام په باره کښې ئے فرمایلی دی : ﴿اِذۡ نَادٰی رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِیًّا﴾ (مریم : ۳) (کله چه هغه خپل رب ته په پټه آواز وکړو)۔ (القاسمیؒ)

د اعتداء صورتونه

(٤) عدمی شرط : اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الۡمُعۡتَدِیۡنَ۔ په دعاء کښې اعتداء (د حد نه تجاوز) نکول۔ په دعاء کښې د اعتداء ډیر صورتونه دی : (۱) د غیر الله نه دعا غوښتل،
(۲) طَلَبُ مَنَازِلِ الۡاَنۡبِیَاءِ۔ د انبیاؤ مرتبے غوښتل۔ (قاله ابو مجلزؒ- القاسمیؒ)
(۳) طَلَبُ مَا یُخَالِفُ عَادَةَ اللّٰهِ ۔ هغه څیزونه غوښتل چه د الله د عادت خلاف وی۔ څکه چه الله دا نظام په حکمة جوړ کړیدے نو څوك چه ددے خلاف خبره غواړی نو دا معتدی دے۔ لکه یو تن وائی چه اے الله ! ما ته دا ښخته او دیوال د سرو زرو جوړ کړه، ما په هوا والوزوه، الله پدے قادر دے لیکن عادت ئے داسے نۀ دے۔
(٤) اَلۡمُبَالَغَةُ فِی الۡجَهۡرِ وَالصِّیَاحِ۔ په جهر کښې زیادت کول او چغے وهل۔
(۵) بِدَعِی دعاګانے کول۔ لکه د سنتو، او د فرضو او د جنازے نه روستو په هیئتِ اجتماعی سره دعا کول، څکه دا د سنت خلاف دی۔
(٦) علامه قاسمیؒ وائی : په مخکنو دوه امرونو باندے عمل نکول (یعنی تضرع او په پټه نکول) هم په دعاء کښې اعتداء ده۔
(۷) په شرعی الفاظو کښې زیادت کول لکه په اَللّٰهُمَّ اَنۡتَ السَّلَامُ کښې (حَیِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدۡخِلۡنَا دَارَ السَّلَامِ) الفاظ زیاتول،
(۸) په دعاء کښې تشدد او د مقاماتو تعیین کول لکه عبد الله بن مغفل رضی الله عنه د خپل څوی نه واوریدل چه اے الله ! زۀ ستا نه د جنت په ښی طرف کښې سپینه بنګله غواړم نو هغه ورته ووئیل چه اے څویه ! دا په دعاء کښې اعتداء ده۔ (احمدؒ : ۱٦۸٤۷ وابوداودؒ رقم : ۹٦ حسن)

(۹) په کومو ځایونو کښې چه لاسونه پورته کول نۀ وی راغلی هلته لاسونه پورته کول یا په عامو دعاګانو کښې د حد نه زیات لاسونه پورته کول هم اعتداء ده۔

وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا
او فساد مۀ کوئ په زمکه کښې پس د اصلاح د هغې نه او دعا غواړئ د الله نه په يره
وَّطَمَعًا ط اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٦﴾
او په طمعه سره يقيناً رحمت د الله تعالىٰ نزدې دے نيکى کونکو سره۔

تفسیر : ربط :

مخکښې آيت کښې الله تعالىٰ د هر حاجت دپاره د الله د رابللو طريقه وخودله نو اُوس پدے آيت کښې د مخلوق او د خالق د حقوقو رعايت ښائى، يعنى کله چه د دنيا معاملات او نظام برابر وى نو پدے کښې به فساد او خرابوالے نۀ پيدا کوئ۔

مطلب : الله تعالىٰ په زمکه کښې د فساد خورولو نه منع کړيده، او که هغه فساد د زمکے د اصلاح نه روستو وى نو هغه بندګانو ته ډير نقصانورکونکے دے۔ فساد په زمکه کښې يو په شرك او ګناهونو سره راځى (مدارك وغيره)

بل په قتل د نفسونو، او په افساد د مالونو په غصب او غلا سره، او د دين فساد په کفر او شرکت او بدعت سره، او د نسبونو فساد په زنا او عمل د قوم لوط سره۔ او د اصلاح نه مراد په رالیږلو د رسول او قرآن سره دے۔

او عطيهؒ وائى : په زمکه کښې ګناهونه مۀ کوئ پدے سره به الله بارانونه بند کړى او فصلونه به هلاك شى ستاسو په ګناهونو نو د (بَعْدَ اِصْلَاحِهَا) معنىٰ ده : پس د برابرولو د الله تعالىٰ زمکے لره په باران او تازه ګئ سره۔ (نقله البغویؒ)

صاحب المنارؒ وائى : لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ يعنى فساد مۀ کوئ په زمکه کښې په ضررى عمل کولو يا په ظالمانه فيصله کولو سره چه هغه د خلکو د صلاح او فائدے منافى وى، د هغوى په نفسونو کښې وى لکه د هغوى عقلونه، يا د هغوى عقيدے او د هغوى شخصى او اجتماعى آداب خرابول يا د هغوى په ژوند او فائدو کښې وى لکه زراعت، صناعت، تجارت، او د مواصلاتو لارے او د تعاون وسائل خرابول، نو پدے کښې فساد مۀ کوئ پس د هغے نه چه په هغے کښې الله منافع ايخودى دى او خلکو ته ئے د هغے خودنه

کړیده۔
بیا وائی : سخت فساد تکبر او عتوّ ده چه دا سبب د ظلم او علو دے لکه انګریزانو ته وګوریٔ چه د زمکے هر شی ئے برابر کړیدے لکه معدنیات، نباتات او حیوانات او د هغے نه ئے فائدے اخستی دی لیکن د انسان د نفس د اصلاح نه عاجز شویدی ځکه چه دوی د ډیر کامل دین سره دشمنی شروع کړیده۔ نو د هغوی حکومتونه د نوع انسانی په فساد کښ لګیا دی او د کفر او فسوق او عصیان په اباحت بوخت دی۔ (المنار)
وَادْعُوْهُ : دا نور آداب د دعا دی، یو یره کول د هغه د عذابونو او د دعا د نهٔ قبلیدو او په ګناه باندے د سزا ورکولو نه، او بل ادب دا دے چه د هغه نه به طمع او امید ساتی۔ لکه حدیث کښ دی : (اُدْعُوا اللّٰهَ وَاَنْتُمْ مُوْقِنُوْنَ بِالْاِجَابَةِ) (ترمذی : ۳٤۷۹ بسند حسن)
د الله نه په داسے حال کښ دعا کویٔ چه ستاسو په قبول والی باندے یقین وی۔ که یو تن د الله نه یره نکوی او غوښتنه ترے کوی نو دیته ادلال (ناز او نخرے) وائی چه د بنده د شان سره مناسب نهٔ ده۔
رَحْمَتَ اللّٰهِ: د رحمت ډیرے معانی دی دلته ترے دعا قبلول دی۔
الْمُحْسِنِيْنَ : اشاره ده چه دعا کونکی محسنین دی ځکه چه په دعا کښ الله تعالیٰ ته ډیره زیاته توجه کیږی۔ لکه حدیث کښ هم دی:
[لَيْسَ شَيْءٌ اَكْرَمَ عَلَى اللّٰهِ مِنَ الدُّعَاءِ] (ترمذی : ۳۳۷۰ بسند حسن- البانی)
هیڅ شے نشته چه الله تعالیٰ ته د دعا نه زیات عزتمند وی۔
دعاء الله ته ډیره عزتمنه ده ځکه چه پدے کښ توجه ډیره وی۔
قَرِيْبٌ : دا ئے مذکر راوړو ځکه چه فعیل وزن کښ مذکر او مؤنث مشترك دی کله چه په معنیٰ د مفعول وی۔ یا رحمت کښ تانیث حقیقی نهٔ دے او رحمت په معنیٰ د ثواب دے۔
او د آیت نه دا فائده معلومه شوه چه په ځان کښ د احسان صفت پیدا کړه نو الله به دِے ضرور دعا قبلوی او رحمت به درباندے وکړی۔ او دا بل شرط د دعاء دے۔ لکه حدیث کښ دی [اِنَّ اللّٰهَ لَايَقْبَلُ عَنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ] الله تعالیٰ د غافل او په بل شی باندے مشغول زړه نه دعا نهٔ قبلوی۔ (ترمذی : ۳٤۷۹ سند حسن)
او ددے نه دا هم معلومه شوه چه د محسنینو سره نزدے کیدل او د هغوی په مجالسو کښ شریك کیدل پکار دی، په هغوی به رحم کیږی نو په تا به هم وشی۔ په حدیث کښ

دی : (هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ) (دوی داسې خلك دی چه د دوی سره ناست انسان نهٔ بد بخته کیږی۔ (صحیح مسلم ۲۰۷۰/۴ رقم : ۲٦۸۹)

وَهُوَ الَّذِىْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهٖ ط
او الله هغه ذات دے چه رالیږی هواګانے زیرے ورکونکی مخکښ د رحمت خپل نه
حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ
ترهغے چه کله راپورته کړی وریځے درنے، بوځو مونږ دا هغه ښار ته چه اُوچ دے
فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ط
پس راولیږو په هغے باندے اُوبه نو راوباسو په هغے سره د هر قسم میوو نه
كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾
دغسے به راوباسو مونږ مړی دے دپاره چه تاسو نصیحت واخلئ۔

تفسیر : دا بل تعارف د الله تعالیٰ دے۔

الرِّيٰحَ ئے جمع راوړه ځکه چه الله مختلفے هواګانے رالیږی، د عربو په نیز هواګانے څلور قسمه دی (۱) شمال، (۲) جنوب، (۳) صبا، دیته قبول هم وائی دا د مشرق د طرفنه وی۔ (٤) دَبُوْر دا د مغرب د طرفنه رالوځی۔ او کله چه دا دوه مختلفے هواګانے ګډے وډے شی نو هغے ته نکباء (اوریدونکے او سخته) هواء وائی۔ او کله چه ډیرے هواګانے د مختلف طرفونو نه راوالوځی هغے ته متناوحه وائی۔ او عربو نه دا هم نقل دی چه د بارانی وریځے په راپورته کولو کښ دا ټولے هواګانے اثر لری، الله تعالیٰ چه کله باران اُورول غواړی نو باد صبا ته حکم وکړی چه هغه وریځه په حرکت کښ راولی او شمالی ئے راجمع کوی او جنوبی ئے راوروی او دبور ئے تقسیموی۔ (تفسیر المنار)

راغبؒ وائی : په قرآن کریم کښ ریاح د رحمت هواګانے وی او ریح د عذاب هوا وی۔

بُشْرًا : دا د الله تعالیٰ عادت دے چه کله باران کوی نو مخکښ ترے هوا راشی۔

اَقَلَّتْ : اَیْ رَفَعَتْ ۔ یعنی راپورته کړی۔ اِقْلَال په معنیٰ د پورته کولو سره راځی۔ لکه (اَقَلَّ الْقُلَّةَ) منګے ئے راپورته کړو۔

سَحَابًا : اسم جنس دے مفرد ئے سَحَابَةٌ دے۔ او ثقال : یعنی درنے په بخاراتو د اُوبو سره۔

لِبَلَدٍ: لام په معنیٰ د (اِلٰی) سره دے لکه په سورة الفاطر کښې په اِلٰی سره راغلے دے۔
مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ : نو باران يو نعمت او ددے په وجه چه کوم برکات راځی دا بل او بيا چه ميوے پرے پيدا کيږی دا بل نعمت دے۔
كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى : پدے سره اثبات د قيامت کوی په طريقه د قياس سره، لکه څنګه چه د بارانی اُوبو نه مختلف قسم په کربونو بوټی او ميوه جات راوباسی نو دغه شان به الله تعالىٰ مړی هم په قيامت کښې د زمکے نه راوباسی، دا هم ورته ګرانه نۀ ده۔ دارنګه دا ورسره ځکه وائی چه کله انسان د زمکے فصل ته وګوری نو هسے نه چه د خوشحالئ د وجه نه دوباره ژوند هير کړی نو د آخرت د يادولو دپاره ئے ورسره دا ذکر کړو۔ که ددے نه آخرت ياد نکړے شی او د هغے دپاره تيارے ونکړے شو نو مقصد د ژوند خراب شو۔

په احاديثو کښې دی چه د دواړو شپيلو ترمينځ به څلويښت ورځے وی نو بيا به الله باران راوليږی نو د هغے په وجه به تول مړی راپورته کړی۔ بخاری: ٤٦٥١ ومسلم رقم: ٢٩٥٥)

وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ج
او هغه زمکه چه پاکه (مزيداره) ده راوځی ګياه د هغے په حکم د رب د هغے
وَالَّذِىْ خَبُثَ لَا يَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًا ط
او هغه زمکه چه بنوره ناکه ده نۀ راوځی (بوټی د هغے) مګر بيکاره،
كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ ﴿٥٨﴾
دغسے په تفصيل سره بيانوو آيتونه دپاره د هغه قوم چه شکر کوی۔

تفسير: کله د يو دليل نه ډيرے فائدے اخستلے کيږی نو دلته هم دغسے شويدی چه پدے کښې الله تعالىٰ د قرآن تشبيه د باران سره او د انسانانو د زمکو سره ورکړيده، زمکے دوه قسمه دی، طيبه، او خبيثه۔ د باران په وجه طيبو زمکو ته فائده رسی، ښائسته بوټی او ګيا هګانے پکښې رازرغونی شی او خبيثی زمکے ته فائده نۀ رسی بلکه هغے کښې ازغی پيدا شی او نوره خرابه شی ويهيږی، سوری سوری او کچه شی

نو دغه شان ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا﴾

(اسراء: ۸۲) قرآن هم په نیکانو کښې کمالات راپیدا کړي او ظالمانو لره د انکار په وجه نور تاوان زیات کړي.

ددې مثال داسې هم دې چه باران وشي هغه شاتو مچۍ وڅکي نو شهد ترې جوړ شي او ګډه بزه ئې وڅکي نو پيۍ جوړ شي او مار، لړم ئې وڅکي نو زهر ترې جوړ شي ځکه چه د هغه په نفس کښې خباثت دې. او ددې مثال تفصيل به په سورة الرعد (۱۷) آيت کښې راشي. ان شاء الله تعالیٰ.

کومه زمکه چه زرخيزه وي په هغې کښې د الله په حکم سره بوټي مزيدار او فائده مند راوځي او کومه چه خرابه وي لکه تورو کاڼرو والا يا ښوره ناکه زمکه پدې کښې مزيدار بوټي نۀ پيدا کيږي، او کوم چه پيدا کيږي هغه فائده مند نۀ وي.

ابن عباس ﷺ وائي چه الله تعالیٰ ددې مثال په ذريعه د مؤمن او کافر حال بيان کړيدې. قتادۃ وائي چه مؤمن د قرآن کريم په آوريدو سره هغه يادوي او د هغې معانيو ته په خپل زړۀ کښې ځاي ورکوي او د هغې نه فائده اخلي، نو ښائسته انسان ترې جوړ شي، د هغه زرخيزې زمکې په شان چه په هغې کښې د باران کيدو نه روستو بوټي راخيژي، ليکن د کافر حالت ددې په خلاف وي، چه هغه پرې اعتراضونه شروع کړي نو خباثت ئې نور هم زيات شي.

ځينې وائي: دا د زړونو مثال دې، بعض زړونه نصيحت اخلي او خبره رايادوي او بل فاسق زړه وي چه ددې نه نفرت کوي. (القرطبیؒ)

په صحيحينو کښې د ابو موسیٰ اشعري ﷺ روايت دې چه رسول الله ﷺ وفرمايل: ((الله تعالیٰ چه زۀ په کوم علم او هدايت راليږلې يم د هغې مثال د تيز باران دې چه ښائسته زمکه ئې قبلوي، بيا په هغې کښې بوټي او ډيرې سبزيانې راوخيژي او اُوچه او سخته زمکه اُوبه بندوي چه د هغې نه خلق فائده اخلي، ځاروي خړوبه کوي، او فصلونه کړي او خوړ والا سرسري زمکه نۀ اُوبه بندوي او نۀ کومه ګياه زرغونوي. دا مثال د هغه سړي دې چه د الله د دين پوهه ئې حاصله کړه، او د هغه شي نه ئې فائده واخسته په کوم چه الله زۀ راليږلې يم، نو هغه علم حاصل کړو او نورو ته ئې تعليم ورکړو او دا مثال د هغه سړي دې چه هغه ترې هيڅ فائده وانخسته او نۀ ئې هغه هدايت قبول کړو په کوم چه زۀ راليږلې شوې يم.

(بخاري: ۷۹ مسلم: ۶۰۹۳)

وَالَّذِیْ : اَيِ الْبَلَدُ الَّذِیْ خَبُثَ. هغه زمکه چه خبيثه ده.

لَا يَخْرُجُ : اَیْ نَبَاتُهُ **اِلَّا نَكِدًا** : نکدا حال دے۔ اَیْ حَالَ کَوْنِهِ قَلِیْلًا، عَدِیْمَ النَّفْعِ، یُقَالُ عَطَاءٌ نَکِدٌ، اَیْ قَلِیْلٌ لَا خَیْرَ فِیْهِ) ۔ (القاسمیؒ) یعنی په داسے حال کښې چه کم، بې فائدے، (بیکاره) وی لکه وئیلے شی عطاء نکد یعنی کمه بې خیره تحفه۔

نَكِدًا : کُلُّ شَیْءٍ خَرَجَ اِلٰی طَالِبِهٖ بِتَعَسُّرٍ ۔ (راغبؒ) نکد هر هغه شے دے چه طلب کونکی ته په تکلیف راوځی۔ صاحب المنار وائی : چا چه د انسانانو امتحان واخستو نو پو هه به شی چه د طیبین نه عفو بغیر د تکلیف نه راوځی او د خبیثانو نه خیر او نیکی او هغه حق چه په دوی باندے واجب وی نهٔ راوځی مگر په تکلیف سره پس د ډیرے مبالغے او ضرر او حاکمانو ته د راښکلو او سختو جګړو نه۔ (تفسیر المنار۸/٤٢٨)

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ : یعنی قسم قسم آیتونه او طریقے د دلائلو مونږ بار بار بیانوو۔

يَّشْكُرُوْنَ : پدے کښې ترغیب دے شکر کولو ته پدے ذکر شوی نعمتونو سره۔ شاکرین ئے ذکر کړل ځکه چه دوی د قرآن نه فائده اخلی۔

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ
یقیناً لیږلے وو مونږ نوح (علیه السلام) د هغهٔ قوم ته نو ووئیل هغهٔ اے قومه زما !
اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ
بندګی خاص کړئ الله لره نشته تاسو له لائق د بندګئ سوئ د هغهٔ نه یقیناً زهٔ یریږم
عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۵۹﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰكَ
په تاسو د عذاب د ورځے لوئی نه۔ ووئیل غټانو د قوم د هغهٔ یقیناً مونږ خامخا وینو تا
فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۰﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ
په ګمراهئ ښکاره کښې۔ ووئیل دهٔ اے قومه زما ! نشته په ما باندے ګمراهي او لیکن یم
رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۱﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنْصَحُ
زهٔ رسول د طرف د رب العالمین نه۔ رسوم تاسو ته پیغامات د رب خپل او خیرخواهي کوم
لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾ اَوَعَجِبْتُمْ
ستاسو او پو هیږم د طرف د الله نه په هغه څه چه نهٔ پو هیږئ تاسو۔ آیا تعجب کوئ تاسو

اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ
چه راغلې دے تاسو ته نصيحت د طرفه د رب ستاسو په يو سړی ستاسو نه
لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ
دے دپاره چه ويروی تاسو او دے دپاره چه تقویٰ اختيار کړئ تاسو او دے دپاره چه په تاسو
تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ
رحم وکړے شی۔ پس دروغژن وګڼړلو دوی هغه لره نو خلاص کړو مونږ هغه
وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِى الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ
او هغه کسان چه د هغهٔ سره وو په کشتئ کښں او ډوب مو کړل هغه کسان
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿٦٤﴾
چه دروغژن ئے ګڼړلی وو آيتونه زمونږ يقيناً دوی وو قوم ړاندهٔ۔

تفسیر : ددے آیت نه روستو د شپږو انبیاؤ علیهم السلام واقعات بیانیږی چه دے ته نقلی دلیلونه وائی چه په یو موضوع باندے پیش کیږی، د انبیاؤ علیهم السلام د واقعاتو یو خو په ټول قرآن کښں عمومی فائدے دی او بل د هر سورت د موضوع سره متعلق وی، چه موضوع پرے ثابتیږی اګرکه نورے فائدے به هم ضمنی پکښں زیاتی وی۔

فائده : په قرآن کریم کښں د انبیاؤ د واقعاتو عمومی د څلویښتو نه زیات فوائد دی۔ بعض دا دی (۱) یو تثبیت یعنی د رسول الله ﷺ او مؤمنانو مضبوطول۔

(۲) الانذار (کافران یره ول) (۳) والتذکیر۔ (مؤمنانو دپاره عبرت)

(٤) طَرِيْقَةُ الدَّعْوَةِ اِلَى اللّٰهِ۔ الله طرفته د دعوت طریقه خودل۔

(٥) اَلْاَمْرُ بِالصَّبْرِ۔ (د نورو انبیاؤ علیهم السلام په شان صبر به کوئ)۔

(٦) اظهار د حکمة وی چه الله خپل مخلوق مُهْمَل (بیکاره) نهٔ دی پریښی بلکه هره زمانه کښں ئے ورته رسول رالیږلے دے۔

(۷) بَيَانُ صِدْقِ الرَّسُوْلِ۔ د رسول الله ﷺ په دوه طریقو سره رشتینوالے خودل، یو دا چه دا امی شخص دے، دا واقعات ئے لیدلی نهٔ دی او بیخی صحیح صحیح ئے بیانوی نو دلیل دے چه دا د الله رشتینی رسول دے څکه چه الله دهٔ ته د وحی په ذریعه دا خبرے خودلی دی

ورنه دهٔ ته د کوم ځائ نه ددے خبرو خبر کیدو؟۔
دویم دا چه دا رسول څه اولنے رسول نهٔ دے بلکه ددهٔ نه مخکښ هم دا سلسله د انبیاؤ علیهم السلام جاری وه نو دا بعیده مهٔ گنړئ چه ولے الله انسان رسول راولیږلو۔
(۸) : اِظْهَارُ طَبِيْعَةِ الرِّسَالَةِ ۔ خلکو ته د رسالت طبیعت ښکاره کول چه رسالت دیته نهٔ وائی لکه چه د خلکو گمان دے چه نهٔ به خوراك څکاك کوی او نهٔ به پرے مرگ راځی او نهٔ بیماری۔ او مالداره به وی، مزے به کوی، نهٔ، رسالت دیته وائی چه انسان به وی او د الله پاك بنده به وی او د الله د امتحاناتو نه به بچ نهٔ وی، رسول الله ﷺ سره د ډیرے تقویٰ نه څلور ځله د اس او اوښ نه غورزیدلے دے او ډیر کرت بیمار شوید ے ځکه بشر وو۔
(۹) بَيَانُ مَقْصَدِ خَلْقِ الْإِنْسَانِ ۔ (انسان کوم مقصد له پیدا دے؟ هغه عبادت دے) نو هره زمانه کښ هر نبی وئیلی دی (يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ) اے قومه ! د الله بندگی وکړئ۔
(۱۰) **فائده**: د انبیاء علیهم السلام ټول دعوتونه درے خبرے وے، ۱- یو د مخلوق نه د خلکو تعلق کټ کول او په الله باندے جوړول، په بل تعبیر : خلك د شرك نه منع کول او په توحید کښ داخلول۔ ۲- او د اموالو د محبت نه ویستل د اعمالو محبت ته۔ددے وجه نه هر نبی اعمالو ته دعوت ورکړیدے۔ ۳- بندگان د دنیا د محبت نه ویستل د آخرت محبت ته۔ یعنی په آخرت هم نظر لگوئ۔ نو پدے واقعاتو کښ رسول الله ﷺ ته دا ښودل دی چه تهٔ هم دا درے قسمه دعوتونه کوه۔
(۱۱) دا واقعات نقلی دلائل وی دپاره د اثبات د توحید او رد د شرك۔
دلته ددے واقعاتو مقصد یو انذار دے او بل تذکیر دے او دریم تقویٰ پیدا کیدل۔ (یعنی اتباع د مَا اُنْزِلَ ته دعوت) او دا په یو بل باندے مرتب دی۔
دارنگه پدے کښ یو مقصد دا دے چه د قریشو کافران په مختلف انداز کښ الله طرف ته راوبللے شی، هغوی ته وخودلے شی چه لکه څنگه تیر شوی انبیاء علیهم السلام راغلی دی نو کومو خلقو چه د دوی دعوت قبول کړو الله هغوی ته نجات ورکړو او کافران ئے هلاك کړل، که تاسو هم ایمان راوړئ نو د الله د طرف نه به د عزت او اکرام مستحق شئ او که نهٔ وی نو تاسو به هم هلاك کړے شئ او الله به ستاسو هیڅ پرواه نهٔ کوی۔
نُوْحًا : د نوح عليه السلام نه ئے شروع وکړه ځکه چه دا اولنے رسول دے زمکے والو ته چه د رد د شرك دپاره راغلے دے، دده نوم : نوح بن لامك بن متوشلخ، بن اخنوخ، اخنوخ د ادریس عليه السلام نوم دے، لکه دده په باره کښ وئیلے شی چه دا اولنے هغه شخص دے چه په قلم باندے

ئے خط کړیدے۔ (او دا فن ئے ایجاد کړیدے) اخنوخ بن برد بن مهلیل بن قنین بن یانش بن شیث بن آدم علیه السلام۔

یزید الرقاشیؒ وائی نوح علیه السلام به په خپل ځان ژړا ډیره کوله پدے وجه ورته نوح ووئیل شو۔ د آدم علیه السلام نه تر د نوح علیه السلام د زمانے پورے لس صدئ تیرے شویدی او دا ټول په اسلام او توحید باندے تیر شویدی۔ (قاله ابن عباسؓ- تفسیر ابن کثیر)

عبد الله بن عباسؓ او نور مفسرین فرمائی چه د بت پرستئ ابتداء پدے طریقه وشوه چه څه نیکان خلك مړهٔ شول نو د هغوی معتقدینو د هغوی په قبرونو باندے مسجدونه جوړ کړل او د هغوی تصویرونه ئے جوړ کړل او په هغے کښ ئے کیخودل دے دپاره چه هغوی ته په کتلو سره د هغوی حالت او د هغوی عبادت رایاد کړی او د هغوی په شان جوړیدو کوشش وکړی، مګر لږه زمانه چه تیره شوه نو خلکو د هغوی د تصویرونو په ځای د هغوی مجسمے جوړے کړے او د هغوی احترام او عبادت ئے شروع کړو، او د دغه مجسمو نومونه ئے د دغه صالحینو په نوم سره یاد کړل لکه ”ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر وغیره“ او کله چه د هغوی شرك د حد نه تیروتو، نو الله تعالیٰ نوح علیه السلام راولیږلو، دے دپاره چه بیا دوی ته د یو الله د عبادت دعوت ورکړی۔ نو کله چه هغوی د خپل دعوت اعلان وکړو نو د هغه د قوم سردارانو هغه سخت ګمراه وګڼړلو۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه په هر دور کښ د فاسقانو او فاجرانو همدا حال پاتے شویدے چه هغوی نیکان خلق بیوقوف او ګمراهان ګڼړی۔

په قرآن کریم کښ الله تعالیٰ د نوح علیه السلام معجزه نهٔ ده ذکر کړے، نهٔ کوم کتاب، البته یوه معجزه ئے ذکر ده چه ښیرے ئے وکړے او الله قبولے کړے او د هغه په قوم باندے عذاب راغلو لیکن دا معجزه ئے روستو ښکاره شویده۔ او چونکه د هغے په ذکر کولو کښ به فائده نهٔ وه پدے وجه الله تعالیٰ نهٔ ده ذکر کړے۔

اَرۡسَلۡنَا : اَیۡ بِالتَّوۡحِیۡدِ وَعِبَادَةِ اللّٰهِ۔ یعنی مونږ په توحید او د الله په بندګئ لیږلے وو۔

مِّنۡ اِلٰهٍ : اله په معنیٰ د حقدار د بندګئ دے۔

اَلۡمَلَاُ : د قوم مشران، غټان، سرداران او مالداران، نسب دار خلك۔ د ملأ معنیٰ په سورة البقره آیت (٢٤٦) کښ ذکر شویده۔

ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ : یعنی په خطائی او د حق نه په اوړیدو کښ ډِیے وینو۔

لَیۡسَ بِیۡ ضَلٰلَةٌ : نوح علیه السلام ووئیل چه زهٔ ګمراه نهٔ یم بلکه د الله رسول یم، او تاسو ته د

هغـهٔ پیغام رسوم او زهٔ ستاسو دپاره مخلص یم، او د الله د طرف نه هغه څه راته معلوم دی چه تاسو تـه مـعـلوم نهٔ دی، لیکن د هغه قوم د هغه په تکذیب او مخالفت کښې په تیزئ شـو نو الله تعالیٰ هغه او د هغهٔ مؤمنان ملګری خلاص کړل او د هغه دشمنان ئے په طوفان سره هلاك كړل.

ضَلَالَةٌ : کښې مـعـنیٰ د جنس ده چه معنیٰ د کمال ورکوی یعنی هیڅ قسمه ګمراهی په ما کښې نشته.

وَاَعۡلَمُ مِنَ اللّٰهِ : دا دلیـل دے چه د نبی علم صرف د الله د طرفنه وی. یعنی ما ته د الله د طرفنه دا عِلم دے چه کله د الله عذاب راشی نو هغه د مجرمانو نه نهٔ واپس کیږی. (بغویؒ)

وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ : دا د مـخـکښې طرفنه په یو بل باندے مرتب دی، اول بنده کښې ذکر (خبره یادول) راشی، خبره واوری په هغے سوچ وکړی نو بیا د هغے نه روستو انذار پیدا شی، یعنی یره پکښې راشی نو بیا عمل شروع کړی چه دے ته تقویٰ وائی نو بیا پرے رحم وشی. نو رحمت مرتب په تقویٰ دے او تقویٰ په انذار او انذار په ذکر باندے.

فَكَذَّبُوۡهُ : اَیۡ تَمَادَوۡا فِیۡ تَكۡذِیۡبِهٖ. یعنی د هغه همیشه تکذیب بهٔ ئے کولو.

عَمِیۡنَ : نه مراد د زړونو ړوند والے دے لکه په سورة حج (٤٦) آیت کښې دی.

وَاِلٰی عَادٍ اَخَاهُمۡ هُوۡدًا ؕ قَالَ یٰقَوۡمِ
او لیږلے وو مونږ عادیانو ته ورور د هغوی هود (علیه السلام) ووئیـل هغهٔ اے قومه زما !
اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ ؕ اَفَلَا
بندګی خاص کړئ الله لره نشته تاسو له حقدار د بندګئ سویٰ د هغهٔ نه آیا نو نهٔ
تَتَّقُوۡنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الۡمَلَاُ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ قَوۡمِهٖۤ اِنَّا
یریږئ (د الله نه). ووئیـل غټانو هغه کسانو چه کفرئے کړے وو د قوم د هغه نه یقیناً مونږ
لَنَرٰكَ فِیۡ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الۡكٰذِبِیۡنَ ﴿٦٦﴾
خامخا وینو تا لره په کم عقلتیا کښې او یقیناً خامخا ګمان کوو مونږ په تا د دروغژنو.
قَالَ یٰقَوۡمِ لَیۡسَ بِیۡ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّیۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ
ووئیـل دهٔ اے قومه زما ! نشته په ما باندے کم عقلتیا او لیکن یم زهٔ رسول د طرف د

رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٧﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿٦٨﴾
رب العالمين نه- رسوم تاسو ته پيغامات د رب خپل او زهٔ تاسو لره خيرخواه امانت گريم-
اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ
آيا تعجب كوئ تاسو ددے نه چه راغلے دے تاسو ته نصيحت (وحي) د طرفه د
رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ؕ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ
رب ستاسو نه په يو سړي ستاسو نه دے دپاره چه ويروي تاسو او ياد كړئ هغه وخت
جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ
چه وگرځولئ الله تعالىٰ تاسو نائبان روستو د قوم د نوح (عليه السلام) نه او زيات ئے كړو تاسو لره
فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾
په پيدائش كښې فراخي نو ياد كړئ نعمتونه د الله دے دپاره چه تاسو كامياب شئ-

تفسير : د هود (عليه السلام) او د هغه د قوم (عاديانو) قصه بيانيږي، دا د عاد بن اِرَم بن عُوص بن سَام بن نوح (عليه السلام) اولادو نه وو، الله د نوح (عليه السلام) قوم هلاك كړو په هغوى كښې د مؤمنانو بچي او اولاد پاتي شو او هغه زياتيدل تردے چه عاديان ترے جوړ شو، دا خلك ډير جسماني قوت مالكان وو او د بتانو عبادت به ئے كولو- د هغوى د وسيدو ځاے عُمان او د حضرموت مينځنئ شگلنه علاقه وه، امام ابن كثيرؒ د يو اُوږد حديث نه دا فائده معلومه كړيده چه دا خلك په يمن كښې آباد وو او هلته د هود (عليه السلام) قبر هم دے، په يوه سرهٔ ډيركئ باندے خخ دے چه سرته ئے د كيكر ونه ده- او احقاف هم د عُمان نه تر حضرموت پورے خور دے، چه دا كلي په يمن كښې دي-

هود (عليه السلام) ددے قوم د يو شريف خاندان نه وو چه هغه الله تعالىٰ د هغوى د هدايت دپاره نبي راليږلے وو، ليكن لكه څنگه چه هغوى په جسماني توگه سره ډير سخت خلك وو دغه شان زړونه ئے هم ډير سخت وو- (ابن كثيرؒ)

محمد بن اسحاقؒ وغيره ليكي چه دوى به د درے بتانو عبادت كولو (صُدَاء، صَمود، هَباء) (ابن كثيرؒ والبغويؒ والمنار)

اسحاق بن بِشرؒ او ابن عساكرؒ د عطاءؒ نه او هغهٔ د ابن عباسؓ روايت نقل كړيدے چه هود

(عليه السلام) ړومبنے هغه شخص دے چه په عربی ژبه ئے خبرے کړیدی او د هود عليه السلام نه څلور ځامن پیدا شو (۱) قَحُطان، (۲) مُقُحِط (۳) قاحط (٤) فالغ۔ فالغ د مُضر قبیلے پلار دے او قحطان د یمن، او د باقیو نسل پاتے نشو۔ (المنار)

هغوی هود عليه السلام احمق (کم عقل) او بیوقوف او دروغژن وګنړلو، او د زرګونو کوششونو باوجود په نیغه لاره رانغلل نو الله تعالیٰ دوی هلاك کړل۔ په قرآن کریم کښ ډیر ځایونو کښ دا وئیلے شویدی چه الله دوی په طوفانی هوا سره هلاك کړی وو چه اته ورځے او اُوه شپے مسلسل چلیدلے وه۔ (الحاقه : ۷)

اَخَاهُمۡ : دا اخ (رور) نسبی دے۔

فِیۡ سَفَاهَةٍ : یعنی کم عقلتیا کښ ننوتے ئے ځکه چه ستا خبرے او هر کار د بیوقوفانو دے، تا د هغه معبودانو او نیکانو اولیاؤ سپکاوے بیان کړو چه د هغوی شکلونه او مجسمے ستا د قوم مشرانو د هغوی د یاداشت دپاره مقرر کړیدی او د هغوی د سفارش په وجه ځان الله ته رسوی۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت شویدے چه عادیانو د نوح عليه السلام د قوم د بتانو په شان بتان جوړ کړی وو۔

ددے نه مونږ ته دا سبق راوځی چه د انبیاؤ علیهم السلام ډیره بی ادبی شویده۔ نو که زما او ستا د الله ددین دپاره وشوه نو دومره لویه خبره نهٔ ده۔

لَيۡسَ بِیۡ سَفَاهَةٌ : هود عليه السلام خومره په نرمه لهجه کښ د هغوی خبره رد کوی او دا دفع د تهمت ده چه د داعی دپاره لازمه ده۔

رَّبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ : کښ اشاره ده چه ستاسو ظاهری تربیت هم الله کوی، رزقونه او فراخیانی درکوی او روحانی تربیت مو په ما باندے کوی خو تاسو ئے نهٔ قبلوئ۔

رِسٰلٰتِ رَبِّیۡ : ددے نه د دعوت اصول معلوم شو چه یو به خپله مرتبه خلکو ته ښکاره کوی چه زهٔ فلانے یم خپل اخلاص به هغوی ته ښکاره کوے، او د فلانی غرض دپاره راغلے یم، او دویم به دفع د تهمت د خپل ځان نه کوی۔ بل اصل دا دے چه د الله رسالات (وحی) به رسوی، نورو خرافاتو باندے د امت اصلاح نهٔ کیږی۔ بل صفت د داعی دا دے چه ناصح به وی، خیرخواهی به کوی او د خیرخواه طریقه دا ده چه الفاظ به په ډیر نرم انداز کښ استعمالوی دے دپاره چه خلق متنفر نشی او بار بار به خبره کوی۔ بله دا چه (امین) به وی۔یعنی په خبره کښ به زیادت او نقصان نهٔ کوی۔

عَلٰی رَجُلٍ مِّنۡكُمۡ : په دهٔ باندے دا اعتراض وو چه ته بشر او سړے ئے نو څنګه رسول

شوې لکه دا اعتراض تقريباً په هر نبي باندې شويدې نو د هغې جواب ورته کوي۔
لِيُنْذِرَكُمْ : يعني تاسو د الله د عذابونو نه يروي چه دې کښې ستاسو سراسر خير دې، نو نبوت مصيبت نهٔ دې بلکه د هغې منل د عذابونو نه د خلاصي ذريعه ده۔
وَاذْكُرُوْآ : اُوس ورته د دنيا نعمتونه بيانوي چه تاسو ئې د نوح عليه السلام د قوم نه روستو په زمکه کښې آباد کړئ۔ او پدې کښې عبرت هم دې چه تاسو به هم د هغوی په شان هلاك کړی که خبره نهٔ منئ۔
فِي الْخَلْقِ : خلق د بدن قوت ته وائي چه د دوی په شان غټو بدنونو والا په دنيا کښې څوك نهٔ وو پيدا، او غټ جسم ډير لوی نعمت وی ځکه چه انسان د دنيا نه فائدې ډيرې اخستلې شي، په هر کار باندې قادر وی، زر نهٔ ستړې کيږی، بيمارياني پرې کمې وی۔
يا د خلق نه مراد پيدائش دې او (بَصْطَةً) فراخي د نسل ده۔ يا خلق نه مراد مخلوقات (مخلوق څيزونه دی) يعني تاسو ته الله په مخلوقاتو کښې فراخي درکړيده لکه بادشاهي او حضارة۔ (المنار)
فَاذْكُرُوْآ اٰلَآءَ اللّٰهِ : د الله نعمتونو رايادولو سره بنده کاميابئ ته رسيږی ځکه چه بيا به ئې بندګي کوی او په نتيجه کښې به کاميابيږی، او پدې کښې مونږ ته هم دعوت دې۔ او دلته د نعمتونو رايادولو مطلب دا دې چه د الله يواځې بندګي وکړئ او د هغه سره شريکان مهٔ جوړوئ۔

قَالُوْآ اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ
ووئيل دوی آيا راغلې ئې تهٔ مونږ ته دې دپاره چه بندګي وکړو مونږ د الله يواځې او پريږدو
مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا
هغه څه چه بندګي به ئې کوله پلارانو زمونږ نو راوړهٔ مونږ ته هغه عذاب
تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ
چه وعده ئې کوې تهٔ زمونږ سره که ئې تهٔ د رشتينو نه۔ ووئيل هغهٔ يقيناً واقع شوه
عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ فِيْٓ
په تاسو د طرفه د رب ستاسو نه پليتي او غضب، آيا جګړې کوئ تاسو ما سره په باره

اَسۡمَآءٍ سَمَّيۡتُمُوۡهَآ اَنۡتُمۡ وَاٰبَآؤُكُمۡ مَّا نَزَّلَ
د هغه نومونو کښې چه کېخوستي دي هغه تاسو او پلارانو ستاسو، نۀ دے رالېږلے
اللّٰهُ بِهَا مِنۡ سُلۡطٰنٍ ؕ فَانۡتَظِرُوۡۤا اِنِّىۡ مَعَكُمۡ مِّنَ
الله تعالیٰ په هغے سره هیڅ دلیل، نو انتظار کوئ یقیناً زۀ هم تاسو سره د
الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ ﴿۷۱﴾ فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ
انتظار کونکو نه یم۔ پس نجات ورکړو مونږ هغۀ ته او هغه کسانو ته چه د هغۀ سره وو
بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعۡنَا دَابِرَ الَّذِيۡنَ
په رحمت سره زمونږ د طرف نه او پرېکړے مونږ جرړے د هغه کسانو
كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۷۲﴾
چه دروغژن ئے گنړلی وو آیتونه زمونږ او نۀ وو دوی ایمان لرونکی۔

تفسیر: پدے کښې د هغوی د تکذیب دوه طریقے بیانوی یو دا چه هغوی به دا وئیل چه ډیر آلهه څنګه یو جوړ شي، دویم دا چه تۀ پو هه شوے او زمونږ پلاران نیکونه نۀ پو هیدل، هغوی ددے معبودانو عبادت کړیدے نو بس مونږ به ئے هم کوو۔ لکه دا اعتراض د مکے د مشرکانو هم وو ﴿ أَجَعَلَ الآلِهَةَ اِلٰهًا وَاحِدًا﴾ (ص:٥)

لِنَعۡبُدَاللّٰهَ: لام اجلیه دے یعنی ددے وجه نه راغلے ئے چه مونږ بندګی د یو الله وکړو۔

وَحۡدَهٗ: یعنی د الله یواځے بندګی وکړو سره ددے نه چه مونږ خو ګناهګار یو نو د معبودانو په وجه به مونږ الله ته رسیږو نو دا وسیلے څنګه پریدو، دا خو بې وقوفی ده۔ او زمونږ عبادتونه زمونږ د ګناهونو سره نۀ قبلیږی مګر ددے باباګانو په وجه سره۔

وَنَذَرَ مَاكَانَ: دے نه معلومیږی چه هود ؑ به د نبوت نه مخکښې د هغوی سره نۀ شریك کیدو او جدا به وسیدو، لکه څنګه چه زمونږ نبی ﷺ په حِرَاء کښې جدا عبادت کولو او د مکے مشرکانو سره به په شرك کښې نۀ شریك کیدو۔

او صاحب المنار وائی چه د مجیئت (راتللو) نه مراد رسالت راوړل دی، دارنګه عرب مجئ او ذهاب او قعود او قیام تعبیر کرځوی د شروع نه په یو کار کښې او د هغے د حال بیانولو نه۔ (المنار)

فَأْتِنَا : یعنی کہ تۂ وائے چه عذاب به راشي نو لاس دِے خلاص، عذاب راوله۔ دا د زړهٔ سختوالے دے چه د الله عذاب ته بلږے وهي۔

تَعِدُنَآ : دلته وعد په معنیٰ د وعید دے (یعنی یره ول) لکه هود ﷺ ورته (اَفَلَا تَتَّقُوْنَ) وئیلے وو۔

الصّٰدِقِيْنَ : یعنی که تۂ په خپل انذار کښ یا په دعوه د رسالت کښ رشتینی ئے۔

قَدْ وَقَعَ : یعنی په تاسو باندے ثابت شو او تعبیر ئے په ماضی سره وکړو دپاره د تحقق او یقینی راتللو د هغے لکه چه مخکښ واقع شوے وی، او (وَقَعَ) کښ اشاره ده چه دا عذاب په تاسو حتمی فیصله ده چه نۂ به درنه لرے کیږی، او غضب ئے پرے عطف کړو اشاره ده چه د رجس نه مراد حتمی انتقام اخستل دی چه ددے پورته کیدل ممکن نۂ دی۔ (المنار)

رِجْسٌ وَّغَضَبٌ : رجس په لغت کښ هر مُسْتَقْذَرْ (طبعی بد ګڼړلے شوی) شی ته وائی، حسی وی که معنوی۔ ١- دلته ترے مراد یا کفر دے، یعنی هرکله چه تاسو ضد کښ راغلئ نو په تاسو باندے د الله د طرفنه دغه کفر باقي پاتے شو۔ او دپاسه دربانده غضب د الله هم وشو۔

(٢) یا رجس په معنیٰ د رجز (عذاب او ناکاره عذاب) سره دے۔ او چونکه عذاب د کفر د پلیتئ بدله ده په دے وجه د رجس معنیٰ په عذاب سره هم صحیح ده۔ او رجس باب په معنیٰ د ګډوډوالی سره استعمالیږی، او د دوی عذاب تیزه سیلئ وه چه ورسره آوازونه هم وو نو دوی ئے دغه شان ګډوډ ویشتل، چه د زمکے نه به ئے پورته کول او ګډوډ به ئے ارتول۔

دوی باندے درے ورځو پورے بارانونه بند شو نو دوی سخت قحط کښ مبتلا شو نو دوی ته الله تعالیٰ یوه وریځ راواړوله چه توره وریځ وه، دوی ووئیل چه دا وریځ به په مونږ باران کوی لیکن د هغے نه الله تعالیٰ هوا او عذاب رانازل کړو۔

اَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوْهَآ : د اسماء نه مراد اسماء صفتیه دی لکه دوی به د آلهو دپاره دا نومونه ایخودی وو چه دوی باران کوی، دوی اولاد ورکوی، او دا بل رزق فراخوی او دا بل بیماران جوړوی، داسے صفات ئے ورکړی وو لکه دا خبرے زمونږ په زمانه کښ هم مشرکان وائی چه فلانے بابا د بادو بابا دے او فلانے سرخوږے دے او فلانے د ګوزن دے او فلانے زیږے بابا او "جوړه شهیدان" (چه دا دوه کسان ډم او ډمه چا وژلی وو) د بچو ورکولو دپاره دی۔

نو دۀ ورته ووئیل چه دا مخلوق ددے صفاتو لائق نۀ دی او هغوی ووئیل چه دوی کښ دا صفات ضرور شته، پدے کښ بحث وو، نو هود ﷺ ورته ووئیل چه دا خو تاسو د ځان نه

مقرر کړیدی د الله د طرفنه پدے هیڅ دلیل نشته.
دا دلیل دے چه هر شے چه د عبادت سره تعلق لری هغه به د مَا اَنْزَلَ الله (یعنی وحی) نه اخستلے شی او د الله عبادتونه به صرف د هغه رسولان بیانوی چه دا شے عبادت دے او دا نهٔ دے نو پدے آیت کښ دلیل دے په بطلان د تقلید باندے. (المنار)
فَانْتَظِرُوْٓا: د الله د عذاب انتظار وکړئ کوم چه تاسو غوښتے دے. پدے کښ د هغوی ډیر متوجه کولِ دی. چه که عذاب راشی تاسو سره د خلاصی څه صورت کیدے شی؟
بِرَحْمَةٍ مِّنَّا: دلته ئے د عذاب نه د نجات سبب صرف رحمت وئیلے دے، وجه دا ده چه د ایمان او د توحید توفیق د الله په رحمت سره کیږی نو د هغے په وجه خلاص شو.
دَابِرَ: جرړے مراد دی او ددے نه استیصالی عذاب مراد دے چه ټول نسل ختم کړی.

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا قَالَ يٰقَوْمِ
او (لیږلے وو مونږ) ثمودیانو ته ورور د هغوی صالح (عليه السلام) ووئیل هغهٔ، اے قومه زما!
اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ
بندګی خاص کړئ الله لره نشته تاسو له حقدار د بندګئ غیر د هغهٔ نه، یقیناً
جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ
راغلے دے تاسو ته ښکاره دلیل د طرفه د رب ستاسو نه، دا اُوښه د الله ده تاسو له
اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا
معجزه نو پریږدئ دے لره چه خوراك وکړی په زمکه کښ او مهٔ رسوئ دے ته
بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾
څه تکلیف نو ویه نیسی تاسو عذاب دردناك.

تفسیر: اُوس د صالح عليه السلام او د هغه د قوم (ثمودیانو) واقعه بیانیږی. ثمودیان د عربو یو قبیله وه، دا خلق د خپل نیکه په نوم یادیږی چه د ثمود بن عامر بن اِرم بن سام بن نوح عليه السلام اولادو نه وو، دوی د عادیانو سره په ارم کښ یو ځای کیږی، د دوی زمانه د ابراهیم عليه السلام نه مخکښ او د عادیانو نه روستو وه. د دوی ځای د وسیدو د حجاز او شام ترمینځ وادی القریٰ او د هغے ګیرچاپیر وو، اُوس ورته دیار ثمود او مدائن صالح هم وائی، د سعودی په

حكومت كښې داخله ده، د تبوك په لاره ده، دا خلك هم ډېر طاقت ور وو او هنر مند زيات وو، په خپل جسماني طاقت او د مټو په زور سره به ئے غرونه تراشل او په هغے كښې به ئے ځان له مكانات جوړول، چه تر اُوسه پورے هغه باقي دي، خلك سيل له ورځي. نبي كريم ﷺ په سنه (۹ هـ) كښې تبوك ته په تللو كښې د دوي په كلو ورتير شوے وو.

په صحيحينو او مسند احمدؒ كښې د عبد الله بن عمرو ﷠ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ تبوك ته په تللو كښې د ثموديانو دكورونو سره دمه وكړه نو خلقو د هغوي د كوهيانو نه اُوبه وځكلے، او وړه ئے واغړل، روټي ئے پخه كړه، ليكن رسول الله ﷺ هغوي ته حكم وكړو چه خپلے كټوئ واړوي او اغړلے شوي وړه په اُوښانو وخوروي، بيا د هغه ځاى نه روان شو او د هغوي كوهي خوا ته راغلو كوم نه چه به د صالح ﷺ اُوښے اُوبه ځكلے. او نبي كريم ﷺ خلق د ثموديانو كورونو ته د داخليدو نه منع كړل او وے وئيل چه زهٔ يريږم چه هسے نهٔ چه تاسو ته هغه عذاب ونهٔ رسي كوم چه هغوي ته رسيدلے وو.

صالح ﷺ ددے قوم د يو شريف خاندان نه وو، ددهٔ نسب حافظ بغويؒ داسے ذكر كړيدے: صالح بن عُبَيد بن اَسيف بن ماشخ بن عُبيد بن حاذر بن ثمود. دا په پنځه پشته كښې د ثمود په اولادو كښې وو. (القاسميؒ والمنار)

مفسرين ليكي: چه ثموديان په اوله كښې موحدين وو، د عاديانو نه ئے عبرت اخستے وو ليكن كله چه دوي زيات شو او د دوي حضارت او تمدن فراخه شو او موده ئے اُوږده شوه او ژوند ئے په نعمتونو باندے آباد شو او خوش عيشه شو نو دوي كښې نافرماني پيدا شوه او د الله نعمتونه ئے هير كړل او د بتانو عبادت ئے شروع كړو نو الله تعالىٰ د دوي د هدايت دپاره د دوي د قوم نه صالح ﷺ راوليږلو، هغه خپل قوم ته د تمامو انبياؤ عليهم السلام په شان د توحيد دعوت وركړو، ليكن ډير كم او كمزورو خلقو د دوي خبره ومنله.

(التحرير والتنوير)

كله چه صالح ﷺ دوي لره زيات ويرول او د الله يره ئے ورته بيان كړه، نو دوي د يوے نخے مطالبه وكړه، او وے وئيل چه هغه نخه به يوه اُوښه وي چه د غر نه راوځي او مخے ته راشي، نو همدغه شان وشوه. ليكن بيا هم دوي كښې ډيرو كمو خلقو ايمان راوړو، او اكثرو خلقو د تمرد او سركشئ لاره اختيار كړه او هغه اُوښه ئے قتل كړه نو صالح ﷺ ووئيل چه اُوس تاسو د الله د عذاب انتظار كوئ. الله دوي ته د چارشنبے، زيارت او جمعے درے ورځے مهلت وركړو لكه چه په سورة هود آيت (٦٥) كښې راغلي دي: ﴿ فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ

ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ﴾ (پس صالح ووئیل چه تاسو درے ورځو پورے په خپلو کورونو کښ فائده اخلئ) او د خالی په ورځ د صبا په وخت یو لوئی ملائك د هغوی ترمینځ داسے چغه ووهله چه د هغوی زړونه او د هغوی روحونه ئے وچول، او ټول په ټوله مړهٔ شول. باقی تفصیل روستو راځی.

بَيِّنَةٌ : معجزے سره د رسالت اظهار او د توحید اثبات کیږی پدے وجه ورته بینه وائی.

نَاقَةُ اللّٰهِ : دا اضافت د تشریف دپاره دے، ځکه چه دا بغیر د ظاهری اسبابونه په ناشنا طریقه د کاڼړی نه حامله پیدا شوه او بیا ئے بچے هم راوړو. نو ځکه ئے الله ته نسبت وشو.

اٰيَةً : دا څنګه نښه وه؟ نو ددے بیان مخکښ وشو چه د دوی په مطالبه راوتلے وه.

او دا اوښه دومره غټه وه چه یوه ورځ به د کوهی نه دے اوبه څکلے او یوه ورځ به قوم څکلے او بیا به دے ټول قوم ته پئ هم ورکول.

مګر پدے کښ سرکشان راولګیدل او د یوے زنانه په دعوت ئے هغه اوښه قتل کړه، لاسونه او خپے ئے ترے پریکړے، د سرکشانو په مشوره باندے (قُدار بن سالف) ظالم قتل کړه. هغه ځان سره څه کسان واخستل او دغه اوښه په یو ځای کښ خریدله نو دهٔ ترے لاسونه او خپے پریکړے او پدے طریقه ئے هغه قتل کړه، نو صالح علیه السلام ورته ووئیل چه هلاك شوئ ما تاسو ته نهٔ وو وئیلی چه دے له به ګوتے نهٔ وړئ، نو درے ورځو کښ دننه عذاب ته تیننګ شئ، دا مهلت ئے ورکړو دے دپاره چه کیدے شی چه ایمان راوړی،

مفسرین لیکی چه دے قوم ته مهلت پدے وجه ورکړے شو چه د دوی نه ایمان راوړل ډیر ممکن وو ځکه چه دوی د صالح علیه السلام سره ډیره سختی نهٔ وه کړے لکه سورة هود کښ به راشی﴿ يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَا اَتَنْهَانَا اَنْ نَّعْبُدَ﴾

(اے صالحه ! تهٔ خو په مونږ کښ امید کړے شوے وے مخکښ ددے مسئلو بیانولو نه)

نو الفاظ ئے ورته نرم استعمالول. او بله دا چه دا اوښه دوی ډیره موده پورے نهٔ تنګوله نو د دوی د ایمان امید پاتی وو، نو دوی ته مهلت ورکول هم د دوی د عذر ختمولو او په دوی باندے د حجت قائمولو دپاره وو. پدے وجه الله د دوی نه عذاب روستو کړو دپاره د اکرام د نبی د دوی چه هغه د دوی په ایمان باندے حتی الوسع ډیر حرصناك وو.

(التحریر والتنویر۸/۱۶۸)

تَاْكُلْ فِيْۤ اَرْضِ اللّٰهِ : یعنی تاسو باندے ددے د رزق مشقت نشته.

وَاذْكُرُوٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْ بَعْدِ عَادٍ
او یاد کړئ هغه وخت چه وګرځولئ تاسو الله تعالیٰ نائبان روستو د عادیانو نه
وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ
او ځای درکړو تاسو ته په زمکه کښې، نیسئ تاسو د میدانونو د هغې نه بنګلې او تراشئ
الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوٓا اٰلَآءَ اللهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٧٤﴾
د غرونو نه کوټې، نو یاد کړئ نعمتونه د الله او مه ګرځئ په زمکه کښې فساد کونکي۔

تفسیر : اُوس ورته نعمتونه یادوی ځکه چه څوك نعمت یاد کړی نو هغه شکرګزار جوړیږی۔

سُهُوْلِهَا : یعنی دوی به په میدانی زمکه کښې دنګې بنګلې بې ضرورته جوړولې۔

مُفْسِدِيْنَ : دا ورته ولې وائی چه په زمکه کښې فساد مه کوئ؟ وجه دا وه چه دے خلکو کښې د هنرمندئ په وجه مالداری ډیره وه، او بل وزګار وو او سړے چه کله مالدار وی او وزګار وی او روغ بدن والا وی نو لوی فسادی ترے جوړیږی۔ او فساد دلته کفر او شرك دے او صد عن سبیل الله ده، (یعنی د الله د لارے نه خلك منع کول) لکه دوی کښې نهه کسان وو چه هغوی به خصوصی د صالح ؑ نه خلك اړول لکه په سورة النمل آیت (٤٨) کښې به راشي۔ ان شاء الله۔

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ
ووئیل غټانو هغه کسانو چه لوئی ئے کړے وه د قوم د هغهٔ نه هغه کسانو ته
اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ
چه ضعیفان ګنړلے شوی وو (د وجے د غریبئ نه) هغه چا ته چه ایمان ئے راوړے وو د دوی نه
اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ قَالُوْٓا
آیا پوهیږئ تاسو یقیناً چه صالح (ؑ) رسول دے د طرفه د رب د هغه نه، ووئیل دوی،
اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِيْنَ
یقیناً مونږه په هغه څه چه رالیږلے شویدے دے په هغے مؤمنان یو۔ ووئیل هغه کسانو

اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا بِالَّذِيْٓ اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۷۶﴾

چه لوئي ئې كړې وه يقيناً مونږه په هغه څه چه ايمان راوړې تاسو په هغې انكار كونكي يو.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا يٰصٰلِحُ

پس هلاكه ئې كړه اُوښه او نافرماني ئې وكړه د حكم د رب خپل نه او وې وئيل اې صالحه !

ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۷۷﴾

راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ته پرې يروې مونږ كه ئې ته د رالیږلے شوو نه.

فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۷۸﴾

پس ونيول دوى لړه زلزلے نو شول دوى په كورونو خپلو كښې پرمخے پراتۀ (مړه).

فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ

نو واوړيدو د دوى نه او وې وئيل، اې قومه زما ! يقيناً ما ورسولو تاسو ته پيغام د

رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۷۹﴾

رب زما او خير خواهي وكړه ما ستاسو او ليكن مينه نكوئ تاسو د خير خواهانو سره.

تفسير : پدې قوم كښې مالداره سرمايه داران خلك زيات وو نو هغوى به پدې وجه كفر كولو چه ځان ئې لوى ګڼړلو چه مونږ خنګه ددې عام سړي تابع شو.

لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ : اشاره ده چه ټولو ضعيفانو ايمان نۀ وو راوړے.

اَتَعْلَمُوْنَ : يعنې تاسو سره پدې خبره څه دليل شته چه صالح د الله رسول دے، او مقصد ئې پدې كښې په دغه خلكو دباؤ اچول وو او هغوى ددې عقيدې نه راوړل وو ليكن هغه هم مضبوط مؤمنان وو نو په ترقئ سره ئې جواب وركړو چه يواځې صالح الطيلا نۀ بلكه مونږ ددۀ په ټول راليږلې شوي دين او وحې او توحيد باندې ايمان لرو.

پدې كښې اشاره وه چه د مكې مشركانو به هم د مؤمنانو د دين نه د اړولو كوشش كولو او په هغوى باندې به ئې دباؤونه اچول او عذابونه به ئې وركول نو دې كښې مؤمنانو ته اشارى دى.

اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ : يعنې مونږ ته خو رسول نۀ ښكارى خو تاسو ته چه رسول ښكارى

نو مونږ ددے نه منکر يو۔
فَعَقَرُوا: ټولو ته ئے نسبت د زخمي کولو وکړو ځکه چه دا قانون دے چه غلے د ويونکی او راضي د فاعل (کونکی) په شان وی، دوی هغه منع نکړو نو داسے شو لکه چه ټولو وژلی وی۔ او ابن کثیرؒ بعض روايات ذکر کړيدی چه په هغے کښې دا راغلی دی (او د قتادهٔ نه هم نقل دی) چه قدار بن سالف په ټول قوم -تر دے چه په ښځو او ماشومانو- وګرځيدو او د هغوی نه ئے مشوره واخستله نو ټولو د اوښے د وژلو مشوره ورکړه دے دپاره چه دوی د اوبو د نمبر نه خلاص شی۔ او الله هم فرمائی: ﴿فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى فَعَقَرَ﴾ دوی خپل ملګری ته آواز وکړو چه دا قتل کړی) (المنار)
او د بخاری په حديث کښې دی: [فَانْتَدَبَ لَهَا رَجُلٌ ذُو عِزٍّ وَمَنَعَةٍ فِي قَوْمِهِ كَأَبِي زَمْعَةَ] د اوښے وژلو ته يو سړے رامخکښې شو چه په خپل قوم کښې ډير عزتمند او قوی وو لکه د ابو زمعه په شان) (چه دا په قريشو کښې يو سرکش او ظاهری عزتمند شخص وو، اسود بن عبد المطلب بن اسد بن عبد العزیٰ نوم ئے وو) (بخاری: ۳۳۷۷)
فَأَصْبَحُوا : يعنی سهار کښې الله تعالیٰ په دوی باندے زلزله او چغه راوستله نو ټول هلاك شول، دوی د غفلت په وخت کښې هلاك شول، پدے کښې به ساده ګان، او ماشومان او بوډاګان هم وو ليکن د مشرانو سپيرهٔ والے دا وی چه د هغوی د فسادونو د وجه نه عمومی عذاب راځی۔ لکه آيت دے ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً﴾ ۔ (الانفال: ۲۵) ويريږئ د هغه فتنے (عذاب) نه چه يواځے ظالمانو ته به نهٔ رسيږی۔
په حديث کښې راغلی دی چه د دوی نه يو تن بچ شو چه د هغه ابورغال نوم وو هغه د الله په حرم (مکه) کښې وو، مګر کله چه د حرم نه را بهر شو نو هغه شان هلاك شو څنګه ئے چه قوم هلاك شوے وو نو په طائف کښې خخ کړے شو او دا د ثقيف قبيلے پلار دے۔
(مسند احمد وهو على شرط مسلم- ابن كثير، وحسنه الالبانى فى فقه السيرة وقال فى النفس منه شىء)
جٰثِمِينَ : د جثم نه دے په زمکه باندے جوختيدو او په زنګنانو باندے کيناستو ته وائی۔
لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ : دا خبره ئے ورته د عذاب راتللو نه مخکښې کړے وه او بيا ئے ورته د عذاب انتظار ورکړو بيا ئے ترے هجرت وکړو۔
او بعض مفسرين وائی چه دے ته خطاب الاعتبار وائی يعنی مړی ئے نهٔ آوری ليکن د نورو خلکو د عبرت اخستو دپاره ئے داسے وئيلی دی۔
او ځينی مفسرين وائی چه صالح عليه السلام راغے او د لاشونو په مينځ کښې ودريدو او وے

وئیـل چـه ایـ زمـا قـومـه ! ما تاسو ته د الله پیغام رسولے وو او ستاسو خیر خواهی کښ مے هیـڅ کـمے نهٔ وو کړے، لیکن تاسو خپله خیر خواهی هیڅ کله هم خوښه نکړه، بیا د هغه ځای نـه لاړو. نبی کـریم ﷺ د جنګ بدر نه روستو د قریشو مقتولینو مخکښ ودریدو چـه د هـغـوی لاشـونـه کـوهی ته غورځولے شوی وو، او همدغه شان خبره ئے کړے وه. او د عمر بن الخطاب ؓ پـه حیـرانتیا او تعجب کښ ئے ووئیل چه قسم په الله چه دوی ستاسو نه زیات آوریدونکی دی لیکن جواب نشی راکولے.

نـو ددےنـه معلومه شوه چه دا به د صالح ؑ مـعـجزه وه چه قوم ته ئے دا خبره واوروله اګرکـه هغوی جواب نشو ورکولے او الله ورتـه دا آواز د هغوی د افسوسونو زیاتولو او خپیمانه کولو دپاره واورولو. لکه دا خبره د قتادهؒ نه امام بخاریؒ ذکر کړیده.

یا دا خطاب اَلتَّفَجُّع (د غم ښکاره کولو) دے د هغوی په ایمان نهٔ راوړلو، نهٔ د هغوی په عذاب باندے، او پدے کښ د مخاطب متوجه کول مقصد نهٔ وی لکه یو تن ته یو مصیبت ورسی نو تهٔ ورته ووائے چه زما دِے نهٔ منله څنګه شوے. او حاضرینو ته په کښے سبق وی.

وَلُوۡطًا اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ اَتَاۡتُوۡنَ
او (لیږلے وو مونږ) لوط (ؑ) په کوم وخت چه ووئیل هغه قوم خپل ته آیا راتلل کوئ تاسو
الۡفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمۡ بِهَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۰﴾
بدکارئ ته، مخکښ والے نهٔ دے کړے ستاسو نه دے ته هیڅ یو تن د مخلوقاتو نه.
اِنَّكُمۡ لَتَاۡتُوۡنَ الرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّنۡ دُوۡنِ النِّسَآءِ ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ
یقیناً تاسو خامخا راتلل کوئ نارینو ته په شهوت سره سوئ د زنانو نه بلکه تاسو قوم یئ
مُّسۡرِفُوۡنَ ﴿۸۱﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوۡۤا اَخۡرِجُوۡهُمۡ
زیاتے کونکی. او نهٔ وو جواب د قوم د هغهٔ مګر دا چه ووئیل دوی (یو بل ته)، وباسئ دوی
مِّنۡ قَرۡيَتِكُمۡ ۚ اِنَّهُمۡ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوۡنَ ﴿۸۲﴾ فَاَنۡجَيۡنٰهُ
د کلی خپل نه یقیناً دوی داسے خلق دی چه ځان پاک ګنړی. پس نجات ورکړو مونږ دهٔ ته
وَاَهۡلَهٗۤ اِلَّا امۡرَاَتَهٗ ۖ كَانَتۡ مِنَ الۡغٰبِرِيۡنَ ﴿۸۳﴾
او ددهٔ کور والو ته سوئ د ښځے ددهٔ نه، وه هغه د پاتے کیدونکو نه (په عذاب کښ).

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ط فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او باران وکړو مونږ په دوی باندے باران د کانړو پس وګوره چه څنګه شو انجام د مجرمانو۔

تفسیر : اُوس د لوط علیه السلام او د هغه د قوم واقعه بیانیږی۔

لوط علیه السلام د هاران بن آزر ځوی او د ابراهیم علیه السلام وراره وو۔ په هغه باندے د ایمان راوړو نه روستو ئے د هغه سره هجرت وکړو او شام ته لاړو، لیکن روستو ئے د اُردن په یوه علاقه (سَدوم) کښې سکونت اختیار کړے وو، الله تعالیٰ دا د هغه کلی والو دپاره نبی رالیږلے وو۔ دا اګرکه د هغوی د نسب نه نهٔ دے لیکن یو تن چه په یو ځای کښې سکونت اختیار کړی نو د هغوی نه حسابیږی او د هغه ځای خلك ددهٔ قوم شمارلے شی۔

وئیلے شویدی چه د دوی شمار څلویښت لاکهه وو، او د کفر اوشرك نه سویٰ په لواطت وغیره خبیث اخلاقو او بیمارو کښې مبتلا وو، چه دا بیماری د دوی نه مخکښې په دنیا کښې نهٔ وه موندلے شوے۔

د لواطت د وجه نه په هغوی کښې ګیرے خرئیل هم رائج شوی وو۔ او سورة الانبیاء کښې راغلی دی : ﴿وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَت تَّعْمَلُ الْخَبَائِثَ﴾ (انبیاء: ٧٤) (ما بچ کړو دهٔ لره د هغه کلی والو نه چه ډیر بد بد اعمال به ئے کول)۔ معلومیږی چه دے کلی والو به ډیر خبائث کول مفسرین لیکی لکه کونترے ساتل، په مجالسو کښې ښکاره باد اچول، د ګوتو نه بی ضرورته تقے ویستل، شپیلی وهل وغیره۔

بی حیائی د الله په نیز ډیره خطرناکه خبره ده پدے وجه په ټول قرآن کریم کښې الله تعالیٰ د لوط علیه السلام په واقعه کښې ددے بد فعلیٔ رد ذکر کوی۔

لوط علیه السلام د توحید سره سره دوی ته ددے هلاکونکی اخلاقی مرض نه د نجات دعوت هم ورکړو۔ لیکن هغوی ددهٔ خبره نهٔ آوریدله او دهٔ پورے به ئے توقے کولے او په خپل ظاهری او باطنی خباثت ئے همیشوالے کولو او لوط علیه السلام ته ئے ددغه کلی نه د ویستلو دهمکی ورکړه۔ نو د الله تعالیٰ عذاب په هغوی واجب شو، نو الله تعالیٰ په سَدُوم او عُمُوریه کلو باندے د اُور باران وکړو، او بیا ئے هغه اُلټه کړل، او پدے طریقه ټول په ټوله هلاك شول، نن صبا دغه ځای ته بحر مَیِّت وئیلے شی۔ صرف لوط علیه السلام او د هغه سره څو مؤمنان بچ شو چه د الله په حکم سره مخکښې ددے کلی نه وتلی وو۔

تنبیه : د موجوده بائبل د جمع کونکو په شرمناك جرأت باندے ماتم پکار دے چه

داسے پاك او معصوم پیغمبر ته ئے دداسے خطرناکو حرکاتو نسبت کړیدے چه خپله هغه ددے دپاره رالیږلے شوے وو چه دنیا د بی حیایئ او ګندګی نه پاکه کړی، پدے طریقه دا خلك خپلے بی حیایئ ته لاره کولاوول غواړی.

د لواطت سزا او ضررونه

د اسلام په نظر کښې لواطت ډیره لویه ګناه ده. حافظ ابن القیم رحمه الله وائی چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې د ګناهونو نه صرف د شرك، زنا او لواطت نه په نجس او خبیث سره تعبیر کړیدے. یو بل ځای لیکی چه د زنا او لواطت نجاست د نورو نجاستونو نه زیات دے. انتهیٰ. (اغاثة اللهفان) .

د لوطی د دنیاوی سزا په باره کښې امام احمدؒ، ابوداوَدؒ، ابن ماجهؒ، حاکمؒ او بیهقیؒ وغیرهم د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((که تاسو څوك په لواطت کولو مونده کړئ نو فاعل او مفعول دواړه قتل کړئ))

(ابوداود : ٤٤٦٤) و ابن ماجه : ٢٥٦١ وصحیح الجامع (٦٥٨٩) اسناد صحیح)

د ابن القصارؒ وینا ده چه د صحابه کرامو او ائمه کرامو اجماع ده چه لوطی به قتلولے شی. د هغوی ترمینځ صرف د قتل په کیفیت کښې اختلاف راغلے دے. امام ابوحنیفهؒ وائی چه لوطی به د غر نه راغورځولے شی، دے نه روستو به په هغه د کاڼو باران کولے شی. د امام شافعیؒ وینا ده چه دا به رَجم کولے شی، برابره ده وادهٔ کړے وی او که نهٔ. بعضو نورو وئیلی دی چه ددهٔ حکم د زانی حکم دے، یعنی که وادهٔ ئے کړے وی نو رَجم کولے به شی او که نهٔ وی نو سل (١٠٠) دُرے به وهلے شی.

د ښځو په دُبر (شاته حصه) کښې خواهش پوره کول هم د لواطت یو قسم دے او دا کار د تمامو علماؤ په نیز حرام دے.

فائده : ددے نه دا معلومه شوه چه په دنیا کښې د الله فساد نهٔ دے خوښ، برابره ده په کافر کښې وی او که په مسلمان کښې، پدے وجه دوی مشرکان دی لیکن لوط علیه السلام ئے ددے ګناه نه منع کوی. نو کافر ته به هم د اعمالو دعوت ورکولے شی او د هر قسم منکراتو نه به منع کولے شی. عثمان بن عفان رضی الله عنه مشرکانو ته د پینځو پورته کولو دعوت ورکړے وو کما فی السیرة.

مَاسَبَقَكُمْ : دا ئے په وحی سره ووئیله، ورنه لوط علیه السلام ته ددے نه مخکښې معلومات نهٔ وو.

عَمرو بن دینارؒ وائی چه د لوط علیه السلام د قوم نه مخکښې په دنیا کښې هیڅ سړی سره خپل خواهش نهٔ وو پوره کړے۔

د جامع دمشق بانی د اُموی خلیفه ولید بن عبد الملك وینا ده چه که الله د لوط علیه السلام د قوم واقعه نهٔ وے بیان کړے نو ما به گمان هم نشو کولے چه څوك سړے به د سړی نه خپل خواهش پوره کوی۔ (ابن کثیر۳/۴۴۵)

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ : (اَیْ فِیْ شَانِ لُوْطٍ) سوال : دلته حصر شویدے چه د دوی بله خبره نهٔ وه مګر د لوط علیه السلام د ویستلو حکم وو۔ او په سورة العنکبوت (۲۹) کښې دی چه د دوی بله خبره نهٔ وه مګر دا چه دا ئے وئیل چه عذاب راوله۔ دواړو ځایونو کښې حصر شویدے ؟۔

۱ جواب : دلته حصر په باره د لوط علیه السلام کښې وو چه ددهٔ په باره کښې ئے آخری خبره همدغه وه چه ددهٔ خبره مهٔ منئ۔ او د عنکبوت خبره د دوی د ځانونو په باره کښې وه چه بس مونږ تا سره نورے خبرے نکوو خو عذاب راوله۔ نو دا حصرونه په اعتبارونو سره مختلف دی۔

۲- جواب : صاحب المنارؒ وائی چه اظهر دا ده چه اول ئے د ویستلو حکم وکړو بیا چه کله هغه ورته د عذاب دهمکی ورکړه نو بیا دوی ووئیل چه عذاب راوله۔ نو دا دواړه حصرونه په بیل بیل وختونو کښې دی۔

اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ : یعنی د دوی آخری خبره دا وه چه هر کله دا خلك (یعنی لوط علیه السلام او د هغه دوه لونړه) مونږ گنده گنړی او ځان پاك حسابوی نو بیا د گنده خلکو په مینځ کښې ددهٔ ایساریدل څه کار دے لهذا دا ددے کلی نه ویستل پکار دی چه مونږ ته رکاوټ ختم شی۔

اَخْرِجُوْا : دا خو دومره بی غیرته وو چه په لوط علیه السلام باندے ئے د ویستلو وس نهٔ کیدو یو بل ته ئے وئیل چه وے باسئ خپله خو نران نهٔ وو۔ ځکه چه په بی حیاء خلکو کښې نرتوب او بهادری نهٔ وی۔ مګر الله تعالیٰ لوط علیه السلام او د هغهٔ تابعدار په عزت او عافیت سره صحیح سالم د دغه کلی نه ویستل او په دغه خلکو ئے عذاب راولیږلو۔

يَتَطَهَّرُوْنَ : دا د دوی استهزاء وه او په خپله گندگئ باندے فخر وو چه دوی ځان پاك حسابوی او مونږ ته گنده او نجس وائی نو دا خلك ز مونږ نه لرے کړئ۔ (القاسمیؒ)

پدے کښې د خلکو غصه راپورته کول مقصد دے۔

يَتَطَهَّرُوْنَ: يعنى د هلكانو نه ځان ساتى، نو دوى زمونږ ركاوټ دے دا ختمول غواړى، لكه دا د انسانانو مزاج دے چه د خپل ځان په شان ټول خلك جوړول غواړى لكه د زناكارو خلكو محله كښې يو پاك انسان وسيږى نو هغوى غواړى چه دے هم پدے بى حيائى كښې واقع شى كه نۀ وى د هغه د ويستلو كوشش كوى- (القاسمیؒ)

وَاَهْلَهٗ: ددۀ اهل صرف ددۀ دوه لونړه وے لكه په سورة الذاريات (٣٦) كښې دى:

﴿فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾-

(مونږ ونۀ موندل په هغه كلى كښې سوئ د يو كور د مسلمانانو نه)-

اِلَّا امْرَاَتَهٗ: ابـن كثيـرؒ وائـى: ددۀ ښځے ايمان نۀ وو راوړے بلكه د خپل قوم په دين باندے وه چه ددۀ پـه خـلاف بـه ئے د هـغوى سره مدد كولو او ددۀ كره به چه كوم ميلمانۀ راتلل د هغے اطلاع به ئے هغوى ته وركوله په څه خاصو اشاراتو سره چه ددے او د هغوى ترمينځ وو- پدے وجه كله چه الله تعالىٰ لوط علیه السلام ته د خپل اهـل د شپے بوتللو حكم وكړو نو دا حكم ئے هم وكړو چه دے ته خبر ورنكړى او د كلى نه ئے ځان سره ونۀ باسى-

بـعـض وائـى چـه دا هـم ورسره روانه شوه خو كله چه عذاب راغلو نو دے شا ته وكتل نو دے تـه هم هغه عذاب راورسيدو- ليكن ډيره ظاهره دا ده چه هغه د كلى نه نۀ وه وتلے او نۀ ورته لوط علیه السلام خبر وركړے وو بلكه د قوم سره پاتے شوه لكه الله فرمائى:

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ: دا د روستـو پـاتـى كيـدونكو نه وه كوم چه په كلى كښې پاتى وو- (ابن كثيرؒ والقاسمیؒ)

الْغٰبِرِيْنَ: غـابـر د اضـدادو نـه دے تيـر شـوى او بـاقى پاتے شوى دواړو ته وائى ليكن دلته دويمه معنى مراد ده، او صيغه د مذكر راوړو كښې اشاره ده چه ددے ښځے عذاب هم په شان د نـاريـنـو د هـغـه قـوم وو او اگرچه ددے د عذاب سبب صرف شرك او نور گناهونه وو- لكه د سورة تحريم (١٠) نه معلوميږى-

فائده: پدے كښې اشاره ده چـه كـلـه په يو تن كښې كفر او شرك وى نو كه هغه د نبى د بـدن سره لگيدلے وى او د هغه سره ئے په يو كور كښې ژوند هم تير كړے وى نو د الله د عذاب نـه ئے هغه نشى بچ كولے او د هغه بركت ورله فائده نشى وركولے، هر سړے به د خپل ځان غـم كـوى او ايـمـان او عـمـل صـالح به فائده وركوى، او د الله كار د نسب سره نۀ دے بلكه د صفاتو سره دے-

او ددے زنانه تذكره قرآن كريم كښې ډيره زياته شويده نو دے كښې دا اشاره ده چه الله تعالىٰ

لـوی ذات دیے مکـر د وړو او خـکـته مرتبے والا سره ئے هم کار شتـه، یوه ښځه ډیے دا نهٔ وائی چه الله به ما ته څه نهٔ وائی، نهٔ بلکه بد عمل که د هر چا د بدن نه راوځی د الله بدی شی۔

وَأَمْطَرْنَا : اول دا کـلـے الله تـعـالـیٰ پـورته کړو او پر مخـے ئے زمکـے ته راویشتـو او بیا ئے پرے دپاسـه د کانړو باران وکړو۔ لکه سورة هود (۸۲) او حجر (۷۴) کښ ذکر دی۔ اُوس ددیے کلو نام ونشان هم نهٔ شتـه۔ ځینی وائی چه دا کلی په بحر میت کښ پټ دی، او ځینی وائی چه د بحر میت په خوا کښ دی لیکن د هغے هیڅ نښیے نشته۔ (المنار۸/۴۵۳)

مَّطَرًا : مطر په قرآن کریم کښ د عذابی باران دپاره استعمالیږی۔

د لوط معنیٰ ده : پیوسته کیدل، یا ستر (پرده)۔

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ
او (لیږلے وو مونږ) مدین والو ته ورور د هغوی شعیب (علیه السلام) ووئیل هغهٔ اے قومه زما !
اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ جَاءَتْكُم
بندګی وکړئ د الله نشته تاسو له حقدار د بندګیٔ سویٰ د هغه نه یقیناً راغلے دے تاسو ته
بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ
ښکاره دلیل د طرفه د رب ستاسو نه، نو پوره کړئ پیمانه او تول او مهٔ کمویٔ د خلقو نه
أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ
څیزونه د هغوی او فساد مهٔ کویٔ په زمکه کښ روستو د اصلاح د هغے نه دا (کارونه)
خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾
ډیر غوره دی تاسو له که یئ تاسو ایمان والا۔

تفسیر : مدین د یوے قبیلے نوم وو چه د هغے نسبت مَدْیَن بن ابراهیم خلیل علیه السلام طرف ته وو۔ او شعیب علیه السلام ددے قبیلے یو فرد وو۔ ددهٔ سلسلهٔ نسب داسے ده :

شعـیـب بـن میـکـیـل (یـا میـکـائـیـل) بن یَشْجُر (یا یَسْخُر) بن مدین بن ابراهیم علیه السلام۔ په سریـانـیٔ ژبـه کښ ددهٔ نوم (یَثْرُون) وو۔ محمد بن اسحاق وائی چه د میکائیل مور د لوط علیه السلام لوروه (بغویٰ) (نو شعیب علیه السلام د لوط علیه السلام کړوسے دے) مدین د ابراهیم علیه السلام ځوی دے د (قطورا) نه پیدا دے چه دا ښځه ابراهیم علیه السلام په آخری عمر کښ کړے وه۔

شعیب علیه السلام ته د مفسرینو په اصطلاح کښې خطیب الانبیاء وئیل کیږي، وجه دا ده چه داسې بیانات ئې کړیدي لکه یو خطیب شخص چه ډیرې نکتې او باریکات بیانوي لکه سورت هود کښې ددهٔ بیان اُوږد راغلې دې او دلته کم دې۔

مدین د قبیلې نوم هم دې او د یو ښار نوم هم دې چه ددې خلکو د نیکه په نوم مشهور شویدې چه دا ښار د حجاز په لاره کښې ((مَعان)) ته نزدې واقع وو۔

ابن عاشور رحمه الله لیکي : مدین د لوط علیه السلام لور په نکاح اخستې وه نو د هغې نه څامن پیدا شو (عیفا، عفر، حنوك، ابیداع، الدعة) دوی ابراهیم علیه السلام په خپلو علاقو کښې د اسماعیل علیه السلام او د اسحاق علیه السلام د کورونو ترمینځ اُوسه ول، او د دوی نه د مدین والو ډیرې قبیلې راخورې شوې چه د دوی شمار (۲۵) زره کسان وو او د دوی د وسیدو ځایونه د حجاز او بحر احمر ساحل ته نزدې د خلیج العقبه ترمینځ وو، او د دوی د ښارونو مرکز په بحر احمر باندې (وَجُ) وو، او د دوی زمکې او علاقې د شمال نه تر د مَعَان د حدودو پورې دی (او معان د شام د علاقو نه یوه علاقه ده) او د حجاز نه تر تبوك پورې دی او د دوی کلو او ښارونو ته اَیکه وائي۔ او دوی د عربي قومونو د مجاورت (ګاونډ) په وجه عرب ګرځیدلي وو او دوی د شعیب علیه السلام په زمانه کښې د مصر د بادشاهانو ماتحت وو او چونکه دوی د مصر په لاره کښې وو نو د عربو قبائلو او د هغوی د مخالطة (ګډون) نه دوی عربي زده کړې وه، نو دوی د عرب مستعربه ؤ په شمار کښې راغلل لکه د بني اسماعیل علیه السلام په شان۔ بیا هغه لیکي : شعیب علیه السلام مدین والو ته رسول رالیږلې شوې وو او ددهٔ په عربئ کښې شعیب نوم وو او په تورات کښې (یثرون) او دارنګه دهٔ ته رعوئیل بن نویلي یا نویب بن رعویل بن عیفا بن مدین) وائي، او موسیٰ علیه السلام چه کله د مصر نه ووتو نو د مدین ښارونو ته لاړو هلته وسیدو بیا شعیب علیه السلام ورته خپله لور (صفوره) په نکاح ورکړه او موسیٰ علیه السلام د هغه سره لس کالو پورې مزدور پاتې شو۔

بیا وائي چه د مدین او د شعیب علیه السلام په نسب کښې د مفسرینو او مؤرخینو لوی جماعت ګډوډ شویدې خو تا چه ددې لیکلي شوي بیان مخالف څه ومونډل نو هغه ګوزار کړه۔ او علامه صفدیؒ شعیب علیه السلام پهړندو کښې شمارلې دې لیکن ما دا په معتمدو کتابونو کښې نهٔ دی مونډلې آه۔ (التحریر والتنویر ۸/ ۱۸۶)

ابن کثیر رحمه الله وائي چه دوی ته قرآن اصحاب الایکه هم وئیلي دي۔ لیکن عکرمهؒ او سُدیؒ وائي چه الله تعالیٰ شعیب علیه السلام لره دوه قومونو طرف ته لیږلې وو، یو مدین والو

طرف تہ چہ دوی الله پہ چغہ سرہ هلاك كړل او دوباره ئے اصحاب الايكه طرف ته وليږلو چه دوی ئے د يوے وريځے په ذريعه هلاك كړل چه په هغے كښں د اُور شعلے وے۔
مدين علاقه كښں عرب وسيدل، اصل نه عرب نهٔ وو ليكن د عربو د قُرب وجِوار د وجه نه عرب ګرځيدلي وو (التحرير) او مدين علاقه داسے وه لكه د منډئ په شان، دلته به د شام او يمن او حجاز وغيره علاقونه مالونه راتلل او دوی ته د بيع شراء او د تول او ناپ پروګرام سپارلے شوے وو نو دوی به په هغے كښں تګى او دوكه كوله او د الله نه نهٔ يريدل۔
د شعيب عليه السلام قوم د الله سره د شرك كولو نه سوئ نورو قبيحو ګنړو بيماريانو كښں اخته وو۔ دے خلقو به په تول او ناپ كښں كمے زياتے كولو۔ په لارو كښں به ئے خلق يرول او دهمكى به ئے وركوله او د هغوى نه به ئے مالونه اخستل، د هغوى نه به ئے په زوره ټيكس اخستو، او د كومو خلقو چه به د شعيب عليه السلام د خبرو آوريدو دپاره د راتللو اراده وه نو هغوى به ئے په لاره كښں بندول او په هره طريقه به ئے د هغه نه اړول۔
شعيب عليه السلام هغوى ته د توحيد دعوت وركړو او د شرك نه ئے ويرول او كومے نورے اخلاقى بيماريانے چه په هغوى كښں موجودے وے نو د هغے بدى ئے ورته بيانه كړه او د هغے نه د منع كيدو ترغيب ئے وركړو او هغوى ته ئے د الله دا نعمت راياد كړو چه د دوى شمار كم وو نو الله د دوى په نسل كښں بركت واچولو او د دوى شمار زيات شو۔ دا وه خلاصه د واقعے۔
بَيِّنَةٌ : ښكاره معجزه، ددے معجزے بيان هم نهٔ دے شوے، كيدے شي چه يوه معجزه ئے ورته پيش كړى وى چه هغه قرآن او سنت كښں نهٔ ده بيان شوے۔
○ ځينى وائى چه هغه معجزه عذاب وو چه قوم ئے د هغے نه يره ولے وو﴿ فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا﴾ ﴿فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ﴾ او جَاءَتْكُمْ ماضى په معنىٰ د مضارع ده دپاره د تحقق الوقوع يعنى خامخا رابه شى تاسو ته۔
○ يا دا چه هغوى ته ئے وعده وركړه چه معجزه به راشى ايمان به راوړئ ليكن هغوى دغه معجزه ونهٔ غوښته او ددهٔ تكذيب ته ئے جلتى وكړه نو دا به داسے شى لكه موسىٰ عليه السلام وئيلى وو﴿ قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىْٓ اِسْرَآئِيْلَ قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَأْتِ بِهَا اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ (اعراف: ۱۰۵-۱۰۶) نو د جَاءَتْكُمْ معنىٰ به دا شى چه معجزه راتللو ته نزدے ده خو كه تاسو ايمان راوړئ۔
○ يا د بينة نه مراد دا دے چه زما د صدق او رشتينوالى دليل او ننبه ښكاره شوه (ځكه چه دهٔ د هغوى د شرك او بدو اعمالو بطلان په دليل سره ښكاره كړو او هغوى ددهٔ د مقابلے

نه عاجز شو نو په هغوی باندے حجت قائم شو لکه هغه په سورة هود کښ ذکر دے)۔ نو د بیـنه نه مراد هغه شے دے چه هغه د نبوت د دعوے رشتینوالے ښکاره کوی، نهٔ خاص خارق العادة (معجزه)۔ هذا کله في التحریر والتنویر (۱۸۶/۸)

یعـنـی هرکـله چه زما د صدق نښنه ښکاره شوه نو اُوس چه زهٔ کوم نصیحت کوم هغه قبول کړئ او د کومو عذابونو نه مو چه یروم هغے ته هوښیار شئ۔

اَلۡکَیۡلَ وَالۡمِیۡزَانَ : دلته د کیل او میزان نه معنی مصدری مراد دی یعنی (پیمانه او تول کـول) او په سورة هود (۸۵) کښ (اَلۡمِکۡیَالَ وَالۡمِیۡزَانَ) ذکـر دے هـلـتـه ترے آله د کیل او وزن مراد ده۔

وَلَا تَبۡخَسُوا : بـخـس : د یو شی صفت یا مقدار کمول چه هغه لائق د کمال وی نو پدے کښ مـعـنـیٰ د ظلم او حیلے او غصب او لوټ مار او په پیمانه کښ زیات اخستل یا کمی کـولو یا په قیمت کښ د دوکے کولو ده۔ ابن سَیِّدَهٔ په ((المخصص)) کښ وائی چه بخس د انسان حق ختمولو ته وائی۔ (التحریر، نقله عن ابی بکر بن العربی وابن سیده)

النَّاسَ اَشۡیَآءَ هُمۡ : (الناس) مُبدل مِنه او (اَشۡیَاءَ هُمۡ) د هغے نه بدل اشتمال دے او په اصل کښ لَاتَبۡخَسُوۡا اَشۡیَاءَ النَّاسِ دے۔ یا (الناس) مفعول اول او (اَشۡیَاءَ هُمۡ) مفعول ثانی دے۔

د خـلـکـو څیزونه کمول یا د مالونو کمولو یو صورت دا دے چه چا ته ووائی چه دے ډبه د غـوړو کښ لس کیلو غوړی دی او دهٔ ته معلومه وی چه دے کښ دولس دی، یا داسے ووائی چه دے کـجـورے ونـه کښ د لسو دړو نه زیاتے نشته او دهٔ ته معلومه وی چه دا شلو دړو ته رسیـږی، کـله په صفت د یو شی کښ بخس راځی لکه داسے ووائی دا اُوښ نفرتی دے، حال دا چه هغـه ډیر اصیـل وی، دا خـو په اقوالو کښ شو ۔ او کله په عمل کښ وی لکه په یو گران شی بـانـدے ارزان ریټ کیږدی او مقصد ئے دا وی چه نور خلك ددے نه واوړی چه دا خـو بیـکـاره دے او ځان تـه ئے راکاړی لکه دا کار په منډیانو کښ بولئ والا او اړتیان کوی، کله د یوے سودا اخستونکی ته شکونه واچوی چه دا خو په بازار کښ ارزان ملاویږی او تا گرانه اخستے ده نو هغه ئے پریدی او دے ئے ځانله واخلی۔ (التحریر بتصرف)

او ددے نه ئے ځکه منع کړل چه کوم امت په کاروبارونو کښ تګی کوی نو هغوی خوا ته بـه خلك کـم راځی او خـلـك بـه د هـغـوی نـه متـنـفر کیږی نو پدے طریقه به هغوی کښ سَوداګانے کمیږی نو پدے سره به د ښار ترقی خرابیږی او ژوند به ئے تنګیږی۔

وَلَا تُفۡسِدُوۡا : یعنی په شرك او دعوت د ګناهونو سره فساد مهٔ کوئ۔

بَعْدَ اِصْلَاحِهَا : یعنی د انبیاؤ علیهم السلام او د احکامو په رالیږلو سره۔

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ : ځکه چه پدے سره به ستاسو عملونه قبلیږی، په دغه مالونو کښ به هم برکت راځی، او د الله عذاب به نهٔ راځی۔ دارنګه پدے سره ژوند مزیدار کیږی، امن باقی پاتی کیږی، د امت په مینځ کښ به صفا مینه پاتی کیږی او د زړونو بغض به ختمیږی کوم چه جګړے پیدا کوی، او کله چه ناپ تول برابر وی نو امت به زیاتیږی، او عزتمند کیږی به، او دشمنان به ترے یریږی، او ښه شهرت به ئے کیږی، او مالونه ه به ئے زیاتیږی په سبب د رغبت د خلکو په تجارت او زراعت کښ، او پدے کښ د آخرت خیر هم دے، پدے سره به د الله او د رسول په حکم عمل وشی نو الله به راضی شی، نو د عذاب نه به خلاص شی او د جنت مستحق به شی نو په خیر کښ تنوین د تعظیم او کمال دپاره دے۔ (التحریر)

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ : ۱- اکثر مفسرین لیکی چه دے خلکو به د ایمان دعوه کوله او د ابراهیم عليه السلام په دین ئے ځان ګڼړلو۔ یعنی که تاسو دعوه د ایمان کوئ نو بیا شرك ولے کوئ او پردی مالونه ولے خورئ حال دا چه ایمان خو د فساد او حرام خورئ منافی دے۔

۲- دویم پدے کښ دعوت غرض دے ځکه چه په الله باندے ایمان ښه شے دے چه هر سلیم الفطرت انسان ئے قبلوی، یعنی که ستاسو چرته د ایمان اراده وی او ایمان راوړئ نو ددے کارونو نه به ځان ساتئ۔ كُنْتُمْ په معنیٰ د (صِرْتُمْ) سره دے۔

یا دا خیزونه به تاسو ته هله فائده درکوی چه ایمان راوړئ که ایمان درکښ نهٔ وی نو تاسو ته هیڅ خیر نشی ملاویدے ځکه چه شرك د خیزونو خیر ختموی، نو پدے کښ بیا د توحید او د ایمان دعوت دے لکه د مخکښ په شان۔ (التحریر)

وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ
او مهٔ کینئ په هره لاره کښ چه یروئ او منع کوئ د لارے د الله نه هغه څوك
اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ
چه ایمان ئے راوړے په الله او لټوئ تاسو په هغے کښ کوږوالے او یاد کړئ کله چه وئ تاسو
قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۠ وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ
کم نو زیات ئے کړئ او وګورئ چه څرنګ شو انجام د فساد کونکو۔ او که وی یوه ډله

مِنۡكُمۡ اٰمَنُوۡا بِالَّذِیۡۤ اُرۡسِلۡتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ
ستاسو نه ایمان ئے راوړے وی په هغه څه چه رالیږلے شوے یم زۀ په هغے او بله ډله وی
لَّمۡ یُؤۡمِنُوۡا فَاصۡبِرُوۡا حَتّٰی یَحۡكُمَ اللّٰهُ
چه ایمان ئے نۀ وی راوړے نو صبر کوئ ترڅو چه فیصله به وکړی الله تعالیٰ
بَیۡنَنَا ۚ وَهُوَ خَیۡرُ الۡحٰكِمِیۡنَ ﴿۸۷﴾
په مینځ زمونږ کښ او الله تعالیٰ غوره دے د فیصله کونکو نه۔

تفسیر : مکے والو هم د دوی نه چل زده کړے وو چه څه کسان به ئے په لارو کښ کینولی وو او رسول الله ﷺ نه به ئے خلك اړول۔ نو د لارے نه مراد هغه لاره ده چه د شعیب علیه السلام کورته رسیدلے وه۔

تُوۡعِدُوۡنَ : ایعاد په معنیٰ د یره ولو او دهمکی ورکولو سره دے۔

وَتَصُدُّوۡنَ : منع کول په دوه طریقو سره وو، یو په خلکو باندے یرے اچول، او په هغوی باندے زور کول، او دویم شبهات اچول او په شعیب علیه السلام او د هغه په تابعدارو باندے تهمتونه او بدنامے او طعنونه لګول۔

وَتَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا : دا د دویمے معنیٰ تفسیر دے۔ ددے تشریح مخکښ (٤٥) آیت کښ ذکر شوه۔

وَاذۡكُرُوۡآ : اُوس ترغیب ورکوی په یادولو د نعمتونو سره۔

فَكَثَّرَكُمۡ : بِالۡعَدَدِ وَالۡمَالِ۔ یعنی ستاسو شمار (نفری) او ستاسو مالونه ئے زیات کړل۔

وَانۡظُرُوۡا : دا ترهیب (یره) ورکول دی چه انجام به مو خراب شی۔

وَاِنۡ كَانَ طَآئِفَةٌ : دے کښ یوه محاکمه بیانوی د هغوی د متوجه کولو دپاره۔

ددے مطلب دا دے چه تاسو کښ به دوه ډلے جوړی شی، یو به په ما ایمان راوړی او بله به ئے نۀ راوړی نو تاسو انتظار وکړئ چه عذاب به په چا راځی؟ آیا زما په ډله او که ستاسو په ډله؟ نو ښکاره خبره ده چه په الله باندے ایمان لرونکی باندے الله عذاب نۀ راولی بلکه عذاب په کافرو او د انبیاؤ علیهم السلام په دشمنانو راځی نو پدے خبره کښ د هغوی متوجه کول غرض دے۔ چه آیا د عذاب حقدار به مونږ یو او که تاسو؟ لږ خپلو خپلو عملونو کښ سوچ وکړئ۔ نو هغوی به متوجه شی چه زمونږ د الله سره څه تعلق دے او

په کومه خبره به د هغه د عذاب نه بچ کیږو۔

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ
ووئیل غټانو هغه کسانو چه ځان ئے لوئی ګڼړلے وو د قوم د هغهٔ نه خامخا وباسو به مونږ تا
یٰشُعَیْبُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْیَتِنَآ اَوْ
اے شعیب !(علیه السلام) او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے ستا سره د کلی خپل نه یا به
لَتَعُوْدُنَّ فِیْ مِلَّتِنَا ط قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِیْنَ ﴿۸۸﴾
خامخا راواپس کیږئ زمونږ په دین کښ، ووئیل هغه آیا اګرکه یو مونږ بد ګڼړونکی۔

تفسیر: پدے کښ د قوم د تکذیب طریقه ذکر ده۔

اسْتَكْبَرُوْا : دا خلك هم د مال والا وو پدے وجه ئے تکبر کولو۔

مِنْ قَرْیَتِنَآ : د دین والو دومره سپکاوے شویدے چه د خپل کلی نه ئے وباسی، تهٔ به وائے چه دا صرف د دوی کلے دے۔ او ټولو قومونو د پیغمبرانو سره دا کارونه کړیدی چه هغوی ئے د کلو نه ویستلی دی او ارادے ئے کړیدی لکه په سورة ابراهیم (۱۳) آیت کښ وګوره۔

اَوْ لَتَعُوْدُنَّ : سوال دا دے چه عَوْد مخکښی حالت ته واپس کیدو ته وائی نو آیا شعیب علیه السلام د هغوی په ملت وو؟

۱- جواب دا دے چه عَوْد په معنیٰ د دخول دے یعنی تهٔ به زمونږ دین ته راداخلیږے۔

۲- جواب : نبی چه کله بیان او دعوت نکوی نو د خلکو خیال دا وی چه دا هم زمونږ په مذهب او دین دے۔ او د بیان نه روستو خلکو ته رابنکاره شی۔

۳- جواب : دا په اعتبار د نورو مؤمنانو سره وئیلے شویدی چه هغوی مخکښ د دوی په دین کښ وو۔

اَوَلَوْ: همزه استفهامیه د تعجب او انکار دپاره ده، او واو عاطفه دے، معطوف علیه ئے پټ دے [اَیْ اَنَعُوْدُ وَلَوْ كُنَّا كَارِهِیْنَ] آیا مونږ به واپس کیږو اګرکه مونږه ئے بد ګڼړو، ځکه چه پدے کښ سراسر تباهی او نقصان دے، کفر او شرك ته څنګه واپس شو چه د هغے بیان روستو آیت کښ ذکر کوی۔ نو دا ډیر پوخ جواب دے او پدے کښ د هغوی په جهالت د انتهائی تعجب نه کار اخستے شویدے چه تاسو څومره جاهلان یئ، یو تن ته چه د یو دین

قباحت او بدی او په هغې کښې د دنیا او د آخرت تاوان معلوم وی آیا هغه به هغه دین ته واپس کیږی؟۔

دارنګه دا کلام جواب دے د هغوی د دواړو خبرو یعنی اګرکه مونږ بد ګنړو د کلی نه وتل او ستاسو په دین کښې داخلیدل، نو بیا به هم په مونږ باندے زور کیږی؟ نو پدے کښې اشاره ده ددے قوم حماقت او بیوقوفتیا ته ځکه چه دوی په خپل دین کښې په زوره داخلول غواړی حال دا چه د حق پرست شان خو دا دے چه هغه په نفسونو باندے په حق قبلولو کښې زور نهٔ کوی۔ (التحریر)

دارنګه په اِکْرَاه (زور کولو) سره مقصد نهٔ حاصلیږی ځکه چه که ستاسو دین حق وی نو اِکراه ته ضرورت نشته او که باطل وی نو په اِکراه سره مونږ په هغې باندے نهٔ متصف کیږو ځکه چه دین خو په حقیقت کښې د زړه صفت دے او زړونو ته ستاسو اِکراه نهٔ رسیږی نو مونږ به څنګه دا بد نهٔ ګنړو حال دا چه پدے کښې انتهائی قباحت او ظلم دے۔ (القاسمیؒ)

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ
یقیناً جوړ کړی به وی مونږ په الله باندے دروغ که واپس شو مونږ په دین ستاسو کښې
بَعْدَ اِذْ نَجّٰنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ
پس د هغې نه چه نجات راکړے مونږ ته الله تعالیٰ د هغې نه، او نهٔ دی جائز مونږ لره
اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ
چه واپس شو پدے کښې مګر که غواړی الله چه رب زمونږ دے، فراخه دے رب زمونږ هر
شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا افْتَحْ
شی ته په علم کښې، خاص په الله باندے ځان سپارلے دے مونږ، اے ربه زمونږ فیصله وکړے
بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾
په مینځ زمونږ او په مینځ د قوم زمونږ کښې په حق سره او ته غوره ئے د فیصله کونکو نه

تفسیر: یعنی ستاسو دین کښې خو په الله باندے دروغ جوړول دی، هغه ته د شریکانو نسبت او د هغه پیغمبران نهٔ منل او د هغه ملاقات نهٔ منل دی۔

نَجّٰنَا اللّٰهُ مِنۡهَا: چا له ئے دا نجات روستو ورکړيدے او ځوك ئے د وړوكوالى نه بچ ساتلے دے۔

وَمَا يَكُوۡنُ لَنَآ : يعنى ستاسو دين ته واپس كيدل مونږ له جائز نهٔ دى ځكه چه دا خو شرك دے او شرك الله حرام كړيدے۔

اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ : دا استثناء منقطع ده په معنى د لكن سره يعنى ليكن كه الله – چه زمونږ رب دے– هغه چا لره وغواړى او كفر ته ئے واړوى نو هغه ئے كولے شى۔ نو دے نه معلومه شوه چه كفر هم په مشيئت د الله كښ داخل دے۔

وَسِعَ رَبُّنَا : سوال پيدا شو چه الله ولے بعض بندګان د ايمان نه شرك ته اَړوى؟، جواب وشو چه الله په هر څه باندے پوهه دے، هغه ته پته ده چه فلانے شخص دين ته د زړه نه نهٔ دے راننوتے او ددے دين اهل نهٔ دے نو ځكه ئے ترے وباسى۔

لكه بعض كسانو په مكه كښ ايمان راوړو ليكن د زړه نه نهٔ وو او منافقانو ايمان راوړو، او قبائل العرب ايمان راوړو ليكن دوى اهل نهٔ وو نو الله بيرته واپس كړل ځكه چه ايمان خو لوى نعمت دے، ددے به قدر كوے ورنه الله به ئے درنه واخلى نو پدے كښ د مؤمنانو يره ول غرض دے چه په خپل ايمان به يره كوى۔ ددے نه معلومه شوه چه ايمان د انسان ډير معمولى تارونه دى چه زر شو كيږى، او كچه ونه ده چه په معمولى هوا باندے راپريوزى، او د غر په شان نهٔ دے چه په هواګانو او تندرونو باندے ئے څه پرواه نهٔ وى۔

وَسِعَ : په معنىٰ د اَحَاطَ سره دے يعنى راګير كړيدے رب زمونږ هر شے په علم كښ۔

عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡنَا : مؤمن سره د مخكښ جملے نه يره پيدا شوه چه ايمان خو ډير لوى دولت دے كه دا مونږ نه الله واخلى نو مونږ به څه كوو ؟ نو الله د هغے علاج ښائى چه په الله توكل كوه۔ او الله مهربانه ذات دے چه د مُخلصو بندګانو ايمان نهٔ خرابوى، نو توكل په دين او دنيا دواړو كښ كيږى، لكه د سورة الملك په آخر كښ د خاتمے په باره كښ ﴿ وَعَلَيۡهِ تَوَكَّلۡنَا﴾ لفظ راغلے دے چه الله به زمونږ خاتمه نهٔ خرابوى، په هغه مونږ ځان سپارلے دے۔

رَبَّنَا افۡتَحۡ بَيۡنَنَا : دا ښيرى دى په شكل د دعا سره، يعنى زمونږ او د دوى ترمينځ جدائى راوله چه دوى هلاك كړه او مونږ له ترے نجات راكړه۔

افۡتَحۡ : دا د فُتاحةٌ نه دے په معنى د فيصلے سره يعنى زمونږ او د دوى ترمينځ فيصله وكړه۔ نو الله د دوى دا دعا قبوله كړه او دوى هجرت وكړو ځكه چه په هغه زمانه كښ جهاد نهٔ وو بلكه د الله د عذاب انتظار به وو۔

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهٖ لَئِنِ
او ووئيل غټانو هغه كسانو چه كفر ئے كړے وو د قوم د هغه نه خامخا كه چرے
اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾
تابعداري وكړه تاسو د شعيب نو يقيناً تاسو به په دغه وخت د تاوان والو نه شئ۔
فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۹۱﴾
نو راونيول دوى لره زلزلے نو شول دوى په كورونو خپلو كښې پړمخے پراته۔

تفسير: هركله چه د دوى دهمكى هيڅ فائده ورنكړه نو دوى بله طريقه اختيار كړه چه مؤمنان ئے د ايمان نه منع كول، او خلكو ته ئے دا دعوت وركړو چه د شعيب (عليه السلام) خبره به نۀ منئ ځكه چه تاوان كښې به اخته شئ۔ او دا تاوان په دوه طريقو دے، يوه دا چه د پلار نيكه لاره به درنه پاتې شى، دا دينى تاوان شو، او بل دا چه دا نبى به تاسو د دنيا د كار نه وباسى كله به درته د مونځونو حكم كوى، او كله به درنه زكاة (مالونه) غواړى، كله به مو د خواهشاتو نه منع كوى، او پابنديانى به درباندے لګوى چه دا حرام دے او دا حلال۔ لكه ډير دنيا پرست دينى كارونه تاوان ګڼړى ځكه چه د دنيا نه ورانيږى۔

جٰثِمِيْنَ : يعنى په زنګنونو باندے پړمخے پراتۀ وو او دا چه په چا باندے درد ډير زيات وى نو بيا داسے حالت اختياروى، اشاره وه چه دوى ته عذاب ډير درد رسولے وو۔

اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا
هغه كسان چه دروغژن ئے كړو شعيب (ختم شو) ګويا كه نۀ وو وسيدلى
فِيْهَا ۚ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۲﴾
په هغے كى، هغه كسان چه دروغژن ئے ګڼړلے وو شعيب لره شول دوى تاوانيان۔
فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ
پس مخ ئے واړه وو د دوى نه (روان شو) او وے ويل اے قومه زما ! يقيناً ورسول ما تاسو ته
رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۹۳﴾
پيغامات درب خپل او خيرخواهى مے وكړه ستاسو نو څرنګ به خفګان وكړم په قوم كافرانو۔

تفسیر : دا قول د الله تعالیٰ دے۔ كَأَنْ لَّمْ : دا د مخکښ (فَنَوْا) (فانی شو) سره متعلق دے۔ او (فَنَوْا) د الذين كذبوا (مبتداء) دپاره خبر دے۔

لَّمْ يَغْنَوْا : ۱- (اَیْ كَأَنْ لَّمْ يُقِيْمُوْا) غَنِيَ بِالْمَكَان ۔ په يو ځای کښ پاتے کيدو او وسيدو ته وائی لکه مَغْنیٰ کورته وائی۔ يعنی ګويا که دوی نهٔ وسيدلی په هغے کښ۔

۲- يا يَغْنَوْا د غِنیٰ نه دے په معنیٰ د مالدارئ سره، ګويا که نهٔ وو مالداره شوی۔ يعنی خوش عيشی او مالونه ئے ټول تباه شو۔ (خازن)

فَتَوَلّٰی عَنْهُمْ : د عذاب راتللو نه مخکښ شعيب علیه السلام د دوی نه واوړيدو او دا خبره ئے ورته وکړه ۔ يعنی الله تعالیٰ د هغوی د هلاکولو دپاره داسے باران راوليږلو چه په هغے کښ د اُور سپرغے وے، او ددے سره د آسمان نه يو آواز راغلو، او د دوی د خپو لاندے زمکه وخوزيدله او په کتو کتو کښ د دوی روحونه والوتل او د دوی د بدنونو نه ډيری جوړ شو او داسے شول لکه چه مخکښ دلته دوی د سرهٔ موجود نهٔ وو، حال دا چه مخکښ په استکبار کښ راتللو سره دوی ددے زمکے نه شعيب علیه السلام او مسلمانانو ته د ويستلو دهمکی ورکړے وه۔

يا دا چه د عذاب د راتللو او د هغوی د هلاك کيدو نه روستو شعيب علیه السلام هلته راغے او يو طرفته ودريدو او د دوی لاشونو ته مخاطِب شو وے وئيل چه اے زما قومه! ما تاسو ته د الله پيغام رسولے وو، او ستاسو سره د خير خواهئ چه کومه تقاضا وه هغه مے پوره کړے وه، ليکن تاسو د کفر لاره اختيار کړه، پدے وجه اُوس زما ستاسو په دے انجام ليدو هيڅ افسوس نشته دے۔ او دا معجزه وه چه دا آوازونه هغوی آوريدل۔

فَكَيْفَ اٰسٰی : ۱- ای مَعَ اِصْرَارِهِمْ عَلَى التَّكْذِيْبِ ۔ يعنی سره ددے نه چه تاسو په تکذيب ولاړ وئ نو اُوس چه هلاك شوئ زهٔ به څنګه په تاسو خفګان وکړم۔

۲- يا لَسْتُمْ مُسْتَحِقِّيْنَ لِلْحُزْنِ ۔ تاسو د غم مستحق نهٔ يئ څکه چه غم خو سړے په هغه چا وکړی چه په ناپوهئ سره هلاك شی او تاسو ضديان وئ۔

په دعوت کښ دا طريقه ده چه چا ته يو ځل دعوت ورسيدو او بيا هغه په کفر او ضد کښ راغلو او عذاب پرے راغلو، په هغه باندے خفګان کول ګناه ده، او د الله او د رسول نه ځان مخکښ کول دی۔ نو دا وينا د بعض جاهلانو غلطه ده چه وائی چه که په امريکه کښ يو کافر مړ شی نو الله به زمونږ نه تپوس کوی۔

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا فِیۡ قَرۡیَةٍ مِّنۡ نَّبِیٍّ اِلَّاۤ اَخَذۡنَاۤ اَهۡلَهَا

او نهٔ دے رالیږلے مونږ په یو کلی کښ یو نبی مګر ونیول مونږ وسیدونکی د هغے

بِالۡبَاۡسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ یَضَّرَّعُوۡنَ ﴿۹۴﴾ ثُمَّ

په تکلیف د مال او په تکلیف د بدن دے دپاره چه دوی عاجزی وکړی (الله تعالیٰ ته)۔ بیا

بَدَّلۡنَا مَکَانَ السَّیِّئَةِ الۡحَسَنَةَ حَتّٰی عَفَوۡا وَّقَالُوۡا

به بدل کړو مونږ په ځای د تکلیف ښهٔ حالت تردے چه ډیر به شو دوی او وبه ئے وئیل

قَدۡ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذۡنٰهُمۡ

یقیناً رسیدلی دی پلارانو زمونږ ته تکلیفونه او خوشحالئ نو راونیول مونږ دوی لره

بَغۡتَةً وَّهُمۡ لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿۹۵﴾

ناڅاپه او دوی نهٔ پوهیدل۔

تفسیر : ددے ځای نه تر (۱۰۲) آیت پورے د مخکنو انبیاؤ په واقعاتو باندے تعقیب کوی (یعنی ددے نه فائدے او قواعد راوباسی) او دے ته د مخکنو قصو نتیجه هم وائی او هغه نتیجه دا ده (بَیَانُ سُنَّةِ اللّٰهِ فِی الۡاَنۡبِیَاءِ وَفِیۡ اَقۡوَامِهِمۡ) د الله طریقه د انبیاء علیهم السلام او د هغوی د اقوامو په باره کښ څه ده۔ مؤمنانو سره څه کار کوی او د کافرانو سره څه؟، او څه امتحان راولی او څه نهٔ۔

ربط

۱- الله فرمائی : چه مونږ د انبیاؤ علیهم السلام په کلام سره قومونو ته خبر ورکړیدے بیا مو هلاك کړیدی او دارنګه عملًا مو خبر ورکړیدے په (بأساء او ضراء) (یعنی تکلیفونو راتللو سره۔ یعنی که انبیاء علیهم السلام ونهٔ منی نو بیا پرے الله مصیبتونه راولی، دا هم یو قسم خبر ورکول وی، چه الله بندګان تنګ کړی چه بیا عذر ونکړی چه مونږ خبر نهٔ وو۔

۲- ربط او مقصد : مخکښ د انبیاء علیهم السلام او د هغوی د امتونو واقعات او د هغوی انجام بیان شونو دلته الله تعالیٰ د تیر شوی قومونو مجموعی واقعی احوال بیان کړیدی چه کله هم الله تعالیٰ د یو قوم د هدایت دپاره یو نبی رالیږلے، او هغوی د هغه

تکذیب کړے او په شرك او ګمراهئ کښې همیشه پاتے شوی، نو الله تعالیٰ هغوی لره په کُلی توګه سره هلاکولو نه مخکښې په محتاجئ او تنګدستئ او بیمارئ کښې مبتلا کړیدی، چه کیدے شی الله طرف ته رجوع وکړی، لیکن کله چه دوی په خپل کفر او شرك همیشوالے کوی نو الله د هغوی تنګدستی په فراخئ د رزق او بیماری او مصیبت ئے په عافیت او صحتمندئ بدل کړے، بیا د هغوی حال دا شو چه د نعمت فراخوالی د هغوی په سترګو پټئ او د هغوی په زړونو مهر ولګولو او وے وئیل چه دا د الله د طرف نه کوم ازمیښت نهٔ دے، بلکه د زمانے دُستور دے چه د خلقو حالات یو شان همیشه نهٔ وی، زمونږ پلاران او نیکونو ته پریشانی رسیدلے وه، لیکن هغوی په خپل دین مضبوط ولاړ وو، اُوس مونږ ته آسانیانے راغلی دی نو مونږ به هم د هغوی په شان په خپل دین ولاړ یو. لهذا د هغوی کفر او استکبار نور هم زیات شو، او نتیجه دا راوتله چه الله تعالیٰ هغوی ناڅاپی راونیول. حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه په آیت کښې د کافرانو او د الله نه د غافلو خلقو حال بیان شویدے.

لیکن د مؤمنانو حال ددے په خلاف وی، هغوی په نعمتونو د الله شکر ادا کوی او کله چه مصیبت راشی نو په هغے صبر کوی. لکه په صحیح مسلم کښې روایت دے چه ((د مؤمن معامله عجیبه ده، ددهٔ هره خبره کښې خیر دے، او دا د مؤمن نه سِویٰ بل چا ته حاصل نهٔ دے، کهٔ دهٔ ته خوشحالی ورسی نو شکر ادا کوی او دا ددهٔ دپاره غوره دے، او که دهٔ ته تکلیف ورسی نو صبر کوی او دا ددهٔ دپاره غوره ده)). (ابن کثیرؒ) (صحیح مسلم: ۷۶۹۲)

اِلَّآ اَخَذۡنَآ : ددے نه مخکښې دا خبره پته ده چه الله رسولان راولیږی او خلك تکذیب وکړی نو بیا پرے مصیبتونه راولی.

بِالۡبَاۡسَآءِ : تکلیفونه مالی، قحطونه او فقرونه.

وَالضَّرَّآءِ : وباء ګانے او مرضونه وغیره لکه تشریح ئے مخکښې سورة الانعام کښې تفصیلًا تیره شویده.

په سختئ سره په انسان کښې عاجزی پیدا شی، او د عاجزئ د وجه نه په بنده کښې انابت پیدا کیږی او انابت سبب د هدایت دے، بنده الله ته توبه وباسی، نو مصیبتونه راتلل به هم د دوی دپاره د خیر ذریعه وه.

مَكَانَ السَّیِّئَةِ : حسنه خوش عیشئ او خوشحالئ ته وائی چه بارانونه به راغلل او میوه جات به وشو.

حَتّٰى عَفَوْا : أَیْ حَتّٰی کَثُرُوْا وَوُسِعُوْا ۔ یعنی د دوی نفری به هم زیاته شوه او مالونه به ئے فراخه شو۔

وَّقَالُوْا : دا د دوی فساد او د شیطان وسوسه وه چه شیطان به ورته مصیبت کښې بل مصیبت راویستلو۔ او پدې وینا کښې د دوی مقصد دا وو چه دا کارونه اتفاقی طور سره کیږی، د دنیا د زمانې چلن دے او دا امتحان نهٔ دے۔ لکه دا ذهن د ډیرو انسانانو دے چه دنیا کښې کوم مصیبتونه او امتحانات راځی نو دا د دنیا چال چلن گڼړی او خپلو گناهونو ته نهٔ متوجه کیږی چه دا په مونږ امتحان دے او دا ډیره قبیحه خبره ده، مؤمن سړے به هر حالت د الله امتحان گڼړی۔

فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً : یعنی هرکله چه پدے دواړو طریقو به ددے خلکو اصلاح ونشوه او مرض به ئے سخت شو، ناصورته به ورسیدو نو بیا ددے آپریشن کول پکار دی۔

وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ : یعنی هیڅ خبر نهٔ وو، د هغے آثار ئے نهٔ وو لیدلی، او دا ډیر سخت عذاب وی چه انسان په غفلت حالت کښې د الله په عذاب کښې راگیر شی۔

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰۤى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا
او که کلو والو ایمان راوړے وے او تقویٰ ئے کړے وے خامخا راکولاؤ کړی به وو مونږ
عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا
په دوی باندے برکات د آسمان او د زمکے نه لیکن دروغژن وگڼړل دوی (پیغمبران)
فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾
نو راونیول مونږ دوی لره په سبب د هغے چه دوی به کول۔

تفسیر : پدے آیتونو کښې الله تعالیٰ دا بیانوی چه دے هلاك شوی قومونو سره د نجات اسباب وو لیکن دوی هغه اختیار نکړل ځکه هلاك شول، که دوی هغه اختیار کړی وے نو بیا الله مهربانه دے۔

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰۤى : او دا دیو سوال جواب هم دے چه دا خلك ولے الله تعالیٰ هلاکول؟ نو الله فرمائی چه دوی کښې ایمان او تقوی نهٔ وه۔

یعنی دا خلك د ایمان او تقویٰ نه بربنډ وو، که دوی د خپلے زمانے په انبیاؤ ایمان راوړے وے، او د محرماتو نه ئے اجتناب او د نیك اعمال التزام ئے کړے وے (یعنی د ظاهر او باطن

پاکي ئے کړے وے لکه قرآن کښ ایمان او تقویٰ د همدے مقصد دپاره یو ځای کیږي) نو الله به د آسمان او زمکے نه د خپلو برکتونو دروازے د دوی دپاره راکولاوے کړے وے، لیکن دوي د رسولانو تکذیب وکړو نو الله دوی د کفر او ګناهونو په وجه راونیول۔

لَفَتَحْنَا : دا فتح د برکاتو ده چه په نیکانو باندے کیږي۔ فتح د برکاتو دیته وائي چه الله تعالیٰ د نیك عمل په وجه بنده ته رزقونه، لباسونه، ښځه، بچي او صحتونه فراخه کړي او بیا بیرته په هغے باندے د شکر توفیق ورکړي لکه دا ئے نښه ده، او دا نښنه د حلال خورئ هم ده۔ نو هر انسان به ځان ته ګوري که رزقونه او نورے فراخیانے راتللے او ستا عمل کمیدو نو پوهه شه چه دا استدراج دے، الله دِے په آرام آرام سره رانیسي، او که نعمتونو نور الله ته رانښکلے او عبادات دِے زیاتیدل نو دا برکت دے، او صحابه کرامؓ به بیا هم د فراخئ نه یریدل۔

اَفَاَمِنَ اَهۡلُ الۡقُرٰۤی اَنۡ یَّاۡتِیَهُمۡ بَاۡسُنَا بَیَاتًا
آیا نو په امن کښ دي کلي والا ددے نه چه رابه شي دوی ته عذاب زمونږ په شپه کښ
وَّهُمۡ نَآئِمُوۡنَ ﴿۹۷﴾ اَوَاَمِنَ اَهۡلُ الۡقُرٰۤی اَنۡ یَّاۡتِیَهُمۡ بَاۡسُنَا
او دوی به اُوده وی۔ او آیا په امن دی کلي والا چه رابه شي دوی ته عذاب زمونږ
ضُحًی وَّهُمۡ یَلۡعَبُوۡنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوۡا مَکۡرَ اللّٰهِ ج
په وخت د څاښت کښ او دوی به لوبے کوی۔ آیا بے یری دی دوی د تدبیر د الله نه
فَلَا یَاۡمَنُ مَکۡرَ اللّٰهِ اِلَّا الۡقَوۡمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۹۹﴾
پس نۀ بے یرے کیږی د تدبیر د الله نه مګر قوم تاوانیان۔

تفسیر : پدے آیت کښ الله ژوندی انسانان یروی چه د الله عذاب خو هر وخت راتلے شي، همغه الله دے، کولے شي چه په تاسو هم د شرکونو او ګناهونو په وجه همغه عذابونه راولیږی کوم ئے چه په پخوانو باندے رالیږلی دی، اګرکه عمومی به نۀ وی لیکن خصوصی په هر مجرم باندے راتللے شي او وخت په وخت راځی هم۔ نو د الله تعالیٰ د رانیولو نه مۀ بیغمه کیږئ، د الله د رانیولو یره هغه خلك د خپلو زړونو نه وباسی چه د عقل نه خالي وی۔

د حسن بصریؒ وینا ده چه مؤمن نیکیانے کوی او د الله نه په یره وسیږی او فاجر انسان گناهونه کوی او بیا هم خپل ځان مامون (په امن) گنړی۔ (ابن کثیرؒ والقاسمیؒ)

اَفَاَمِنَ : په غم کښ کیدل دا دی چه بنده د الله نه یره کوی او د هرے گناه نه ځان ساتی چه هغه د الله د عذاب سبب جوړیږی، په گناه مهٔ اُوده کیږه او د گناه په ځای مهٔ ورځه هسے نه چه دے وخت کښ د الله عذاب راشی۔

بَيَاتًا : اَیْ بَائِتِیْنَ : یعنی په داسے حال کښ چه شپه تیرونکی وی۔ ابن کثیرؒ وائی : اَیْ لَيْلًا۔ یعنی د شپے۔

ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ : د چاشت (یعنی ورځ) کښ خلك په غفلت کښ وی، لعب (لوبی) د دنیا کارونو ته هم وائی او ځوك پدے وخت کښ مختلفے لوبی کوی، ځوك کرکټ کوی او د جرمونو انبارئے په سر باندے وی۔ او پدے کښ اشاره ده چه منکرین خلك یا په خوب اُوده وی یا په لوبو کښ مشغول وی، نو د دوی ټول ژوند په خوبونو او لوبو کښ تیریږی۔

مَكْرَ اللّٰهِ: ۱- د مکر نه مراد د الله رانیول دی په استدراج سره په فراخئ د دنیاوی نعمتونو۔ ۲- عطیهؒ وائی : د مکر نه مراد رانیول او عذاب د هغهٔ دے۔ (بغویؒ)

الْخٰسِرُوْنَ : ددے مفهوم دا دے چه چا سره غم وی نو الله تعالیٰ هغه د تاوان نه ساتی۔

ابو الدرداء ﷺ ددے نه معلومه کړے وه او دا به ئے فرمایل :[مَا خَافَ أَحَدٌ عَلٰی اِیْمَانِهِ اِلَّا مُنِحَهٗ وَمَا أَمِنَهٗ أَحَدٌ عَلٰی اِیْمَانِهِ اِلَّا سُلِبَهٗ] ۔ ځوك چه په ایمان باندے یره کوی نو هغه ته به ورکولے شی او ځوك چه په ایمان باندے بیغمه وی نو هغه نه به اخستلے شی۔

نو مؤمن سړے به همیشه پدے خطره کښ وی چه داسے امتحان رانشی چه ددهٔ نه پکښ ایمان واخستلے شی او دا دعا به همیشه کوی (یَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰی دِیْنِكَ) (اے د زړونو اړونکیه ! زما زړه ستا په دین مضبوط کړه) او عمل او کوشش به کوی په هر هغه سبب کښ چه د فتنو د راتللو په وخت کښ ئے د شر نه خلاص کړی ځکه بنده چه هر څو مره کامل شی بیا هم د سلامتیا یقین پرے نشته۔ (السعدیؒ)

د مکر الله تشریح :

مؤمن بنده د الله د مکر نه ولے یریږی؟ ۱- نو ددے وجه دا ده چه مؤمن وائی چه کیدے شی چه ما ایمان راوړے وی او هغه به منافقت وی، د زړه نه به نهٔ وی نو کیدے شی چه پدے مے الله راګیر کړی۔ نو په خپل ایمان باندے بدگمانی کوی۔ نو یو ورسره دا غم وی۔

۲- دویم: پدے وجه یریږی چه ما به پخوا ګناه کړی وی او ما به د هغے نه سمه توبه په اخلاص سره الله ته نهٔ وی ویستلی نو کیدے شی چه الله به ما ته هغه راجمع کړی وی او یو وخت کښې به مے پرے راګیر کړی، الله په چا باندے ظلم نکوی، لیکن زما جرمونه به وی او زما نه به هیر شوی وی او هغه به د الله په نیز پاتی وی۔

۳- دارنګه مؤمن عمل کوی او بیا وائی چه کیدے شی دا عملونه د الله د شان او د هغه شرطونو موافق نهٔ وی کوم باندے چه عملونه قبلیږی، اخلاص، اتباع، احتساب، احسان پکښې نهٔ وی، نو کیدے شی چه دا عملونه قبول نشی او هلاك شو۔

٤- ورسره د راتلونکے زمانے نه یریږی چه هسے نه چه روستو خراب نشو، د دنیا سره به مو محبت پیدا شی او زړونه به مو د الله نه واوړی نو د الله په عذاب کښې اخته نشو۔ ډیر انسانان د انسان مخامخ ګمراه شی او د حق نه واوړی۔ نو د الله د مکر نه یره په اصل کښې د خپلو بدو عملونو نه یریدل دی، ورنه الله تعالیٰ هیڅکله د مؤمن سره دا کار نهٔ کوی چه هغه ډیے عملونه کوی او صحیح ایمان ډیے لری او الله ډیے ورله ایمان ضائع کوی او جهنم ته ډیے ګوزاری، دا د الله اصول نهٔ دی۔ ﴿اَنِّیْ لَا اُضِیْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْکُمْ﴾۔ (آلعمران)

د الله د مکر نه د بچ کیدو طریقه دا ده: حسن بصریؒ به هر وخت غمژن وو لکه چه کور کښې ئے مړے شویدے۔ چا ترے تپوس وکړو دا ولے؟ هغه ووئیل:

[لَعَلَّ اللّٰهَ اطَّلَعَ مِنَّا عَلٰی عَمَلٍ (اَیْ مَعْصِیَّةٍ) فَقَالَ: اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ لَا غَفَرْتُ لَکُمْ] کیدے شی چه الله تعالیٰ زمونږ په یوه ګناه خبر شوے وی او په هغه وخت کښې ئے (په غضب کښې) داسے وئیلی وی چه عملونه کوئ چه څه مو خوښه وی زهٔ تاسو ته بخنه نکوم)۔ او کله کله داسے کیږی لکه دا خبره په صحیح حدیث کښې هم راغلے ده، نبی ﷺ فرمائی:

[اِنَّ الرَّجُلَ لَیَتَکَلَّمُ بِالْکَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللّٰهِ لَا یُلْقِیْ لَهَا بَالًا، یَکْتُبُ اللّٰهُ لَهٗ بِهَا سَخَطَهٗ اِلٰی یَوْمِ یَلْقَاهُ] یو سړے به د الله د غصے یوه خبره وکړی چه ددهٔ به پرے دومره باك نهٔ وی (لکه الله او رسول او دین پورے به ټوقه وکړی) نو الله به د هغے په وجه په دهٔ باندے خپله ناراضګی تر قیامته پورے ولیکی۔ (صحیح بخاری: ٦٤٧٨) ومسلم (٧٦٧٣)

دا د الله د مکر نه یره ده۔ الله فرمائی: ﴿فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِیْ قُلُوْبِهِمْ بِمَا اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا کَانُوْا یَکْذِبُوْنَ﴾ (التوبة:٧٧)

منافقانو د الله د وعدے خلاف وکړو نو الله ورله په زړه کښې منافقت همیشه واچولو۔ دا کله کله د ګناهونو نحوست (سپیرهٔ والے) وی لکه روستو آیت کښې ددے آیت تشریح

راغلے ده، چه د بنده په زړه باندے د ګناه په وجه مهر ووهی۔
تنبیه : په قرآن کریم کښ دا قانون دے چه کله د هیبت یو لفظ ذکر شی چه د هغے نه نا امیدی او په الله باندے بدګمانی پیدا کیږی (لکه مَکرُ الله) نو الله روستو د هغے تشریح کوی لکه دلته ئے په متصل آیت کښ کړیده۔

اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِ
آیا نۀ ده ښکاره شوے هغه کسانو ته چه په میراث اخلی زمکه روستو
اَهْلِهَآ اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ
د وسیدونکو د هغے نه چه که وغواړو مونږ ویه رسوو دوی ته (عذاب)
بِذُنُوْبِهِمْ ج وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿١٠٠﴾
په سبب د ګناهونو د دوی او مهر به ووهو مونږ په زړونو د دوی نو دوی به نۀ آوری۔

تفسیر : یعنی مخکښ پدے زمکه کښ خلك وسیدل زمکه د هغوی وه اُوس دے موجوده خلکو ته پاتے شوه، نو آیا دوی ته دا پته نشته چه که مونږ وغواړو نو دوی به د دوی په ګناهونو راونیسو او عذابونه به پرے راولو او په زړونو به ئے مهر ووهو لکه څنګه چه تیر شوی قومونه د ګناهونو په وجه هلاك شو او د هغوی په زړونو باندے مهرونه ووهل شو او د حق د آوریدو توفیق ورته ملاؤ نۀ شو۔ دا هغه مکر دے چه یره ترے پکار ده چه بنده به ګناهونه کړی وی او هیڅ پرواه به ئے پرے نۀ وی او ترے هیر شوی به وی نو د هغے په وجه به پرے د الله عذابونه راشی، نو د دغه تیر شوی قومونو د انجام نه عبرت اخستل پکار دی۔
وَنَطْبَعُ : دا غټ عذاب دے چه انسان باندے د ګناه په وجه مهر ووهل شی چه بیا به حق نۀ آوری او نۀ به ئے قبلوی، او دے ته د ایمان سلب کول (اخستل) وائی کوم چه مخکښ د حسن بصریؒ او د ابو الدرداء ﷺ په قول او په حدیث کښ تیر شو، هغه ددے تشریح ده۔
پدے وجه مالك بن دینارؒ وئیلی دی : [مَثَلُ الْمُؤْمِنِ كَالشَّاةِ الْمَأْبُوْرَةِ تَأْكُلُ وَلَاتُقْطَعُ عِلَّتُهَا] د مؤمن سړی مثال د هغه ګډے په شان دے چه ستنه ئے خوړلی وی چه هغه ئے په مرئ کښ انښتی وی نۀ ښکته ځی او نۀ راوځی نو هغه پدے حالت کښ خوراك کوی خو بیماری ئے نۀ ختمیږی۔ (همیشه پریشانه وی تر مرګه پورے)۔ (حلیة الاولیاء ٢٧٧/٢/٤٣٠)

تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَآئِهَا ج وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ
دا کلي دي بیانوو مونږ په تا باندے د خبرونو ددے نه او یقیناً راغلي وو دوی ته
رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ج فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا
رسولان زمونږ په ښکاره دلیلونو نو نهٔ وو دوی چه ایمان ئے راوړے وے په هغے په دے وجه
كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ ط كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۱﴾
چه دروغژن وګڼړل دوی اول کښ، دغسے مهر وهي الله تعالیٰ په زړونو د کافرانو۔

تفسیر : پدے آیت کښ الله تعالیٰ دوه خبرے بیانوی، یو تسلی رسول الله ﷺ ته چه مونږ اُوس تا ته د پنځه انبیاء کرامو علیهم السلام او د هغوی د امتونو واقعات او د هغوی بد انجامونه بیان کړل دے دپاره چه ستا قوم عبرت حاصل کړی او ایمان راوړی، او دے دپاره چه تا ته تسلی شی چه د مشرکانو د طرف نه چه تا ته کوم تکلیف رسیږی نو دا تا پورے خاص نهٔ دے بلکه په تیر شوو زمانو کښ نور انبیاء علیهم السلام هم د داسے پریشانو سره مخامخ شوی وو۔

دویمه خبره : پخوانو قومونو ولے ایمان رانهٔ وړو؟ د هغے سبب بیانوی چه وجه دا وه چه دوی ته اول کښ حق راغے، رسولانو ورته ښکاره نښے وخودلے لیکن دوی ورله لته ورکړه او د اول نه ئے تکذیب شروع کړو نو الله تعالیٰ ورته د ایمان توفیق ورنکړو او د هغوی د جرمونو د وجه نه ئے په هغوی باندے مهر ووهلو، نو دا آیت د سورۃ الانعام (۱۱۰) آیت ﴿وَنُقَلِّبُ اَفْئِدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ په شان دے۔ نو یو دوی ضد وکړو او بل د نعمت بی قدری، نو الله پرے دپاسه مهر هم ووهلو چه د هدایت تولے لارے پرے بندے شی، ځکه الله غني ذات دے، د ډیرے استغناء د وجه نه داسے کار کوی۔

بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ : ۱- د قَبْلُ نه اولًا (یعنی اول کرت) مراد دے۔

۲- اُبی بن کعب رضی الله عنه وائی : چه د (من قبل) نه مراد یوم المیثاق دے یعنی د عالَم الارواح په ورځ او د الله تعالیٰ په علم کښ ئے تکذیب کړے وو لیکن دلته اوله معنیٰ ظاهره ده۔ نو دا آیت د مخکښی آیت تشریح شوه۔

۳- یا مطلب دا دے : اَیْ فَلَمْ یَکُنْ مِنْ شَأْنِهِمْ اَنْ یُّؤْمِنُوْا بَعْدَ مَجِیْءِ الْبَیِّنَاتِ بِمَا کَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلِ مَجِیْءِ الْبَیِّنَاتِ عِنْدَ بَدْءِ الدَّعْوَةِ] (المنار) یعنی د دوی د شان نه دا نهٔ وه چه دوی پس د

راتـللـو د بيـنـاتـو نـه ايمان راوړے وے په هغه وحى باندے چه دوى پرے مخکښ د راتللو د بيناتونه تکذيب وکړو، په ابتداء کښ چه کله دوى توحيد او عبادت د الله ته راوبللے شو۔

صاحب المنارؒ وائى چه دلته اول مطلب اخستل سخت ضعيف دى ځکه چه دلته ماکان نـفـى د شان کوى او د هر مکذب شان خو دا نۀ وى چه هغه د يو شى تکذيب وکړى گنے په هغـه تـکـذيب دِے هـميشـه پاتـى شى پس د هغے نه چه بينات د هغه په خطائى باندے ښکاره شى، آؤ، دا شان د بعض معاندينو او مقلدينو دے چه پس د دليل قائميدو نه هم په خپله خطائى باندے قائم پاتى کيږى۔

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ج
او نۀ دے موندلے مونږ د ډيرو د دوى دپاره پوره والے د لوظ
وَإِن وَّجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾
او خامخا موندلى دى مونږ زيات د دوى خامخا نافرمان۔

تفسير : يـعنى موجوده او پخوانى ټولو قومونو په ازل کښ چه کومه وعده کړے وه نو د هغـے خـلاف ورزى کـول د دوى عـادت جـوړ شـوے وو، اکثر پـه هغوى کـښ سرکشان او نافرمان وختـل۔

ربط

مـخـکښ آيت کښ ښکاره شوه چه اِسْتَوَتِ الْحَالَتَانِ الدَّعْوَةُ وَعَدَمُهَا ۔ يـعنى دوى باندے دعوت اثر ونکړو د رسولانو د راتللو نه روستو او مخکښ دواړه حالتونه ئے يو شان وو۔

مِّنْ عَهْدٍ : ابن عباس ﷜ فـرمـائـى : د عـهـد نـه مراد (ايمان) دے ځکه چه ايمان د الله سره لوى لوظ دے۔

(٢) ابن الجوزیؒ وائى : د الله عـهد دا دے چه (اَنْ لَّا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا) چه بندگان به د الله سره هيڅوك نۀ شريك کوى، ليکن خلکو دا وعده ماته کړه۔ (زاد)

(٣) صـاحـب المنارؒ وائى : عهد په اصل کښ وصيت ته وائى يعنى مونږ د اکثرو دپاره په وصيـت د الله بـانـدے وفـادارى ونـۀ موندله۔ امام راغبؒ وائى چه دا عهد په مختلفو طريقو دے، کـلـه پـه عـقـل سره وى، او کله په امر د کتاب الله او د هغه د رسولانو سره وى، او کله د انسـانـانـو پـه نـذرونـو سره وى۔ يعنى اکثرو خلکو وفادارى د هغه لوظ د الله ونکړه چه الله

دوی تـه په عقل کښې ایخودے وو (چه په ما به ایمان راوړئ) یا ورته په کتابونو او د رسولانو په ژبه وئیل شوے وو یا دوی د الله سره په طریقه د نذر لوظ کړے وو.

(٤) او پدے کښې هغه لوظونه هم داخل دی چه اکثرو به د خپلو رسولانو سره کول چه مونږ به ایمان راوړو که مونږ نه عذاب لرې شی لکه روستو به راشی چه فرعونیانو به موسیٰ علیه السلام سره د عذاب په لرے کیدو د ایمان وعده کوله لیکن کله چه به لرے شو بیا به ئے وعده ماته کړه. او کله به ئے په معجزاتو وعدے کولے چه که فلانئ معجزه دِے راوړه نو مونږ به ایمان راوړو خو هغه چه به پیش شوه نو بیا به هم په خپل کفر کلك ولاړ وو لکه د مکے مشرکانو د سپوږمئ په چاودلو او د بیت المقدس د دروازو او کړکو وغیره په خبر ورکولو دوی دغه لوظ کړے وو لیکن سرته ئے ونهٔ رسولو. او ثمودیانو اُوښه وغوښته د ایمان په شرط سره لیکن اکثر د دوی په دغه لوظ پابند پاتے نشو.

دارنګه مشرکانو به د الله سره په تکلیف او سختئ او د کشتئ د هلاکیدو په وخت وعده کوله چه که نجات ملاؤ شو ایمان به راوړی، خو پس د خلاصیدو نه به همغه شان په کفر روان وو.

او پدے کښې د الله هغه لوظونه هم داخل دی چه ددے سورت په ابتداء کښې کوم خلورآوازونه وشو، او د شیطان د عبادت نه ئے په سورت یس آیت (٦٠) کښې منع وکړه ﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِيْ آدَمَ أَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ﴾ او هغه لس وصیتونه چه د سورة الانعام په آخر کښې د (١٥١ نه تر١٥٣) آیتونو پورے بیان شو. او خاصکر (وَبِعَهْدِ اللهِ اَوْفُوْا) او پدے کښې د انسانانو خپل مینځ کښې لوظونه هم داخل دی. (المنار)

وَاِنْ وَّجَدْنَآ : ان مخفف من المثقل دے (اَیْ اِنَّهٗ) یقیناً مونږ اکثر فاسقان وموندل.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ
بیا ولیږلو مونږ روستو د هغوی نه موسیٰ (علیه السلام) په معجزاتو زمونږ فرعون
وَمَلَئِهٖ فَظَلَمُوْا بِهَا ج
او غټانو د قوم د هغهٔ ته نو ظلم وکړو دوی په هغے سره (انکار ئے وکړو)
فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٠٣﴾
نو وګوره چه څرنګ شو انجام د فساد کونکو.

تفسیر : ددے آیتِ کریمه نه د موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو واقعات شروع کیږی، چه دا په څلورو سورتونو کښ (اعراف، طه، شعراء او قصص) کښ تفصیلًا ذکر ده، دا واقعه ئے د مخکنو انبیاؤ د واقعاتو نه جدا کړه، یوه وجه دا ده چه په هغه اقوامو باندے جهاد لازم نهٔ وو، صرف هجرت او عذاب وو او د موسیٰ علیه السلام د زمانے نه جهاد شروع شویدے۔

بله وجه دا ده چه د موسیٰ علیه السلام مشابهت د رسول الله ﷺ سره زیات دے او هغه د دوه قومونو مقابله کړیده، د کافرو فرعونیانو او بیا د بنی اسرائیلو، دغه شان رسول الله ﷺ هم د مکے د مشرکانو او د عربو او په مدینه کښ د یهودو مقابله هم کړیده۔ او ددے امت مشابهت د بنی اسرائیلو سره زیات دے ځکه دا واقعه په قرآن کریم کښ زیاته بیانیږی او ددے نه الله ډیرے فائدے راویستلی دی۔

پدے واقعه کښ د دعوت طریقه تعریضات (اشارات) وی لکه پښتانه وائی «لورې تا ته ئے وایم او انګورے تهٔ ئے غوږ باسه»۔

پدے واقعه کښ فوائد

(۱) اتباع د مَا اُنْزِلَ ته دعوت۔ چا چه اتباع د مَا اُنْزِلَ ونکړه هلاك شو لکه فرعونیان۔

(۲) بنی اسرائیلو اتباع د مَا اُنْزِلَ ونکړه نو څو مره پریشانئ کښ اخته شو، قسماقسم عذابونو کښ اخته شو، شادوګان او خنزیران ترے جوړ شو۔

په مینځ د آیتونو کښ به نور فوائد راځی (۳) لکه مشرکینو باندے به رد وی چه تاسو سره د فرعونیانو په شان کار کیږی۔ (٤) مکه کښ کمزوری صحابه کرامؓ ته اشاره ورکوی چه داسے صبر وکړئ لکه ساحرانو چه کړے وو۔ (٥) او ورسره مشرکینو باندے رد دے چه دوی رسول الله ﷺ ته ساحر وئیلو او حال دا چه هغه خو په جادو رد کوی۔

ددے تفصیلی واقعے نه روستو په دوه رکوع کښ تعقبیات دی۔

پدے اول آیت کښ خلاصه د واقعے ده چه د موسیٰ علیه السلام لیږل، د فرعونیانو تکذیب او بیا د هغوی هلاکت۔

فرمائی : بیا مونږ د نوح، هود، لوط او شعیب علیهم السلام نه روستو موسیٰ علیه السلام لره د فرعون او د هغه د قوم د هدایت دپاره په نخو ورکولو سره ولیږلو لیکن هغوی ددے نخو نه انکار وکړو، او په خپل کفر او تکبر کښ پاتے شو۔ نو الله تعالیٰ دوی په دریاب کښ ډوب کړل، پدے وجه الله وفرمایل اے زما نبی ! ته وګوره چه په زمکه کښ د کفر او شرك په

ذریعه د فساد خورونکو انجام څنګه کیږی ؟۔

ثُمَّ بَعَثْنَا : د موسیٰ علیه السلام رسالت ئے په بعث لفظ سره او د نورو انبیاؤ په (اَرْسَلْنَا) سره او بیا په عطف سره ذکر کړیدی بغیر د اعادے د عامل نه، پدے کښې اشاره ده چه د نورو انبیاؤ رسالت د یوے نوع نه وو او د موسیٰ علیه السلام رسالت بل شان وو ځکه چه د بعث معنیٰ ده یو لوی کار دپاره راپورته کول لکه بعث بعد الموت هم دغه معنیٰ ورکوی۔

نو موسیٰ علیه السلام ته خو یو لوی شریعت حواله شو چه پخوانو ته هغه شان نۀ وو ملاؤ شوے، بله دا چه د موسیٰ علیه السلام په وجه بنی اسرائیلو نه بادشاهان او په هغوی کښې انبیاء علیهم السلام جوړ شو نو قوم ته ئے ډیرے فائدے ورسیدے چه دغه شان د پخوانو انبیاؤ قومونه نۀ وو۔ او ددے تفصیل دپاره (المنار) ته رجوع وکړه۔

بِاٰيٰتِنَآ : دلته د ((آیات)) نه مراد نور معجزات دی سویٰ د تورات نه ځکه چه تورات د فرعونیانو د هلاکت نه روستو ملاؤ شویدے۔

اِلٰى فِرْعَوْنَ : دا لیډر وو نو ددهٔ په اصلاح سره د ټول قوم اصلاح کیږی۔

فَظَلَمُوْا بِهَا : اَیْ اَنْكَرُوْهَا عِنَادًا) په ضد سره ئے د هغے نه انکار وکړو۔

وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّىْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ حَقِيْقٌ
او ووئیل موسیٰ (علیه السلام) اے فرعونه ! یقیناً زهٔ رسول یم د طرف د رب العالمین نه۔ لائق یم
عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ
چه نۀ به وایم په الله باندے مګر حقه خبره، یقیناً راوړے ده ما تاسو ته ښکاره معجزه
مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۰۵﴾ قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ
د طرف د رب ستاسو نه نو ولیږه ما سره بنی اسرائیل۔ ووئیل فرعون که تهٔ راغلے ئے
بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ
په یوه معجزه نو راوړهٔ هغه که ئے تهٔ د رشتینو نه۔ نو ګوزار کړه هغهٔ امسا خپله
فَاِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾
نو ناڅاپه اژدها شوه ښکاره۔ او راویستلو لاس خپل نو ناڅاپه هغه سپین وو کتونکو ته۔

تفسیر : د موسیٰ علیه السلام واقعه کله د هغه د دعوت نه، کله د مدین ته د ورتللو نه او کله د

وړوکوالی نه شروع کیږي، د هر مقام مناسب ذکر کیږي. دا ته ئے د دعوت نه شروع کړیده چه مدین نه راغلو او په لاره کښې رسُول جوړ شو نو سیده فرعون ته ئے ځان ورسولو او هغه ته ئے ووئیل چه زهٔ د الله رالیږلے شوے رسول یم، او زهٔ تا ته د الله د طرف نه په حقه خبره وئیلو سره رالیږلے شوے یم، او د خپل رشتینوالی نخه مے راوړے ده.

حَقِيقٌ : ۱- پدے کښې د ځان صفت ورته کوی چه زهٔ لائق یم چه په الله به صرف حق وایم ځکه چه د الله رسول یم. نو عَلٰی به په معنیٰ د باء سره وی.

۲- او حقیق کله په معنیٰ د حریص (حرص کونکی) سره وی یعنی ددے حرص کوم چه غلطه خبره به نهٔ کوم. (ابوعبیدةؒ - بغویؒ)

۳- حقیق کله د حق نه دے په معنیٰ د کلکوالی او ثابت سره یعنی پدے خبره کلك ولاړ یم چه صرف حق به وایم، ځکه چه زما دروغو او غلطے خبرے ته ضرورت نشته او پدے باب کښې د هیچا نه یره نکوم.

٤- حقیق کله په معنیٰ د حق او واجب سره وی او په قراء ت د نافع کښې (عَلَيَّ) دے نو معنیٰ دا ده چه په ما دا خبره لازمه او واجبه ده چه زهٔ به حق وایم . (بغویؒ وابن کثیرؒ)

قَدْ جِئْتُكُم : د موسیٰ علیه السلام د راتللو دوه مقاصد وو، یو بنی اسرائیل د فرعون د ظلمونو نه خلاصول ځکه چه فرعونیانو د هغوی نه غلامان جوړ کړی وو او بې تحاشا خدمتونه به ئے د هغوی نه اخستل. او دویم د الله توحید طرفته فرعونیان او بنی اسرائیل رابلل.

بِبَيِّنَةٍ : یعنی ما تاسو ته ډیر ښکاره معجزات او نخے په خپل نبوت راوړیدی.

د قرآن کریم نور آیتونه وائی چه پدے موقعه د موسیٰ علیه السلام او د فرعون ترمینځ خبرے اترے شویدی. فرعون ووئیل چه اے موسیٰ! ستاسو د دواړو رب څوك دے؟ نو موسیٰ علیه السلام جواب ورکړو. هغه دوباره ووئیل چه رب العالمین څوك وی؟ الخ. موسیٰ علیه السلام فرعون ته دا هم ووئیل چه بنی اسرائیل ما سره خپل وطن ته واپس کیدو دپاره پریده. فرعون دوی خپل غلامان جوړ کړی وو او د هغه ځای نه د وتلو نه ئے بند ساتلی وو. فرعون ووئیل چه که ته رشتینے ئے نو کومه نخه چه تا اُوس ذکر کړه هغه راوښایه. نو موسیٰ علیه السلام خپله امسا په زمکه ګوزار کړه چه په یو لوئی او یرونکی مار سره بدله شوه. او خپل لاس ئے د خپل جیب یا ترخ نه راویستو نو سپین او صفا جوړ شو او د هغے نه یو ښائسته رڼړا راووتله چه هر سړی لیدله.

ثُعْبَانٌ : لویه اژدها ده. دے ته په سورة نمل (۱۰) او قصص (۳۱) کښې جان (نرے مار) وئیلے

شویدے، وجه دا ده چه دا به ثعبان وو په جثه کښې او جان وو په حرکت او رفتار کښې، ددے وجه نه ئے هلته (كَأَنَّهَا جَانٌّ) وئیلے دے۔ (بغویؒ) یا دا چه اول کښې به جان (نرے مار) ترے جوړ شو او د فرعون مخامخ به ترے ثعبان جوړیدو چه په هغه هیبت راولی۔

مُّبِيْنٌ: کښې اشاره ده چه دا ښکاره کیدو مار او په حقیقت کښې هم مار جوړ شو او خیال او نظر بندی نهٔ وه لکه څنګه چه په جادو کښې نظر بندی وی، دا د معجزے او جادو فرق دے چه معجزه د یو شی حقیقت بدلوی او جادو صرف خیال وی په حقیقت کښې پرے شے نهٔ بدلیږی۔

وَّنَزَعَ يَدَهٗ: یعنی لاس ئے ګریوان یا ترخ ته ننویستو نو بیا ئے راویستلو نو هغه سپین شو، او پدے کښې څه نظر بندی نهٔ وه لکه په جادو کښې نظر بندی وی بلکه دلته د لاس حقیقت بدل شو، تك سپین ترے جوړ شو، پدے کښې اشاره وه چه زما مخه به الله روښانه کوی۔

لِلنّٰظِرِيْنَ: پدے کښې اشاره وه چه دا سپینوالے ناشنا وو چه خلك ئے په تعجب کښې اچول۔ دا دواړه داسے معجزات وو چه په ظاهره کښې د سحر سره مشابه وو، وجه دا وه چه په هغه زمانه کښې داسے معجزات مناسب وو۔

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۹﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ
ووئیل غټانو د قوم د فرعون یقیناً دا خامخا جادوګر دے ډیر پوهه۔ اراده لری چه وباسی تاسو
مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ
د زمکے ستاسو نه نو څه حکم کوئ (ددۀ په باره کښې)۔ ووئیل دوی، مهلت ورکړه دهٔ ته
وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِى الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ
او ورور ددۀ ته او ولیږه په ښارونو کښې راجمع کونکی۔ رابه ولی تا ته هر جادوګر
عَلِيْمٍ ﴿۱۱۲﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا
ډیر پوهه۔ او راغلل جادوګر فرعون ته، ووئیل دوی یقیناً مونږ لره به خامخا مزدوری وی
اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾
که شو مونږ غالبه۔ ووئیل فرعون، آؤ، او یقیناً تاسو به خامخا د نزدے کړے شوو نه ئے

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾
(ما ته)- ووئيل دوی اے موسیٰ ! يا وغورزوه تهٔ او يا به شو مونږ د غورزونکو نه-
قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ اَلْقَوْا
ووئيل موسیٰ (عليه السلام) وغورزوئ تاسو، نو هرکله چه وغورزو هغوی (امساګانے او رسئ)،
سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿١١٦﴾
نو جادو ئے وکړو په سترګو د خلقو او ويرول هغوی لره او رائے وړو جادو لوئی-

تفسیر : په سورة شعراء کښې راغلی دی چه دا خبره اول فرعون کړے وه روستو بيا سردارانو وکړه چه دا جادوګر دے، ځکه چه سورة شعراء کښې اول د فرعون خبره ذکر ده، او دلته د مشرانو خبره ذکر ده ځکه چه د سياق سره ددے زيات تعلق دے چه هغه د نبی د دعوت نه د عوام الناس انکار دے او چونکه په فرعون باندے هيبت زيات وو نو پدے وجه ئے هلته (اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ) الفاظ زيات کړيدی-

لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ : دا د جاهلانو خلکو سمدستی فتویٰ ده چه د تحقيق نه بغير ئے لګوی- جادو ئے ورته پدے وجه ووئيلو چه د عوامو په زړونو او دماغو د هغه معجزاتو اثر ونشی-

يُّرِيْدُ : پدے کښې دوی د موسیٰ (عليه السلام) د دعوت حقيقت بدلوی او د خلکو په دماغو کښې ئے غلط اړدی- او دا خبره ئے د اقتدار والو د غصه کولو دپاره وکړه- يعنی دا شخص نبی نهٔ دے چه تاسو الله ته رابلی بلکه ددهٔ مقصد پدے جادو سره ستاسو نه ملک او بادشاهی اخستل دی ځکه چه دے به ځان سره ملګری پيدا کړی او په تاسو به غلبه وکړی او تاسو به ذليله کړی او بادشاهی به درنه واخلی-

فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ : فرعون سردارانو ته مخاطب شو او وے وئيل چه ستاسو څه رائے ده ما ته اُووايئ ؟ نو ټولو د مشورے کولو نه روستو فرعون ته ووئيل چه موسیٰ (عليه السلام) او د هغه ورور هارون ته مهلت ورکړه او خلک په ټول ملک کښې وليږه چه ماهران جادوګران راجمع کړی-

په دغه زمانه کښې د مصر په زمکه کښې د جادو ډيره زياته چرچه وه او جادوګرانو لوئی اهميت لرلو، پدے وجه هغوی دا ګمان وکړو چه د موسیٰ کارنامه به هم د جادو د قبيلے نه

وی، او لوئی جادوګران به دا ماتولے شی۔ نو د ملك تمام جادوګران راجمع شو، او فرعون سره ئے دا شرط وکړو چه که دوی په موسیٰ غالب راشی نو دوی ته به د هغے مناسب انعام ورکوی۔ فرعون ووئیل چه آؤ، که دوی غالب راغلل نو دوی به په درباریانو او معززو خلکو کښ داخل شی۔

اَرْجِهْ : اَیْ اَخِّرْهُ۔ (ابن عباسؓ) یعنی مهلت ورکړه۔

اِحْبِسْهُ۔ (قتادهؒ) رابند کړه چه چرته لاړ نشی۔

اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا : په کافر کښ دنیا پرستی وی پدے وجه په مناظره باندے دنیا طلب کوی۔

الْمُقَرَّبِیْنَ : یعنی مزدوری خو آسانه خبره ده، بلکه تاسو ته به زما تقرب او د ملك عهدے ملاویږی۔ ددے نه معلومه شوه چه اجر د تقرب نه ښکته درجه ده پدے وجه ددے امت د آخری مؤمنانو اجر به زیات وی د مخکنو نه لیکن مرتبه ئے د مخکنو نه ښکته ده۔

اَنْ تُلْقِیَ : جادوګرانو موسیٰ علیه السلام ته اختیار ورکړو چه که غواړے ته اول خپل کار ښکاره کړه یا به مونږ خپل کار وښایو۔ ګویا که د دوی په خپل ځان پوره اعتماد وو چه غلبه دوی ته حاصلیږی، اګرکه روستو کرتب وښائی۔

دوی د موسیٰ علیه السلام ادب وکړو پدے وجه الله تعالیٰ دوی ته ایمان نصیب کړو۔

نو موسیٰ علیه السلام ووئیل چه اول تاسو د قوت مظاهره وکړئ۔ او پدے کښ حکمت دا وو چه کله خلق د دوی کارنامے ووینی نو بیا به الٰهی معجزه راښکاره کیږی او د خپل پوره قوت سره به د کتونکو په زړهٔ او دماغو اثر غورزوی۔ (ابن کثیرؒ)

بعض مفسرینو لیکلی دی چه پدے کښ یو قسم دهمکی وه چه آؤ، اول تاسو خپله جادوګری وښایئ بیا به ووینئ چه څنګه ذلت سره به تاسو مخامخ کیږئ ځکه چه جادو په معجزه کله هم غالب نشی راتلے۔ نو دوی د خلقو په سترګو جادو وکړو، خلقو ته پته ولګیده چه واقعی د دوی مخے ته ماران منډے وهی لکه چه الله تعالیٰ په سورة طه آیتونو (٦٦/٦٧) کښ فرمایلی دی :

﴿ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ۝، فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى، قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى، وَاَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ۝ ﴾

یعنی موسیٰ ته دا خیال راغلو چه د دوی رسئ او امساګانے د دوی د جادو په زور سره منډے وهی۔ نو موسیٰ علیه السلام په خپل زړهٔ کښ ویریدو، مونږ ووئیل چه هیڅ یره مهٔ کوه،

یقیناً ته به غالب او پورته کیږې، ستا په ښې لاس کښې چه کومه امسا ده دا په زمکه ګوزار کړه دے دپاره چه د دوی ټول کړې کارونه تیر کړي۔ دوی چه څه خودلی دی دا د جادوګرو کرتب دے، او جادو چه چرته هم راشي نو کامیابیدے نشي)۔

سَحَرُوْٓا : یعنی نظرئے بند کړو او د شي حقیقت ئے په سترګو کښې بدل ښکاره کړو۔

وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ : محمد بن اسحاقؒ وائي پنځلس زره ساحرانو صفونه وتړل او د هر ساحر سره رسئ او امساګانے وے، او موسیٰ علیه السلام د خپل ورور سره راووتو چه په امسائے تکیه وهله تردے چه دغه ډلے ته راغے او فرعون په مجلس کښې وو د خپل مملکت د سردارانو سره۔ نو جادوګرانو رسئ ګوزار کړے نو هغه داسے ماران جوړ شو لکه د غرونو په شان چه دغه میدان ئے ډك کړو چه په یو بل باندے سوریدل او د موسیٰ علیه السلام په سترګو هم اثر وشو۔

سُدیؒ وائي چه ساحران څه دپاسه دیرش زره وو چه د هر یو سره رسئ او امسا وه۔

او عبد الله بن عباسؓ فرمائي : دوی پیړ پړی او اوږده لرګی ګوزار کړل۔ (ابن کثیرؒ)۔

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ج فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ
او وحی وکړه مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته چه وغورزوه امسا خپله نو ناڅاپه هغے تیرول
مَا يَأْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾
هغه څه چه دوی جوړول۔ نو ښکاره شو حق او بیکاره شو هغه عملونه چه دوی کول۔
فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَاُلْقِيَ
پس پرځ شول (فرعونیان) په دغه ځای کښې او واپس شول ذلیلان۔ او وغورزولے شو
السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ
جادوګران سجده کونکی۔ ووئیل دوی ایمان راوړے مونږ په رب العالمین، چه رب د
مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ
موسیٰ او هارون (علیهما السلام) دے۔ ووئیل فرعون آیا ایمان راوړو تاسو په دهٔ باندے
قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ج اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ
مخکښې ددے نه چه اجازت وکړم تاسو ته یقیناً دا خامخا چل دے چه جوړ کړیدے تاسو

فِي الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾
په ښار کښې دې دپاره چه وباسئ تاسو ددې نه وسيدونکي ددې نو زردے چه پوهه به شئ۔
لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ
خامخا پرے به کړم لاسونه ستاسو او خپے ستاسو رد وبدل بيا به
لَأُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾
خامخا په سولئ کړم تاسو ټول۔ ووئيل دوی يقيناً مونږ رب خپل ته ورګرځيدونکي يو۔

تفسير: په هغه وخت کښې الله تعالىٰ خپل رسول موسىٰ علیه السلام ته د وحی په ذريعه حکم وکړو چه ستا په ښي لاس کښې کومه امسا ده دا ګوزار کړه، نو هغه دغسے وکړل او امسا د جادوګرانو تمام دروغژن ماران تير کړل۔

تَلْقَفُ: اَیْ تَبْتَلِعُ۔ (ټول ئے تير کړل)۔ شعرانیؒ دا خبره کمزورے ليکلے ده چه د هغے نه ئے صرف جادو لرے کړو او امساګانے او پړی ئے خلکو ته ښکاره کړل، مګر دلته وائی چه دا ټول ئے تير کړيدی۔ او ابن جريرؒ د ابن ابی بزةؒ نه نقل کړيدی چه دا اويا زره ساحران وو او د هر يو سره امساګانے او اويا زره پړی وو۔ (ابن کثيرؒ)

وَبَطَلَ: يعنی محوه شو هغه عملونه چه دوی وکړل۔

پدے ليدو سره فرعون او د هغه کارکنان او د هغه د قوم خلق ذليل او رسوا خپلو کورونو ته واپس شو او جادوګران د ﴿آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ رَبِّ مُوْسٰى وَهَارُوْنَ﴾ وئيلو سره په سجده پريوتل۔

ابن عباس رضی الله عنه وائی چه دغه امسا چه لويه اژدها ترے جوړه شوه، خولے ئے کولاوه کړه او په يو دم ئے سمدست ټول په ټوله د دوی رسئ او امساګانے په يو هړپ تيرے کړے۔ دا منظر چه جادوګرانو وليدو نو پوهه شو چه دا آسمانی معجزه ده، کوم جادو نۀ دے۔ ځکه چه دا د انسان په قدرت کښې نشته چه يو امسا دے دومره زيات مقدار کښې پړی او امساګانے وخوری، او بيرته دِے ترے يوه امسا جوړيږی۔

معلوميږی چه ددے سره شا ته د الله قدرت موجود دے۔

دويم دا چه دوی له علم فائده ورکړه اګر که د جادو علم وو ځکه چه دوی ته د سحر حقيقت معلوم وو چه پدے باندے د څيزونو حقيقت نۀ بدليږی او هر کله چه ددے امسا حالات ئے

ولیدل نو پوهه شو چه موسیٰ چه څه وائی دا حق دی. او دریمه بعیده وجه دا هم ده چه دوی د موسیٰ علیه السلام ادب کړے وو نو ایمان ورته نصیب شو.

او بل ئے مخکښ نه انابت کړے وو چه دوی مشوره وکړه چه که دا شخص په حقه وی نو ایمان به پرے راوړو، او انابت د حق د ملاویدو ډیر ښه سبب دے.

(د مبتدعینو دا طریقه غلطه ده چه د مناظرے نه مخکښ مشوره وکړی چه که هرڅنګه وی خو سرے به پړ کوو، دروغ به پرے وایو خو چه پړ شی)

وَاُلْقِيَ : دا ئے مجهول صیغه راوړه، ګویا که دوی مجبوره شو په سجده پریوتو ته ځکه چه حق ورته ښکاره شو. او دے ته سجده د شکر وائی چه پدے کښ مقصد الله تعالیٰ ته عاجزی وی نو اودس او قبلے ته مخ کول هم ورله شرط نهٔ دے.

بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ : د خپل ایمان اظهار ئے وکړو. پدے مقام کښ ئے د مصلحت نه کار وانخستو چه ایمان به پټ کړو او بیا به خلکو ته دعوت ورکړو بلکه میدان ته راووتل ځکه چه پدے وخت کښ اظهار د ایمان همدا مصلحت وو.

رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ : د تفسیر علماء لیکی چه دوی د ((رب موسی و هارون)) قید پدے وجه ولګولو چه فرعون لره خپل معبود ګڼرونکی خلق دا ګمان ونکړی چه دوی فرعون ته سجده کړیده.

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ : پدے کښ فرعون د خپل غم اظهار کوی چه ما نه به مو لږه اجازه خو طلب کړے وے. حال دا چه دا خبره ددهٔ غلطه ده، په ایمان او د حق په تابعداری کولو کښ د چا نه اجازے اخستل نهٔ وی.

اِنَّ هٰذَا : دا اُوس طعن او تنقید کول او د دروغو بهتان تړل دی. په خپل ذلت او رسوائی باندے د پردے اچولو دپاره ئے ووئیل چه تاسو زما د اجازت نه بغیر په موسیٰ ایمان راوړو، داسے معلومیږی چه تاسو دلته نه مخکښ د موسیٰ سره ملاؤ شوے وئ او د یو مکمل سازش مطابق دلته راغلی یئ چه اوله کښ تاسو د موسیٰ په خلاف په ظاهره کښ خپله تیزی ښکاره کړئ او بیا هغه ته سرخکته کړئ، دے دپاره چه تاسو ټول په شریکه قبطیان ددے ځای نه وباسئ او د دوی ځایونه تاسو واخلئ، موسیٰ ستاسو بادشاه جوړ شی او تاسو د هغه سره وسیدل شروع کړئ، نو نزدے ده چه تاسو به خپل انجام ته ورسیږئ. (نو الله تعالیٰ د فرعون د مقصد خلاف همدغه شان وکړل)

د ابن مسعودؓ او ابن عباسؓ وغیره نه نقل دی چه موسیٰ علیه السلام د جادوګرانو مشر سره

ملاؤ شو چه که زۀ غالبه شوم آیا ته به په ما باندے ایمان راوړے؟ هغه ووئیل : زۀ به داسے جادو راوړم چه په هغه باندے هیڅ قسمه جادو نشی غالبه کیدے خو که تا ددے نه قوی راوړو نو خامخا زۀ به په تا ایمان راوړم او دا ګواهی به کوم چه تۀ په حقه ئے او فرعون پدے وخت کښې دواړو ته کتل نو پدے وجه ئے دا تهمت ولګولو۔ (ابن کثیرؒ)

فَسَوْفَ : دا تهدید دے۔ او دا درے واړه کارونه همیشه د کافرانو مجرمانو طریقه ده۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه دا هم د فرعون سازش وو، ځکه چه موسیٰ علیه السلام خو د مدین نه راتلو سره سمدست د فرعون خوا ته راغلے وو او خپل دعوت ئے پیش کړے وو او د هغه په مطالبه ئے معجزات پیش کړی وو، نو هغه ته د جادوګرو سره د ملاویدو کومه موقعه ملاؤ شوه؟ او جادوګران خو د مختلفو علاقونه راجمع شوی وو او د هغوی پوره خواهش وو چه هغوی غالبه راغلی وے۔

موسیٰ علیه السلام د دوی نه هیڅوك هم نۀ پیژندلو او فرعون دا هر څه پیژندل لیکن هغه خپل رعایا بیوقوف جوړول غوختل لکه چه الله سورة زخرف آیت (٥٤) کښې فرمایلی دی : ﴿ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ ﴾ (فرعون خپل قوم سپك کړل او وے خویول نو هغوی ددۀ خبره ومنله)۔ او د هغه قوم نه لوئی جاهلان او ګمراهان څوك کیدے شی چه هغوی ته فرعون کله ووئیل : ﴿ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ ﴾ (زۀ ستاسو د ټولو نه لوئی رب یم) نو د هغه خبره ئے ومنله ؟!۔

لَأُقَطِّعَنَّ : د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه فرعون دا وعده سرته ورسوله ځکه چه ظالم بادشاه وو او زور ورسره وو۔ نو فرعون اول هغه شخص وو چه ردو بدل ئے خپے لاسونه پریکړل او دوی ئے په سولئ کړل۔ آه۔ (ابن کثیرؒ)

قَالُوٓا إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ : یعنی که نن تۀ مونږ سره داسے معامله وکړے نو الله به تا نۀ پریدی، ستا د عمل بدله به تا ته ضرور درکوی او مونږ ته چه پدے لاره کښې کوم تکلیف رسیږی ددے په بدله کښې به په مونږ احسان وکړی۔ مفسرینو لیکلی دی چه فرعون دوی ته د دنیا د عذاب دهمکی ورکړه نو هغوی دۀ ته د آخرت د عذاب دهمکی ورکړه۔

وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا
او بد نۀ ګنړے تۀ زمونږ نه مګر دا خبره چه ایمان راوړے مونږ په آیتونو د رب زمونږ

لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا

هرکله چه راغلل مونږ ته، اے ربه زمونږ راتوئی کړه په مونږ باندے صبر

وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

او وفات کړه مونږ مسلمانان۔

تفسیر : دا مدح مشابه بالذم ده یعنی په مونږ کښې هیڅ عیب نشته مگر دا یو عیب شته چه مونږ په خپل رب ایمان راوړو او ایمان راوړل خو عیب نهٔ دے نو په مونږ کښې هیڅ قِسمه عیب نشته۔ یعنی ستاسو په نیز چه زمونږ کوم عیب دے، هغه زمونږ د ټولو نه لویه خوبي او صفت دے۔

رَبَّنَآ اَفْرِغْ : اُوس د الله نه مدد غواړي، فرعون چه د دوی نه لاسونه او خپے پریکولے په هغه وخت کښې دوی د ثابت قدمئ او ښائسته خاتمے دعا وکړه او داسے وخت کښې دعا ډیره زر تاثیر لري۔ او فرعون ته ئے ووئیل : ﴿ فَاقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ، اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا اِنَّا اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۝ ﴾۔

یعنی (اُوس چه ته څه کونکے ئے وکړه، ستا حکم صرف پدے دنیاوی ژوند کښې چلیږی، مونږ خو پدے امید په خپل رب ایمان راوړو چه هغه به زمونږ گناهونه معاف کوی او هغه چه تا په مونږ د جادو په کولو زور کړیدے (هغه به هم راته معاف کړی) او الله ډیر غوره او همیشه باقی پاتے کیدونکے دے) (طه : ۷۳/۷۲)۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه (د الله مشیت ته وگوره) چه سهار وخت کښې دوی جادوگران وو او ماښام کښې د الله نیکان او شهیدان بندگان جوړ شو، آه۔

پدے کښې الله تعالیٰ صحابه کرامؓ او د امت نورو مومنانو ته تلقین ورکړیدے چه په تاسو به هم داسے احوال راځی نو د الله نه به مدد غواړئ۔ ددے دعا په برکت الله تعالیٰ دے نوی مسلمانانو ته ډیر تثبت او قوت ورکړو او ددے مصیبت برداشت ئے وکړو۔

وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ : دا دلیل دے چه ایمان او اسلام یو شے دے او دلیل دے چه د ټولو انبیاء علیهم السلام دین، اسلام وو۔

وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ

او ووئیل غټانو د قوم د فرعون نه آیا پریږدے تهٔ موسیٰ او قوم د هغه

لِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ط قَالَ

دے دپاره چه فسادونه وکړی په زمکه کښ او پریږدی تا او معبودان ستا، ووئیل فرعون،

سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ج وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿١٢٧﴾

زر دے چه قتل به کړو ځامن د دوی او ژوندئ به پریږدو زنانه د دوی او یقیناً مونږ دپاسه د دوی زورور یو۔

تفسیر : د موسیٰ علیه السلام د کامیابئ او د جادوګرانو د ایمان راوړو نه روستو د بنی اسرائیلو شپږ لاکهه خلقو په موسیٰ علیه السلام ایمان راوړو، د حالاتو دے انقلاب فرعون او د هغه درباریان وخوزول پدے وجه درباریانو فرعون لره د موسیٰ علیه السلام او د مسلمانانو په خلاف راوپارولو او وے وئیل چه که دوی داسے آزاد پریخودلے شی نو دا خلق به ستا رعایا خراب کړی او په ملك کښ به فساد راپورته کړی او تا او ستا معبود به پریدی او د موسیٰ د رب عبادت ته به دعوت ورکړی۔

لِيُفْسِدُوْا : دلته د فساد نه تفرق او اختلاف مراد دے،

فرعون د هغوی خبره ومنله او وے وئیل چه مونږ به د دوی هلکان وژنو او د دوی ښځے به د خپل خدمت دپاره ژوندئ پریدو۔ بنی اسرائیل د فرعونیانو دلاسه دوه ځل د قتل اومرګ سره مخامخ شول، (دوه امتحانه وو)۔ اول ځل د موسیٰ علیه السلام د ولادت نه مخکښ، کله چه فرعون حکم کړے وو چه په بنی اسرائیلو کښ پیدا کیدونکے هر ماشوم دِے قتل کړے شی دے دپاره چه هغه سړے پیدا نشی چه د هغه په لاسونو سره به د نجومیانو د اطلاع مطابق د فرعون بادشاهی ختمیدل وی۔ لیکن موسیٰ (علیه السلام) پیدا شو او الله د هغه حفاظت وکړو او د فرعون چل نیست ونابود شو۔ او دویم ځل اُوس چه کله دهٔ ته او دهٔ بادشاهئ ته دویم ځلی همغه خطره پیوسته شوه لکه څنګه چه مخکښ ځل پیوسته شوے وه۔ پدے وجه هغه د بنی اسرائیلو د بچو د وژلو عام حکم جاری کړو، لیکن پدے ځل هم الله بنی اسرائیلو ته عزت ورکړو او هغه او د هغه فوج ئے ذلیل کړو او په دریاب کښ ئے ډوب کړل۔

وَاٰلِهَتَكَ : حسن بصریؒ وائی چه د فرعون یو معبود وو چه هغه به ئے پټ عبادت کولو۔ د فرعون په امر به د بتانو او د چیلو (بزو) عبادت کیدو۔ او هغوی کښ د غوا عبادت هم

وو، کله چه به ئے بنائسته شان غوا ولیده نو فرعون به ورته د عبادت حکم وکړو۔ (ابن کثیرؒ)
پدے وجه بنی اسرائیلو د غوا عبادت د فرعونیانو نه زده کړے وو۔
او مصریانو به د نمر عبادت هم کولو او هغے ته به ئے په خپله ژبه کښ (رَعْ) وئیلو لکه د فرعون نوم کښ هم دغه لفظ اخستلے شویدے نو فرعون د دوی په نیز د نمر نه راوتے او د نمر ځوی ته وئیلے شی۔ لکه د مصریانو نه په تاریخ کښ راغلی دی چه هغوی به فرعون ته سَلِیْلُ الْاِلٰه (رَعْ) وئیلو او دا به ئے وئیل چه اله مصر ته وکتل نو منفتاح (د فرعون اصلی نوم دے) ئے وزیرولو او د مصر بادشاه ئے کړو۔ (المنار)
او دلته ئے فرعون ته نسبت وکړو ځکه چه دغه معبودان د فرعون په امر مقرر وو۔ نو چا چه به د دوی عبادت کولو، فرعون به خوشحاله وو او چا چه به نۀ کولو فرعون به خفه کیدو۔
په یو قراءت کښ (وَاِلٰهَتَكَ) دے، یعنی ستا عبادت پریدی۔ ددے نه معلومیږی چه فرعون مُعَطِّل نۀ وو، د الله منکر نۀ وو بلکه د هغه سره ئے شرك کولو۔
وَنَسْتَحْیٖ نِسَآءَهُمْ : ځکه د زنانو ډیر والے هم لوی مصیبت دے چه سړی کم وی او زنانه ډیرے وی نو پدے سره بی حیائی زیاتیږی۔
فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ : فرعون په مناظره کښ مغلوب او عاجز شو لیکن سره ددینه خپل ځان غالب ګنړی، دا نهایت بی عقلی او د باطل پرستو طریقه ده۔

قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِهِ اسْتَعِیْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ج اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ قف
ووئیل موسیٰ (علیه السلام) قوم خپل ته، مدد طلب کړئ په الله او صبر کوئ، یقیناً زمکه د الله ده
یُوْرِثُهَا مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ط وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۱۲۸﴾
په میراث کښ ئے ورکوی چا له چه وغواړی د بندګانو خپلو نه او ښه انجام د متقیانو دپاره دے
قَالُوْآ اُوْذِیْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِیَنَا وَمِنْ بَعْدِ
ووئیل دوی، تکلیف راکړے شویدے مونږ ته مخکښ د راتللو ستا نه مونږ ته او روستو
مَا جِئْتَنَا ط قَالَ عَسٰی رَبُّکُمْ اَنْ یُّهْلِكَ
د راتللو ستا نه مونږ ته۔ ووئیل موسیٰ نزدے دے رب ستاسو چه هلاك به کړی

عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٩﴾

دشمن ستاسو او نائبان به کړی تاسو په زمکه کښې نو گوری به چه څرنګ عملونه کوئ۔

تفسیر : کله چه فرعون د بنی اسرائیلو د بچو د وژلو فیصله وکړه، او موسیٰ علیه السلام ته اطلاع وشوه نو هغوی خپل قوم لره الله طرف ته د رجوع کولو، د هغه د مدد غوختلو او په هغه د بهروسے کولو او صبر کولو نصیحت وکړو ځکه چه په هر حال کښې د مؤمن تعلق د الله سره وی۔ د هغه یقین وی چه د چا مددګار الله وی نو د هغه یو ویښته ځوك ہے ځای کولے نشی۔

پدے مقام کښې د صبر او تقویٰ نه علاوه بل هیڅ کار فائده نهٔ ورکوی ځکه چه ظاهری هیڅ اسباب نشته چه د فرعون په شان ظالم نه پرے ځان خلاص کړی۔

دے نه روستو موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو ته په اشاره سره زیرے ورکړو چه آخری غلبه به تاسو ته حاصلیږی او د زمکے سرداران به فرعونیان نهٔ بلکه تاسو یئ، ځکه چه د زمکے مالك الله دے، هغه چه چا له غواړی د هغے وارث جوړوی۔

قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ : مفسرینو ددے جملے دوه مطلبونه بیان کړیدی :

(۱) یو دا چه دا د شجاعت (بهادرئ) کلمه وه چه مونږ په مصیبتونو عادت یو، ستا د راتللو نه مخکښې هم مونږ مصیبتونه برداشت کړیدی او ستا د راتللو نه روستو هم، نو خیر دے دا مصیبتونه دِے وی۔

(۲) لیکن مشهوره دا ده چه دا د نا امیده او شکست خورده او شکایتونو والا کلمه ده۔

دوی ووئیل چه زمونږ مطلب دا وو چه تهٔ به راشے په مونږ به راحت راشی او مصیبتونه به لری شی مګر ستا په وجه نور مصیبتونه زیات شو (لکه بعض خلك وائی چه مونږ دینداره شو نو مونږ باندے مصیبت ولے راځی؟)

نو دوی ووئیل چه پدے زمکه کښې مونږ پریشان یو، ستا د پیدائش نه مخکښې زمونږ بچی پدے وجه قتل شویدی چه چرته موسیٰ پیدا نهٔ شی چه د هغه په لاسونو به د فرعون مملکت ختمیدل وو۔ او اُوس کله چه ته نبی راولیږلے شوے، بیا هم زمونږ بچی قتل کیږی دے دپاره چه زمونږ وجود ختم کړے شی۔

قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ : نو موسیٰ علیه السلام چه مخکښې کوم زیری طرف ته اشاره کړے وه، هغه ئے ښکاره ذکر کړو چه الله تعالیٰ به نزدے ستاسو دشمنان هلاك کړی او تاسو ته به د زمکے

سیادت (مشری) درکړی۔ نو الله تعالیٰ د هغه وعده رشتینی وخودله۔ داؤد او سلیمان علیهما السلام د مصر بادشاهان شو۔ او د یوشع بن نون علیه السلام په قیادت کښ بیت المقدس فتح شو، او الله تعالیٰ فرعون او د هغه قوم په دریاب کښ ډوب کړل او اسرائیلیانو ته ئے د هغوی نه نجات ورکړو۔

فَیَنۡظُرَ کَیۡفَ تَعۡمَلُوۡنَ: مفسرین لیکی چه پدے خبره کښ د موسیٰ علیه السلام یو بل امتحان طرف ته اشاره وه چه هغے ته نِعۡمَةُ السَّرَّاء وائی یعنی د نعمتونو فراخی به راشی، نو په هغے کښ د صبر نه کار اخستل د مصیبت د صبر نه هم سخت دی، لکه په همدے امتحان کښ بنی اسرائیل ناکام شویدی، په مصیبتونو خوئے صبر وکړو لیکن د نعمتونو نه ئے صبر نشو کولے، عملونه ئے خراب شو۔

وَلَقَدۡ اَخَذۡنَاۤ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ بِالسِّنِیۡنَ وَنَقۡصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمۡ
او یقیناً راونیول مونږ فرعونیان په قحطونو او په کموالی د میوو دے دپاره چه دوی
یَذَّکَّرُوۡنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاِذَا جَآءَتۡهُمُ الۡحَسَنَةُ قَالُوۡا لَنَا هٰذِهٖ ج
نصیحت واخلی۔نو هرکله چه به راغلو دوی ته ښهٔ حالت، وئیل به دوی چه دا زمونږ دپاره دے
وَاِنۡ تُصِبۡهُمۡ سَیِّئَةٌ یَّطَّیَّرُوۡا بِمُوۡسٰی
او که ویه رسیدو ته دوی معمولی شان تکلیف نو بدفالی به ئے نیوله په موسیٰ
وَمَنۡ مَّعَهٗ ط اَلَاۤ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ وَلٰکِنَّ اَکۡثَرَهُمۡ لَا
او په ملګرو د هغه، خبردار، یقیناً سپیرهٔ والے د دوی د الله سره دے او لیکن ډیر د دوی نه نهٔ
یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۳۱﴾ وَقَالُوۡا مَهۡمَا تَاۡتِنَا بِهٖ مِنۡ اٰیَةٍ
پو هیږی۔او ووئیل دوی هر هغه شے چه تهٔ راوړے مونږ ته هغه د یوے نخے نه
لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا لا فَمَا نَحۡنُ لَکَ بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۳۲﴾
دے دپاره چه جادو وکړے په مونږ باندے په هغے سره نو نهٔ یو مونږ په تا ایمان راوړونکی۔

تفسیر: دَ جادوګرانو د شکست خوړلو او د هغوی د ایمان راوړو نه روستو فرعون ته دا خبره د نمر په شان روښانه شوه چه موسیٰ علیه السلام د الله نبی دے، او د دنیا او آخرت خیر ئے په

همدے کښې وو چه په دۀ ئے ایمان راوړے وے لیکن د غرور او تکبر او د دروغو معبودیت په ګمان کښې په کفر او عناد مضبوط پاتے شو۔

نو الله تعالیٰ په هغوی باندے د هغوی د متوجه کولو دپاره لړ امتحانات راوستل، (لکه د کافرو سره الله تعالیٰ داسے کار کوی چه کله هغوی ایمان والو ته تکلیفونه ورکوی نو الله سیلابونه، زلزلې راولی، جهازونه ورله ګوزار کړی نو که هغوی کښې هوښیارتیا وی نو زر توبه وباسیٔ چه زمونږ کار غلط دے، لیکن دے وخت کښې ظالمان وائی چه دا فنی خرابی وه، یا د هواء خرابی وه، یا په زمکه کښې ګیس جمع شوے وو هغے بلاسټ وکړو نو زلزلے راپیدا شوے، او د خپل عمل خرابی خو هیڅکله یاده نکړی، دغه شان فرعونیان هم وو)

اول ئے دا او ددۀ قوم په قحط سالیٔ کښې اخته کړو چه کیدے شی پدے کښې ورته د توبے توفیق ملاؤ شی لیکن هیڅ فائده ونشوه، نو الله تعالیٰ دوی د خوشحالیٔ او د امن او د عافیت د امتحان په کړیٔ کښې واچول چه ددے نتیجه دا شوه چه دوی په استکبار کښې نور مخکښې لاړل۔ کله چه قحط سالی راغله نو وے وئیل چه دا تول د موسیٰ او د بنی اسرائیلو په وجه کیږی۔ او کله چه به خوشحالی راغله نو وئیل به ئے چه مونږ خو ددے حقداریو۔ پدے وجه الله تعالیٰ ددے رد وکړو او وے فرمایل چه د تهولو کارونو مدبر او د هر شی خالق صرف الله دے، او خوشحالی او قحط سالی تول د هغه په اختیار کښې دی۔ د موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو په وجود سره بد فالی نیول ستاسو د کفر او عناد نتیجه ده۔

الغرض د دوی کفر او غرور په زیاتیدو شو تردے چه موسیٰ علیه السلام ته ئے ووئیل چه ته که هر څو مره نخے راوړے نو مونږ په تا ایمان نۀ راوړو، کله چه د دوی کفر او عناد آخر سر ته ورسیدو نو موسیٰ علیه السلام دواړه لاسونه پورته کړل او الله نه ئے دعا وکړه چه اے الله ! د فرعون سرکشی د حد نه زیاته شویده، او فرعونیانو د هیڅ لوظ او عهد لحاظ نۀ دے ساتلے۔ پدے وجه اُوس خو تۀ دوی ته داسے سزا ورکړه چه دا خلق زما د قوم دپاره او د راتلونکو خلقو دپاره د عبرت نخه شی۔ نو الله تعالیٰ د هغه دعا قبوله کړه او سخت طوفان راغلو او نزدے وه چه په هغے سره هلاك شوی وے نو په منډه د موسیٰ علیه السلام خوا ته راغلل او هغه نه ئے د دعا غوښتنه وکړه چه دا عذاب روستو شی۔ او وعده ئے وکړه چه که عذاب روستو شو نو ایمان به راوړی، او بنی اسرائیل به د هغه سره پریدی، لیکن کله چه به عذاب واوړیدو، او موسیٰ علیه السلام هغوی ته وعده رایاده کړه نو انکارئے وکړو او په خپل کفر همیشه پاتے شو، نو الله تعالیٰ د ملخانو فوج راولیږلو چه هغوی د دوی د فصلونو او ونو او میوو تباه کول

شروع کړل. کله ئے چه دا حال ولیدو بیا موسیٰ ﷺ ته په منده راغلل او د مخکښ په شان د ایمان راوړو وعده ئے وکړه، لیکن د عذاب د اوړیدو نه روستو ئے بیا انکار وکړو.

دغه شان الله تعالیٰ د مسلسل سپړو او چندخانو او وینے په عذاب کښ اخته کړل او هر ځل به ئے د توبې وعده کوله او د عذاب د اوړیدو نه روستو به ئے د ایمان راوړو نه انکار کولو. دا طریقه د دوی پدے وجه شوه چه دا خلق واقعي مجرمان او فساد گر وو، او د هر خیر نه محروم وو.

جَآءَتۡهُمُ الۡحَسَنَةُ : حسنه ئے معرفه راوړه او سیئه نکره، وجه دا ده چه د حسنے (ښه حالت) راتلل به ډیر وو او د سیئه راتلل به کله نا کله وو.

لَنَا هٰذِهٖ : یعنی مونږ ددے لائق یو نو ځانونه به ئے د فراخئ او خوشحالئ او ښه حالت حقدار گڼړل او د الله د طرفنه ئے فضل او رحمت نهٔ گڼړلو.

يَّطَّيَّرُوۡا : د تطیّر نه مراد دا دے چه هرکله به په دوی باندے مصیبتونه راډیر شو، نو دوی به خپل بد عمل ته نسبت نکولو بلکه دا به ئے وئیل چه دا د موسیٰ ﷺ او د هغه د ملگرو سپیرهٔ والے دے چه دا راغلے دے، په مونږ باندے دا مصیبتونه شروع دی. او په حدیثونو کښ د بد فالئ نیولو نه منع راغلے ده [لَاطِيَرَةَ] په اسلام کښ بد فالي نیول نشته. (بخاري:٥٧٥٤)

طَآئِرُهُمۡ :(اَیۡ نَصِیۡبُهُمۡ مِنَ الۡعَذَابِ وَحَظُّهُمۡ) . یعنی د دوی د عذابونو برخے د الله سره دی، چه هغه پرے الله تعالیٰ د دوی د گناهونو د وجه نه راولی.

ددے نه معلومیږی چه همیشه باطل پرستو نیکانو خلکو ته سپرهٔ وئیلی دی او د خپلے بد حالئ نسبت ئے هغوی ته کړیدے لکه په سورة یس (١٨) آیت کښ دی.

عِنۡدَ اللّٰهِ : یعنی د الله د طرفنه دی. یا د الله په تقدیر کښ دی.

د سعید بن جبیرؒ او محمد بن مُنۡکدِرؒ نه نقل دی چه د فرعون بادشاهی څلور سوه کاله وه، او ژوند ئے شپږ سوه شل کاله وو او دهٔ په خپل ژوند کښ هیڅ مصیبت نهٔ وو لیدلے او که په دهٔ باندے په دغه موده کښ یوه ورځے لوږه یا یوه شپه تبه یا یو ساعت درد راغلے وے نو هیڅکله به ئے د ربوبیت دعوه نهٔ وے کړے. (نو ځکه ئے په موسیٰ ﷺ باندے بد فالي نیوله). (بغوی٢٦٨/٣)

لَا يَعۡلَمُوۡنَ : اکثر خلك د حوادثو او مصیبتونو نسبت ظاهری اسبابو او اهل حقو ته کوی او د الله نه غافل وی، او د هغه تقدیر نهٔ منی او خپلو گناهونو ته نهٔ گوری.

مَهْمَا تَأْتِنَا : دا د دوى انتهائى ضد دے چه هرے معجزے ته به ئے جادو وئيله- او دا به ئے وئيل چه كه ته مونږ ته هر څومره دلائل راوړے خو نهٔ ئے منو-

مَهْمَا : كلمه اسم شرط دے چه په عموم باندے دلالت كوى (اَىُ اِنُ تَأْتِنَا بِشَىْءٍ) يعنى كه چرته مونږ ته هره نوعه د جادو راوړے- (المنار) يا په معنىٰ د (اَيُّمَا شَىْءٍ تَأْتِيْنَا بِهٖ) هر هغه شے چه ته ئے مونږ ته راوړے- (التحرير) نو مهما په معنىٰ د اَىُّ شَىْء دے-

لِتَسْحَرَنَا : سحر په معنىٰ د اړولو سره دے- ۱- يعنى چه ته په هغے سره مونږ (د جادو په شان په تاثير كښ) اړوے د خپل دين نه-

۲- يا پدے وجه چه ته په مونږ باندے په هغے سره جادو وكړے-

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ ايٰتٍ
نو راوليږلو مونږ په دوى باندے طوفان او ملخان او سپږے او چيندخان او وينه نښے وے
مُّفَصَّلٰتٍ قف فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ وَلَمَّا وَقَعَ
جدا جدا نو لوئى وكړه دوى او وو دوى قوم مجرمان- او هركله چه به واقع شو
عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يٰمُوسَى ادْعُ لَنَا
په دوى باندے عذاب (ددے عذابو نو نه) وئيل به دوى اے موسىٰ! وغواړهٔ مونږ له
رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ج لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ
د رب خپل نه په سبب د هغے چه وعده ئے كړيده تا سره كه لرے كړو تا زمونږ نه دا عذاب
لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۳۴﴾
(په دعا سره) خامخا ايمان به راوړو په تا او خامخا ليږو به تا سره بنى اسرائيل-
فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ
نو هركله چه به لرے كړو مونږ د دوى نه عذاب تر هغے نيتے پورے
هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۱۳۵﴾
چه دوى به رسيدونكى وو هغے ته، دغه وخت به دوى ماتولو لوظ لره-

تفسير : الطُّوفَانَ : په لغت كښ هغه شى ته وائى چه په يو شى باندے راتاو شى او

هغه پټ کړي، او غالب استعمال ئې په طوفان د اُوبو کښې دے، برابره ده د آسمان نه وي او که د زمکې نه. او دارنګه په هغه څه کښې هم استعمالیږي چه د آسمان نه په کثرت رانازل شي او زمکه پټه کړي. (المنار)

د طوفان نه مراد سخت تیز باران وو چه هغه فصلونه او میوه جات تباه کړل او انسانانو کښې مرګونه پیدا شول. یا دا چه دریائے نیل به ئې پرېے راواړولو چه د دوي په فصلونو او علاقو کښې دومره اُوبه ودریدلے چه د دوي سینے ته به رسیدلے او کورونو ته به ئې ننه راننوتے او ناشنا لا دا وه چه پدے کښې به د بني اسرائیلو کورونه ښه په امن وو، د هغوي کورونو ته به اُوبه نۀ ننوتے، نو دا ناشنا معجزه پدے وجه هم ده چه ددے نه دوي ته ښکاره معلومه شوه چه بني اسرائیل په حقه دي او مونږ په باطله یو.

مجاهدؒ وائي : د طوفان نه مراد اُوبه او طاعون (ننکئ) بیماري ده. او ځیني وائي مرضونه او خصوصي د شِري بیماري ده. او ابن عباس ﷺ فرمائي چه دا ډیروالے د مرګونو وو په دوي کښې. آه. (المنار) (اګرکه استیصالي عذاب پرېے روستو راغلے وو)

صاحب المنارؒ وائي چه غوره قول دا دے چه ددے نه مراد بیحده زیات باران دے لکه دا د لغت سره موافقه خبره ده، او د تورات نه هم ددے تائید کیږي، بیا ئې د تورات عبارت ذکر کړیدے.

د ((جراد)) نه مراد مشهور ملخان دي چه د دوي فصلونه ئې تباه کول، په اسلام کښې ددے خوړل جائز دي، لیکن رسول الله ﷺ به دا نۀ خوړل لکه څنګه چه ضب یعني خادمئ به ئې نۀ خوړله. صاحب المنار د تورات په حواله ذکر کړیدي چه الله د مشرق د طرفنه داسے هوا راولیږله چه په هغې سره ئې ملخان د مصر زمکې ته راوشړل نو هغوي ټوله زمکه پټه کړه او ټولے ګیاهګانے ئې وخوړلے او د ګلئ نه روستو چه د ونو کومے میوے پاتے وے هغه ئې د پاڼو سره وخوړلے تردے چه په مخ د زمکه د مصر باندے هیڅ شینکي په ونو کښې پاتے نشوه، نۀ په صحراء د مصر کښې. نو فرعون په خپله خطائي اقرار وکړو او د موسیٰ او هارون (علیهما السلام) نه ئې وغوښتل چه دوي معاف کړي او د دوي رب ته شفاعت وکړي چه دا هلاکت ترے لرې کړي نو هغوي دا درخواست منظور کړو نو الله د مغرب د طرف نه هوا راولیږله چه ټول ملخان ئې بحر قلزم ته ګوزار کړل. المنار ۸۰/۹)

د ((قُمّل)) نه مراد سپږے او سپږئ دي چه په غنمو او د دوي په نورو دانو کښې پیدا شوے وے. (ابن عباسؓ). سپږه هم ډیر لوي مصیبت دے. بعض خلقو ددے نورے معاني هم بیان

کړیدی۔ لکه ابن جریرؒ وائی چه دا داسے حیوان وو چه د سپږے مشابه وو او اُوښان به ئے خوړل۔ او د ابن عباسؓ نه یو بل روایت دا دے چه دا واړه واړه ملخان وو چه وزرے ئے نهٔ لرلے۔ (مجاهدؒ، عکرمهؒ، قتادهؒ)

سعید بن جبیرؒ او حسن بصریؒ وائی چه دا واړه واړه تور تور حیوانات وو۔ (ابن کثیرؒ)

امام راغبؒ وائی چه دا واړه مچان وو لکه دا خبره د تورات د عبارت هم موافقه ده۔ چه موسیٰ علیه السلام فرعون لره ویرولو چه مچان به ددهٔ کورونو او ددهٔ د غلامانو او د ټول قوم کورونو ته ننوزی او هغه به خرابوی او کوم بنی اسرائیل چه په جاسّان علاقه کښې وسیږی هلته به دا مچان نهٔ داخلیږی نو همدغه شان وشوه او زمکه د مچانو په تاثیر سره خرابه شوه۔ (المنار)

ضفادع جمع د ((ضِفْدَع)) ده، چندخ ته وائی۔ د دوی په کورونو کښې په خوراکونو کښې، په کټونو او بسترو کښې به هرځای چندخان چندخان لیدلے شو۔

د سفر الخروج په اتم فصل کښې دی: ((بیا رب موسیٰ ته ووئیل: تهٔ په فرعون داخل شه او دا ورته ووایه: رب وئیلی دی چه زما قوم راپریده چه زما بندګی وکړی او که تهٔ انکار کوے نو زهٔ به ستا فصلونه په چندخانو ووهم نو نهر به چندخان راوړی نو هغه به راوخیژی او ستاسو په کورونو، او د بسترے په کوټهٔ کښې او ستا په کټ کښې او ستا د غلامانو او د قوم په کورونو کښې او ستا په تنورونو او خانکونو کښې الخ)) او همدغه شان وشوه۔

بیا دوی درخواست وکړو نو چندخان د کورونو او د کوټونو او فصلونو نه مړه شو نو دوی راجمع کړل چه انبارونه ئے ترے ولګول چه د هغے په وجه ټوله زمکه د مصر بد بویه شوه۔ (المنار)

فرعون ځان ته رب وئیلو او دومره دوائی هم ورسره نهٔ وه چه دا ملخان او چندخان او سپږے پرے مړے کړے وے۔

او د ((دم)) نه مراد دا دے چه د دوی د نهرونو او کوهیانو اُوبه په وینه بدلے شوے، مهیان ئے مړهٔ شول او د نهرونو اُوبه ئے بدبویه شوے، مصریانو دا طاقت نهٔ لرلو چه د هغے نه څکل وکړی، بعض خلقو ددے نه د نکسیر بیماری مراد اخستے ده۔(یعنی د پوزے نه وینه بهیدل- زید بن اسلمؒ)

او صاحب المنارؒ ذکر کړیدی چه دا وینه په دوی باندے اُوه ورځو پورے وه۔

په تاریخي روایتونو کښې راغلي دي چه یو بنی اسرائیلی اُویه ځکلے نو قبطي به ورسره خوا کښې ودریدو دے دپاره چه کله دا اُویه ځکي نو دے به ئے ترے واخلي او ویه ئے ځکي نو چه ددهٔ لاس ته به راغلے نو په جام کښې به وینه پیدا شوه۔ او که دواړو به په شریکه خوله کیخودله نو یو طرفته به وینه وه او بل طرف کښې به نهٔ وه۔ دا څومره لویه پریشانی ده سوچ پرے وکړه، ددے دومره معجزاتو باوجود د دوی ایمان نهٔ راوړل د ډیر لوی ضد او استکبار نښه ده۔

اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ : ۱- دا نښے دی جدا جدا چه هر عذاب به یوه یوه هفته وو او په هر دوو عذابونو کښې به یوه میاشت وقفه وه۔ (بغویؒ)

۲- یا معنیٰ دا ده چه دا جدا جدا او واضحه او ښکاره معجزات وو چه د هر یو نه د موسیٰ علیه السلام د نبوت رشتینوالے ښکاره کیدو۔ لیکن دوی متکبران وو۔

فَاسْتَكْبَرُوا : یعنی په موسیٰ علیه السلام باندے د ایمان راوړو نه ئے ځانونه لوی وګڼړل اګرکه د هغه د رسالت د صحت عقیده ئے ساتله او په زړه کښې ئے دا وه چه دے په دعوه د نبوت کښې رشتینی دے۔

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ : دومره خو پوهه وو چه ددهٔ دعا قبلیږی او دے حق پرست دے، لکه اُوس هم بعض بدعتیان او مشرکان موحد ته وائی چه مونږ ته خصوصی دعا وکړه، د هغه په بزرګئ خو اقرار کوی لیکن مسئلے او عقیده ورله نهٔ منی۔

عَهِدَ عِنْدَكَ : یعنی تا سره ئے وعده کړیده چه ستا دعا به قبلوی۔

او دا عذاب الله تعالیٰ د مکے په مشرکانو راوستے وو چه قحط پرے راغلو او بیا ئے رسول الله ﷺ ته درخواست وکړو چه د الله نه دعا وغواړه چه مونږ نه دا مصیبت لرے کړی، درے کاله پدے حالت کښې وو نو رسول الله ﷺ دعا وکړه او قحط ترے لرے شو۔

لَئِنْ كَشَفْتَ : دا د دوی شرکی جمله وه چه که تا زمونږ نه مصیبت لرے کړو حال دا چه مصیبت لرے کونکے خو الله دے لیکن د مشرکانو نسبتونه ټول غیر الله ته وی او د الله نه ئے مخ اوړیدلے وی۔

الرِّجْزَ : د ((رجز)) یعنی عذاب نه مراد د طاعون بیماری ده۔ (ابن عباسؓ وسعید بن جبیرؒ)

وئیلے شویدی چه پدے بیماریٔ سره اویا زره فرعونیان هلاك شوی وو۔ مګر راجح دا ده چه دلته دا ټول هغه عذابونه مراد کیدے شی چه الله په فرعونیانو باندے رالیږلی وو۔ او رجز په اصل کښې هر هغه عذاب دے چه زړونه ورسره خوزیږی او پریشانه کیږی یا د هغے

په وجه خلك په ژوند او كارونو كښ پریشانه كيږي۔ (المنار)

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ
نو بدله واخسته مونږ د دوی نه نو غرق مو كړل په درياب كښ پدې وجه چه دوی
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٣٦﴾
دروغژن گنړلي وو آیتونه زمونږ او وو دوی د هغې نه بې پرواه۔
وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ
او په ميراث كښ وركړل مونږ هغه قوم ته چه ضعيف گنړلے شوی وو (په مصر كښ)
مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِيْ بٰرَكْنَا
مشرقونه د زمكے او مغربونه د هغې، هغه زمكه چه بركتونه اچولي وو مونږ
فِيْهَا ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ بِمَا
په هغې كښ، او پوره شوه فيصله (وعده) د رب ستا ښائسته په بنی اسرائيلو په دې وجه
صَبَرُوْا ؕ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ
چه صبر كړے وو دوی، او هلاك كړل مونږ هغه څه چه كولو به فرعون او قوم د هغۀ
وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿١٣٧﴾
او هغه چه دوی به چتونه جوړول۔

تفسیر: فَانْتَقَمْنَا: نَقْمَة: په اصل كښ د نعمت زائل كول دي په عذاب سره۔

اَلْيَمِّ: ددې نه مراد ژور درياب دے، يا دا دريائے نيل دے۔

ددې تمامو ازمينښتو نه د تيريدو باوجود كله چه دوی ته د ايمان توفيق ملاؤ نشو، نو د الله آخری عذاب راغلو چه هغه د دوی وجود ختم كړو۔ وئيلے شويدی چه كله فرعون د مصر په حكومت كښ د الله تعالىٰ مسلسل (يوبل پسے) ډير عذابونه وليدل نو آخره كښ ئے موسىٰ او د هغه قوم بنی اسرائيلو ته د مصر نه د سفر كولو اجازت وركړو۔ نو بنی اسرائيل د شپے په وخت په جلتئ سره ووتل او د خپل ځانونو سره ئے خپل څاروی هم روان كړل۔ نو دوی د ((عين شمس)) نه د ((سكوت)) ته د تللو دپاره د بحر احمر ساحلي لاره

اختیار کړه، فرعون چه کله واوریدل چه دا خلق روان شو نو په خپله فیصله پښیمانه شو، او فوراً ئے خپل فوج راوغوختو او د هغوی د رالاندے کولو دپاره د هغوی پسے روان شو۔

او هغوی ئے د بحر احمر په ساحل (غاړه) باندے رالاندے کړل، بنی اسرائیل ویریدل او موسیٰ علیه السلام ته ئے د خپلے پریشانتیا اظهار وکړو نو موسیٰ علیه السلام ووئیل چه مهٔ یریږئ، الله ما سره دے۔ بیا موسیٰ علیه السلام اُوبو طرف ته امسا ورمخکښ کړه او د الله په حکم سره ئے دریاب ووهلو نو اُوبه په دوه حصو تقسیم شوے، او یوه کولاوه لاره جوړه شوه چه په هغے سره بنی اسرائیل پورے وتل۔ فرعون د خپل لښکر سره هغوی رالاندے کړل، کله چه دریاب ته راورسیدو نو موسیٰ علیه السلام په لاس سره اشاره وکړه او د الله په حکم سره اُوبه په تیزئ سره دواړو طرفونو ته پورته شوے او فرعون او د هغه فوج ټول ئے راګیر کړل او لږ وخت روستو د هغوی لاشونه د دریاب په سر راپورته شو او غاړے ته راغلل او بنی اسرائیلو دا منظر په خپلو سترګو سره ولیدلو، او سترګے ئے پرے یخے شوے۔

بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا : دا د عذاب دوه سببونه بیانوی چه یو دوی همیشه تکذیب زمونږ د آیتونو کولو او په دوی کښ د الله د آیتونو نه غفلت وو۔ او دلته د غفلت نه مراد غیر اختیاری غفلت نهٔ دے بلکه ځان ترے په زوره غافل کول دی چه دے ته اِعراض او بی پرواهی وائی نو ځکه دا سبب د عذاب دے۔ ددے نه معلومه شوه چه د الله د آیتونو نه ځان غافله کول دا د الله د آیتونو اِهانت او سپکاوے دے پدے وجه دا د عذابونو سبب دے۔

وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ : یعنی مونږ بنی اسرائیلو ته د زمکے سرداری ورکړه او د مصر او شام علاقے د دوی د تصرف لاندے راغلے، دا هغه خلق وو چه فرعون خپل غلامان جوړ کړی وو او د دوی په زرګونو بچی ئے وژلی وو۔ لیکن کله چه دوی په موسیٰ علیه السلام ایمان راوړو او په مصیبتونو او دردونو ئے د صبر او استقامت نه کار واخستو نو الله تعالیٰ دوی د زمکے مالکان جوړ کړل او د فرعونیانو محلونه او باغونه ئے تباه کړل۔

همدا خبره الله تعالیٰ په سورة قصص (٦/٥) آیتونو کښ بیان کړیده :

﴿ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِى الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ﴾۔

یعنی (بیا مونږ وغوختل چه مونږ په هغه کسانو احسان وکړو کوم چه په زمکه کښ کمزوری کړے شوی وو او مونږ دوی پیشوایان جوړ کړو او دوی وارثان وګرځوو او چه مونږ دوی ته په زمکه کښ قدرت او اختیار ورکړو او فرعون او هامان او د هغوی لښکرو ته هغه

څه وښایو چه دوی ترے یره کوی)۔
د فرعونیانو هلاکت او بربادی او د هغوی د تباهئ حال د سورة دخان په آیتونو (۲۸/۲۷/۲۶/۲۵) کښں الله تعالیٰ داسے بیان کړیدے : ﴿ كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُوْنٍ وَزُرُوْعٍ وَمَقَامٍ كَرِيْمٍ وَنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا فَاكِهِيْنَ ، كَذٰلِكَ وَاَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِيْنَ ﴾۔
یعنی دوی ډیر باغات او چینے پریخودے او آرام والا ځایونه او قسماقسم نعمتونه چه په هغے کښں به دوی عیش کولو، ټول بیکاره پاتے شو، او مونږ ددے ټولو وارثان نور قوم جوړ کړل)۔ (ابن کثیرؒ)
يُسْتَضْعَفُوْنَ : دوی ضعیف ګڼړلے شوی وو، ددے نه مراد غلامان جوړیدل او د دوی اولاد ذبح کیدل او د زنانو ژوندئ پریخودل او ذلیله کول دی۔
مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا : دا د (اَوْرَثْنَا) دپاره مفعول دے، پدے کښں اشاره ده ټولو طرفونو ته او هرکله چه د هرے علاقے مشرق او مغرب جدا جدا وی، نو ددے وجه نه ئے جمع راوړیده۔
صاحب المنارؒ وائی چه مشارق الارض حدود د شام دی او مغارب نه مراد حدود د مصر دی۔ حسن بصریؒ او قتادهؒ وائی چه ددے نه د شام زمکه مراد ده،
او زید بن اسلمؒ وائی : ددے نه د شام کلی مراد دی۔
عبد الله بن شوذبؒ وائی چه ددے نه فلسطین مراد دے۔
او کعب الاحبارؒ وائی چه الله په شام کښں د فُرات نه تر عَریش پورے برکت اچولے دے۔
د لَیث بن سعدؒ نه نقل شویدی چه دا د مصر زمکه ده کوم کښں چه بنی اسرائیل وو۔
او بعض مفسرینو وئیلی دی چه ددے نه مصر او فلسطین دواړه مراد دی۔ صاحب المنار وائی چه داسے ښکاره کیږی چه دلته د مصر زمکه مراد کول همدا ظاهر متبادر دی د آیت د سورة الشعراء نه ﴿ فَاَخْرَجْنَاهُمْ مِنْ جَنّٰتٍ وَعُيُوْنٍ وَكُنُوْزٍ وَمَقَامٍ كَرِيْمٍ كَذٰلِكَ وَاَوْرَثْنَاهَا بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ ﴾ نو دلته ئے ددے میراث د بنی اسرائیلو دپاره ذکر کړیدے۔ (المنار)
مګر مونږ وایو چه د مصر زمکه اګرکه فی الحال بنی اسرائیلو ته ملاؤ نشوه ځکه چه دوی په میدان تیه کښں وو تر څلویښتو کالو پورے، بیا اَریحاء او فلسطین وغیره ته لاړل او هلته آباد وو لیکن روستو د داود علیه السلام په زمانه کښں ورته ملاؤ شویده، او پدے کښں د شام زمکه خامخا داخله ده ځکه چه (بَارَكْنَا) لفظ پرے دلیل دے، او مشارق او مغارب نه د هغے مشرقی او مغربی طرفونه مراد دی۔ چه اول کښں په شام باندے د مصر تسلط وو لیکن د

فراعنه او عمالقه ؤ نه روستو الله تعالیٰ د شام او فلسطین زمکه (ارض مقدسه) بنی اسرائیلو ته ورکړه. (القاسمیؒ والمنار)

ابن عاشورؒ وائی چه د شام ارضِ مقدسه د بحر احمر د شرقی شمالی سواحلو نه شروع کیږی او د بحر البروم (یعنی د بحر اوسط) سواحلو ته رسیږی، او دارنګه حدود العراق او حدود د بلاد العرب او بلاد الترك پورے رسیږی. (التحریر والتنویر۸/۲۸۱)

او پدے کښ اشاره ده د صحابه کرامو حال ته چه دوی اول کښ کمزوری ګڼړلے کیږی لیکن الله به ورته د زمکے بادشاهی ورکړی او ابوجهل چه ددے امت فرعون دے دا به هلاك شی، او په هره زمانه کښ چه څوك دعوت او جهاد کوی نو دا د الله وعده ده چه د زمکے خلافت به هغوی ته ورکوی. او پدے زمکه د شام باندے اُوس هم د دوه فریقینو جګړه ده، بنی اسرائیل او بنی اسماعیل (عربو) لیکن عاقبت به متقینو دپاره وی. او اُوس ئے آثار ښکاره کیدو والا دی.

كَلِمَتُ رَبِّكَ : ددے نه مراد وعده د نصرت او مدد ده چه د بنی اسرائیلو سره پوره شوه. لکه هغه وعده مخکښ ذکر شوه ﴿عَسٰی رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ﴾. (ابن عاشورؒ)

الْحُسْنٰى : د الله وعده ځکه ښائسته ده چه د مخالفت او خلاف نه پاکه ده. یا دا چه د بنی اسرائیلو دپاره ښائسته وه اګرکه په فرعونیانو بده وه. (ابن عاشورؒ)

مَا كَانَ يَصْنَعُ : ددے نه مراد بنګلے او کارخانے وغیره دی.

يَعْرِشُوْنَ : اَیْ مِنَ الْجَنَّاتِ. ددے نه مراد باغونه دی چه په څپرونو باندے لاړ وی. یا هغه چه دوی پورته کولے مضبوطے قلعه ګانے آسمان ته لکه د هامان قلعه شوه. یا لکه اَهرامِ مصر او هیاکل شو، ابن عاشورؒ وائی : همدا مطلب د (دَمَّرْنَا) لفظ سره زیات مناسب دے. (القاسمیؒ والتحریر)

وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ
او پورے وېستل مونږه بنی اسرائیل په دریاب نو راغلل دوی په یو قوم چه منجوری ئے کوله
عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا
(عبادت ئے کولو) د بتانو خپلو، ووئیل دوی اے موسیٰ وګرځوه مونږ له معبود لکه څنګه

لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ

چه دوی له معبودان دی، ووئیل موسیٰ علیه السلام یقیناً تاسو یو قوم یئ ناپوهه- یقیناً دا کسان

مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا

هلاك به کړے شی هغه چه دوی په (بندګئ) د هغه کښ دی او باطل دی هغه عملونه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰـهًا

چه دوی ئے کوی- ووئیل (موسیٰ علیه السلام) آیا سویٰ د الله نه طلب کړم تاسو لره معبود

وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَاِذْ

او حال دا چه الله غوره کړی یئ تاسو په مخلوقاتو (د زمانے خپل) او کله چه

اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۚ يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ

بچ کړئ مونږ تاسو د فرعونیانو نه رَسَول به ئے تاسو ته بد عذابونه، وژل به ئے زامن ستاسو

وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۱۴۱﴾

او ژوندئ به ئے پریخودلے زنانه ستاسو، او په دے کښ امتحان وو د رب ستاسو نه لوئی-

تفسیر: د تیر شوی آیت په ختمیدو سره د موسیٰ علیه السلام او د فرعون او د قبطیانو واقعات ختم شو- اُوس د دے آیتِ کریمه نه د موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو د امن وامان واقعات شروع کیږی، (چه په هغے کښ دوی خومره ورانے کړیدے او د بی بصیرتیٔ نه ئے کار اخستے دے) دوی د فرعون د غلامیٔ نه د آزادیدو او د موسیٰ علیه السلام سره په دریاب پورے وتلو نه روستو د صحرائے سینا جنوبی علاقے طرف ته روان شو- په لاره کښ دوی په یو داسے قوم تیر شو چه د بتانو عبادت ئے کولو- بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا خلك کنعانین وو چه د عربو په نیز دوی ته عمالقه وئیلے شی- (ابن عاشورؒ)

ځینی وائی چه دا د عربو د لَخم قبیلے وو او په رِقّه علاقه کښ وسیدل- ابو عمران الجَوْنیؒ وائی چه دا د لَخم او جُذام قبیلے وو، دے خلقو به د غوا د مجسمو عبادت کولو- (بغویؒ)

د دوی په لیدلو سره بنی اسرئیلو د موسیٰ علیه السلام نه مطالبه وکړه چه مونږ له هم یو داسے بُت پکار دے چه هغه ته سر خکته کړو-

امام بغويؒ ليکلي دي چه بني اسرائيلو د الله تعالىٰ په وحدانيت کښې هيڅ شك نهٔ وو، بلکه د دوی مقصد دا وو چه ددے بت پرستو په شان دوی دپاره هم يو داسے شے کيدل پکار دی چه د هغے په تعظيم کولو سره د الله تقرب حاصل کړی، د سخت جهالت په وجه ئے گمان وکړو چه پدے به د دوی دين او ايمان ته هيڅ نقصان نهٔ رسيږی انتهىٰ۔

پدے وجه موسىٰ عليه السلام دوی ته ووئيل چه تاسو د الله د شان او عظمت نه بالکل ناخبره يئ، د عبادت ټول اقسام صرف د الله تعالىٰ پورے خاص دی، ددے بت پرستو شرك د دوی دپاره هلاکونکے دے او د دوی عمل سراسر باطل دے۔

امام احمدؒ، ترمذيؒ او ابن جريرؒ وغيرهم د ابوواقد الليثيؓ نه روايت کړيدے چه رسول الله ﷺ کله د غزوۀ حنين دپاره ووتلو نو د يو بيرے ونے خوا کښې تير شو چه هغے ته به مشرکانو خپلے وسلے زوړندولے، پدے وجه هغے ته به ئے ((ذات انواط)) وئيلو نو صحابه کرامؓ نه بعض خلقو ووئيل چه اے د الله رسوله! زمونږ دپاره هم يو داسے ذات انواط مقرر کړه، نو نبي ﷺ وفرمايل: ((سبحان الله! اِنَّهَا السُّنَنُ))، تعجب دے، دا خو د هغه موسىٰ عليه السلام د قوم خبره ده چه د بت پرستو د معبودانو په شان زمونږ دپاره هم يو معبود مقرر کړه، قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې زما روح دے چه تاسو به د تير شوی قومونو په لاره ضرور روانيږئ))۔ (وسنده صحيح علی شرط الشيخين احمد: (٢١٩٤٧) والترمذی (٢١٨٠)

همدا وجه ده چه سيدنا عمر بن خطاب رضي الله عنه په حُديبيه مقام کښې هغه ونه پريکړے وه د کومے لاندے چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامؓ نه بيعت اخستے وو، چه هغے ته بيعة الرضوان وئيلے شی۔ امام ابوبکر طرطوشيؒ ليکلي دی چه که تاسو داسے يوه ونه وينئ چه د هغے خلك زيارت او تعظيم کوی، هغه د شفاء سبب گڼړی او په هغے کښې ميخونه وهی او د کپړو ټکړے زوړندوی نو هغه پريکړئ ځکه دا ذات انواط دے۔ (القاسمی)

وَجٰوَزْنَا: دا پورے ويستل د عاشورے په ورځ وو نو موسىٰ عليه السلام به ددے ورځے روژه د شکر په طور نيوله او زمونږ اسلام کښې هم ددے سنت والے ثابت دے۔

يَعْكُفُوْنَ: عکوف د عبادت په نيت د يو شي سره لازم کيدل دی۔ يعني منجوری کول۔

قَالُوْا يٰمُوْسَى: دوی کښې بعض خلکو دا خبره کړے وه ورنه ټول داسے نهٔ وو، نو دا قضيه مهمله ده۔

پدے واقعه کښې يو تسلي ده رسول الله ﷺ ته چه يهوديانو د موسىٰ عليه السلام سره داسے کار کړے وو نو تا سره به ئے هم کوی۔ دويم پدے کښې تنبيه ده چه مؤمنانو له پکار دی چه د

خپل نفس د مُحاسبے او د الله د نعمتونو د لحاظ نه غافله نشي۔ ځکه دے خلکو ولے شرك وكړو؟ نو د غفلت د وجه نه، دے ته ئے نۀ کتل چه د فرعون لوی ظالم نه مونږ چا راخلاص کړو، او په دریاب کښې چا راواړولو؟ او د مخکنو عذابونو نه مونږ ته نجات چا راکړو؟۔

تَجْهَلُوْنَ : دا د جهالت خبره ځکه ده چه دا خلك خو څه په ښه کار لګیا نۀ دی چه بنده ئے ارمان وکړی، دوی خپله شرك کوی او تاسو هم د شرك ارمان کوئ۔

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ : دا د مخکښې (تَجْهَلُوْنَ) جملے دپاره د علت په معنیٰ کښې دے۔ یعنی تاسو ځکه جاهلان یئ چه ددے خلکو حالت تاسو ته نۀ دے معلوم۔

مُتَبَّرٌ : ددے مطلب دا دے چه دا معبودان او دا شرك فناء کیدونکی دی، او په دوی باندے د هلاکت فیصله شویده ځکه چه پدے زمکه به الله تعالیٰ توحید راښکاره کړی۔ (المنار)

او د باطل مطلب دا دے چه دوی کوم شرك کوی ددے هیڅ فائده دوی ته نۀ په دنیا کښې ملاویږی او نۀ په آخرت کښې، بلکه دا عملونه به ئے برباد او زائل شي۔ نو د باطل نه مراد دا چه غلط او بیکاره کار دے نو تاسو د باطل کار ارمان څنګه کوئ؟۔

یا د (بَاطِلٌ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ) نه مراد بتان دی یعنی باطل او بی حقیقته دی هغه بتان چه دوی ئے جوړوی او آلهه ورته وائی۔ نو د دواړو جملو مطلب دا شو چه دا عمل هم باطل دے او ددے غایه هم باطله ده۔ (السعدیؒ وابن عاشورؒ)

نو دا د موسیٰ علیه السلام د طرفنه زیرے وو چه الله تعالیٰ به پدے علاقو کښې وثنیت ختم کړی او توحید به راښکاره کړی۔ (المنار)

ابن عاشورؒ وائی چه د (مَاهُمْ فِيْهِ) نه مراد د دوی حال دے چه هغه د بتانو عبادت او د هغے سره متعلق ضلالات او سیئات دی۔ (التحریر) یعنی دا حالت به د دوی هلاك شي۔

متبر: صیغه د اسم مفعول ده په معنیٰ د مضارع مجهول سره، یعنی هلاك به شي۔

اَغَيْرَ اللهِ : یعنی آیا دا د لوی نعمتونو شکر ګوزاری او پیژندل دی چه د غیر الله عبادت غواړئ او د الله د بندګئ نه بغاوت کوئ او د الله دغه نعمتونو ته نۀ ګورئ۔

وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ : یعنی حقدار د بندګئ خو الله دے نۀ دغه معبودان، الله تعالیٰ تاسو ته د توحید په وجه د خپلے زمانے په مخلوقاتو باندے غوره والے درکړیدے۔ او دارنګه په ډیرو انبیاؤ علیهم السلام او په ډیرو معجزاتو او خوارق العادات سره۔

وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ : دا بعض انعامات ذکر کیږی۔ یعنی آیا تاسو نه هیر شو چه اُوس لږ څه ورځے مخکښې الله تعالیٰ تاسو ته د فرعونیانو د عذاب او د هغوی د غلامئ نه نجات

درکړو۔ او تاسو دغه ذات پریدئ او د لرګو او کاڼو نه جوړ شوی معبودانو ته سجدے کوئ۔

وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ : دائے په مخکښې باندے عطف کړو، دا یا د الله تعالیٰ قول دے چه د موسیٰ علیه السلام د کلام تتمیم کوی، او التفات پکښې د غائب نه متکلم ته شویدے او دا په قرآن کریم کښې ډیر کرته کیږی۔ یا دا خطاب د رسول الله ﷺ د زمانے یهودیانو ته وو چه ستاسو مشران مونږ د فرعونیانو نه خلاص کړی وو۔ او د مشرانو مصیبت او نعمت د کشرانو دپاره هم وی۔

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا
او وعده وکړه مونږ د موسیٰ (علیه السلام) سره د دیرشو شپو او پوره کړے مونږ هغه
بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ج وَقَالَ
په لسو نورو سره نو پوره شو وخت مقرر د رب د هغهٔ څلویښت شپے، او ووئیل
مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ
موسیٰ ورور خپل هارون (علیه السلام) ته نائب شه زما په قوم زما کښې او اصلاح کوه
وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤٢﴾
او مهٔ روانیږه د لارے د فساد کونکو پسے۔

تفسیر : بنی اسرائیل چه کله طور سینا ته نزدے په یو ځای کښې آباد شو (یعنی صحرائے سینا کښې) نو الله تعالیٰ د دوی دپاره یو شریعت نازلول وغوختل دے دپاره چه دوی د هغے مطابق خپل ژوند د الله په طاعت او بندګئ کښې تیر کړی، او دوی سره موسیٰ علیه السلام د مخکښې نه وعده هم کړے وه چه کله تاسو د دریاب نه پورے وتئ نو ما له به الله تعالیٰ کتاب راکوی۔ کله چه دوی دلته راغلل نو د کتاب مطالبه ئے وکړه۔ پدے وجه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته حکم وکړو چه هغه د طور غر ته لاړ شی او هلته څلویښت ورځے په عبادت او بندګئ کښې تیرے کړی دے دپاره چه د وحی د لوئی ذمه وارئ پورته کولو پوره قابل جوړ شی۔

مفسرینو لیکلی دی چه د څلویښتو ورځو موده د ذی القعدے دیرش ورځے او د ذی

الحجے لس ورځے وې. د ابن عباسؓ وغيره نه روايت شويدے چه الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام سره په څلويښتمه ورځ يعنى په لسم د ذى الحجه خبرے وکړے.

ثَلٰثِيْنَ : اول کښې الله تعالىٰ ورسره د ديرشو ورځو وعده وکړه بيا ئے لس زياتے کړے پدے کښې به د الله راز وو، ځينى وائى چه د ديرشو ورځو وعده لازمى وه، او د څلويښتو استحبابى، لکه څنګه چه د شعيب عليه السلام سره د موسىٰ عليه السلام اته کاله تړول لازم او لس کاله مستحب وو.

لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ : موسىٰ عليه السلام کوهِ طور ته د روانيدو نه مخکښې د بنى اسرائيلو د تعليم او تربيت دپاره خپل ورور هارون عليه السلام خپل خليفه مقرر کړو او هغه ته ئے د هغوى سره د همدردئ او اصلاح او اخلاص نصيحت وکړو او د فساد او ګناهونو والو د اتباع نه ئے منع کړو.

وَاَصْلِحْ : مفسرينو ليکلى دى چه موسىٰ عليه السلام دا خبره د ډير احتياط په وجه کړے وه، ورنه هارون عليه السلام خپله د الله نبى وو، د هغه نه د فساد خورولو توقع څنګه کيدے شى؟. خو دے ته تاکيد وئيلے شى، دا کله نا کله الله ته هم وئيلے کيږى.

لکه نبى کريم ﷺ الله ته فرمايلى وو ﴿رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ﴾ (انبياء: ۱۱۲)

اے زما ربه ! د حق فيصله وکړه (حال دا چه د الله هره فيصله د حق ده).

سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ : د مفسدانو د لارے تابعدارى په ډير قسمه ده :

(۱) د هغوى سره په اعمالو کښې شريك کيدل.

(۲) د هغوى سره په فساد کښې تعاون کول.

(۳) د هغوى د ګناهونو او فسادونو کولو په حال کښې د هغوى سره ژوند تيرول او وسيدل اګر که د هغوى د راواپس کولو نه عاجز وى. او پدے کښې بعض کارونه هغه دى چه د انبياؤ عليهم السلام نه واقع کيدل ئے ممکن دى پدے وجه د هغے نه نهى صحيح ده (تفسير المنار ۹/۱۰۷)

موسىٰ عليه السلام ته په دغه زمانه کښې الله تعالىٰ په تختو کښې ليکلے شوے کتاب ورکړو چه دا قوم ته بيان کړه مګر دا خبرئے ورکړو چه ستا قوم ستا نه روستو شرك کړيدے، نو هغه ډير سخت غصه شو مګر تختئ ترے پرے نۀ وتے ځکه چه خپله ئے حالت نۀ وو ليدلے کله چه هغه راورسيدو نو درے خطابه ئے وکړل خپل ورور او قوم او سامرى ته.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسٰی لِمِیْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ

او هرکله چه راغے موسیٰ (علیه السلام) د مقرر وخت زمونږ دپاره او خبرے وکړے د هغهٔ سره

رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِیْٓ اَنْظُرْ اِلَیْكَ ؕ قَالَ لَنْ

رب د هغهٔ ووئیل هغهٔ، اے ربه ! وښایه ما ته ځان چه وګورم تا ته، ووئیل الله هیچرے نشے

تَرٰىنِیْ ج وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَی الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ

لیدلے ما (په دنیا کښې) لیکن وګوره غر طرف ته پس که ټینګ شو دا په ځای خپل

فَسَوْفَ تَرٰىنِیْ فَلَمَّا تَجَلّٰی رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ

نو زر دے چه ویه وینے ما لره نو هرکله چه راښکاره شو رب د هغهٔ غر ته، وے ګرځولو هغه

دَكًّا وَّخَرَّ مُوسٰی صَعِقًا ج فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ

ذره ذره او پریوتو موسیٰ (علیه السلام) بیهوشه نو هرکله چه رابیدار شو وے وئیل، پاکی ده تا لره

تُبْتُ اِلَیْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۴۳﴾ قَالَ یٰمُوسٰۤی اِنِّی اصْطَفَیْتُكَ

توبه وباسم تا ته او زهٔ اول یم د مؤمنانو نه. ووئیل الله اے موسیٰ یقیناً ما تهٔ غوره کړے ئے

عَلَی النَّاسِ بِرِسٰلٰتِیْ وَبِكَلَامِیْ ز صلے فَخُذْ مَآ اٰتَیْتُكَ وَكُنْ مِّنَ

په خلقو په پیغاماتو خپلو او په خبرو خپلو نو ونیسه هغه چه درکوم تا ته او شه د

الشّٰكِرِیْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِی الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ مَّوْعِظَةً

شکر کونکو نه. او لیکلی وو مونږ هغه لره په تختو کښې د هر شی نه نصیحت

وَّتَفْصِیْلًا لِّكُلِّ شَیْءٍ ج فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ

او تفصیل دپاره د هر شی نو ونیسه دا په طاقت سره او حکم کوه قوم خپل ته

یَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ط سَاُورِیْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِیْنَ ﴿۱۴۵﴾

چه ونیسی (عمل وکړی) دا په ښائسته طریقه سره زر دے چه ویه ښایم تاسو ته کورد نافرمانو.

تفسیر: اُوس هغه واقعه بیانوی چه کله طور ته لاړو نو د الله سره ئے څه تعلقات قائم کړل؟، کله چه موسیٰ علیه السلام ته د الله سره د خبرو شرف حاصل شو، نو د ډیر شوق او انتهائی

محبت په وجه ئې د الله د دیدار سوال وکړو (دے کښې د موسیٰ علیه السلام دوه غرضه وو، یو محبت او شوق وو، او دویم په دے کښې خپل یقین ډیرول وو، او پیغمبران همیشه دپاره د یقین په ډیروالي کښې کوشش کوی لکه روستو آیت (تُبْتُ اِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ) نه معلومیږی چه زما یقین شته خو د خپل یقین د ډیرولو دپاره مے دا مطالبه وکړه).

نو الله تعالیٰ جواب ورکړو چه په دے دنیا کښې ته ما نشے لیدلے، په دنیا کښې الله تعالیٰ چا ته دا طاقت نهٔ دے ورکړے چه الله وینی. مګر د موسیٰ علیه السلام د مطمئن کولو دپاره ئې ووئیل چه دے غر ته وګوره، که دا زما د تجلی طاقت ولری او په خپل ځای باقی پاتے شی نو ته به ما ولیدے شے. نو د الله تجلی په غر وشوه.

(په حدیث د احمدؒ کښې دی چه الله دومره رڼرا رابنکاره کړه لکه د کچے ګوتے د اول بند په اندازه (مسند احمد: ١٢٢٨٢) مسند البزار (٦٨٢٥) والمستدرك رقم (٦٦) وسنده صحيح)، نو غر ټکړے ټکړے شو او په خپل ځای باقی پاتے نشو، او بنکته لاړو او هموار شو، او موسیٰ علیه السلام چه دا منظر ولیدو نو طاقت ئے ونهٔ لرلو نو بے هوشه شو او کله چه په هوش کښې راغلو، نو د الله پاکی ئے بیان کړه او د دوباره داسے سوال کولو نه ئے توبه وویستله.

معتزله ؤ ددے آیت نه دلیل نیولو سره وئیلی دی چه الله تعالیٰ په دنیا او آخرت کښې هیچرته هم نشی لیدلے کیدے. لیکن دا قول بالکل باطل دے. ځکه چه د نبی کریم ﷺ د متواترو احادیثو نه ثابته ده چه مؤمنان به الله تعالیٰ لره د قیامت په ورځ وینی لکه چه الله تعالیٰ په سورة قیامه آیتونه (٢٣/٢٢) کښې فرمایلی دی: ﴿وُجُوْهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ چه (په هغه ورځ به ډیر مخونه تازه وی او خپل رب ته به ګوری).

او که چرته د الله لیدل نا ممکن وے نو موسیٰ علیه السلام به د هغے مطالبه نکولے. د موسیٰ علیه السلام عقل د معتزلو نه په زرګونو چندونو په دلیل نقلی او عقلی سره اُوچت دے او هغه د الله رؤیت طلب کوی نو د هغه په نیز د الله لیدل ممکن وو.

دویم دا چه الله تعالیٰ به خپل لیدل د غر په باقی پاتے کیدو باندے نهٔ وے معلق کړے.

دریم دا چه الله داسے نهٔ دی وئیلی (لَنْ أُرىٰ) چه زهٔ نشم لیدلے کیدے) بلکه داسے ئے وئیلی دی (لَنْ تَرَانِيْ) ته ما نشے لیدلے، ځکه چه ستا دا طاقت نشته.

لِمِيْقَاتِنَا: میقات هغه وخت ته وئیلے شی چه د څه کار دپاره مقرر کړے شی. او وقت مطلق وخت ته وئیلے شی.

أَرِنِيْ: ددے مفعول پټ دے (اَىْ ذَاتَكَ أَنْظُرْ اِلَيْكَ) ما ته خپل ذات راوښایه چه تا ته

وګورم۔
وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ : الله تعالیٰ بندګانو ته ځان په دنیا کښې نهٔ ښائی د هغه د عظمت او د جلال د وجه نه او په بندګانو کښې ددے قابلیت هم نشته۔
بعض مفسرین وائی چه دا په مدین کښې لوی غر دے چه هغے ته زبیر وائی۔ (بغویؒ)
فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ : یعنی هرکله چه غر چه لویه جُثه او طاقت لری هغه د الله د تجلیٔ برداشت نشی کولے نو ته به ئے څنګه وکړے۔
د الله تجلی په غر وشوه او غر هم د موسیٰ علیه السلام په شان مخلوق دے، او غر د الله تجلی ته ټینګ نشو سره د لوی والی نه، نو موسیٰ علیه السلام به څنګه ټینګ شی؟ ځکه چه صرف په دنیا کښې دا طاقت د انسان نشته چه الله وینی، البته په آخرت کښې به الله تعالیٰ انسانانو ته کامل بدن ورکوی چه په هغے کښې به د خپلو لیدلو استعداد او طاقت اچوی۔ لکه ددے مثال دا دے چه په دنیا کښې په اُور کښې انسان ژوندے نشی پاتے کیدے مګر په جهنم کښې به انسانان ژوندی وی، په دنیا کښې یوه ورځ ودریدل انسان نشی برداشت کولے، او د قیامت په میدان کښې به پنځوس زره کاله ولاړ وی ځکه چه الله به طاقت ورکړے وی۔
جَعَلَهٗ دَكًّا : اَیْ جَعَلَهٗ صَحْرَاءَ تُرَابًا (عکرمه) وَسَاخَ فِی الْاَرْضِ۔
هغه هموار او خاورے شو او په زمکه کښې ښکته لاړو۔ (ابن کثیرؒ والمنار)
صَعِقًا : موسیٰ علیه السلام غرهٔ ته کتل چه ذره ذره کیږی او هموار میدان ترے جوړیږی نو د خپل ځان په کنټرول کښې نشو نو سخت هیبت کښې راپریوتو او بے هوشه شو۔
او د صعق معنیٰ دلته بے هوشی ده، نهٔ مرګ، لکه قتادهؒ ئے په مرګ سره تعبیر کړیدے، د مرګ معنیٰ ئے په نورو آیتونو کښې صحیح ده لکه ﴿وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ﴾ (الزمر: ۶۸) مګر دلته ئے معنیٰ د بے هوشیٔ ده۔ دلیل پرے (فَلَمَّا اَفَاقَ) لفظ دے ځکه چه افاقه د بے هوشیٔ نه روستو وی۔ (ابن کثیرؒ)
سُبْحٰنَكَ : یعنی تهٔ پاک ئے ددے نه چه زهٔ ستا نه د هغه شی سوال وکړم چه زما په هغے علم نشته۔ یا تهٔ پاک ئے ددے نه چه ستا نه نا مناسبه کارونه وغوښتے شی۔ (المنار)
تُبْتُ اِلَيْكَ : دا توبه د ګناه نه نهٔ وه ځکه چه هغه ګناه نهٔ ده کړے بلکه الله ورله ډیر حده پورے د لیدو دعا قبوله کړه۔
او توبه په معنیٰ د رجوع سره ده د هغه څه نه چه دهٔ طلب کړے وو۔ یعنی تا ته ما رجوع کړیده پدے خبره کښې چه زهٔ ستا نه لیدل وغواړم۔ (مجاهدؒ)

وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ : یعنی اول نه مے یقین وو لیکن زیادتِ یقین غواړم. یا اول المؤمنین کامل مؤمن ته وائی. یا د بنی اسرائیلو نه اول مؤمن یم. او د ابن عباسؓ روایت دے (اَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنَّهٗ لَا يَرَاكَ اَحَدٌ). یعنی پدے خبره زما اول یقین دے چه تا څوك په دنیا کښې نشي لیدلے. (ابن کثیرؒ)

اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ : الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام د تکریم په توګه هغه ته زیرے ورکړو چه ما تهٔ د خپل رسول جوړولو او تا سره د خبرو کولو په وجه د نورو په مقابله کښې چاڼ کړے ئے، پدے وجه دا نعمت قبول کړه او د الله شکر ادا کوه اګرکه زهٔ دِے ونهٔ لیدم خو دغه نعمتونه ستا دپاره کافی دی، لیدل مهٔ غواړه. نو دا ئے ورله تسلی شان ورکړه. او دا ئے ورته ووئیل چه زما دا کتاب واخله او خپل قوم ته ئے بیان کړه.

عَلَى النَّاسِ : د ((الناس)) نه مراد صرف د موسیٰ علیه السلام د زمانے خلق دی. یعنی مونږ موسیٰ علیه السلام لره د هغه د زمانے په خلقو فضیلت ورکړے وو چه رسالت او کلام ئے دواړه ورنصیب کړی وو او هارون علیه السلام ته ئے صرف رسالت ورکړے وو، کلام نهٔ وو او دا تخصیص ځکه کوو چه زمونږ نبی کریم ﷺ لره الله تعالیٰ د تمامو انسانانو سردار جوړ کړیدے، هغه خاتم الانبیاء والمرسلین دے، دهغه شریعت به تر قیامته پورے نافذ العمل وی، په دهٔ ایمان راوړونکی به د نورو انبیاؤ علیهم السلام د تابعدارو نه زیات وی. د نبی کریم ﷺ نه روستو د ابراهیم خلیل الله علیه السلام درجه ده، او دریم نمبر موسیٰ علیه السلام دے.

وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ : دے نه معلومه شوه چه د الله په کتاب باندے شکر کول لازم او فرض دی. ددے شکر دا دے چه په هغے ایمان راوړی بیا د هغے دا حکامو تابعداری وکړی بیا د هغے بیان وکړی، او په خوله باندے هم د الله شکر وکړی چه الحمد لله داسے ښائسته کتاب ئے زمونږ د هدایت دپاره رالیږلے دے.

وَكَتَبْنَا لَهٗ : دا نسبت الله تعالیٰ ته حقیقی دے لکه په حدیث کښې دی چه الله تعالیٰ آدم علیه السلام په خپل لاس پیدا کړیدے او تورات ئے په خپل لاس لیکلے دے او د طوبیٰ ونه ئے په خپل لاس ناله کړیده. (الحاکمؒ، ابن ابی شیبة، والآجری فی الشریعة وصححه الذهبی فی الاربعین والالبانی)

(۳) دا د تورات تختئ وے، (چه د کاڼو نه وے) چه په هغے کښې د بنی اسرائیلو دینی او دنیاوی د هدایت او لارخودنے او خیر هره خبره لیکلے شوے وه لکه چه الله تعالیٰ په سورة قصص آیت (۴۳) کښې فرمایلی دی : ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوْسَى الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِ مَا اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَائِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً﴾.

او مونږ د تير شوي قومونو د هلاكولو نه روستو موسىٰ ته كتاب (تورات) وركړو چه د خلقو دپاره د نصيحتونو مجموعه او د هدايت ذريعه او د الله رحمت وو.

وَّتَفۡصِيۡلًا لِّكُلِّ شَىۡءٍ : دے ته كُل عرفي وائي يعني كوم شي ته چه د بني اسرائيلو ضرورت وو هغه ټول په كښې په تفصيل سره ذكر شوي وو.

پدے كښې تفصيل د اجناسو وو لكه الله او مخلوق، دنيا او آخرت، آسمان او زمكه، حلال او حرام، دوست او دشمن، حق او باطل، ليل او نهار. او پدے معنىٰ باندے قرآن كريم هم تفصيل د هر شي دے.

يو بل قول دا دے چه دا تختئ موسىٰ عليه السلام ته د تورات نه مخكښې وركړے شوے وے. ابن كثيرؒ وائي : الله پدے خبره عالم دے، هر څنګه چه وي خو دا عوض وو د هغه رؤيت (ليدو) نه چه موسىٰ عليه السلام طلب كړے وو.

الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام ته حكم وكړو چه دا تختئ په دے عزم سره واخلي چه پدے كښې په موجودو احكامو باندے عمل وكړي او د نواهيو نه اجتناب وكړي، د رخصت په ځاى عزيمت او د نوافلو نه مخكښې د فرائضو اهتمام وكړي، او د غيرو په ضرر صبر وكړي او معافي وكړي. (ابن كثيرؒ)

فَخُذۡهَا بِقُوَّةٍ : اَىۡ بِجِدٍّ وَعَزِيۡمَةٍ وَحَزۡمٍ . يعني په كوشش او عزم او اهتمام سره دا واخله. ځكه چه د يو نوى امت تربيت كول دى چه هغوى د فرعون په ذلت اموخته شوي وو، نو د دوى سياست او تربيت ډير عزم او هوښيارتيا او قوت غواړي. (المنار)

يَاۡخُذُوۡا بِاَحۡسَنِهَا : دا اضافت بيانيه دے، يعني عمل دِے كوي په ډيرو ښائسته خبرو د تورات چه هغه ټول تورات دے يعني ټول احسن دے، صاحب المنارؒ وائي چه د احسن معنىٰ ده ذِى الۡحُسۡنِ التَّامِّ الۡكَامِلِ . يعني د كامل او پوره حُسن والا احكام. نو پدے كښې معنىٰ تفضيلي نشته. يا اشاره ده چه اَحۡسَن عزيمت، او حَسَن رخصت ته وائي.

سَاُورِيۡكُمۡ دَارَ الۡفٰسِقِيۡنَ : ١- حافظ ابن كثيرؒ او ابن جريرؒ ددے معنىٰ كوي يعني كوم خلق چه زما اَوَامِر تكراروي او زما د بندګئ نه اعراض كوي نو تاسو به نزدے وويني چه هلاكت او بربادي به د هغوي انجام وي، نو كه تاسو نافرماني وكړه نو دغه شان انجام ته به تاسو هم ورسيږئ. نو دا په محاوره باندے بناء دے لكه عرب په طريقه د تهديد او زورنے سره وائي (سَاُرِيۡكَ غَدًا مَا يَصِيۡرُ اِلَيۡهِ حَالُ مَنۡ خَالَفَنِىۡ) . زر دے چه زۀ به تا ته صبا وښايم چه څوك زما مخالفت كوي د هغه حال به څه ګرځي ؟.

۲- صاحب المنار ئے داسے تعبير كړيدے چه كه تاسو زما كتاب په قوت سره وانخستو او ددے د احكامو تابعداري مو ونكړه نو تاسو به د خپل رب نافرمان وګرځئ نو تاسو باندے به هغه عذاب نازل شي كوم چه په نافرمانه خلكو د قوم د فرعون باندے ئے نازل كړے وو كوم نه چه الله تعالىٰ تاسو راخلاص كړئ او تاسو سره ئے په هغوى باندے مدد وكړو۔ نو د فاسقين نه مراد قوم د فرعون دے۔ (المنار)

۳- بعض مفسرينو وئيلي دي چه د دار الفاسقين نه مراد د شام زمكه او بيت المقدس دے، د هغه ځاى وسيدونكي عمالقه د الله نافرمان شوى وو، نو الله تعالىٰ بني اسرائيلو سره وعده وكړه او زيرے ئے وركړو چه نزدے ده چه دوى به د هغه خلقو په علاقه قابض شي۔ نو د موسىٰ عليه السلام د وفات نه روستو د يوشع بن نون عليه السلام په قيادت كښې بني اسرائيلو د عمالقه ؤ سره جنګ وكړو او د هغوى په علاقو قابض شو۔

٤- بعض وائي : دار الفاسقين جهنم ته وائي يعني كه نافرماني مو وكړه نو جهنم به درته وښايم په قيامت كښې۔ راجح اول او دويم تفسير دے۔

مفسرين ليكي چه د آيت په دے جمله كښې بني اسرائيلو ته يو قسم تنبيه ده چه كه دوى په تورات كښې په موجودو احكامو او شرائعو عمل نكوى او دا شا ته ګوزار كړى نو دوى به هم فاسقان شى، او په دنيا كښې به ذليل او خوار شى، او په آخرت كښې به د دوى ځاى جهنم وى۔ او د تفسير د قاعدے مطابق دا حكم د هغه تمامو خلقو دپاره عام دے چه په هر دَور كښې د الله د احكامو او شرائعو نه اِعراض كوى او مخ اَړوى۔ او دا قانون الله د قرآن دپاره هم بيانوى۔

سَأَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْأَرْضِ
زردے چه ويه ګرځوم د آيتونو خپلو نه هغه كسان چه لوئي كوى په زمكه كښې
بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ
په ناحقه او كه ووينى دوى هره نخه (د حق) ايمان نۀ راوړى په هغے او كه ووينى لاره
الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ؕ ذٰلِكَ
د هدايت نۀ نيسى هغه لاره او كه ووينى دوى لاره د ګمراهئ نو نيسى هغه لاره، دا

بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٤٦﴾
پدے وجه چه دوی به دروغژن ګنړل آیتونه زمونږ او وو دوی د هغے نه بے پرواه۔
وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ
او هغه کسان چه دروغژن ئے کړل آیتونه زمونږ او ملاقات د آخرت، برباد شو
أَعْمَالُهُمْ ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٧﴾
عملونه د دوی، بدله نۀ ورکړے کیږی دوی ته مګر د هغے چه دوی ئے کوی۔

تفسیر: بل ئے ورته دا قانون بیان کړو (چه دا قانون د قرآن کریم دپاره هم دے) چه ما آیتونه راولیږل چه تورات دے (او اُوس قرآن دے) نو هر هغه انسان چه په هغه کښ تکبر وی نو هغه به زما د آیتونو نه فائده وانخلی، بلکه مُتَواضِعین (عاجزی کونکی) خلك به زما د کتاب نه فائده اخلی، او دا قاعده کلیه ده۔ نو د وحی نه به هغه شخص فائده وانخلی چه په هغه کښ تکبر وی۔ او علماؤ هغه نهه صفات ذکر کړیدی چه هغه د قرآن کریم د پوهے نه منع کونکی دی چه هغه سیوطیؒ په الاتقان (٢/٢٣٢) کښ او زرکشیؒ په البرهان (٢/١٨٠) کښ ذکر کړیدی۔ او زمونږ ((اصول التفسیر وعلوم القرآن)) وګوره۔

عَنْ اٰيٰتِيَ : د آیتونو نه دا اَرولو ډیر مصداقات دی او هغه ټول مراد دی :

(۱) قتادهؒ وائی : عَنْ فَهْمِ آيَاتِيْ)۔ د آیتونو د پوهے نه به ئے اَړوم۔

(۲) عَنِ الْإِيْمَانِ بِآيَاتِيْ۔ یعنی د ایمان توفیق به نۀ ورکوم۔

(۳) عَنِ النَّفْعِ بِآيَاتِيْ۔ (فتح القدیر للشوکانیؒ) یعنی زما د آیتونو نه به متکبر هیڅ فائده وانخلی، نۀ د ایمان، نۀ د عمل او نۀ د کوم حکمة معلومولو او دا ډیر جامع تعبیر دے۔

(٤) بعید تفسیر دا دے : (عَنِ الْإِعْتِرَاضِ بِآيَاتِيْ)۔

یعنی که متکبران زما په آیتونو اعتراض کوی نو زۀ به ئے ترے اړوم۔ (جصاصؒ)

او پدے کښ اشاره ده چه د حق او د خیر داعیانو رسولانو او د هغوی وارثانو چه کوم حق بیان کړیدے او انسانانو د هغے مخالفت کړیدے، نو اول سبب د هغے تکبر دے ځکه چه تکبر داسے یو صفت دے چه انسان د نظر او استدلال او په حق او هدایت کښ د سوچ کولو نه اَړوی، نو دوی همیشه د الله د آیتونو تکذیب کوی او د هغے نه غفلت اختیاروی لکه د بادشاهانو او غټانو او ګمراهانو مشرانو حال وګوره لکه فرعون او د هغه سرداران، او دغه

شان د قریشو سرکشانو سردارانو کښې تکبر وو، نو هغوی د الله په آیتونو (قرآن) کښې هیڅ سوچ ونکړو چه د هغې نه د الله وحدانیت او د رسول الله ﷺ صدق معلوم کړی، ددې وجه دا وه چه دوی کښې تکبر وو او تکبر پدې غرور کښې راوستی وو چه خپل ځانونه به ئې په هغهٔ باندې غوره ګڼړل چه مونږ سرداران، مشران، مالداره او قوی یو، نو مونږ سره دا لائق نهٔ دی چه د هغه چا پسې روان شو چه هغه زمونږ نه په عمر، قوت، مالدارئ او عصبیت کښې کم دی۔ او پدې وجه چه دا قانون ټولو روستنو خلکو ته شامل شی الله تعالیٰ دا په (سَاَصۡرِفُ) مضارع صیغه سره ذکر کړو۔ (المنار)

دغه شان یهود او نصاریٰ او هر کافر چه د قرآن نه محرومیږی نو د هغې وجه تکبر دے۔ اهل بدعو ته هدایت ولے نهٔ کیږی؟ ځکه چه تکبر پکښې دے، وائی چه زهٔ عالِم یم او شیخ یم او زهٔ په هر څه پوهه یم۔

بِغَيۡرِ الۡحَقِّ : دا صله د تکبر ده یعنی ناحقه تکبر کوی، او کله تکبر په حق سره وی لکه د باطل پرستو نه ځان لوی ګڼړل، یا د جبارینو اِهانت کول او د مُحاربینو سپکاوے کول۔ نو دا قید احترازی شو۔ یا دا قید واقعی دے چه بیان د واقع کوی ځکه چه تکبر وی په ناحقه۔

یا معنیٰ دا ده : اَیۡ یَتَکَبَّرُوۡنَ حَالَةَ کَوۡنِهِمۡ مُتَلَبِّسِیۡنَ بِغَیۡرِ الۡحَقِّ اَیۡ مُنۡغَمِسِیۡنَ فِی الۡبَاطِلِ۔

یعنی تکبر کوی په داسې حال کښې چه مشتمل او انبنتی وی په ناحقه، یا ننوتی وی په باطل کښې ځکه تکبر کوی۔ نو ددې خلکو په زړونو کښې د حق هیڅ قیمت نشته نو نهٔ هغه طلب کوی او نهٔ د هغې تالاش کوی۔ (کله فی المنار)

وَاِنۡ یَّرَوۡا کُلَّ اٰیَةٍ : دا نبنه د تکبر ده۔

سَبِیۡلَ الرُّشۡدِ : اَیِ الصَّلَاحُ وَالۡاِسۡتِقَامَةُ۔ یعنی دې خلکو ته فساد او ګمراهی دومره ښائسته ښکاره شویده چه د هدایت او نیغې لارې نه نفرت کوی، نو که دوی د هدایت لاره ښکاره وینی نو هغه ځان دپاره لاره نهٔ جوړوی، چه هغه په خپل زړه طریقه باندې غوره کړی۔ دا ډیره غلطه طریقه ده، البته بعض خلك داسې وی چه په ګمراهئ باندې په ناپوهئ سره روان وی خو کله چه پوهه شی نو ځان د زړې لارې نه وباسی او د هدایت په لاره پسې روان شی۔

یَتَّخِذُوۡهُ سَبِیۡلًا : دا د ټولو باطل پرستو طریقه ده چه په کتابونو کښې ښې مسئلې ګوری نو هغه ترې نهٔ راخلی او عمل پرې نکوی او چه کله د دوی د باطل موافق خبره وی نو

هغه ترے راخلي او عمل پرے کوی۔
او ددے دواړو درجو ترمينځ بله درجه دا ده چه يو تن ته د نفس تزکيه او د بصيرت رڼړا نهٔ وی حاصله چه د هغے په وجه هغه د هدايت په لاره روان شی کله چه هغه ورته ښکاره شي، ځکه چه همت ئے کمزورے وی، ليکن گمراهي او فساد بد گڼړی نو ددهٔ فطرت بيمار وی او په بصيرت کښ ئے تيارهٔ وی نو پدے وجه هغه د جهالت په وجه د حق په لاره روان نشی۔ او کله چه بنده کښ دا حالات يا دا صفات راجمع شی نو دا هغه شخص دے چه الله دهٔ لره سره د علم نه گمراه کړيدے او ددهٔ په غوږونو او زړه ئے مهر وهلے دے نو ددهٔ دپاره د حق او هدايت هيڅ اسباب پاتی نهٔ دی۔ (المنار)
ذٰلِكَ : ۱ – اشاره ده صَرْفَ (اړولو) ته۔ يعنی دا د آيتونو نه اړول پدے وجه دی چه د دوی د تکذيب او غفلت په وجه په دوی کښ تکبر راغے او د تکبر په وجه الله تعالىٰ د خپلو آيتونو نه محرومه کړل۔ ۲ – يا دا کبر او عدم ايمان ته اشاره ده يعنی دا کبر کول او ايمان نهٔ راوړل د تکذيب او د غفلت په وجه پيدا شو۔ او دا دواړه خبرے واقع دی او په يو بل باندے مرتبی دی، نو اول دوی کښ غفلت راغلو بيا ئے تکذيب وکړو بيا د ايمان نه محرومه شو۔
او پدے کښ اشاره ده چه د آيتونو نه اړول الله تعالىٰ په دوی کښ طبعاً نهٔ وو پيدا کړی او نهٔ پرے الله زور کړے وو بلکه دا دوی په خپل اختيار سره غوره کړے وو۔
وَالَّذِيْنَ : اُوس تخويف بيانوی د منکرينو دپاره۔
وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ : د قرآن او د آخرت ژور تعلق دے پدے وجه ئے دلته هم جمع کړل، د آخرت په ملاقات کښ اشاره ده چه دوی نه د توبې اميد نشی کيدے ځکه چه دوی آخرت نهٔ مني۔
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ : يعنی که په حالت د تکذيب کښ بغير د توبې کولو نه مړ شی نو عملونه به ئے برباد شی۔ او د عملونو بربادېدل دا دی چه نهٔ به ورته دنيا کښ فائده ورکړی او نهٔ په آخرت کښ۔ او دا سزا الله ولے ورکوی ؟ وجه دا ده چه د انسان لويه سرمايه عمل دے چه پدے باندے کاميابی موقوف ده، نو هرکله چه عمل برباد شو نو پوره هلاکت راغے۔
پدے وجه الله تعالىٰ په قرآن کريم کښ د عملونو د بربادولو ډيره دهمکی ورکوی۔
أَعْمَالُهُمْ : ددے نه د دوی نيک عملونه مراد دی لکه صدقه، صله رحمی، او ښه اخلاق او نور عبادات۔

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا
او جوړ کړو قوم د موسیٰ روستو (د تللو) د هغهٔ نه د ګانړو د دوی نه سخے یوه جثه وه
لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ
چه هغے لره آواز وو، آیا نهٔ ګوری دوی چه یقیناً دے خبرے نشی کولے د دوی سره
وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤٨﴾
او نهٔ خودلے شی دوی ته سمه لار، ونیوو دوی سخے په الوهیت سره او وو دوی ظالمان۔

تفسیر: اُوس هغه حالت بیانوی چه کله موسیٰ علیه السلام طور ته تلے وو نو خلکو څه وکړل؟ کله چه موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ د حکم مطابق د څلویښتو ورځو دپاره د طور غر ته لاړو نو شیطان بنی اسرائیلو لره په شرك کښې مبتلا کړل۔ معلومیږی چه دوی په مصر کښې د غلامئ په دور کښې د غیر الله د عبادت او د شرکی اعمالو سره داسے عادت شوی وو چه د فرعون نه د نجات موندلو نه روستو هم چه څه موقعه به راتله، نو فوراً به ئے شرك طرف ته منډه وهله، کله چه دوی د سینا په طرف راتلل او په لاره کښې ئے یو بت پرست قوم ولیدو نو د موسیٰ علیه السلام نه ئے مطالبه وکړه چه زمونږ دپاره هم یو معبود جوړ کړه۔

او کله چه موسیٰ علیه السلام په طور غر کښې د الله تعالیٰ سره خبرے وکړے نو د شیطان په وسوسه کښې راغلل او د هغه سخی عبادت ئے شروع کړو کوم چه سامری (د بنی اسرائیلو یو فرد) د قبطیانو د زیوراتو نه د هغوی دپاره جوړ کړے وو۔ دا زیورات بنی اسرائیلو سره عاریةً راغلی وو، لیکن د قبطیانو د هلاك کیدو نه روستو ددے مالکان جوړ شو۔

سامری په هغه سخی کښې هغه خاوره واچوله کومه چه د جبریل علیه السلام د اَس د خپے لاندے نه هغه راخستے وه، چه د هغے په وجه به د هغهٔ نه د غوا آواز وتلو۔ او دا امتحان وو په بنی اسرائیلو او په سامری باندے چه داسے ناشنا کارنامه ئے د لاس نه صادره شوه، نو سامری دوی لره دهوکه کړل او ورے وئیل چه همدا زمونږ معبود دے چه دهٔ مونږ ته د فرعون نه نجات راکړو۔ ټولو د هغه خبره ومنله سویٰ د لږ کسانو نه، او د هارون علیه السلام د ډیرو پو هولو باوجود د هغه سخی عبادت ئے شروع کړو۔

(ددے نه معلومه شوه چه د چا د الله تعالیٰ سره صحیح تعلق نهٔ وی او هغه ئے صحیح نهٔ وی پیژندلے، نو د هغه سره به دغه شان کار کیږی چه د خلکو د دهوکو او د فتنو ښکار

کیږي به، ددې وجه نه د مسلمان دپاره بصیرت پکار دې چه معبود او غیر معبود جدا جدا صفاتو سره وپیژني، بني اسرائیل د سخي په آواز دهوکه شو او دې ته ئې اله وئیل شروع کړل، دارنګه الله تعالیٰ او قبر، محمد رسول الله ﷺ او یو عَالِم، جدا جدا پیژندل پکار دي، ورنه انسان به دغه شان ګمراه کیږي او د هرې فتنې ښکار کیږي به).

او پدې کښې د مکې په مشرکانو هم ردونه دي چه د الله تعالیٰ پیغمبران بتان ماتوي او هغه دریاب ته ګوزاري او په شرك باندې غصه کوي او تاسو لګیا یئ شرکونه کوئ.

الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته ددې بت پرستۍ خبر د طور په غر کښې ورکړې وو. کله چه د مودې پوره کیدو نه روستو واپس راغلو نو په غصه کښې ئې د الله د طرف نه ورکړې شوې تختۍ په زمکه کیخودې او د هارون علیه السلام د سر ویښته ئې ونیول او ځان ته ئې راخکل او هغه ته ئې زجر او توبیخ ورکړو چه ستا په موجودګۍ کښې داسې ولې وشو ؟ نو هغوی خپله مجبوري وخودله چه د هغه د ډیر کوشش باوجود بني اسرائیل خلق په شرك کلك ولاړ وو، بلکه د هغوی د سرکشۍ حالت دا وو چه نزدې وه چه تولو په شریکه زهٔ وژلې وې. ددې آیتِ کریمه نه مسلسل شپږو آیتونو پورې د بني اسرائیلو همدا ګمراهي بیان شویده.

نو موسیٰ علیه السلام چه کله دوی ته خطاب وکړو چه تاسو دا کار ولې کړیدې؟ نو هغوی سامرې وخودلو چه مونږ دهٔ ګمراه کړو. نو موسیٰ علیه السلام دوی ته غصه وکړه او د الله وحدانیت ئې ورته ښکاره بیان کړو، نو په هغوی کښې اکثرو خلکو توبه ویستله او لږ کسان د منافقت په طریقه په شرك باندې پټ پاتې شو چه په ظاهره کښې ئې توبه وبستله. نو د هغوی حال په روستو رکوع کښې راځي (اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ) دوی هغه خلك دي چه توبه ئې نهٔ ده ویستلې او پدې رکوع کښې د توبه ویستونکو حال بیانیږي.

عِجْلًا : د غوا او میخې بچی ته عِجل وائی.

جَسَدًا : یعني یو جُثه وه. جسد په اصل کښې د انسان د بدن دپاره استعمالیږي.

لَّهٗ خُوَارٌ : حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : چه د مفسرینو پدې کښې اختلاف دې چه آیا دا سخې عوښه او وینه ګرځیدلې وه چه آواز ئې کولو، یا دا چه همغه سرهٔ زر وو (اِلَّا اَنَّهٗ يَدْخُلُ الْهَوَاءُ فَيُصَوِّتُ كَالْبَقَرِ) چه هواء به په هغه کښې د شا نه داخلیده او د غوا په شان آوازا به ئې کولو.

ابن جریرؒ وائی چه په دُبر کښې به ورته هوا ننوته او په خوله به ترې وتله نو پدې سره به ترې یو آواز وتلو (لکه بوتل کښې چه خلك شنګه آواز کوی)

مګر راجح دا ده چه د غوا په شان آواز به ئې کولو او دا امتحان وو په بني اسرائیلو باندې

او داسې امتحانات کله نا کله په کمزورو عقیدو والو باندې راځي چه د قبر خوا ته ورشي نو د قبر نه ورته شیطان آواز وکړي، او کله نا کله ئې حاجت هم الله پوره کړي نو دې وائي چه بابا بنه کرم۔

اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا : د بنی اسرائیلو په سترګو د جهالت او ګمراهۍ پټۍ تړلې شوې وې ځکه خو دوی ته ددې سوچ توفیق نۀ وو ورکړې شوې چه دا سخې نۀ د دوی سره خبرې کوی او نۀ کوم خیر طرف ته د دوی لارخودنه کوی، بیا د زمکې او د آسمان د پیدا کونکی په ځای هغه د دوی څنګه معبوډ کیږی ؟۔

لَا يُكَلِّمُهُمْ : دا دلیل دې چه رب هغه ذات ته وائی چه د خبرو والا به وی ځکه چه خبرې کمال دې۔ نو کوم متکلمین چه د الله کلام لفظی نۀ منی نو دوی د الله ډیره بې ادبی کوی او د الله تشبیه د یو جماد (بې ساه شی) سره ورکوی چه خبرې اترې نشی کولې۔

اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ : یعنی دوی چه دا سخې په بندګۍ نیولې وو نو دا څه د دلیل یا د مشابه د دلیل د وجه نه نۀ وو بلکه تقلید وو چه دوی مصریان د (اَبِیْس) سخی په عبادت لیدلی وو، او یو قوم ئې په لاره کښې لیدلې وو۔ او دوی ظلم کونکی وو پدې نیولو د سخی په جهالت او تقلید سره چه دې ورته ضرر ورکړو او فائده ئې ورنکړه۔ (المنار)

وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ قَدْ
او هرکله چه وغورزولې شو د دوی په مخکښې او پوهه شو دوی چه بیشکه
ضَلُّوْا قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا
دوی ګمراه شویدی، نو ووئیل دوی که چرې رحم ونکړو په مونږ باندې رب زمونږ
وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿١٤٩﴾
او بخنه ئې ونکړه مونږ ته خامخا شو به مونږ د تاوانیانونه۔

تفسیر : د موسیٰ علیه السلام د نوی کوشش نه روستو کله چه بنی اسرائیل په خپله ګمراهۍ پوهه شو او په غلطۍ پښیمانه شو نو دوی د الله نه د رحم او بخنې دعا وکړه۔

سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ : لفظی معنیٰ ئې ده : (ګوزار کړې شو په لاسونو د دوی کښې) او په عربۍ کښې دا کنایه وی د سخت ندامت (پښیمانتیا) نه۔ زجاج وائی : (وَلَمَّا سَقَطَ النَّدَمُ فِيْ

قُلُوبِهِمْ) هرکله چه پښیمانتیا د دوی په زړونو کښې پریوته)۔ دا تفسیر باللازم دے۔
او کومو علماؤ چه ضمیر سخی ته راجع کړیدے او داسے معنیٰ ئے کړیده چه هرکله چه سخے د دوی مخامخ دریاب ته گوزار کړے شو۔ نو دا بعیده ده۔
لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا : دا دعاء آدم علیه السلام هم کړے وه، چه قبوله شوے وه۔

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۙ قَالَ
او هرکله چه راواپس شو موسیٰ (علیه السلام) قوم خپل ته چه غصه وو، غمژن وو، وے وئیل
بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِنْ بَعْدِي ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ
بد دے هغه کار چه کړیدے تاسو روستو زما نه آیا جلتی وکړه تاسو د وعدے
رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ
درب ستاسو نه، او په جلتیٔ ئے کیخودے تختے د تورات او وے نیولو سر د ورور خپل
يَجُرُّهُ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي
راخکلو ئے ځانته، ووئیل (هارون علیه السلام) اے د مور ځویه! یقیناً دے قوم کمزورے گنړلے وو ما لره
وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي صلے فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ وَلَا تَجْعَلْنِي
او نزدے وه چه وژلے ئے وے زهٔ، پس مهٔ خوشحالوه په ما باندے دشمنان او مهٔ گرځوه ما
مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي
د قوم ظالمانو سره۔ ووئیل (موسیٰ علیه السلام) اے ربه زما بخنه وکړه ما ته او ورور زما ته
وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ صلے وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾
او داخل کړه مونږ په رحمت خپل کښې او تهٔ ډیر رحم کونکے ئے د رحم کونکو نه۔

تفسیر : دا واقعه مخکښې وه لیکن د شرك د بدیٔ او د بد عاقبت خودلو د وجه نه ئے د هغوی پښیمانتیا مخکښې کړه چه شرك هغه شے دے چه انسان به پرے پښیمانه کیږی۔
موسیٰ علیه السلام د طور غر د واپسیٔ نه روستو ولیدل چه د څه کسانو نه سوی تول بنی اسرائیل د سخی نه گیر چاپیره راجمع دی او د هغے په عبادت کښې لگیا دی، نو خپل ورور هارون علیه السلام او نورو مؤمنانو ته ئے ووئیل چه تاسو زما ډیر خراب نیابت کړیدے، څلوبښتو

ورځو پورې هم په نيغه لاره قائم پاتې نشوئ او بت پرستی مو شروع کړه. او د الله او د هغه د دين د خاطره په غصه کښې ئې تختئ په زمکه واچولې، وائي چه دغه تختئ د کاڼړی وې، ماتې شوې، هغه دا گمان وکړو چه د هارون ﷺ نـه کوتاهي شويده، پدې وجه ئې د هغه سر وبښتـه راونيول او رائې خکلو. لیکن کله چه دوی خپل عذر پیش کړو چه ما خو پوره کوشش کړې چه دوی په نيغه لاره راولم ليکن دوی زما خبره نۀ آوريده او د سخی عبادت ئې شروع کړو۔

اَسِفًا : یعنی د غم نه ډك وو۔ اَسَف : شِدَّةُ الْحُزْنِ وَالْغَضَب (سخت غم او غصې) ته وائي۔ يعنی سخت غصه او سخت غمژن وو۔ نو (اَسِفًا) تاکيد د غَضْبَانَ دے۔ يا غضبان وو وروړ ته او غمژن وو په کار د قوم باندے۔

خَلَفْتُمُوْنِيْ : تاسو کړيدې روستو زما نه۔ يعنی زما نائبان شوی يئ روستو زما نه۔

اَمْرَ رَبِّكُمْ : ١- د امر نه مراد د الله عذاب دے۔ ځکه چه شرك سره عذابونه راځي۔

٢- ظاهر دا ده چه دوی تـه د الله امـر دا وو چـه تـاسـو بـه انـتـظـار کـوئ ترڅو چه تاسو ته موسیٰ ﷺ نۀ وی راواپس شوے او کتاب ئې نۀ وی راوړے۔ وهو الراجح۔

٣- يا د امـر نه مراد کار دے چه هغه وعده د څلويښتو ورځو وه، الله دوی سره وعده کړې وه د موسیٰ ﷺ په ژبه۔

يعنی تاسو جلتی وکړه د وعدې د خپل رب نه يا تاسو جلتی وکړه د حکم د خپل رب نه شرك تـه۔ يـعـنـی د الله حـکـم لا راغلے نۀ دے دوی د مخکښې نه د ځان نه دين جوړ کړو او د سامري گـمـراه پسې روان شو، لـکـه دا د اهل بدعو طريقه ده چه د قرآن او حديث تپوس نکوی خو د مخکښې نه د ځان نه دين جوړوی۔

وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ : دلتـه امام رازیؒ ليکلی دی چه موسیٰ ﷺ دا تـختـې پـه جلتئ سره کيخودې د غـصې د وجـه نـه او د غـورزولـو معنیٰ نۀ ده او ماتې شوې نۀ وې لکه په سورة يوسف آيت (٩٦) کښې دی ﴿اَلْقَاهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا﴾ قـمـيـص ئې په مخ د يعقوب ﷺ واچـولو۔ مطلب ئې دا دے چه گوزارول او يـا د تورات تختئ ماتيدل خو بی ادبی ده او دا د د نبی د شان سره نۀ بنائی۔

ليکن صحيح دا ده چه په صحيح حديث کښې راغلی دی، رسول الله ﷺ فرمائی :

[لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ، اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى اَخْبَرَ مُوْسٰى بِمَا صَنَعَ قَوْمُهٗ فِي الْعِجْلِ فَلَمْ يُلْقِ الْاَلْوَاحَ فَلَمَّا عَايَنَ مَا صَنَعُوْا اَلْقَى الْاَلْوَاحَ فَانْكَسَرَتْ]۔ (صحيح الجامع : ٥٣٧٤ ومسند احمد)

خبر د لیدو په شان نهٔ وی کله چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته د قوم د شرك خبر ورکړو نو تختے ترے ګوزار نشوے (صرف غصه شو او زړه کښې ئے خفګان راغلو او کله چه دلته راغے) او بنی اسرائیل ئے په عملی شرك ولیدل (نو سم غصه شو او (په اصطلاح) بلډ پریشر ئے وختو نو د ډیرے غصے نه په ځان پوهه نشو) او تورات ئے ګوزار کړو نو هغه تختے (بعضے) ماتے شوے، آه۔ نو موسیٰ علیه السلام پدے باندے نهٔ دے ګناهګار شوے بلکه دا د الله دپاره غصه ده پدے وجه خپل ورور چه نبی دے هغه ئے هم وهلے دے، او د نبی وهل خو ګناه وی لیکن دے پرے نهٔ دے ګنهګار شوے ځکه چه دا هر څه د الله دپاره وو۔ لکه په سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه کښې دا قسم جلالی خوئی وو، د حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه په باره کښې ئے ووئیل (دَعْنِیْ أَضْرِبُ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ) ما پریده چه ددے منافق څټ ووهم۔ حال دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو چه دا مؤمن دے څه ورته مهٔ وایئ او هغه ورته منافق وائی، دا د جلال د وجے نه۔ یعنی عمر فاروق رضی الله عنه په دومره جلال کښې وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره ئے وانهٔ وریده) او دے قول ته علامه قاسمیؒ په محاسن التاویل کښې ترجیح ورکړیده۔

او علامه ابن عاشورؒ وائی چه قرآن کریم د اِلقاء (ګوزارولو) لفظ د همدے نکتے او عبرت دپاره ذکر کړو چه بنی اسرائیلو ته وښائی چه ستاسو د شرك په وجه موسیٰ علیه السلام دومره غصه شوے وو چه د هغه نه د تورات تختے وغورزیدے نو دا فعل د دوی ډیر فظیع او ګبراهټ والا او شنیع (ناکاره) وو۔ (التحریر والتنویر ۸/۲۹۷)

صاحب المنار وائی چه دلته اِلقاء په خپله معنیٰ ده او اِلقاء په خپله معنیٰ سره لغةً او عادةً د اهانت معنیٰ نهٔ ورکوی لکه موسیٰ علیه السلام خپله امسا د حجت قائمولو دپاره ګوزار کړه، اهانت به هله وی چه ددے قصد او اراده وکړی او دا د نبی نه قطعاً ممتنع دی، آه۔

اِبْنَ اُمَّ : دائے د مور او پلار دواړو نه ورور وو لیکن مور ئے د شفقت په وجه ذکر کړه یعنی د مور په بچی رحم وی نو ته هم په ما باندے رحم وکړه۔

اسْتَضْعَفُوْنِیْ : یعنی دے خلکو زهٔ ضعیف وګڼړلم، ځکه بنی اسرائیل د موسیٰ علیه السلام نه د هغه د تیز خوئی د وجه نه یریدل۔

وَ كَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِیْ : دا دلیل دے چه هارون علیه السلام دوی لره ښه منع کړی وو تردے چه د هغه د قتل اراده ئے وکړه۔

فَلَا تُشْمِتْ بِیَ الْاَعْدَاءَ : شماتة : د دشمن په بد حالئ باندے خوشحالی کولو ته وائی او دا اشاره ده چه د موحدینو په خپل مینځ کښې اختلاف د مشرکانو او مخالفینو د

خوشحالئ سبب گرځي نو پدے وجه دا اختلاف حرام دے۔ (احسن الکلام)

قَالَ رَبِّ اغْفِرْلِيْ : کله چه هغه ته د هارون ﷺ د براء ت یقین وشو نو د الله نه د خپل ځان او د خپل ورور دپاره ئے د بخنے دعا وکړه۔

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ
یقیناً هغه کسان چه نیولے ئے دے سخے (معبود) زر دے چه ویه رسی دوی ته غضب
مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي
د طرف د رب د دوی نه په ژوند دنیوی کښې، او دغسے بدله ورکوو مونږ
الْمُفْتَرِيْنَ ﴿١٥٢﴾ وَالَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْ بَعْدِهَا
دروغ جوړونکو ته۔ او هغه کسان چه کړی ئے دی بدیانے بیا توبه وباسی روستو د هغے نه
وَاٰمَنُوْٓا ز اِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٥٣﴾
او ایمان راوړی یقیناً رب ستا روستو ددے نه خامخا بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : پدے کښې د هغه بنی اسرائیلو حال دے چه شرك ئے کړیدے او توبه ئے نۀ ده ویستلے بلکه منافقت ئے کړیدے۔ یعني کومو خلکو چه د سخی عبادت کړے، هغوی د الله د غضب نه نشي بچ کیدے۔ نو الله تعالیٰ د هغوی دا توبه مقرر کړه چه د دوی موحدین به د سخی عبادت کونکی قتل کوی لکه چه په سورة بقره کښې راغلي دی او په دنیاوی ژوند کښې به ذلت او رسوائی هیڅکله دوی نۀ پریدی۔

اتَّخَذُوا الْعِجْلَ : دے سره دا مراد دے (وَلَمْ يَتُوْبُوْا) او توبه ئے نۀ ده ویستلے۔ او پدے کښې هغه اولاد د بنی اسرائیلو هم داخل دی چه پدے عمل باندے راضی دی۔

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا : دا د دواړو سره متعلق دے۔ (مهایمیؒ)

او د الله غضب دا دے چه بنده ته د تکلیف رسولو او د سزا ورکولو اراده وکړی په دنیا او په آخرت کښې، یا په یو د دواړو کښې۔ او د ذلت معنیٰ دا ده چه دوی به د خلکو نه مغلوبه کیږی چه دشمنان به پرے مسلط کیږی، یا به ئے بزدله کوی چه هر وخت به د شمنانو نه یریږی اګرکه په دوی مسلط شوی نۀ وی۔ یا د ذلت نه مراد دا دے چه دوی به همیشه د سفر د ژوند سره اخته وی لکه دوی همیشه دپاره د ارض مقدسه نه محروم وو نو په ټول ژوند

کښې دوی بې وطنه وو تردې چه دغه ډله تړوله ختمه شوه. او دا دنیاوی سزا وه. (التحریر)
وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُفْتَرِيْنَ : په الله دروغ جوړونکو کښې هر مشرك، هر کافر، هر وضاع (ځان نه حدیث جوړونکے)، هر بدعتی داخل دے. ابو قلابه وائی : [هِيَ وَاللّٰهِ جَزَاءُ كُلِّ مُفْتَرٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ] قسم په الله ! دا تر قیامته پورے د هر مفتری (دروغ جوړونکی) سزا ده.
(قرطبیؒ والبغویؒ)
سفیان بن عُیینهؒ وائی : كُلُّ صَاحِبِ بِدْعَةٍ ذَلِيْلٌ.
هر بدعتی ذلیل دے. ځکه چه دا مفتری دے.
امام مالك فرمائی : مَا مِنْ مُبْتَدِعٍ اِلَّا وَتَجِدُ فَوْقَ رَأْسِهٖ ذِلَّةً] نشته یو بدعتی مگر ته به د هغه د سر دپاسه ذلت مونده کوے، بیا ئے دا آیت ولوستو. (القرطبیؒ)
وَالَّذِيْنَ : پدے کښې ترغیب دے توبې ته. او اشاره ده چه بنی اسرائیلو کښې دوه ډلے وے، او دلته هم اشاره ده چه چا شرك او كفر كړے وی، بیا ئے توبه وېستله او ایمان او عمل صالح ئے وکړو نو الله بخښنه کونکے دے. او که په خپل حالت باندے پاتے شو نو الله ئے نهٔ معاف کوی.

وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْاَلْوَاحَ ج صلے
او هرکله چه په آرام شوه د موسیٰ (علیه السلام) نه غصه، راوائے خستلے تختے،
وَفِيْ نُسْخَتِهَا هُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ
او په لیکلے شوی د هغے کښې هدایت وو او رحمت وو دپاره د هغه کسانو
هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿١٥٤﴾
چه هغوی د رب خپل نه یره کوی.

تفسیر: د موسیٰ علیه السلام غصه چه کله سړهٔ (په آرام) شوه او هغه ته خیال راغلو چه په حالت د غصه کښې دوی د الله د طرف نه ورکړے شوے تختۓ په زمکه گوزار کړے وے نو هغه ئے فوراً راپورته کړے ځکه چه هغه خو د الله نه یریدونکو خلقو دپاره د هدایت او رحمت چینه وه.
سَكَتَ : سکوت په معنیٰ د سکون (آرام) سره دے. او د کلام پریخودلو معنیٰ دلته نهٔ

ده مراد.

اَخَذَ الۡاَلۡوَاحَ : امام رازیؒ وائی چه دا دلیل دے چه تختیٔ نهٔ وے ماتے شوے مگر دا د حدیث خلاف تفسیر دے، که تختیٔ دوه ځای شی هم راخستل ئے کیدے شی، او که هرڅنګه ماتے شی نو راخستل ئے پکار دی، او دا تختیٔ خو ذره ذره شوے نهٔ وے چه راخستل ئے ممکن نهٔ وی.

وَفِيۡ نُسۡخَتِهَا : یعنی ددے په لیکلے شوی مضمون کښې هدایت او رحمت وو. دا داسے دے لکه ذٰلِكَ الۡكِتٰبُ لَارَيۡبَ فِيۡهِ هُدًى لِّلۡمُتَّقِيۡنَ. او نُسۡخَتِهَا کښې اشاره ده چه موسیٰ علیه السلام ته تورات په یو ځل (په تختو) کښې ورکړے شوے وو.

نسخه : لیکلے شوی کتاب ته وائی. او دا معنیٰ بعیده ده چه هرکله تختیٔ ماتے شوے نو ددے نه ئے بله نسخه تیاره کړه او هغه دلته مراد ده.

يَرۡهَبُوۡنَ : کښې اشاره ده چه رهبت (یعنی یره) د الله د کتاب نه د فائدے اخستو سبب دے.

وَاخۡتَارَ مُوۡسٰى قَوۡمَهٗ سَبۡعِيۡنَ رَجُلًا لِّمِيۡقَاتِنَا ۚ
او غوره کړل موسیٰ (علیه السلام) د قوم خپل نه اویا سړی دپاره د وخت مقرر زمونږ
فَلَمَّآ اَخَذَتۡهُمُ الرَّجۡفَةُ قَالَ رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ
نو هرکله چه ونیول دوی لره زلزلے، ووئیل هغهٔ اے ربه زما ! که تا غوختے
اَهۡلَكۡتَهُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ وَاِيَّاىَ ؕ اَتُهۡلِكُنَا بِمَا
نو هلاك کړی به دے وے دوی مخکښې ددینه او ما لره آیا هلاکوے تهٔ مونږ لره په هغه کار
فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنۡ هِىَ اِلَّا فِتۡنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا
چه کړیدے کم عقلانو زمونږ نه، نهٔ دے دا مگر امتحان دے ستا، گمراهِ کوے تهٔ پدے سره
مَنۡ تَشَآءُ وَتَهۡدِىۡ مَنۡ تَشَآءُ ؕ اَنۡتَ وَلِيُّنَا فَاغۡفِرۡ
چا له چه وغواړے او هدایت کوے چا له چه وغواړے، تهٔ مددګار ئے زمونږ نو بخنه وکړه
لَنَا وَارۡحَمۡنَا وَاَنۡتَ خَيۡرُ الۡغٰفِرِيۡنَ ﴿۱۵۵﴾
مونږ ته او رحم وکړه په مونږ او تهٔ ډیر غوره ئے د بخنه کونکو نه.

تفسیر : ددې ځای نه ددې واقعې بل مقام او حال دې۔ موسیٰ علیه السلام چه کله قوم ته
ووئیل چه تاسو ګناه کړیده الله ته توبه وباسئ نو هغوی توبه ویستله او څه نا څه قتلونه
پکښ وشو او خلك د شرك نه راواپس شو، نو د توبې د اتمام دپاره موسیٰ علیه السلام دوی ته د الله
په حکم ووئیل چه تاسو اویا (۷۰) کسان مشران کومو چه شرك نۀ دې کړې ما سره طور
ته لاړ شئ او هلته الله تعالیٰ ته توبه وباسئ او پدې کښ دوه مقصده وو یو دا چه د خپل
قوم دپاره کومو چه شرك کړیدې د الله نه استغفار وغواړئ چه زمونږ قوم معاف کړه۔
او دویم مقصد دا وو چه دې اویا کسانو هم یو قسم ګناه کړې وه چه دوی د نهی عن
المنکر نه غلی پاتې شوی وو، ځکه چه دلته شرك کیږی او دلته قولو او شملو والا ملیان
او مشران او بزرګان موجود دی او څه ورته نۀ وائی او پدې خفه کیږی هم نۀ چه زمونږ
عوام شرك کوی، که دا اویا کسان په غصه شوی وې نو ډیره فضاء به برابره شوې وې، کله
چه مشران کشرانو ته غصه نکوی، نو معاشره به داسې خرابه وی لکه د بنی اسرائیلو او
زمونږ ددې آخری زمانې معاشره واخله، کیبل او وی سی آر، او فلمونو باندې به کشرانو
ته غصه نکوی، ډیره ښه به داسې معاشره سمه شی؟!۔ او پدې بنی اسرائیلو کښ هغه ډله
هم هلاکه شوه چه د مهیانو د ښکار نه ئې خلك نۀ منع کول لکه لړ روستو به راشی۔
لیکن دوی چه کله طور ته لاړل نو هلته ئې نور فساد وکړو۔

وَاخْتَارَ مُوسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا :

سوال دا دې چه اِخْتَارَ یو مفعول ته متعدی کیږی او دلته دوه مفعولونو ته متعدی
شویدې؟ (۱) مشهور جواب دا دې چه قَوْمَهٗ منصوب بنزع الخافض دې اَیْ مِنْ قَوْمِهٖ ۔ نو
سبعین ئې مفعول دې۔ (۲) جواب : امام رازیؒ پدې کښ ښه وجه دا ذکر کړیده چه (قَوْمَهٗ)
مُبَیَّن دې او سبعین رجُلًا ئې عطف بیان دې او اصل عبارت داسې وو : (وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ
لِمِيْقَاتِنَا سَبْعِيْنَ رَجُلًا) (یعنی غوره کړو موسیٰ علیه السلام خپل قوم زمونږ د وخت مقرر دپاره چه
دغه قوم اویا کسان وو)۔ او د قوم نه مراد هغه خلك دی چه هغوی عبرت اخستې وو یعنی
دغه اویا کسان او هغوی ته ئې قوم ووئیل (اګرکه قوم کښ نور کسان هم شامل وو) ځکه
چه دغه لږ خلك پکښ اصل وو۔ نو د جنس اطلاق ئې په دغه اویا کسانو وکړو۔ (مفاتیح
الغیب والشربینیؒ)

فَلَمَّا اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ : کله چه دوی مقرر ځای ته ورسیدل نو پدې ټولو ناخاپی یوه
زلزله راغله او ټول په ټوله هلاك شو۔ او ددې زلزلې دوه سببه وو۔

يو سؤال الرؤية، (د الله د ليدو سوال) چه دوى وئيلى وو ﴿ لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً ﴾ يعنى هيڅرے مونږ ستا خبره نۀ منو ترڅو چه مونږ الله ښکاره وينو)۔ نو دے تناقض ته وګوره چه هلته توبى له تلى دى، مجرمان دى او بيا ځان بزرګان ګڼړى الله لره ښکاره ليدل غوارى او د الله بى ادبى كوى۔

دويم سبب : دوى ته په دغه ځاى كښې پدے وجه سزا وركړے شوه [سُكُوْتُهُمْ عَنْ عِبَادَةِ الْعِجْلِ] چه دوى د سخى د عبادت نه منع نۀ وه كړے او په هغے باندے غلى پاتى شوى وو لكه مخكښې بيان شو۔ (فتح البيان ونقله القرطبى عن ابن عباس ۲۹۵/۷)

نو موسىٰ عليه السلام په ژړا ژړا دعا وكړه چه اے الله ! كه تا غوختے نو دوى به دِے مخكښې هلاك كړى وے او زۀ به دِے هم ورسره هلاك كړے وے چه ددے لانجو نه بيغمه شوى وے (حَتّٰى لَا اَقَعَ فِىْ حَرَجٍ شَدِيْدٍ مَعَ بَنِىْٓ اِسْرَآئِيْلَ) (المنار) چه زۀ د بنى اسرائيلو سره په سخت حرج كښې واقع نشم۔ بنى اسرائيل به په ما اعتراض كوى چه دا كسان زمونږ مشران تا بوتلل او هلته دِے مړه كړل،

او بله دا چه د موسىٰ عليه السلام دے ته خيال نۀ وو چه دا كسان د نهى عن المنكر په پريخودو هلاك شو نو ځكه وائى چه دے كسانو خو شرك نۀ دے كړے بلكه هغه خو بيوقوفانو كړيدے كوم چه اكثر بنى اسرائيل وو، نو د هغوى په وجه باندے دا نيكان خلك تۀ ولے هلاك كوے۔ (بيا روستو ورته د سبب پته ولګيده)

او ددے ارمان خلاصه ئے دا ده چه اے الله ! چه بل ځاى كښې دِے زما نه جدا دوى هلاك نكړل نو زۀ ستا نه ستا په رحمت سره سوال كوم چه اُوس ئے هم مۀ هلاكوه چه په ما باندے تهمت رانشى۔ (المنار)

فَعَلَ السُّفَهَآءُ : دے نه مراد يا شرك دے چه بيوقوفانو كړے وو، او بعض علماء پكښې طلب د رؤية (د الله د ليدو طلب) هم داخلوى چه دا بعض كسانو كړے وو، نو ددے بعض جاهلانو په وجه دا ټول مۀ هلاكوه۔

او ددے نه دا فائده معلوميږى چه كله لږو كسانو بيوقوفانو ښكاره ګناهونه كول او ډيرو خلكو نۀ منع كول نو الله عمومى عذاب راولى، دا هله چه كله د دوى وس كيږى، او چه كله ئے بيخى په هيڅ طريقه وس نۀ كيږى نو بيا دوى د هغوى په ګناهونو نۀ رانيولے كيږى۔ او دے خبرے ته د هر چا ضرورت دے په شاګردانو، په خپل اهل وعيال او كشرانو كښې چه ددے لحاظ به ساتى، هسے نۀ چه د هغوى په وجه هلاك شى۔

او حافظ ابن القیمؒ په ((اغاثة اللهفان)) کښې وئیلي دي چه په دے جمله (رَبِّ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ) کښې ظاهر دا ده چه دا د موسیٰ علیه السلام د خپل رب نه استعطاف دے (یعنی د هغه رحم طلب کول دي) او هغه ته وسیله نیول دي په مخکښې عفوه د هغه باندے تردے چه د هغه قوم د سخې عبادت کولو او دوی په هغوی باندے انکار ونکړو۔

مطلب به دا راوځی چه مخکښې نه دوی کښې د دوی د هلاکولو سبب موجود وو او سره ددے نه چه تا دوی ته عفو او مغفرت وکړو او په هغه وخت کښې دِے هلاك نکړل (کوم وخت چه دوی نهی عن المنکر پریخے وو) نو نن ورځ هم خپله عفوه دوی ته فراخه کړه کومه چه مخکښې دوی ته فراخه شوے وه۔ او ددے مثال داسے دے چه یو مشر یو تن لره په یو جرم باندے ونیسی نو هغه ورته وائی چه که ستا خوښه وے تا به زهٔ ددے جرم نه په لوی جرم باندے نیولے وے لیکن اول کښې دِے معاف کړے یم نو اُوس مے هم معاف کړه۔ آه۔ (محاسن التاویل)

اِنۡ هِیَ اِلَّا فِتۡنَتُكَ : ۱- هِیَ ضمیر رَجۡفَه ته راجع دے، یعنی دا رجفه چه تا راوستله نو تهٔ په بندګانو ابتلاء کوے، ګرځ او کوږه خلکو ته ښکاره کوے۔

۲- یا دا ضمیر روستو فتنه ته راجع دے۔ یعنی همیشه امتحان صرف هُم تهٔ راولے او دا ستا عادت دے چه دا تا د خلکو د استعدادونو د راښکاره کولو دپاره سبب ګرځولے دے چه تهٔ پدے سره کرځ او کوږه خلکو ته ښکاره کوے او دے دپاره چه خبیث او طیب جدا کړے او په هغے باندے چه کوم ثواب او عقاب مرتب دے هغه خلکو ته ورکړے، نو پدے امتحان کښې ستا کمال دے، او پدے تقدیر کښې تهٔ په دوی باندے ظلم کونکے نهٔ ئے، بلکه ستا مشیت د عدل او فضل ترمینځ دائر دے، ستا اختیار چلیږی نو تهٔ زمونږ د کارونو ولی (متصرف) ئے۔ (المنار)

او پدے خبره کښې د موسیٰ علیه السلام غرض په الله باندے اعتراض او پره ور اړول نهٔ دی لکه بعض مفسرینو وئیلی دی چه موسیٰ علیه السلام ووئیل چه اے الله! دا سخے چا پیدا کړو؟ تا۔ پدے کښې آواز چا واچولو ؟ تا، بیا چه دے خلکو عبادت کولو نو دوی یو قسم معذور وو۔ دا قسم خبرے غلطے دی۔

او دا قول (اِنۡ هِیَ اِلَّا فِتۡنَتُكَ) موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ ددے قول نه اخستے وو چه الله ورته په طور کښې وئیلی وو ﴿اِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡ بَعۡدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِیُّ﴾ (طه:۸۵)۔ مونږ ستا قوم ستا نه روستو په امتحان کښې واچولو او هغوی لره سامری ګمراه کړل۔

تُضِلُّ بِهَا : په هر امتحان کښې دا کار کیږي چه بعض ګمراه شي، او بعض هدایت والا تردے چه حدیث کښې دي : که باران وشي نو هم څه کسان پرے مؤمنان شي او څه کافران۔

(بخاري : ٨٤٦) ومسلم : ١٤٣ وغيره)

وَلِيُّنَا : زمونږ دوست ئے۔ یا زمونږ د کارونو متصرف (واکدار) ئے۔

وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ : غوره د بخنه کونکو نه ځکه دے چه هر څو مره ګناهونه معاف کوي، او بیا درته هغه ګناهونه یادوي هم نه۔ حدیث قدسي کښې دي :

[يَا ابْنَ آدَمَ! لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوْبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِيْ وَرَجَوْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِيْ]

اے د آدم ځویه ! که ستا ګناهونه د آسمان وریځے ته ورسي بیا ته ما نه بخنه وغواړے او امید وساتے، زۀ به تا ته بخنه وکړم او هیڅ باك نکوم۔ (الترمذي ٣٥٤٠ بسند صحيح)

وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَآ
او ولیکۀ مونږ له په دے دنیا کښې ښۀ ژوند او په آخرت کښې (هم) یقیناً مونږ رجوع کړے
اِلَيْكَ ؕ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ
تا ته (په توبه) ووئیل الله، عذاب زما رسوم دا چا له چه وغواړم او رحمت زما فراخه دے هر
شَيْءٍ ؕ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ
شي ته نو زر دے چه لیکم به دا دپاره د هغه کسانو چه یریږي د الله نه او ورکوي زکاة
وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٥٦﴾ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ
او هغه کسان چه دوي په آیتونو زمونږ ایمان لري۔ هغه کسان دي چه تابعداري کوي
الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا
ددے رسول چه نبي دے امي دے هغه چه مونده کوي دوي ذکر د هغۀ لیکلے شوے
عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ ز يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهٰىهُمْ
د دوي سره په تورات او انجیل کښې، حکم کوي دوي ته په نیکئ او منع کوي دوي
عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ
د بدئ نه او حلالوي دوي ته پاك څیزونه او حراموي په دوي باندے ګنده څیزونه

وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَالۡأَغۡلَالَ الَّتِي كَانَتۡ
او لرې کوي د دوی نه بوجونه (درانۀ حکمونه) د دوی او سختې سزاګانې هغه چه وې
عَلَيۡهِمۡ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ
په دوی باندې پس هغه کسان چه ایمان ئې راوړې په دۀ او تعظیم ئې کړیدې
وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِيٓ
(یا مدافعت ئې کړیدې) ددۀ او مدد ئې کړیدې ددۀ او تابعداری ئې کړیده د رڼا هغې
أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُولَـٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٥٧﴾
چه نازل شویده ددۀ سره، دا کسان هم دوی کامیاب دي۔

تفسیر: موسیٰ علیه السلام دعاګانې وکړې نو الله تعالیٰ ددې آخری امت دپاره قبولې کړې۔خلاصه : مخکښې موسیٰ علیه السلام د بنی اسرائیلو د ګناهونو معافی وغوخته، او دې نه روستو د دنیا او د آخرت هر خیرئې وغوختو۔ الله تعالیٰ د دوی د دعا دا جواب ورکړو چه زۀ د ګناهګارانو نه چا له چه غواړم عذاب ورکوم او ددې په حکمت ما نه سویٰ څوك نۀ پوهیږي، او ددې بنیاد په عدل او انصاف وي، او چا له چه غواړم نو معاف کوم ئې۔ لیکن زما رحمت خو هر نیك او بد او تمامو مخلوقاتو دپاره عام دې۔ یعنی د الله په نیز اصل شې عذاب او غضب نۀ دې بلکه رحمت دې۔ د همدې حقیقت بیانولو دپاره الله تعالیٰ د عرش د پورته کونکو ملائکو په ژبه فرمائي : ﴿رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا﴾ چه (اې زمونږ ربه ! ستا رحمت هر شي ته شامل او ستا علم هر شې راګیر کړیدې)۔

امام احمدؒ، مسلمؒ او ابوداودؒ د جندب البَجَلی رضی الله عنه نه روایت کړیدې چه د الله تعالیٰ د رحمت سل حصې دي، ددې نه صرف د یوې حصې رحمت په ذریعه سره تمام مخلوق په خپل مینځ کښې په یو بل رحم کوي، او صحرائي څناور په خپلو بچو خیال ساتي، او نهه نوي حصې رحمت د قیامت ورځې ته روستو کړې شویدې۔ (مسلم: ۷۱۵۱)

حَسَنَةً : د حسنې نه مراد د نیك اعمالو توفیق دې، او عافیت او نعمت دې، یا علم نافع او رزق واسع او عمل صالح دې (السعدیؒ) او په آخرت کښې حسنه بخنه او جنت دې۔

هُدۡنَآ إِلَيۡكَ : یعنی مونږ تا ته رجوع کړیده، تاته مو توبه ویستلې ده۔

مَنْ اَشَآءُ : ددے نه معلوميږي چه عذاب د الله ځينو كسانو ته رسيږي، او رحمت ئے هر شي ته۔

وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ : په دنيا كښې د الله تعالىٰ رحمت هر شي ته عام دے، او ددے عام رحمت په وجه په دنيا كښې هر ساه والا ته روزي وركوي۔ په دنياوي نعمتونو كښې هر نيك او بد شريك دے۔ ليكن د آخرت نعمت چه هغے ته رحمتِ خاصه وئيلے شي هغه به صرف د الله د هغه بندګانو دپاره خاص وي چه پدے دنياوي ژوند كښې د ګناهونو نه ځان ساتي، زكاة وركوي او كوم خلق چه د الله په آيتونو ايمان لري او په هغے عمل كوي لكه چه الله تعالىٰ ددے سورت په آيت (۳۲) كښې فرمايلي دي : ﴿ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ چه (د دنيا ډول او حلال رزق به د مؤمنانو دپاره په دنيا كښې وي او په آخرت كښې به د دوي دپاره خاص وي)۔

فَسَاَكْتُبُهَا : هركله ئے چه وفرمايل چه زما رحمت هر شي ته عام دے، نو كافران هم په طمع شو چه مونږ ته به هم دا رحمت عام وي، نو الله ددے رحمت دپاره شرط بيان كړو چه دا به هغه چا ته ملاويږي چه په هغوي كښې د تقوىٰ او زكاة وركولو صفت وي۔

او پدے كښې د كلام رُخ هغه بني اسرائيلو ته راتاو شويدے چه د نبي كريم ﷺ په زمانه كښې وو، او دارنګه ددے امت صحابه كرامؓ ته هم چه د قيامت په ورځ د الله د خاص رحمت مونډونكو چه كوم شرائط د موسىٰ ؑ په زمانه كښې وو، همغه اُوس هم دي، ليكن د هغه تمامو شرائطو بنيادي شرط دا دے چه دوي به په نبي كريم ﷺ ايمان راوړي او د هغه اتباع به كوي او دا بني اسرائيل دهٔ لره ډير ښه پيژني، ځكه چه ددهٔ نوم او ددهٔ صفات په تورات او انجيل كښې بيان كړے شويدي۔

فائده : مفسرين ليكي : چه پدے آيت كښې بيان د اسبابو د رحمت د الله تعالىٰ دے چه هغه تقريباً شپيته اسباب دي دلته پكښې څلور ذكر دي۔ (۱) تقوىٰ (۲) زكاة وركول۔
(۳) د الله په ټولو آيتونو ايمان راوړل (چه هغه ټول احكام منزله دي چه په تورات، انجيل او قرآن كښې دي) (٤) اتباع د آخري رسول۔

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ: په مكي سورتونو كښې چه زكاة ذكر شي نو مراد ترے نه تزكيه د نفس وي مګر ظاهر دا ده چه زكاة په ټولو اَديانو كښې فرض دے، او په مكه كښې هم فرض وو مګر مقادير ئے په مدينه كښې بيان شو۔ او د زكاة تخصيص ئے ځكه وكړو چه يهودو كښې، او دارنګه د مكے مشركانو كښې د زړه سختي زياته وه، صحابه كرامؓ ته به ئے هيڅ نهٔ

ورکول۔
زکاة انسان ته وړوکے عمل ښکاری مګر دا د ډیرو ښو صفاتو نښه ده۔
اَلَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ : بیا یهود او نصاریٰ هم د الله د رحمت په طمع شو چه مونږ
کښې هم تقویٰ او زکاة ورکول شته نو الله بل شرط کیخودو چه د آخری رسول تابعداری به
کوی۔ پدے کښې اشاره ده چه کوم اهل کتاب او نور خلك چه د رسول الله ﷺ په زمانه
کښې موجود دی، او ددے آخری رسول تابعداری نهٔ کوی نو دوی ته به الله هیڅکله خپل
رحمت ورنکړی، نو پدے کښې د هغه زمانے په مشرکانو رد شو چه اے مشرکانو! د محمد
رسول الله ﷺ د تابعدارئ شرط الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو لګولے دے نو تاسو خو به ئے
خامخا کوئ، او حال دا چه تاسو ته دا نبی وړوکے ښکاری۔

د رسول او نبی فرق

اَلنَّبِیَّ : رسول هغے ته وائی چه کتاب ورسره وی او نبی عام دے۔ یا دا چه رسول د الله د
طرفنه وی او نبی هغه دے چه تعلق ئے د خلکو سره وی۔
اَلْاُمِّیَّ : دا صفت د رسول الله ﷺ په باره کښې د کمال صفت دے، اُمی منسوب دے اُم ته،
ځکه چه نبی ﷺ په لیکلو او لوستلو نهٔ پوهیدو۔ په هغه حالت پاتے وو څنګه چه د مور
نه نا خوانده پیدا شوے وو، او ددے معنیٰ دا هم ده (اَلَّذِیْ لَمْ یَحْصِلْ عِلْمًا مِنْ بَشَرٍ) (قاسمیؒ)
د هیڅ انسان نه ئے علم نهٔ دے حاصل کړے۔
او دا د نبی ﷺ دپاره یوه معجزه او د کامل فخر خبره وه چه د لیکلو او لوستلو باندے نهٔ
پوهیدو سره ئے قرآن کریم د الله د طرف نه د وحی په ذریعه حاصل کړو، او د هغه سینه د
علومو او حکمتونو نه ډکه شوے وه چه امت د هغه علمونو نه عاجز دے۔
یَجِدُوْنَهٗ مَکْتُوْبًا عِنْدَهُمْ : داسے ئے ونهٔ وئیل چه د هغه صفات مونده کوی بلکه بعینه
دا نبی په تورات او انجیل کښې لیکلے شوے پروت دے، دا ځکه چه ددهٔ ډیر زیات صفات
بیان شویدی که څوك هغه ولولی نو داسے به شی لکه چه بعینه رسول الله ﷺ ته ګوری۔
د نبی کریم ﷺ صفات په تمامو آسمانی کتابونو کښې بیان شوی وو، او ټولو انبیاء کرامو
علیهم السلام خپلو امتونو ته د نبی کریم ﷺ د بعثت زیرے ورکړے وو، او هغوی ته ئے د
نبی کریم ﷺ د اتباع حکم کړے وو۔ په تورات او انجیل کښې بالخصوص هغه صفات باقی
پاتے شویدی۔ او د دوی عالمانو ته دا ښه معلوم وو۔

کعب الاحبارؒ وغیره ددے خبرے تصدیق کړیدے چه د نبی کریم ﷺ کوم صفات په قرآن کریم کښې بیان شویدی، بعینه همدغه صفات په تورات کښې موجود وو، لکه چه تفسیر طبری او مسند احمد کښې د عطاء بن یسارؒ د روایت نه معلومیږی۔

په تیر شوی آسمانی کتابونو کښې د نبی کریم ﷺ دا صفت هم بیان شوے وو چه نبی ﷺ به د نیکئ حکم کوی، د بدئ نه به منع کوی او بنائسته او پاك څیزونه به د خلقو دپاره حلالوی، کوم چه مخکښې په دوی حرام وو، لکه وازدهٔ او څاروی چه مشرکانو به په ځان حرامول او د اخستو او خرڅولو او د تجارت هغه ټول قسمونه چه د حرام خورئ نه خالی وی۔ او نقصان ورکونکی څیزونه په دوی باندے حراموی لکه د خنزیر غوښه، سود او هغه تمام محرمات چه الله حرام کړیدی۔

ددے نه معلومیږی چه هر شے چه په مونږ باندے حرام دے، دے کښې به ضرور خباثت وی، او کوم چه حرام نهٔ وی هغه به په طیباتو کښې داخل وی۔

وَيُحِلُّ : د حل او حرمت نسبت ئے نبی کریم ﷺ ته وکړو ځکه چه هغه ئے بیانونکے دے۔

الطَّيِّبٰتِ : ددے نه مراد هغه څیزونه دی چه مشرکینو او یهود او نصاراؤ بغیر د دلیل نه په ځان باندے حرام کړی وو چه هغے ته تحریم د غیر الله وئیلے شی۔

وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ : د نبی ﷺ صفت به دا هم وی چه د هغه دین به آسان وی، لکه چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی : [بُعِثْتُ بِالْحَنِيْفِيَّةِ السَّمْحَةِ] چه (زهٔ د توحید په دعوت او آسان دین رالیږلے شوے یم))۔ (مسند احمد حدیث صحیح)۔

او کله چه نبی کریم ﷺ معاذ او ابوموسی اشعری رضی الله عنهما د اسلام د دعوت دپاره یمن ته لیږل نو وے فرمایل : [بَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا، يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا] چه تاسو دواړه به خلقو ته زیرے ورکوئ، د دین نه نفرت به نهٔ ورکوئ، هغوی دپاره آسانی پیدا کوئ او هغوی په سختئ او پریشانی کښې مهٔ اچوئ (بخاری : ٤٣٤٤)۔

د اصر او اغلال فرق

اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ : د دواړو فرق دا دے چه اِصر هغه ګناهونه دی چه بغیر د توبی نه نهٔ معاف کیږی، یا ددے نه مراد ګران ګران احکام دی۔ او اغلال نه مراد سختے سزاګانے دی په سبب د عملونو د دوی۔ یا سخت شرطونه او سختے وعدے او عهدونه دی۔

نو اسلام ډیر مشکل او تکلیف ورکونکی احکام منسوخ کړل کوم چه د موسیٰ علیه السلام په

دین کښې موجود وو لکه د نفس په بدله کښې نفس قتلول وو، (دیت یا معافي نۀ وه)، د خالي په ورځ کار کول حرام وو، په هر اُوم کال فصلونه کول حرام وو، که چا به والدین وهل یا به ئے ورته کنځل کول نو هغه به وژلے شو وغیره چه هغه د سورة البقرے په آخر کښې تیر شویدی. او اُوس کتاب مقدس (بائیبل) کښې د احکامو باب وګورئ چه څومره ګران دی.

دوی بانديے الله تعالیٰ ګران احکام ولے ایخودی وو؟ نو وجه دا وه چه پدے سره الله تعالیٰ د بعض بندګانو وقتی طور سره تربیت کولو دے دپاره چه د دوی استعداد یو درمیانه شریعت ته پوره شی کوم چه نرم او آسان شریعت دے چه په هغے باندے به خاتم الرسل محمد مصطفی ﷺ رالیږلے کیږی. (المنار)

فَالَّذِيْنَ : اُوس پدے کښې د محمد رسول الله ﷺ په امت باندے څلور حقونه بیانوی او څوك چه دا پوره کړی د هغوی دپاره زیږے د کامیابئ ورکوی.

وَعَزَّرُوْهُ : یعنی ددۀ توقیر او تعظیم وکړی کوم چه د هغه د شان سره لائق دے !که نوم به ئے په عزت اخلی، درود به پرے وائی، او ددے نه مراد د رسول الله ﷺ د دین حفاظت دے په رد کولو د مشرکانو او مبتدعینو سره.

وَنَصَرُوْهُ : په ژوند کښې د هغه مدد دا دے چه د هغه په ملګرتیا کښې په قتال او جهاد کولو سره به د هغه ددین دفاع کوی، او د هغه د دین اشاعت به کوی. نو څوك چه د رسول الله ﷺ د سنتو دفاع نکوی او په تقلیدونو سره ئے بربادوی، او څوك په احادیثو باندے ردونه کوی، او ددے په خلاف کتابونه لیکی نو په مونږ باندے واجب ده چه ددے رد او مقابله وکړو. دا نصرت په امت باندے واجب دے که دا څوك نۀ کوی جنت ته نۀ شی داخلیدے.

وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗ : مَعَه ضمیر نبی ته راجع دے نو مراد ترے اتباع د قرآن ده. یا (مَعَه) متعلق دے د (وَاتَّبَعُوْا) پورے نو بیا مراد دا دے چه تابعداری وکړی د هغه رڼا (قرآن) چه نازل شویدے په دۀ باندے سره د اتباع د نبی نه یعنی د قرآن او سنت دواړو تابعداری به کوی.

دلته قرآن کریم ته نور وئیلے شویدے ځکه چه ددۀ ټول عالَم رڼا کول پخپله ددۀ د الٰهی معجزه کیدو ښکاره دلیل دے، او پدے وجه هم چه دا به تر دنیا ختمیدو پورے د انسانانو دپاره د رڼا یوه مناره وی، او د ژوند په هر دور او هر حالت کښې به د دوی لارخودنه کوی.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا نِ الَّذِیْ لَهٗ
ووایه ! اے خلقو یقیناً زهٔ رسول د الله یم تاسو ټولو ته، هغه الله چه خاص هغهٔ له
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ
بادشاهي د آسمانونو او د زمکے ده، نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغه نه، ژوندی کول کوی
وَيُمِيْتُ ص فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِیْ
او مرهٔ کول کوی نو ایمان راوړئ په الله او په رسول د هغه چه نبی اُمی دے هغه
يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾
چه ایمان لری په الله او په کلمو د هغه او تابعداری وکړئ د هغه دپاره چه هدایت ومومئ۔

تفسیر : دلته استطراداً د رسول الله ﷺ عمومی نبی کیدل او د هغه فضائل بیانیږی۔ په مخکنو آیتونو کښ د موسیٰ علیه السلام مناقب او فضائل په ډیر تفصیل سره بیان شویدی، پدے وجه د چا په ذهن کښ دا خبره راتلے شی چه په انبیاء او رسولانو علیهم السلام کښ به د ټولو نه اعلیٰ مقام ددهٔ وی۔ پدے وجه الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ بنائسته تذکره چیړلے ده دے دپاره چه معلومه شی چه نبی کریم ﷺ په ټولو کښ افضل دے، او اُوس تر دنیا ختمیدو پورے به د ټولو انسانانو همدا هادی او رهبر وی۔ او په ضمنی توګه یهود او نصاراؤ ته خبر ورکړے شویدے چه اُوس تمام مخکنی دینونه منسوخ شو او هر څوك چه په آخرت کښ د جهنم د اُور نه نجات غواړی نو هغه دپاره به د اسلام قبلول وی او د نبی کریم ﷺ په رسالت به ایمان راوړل وی۔

امام احمدؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [أُعْطِيْتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ نَبِيٌّ قَبْلِيْ وَلَا أَقُوْلُهُنَّ فَخْرًا، بُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً الْأَحْمَرِ وَالْأَسْوَدِ) (مسند احمد : ۲۷٤۲ باسناد حسن) (ما ته پنځه خیزونه راکړے شویدی چه ما نه مخکښ هیڅ نبی ته نهٔ دی ورکړے شوی، او دا خبره د فخر په طریقه نهٔ وایم : زهٔ سور او تور و ټولو انسانانو ته نبی رالیږلے شوے یم)) الحدیث۔

او مسلمؒ د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ((قسم په هغه ذات چه زما روح د هغه په لاس کښ دے، د امت هر چا ته چه زما خبروشی که هغه

یهودي وی یا نصراني او په ما ایمان رانهٔ وړی نو هغه به جهنم ته داخلیږي))۔ (مسلم: ۴۰۳)
فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ : یهود او نصاریٰ او ټولو انسانانو ته الله تعالیٰ حکم وکړو چه په نبی امی ایمان راوړئ او ددهٔ اتباع وکړئ لکه چه ددهٔ بشارت په تیر شوی آسماني کتابونو کښې ورکړے شویدے۔ دلته هم د نبی کریم ﷺ صفت (اُمی) په خاص توګه سره پدے وجه راوړے شویدے چه د اهل کتابو توجه دے ته راواړولے شي چه دا هغه نبی دے د کوم صفت (امي) چه په تورات کښې ذکر شویدے۔
یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ : دا دلیل دے چه پیغمبر هم د الله په احکامو مکلف دے۔ او دلیل دے چه ددے نبي عقیده د خپل دعوت سره موافقه ده۔
وَكَلِمٰتِهٖ : کلمات شرعیه او کلمات کونیه (تقدیر او وعدے) دواړه مني۔ یعني ددے رسول عقائد هم برابر دي او اعمال هم۔ (السعديؒ)
وَاتَّبِعُوْهُ : مخکښې اتباع خاص د قرآن کریم په باره کښې وه او دا مطلق اتباع د رسول الله ﷺ مراد ده۔ یعني ددهٔ تابعداری وکړئ په هر هغه کارونو کښې چه دهٔ تاسو ته راوړی وی که هغه فعلي وی او که ترکي۔ (پریخودو والا)۔
او دلته ئے د ایمان سره اتباع د رسول سبب د هدایت ګرځولے دے، نو معلومه شوه چه صرف د نبي تصدیق په غیر د اتباع د هغه نه فائده نهٔ ورکوی۔
لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ : اِلٰی مَصَالِحِكُمُ الدِّیْنِیَّةِ وَالدُّنْیَوِیَّةِ) یعني دے دپاره چه تاسو دیني او دنیاوی فائدو ته ورسیږئ (السعديؒ) او ددے په دنیا کښې دلیل دا دے چه هر قوم چه په خپل نبي ایمان راوړیدے نو د مخکښې حالت نه ئے ژوند مزیدار شویدے او عزت او کرامت ورته حاصل شویدے۔ او ددے ښکاره دلیل تاریخ د امت محمدیه دے۔ (المنار)۔

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾
او د قوم موسیٰ (علیه السلام) نه یوه ډله ده چه بیان کوی د حق او پدے باندے فیصلے کوی۔

تفسیر: ددے ځای نه د کلام سلسله بیرته د هغه بني اسرائیلو متعلق ده کوم چه د موسیٰ علیه السلام په زمانه کښې وو۔ او پدے کښې د مکے مشرکانو او مؤمنانو ته تنبیهات غرض دي او په یهودو باندے رد او د هغوی اصلاح غرض ده۔
کله چه د سامری او د هغه د تابعدارو ذکر وشو نو شبهه کیدے شوه چه په دوی کښې به

هیڅوك هم مؤمن او ښه سړے نۀ وو۔ نو ددے وجه نه الله تعالیٰ وفرمایل چه په دوی کښې داسے خلق هم وو چه خپله په حق باندے ولاړ وو او نورئے هم دے طرف ته رابلل او د خلقو ترمینځ به ئے په عدل او انصاف سره فیصلے کولے۔

يَهْدُونَ بِالْحَقِّ : ددے دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه یهدون په معنیٰ د يَدْعُونَ اِلَى الْحَقِّ سره دے، یعنی دوی حق طرفته هدایت کوی یعنی دعوت ورکوی او په هغے باندے د عدل فیصلے کوی۔ یعنی عمل پرے کوی۔ (۲) دویم دا چه یهدون په معنیٰ د يَهْتَدُونَ بِالْحَقِّ سره دے، یعنی لازمی معنیٰ ده۔ یعنی په حق باندے کلك ولاړ دی، او په حق باندے د خلکو فیصلے هم کوی۔ او همدا د کامیابئ لاره ده چه انسان خپله په حق ولاړ وی او بل ته د هغے دعوت ورکوی۔ نو پدے کښې د مؤمنانو دپاره هم سبق دے چه تاسو هم داسے وکړئ او یهودو ته دعوت دے چه ستاسو بعض مشران خو حق طرفته منډه وهونکی وو او تاسو پدے نبی ایمان نۀ راوړئ۔

وَقَطَّعْنٰـهُمُ اثْنَتَیْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ط وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى
او جدا جدا کړل مونږ دوی لره دولس خاندانونه او وحی وکړه مونږ موسیٰ (عليه السلام) ته
اِذِاسْتَسْقٰهُ قَوْمُهٗٓ اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ج
کله چه اُوبه غوختے د هغۀ نه قوم د هغۀ چه ووهه په امسا خپلے سره کانړی لره
فَانْبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ط قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ط
نو را ووتلے د هغے نه دولس چینے، یقیناً معلومه وه هرے ډلے ته ځای د څکلو د هغوی
وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ
او سورے کړے مونږ په دوی باندے وریځے او راولیږل مونږ په دوی باندے ترنجبین
وَالسَّلْوٰى ط كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰـكُمْ ط وَمَا ظَلَمُوْنَا
او مرزان، خورئ د پاك هغے نه چه درکړیدی مونږ تاسو ته او ظلم نۀ وو کړے دوی په مونږ
وَلٰـكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾
او لیکن وو دوی چه په خپلو ځانونو به ئے ظلم کولو۔

تفسیر : بنی اسرائیل چه کله په میدان تیه (صحرائے سینا) کښې وو هغه احوال الله تعالیٰ دلته بیانوی، پدے کښې بعض فوائد راوځی، هغه دا چه دے خلکو کښې چه کله د الله طاعت وو، او اتباع د مَا اُنْزِلَ ئے کوله، نو الله تعالیٰ څنګه نعمتونه پرے کول، او کله ئے چه د ما اُنزِل تابعداری ونکړه نو څنګه عذابونه پرے راغلل نو پدے کښې موجوده یهودو او مشرکانو او مؤمنانو ته تنبیه ده۔

وَقَطَّعۡنٰهُمُ :د یعقوب علیه السلام د یولسو ځامنو اولادو او د هغوی د اولادو په اولادو کښې الله تعالیٰ ډیر برکت اچولے وو، د هغوی شمار ډیر په تیزئ سره ډیر شو، او د هغوی طبیعتونه او عادتونه هم د یو بل نه مختلف شول، پدے وجه ضرورت محسوس شو چه دا په مختلفو ډلو تقسیم کړے شی، او د هرے ډلے یو مشر مقرر کړے شی، دے دپاره چه هره ډله د خپل جدا جدا نظم او نسق مطابق ژوند تیر کړی، او د الله تعالیٰ د احکامو پابندی وکړی، په بنی اسرائیلو د الله تعالیٰ دا یو احسان وو۔

اثۡنَتَیۡ عَشۡرَةَ اَسۡبَاطًا اُمَمًا : ددے تمییز پټ دے [اَیۡ قِطۡعَةً وَفِرَقًا] یعنی دولسو حصو او ډلو ته مے تقسیم کړل۔ اسباطا د هغے بیان دے، دے دپاره چه د هغوی نوم معلوم شی چه دے ډلو ته به ئے اَسۡبَاطُ بَنِیۡ اِسۡرَائِیۡل وئیل۔ (یعنی د بنی اسرائیلو قبیلے او خاندانونه) لکه عربو به فِرقو ته قبائل وئیل۔ او (اُمَمًا) دا بیان دے د معنیٰ اصطلاحی د اسباط، چه دا اسباط جماعتونه وو چه هر یو په خاص نظام او د ژوند په بعض کارونو کښې جدا جدا وو۔ او امة هغه جماعت ته وائی چه د هغوی د افرادو ترمینځ رابطه او یو مصلحت او یو نظام وی۔ (المنار)

وَاَوۡحَیۡنَاۤ : دلته نه د آخر د آیت پورے الله تعالیٰ په بنی اسرائیلو نور درے احسانات ذکر کړیدی، اول احسان دا چه الله تعالیٰ د دولسو قبیلو دپاره د اُوبو انتظام وکړو، دویم دا چه د ګرمئ نه د بچ کیدو دپاره ئے د هغوی په ځایونو وریځ راوسته ویدروله، او دریم احسان دا چه د دوی د خوراك دپاره ئے د آسمان نه (من او سلویٰ) راولیږل، دا ټولے خبرے په تفصیل سره د سورة البقره آیت (۵۷) نه تر آیت (۶۰) پورے بیان شویدی۔

اِذِاسۡتَسۡقٰهُ قَوۡمُهٗۤ : دلته ئے ووئیل چه قوم ترے د باران مطالبه کړے وه او په سورة البقره کښې ئے ووئیل چه موسیٰ علیه السلام د الله نه باران طلب کړو د قوم دپاره نو دواړه خبرے واضحه شوے۔

فَانۡۢبَجَسَتۡ : دلته ئے انبجاس ذکر کړو او سورة البقره کښې انفجار ځکه چه انبجاس لږے

لږے اُوبـو راوتـلو ته وائي، او انفجار ډیرو ته، نو اول کښې لږے راروانے شوے بیا ډیرے شوے، نو په سورة البقره کښې تفصیل د انعاماتو وو پدے وجه هلته انفجار لفظ مناسب وو۔

مـګر ځینې علماؤ د انبجاس او انفجار هیڅ فرق نهٔ دے کړے، او وئیلي ئے دي چه دواړه په یـوه مـعـنـیٰ بـانـدے یو شان استعمالیږي او ددے دپاره ئے د لغت نه ډیر شوا هد جمع کړیدی کما في المنار)

وَالسَّلْوٰى : دا مرزان بـه د افـریـقـا نـه (او خـاصـکر د مصر نه) راوالوتل او سینا ته چه به راورسیـدل نـو سـخـت سـتـړی بـه وو نـو پـه زمـکـه به راپریوتل، بنی اسرائیلو به راونیـول۔ (المنار)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ : یـعـنـی هـغـوی تـه مو دا ووئیل چه دا پاك رزقونه خورئ، د (كُلُوْ هَا) ضمیر په ځای ئے دا الفاظ ذکر کړل پدے کښې په دوی باندے زیات احسان زبادول دی۔

ومَا ظَلَمُوْنَا : یعني دوی ددے نعمتونو په ناشکرئ سره زمونږ هیڅ نقصان ونکړو بلکه د دوی عادت دا وو چه خپلو ځانونو سره به ئے ظلم کولو او هرکله چه د ظلم نقصان او ضرر به صرف دوی پورے پیوسته کیدو نهٔ د الله پورے، نو پدے وجه ئے (اَنْفُسَهُمْ) مقدم کړو۔ او دا حـال بـه د هر ظالم او مجرم وی چه په جرم او ظلم سره د خپل ځان فائده لټوی مګر هغه ته به پرے نقصان رسي۔

وَلٰـكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ : کـښې د دوی دوام او تمادی او همیشوالے د ظلمونو ته اشاره ده لکه اُوس هم دوی د روسیانو په علاقو کښې د اشتراکی نظام تعلیمونه ورکوی، او غواړی چه فلسطین د عربی امت نه جدا کړی او ځانله ئے راکاړی۔ (المنار)

وَاِذْ قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ
او کله چه ووئیلے شو دوی ته وسیږئ پدے کلی کښې او خورئ ددے نه کوم ځای
شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا
چه خوښه شي ستاسو او وایئ لفظ د حِطَّةٌ او داخل شئ دروازے ته سجده کونکی
نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيْٓئٰتِكُمْ ؕ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶۱﴾
بخنه به وکړو تاسو ته د ګناهونو ستاسو، زردے چه زیات به کړو نیك عمل کونکو لره۔

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ
نو بدل كړه هغه كسانو چه ظلم ئے كړے وو د دوی نه وينا لره په غير د هغے
قِيْلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ
چه وئيلے شوے وه دوی ته نو راوليږو مونږه په دوی باندے عذاب د آسمان نه
بِمَا كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۲﴾
په دے وجه چه دوی به ظلم كولو۔

تفسير: د بنی اسرائيلو اخلاقی حالت دومره خكته تلے وو چه دوی د الله تعالیٰ ذكر شوی تمام احسانات هير كړل، او سركشي او نافرمانی د دوی عادت جوړ شو، او د الله د احكامو پورے توقے كول د دوی دويم فطرت جوړ شو، كله به هم چه الله تعالیٰ دوی ته يو حكم وكړو نو د هغے نافرمانی به ئے كوله او د هغے سره به ئے د سپكاوی معاملے كولے۔ پدے دواړو آيتونو كښ الله تعالیٰ د دوی ددے قسم يو بل اخلاقی او دينی انحطاط (تنزل/خكته والی) بيان كړيدے۔

الله تعالیٰ دوی ته حكم كړے وو چه ددے نعمتونو په مقابله كښ به تاسو بيت المقدس ته داخليږئ خو دوه كارونه به كوئ۔ يو د ((حِطَّةٌ)) وئيلو په حالت كښ داخل شئ۔ يعنی اے الله ! زمونږ گناهونه معاف كړه۔ دويم دا چه د سر ټيټولو (عاجزئ) په حالت كښ داخل شئ، ليكن دوی د الله د حكم مخالفت وكړو او په خپلو كوناتو سره داخل شو او د ((حِطَّةٌ)) په ځای ئے (حِنْطَةٌ) ووئيل (يعنی زمونږ دپاره غنم پكار دی) چه ددے په بدله كښ الله تعالیٰ دوی په طاعون بيمارئ كښ اخته كړل او زرگونو خلق ئے هلاك شول۔ لكه ددے تفصيلات په سورة البقره آيت (۵۸/۵۹) كښ بيان شويدی۔

اسْكُنُوْا : بقره كښ ئے ووئيل چه (اُدْخُلُوْا) او دلته ئے ووئيل چه وسيږئ پدے كلی كښ۔ نو دلته فائده زياته ده هلته دخول د وسيدو دپاره وو۔

سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ : كومو خلكو كښ چه احسان وی او د الله حكمونه په ښائسته طريقه عملی كوی د هغوی احسان الله تعالیٰ وخت په وخت زياتوی۔

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ : بَدَّلَ كښ معنیٰ د اَخَذَ پرته ده يعنی وائے خسته۔ يا بَدَّلَ په خپله معنیٰ دے او د غير نه مخكښ (وَاَخَذُوْا) (وائے خسته)، لفظ پټ مراد دے۔

يَظْلِمُوْنَ : ظلم وَضْعُ شَيْءٍ فِيْ غَيْرِ مَوْضِعِهٖ ته وائی، یعنی یو شے بی ځایه کیخودل او استعمالول دی، نو د الله په آیتونو تصدیق پکار وو دوی پرے تکذیب وکړو، په سورة بقره کښ ئے (یَفْسُقُوْنَ) وئیلی وو ځکه چه هلته د دوی ترك العمل ذکر کیدو نو فسق لفظ ورسره زیات مناسب وو۔

وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ
او تپوس وکړه د دوی نه په باره د کلی هغه کښ چه وو نزدے دریاب ته کله چه
يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ اِذْ تَأْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ
د حد نه تیروتل کول دوی په ورځ د خالی کښ کله چه راتلل دوی ته مهیان د دوی په ورځ
سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ
د خالی د دوی کښ ښکاره، او کله چه به ورځ د خالی نهٔ وه په دوی باندے،
لَا تَأْتِيْهِمْ ۚ كَذٰلِكَ ۚ نَبْلُوْهُمْ بِمَا
نهٔ به راتلل دوی ته (مهیان)، دغسے، امتحان کوو مونږ په دوی باندے په سبب د هغے
كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٣﴾ وَاِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُوْنَ
چه دوی به نافرمانی کوله۔ او کله چه ووئیل یو ډلے د دوی نه ولے نصیحت کوئ تاسو
قَوْمَا ۨ ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ
هغه خلقو ته چه الله تعالیٰ هلاکونکے د هغوی دے یا عذاب ورکونکے دے هغوی ته
عَذَابًا شَدِيْدًا ۭ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ
عذاب سخت، ووئیل دوی (دا ځکه کوو) دپاره د عذر پیش کولو رب ستاسو ته
وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا
او دے دپاره چه دوی بچ شی (ددے ګناه نه)۔ نو هرکله چه هیره کړه دوی هغه خبره
ذُكِّرُوْا بِهٖٓ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ
چه نصیحت ورکړے شوے وو دوی ته په هغے نو نجات ورکړو مونږ هغه کسانو ته

يَنۡهَوۡنَ عَنِ السُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا
چه منع به ئے کوله د بدئ نه او راونیول مونږ هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړے وو
بِعَذَابٍ م بَئِيۡسٍ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ﴿١٦٥﴾
په عذاب سخت سره په سبب د هغے چه دوی نافرمانی کوله۔

تفسیر: دلته د بنی اسرائیلو یوه دریمه نافرمانی او اخلاقی او دینی خکته والے بیان شویدے چه دوی د مخکښ نه په دے قبائحو او رذائلو اموخته دی، دوی مخکښ هم دا کار کړیدے۔ ۲- بله فائده: په کلی کښ څه خلك نافرمانی کوی او نور خلك ئے نۀ منع کوی نو الله په نۀ منع کونکو هم عذاب راولی۔ نو پدے کښ اشاره ده مؤمنانو ته چه که ستاسو په علاقه (مثلاً مکه) کښ خلك کفر او شرك کوی او تاسو ئے نۀ منع کوئ نو د الله عذاب به راشی، تاسو به هم راګیر کړی۔

۳- او بنی اسرائیلو چه کله اتباع د مَا اُنۡزِلَ پریخوده نو الله څنګه پریشانه کړل۔

ددے تفصیل په سورة البقره آیت (۶۵) کښ ذکر شویدے چه الله تعالیٰ د بحر قُلۡزُم په غاړه واقع یو یهودی کلی والو باندے د خالی د ورځے د مهیانو ښکار حرام کړے وو، او د دوی د امتحان دپاره د الله په حکم سره د خالی په ورځ به مهیان ډیر او ښکاره راتلل او د دریاب په سرونو به روان وو او په نورو ورځو کښ به مهیان غائب وو۔ دا خلق د الله تعالیٰ پدے امتحان کښ ناکام شو او داسے طریقه ئے اختیار کړه چه د خالی په ورځ مهیان د اُوبو نه واپس لاړ نشی دے دپاره چه د اتوار په ورځ هغه ښکار کړی۔ الله تعالیٰ دوی پدے امتحان کښ د دوی د مخکنو ګناهونو په وجه اچولی وو، دے دپاره چه د دوی سرکشی ښکاره راشی او د عذاب مستحق شی۔

وَاسۡئَلۡهُمۡ : دا تپوس د تقریع او زجر (زورنے) دپاره دے چه د دوی مشرانو کښ دا عیبونه وو نو څکه پرے دغه عذابونه راغلل نو تاسو هم د دوی نه عبرت واخلئ۔

حَاضِرَةَ الۡبَحۡرِ : ابن عباس رضی الله عنه وائی چه ددے کلی نوم (اَيۡلَات) يا (اَيۡلَه) وو چه د بحر قلزم په غاړه آباد وو۔ (عقبۀ داود هم ورته وائی) نن صبا پدے ځای د اسرائیلو بندرګاه واقع ده۔ دا کلے د مدین او طور ترمینځ واقع دے۔ (القاسمیؒ)

حَاضِرَةَ البحر : یعنی دریاب ته نزدے وه۔

شُرَّعًا : دا جمع د شارع ده د شَرْع نه دے، په معنیٰ د نزدے والي او ښکاره والي سره۔ اَیْ ظَاهِرَةً عَلٰی وَجْهِ الْمَاءِ۔ یعنی ښکاره د اُوبو په سر به روان وو۔ (القاسمیؒ)

ضحاکؒ وائی : مُتَتَابِعَةً مُصْطَفَّةً۔ پرله پسے صفونه صفونه به راروان وو۔ (التحریر)

ابن عاشورؒ وائی : چه شُرَّعًا د شارع نه دے هغه اُوښانو ته وائی چه اُوبو ته د څکلو دپاره داخلیږی، نو دلته ئے ددے ماهیانو په اُوبو کښ د ډیروالی تشبیه ورکړیده د هغه اُوښانو سره چه اُوبو ته راداخلیږی۔

لَا يَسْبِتُوْنَ : اَیْ لَايَدْخُلُوْنَ فِي السَّبْتِ۔ کله چه به دوی په خالي ورځ کښ نهٔ وو۔

كَذٰلِكَ ج نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ : دا استیناف بیانی دے جواب د سوال دے چه ددے واقعے څه فائده ده سره ددے نه چه الله پوهیدو چه دوی د خالي د ورځے د بی حرمتیٔ نه نهٔ منع کیدل ؟ (التحریر) نو جواب وشو چه زهٔ په دوی بانددے د دوی د فسق په وجه امتحان کوم۔ او ددے مطلب دا دے چه یو تن د الله د حکمونو پرواه نهٔ لری، نو په ده باندے الله تعالیٰ امتحانات راولی، او گناه او د گناه اسباب ورته زیاتوی دے پکښ واقع کوی، او کوم انسانان چه صحیح مؤمنان دی، او د الله د حکم پرواه لری نو الله د هغوی نه دفاع کوی او فتنه او د گناه اسباب ترے جدا کوی۔ (اِنَّ اللّٰهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا)

ددے مثال دا دے چه یو تن گیره وخریوی او ځان نه تامی جوړ کړی نو دهٔ ته به هره ورځ د زنا موقعه ملاویږی، او بدکاره زنانه هم ددهٔ سره تعلق په آسانه جوړوی، او بل یو تن ښائسته گیره پریخے ده او دیندار دے نو بدکاره خلك ددهٔ نه ځان جدا کوی څکه چه دا گمان ئے وی چه ددهٔ نه زما حاجت نهٔ پوره کیږی۔ پدے مثال کښ سوچ وکړه۔

نو که دے خلکو دا پابندی او کلك عزم کړے وے چه مونږ به په هیڅ حالت کښ د خالي په ورځ د مهیانو ښکاره نهٔ کوو نو الله به ورته د بل طرفنه ډیر مهیان ورکړی وے ﴿ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا﴾ یو تن د یو حرام نه ځان وساتی نو بل طرفته ورله الله تعالیٰ ډیر حلال ورکړی، د الله سره خو حلال کم نهٔ دی۔

وَاِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ : د جمهورو مفسرینو وینا ده چه ددے کلي وسیدونکی اسرائیلی خلق د مهیانو د ښکار په باره کښ په درے ډلو تقسیم شوی وو۔ یوے ډلے (چه د هغوی شمار اویا (۷۰) زره کسان وو) نافرمانی وکړه او ښکارئے وکړو۔ دویمے ډلے نهی عن المنکر وکړو۔ او دریمے ډلے نهٔ نافرمانی وکړه او نهٔ ئے نور منع کړل بلکه نهی عن المنکر والائے منع کړل۔

لِمَ تَعِظُوْنَ : دریمې ډلې دویمې ډلې ته ووئیل چه تاسو داسې خلقو ته ولې نصیحت کوئ چه الله هغوی لره یا هلاکونکے دے یا عذاب ورکونکے دے؟ دا خلك خوشبین وو چه گناه خو ورته خپله بدی ښکاره کیدله لیکن همت ئے کمزورے وو، او دا ئے وئیل چه هر سړے به خپل کار کوی او د نهی عن المنکر والا خپے ئے وهلے (داسې قسم خلك د حق دعوت ته ډیر نقصان ورکوی، په ځای ددے چه منکراتو والا منع کړی دوی رالگی د حق داعی منع کوی چه گوزاره وکړه)۔

اللهُ مُهْلِكُهُمْ : ددے نه مراد استیصالی عذاب دے چه بیخی ئے ختم کړی او عذاب شدید نه مزاد دا دے چه په دنیا کښې بل درد ورکونکے عذاب پرے راشی۔

دا خبره دوی په غالب گمان کړے وه ځکه چه په عمومی توگه سره داسې کیږی چه الله تعالیٰ نافرمانه خلق هلاکوی یا ئے په بل عذاب کښې اخته کوی۔ دویمې ډلې ووئیل چه مونږ دا پدے وجه کوو چه د الله په نیز زمونږ عذر ثابت شی او کیدے شی چه دا خلق په نیغه لاره راشی۔ لیکن نافرمانو ددے نیکانو یوه خبره وانهٔ وریده او په خپلو گناهونو همیشه پاتے شو، نو الله تعالیٰ دا نیکان بچ کړل او ظالمان نافرمان ئے د هغوی د گناهونو په وجه په سخت عذاب کښې مبتلا کړل او د هغوی د کبر او گناهونو د همیشوالی په وجه ئے د هغوی شکلونه مسخ کړل او شادوگان ئے ترے جوړ کړل۔

مَعْذِرَةً اِلٰی رَبِّکُمْ : ددے نه د دعوت دوه فائدے معلومیږی یو دا چه الله تعالیٰ ته عذر پیش شی، او دویم دا چه د الله نه امید وساتی چه خلك به ښه شی۔ او دا دلیل دے چه نهی عن المنکر فرض دے اگرکه آوریدونکے پرے عمل نکوی۔

آیا دریمه ډله هلاکه شوه ؟

وَاَخَذْنَا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا : علامه شوکانیؒ وائی چه د قرآن ظاهری الفاظ همدا وائی چه د عذاب نه صرف هغه خلق بچ شو چه هغوی منع کړے وه، او شکلونه د هغه چا مسخ شو چه هغوی نافرمانی کړے وه۔ دریمه ډله یعنی کومو خلقو چه نهٔ نافرمانی کړے وه او نهٔ ئے نور منع کړی وو د هغوی په باره کښې د تفسیر د علماؤ اختلاف دے۔

چا وئیلی دی چه هغوی هم هلاك شویدی۔ او چا وئیلی دی چه هغوی نهٔ دی هلاك شوی۔ د ابن عباسؓ همدا رائے وه چه هغوی هلاك شویدی، لیکن عکرمهؒ چه کله هغوی ته ووئیل چه دے خلقو د مخکنئ ډلے عمل بد گنړلے وو او د هغوی مخالفت ئے کړے وو نو

د هغه رائے بدله شوے وه۔ مگر راجح دا ده چه دوی هم هلاك شویدی دوه وجے دی، یوه دا چه دلته نجات صرف د ناهین عن المنکر دپاره ذکر دے، که هغه خلك بچ شوی وے، نو هغوی دپاره به هم نجات ذکر شوے وے۔ او دویم دا چه د الله تعالیٰ دا اصول دی چه کله یو تن په یو جرم باندے رد نکوی او عذاب راشی نو په دواړو راځی ځکه چه دا نهٔ منع کونکے هم مجرم دے ځکه چه دهٔ نهی عن المنکر پریښے دے، بلکه نهی عن المعروف ئے کړیدے۔ نو دوی ته به هم الله تعالیٰ کوم عذاب ورکړے وی اگرکه هغه ئے دلته نهٔ دے ذکر کړے۔ او صرف د مجرمانو ظالمانو عذاب ئے ذکر کړیدے چه هغه عذاب بئیس دے او د هغے تشریح روستو په (كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ) سره شویده۔

حافظ ابن القیم رحمه الله په ((إغَاثَةُ اللهفان)) کښ په دین کښ د حیلے جوړولو په حرمت باندے ددے آیت نه دلیل نیولے دے۔ لیکی: د اسلام او د مسلمانانو په خلاف د شیطان یو چال په دین کښ حیله او مکر او دهوکے ورکولو ته لاره ورکول دی، چه د هغے په ذریعه د الله تعالیٰ حرام کړی څیزونه حلالولے شی، فرائض ساقطولے شی او اوامر او نواهی ختمولے شی، او دا هغه باطله رایه ده چه ددے په بدئ د سلفو صالحینو اتفاق دے، مخکښ تلو سره لیکی: چه د حیلے په یو قسم سره واجبات ساقطولے شی، او محرمات حلالولے شی۔ دا هغه حیله ده چه ټولو سلفو صالحینو بده گڼړلے ده، او د داسے تمامو حیلو په خلاف ئے آواز راپورته کړیدے۔ دے نه روستو د خالی والا یهودیانو په باره کښ ئے لیکلی دی چه کله دوی د خالی ورځے د مهیانو د ښکار حرمت په حیلے جوړولو سره حلال کړل نو الله د دوی شکلونه مسخ کړل او شادوگان ئے ترے جوړ کړل، په دین کښ حیلے جوړونکی لره د ډیر بد انجام نه یره پکار ده۔ (محاسن التاویل)۔

فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا
پس هرکله چه نافرمانی وکړه دوی د هغے نه چه منع شوی وو د هغے نه ووئیل مونږ
لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿١٦٦﴾
دوی ته شئ شادوگان (بیزوگان) ذلیله۔

تفسیر: دا خلك ځان ته مسلمانان هم وائی او د الله د حکم د تابعدارئ دعوه هم کوی، او بسکاره ئے دا حکم هم نهٔ ماتولو بلکه په چل چل کښ ئے ماتولو مگر بیا هم الله تعالیٰ

ملعون او هلاك كړل- او مهيان يو حلال شے دے ليكن صرف په يوه ورځ كښې ترے منع راغلے وه- نو د هغه انسانانو به څه حال وي چه هغوي لوي لوي (كبائر الذنوب) گناهونه كوي او ښه ښكاره ئے كوي- كه ددے امت سره د محمد رسول الله ﷺ په وجه بركت نۀ وے نو دوي نه به هم د هغوي نه لوي شادوگان جوړ يدلے-

چونكه ددے ډلے جُرم د دريمے ډلے نه سخت وو نو ځكه ئے د دوي دپاره د (عَتَوۡا) لفظ استعمال كړو- او چونكه په حيلے سره د دين مسخ كول راځي نو پدے وجه دوي ته د مسخ سزا وركړے شوه-

خٰسِئِيۡنَ : ددے فائده مونږ وئيلے وه چه شادو خپله ښائسته حيوان دے ليكن كله چه انسان شادو شي نو دا انتهائي بد ښكاري ځكه چه دا عذاب وي-

وَاِذۡ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ
او كله چه اعلان وكړو رب ستا خامخا راليږم به په دوي باندے تر ورځے د قيامت پورے
مَنۡ يَّسُوۡمُهُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيۡعُ الۡعِقَابِ ۚۖ
هغه څوك چه رسوي به دوي ته بد عذاب، يقيناً رب ستا خامخا زر عذاب وركونكے دے
وَاِنَّهٗ لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۶۷﴾ وَقَطَّعۡنٰهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ
او يقيناً هغه خامخا بخونكے رحم كونكے دے- او تس نس كړل مونږ دوي لره په زمكه كښې
اُمَمًا ۚ مِنۡهُمُ الصّٰلِحُوۡنَ وَمِنۡهُمۡ دُوۡنَ ذٰلِكَ ز
مختلفې ډلے، بعض د دوي نه نيكان وو او بعض د دوي نه سوئ دی ددے نه
وَبَلَوۡنٰهُمۡ بِالۡحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۱۶۸﴾
او امتحان وكړو مونږ په دوي باندے په خوشحالو او تكليفونو سره دے دپاره چه دوي راوگرځي

تفسير : د دوي د سركشئ او د الله د اوامرو د مخالفت او د حيلے په ذريعه حرامو له د حلالولو په وجه الله تعالىٰ تر قيامته پورے ذلت او رسوائي د بني اسرائيلو دپاره اعلان كړه او دا فيصله ئے وكړه چه د دنيا نور قومونه به دوي هميشه په ازميښت او امتحان او قسماقسم مصيبتونو كښې اچوي-

تَاَذَّنَ : ۱- اَىۡ اَعۡلَمَ- اعلان وكړو- او دا اعلان ئے په ژبه د انبياؤ كړيدے-

۲- حَکَمَ رَبُّكَ۔ (عطآء)۔ یعنی فیصله وکړه رب ستا۔ (بغویؒ)
صاحب المنارؒ وائی: تأذن او ایذان هغه اعلان ته وائی چه د خلکو غوږونو ته ورسیږی او خلك ئے په غوږونو محسوس کړی۔ او دا اعلان الله تعالیٰ په خپل ځان لیکلے وو او په خپل علم کښ ئے ددے فیصله کړیده۔
مفسرین لیکی چه د تولو نه مخکښ خپله موسیٰ علیه السلام اُوه کالو پورے د دوی نه تیکس وصول کړو۔ د سلیمان علیه السلام نه روستو د بابل بادشاه بخت نصر د دوی ملك تباه او برباد کړو، سړی ئے قتل کړل او ښځے او ماشومان ئے غلامان کړل او په هغوی ئے جزیه نافذ کړه، او د هغوی نه ډیر خلق ئے بابل طرف ته جلا وطن کړل چرته چه دوی اویا (۷۰) کالو پورے حیران وسیدل، دے نه روستو هم مختلفو یونانی، کشدانی او کلدانی بادشاهانو دوی خپل غلامان کړل، او د ذلت او رسوائی دا دور چلیدلو تردے چه د عیسیٰ علیه السلام د پیدائش نه یو اویا (۷۱) کاله روستو د دوی په ملك باندے د رومانیانو قبضه وشوه چه هغوی دوی لره د هغه ځای نه وویستل او د دنیا په مختلفو حصو کښ ذلیل او خوار تس نس شول۔
بیا دوی د رسول الله ﷺ مخالفتونه وکړل سره ددے نه چه هغه ورته د نفسونو امن ورکړے وو او د خپل دین آزادی ئے ورکړے وه، نو دوی د هغه سره دوکے وکړے او د مشرکانو ملګرتیا ئے اعلان کړه او لوظونه ئے مات کړل، نو الله پرے رسول الله ﷺ مسلط کړو چه تول یهودیان د مدینے نه، او بیا لږه زمانه روستو د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښ د تول جزیرة العرب نه وشړلے شو تردے چه سیدنا عمر رضی الله عنه سوریه فتح کړه بعض په صلح سره لکه بیت المقدس او بعض په زوره سره نو دوی د روم د سیادت (سرداریٔ) نه پریوتل او د اسلام د تسلط لاندے راغلل مګر بیا هم دوی ذلیله دی او هیڅ استقلال ئے نشته۔ (القاسمی والمنار)
نن صبا چه د دوی په ظاهره کښ یو حکومت د فلسطین په زمکه قائم شویدے نو دا د قرآن کریم ددے خبر خلاف نهٔ دے، بلکه د سورة آل عمران آیت (۱۱۲) مطابق امریکه او نور غیر مسلم حکومتونو په تعاون او اشارے سره قائم دے۔ که دا حکومتونه ترے لاسونه راکاږی نو اسرائیلی حکومت باقی نشی پاتے کیدے۔
او اُوس هم چه کوم حکومت قائم دے، په هغے کښ هیڅ مصلحت او فائده نشته، ورنه د دوی د ذلت حالت دا دے چه یهودیانو ته هلته یوے ورځے دپاره هم سکون حاصل نهٔ دے۔
او بل طرفنه د مسلمانانو نه ذهنی او عملی سخت پریشانه دی۔
مَنۡ یَّسُوۡمُهُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ: امام بغویؒ وائی چه ددے نه مراد محمد ﷺ او د هغه

امت دی چه دوی سره به جنگونه کوی تردے چه اسلام راوړی یا جزیه ورکړی۔ (بغویؒ)

سُوْٓءَ الْعَذَابِ : دا هغه عذاب ته وائی چه صاحب خفه کوی او ذلیله کوی دلته ترے مراد د دوی نه ملك (بادشاهی) اخستل دی او په زوره باندے عاجز کول دی۔

وَقَطَّعْنٰهُمْ : مخکښ د دوی تقطیع (ډلے ډلے) کول نعمت وو دے دپاره چه ژوند ئے برابر شی او د اختلافاتو نه بچ شی، او دا تقطیع د عذاب دپاره ده ځکه چه یو قوم تس نس شی او در په در شی نو دا لوی هلاکت دے، او دا پدے وجه هم الله تعالیٰ تس نس کړل چه دوی ډیر شریان ظالمان قوم دے که په یو ځای راجمع شی نو فسادونه کوی پدے وجه الله ورله طاقت تقسیم کړو۔

فِی الْاَرْضِ اُمَمًا : [فَلَيْسَ لَهُمْ اِقْلِيْمٌ يَسْكُنُوْنَهٗ وَلَاتَجِدُ قَرْيَةً اِلَّا وَفِيْهَا مِنْهُمْ] ۔ نو د دوی یو اقلیم نشته چه دوی په هغے کښ په شریکه ژوند تیر کړی او ته به په هر ملك کښ د دوی نه څه کسان مومے۔ لکه الله تعالیٰ دوی ته وئیلی وو : ﴿ وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهٖ لِبَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا﴾ (اسراء: ۱۰٤)۔

(په زمکه کښ وسیږئ کله چه روستنئ وعده (د آخرت) راشی نو تاسو به په یو ځای راولو)۔ او په یهودو څو مره ډیرے زمانے تیرے شوے او هیڅ ریاست ورته ملاؤ نشو صرف د یو څو کسانو محله ورته ملاؤ ده هغه هم د ذلتونو نه ډکه ده لکه مخکښ بیان شو۔

مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ: دا د قرآن عدل دے چه څه خلك ذکر کړی نو د هغوی په نیکانو ګز نهٔ راکاری بلکه هغه جدا بیانوی، او دا صالحین په هغه زمانه کښ وو چه رسول الله ﷺ لا نهٔ وو راغلے، او کله چه رسول الله ﷺ راغے او دوی پرے ایمان رانهٔ وړو نو ټول ظالمان دی۔

یا دے کښ اشاره ده هغه مؤمنانو ته چه د اهل کتابو نه ئے ایمان راوړے وو لکه عبد الله بن سلام ﷛ وغیره۔ یا دا چه په هره زمانه کښ په دوی کښ څه خلق نیکان شو چه د خپلے زمانے په انبیاؤ علیهم السلام ئے ایمان راوړو، او د دوی نه هغه خلك هم وو چه د نبی کریم ﷺ زمانه ئے وموندله او په اسلام مشرف شو۔

وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ : یعنی غیر صالحین، نو ددے بیا ډیرے درجے دی د چا کفر او ظلم او فسق زیات او د چا کم۔ یا دا چه دوی کښ مقتصدین یا ظالمین دی۔ یا د صالحینو نه خکته دی د کفر په وجه یا د فسق په وجه۔ (القاسمیؒ)

یعنی دوی کښ څه خلك داسے شو چه هغوی د الله تعالیٰ د اوامرو مخالفت وکړو او ایمان ئے رانهٔ وړو۔ دا ګناهګاران الله تعالیٰ په مختلف قسم ازمیښتونو کښ واچول، کله ئے په

دوی د خیراتو او برکاتو دروازه راکولاوه کړه نو کله ئے دوی په تنګسیا کښې اخته کړل او مقصد دا وو چه کیدے شي دوی به د خپلو ګناهونو نه توبه وباسی او ایمان به راوړی۔

بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ : یعنې په نعمتونو او سزاګانو باندے په سبب د صلاح او د فسق سره۔ (التحریر) یا په یسر او عسر سره۔ (سعدی) (یعنی آسانئ او سختئ سره)

یا حسنات: اَلْخَصْبُ وَالْعَافِيَةُ (سبزکالی، فراخیانی او روغ حالت) او سیئات نه مراد: اَلْجَدْبُ وَالشِّدَّةُ۔ یعنی قحطونه او سختیانے۔ یا عامه معنیٰ مراد ده حسنات، ښه حالتونه او سیئات بد حالتونه۔

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ : دے ټولو حالتونو راوستو کښې مقصد دا وو چه بندګان الله ته راواپس شي او د هغه صحیح بندګی وکړی۔

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ
پس راپیدا شول روستو د دوی نه ناکاره خلق، په میراث کښې ئے واخستو کتاب (تورات)،
يَأْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُلَنَا ج وَاِنْ
اخلی سامان ددے ذلیل ژوند او وائی دوی زردے چه بخنه به وکړے شي مونږ ته او که
يَّأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَأْخُذُوْهُ ؕ اَلَمْ يُؤْخَذْ
راشي دوی ته نورسامان په شان دهغے، اخلی هغے لره (هم)، آیا نۀ وه اخستے شوے
عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ
د دوی نه کلک لوظ په کتاب کښې چه نۀ به وائی دوی د الله په باره کښې مګر حقه خبره،
وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ
او لوستلی دی دوی هغه حکمونه چه په دے کتاب کښې دی او کور روستنے (جنت)
خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۹﴾
ډیر غوره دے هغه کسانو لره چه یریږی (د الله نه) آیا نو عقل نۀ لرئ تاسو۔

تفسیر: پدے آیت کښې د هغه اهل کتابو بدی بیانیږی چه د رسول الله ﷺ او د هغه نه روستو زمانه کښې پیدا شویدی چه دوی ټول بدکاره دی او د مخکنو نه په شر کښې زیات

دي ځکه چه مخکنو کښ خو صالحين او ظالمين دواړه وو، او دوی سراسر شريان دی.
او فرمائی چه دوی نهايت بد خليفه ګان وو، هر غوره والے د دوی نه رخصت شوے وو، او د تورات احکام بدلول او په هغے سره دنيا ګټل د دوی پيشه ګرځيدلے وه، رشوت اخستو سره به ئے د تورات په خلاف فيصلے کولے، او د خپلو ځانونو په دهوکه کښ اچولو دپاره به ئے وئيل چه الله به دوی نهٔ رانيسی او دوی به معاف کوی حال دا چه دوی په خپل زړهٔ کښ پدے خبره هميشوالے کولو چه که چا دوباره هم رشوت ورکړو نو هغه به اخلی او د زړهٔ نه توبهٔ ويستونکی نهٔ وو. د دوی دينی او اخلاقی خکته والے انتهاء ته رسيدلے وو،
د الله تعالیٰ په باره کښ د دوی تحکمانه انداز چه دوی به الله معاف کوی، په الله دروغ جوړول وو، او د هغه عهد او ميثاق خلاف وو کوم چه د دوی نه اخستے شوے وو چه دوی به د الله په باره کښ رشتينے خبرے بيانولو نه کار اخلی، او دوی ته د تورات په مطالعے سره د هغه لوظ علم هم وو. داسے نهٔ وه چه دوی پرے پو هه شوی نهٔ وو. دے نه روستو الله وفرمايل چه د آخرت کاميابی، د دنياوی سپکو مفاداتو نه ډيره غوره ده. (تيسير الرحمن)
خَلْفٌ: په سکون د لام سره ناکاره خلکو ته وائی دا د (خَلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ) نه اخستے شويدے د خولے بد بوئی ته وائی. نو دوی بدبويه ناکاره خلك دی چه هيڅ خير پکښ نشته.
وَرِثُوا الْكِتٰبَ: يعنی په ميراث کښ ئے واخستو کتاب د الله چه تورات دے.
يَأْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى: عرض جَمِيْعُ مَتَاعِ الدُّنْيَا ته وائی. يعنی د تولے دنيا سامان. او عرض ورته ځکه وائی چه عارضی دی، زر ختميږی.
سوال دا دے چه د دنيا سامان او متاع خو مونږ هم اخلو نو دا څنګه عيب شو؟ جواب دا دے چه دلته ورسره دا مراد دے چه [وَيُبَدِّلُوْنَ الْاَحْكَامَ لِذٰلِكَ وَيُحَرِّفُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ لِذٰلِكَ] ددے سامان په بدله کښ د الله د کتاب احکام بدلوی او تحريفونه پکښ کوی.
اَیْ يَأْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى فِیْ مُقَابَلَةِ الْكِتَابِ ـ يعنی د الله د کتاب په مقابله کښ د دنيا متاع غوره کوی.
وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُلَنَا: ۱-يعنی کوی ګناه (د الله په کتاب کښ تحريف کوی او ايمان پريدی) او بيا وائی چه الله غفور رحيم دے، دے ته اغترار بالله (په الله باندے دهوکه کيدل) وائی.
۲- يا مطلب دا دے: [اِنَّا لَانُؤَاخَذُ بِهٰذَا] مونږ به پدے کار باندے نهٔ رانيولے کيږو ځکه چه

دا مونږ د خپل دين او يهوديت دپاره غيرت كوو، نو دوى به غټ كفرونه كول او دا به ئې وئيل چه پدې كښې گناه نشته- لكه ددې امت ډير مجرمان هم بدعات او شركيات كوى او بيا وائي چه دا خو مونږ د اولياؤ او د بزرگانو احترام كوو- او تقليدونه كوى او دې ته د امام احترام وائي-

او د يهودو مليانو به د دين په ذريعه حرام مالونه خوړل او دا به ئې وئيل چه دا مونږ له حلال دى ځكه چه مونږه بخښلي شوى يو، لكه دا مرض ددې امت د بعض پيرانو او مليانو دې چه حرامه خورى او بيا دا بهانه كوى چه دا مونږ لره حلال دى لكه علامه آلوسیؒ ددې په تشريح كښې د بعض پيرانو او صوفياؤ حال ذكر كړيدې-

دا خبره د هغه مؤمن دپاره صحيح ده چه يو ځل ترې گناه وشي او بيا پښيمانه شي او توبه وباسي او بيا ووائي چه الله غفور رحيم دې او چه كله يو بنده گناه كوى او بيا ورپسې بله كوى، او نه زړه ورو وى او بيا وائي چه غفور رحيم دې نو دا د خپل ځان سره دهوكه ده ځكه چه الله خو عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَام هم دې-

وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ : پدې كښې الله د دوى بې اخلاصي بيانوى چه د دوى دا گمان غلط دې چه مونږ ته به بخښنه وكړې شي، وجه دا ده چه دوى دغه جرمونه د زړه نه نهٔ پريدى او بيا بيا ئې كوى او توبه ترې نهٔ وباسي- نو كه دوى ته دغه شان حرام مال بيا راشي هم دوى پرې صرفه نهٔ كوى- نو كه دوى د مغفرت طمع كولې دا كار به ئې نهٔ كولې بلكه دوى دروغژن دى-

اَلَمْ يُؤْخَذْ : دا پرې رد دې چه كه دوى بخښلي شوى وې نو بيا د دوى نه دا لوظ ولې اخستلې كيدو-

اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللهِ اِلَّا الْحَقَّ : يعني دوى نه وعده اخستې شوې وه چه په الله به دروغ نهٔ وائي، او دلته ئې دروغ ووئيل چه الله به مونږ ته بخښنه كوى- الله كوم ځاى وئيلى دى چه دوى به تحريفونه كوى او زهٔ به ورته معافي كوم-

وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ : جواب د سوال دې كه څوك ووائي چه دوى به په دغه كتاب او دغه حكم باندې نهٔ پوهيدل؟ نو الله فرمائي : چه دوى ددې احكام لوستلي وو او ښه پرې پوهه شوى وو ځكه چه څوك د الله كتاب ولولي نو هغه په حلال او حرامو پوهه شي-

ددې نه دا فائده معلوميږى چه په الله تعالىٰ باندې ناحقه خبره دوه قسمه خلك كوى يا ناكاره دنيا پرست علماء، او بل اصحاب الرياسة- (دنياوى مشران) لكه حافظ ابن قيمؒ

وئیلی دی چه هر څوك چه دنیا غوره کړی نو خامخا به هغوی د حق په خلاف کښې خبره کوی ځکه چه د الله تعالیٰ احکام او حق ډیر کرته د خواهش خلاف راځی۔ (الفوائد)
وَالدَّارُ الْاٰخِرَةِ : دے کښې ترغیب دے دوی ته چه آخرت طلب کړی۔ د الدار الآخرة نه مراد جنت دے۔
یَتَّقُوْنَ : یعنی چه د الله د مخالفتونو نه ځان ساتی چه یو پکښې تحریف دے۔

وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ
او هغه کسان چه منګولے لګوی (عمل کوی) په کتاب او پابندی کوی د مانځه
اِنَّا لَا نُضِيْعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾
یقیناً مونږ نهٔ ضائع کوو اجر د اصلاح کونکو۔

تفسیر : پدے آیت کښې د نیکانو اهل کتابو او ددے امت د مؤمنانو دپاره زیرے دے۔
ربط : مخکښې د بنی اسرائیلو د بعض ناکاره ملیانو تذکره وشوه چه په بنی اسرائیلو کښې څه خلقو د تورات علم لرلو او د الله د اوامرو او نواهیو نه ښه خبر وو لیکن په هغے به ئے عمل نهٔ کولو۔ اُوس وائی چه په هغوی کښې څه خلق داسے هم وو چه په دینی کارونو کښې به ئے د تورات د احکامو پابندی کوله او دے پابندئ دوی لره په نبی کریم ﷺ باندے د ایمان په راوړو مجبوره کړل، او آخر دا چه دوی مسلمانان شو۔ نو الله دوی ته زیرے ورکړو چه الله تعالیٰ به د دوی اجر نهٔ ضائع کوی۔
یُمَسِّکُوْنَ : د الله کتاب کلك رانیول دا دی چه په هغے کښې څه وی په هغے عمل کول او نور ئے تفصیلات دی چه حلال به ئے حلال او حرام به ئے حرام ګڼړی او اقامت د حدودو به ئے کوی۔
وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ : د قرآن د مانځه سره تعلق دے، ځکه چه دا کتاب په سړی کښې عاجزی پیدا کوی او په بندګئ باندے ئے آماده کوی۔
دا دلیل دے چه څوك د الله کتاب باندے عمل کوی او هغه خلکو ته بیانوی او د مانځه پابندی کوی نو دوی اصلاح کونکی دی اګرکه مخالفین به ورته شریان وائی۔

وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ
او کله چه راپورته کړو مونږ غر لره دپاسه د دوی نه ګویا که هغه وریځ (یا چترئ) وه
وَّظَنُّوْٓا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا
او یقین وکړو دوی چه یقیناً دا راپریوتونکے دے په دوی باندے (مونږ ووئیل) ونیسئ
مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ
هغه څه چه درکړیدی مونږ تاسو ته په طاقت سره او یاد کړئ هغه چه په دے کښې دی
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾
دے دپاره چه تاسو تقویٰ والا شئ۔

تفسیر : دا اهل کتابو آخری بدی ده چه دا هغه خلك دے چه د الله تعالیٰ کتاب ته ئے غاړه نۀ کیخودله۔

دا واقعه د طور غر په لمن کښې په هغه وخت کښې راپیښه شوے وه چه کله موسیٰ علیه السلام بني اسرائیل ځان سره هلته بوتلي وو دے دپاره چه الله تعالیٰ د دوی نه په تورات د عمل کولو لوظ او عهد واخلي، او مقصد دا وو چه د دوی په زړونو د الله تعالیٰ هیبت طاري شي، او ددے لوظ او عهد د اهمیت احساس د دوی په زړونو کښې همیشه باقي پاتے شي، لیکن کله چه دوی ته ووئیل شو چه پدے به عمل کوئ نو دوی ووئیل چه دا خو ګران احکام دي پدے باندے مونږ عمل نشو کولے، نو الله تعالیٰ پرے غر راپورته کړو لکه د وریځے په شان شو نو دوی یقین راغے چه اوس راباندے راغورزیږی نو په سجده پریوتل او په یوه سترګه به ئے غر ته کتل نو الله ورته ووئیل چه منئ او که نۀ؟ نو دوی مجبوراً هغے ته تیار شو۔

او پدے کښې په دوی باندے بل رد دے چه که تاسو بخښلي شوی یئ نو بیا ستاسو په مشرانو باندے الله تعالیٰ ولے د لوظ اخستو په وخت کښې غر پورته کړے وو۔

او پدے کښې دے ته هم اشاره ده چه څوك اتباع د مَا اُنْزِلَ نۀ کوی نو د هغوی سره الله تعالیٰ داسے کار هم کړیدے۔ او داسے خلك ددے لائق دی چه غرونه په دوی راپورته کړے شي او دوی راګیر کړے شي۔

نَتَقْنَا : نَتْق دے ته وائي چه د زمکے نه راویستلے شي۔ دا دلیل دے چه دا غر په دوی

باندے په حقیقت کښې راپورته شوے وو او هسے دهمکی نۀ وه لکه بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا ئے ورته ووئیل چه دا غر درباندے راپورته کوم، دا خبره خطاء ده ځکه چه د نتق د معنیٰ او د (كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ) د معنیٰ نه مخالفه ده۔

صاحب المنارؒ وائی چه نتق په لغت کښې [اَلزَّعْزَعَةُ وَالْهَزُّ وَالْجَذْبُ وَالنَّفْضُ وَالْاِقْتِلَاعُ] خوزول، رابښکل او څنډلو او د بیخ نه راویستلو ته وائی)۔

ظُلَّةٌ : دا هر هغه شی ته وئیلے شی چه سورے کوی، چهت وی یا وریځ وی یا چترئ وی۔ یعنی د څپر (سائبان) په شان وو، یا د وریځے په شان وو۔

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ ءَادَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ
او کله چه واخستو رب ستا د بنیادمانو نه د شاګانو د هغوی نه اولاد د هغوی
وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ ج أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ط قَالُوا بَلَىٰ ج
او ګواهان ئے کړل دوی په ځانونو خپلو چه آیا نۀ یم زۀ رب ستاسو؟ ووئیل دوی ولے نۀ،
شَهِدْنَا ج أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ
ګواهی کوو مونږ (دا وعده مونږ درته رایاده کړه) چه ونۀ وایئ په ورځ د قیامت کښې
إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَافِلِينَ ﴿١٧٢﴾ أَوْ تَقُولُوٓا إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا
چه یقیناً مونږ ددے نه ناخبره وو۔ یا ونۀ وایئ چه یقیناً شرك کړے وو پلارانو زمونږ
مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْ بَعْدِهِمْ ج أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا
مخکښې او وو مونږه اولاد روستو د دوی نه آیا نو هلاکوے تۀ مونږ په هغه کار
فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ ﴿١٧٣﴾
چه کړیدے باطل پرستو۔

تفسیر : ددے نه روستو تعقیبات دی په مخکنو واقعاتو باندے چه اوله رکوع کښې غالباً په بنی اسرائیلو او نورو مشرکانو ردونه دی، او په دویمه رکوع کښې د غفلت د اسبابو د زائل کولو خبره ئے کړیده، او په دریمه رکوع کښې تفصیلاً د شرك رد دے، او په آخر کښې د دعوت آداب دی۔

ربط او مناسبت

۱-مخکښې میثاق الکتاب وو اُوس میثاق الفطرة بیانیږي. په بل تعبیر مخکښې خاص میثاق د بني اسرائیلو ذکر شو اُوس عام میثاق د ټولو بنیادمانو ذکر کوي.

۲-د تیر شوي آیت په اختتام کښې د موسیٰ علیه السلام او د بني اسرائیلو د واقعاتو تسلسل ختم شو، او اُوس خبره عامو انسانانو او خاصکر د نبي کریم ﷺ د زمانې خلقو طرف ته راتاوېږي او هغوی ته وئیلې کیږي چه الله تعالیٰ صرف د بني اسرائیلو نه لوظ نۀ وو اخستې بلکه دا لوظ خو هغه د هر فرد انسان نه اخستې دې چه د هغې تفصیل په راتلونکې آیت کښې راروان دې. (تیسیر الرحمن)

د آیت ظاهري مطلب دا دې چه الله تعالیٰ د بني آدم ټول اولاد (چه قیامته پورې پیدا کیږي) په ازل کښې د دوي د پلارانو د شاګانو نه را وویستل او د هغوی نه ئې ددې خبرې ګواهي واخسته چه هم زۀ ستاسو رب او ستاسو خالق او مالك یم.

ددې آیت په تفسیر کښې دوه رائې دي ❀ (۱) د اکثرو اهل علمو رایه،

(او دا په ډیرو روایاتو کښې هم راغلې ده لکه مشکاة کښې پنځه روایات دي چه د هر یو په سند کښې څه نا څه کلام شته لیکن په مجموع الطرق سره حسن درجې ته رسیږي او هغه په بدائع التفسیر او تفسیر الدر المنثور کښې راجمع دي، شوکانيؒ همدې رائې ته ترجیح ورکړیده او وئیلي ئې دي چه په صحیح مرفوع او موقوف احادیثو سره ددې تائید کیږي، او په صحیح الجامع رقم (۱۷۰۱) کښې شیخ البانيؒ صحیح ګرځولې دی)

دوي وائي چه په عالَم ارواح کښې الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د شا نه د ټولو انسانانو روحونه راوویستل د نرو (سرو) میږانو په شکل په نُعمان علاقه کښې چه د عرفات په خوا کښې دې، او دې ارواحو ته الله تعالیٰ شکلونه ورکړل، مالدار، غریب، مؤمن او کافر هر یو پکښې بیل بیل معلومیدل، نو الله ورسره مخامخ خبرې وکړې چه آیا زۀ ستاسو رب نۀ یم، نو هغوی ووئیل چه آؤ تۀ زمونږ رب ئې. نو الله ورته درې خبرې وکړې چه ما به رب ګڼئ، زما بندګي به کوئ او زۀ به رسولان درلیږم د هغوی تابعداري به کوئ. نو کله چه انسانان دنیا ته راغلل نو دوی ته خو هغه وعده اُوس نۀ ده یاده نو الله تعالیٰ د انبیاء علیهم السلام په واسطه مونږ ته رایاده کړه اګرکه بیا هم زمونږ یاده نشوه لیکن نبي چه په معجزه سره یوه خبره کوي نو هغه انسان منلو ته مجبوره کوي څکه چه د هغه په رشتینوالي کښې هیڅ شك شبهه نۀ وي او بنده په خپل ځان باندې شك کولې شي، نو ګویا که مونږ ته رایاده شوه.

(بیا دا وعده الله تعالیٰ ولے اخستله، ددے څه فائده وه؟ نو پدے آیت کښې الله تعالیٰ د هغے وجه هم بیانوی چه قیامت کښې به الله تعالیٰ د بندګانو سره حساب کوی نو دوی به وائی چه اے الله! مونږ غافله وو او د حق نه مو غفلت کړیدے، یا مو د پلارانو تقلید کړیدے پدے وجه مونږ په غلطه لاره روان وو، نو الله فرمائی چه ما درنه وعده واخسته او د پیغمبرانو په ژبه مے درته رایاده کړه چه په قیامت کښې راته د غفلت او د تقلید بهانه ونکړئ)

نو دا حالت د عالَم الذَّرّ وو چه په هغے کښې د بندګانو نه دا وعده واخستے شوه۔ ددے سره دا روستو آیت ولګوه:

اَنۡ تَقُوۡلُوۡا : دلته اَخۡبَرۡنَا او لا مقدر دے (اَیۡ اَخۡبَرۡنَاکُمۡ لِئَلَّا تَقُوۡلُوۡا) مونږ درته خبر درکړو دے دپاره چه تاسو دا خبره ونکړئ چه مونږ غافل وو الخ۔

❁ دویم تفسیر : (چه هغه محققینو علماؤ غوره کړیدے لکه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ حافظ ابن القیمؒ، حافظ ابن کثیرؒ، ابن قتیبهؒ وغیره چه دوی دغه روایات ضعیف ګڼړلی دی) او وئیلی ئے دی چه دا ګواهی په دنیا کښې مراد ده (نۀ په عالَم ارواح او عالَم الذر کښې) د دوی سره دوه قرینے دی (۱) یو خو دغه روایات ضعیف دی۔ (۲) دویم دا چه پدے آیت کښې (مِنۡ بَنِیۡ آدَمَ مِنۡ ظُهُوۡرِهِمۡ) الفاظ دی یعنی د هر بنیادم د شا نه ئے د هغه روح راویستلے دے۔ او دا کار په دنیا کښې شویدے او هغه روایاتو کښې خو دا دی چه په عالم الارواح کښې ئے د آدم علیه السلام د شا نه راویستلی دی۔

بیا په دنیا کښې الله څنګه وعده اخستے ده؟ نو هغه داسے چه انسانان الله پیدا کړل، عقل ئے ورکړو او دوی ئے ګواه کړل په خپلو ځانونو په ادله عقلیه او فطریه سره یعنی فطرت ئے ورله داسے ورکړو چه الله پیژنی، داسے فطرت ئے ورله جوړ کړو چه د الله نه باغی نۀ دے بلکه الله ته مائل دے، کافر انسان هم یو رب منی، دارنګه عقلی دلیلونه الله ورله دومره زیات چه شمار ئے نشته، لکه آسمانونه او زمکه او نور کائنات او خپله ددے انسان وجود، دے دپاره چه د خلکو بهانه ختمه شی چه اے الله! مونږ غافله وو۔

د دوی مطلب دا دے چه الله په ازل کښې دا تول روحونه نۀ وو راجمع کړی بلکه د بنیادم پیدائش ددے خبرے ګواهی ورکوی چه الله تعالیٰ د دوی خالق دے، او هر بچے الله تعالیٰ په توحید باندے پیدا کوی۔

ددے قول مطابق د (وَاَشۡهَدَهُمۡ عَلٰۤی اَنۡفُسِهِمۡ) معنیٰ دا ده: اَوۡجَدَهُمۡ شَاهِدِیۡنَ بِذٰلِكَ، قَائِلِیۡنَ لَهٗ حَالًا وَّقَالًا] یعنی د دوی وجود ئے داسے جوړ کړو چه دوی پدے باندے ګواهی کوی او پدے

باندې قائل دي په زبان حال او زبان قال سره. (ابن کثیر۳/۵۰۶)

او د ﴿قَالُوْا بَلٰى شَهِدْنَا﴾ مطلب به دا وي چه د انسان په تخلیق (پیدائش) کښ د الله تعالىٰ د کاملے کاریګرئ او د هغه د وجود کوم آثار او دلائل دي د هغے د مخه ګویا که انسانانو ووئیل چه آؤ، اے زمونږ الله! ته زمونږ رب ئے، ځکه چه شهادت (ګواهی) کله په زبان قال (ژبے وینا) سره ادا کیږي او کله په زبانِ حال (یعنی د حال په ژبه) سره. نو دلته دا ګواهی په زبان حال سره ده.

ان تقولوا: یعنی دا دلائل عقلیه او فطریه الله تعالىٰ ددے دپاره ودرول چه تاسو په قیامت کښ د غفلت بهانه ونکړئ الخ.

مګر راجح دا ده چه دا دواړه خبرے جمع کول پکار دي ځکه چه د جنت او جهنم مسئله څه وړه مسئله نهٔ ده، بلکه ډیره لویه خبره ده پدے وجه الله دوه قسمه وعدے اخستی نو الله په عالم الذر کښ هم دا وعده اخستے ده، او بیا ئے د پیغمبرانو په واسطه د هغے خبر هم ورکړو او دلته ئے دلائل هم ودرول، د انسانانو پیدائش ئے په داسے طریقه وکړو چه هغه خپله ګواهی د الله د ربوبیت ورکوی، او دا آوازونه کوی چه د دوی خالق الله دے او د هغه نه سوىٰ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، لکه سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی:

وَتَزْعُمُ اَنَّكَ جِسْمٌ صَغِيْرٌ	❁	وَفِيْكَ انْطَوَى الْعَالَمُ الْاَكْبَرُ

ستا دا خیال دے چه ته یو وړوکے جسم ئے، حال دا چه په تا کښ لوی عالَم راتاو شویدے.

او دا تفسیر د هغه روایاتو سره منافی ځکه نهٔ دے چه د هر انسان د شا نه د هغهٔ روح او د آدم علیه السلام د شا نه ټول روحونه راویستلو مطلب یو دے. یا داسے وئیلے شی چه الله تعالىٰ د آدم علیه السلام د شا نه د هغوی اولاد راویستل او د هغوی د اولادو نه ئے د هغوی اولاد راویستل تر قیامته پورے نو ځکه دلته (مِنْ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ) لفظ استعمال شویدے چه ټولو ته شامل شی. نو په حدیث کښ آدم علیه السلام ذکر شو او په قرآن کریم کښ د عموم او شمول دپاره بنی آدم لفظ ذکر شو. (قاله الحسن بن یحیی الجرجانیؒ- المنار)

وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ: یعنی هغوی ئے په خپلو ځانونو ګواهان کړل چه تاسو په خپلو ځانونو دا ګواهی کوئ چه زهٔ ستاسو رب یم؟. نو هغوی ګواهی وکړه.

۱- **فائده**: دا آیت دلیل دے چه توحید ربوبیت یو ډیر اَهم شے وو پدے وجه الله تعالىٰ د انسانانو په فطرت کښ دا خبره کیخوسته چه د یو رب ګواهی به کوی، که دا الله نهٔ وے

ایخودے نو د توحید ربوبیت مسئله به یوه نظری مسئله جوړه شوے وے چه په هغے باندے به تول خو پریده اکثر خلك هم نۀ وے متفق شوی، پدے وجه په دنیا کښ چه هرڅومره د رائے اختلاف دے، خو تول د عقل خاوندان د ربوبیت اقرار کوی اګرکه مشرکان وی لکه قرآن کریم ددے ګواه دے۔ او هرکله چه د بنده په زړهٔ کښ توحید ربوبیت کامل شی نو بیا توحید الوهیت آسانیږی، بنده چه کله یو رب او مالك وپیژنی نو بیا به د هغه بندګئ ته مجبوره کیږی۔ ددے ازلی او فطری تعلیم داسے نمایان اثر تر نن پورے په انسانی سرشت کښ موجود راروان دے، چه هر انسان ئے د الله د حجت مخے ته مُلزَم کړیدے نو کوم شخص چه خپل الحاد او شرك حق ګنړلو سره د غفلت او بی خبرئ یا د پلار نیکه د روند تقلید عذر کوی نو د هغه په مقابله کښ د الله همدا حجت قاطعه چه په هغے کښ اصل فطرت انسانی طرفته توجه ورکړے شویده یو فیصله کُنْ جواب دے۔

۲- **فائده** : که څوك دا شبهه وکړی چه هغه عهد خو مونږ ته یاد پاتے نشو نو ددے څه فائده شوه ؟۔ جواب دا دے چه ددے نښه د هر چا په زړه کښ شته او په هره ژبه باندے مشهوره ده چه د هر چا خالق الله دے، پدے باندے تول جهان قائل دے، او څوك چه ددے نه منکر وی یا شرك کوی نو هغه د خپل ناقص عقل په وجه سره ځان دروغژن کوی۔

دارنګه الله په خپل وحدانیت باندے دلائل قائم کړیدی او رسولانو د هغے خبر ورکړیدے نو څوك چه د هغے نه منکر شی نو هغه به عنادی وی، د لوظ ماتونکے به وی او په هغه باندے به حجت لازم شوے وی او د دوی په هیرولو او نۀ یادولو باندے د دوی بهانه نۀ جوړیږی کله چه پیغمبرانو د هغے یادګیرنه کړی وی۔ (بغویؒ)

ان تَقُولُوا: قانون دا دے چه په آخرت کښ یو تن عذر پیش کوی نو دوه خبرے ذکر کوی یو غفلت عن الحق (یعنی د حق نه غافله کیدل) او دویم تقلید فی الضلال (یعنی په ګمراهئ کښ د مشرانو تقلید کول) او دا دواړه د خسران (تاوان) اسباب دی۔ نو قیامت کښ به هم خلك دا دواړه بهانے پیش کوی نو الله تعالیٰ دا دواړه بهانے په دنیا کښ ختمے کړے۔

اَوْ تَقُولُوٓا : یا چرته ما ته دا خبره ونۀ وایئ چه زمونږ مشران مشرکان وو او مونږ د هغوی اولاد وو نو مونږ د هغوی تقلید وکړو یعنی مونږ خپله نۀ پو هیدو نو الله فرمائی چه ما اُوس پو هه کړئ دا بهانه به راته نۀ کوئ۔ نو ددے نه معلومه شوه چه د مشرك پلار او نیکه تقلید مۀ کوئ ځکه چه الله خبر درکړو په دلائل عقلیه او نقلیه سره۔

کله چه د یو انسان فطرت د آوازونو آوازونو سره د الله تعالیٰ د توحید ګواهی ورکوی او

الله تـه نهٔ تابع کیږي یا د هغه نه سوئ د نورو د تابعدارئ نه انکار کوي، نو د قیامت په ورځ به د یو مشرك او کافر سره کوم عذر باقي پاتے کیږي۔

علامه سعدیؒ وائي چه کله نا کله یو بنده ته د گمراه پلارانو اقوال او د هغوی فاسد مذاهب راپیښ شي چه دیے پریے د حق گمان وکړي او دا کار پدیے وجه کیږي چه دهٔ د الله د حُجَجُو (دلائلو) او ښکاره نخو نه اِعراض کړیے وي او د اُفُقي او اَنفسي دلائلو نه ئے مخ اړولے وي او د مبطلینو اقوالو ته متوجه شویے وي، نو ډیر کرته ئے داسے حالت ته ورسوی چه د هغے په وجه باطل په حق باندے غوره کوي۔ (تفسیر السعدی۱/۳۰۸)

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾
او دغسے په تفصیل سره بیانوو مونږ آیتونه او دیے دپاره چه دوی را وګرځي (الله ته).

تفسیر: یعني دغه شان په کامل تفصیل سره مونږ د بنیادمانو دپاره آیتونه او دلیلونه بیانوو دیے دپاره چه دوی پکښ عقلونه استعمال کړي او دیے دپاره چه دوی په هغے سره د جهالت او تقلید نه راواپس شي۔ (المنار)

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِيَهْتَدُوْا۔ او دغه شان مونږ تفصیل سره آیتونه بیانوو دیے دپاره چه خلك پریے هدایت مونده کړي او دیے دپاره چه هر یو د یهودیانو او نصارئ او مشرکانو نه پدیے دلائلو کښ سوچ وکړي او حق طرفته او د الله بندګئ ته راواپس شي۔

یهودو ته ئے دا قصه واورو له پدیے کښ اشاره ده چه هغوی هم د مخکني عهد نه اَوړیدلي دي لکه څنګه چه مشرکان اَوړي۔

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا
او بیان کړه په دوی باندے خبر د هغه چاچه ورکړي وو مونږ هغه ته آیتونه خپل
فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾
نو ووتلو د هغے نه (یعني عمل ئے پریخودو) نو وریسے شو شیطان نو شو د گمراهانو نه۔
وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ
او که چرے غوختلے مونږ خامخا پورته کړے به وو مونږ دهٔ لره په هغے سره لیکن دے

أَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰهُ ج فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ
مائل شو زمکې (دنیا) ته او روان شو د خواهش خپل پسې نو حال ددهٔ په شان د حال
الْكَلْبِ ج اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ط
د سپي دے که حمله کوے تهٔ په هغه نو تګاه وهي او که پریږدے هغه نو تګاه وهي،
ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ج فَاقْصُصِ الْقَصَصَ
دا مثال د هغه قوم دے چه دروغژن ګڼړي آیتونه زمونږ پس بیان کړه دا بیان
لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلَا نِ الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا
دے دپاره چه دوی فکر وکړي- بد دے په مثال کښ هغه قوم چه دروغژن ئے کړل
بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٧٧﴾
آیتونه زمونږ او د خپلو ځانونو سره دوی ظلم کوی-

تفسیر : پدے آیت کښ یو بل مثال بیان شویدے چه د اتباع د مَا اُنْزِلَ سره ئے تعلق دے یعنی اتباع د مَا اُنْزِلَ که څوک ونکړي نو ګمراه کیږي لکه د یو مُلا مثال ئے ورکړیدے چه دهٔ ته الله تعالیٰ خپل آیتونه ورکړي وو نو هغه ئے ګوزار کړل او د هغے په مقابله کښ ئے دنیا غوره کړه نو ګمراه شو او سپے ترے جوړ شو-

٢- ددے ربط داسے هم دے چه مخکښ د بني اسرائیلو میثاق او د هغے مخالفت بیان شو نو اُوس په هغوی کښ د یو خاص شخص د میثاق مخالفت بیانوی- (القاسمیؒ)

او پدے آیت کښ الله تعالیٰ د یو عالِم او یو هه سړی د ګمراه کیدو څلور اسباب بیان کړیدی (١) اَلتَّشَبُّهُ بِالْعَوَامِ الْفُسَّاقِ - د عوامو فاسقانو سره په ناسته پاسته او خبرو اترو کښ ځان مشابه کول- یعنی بی پرواه ژوند تیرول- (٢) حُبُّ الدُّنْيَا - (د دنیا سره مینه) چه په هغے سره د الله حکمونه پریدی- (٣) اِتِّبَاعُ الْهَوٰى - غلط او حرام خواهش پسے تلل او د الله حکم ماتول- (٤) اَلْغَفْلَةُ عَنِ اللّٰهِ - د الله تعالیٰ نه غفلت کول-

مطلب : پدے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ د یو داسے سړی خبر ورکړیدے چه هغهٔ ته الله تعالیٰ د آسمانی کتاب علم ورکړے وو چه د هغے تقاضا دا وه چه هغه پدے کښ د موجوده دلائلو او براهینو نه فائده حاصله کړے وے او د الله سره ئے خپل تعلق جوړ کړے وے او د

صلاح او تقویٰ ژوند ئے اختیار کړے وے، لیکن خبره اُلټه شوه، هغه د دنیاوی عارضی مفادو د خاطره د الله نه انکار وکړو او هغه کتاب ئے شا ته گوزار کړو او لمن ئے راخکله او د هغے نه داسے جدا شو لکه يو مار چه د خپلے خرمنے تيكى نه بهر وځى۔

او كله چه هغه دے حال ته ورسيدو نو شيطان هغه لره وموندو او هغه ئے خپل دوست او ملگرے جوړ كړو، او هغه ئے د ضلالت او گمراهئ سختو تيارو ته ورسولو۔

الله تعالىٰ فرمائى: كه مونږ غوختلے نو ددے آسمانى كتاب په وجه به مونږ دا د ثُريّا ستورى ځاى ته رسولے وے، ليكن هغه ددے اهل نۀ وو، هغه دنياوى فائدو ته ترجيح وركړه او د خپل نفس غلام شو او دنيا د هغه آخرى مقصد شو، هيڅ كله ورته قناعت حاصل نشو۔ كله چه ورته يوه فائده حاصله شوه نو بلے پسے ئے منډه كړه، او پدے دنيا حاصلولو كښې حيران او پريشان شو، هيڅ كله ورته سكون او آرام حاصل نشو۔ د هغه سپى په شان چه په هر حال كښې ئے ژبه راويستلى وى او تِږگاه وهى، كه هغه منډه وهى او كه ناست وى۔ نو ځوك چه د آسمانى كتاب د علم لرلو سره د هغے نه د ايمان او عمل صالح فائده نۀ اخلى، هغه شا ته گوزارى او د كفر لاره اختياروى، د هغه مثال په هر دور كښې د هغه مار دے چه د خپلے خرمنے د تيكى نه رابهر شى، او د هغه سپى دے چه په هر حال كښې ئے ژبه راويستلى وى، تِږگاه وهى۔

د آيت مصداقات او شان نزول

۱- د سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ د يو روايت مطابق چه امام شوكانىؒ د احاديثو د كتابونو نه په لسو حوالو سره نقل كړيدے چه دا آيت د بلعام بن باعورا په باره كښې نازل شوے وو چه د موسىٰ ؑ په زمانه كښې د بنى اسرائيلو يو فرد وو او د تورات علم ئے لرلو، ليكن د دنياوى مصالحو (فائدو) د خاطره ئے د هغے نه انكار وكړو او د كفر لاره ئے اختياره كړه۔ او اسرائيلى تاريخى رواياتو كښې ورسره داسے راغلى دى چه موسىٰ ؑ په عمالقه ؤ حمله كوله، او بلعام د هغوى سره وسيدو نو عمالقه راغلل او بلعام ته ئے ووئيل چه دا خلك په مونږ حمله كوى په مونږ ظلم كوى، تۀ دوى او موسىٰ ؑ ته ښيرے وكړه چه زمونږ نه واوړى نو هغه ووئيل چه دا خو د الله رسول دے ځكه ورته ښيرے نشم كولے، نو هغوى ورته د مال لالچ وركړو نو ښځے هم ورته ووئيل چه پيسے واخله او الله غفور رحيم دے، نو هغه ښيرے وكړے نو د هغه دا ښيرے به د هغه په ملگرو لگيدلے نو ددۀ ژبه راووتله

او گمراه شو نو دهٔ ووئيل چه زهٔ خو هسے هم گمراه شوم نو هغوی ته ئے د گمراهئ طريقه وخودله چه کـه بنی اسرائيل خرابول غواړئ نو پيغلے جينکئ پيدا کړئ او هغوی ډولی کړئ او د بنی اسرائيلو فوجيانو ته ئے وليږئ چه هغوی ورسره زنا وکړی نو د هغوی نه به د الله مدد کټ شی نو تاسو به پرے غالبه شئ، لکه دا طريقه اُوس هم د ټولو کفارو خصوصًا د امريکايانو او برطانيانو ده، هغوی چه دا کار وکړو نو بنی اسرائيل په همدے وجه پيل هم شو۔ دا يوه تاريخی قصه ده کيدے شی چه داسے شوی وی او کيدے شی چه نهٔ وی شوی۔

۲- يو بل قول (د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ، سعيد بن المسيبؒ، زيد بن اسلمؒ -بغویؒ) دا دے چه دا آيت د اُميه بن ابی الصلت په باره کښ نازل شوے وو چه هغه ته د آسمانی کتابونو علم وو او پوهيدو چه نزدے يو رسول راتلونکے دے، او اميد به ئے کولو چه هغه رسول به زهٔ يم۔ پدے وجه چه کله نبی کريم ﷺ پيغمبر شو نو هغه د ايمان راوړو نه انکار وکړو او د کفر په حالت کښ مړ شو۔ تفصيل دپاره المنار او بغویؒ او ابن کثيرؒ ته رجوع پکار ده۔

۳- يو دريم قول دا دے چه دا آيت د ابو عامر راهب په باره کښ نازل شوے وو (د حنظله ﷺ پلار وو) دا يو بزرگ وو چه خلکو به ئے خبره منله څکه د جاهليت په زمانه کښ ئے د رهبانيت ژوند اختيار کړے وو، (خو متکبر وو) نو کله چه الله تعالیٰ خپل رسول راوليږلو او مدينے ته ئے هجرت وکړو نو دے په حسد کښ راغے او په هغه باندے ئے کفر وکړو او دا ئے ووئيل چه اُوس خو بادشاهي ددهٔ شوه، ما ته څوك گوری هم نهٔ، نو رسول الله ﷺ ته ئے بنيرے وکړے او دا ئے ووئيل : [أَمَاتَ اللّٰهُ الْكَاذِبَ مِنَّا وَحِيدًا طَرِيدًا] ما او تا کښ چه څوك ډير دروغژن وی الله دِے ئے په يواځے ځای کښ هلاك کړی، رسول الله ﷺ وفرمايل: آؤ، الله دِے داسے وکړی، کله چه د بدر غزا وشوه نو دهٔ ته ډيره غصه ورغله، دے لاړو هرقل بادشاه ته وتښتيدو او هلته وسيدو، او د هرقل بادشاه نه ئے فوج اخستو چه په مدينه باندے حمله وکړی (لکه سورة توبه کښ هغه واقعه راځی چه دهٔ منافقانو ته جواب راوليږو چه په مدينه کښ مسجد ضرار جوړ کړی چه دا زمونږ مورچه شی)

دا د تبوك د غزا وخت وو چه رسول الله ﷺ تبوك ته تلے وو نو پدے وخت کښ دے د شپے صحراء ته وتلے وو، نو يوے ناشنا اژدها وچيچلو چه هلته ئے په صحراء کښ يواځے مردار کړو۔ دا يو شخص وو چه اول کښ نيك وو او الله تعالیٰ ډيره پوهه ورکړے وه ليکن روستو

تکبر کښې راغلو نو ګمراه شو۔ (کبر ډیر لوی مرض دے چه انسان د نبی ﷺ او د الله تعالیٰ نه محروموی)

٤- نو ددے تولو نه زیاته غوره خبره دا ده چه [هٰذَا مَثَلٌ ضَرَبَهُ اللّٰهُ لِلْيَهُوْدِ وَالنَّصَارٰى]

دا یو مثال دے چه الله تعالیٰ د یهود او نصاراؤ دپاره بیان کړیدے چه دوی ته الله تعالیٰ علم ورکړو او بیا راولګیدل دغه ځلور مرضونه پکښې پیدا شو او ورسره تکذیب هم، نو الله ترے سپی جوړ کړل نو اُوس د سپو نه متأثره کیدل پوره بیوقوفی ده۔

٥- صاحب المنارؒ وائی : هٰـذَا مَثَـلٌ ضَرَبَهُ اللّٰهُ لِلْمُكَذِّبِيْنَ بِآيَاتِ اللّٰهِ الْمُنَزَّلَةِ عَلٰى رَسُوْلِهٖ عَلٰى مَـا أُيِّـدَهَـا بِـهٖ مِـنَ الْآيَـاتِ الْـعَـقْلِيَّةِ وَالْكَوْنِيَّةِ وَهُوَ مَثَلُ مَنْ آتَاهُ اللّٰهُ آيَاتِهٖ فَكَانَ عَالِمًا بِهَا حَافِظًا لِقَوَاعِدِهَا وَأَحْكَامِهَا قَادِرًا عَلٰى بَيَانِهَا وَالْجَدَلِ بِهَا وَلٰكِنَّهٗ لَمْ يُؤْتَ الْعَمَلَ مَعَ الْعِلْمِ بَلْ كَانَ عَمَلُهٗ مُـخَالِفًا لِعِلْمِهٖ تَمَامَ الْمُخَالَفَةِ فَسُلِبَهَا......] دا مثـال دے چه الله تعالیٰ د هغه کسانو دپاره بیان کـړیـدے چــه د الله د آیتـونـو تـکـذیـب کـوی کـوم چـه الله پـه خپـل رسول ﷺ باندے نازل کړیدی او د هغے تائید ئے په عقلی او کونی دلائلو سره کړیدے، نو دا مثال د هغه چا دے چه الله ورتـه آیتـونـه ورکـړی وی او هـغـه پـه هـغے باندے عالِم (پوهه) وی، د هغے د قواعدو او احـکـامـو حـافظ وی، د هغے په بیانولو او په هغے باندے په بحث کولو قادر وی لیکن هغه تـه د علم سره عمل نۀ وی ورکړے شوے بلکه د هغه عمل د هغه د علم پوره مخالف وی نو د هـغـه نه دغه آیتونه واخستے شی ځکه چه هغه علم چه په هغے عمل ونشی زر اخستلے کیږی، نو دے مشابه شو د هغه مار سره چه د خپلے ځرمنے نه وځی او ځرمن ددۀ نه وځی او هغه په زمکه پریدی،

یا دے د عـمـل او د عـلم نه په جدائی کښې د هغه شخص په شان شو چه د علم نه وځی او هـغـه پـریـدی لـکـه زړے جامے چه مالك ئے ګوزار کړی، یا مار خپل ځرمن ګوزار کړی چه هیـڅ اثـر پـرے پاتے نشی۔ نو حاصل معنیٰ د مثال دا شوه چه کوم کسان چه د الله د آیتونو تکذیب کوی کوم چه الله تعالیٰ په خپل رسول ﷺ باندے نازل کړیدی او هغه په دلیلونو او حـجتـونـو سره واضـح شویدی په شان د هغه عالِم دی چه د خپل علم د میوے د فائدے اخستـو نـه مـحروم شی ځکه چه دے هر یو د الله په آیتونو کښې د سوچ او فکر او د عبرت او د اخلاص نظر ونکړو۔

بهـر حـال د آیـت د نـزول سبـب کـه هر څه وی خو ددے حکم عام دے، لکه علامه سعدیؒ وائی چه (اَلَّذِيْ آتَيْنَاهُ) جـنس دے هر چا ته شامل دے چه الله ورته آیتونه ورکړی وی او هغه

تـرے وخـي، (نـو پـدے كښې د مكے مشركان هم داخل دي چه الله ورته قرآن راولیږلو او دوی پرے پو هـه شو بیا ئے ترے د دنیا پرستئ د وجه نه مخ واړولو، او زمونږ د امت د اهل بدعو دپاره هم مثال گرځي او خپله هم ترے ډیره یره پكار ده).

او پـدے كـښې ډیر لـوئـي وعـیـد دے هـغـه عـلـماءِ سوء (ناكارو) دپاره چه د دنیا د عارضي خـونـدونـو د خـاطـره آخـرت هـیـروي او دنیا پسے لـگیږي. او دا دلیل دے چـه د خواهش تـابـعداري او شهواتو ته مائل كیدل سبب د شرم دے. او څوك چه په علم عمل كوي الله به ئے پـورتـه كـوي، او د شیطان نه به محفوظ كیږي، او كه څوك پرے عمل نكوي نو خكته كیږي به او شیطان به پرے مسلط كیږي. (تفسير السعدي ٣٠٨/١)

الله تعالىٰ دِے د اسلام تمام نیكان علماء ددے آیت د مصداق جوړیدو نه محفوظ وساتي، آمین.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ : دا ضمیر یهـودو ته او دارنگه د هغه زمانے مشركانو او ټول امت ته راجع دے.

نَبَأَ: دا هغه خبر ته وائي چه د هغے لوی شان وي.

فَانْسَلَخَ : انسـلاخ په اصل كښې پوستكي وتلو ته وائي، نو دے نه معلومیږي چه قرآن او حـدیـث د انسـان دپـاره جـامـه ده، نو كه تا سره دا موجود وي، نو تهٔ به عزتمند ئے، عالِم كه ډیر گـنـهـگـار وي خـو خـلـكـو ته ئے عیبونه نهٔ ښكاره كیږي خلك ورته بزرگ وائي. نو د انسلاخ معنىٰ دا ده چه عملونه ئے پریخودل، او دے آیتونو ته ئے هیڅ نهٔ كتل، نهٔ د هدایت دپاره او نهٔ د عبرت حاصلولو او نهٔ د عمل دپاره. (المنار)

او د فـاسـقـانـو سره ئے ځان مشابه كړو چه هغوی نهٔ د خبرو پرواه لري او نهٔ د عمل او نهٔ د نـاستے پاستے، بلكه چه مجلس كښې ئے څه ووئیل او څه ئے وخوړل او چرته لاړو هیڅ پرواه ورسره نـهٔ وي. علماء به داسے نهٔ وي بلكه ددے ټولو خبرو پابندي او احتیاط به كوي. علم كول آسان دي لیكن په هغے باندے عمل كول او د هغے لحاظ ساتل سخت دي.

فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ : أَيْ اَدْرَكَهُ وَلَحِقَهُ. (المنار والقاسمیؒ) یعنې شیطان وریسے سم ولگیدو او سمه فائده ئے ترے واخسته، اتباع دے ته وائي چه یو تن پسے روان شي او هغه رالاندے كړي او هغه پورے ونښلي. او تَبِعَه ئے ونهٔ وئیل ځكه چه په هغے كښې دا كمال نشته.

الْغٰوِيْنَ : غـاوي هـغـه چـا تـه وائي چه د علم نه روستو گمراه شي. ❁ یا د عقیدے او د عـمـل دواړو گمراه. (احسن الكلام) ❁ یا فـاسـد او مُفسـد (یـعـنـي خپله خراب او نورو لره

خرابونكي)- (المنار)

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ : د الله په كتاب باندے انسانان پورته كيږى لكه حديث كښى دى :

[اِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ اَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهٖ آخَرِيْنَ]- (صحيح مسلم : ١٩٣٤)

الله تعالىٰ پدے كتاب باندے څه خلك پورته كوى او څه پرے ښكته كوى)-

وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ : سوال پيدا شو چه الله تعالىٰ ولے دهٔ د پورته كولو اراده ونكړه ؟ جواب راغے چه دهٔ كښى دوه بد صفتونه نور پيدا شو- ځان دپاره ئے خكته والے غوره كړو-

اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ : اَىْ رَكَنَ اِلَى الْاَرْضِ كَاَنَّهٗ مُخَلَّدٌ فِيْهَا- (راغبؒ) زمكے (يعنى دنيا) ته داسے مائل شو گويا كه دے به په كښى هميشه وى- او مرگ ته ئے فكر نهٔ وو-

(دا خبره بار بار كيږى چه تجارتونه كول، گاړى موټرے پيدا كول، ښځه او اولاد طلب كول دنيا ته ميلان نهٔ دے بلكه ددے په وجه دين پريخودل يا كمزورے كول او د الله امر پدے باندے ماتول دنيا پرستى ده او دا عيب دے)-

وَاتَّبَعَ هَوٰهُ : دا تشريح ده د (اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ) چه خواهشاتو پسے روان شو-

يعنى زړه چه ئے څه غوښتل هغه ئے كول، د الله د حكمونو هيڅ پابندى ئے نهٔ كوله-

او دا د الله طريقه ده چه څوك په خپله خوښه د خواهش پسے روان شى، نو هغه ئے د نيغے لارے نه اړوى كومه چه د دنيا او د آخرت سعادت ته رسونكى ده او د شيطان هلاكونكو لارو باندے ئے وراړوى- (المنار)

صاحب المنارؒ وائى : ددے شرط او استدراك حاصل معنىٰ دا ده چه چا ته د الله آيتونه وركړے شو نو دهٔ نفس كمالاتو ته رسيدو او درجات ئے پورته كيدل ځكه چه پدے كښى هدايت او كاميابى او نصيحت دے، ليكن دا هغه چا ته حاصليږى چه دا آيتونه ئے په همدغه نيت باندے حاصل كړى وى، او كه چا ددے نيت نهٔ وى كړے نو دهٔ نفس هغے ته نهٔ متوجه كيږى بلكه هغه د الله آيتونه بغير د قصد نه (اتفاقى طور سره) حاصل كړيدى يا ئے د دنيا او مال د حاصلولو نيت كړيدے- او ددے سره ئے په نفس كښى هغه مرض (خواهش) هم دے چه ددے آيتونو د هدايت نه ئے منع كوى نو هيڅ فائده ئے ترے وانخسته او په جلتئ سره د هغے نه ووتو- الى آخر ما قال-

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ : يعنى دے د سپى په شان وگرځيدو-

يَلْهَثْ : لَهْث او لُهاث، په پښتو كښى ئے ترجمه ده : تيگاه وهل- او په عربئ كښى سُرْعَةُ

التَّنَفُّسِ مَعَ اِخْرَاجِ اللِّسَانِ مَعَ الْحَرَكَةِ) ته وائي- یعنی زر زر ساه اخستل سره د ژبے راویستلو او د ژبے خوزولو نه- دا د سپی عادت دے برابره ده چه ستړے یا تږے وی او که نهٔ، او نور حیوانات ئے د ستړی والی نه پس کوی او برابره ده چه په هغه باندے تا حمله کړی وی یا نهٔ وی کړی خو دا کار به کوی ځکه چه د سپی په معده کښې انتهائی حرارت (گرمائش) دے که دا ونکړی نو زړه ئے چوی-

د مثال حاصل :

هر هغه عالِم چه هغه قرآن او سنت پریدی او بی دینه شی نو په هغه کښې به د سپو صفات راځی، لکه د سپی صفات دا دی : ۱- (يَأْكُلُ الْعُذُرَةَ) گندگی خوری.
۲- يَرْجِعُ فِيْ قَيْئِهٖ) خپل قے دوباره ختی- ۳- (اَلْمَيْتَةُ اَحَبُّ اِلَيْهِ مِنَ اللَّحْمِ الطَّرِيِّ) مرداره ورته د تازه غوښے نه ډیره مزه ورکوی- ٤- (لَوْ اَلْقَيْتَ اِلَيْهِ كِسْرَةَ خُبْزٍ لَايَنْبَحُ عَلَيْكَ) که تا ورته د ډوډئ قطره گوزار کړه نو نهٔ به غاپی ورنه بیا درباندے چلك لگوی.
۵- (يُطْرِقُ رَأْسَهٗ عِنْدَ مَشْيِهٖ) د مزل په وخت کښې ئے سر خکته کړے وی.
٦- (يَصُوْلُ عَلٰى جِنْسِهٖ) په خپلو ملگرو باندے حمله کوی.
۷- (يَخْشٰى مِنَ التَّهْدِيْدِ) د دهمکئ نه یریږی- یعنی یروندك هم دے.
۸- په لاره چه روان وی نو خړطم په زمکه راکاږی او بویه ول کوی.
۹- دارنگه د بدن نور اجزاء نهٔ بویه وی سوئ د خپل دُبر نه.
۱۰- کله چه په گټه باندے وویشتل شی نو د گټه پسے منډه وهی او په هغے چلك لگوی. ۱۱- او چه متیازے کوی نو خپه اُوچته کړی او په پاك بوټی باندے متیازے کوی ددے دپاره چه زهٔ پلیت نشم. ۱۲- د ذبح نه مخکښې د سپو جنگ وی. او دا ټول ډیر ناکاره او د ذلت او حرص صفتونه دی چه په ناکاره مُلا کښې راځی، مردارے دوی خوری، او په خپلو هِبُو، هدیو کښې رجوع کوی، په ریاست کښې د وخت نه مخکښې جگړے کوی.

د مثال تطبیق

اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ : ۱- ددے مثال تطبیق دا دے چه دا شخص که مالداره وی او که غریب په دواړو حالتونو کښې حرص کونکے دے. ۲- حسن بصریؒ وائی : دُعِيَ اَوْ لَمْ يُدْعَ، وُعِظَ اَوْلَمْ يُوْعَظْ) (القاسمی) که دهٔ ته دعوت ورکړے شی او که ورنکړے شی، او دهٔ ته نصیحت

وکړے شی او که ونکړے شی، په دواړو صورتونو کښې ناکاره دے یعنی دین پرے اثر نکوی۔

۳- صاحب المنارؒ وائی : دا شخص په ډیر بد حالت کښې دے، دے همیشه په غم کښې اخته وی برابره ده چه دغه څیزونه چه دے پرے غم کوی د اهتمام والا وی یا خسیس کارونه او بیکاره شهوات وی لکه هغه کسان چه د خواهشاتو بندګان وی او کم همت والا وی ته به دوی وینے چه د سپی په شان تګاه به وهی د سترګی والی او ستومانۍ نه اګر که هغه شے چه دوی ئے قصد کوی او د هغے دپاره غمونه کوی هغه سپك شے وی چه د سترګی والی لائق نۀ وی، او تۀ به د دوی نه هیڅوك ونۀ وینے چه کوم خواهشات او شهوات حاصلوی چه په هغے باندے راضی وی بلکه د هغے نه ئے طمع او سترګی والے نور هم زیاتیږی۔ (المنار۹/۳٤۲) دا د عامو دنیا پرستو خوئی دے فکر پکښې وکړه۔

٤- قتادهؒ وائی : دا مثال د کافر دے چه زړه ئے مړ شویدے لکه څنګه چه د سپی زړه مړ وی۔ (ابن جریرؒ)

٥- [وَذٰلِكَ لِاَنَّـهُ اسْتَـوٰى فِيْ حَقِّهٖ اِيْتَاءُ الْآيَاتِ وَالتَّكْلِيْفُ بِهَا وَالتَّعْظِيْمُ مِنْ اَجْلِهَا وَعَدَمُ ذٰلِكَ الخ) یا دا چه که دۀ ته آیتونه ورکړے شی یا نۀ او په هغے باندے مکلف کړے شی یا نۀ او د هغے په وجه دۀ تعظیم وکړے شی یا نۀ دا ټول دۀ په حق کښې یو برابر دی۔ لکه سپی باندے حمله وکړے شی او که نۀ او څه ورته ووئیل شی یا نۀ په دواړو صورتونو کښې تګاه وهی۔ (القاسمیؒ)

کَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا : یعنی دوی آیتونه پدے وجه دروغژن ګڼړی چه د دوی دا ګمان دے چه پدے باندے ایمان لرل او عمل کول د دوی عزت او عظمت ختموی کوم باندے چه دوی فخر کوی ځکه چه د بل چا تابع به شی، او د دوی د پلارانو نیکونو مرتبه راښکته کوی، او د دوی خواهشات او لذات خرابوی، نو ددے باطل ګمان په وجه دوی په آیتونو کښې په عقلمندۍ سره ونۀ کتل، بلکه دے ته ئے پدے نظر وکتل چه پدے سره د دوی مرتبه راښکته کیږی، او دا د دوی د مشرانو د ګمراهۍ اقرار شمارلے کیږی، نو پدے سره په آیتونو کښې عیب نشته بلکه عیب په دے خواهش پرستو کښې دے چه دوی بد اختیار وکړو نو د آیتونو د فائدے نه محرومه شو۔ ځکه چه ډیر انسانان داسے شته چه الله ورته فطری هِبی (عقلونه) ورکړی وی لیکن هغه ئے صحیح استعمال نکړل چه د دوی د علم او عمل درجات پورته کړی، او ډیر انسانان شته چه هغوی خپل حواس په ضرر کښې او عقل او ذکاوت ئے په شر کښې استعمال کړو نو الله په دوی باندے ظلم نۀ دے کړے لیکن دوی د

خپلو ځانونو سره ظلم کوی۔ (المنار)
فَاقْصُصِ الْقَصَصَ : اَیْ فَاقْصُصْ اَیُّهَا الرَّسُوْلُ قَصَصَ ذٰلِكَ الرَّجُلِ الْمُشَابَهَةِ حَالُهٗ لِحَالِ هٰؤُلَاءِ الْمُكَذِّبِیْنَ بِمَا جِئْتَ بِهٖ مِنَ الآیَاتِ الْبَیِّنَاتِ] یعنی اے رسوله ! د مکے مشرکانو ته د دغه سړی قصه بیان کړه چه د هغه حال ددے مکذبینو د آیاتونو د حال سره مشابه دے چه دوی ته هم آیتونه راغلی دی او پرے پوهه شویدی، کیدے شی چه د هغه بد حالت او بد مثال دوی لره په فکر او سوچ کولو باندے راولی نو کله چه دوی په هغے کښ فکر وکړی نو د هغے نه د خلاصی فکر به هم وکړی او په آیتونو کښ به سوچ وکړی په سترګه د عقل او بصیرت سره نهٔ د خواهش او د دشمنئ په سترګه (کیدے شی چه عبرت حاصل کړی او کفر او عناد پریدی او د ایمان لاره اختیار کړی) ځکه چه ددے فکر نه علاوه بله لاره د هدایت نشته۔ (المنار)
لَعَلَّهُمْ یَتَفَكَّرُوْنَ : بعض علماء الغرب وائی : چه د انسان مدنی او انسان وحشی ترمینځ فرق کونکے شے تفکر دے۔ انتهیٰ، او چه څومره انداز د الله په مُنَزَّل آیتونو او په آفاقی او اَنفُسی دلیلونو کښ فکر وی نو په دغه اندازه به د خلکو په علوموا او اعمالو کښ ارتقاء (ترقی) وی برابره ده که دنیاوی علوم او اعمال وی او که دینی۔ (المنار)
سَآءَ مَثَلًا : یعنی د دغه قوم مکذبینو مثال په مثالونو کښ او صفت په صفتونو کښ ډیر بد دے۔
او د بد والی وجه دا ده چه دوی د سپو سره مشابه شو، یا په استواء د حالتینو کښ چه په دواړو حالتونو کښ په نقصان کښ دی او ګمراه دی، که دوی ته نصیحت کیږی او که نهٔ، یا په خِست او ذلت کښ ځکه چه د سپو د خوراك او د شهواتو نه علاوه بل هیڅ همت نهٔ وی۔ نو څوك چه د هدایت او علم نه وځی او خپل خواهش ته متوجه شی، نو دا د سپی مشابه شو چه ډیر بد مثال ئے دے۔ ددے وجه نه په حدیث کښ دی چه زمونږ دپاره بد مثال نشته، کوم شخص چه خپله هبه کښ رجوع کوی د سپی په شان دے چه په خپل قیء کښ رجوع کوی۔ (القاسمیؒ)
بعض ناپوهه خلك چه د قرآن نه ئے تهوپك جوړ کړے وی دا قسم مثالونه په اهل حقو او حق قبلونکو باندے لګوی الله دِے د هغوی سره خپله معامله وکړی او مونږ دِے دداسے بدو صفاتو نه بچ وساتی۔ آمین۔

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ج
چا ته چه هدایت وکړی الله تعالیٰ نو همدا هدایت موندونکے دے
وَمَنْ يُّضْلِلْ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾
او چا له چه گمراه کړی نو دغه کسان هم دوی تاوان والا دی۔

تفسیر : پدے کښ د الله تصرف بیانیږی او داسے جمله چه په قرآن کښ راشی نو ډیره فائده منه وی، ۱- یوه فائده ئے د الله تصرف شوه او مطلب دا دے چه وعظ او نصیحت د هدایت د موندلو صرف ظاهری اسباب دی، هدایت خو په اصل کښ د الله د طرف نه ملاویږی، هغه چه چا له غواړی هدایت کوی او چه چا له غواړی گمراه کوی۔

۲- پدے کښ دویمه فائده دا وی چه کوم کسانو ته هدایت شویدے نو دا ورته الله تعالیٰ کړیدے دا د دوی خپل ذاتی کمال نهٔ دے، او څوك ئے چه گمراه کړیدی نو دا په دوی کښ نقصان دے۔ ۳- دریمه فائده پکښ زیاته غوره او عجیبه ده چه پدے کښ بندگانو ته دا تلقین ورکوی چه هدایت او گمراهی زما په لاس کښ ده، نو ما ته ځان نزدے کړئ چه هدایت درته وکړم او ما نه هدایت وغواړئ۔ او زما نه سرغړونه مهٔ کوئ ورنه گمراه به شئ۔ او دارنگه ما پورے د گمراهئ نه پناهی وغواړئ چه زهٔ مو ترے بچ کړم۔

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ز صلے لَهُمْ قُلُوْبٌ
او یقیناً پیدا کړیدی مونږ د جهنم دپاره ډیر د پیریانو او د انسانانو نه، دوی له زړونه دی
لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ز وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ز
چه نهٔ پوهیږی په هغے سره او دوی لره داسے سترگے دی چه لیدل نهٔ کوی په هغے سره
وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ط اُولٰٓئِكَ
او دوی لره داسے غوږونه دی چه آوریدل نهٔ کوی په هغے سره، دا کسان
كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ط اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾
په شان د څارپیانو دی بلکه دوی ډیر بے لارے دی (د هغوی نه) دا کسان هم دوی ناخبره دی۔

تفسیر : ربط :

۱- دغه مُلا ولے گمراه شو؟ دا په سبب د غفلت د هغه سره. الله تعالیٰ دلائل ورکړی وو نو د هغے نه ئے غفلت وکړو. نو غفلت اولنے سبب دے، ددے نه روستو په سړی کښې (اِنۡسَلَخَ مِنۡهَا) پیدا شی، (یعنی د الله د آیتونو نه وځی) بیا خلود الی الارض، (دنیا ته مائل شی) بیا اتباع الهوی (د خواهش تابعداری) بیا تکذیب. دا پنځه صفات په یو بل دغسے مرتب دی. نو هرکله چه الله تعالیٰ دلائل رالیږلی دی او انسان ته ئے غوږونه او سترګے او زړونه ورکړیدی او بیا هم ددے نه عبرت نۀ اخلی نو لوی بدبخته دے.

۲- بعض علماء دا آیت د ﴿وَاِذۡ اَخَذَ رَبُّكَ مِنۡ بَنِیۡۤ اٰدَمَ﴾ سره لګوی ځکه چه هلته دلائل بیان شو نو دلته وائی چه ددے دلائلو نه به غفلت نکوئ. او که څوك ددے نه غفلت کوی معلومیږی چه دا خلك د جهنم دپاره پیدا شویدی.

۳- یا مخکښې د هدایت او ګمراهئ او د الله د توفیق او نۀ توفیق خبره ذکر شوه نو ددے په مناسبت سره الله تعالیٰ دلته خبر ورکړیدے چه الله جِنّات او انسانان ددے دپاره پیدا کړیدی چه هغوی د خپل عقل او بصیرت نه کار واخلی او خپل حقیقی معبود وپیژنی، او د هغه عبادت وکړی او د هغه د احکامو او اوامرو مطابق ژوند تیر کړی.

د ډیرو جناتو او انسانانو حال دا دے چه هغوی د الله د دین نه انکار کوی، د الله د رالیږلے شوی انبیاء او رسولانو په خلاف جنګ کوی، او د هغه د بندګئ لاره پریدی او د عناد او د استکبار لاره اختیاروی، او د هغوی حال داسے وی چه د هغوی زړونه او سترګے او د هغوی غوږونه بیکاره وی، د هیڅ خیر خبرے د قبلولو صلاحیت ئے باقی پاتے نۀ وی.

د الله د توحید او د طاعت او د هغه دپاره د بندګئ خالص کولو تول دلائل او براهین که هغه ته پیش کړے شی لیکن د هغے نه هیڅ فائده نۀ اخلی بلکه د هغه تکبر او غرور نور هم زیاتیږی، د هغه حالت د څناورو نه بدتر کیږی ځکه چه څناور خو کم نه کم د خپلے نفع او نقصان ترمینځ تمییز کوی، او هغه کار کوی کوم دپاره چه پیدا شویدے، لیکن کافر او متکبر جنی او انسان د خیر او شر ترمینځ د تمییز صلاحیت ختموی. نو ګویا که د هغه حالت داسے شی لکه چه الله هغه د جهنم دپاره پیدا کړیدے، هغه د جهنم په لاره مخکښې روان وی، تردے چه د هغه مرګ راشی او جهنمی جوړ شی. او دا خبره د الله په ازلی علم کښې ده چه څوك د حق دعوت قبلوی او څوك انکار کوی، چا ته د خیر توفیق ملاویږی او چا ته نۀ، څوك د جنت په لاره روانیږی او څوك د جهنم په لاره.

لَا یَفۡقَهُوۡنَ بِهَا : اَیۡ لَا یَتَدَبَّرُوۡنَ فِیۡ اٰیَاتِ اللهِ. د الله په آیتونو کښې په هغے سره سوچ

نکوی۔
لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا : اَیْ اَدِلَّةَ التَّوْحِیْدِ۔ د توحید دلائلو ته نهٔ گوری۔
لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا : یعنی قرآنی آیتونه نهٔ آوری او کائناتو ته هم نهٔ گوری۔
بَلْ هُمْ اَضَلُّ : دوی ته د چارپیانو نه زیات گمراه ځکه ووئیل شو چه دا حواس الله تعالیٰ حیواناتو ته هم ورکړیدی لیکن انسان ئے په عقل سره خاص کړیدے، نو کله چه دهٔ پدے سره هیڅ هدایت حاصل نکړو او مقصد ته پرے ونهٔ رسیدو نو دا دلالت کوی چه دا د حیوان نه هم ډیر گمراه دے۔ بلکه دا چه حیوان ته چه کومه ذمه واری سپارل شویده هغه کوی او ښه او بد پیژنی، او دا انسان خپل ښه او بد نهٔ پیژنی، کندے (جهنم) ته پریوزی او نهٔ پو هیږی۔
هُمُ الْغٰفِلُوْنَ : جهنم له الله تعالیٰ غافلان او بی عقله خلك پیدا کړیدی۔

سوال وجواب

سوال دا دے چه بندگان خو عبادت له پیدا دی او دلته وائی چه ډیر د دوی نه جهنم له پیدا دی؟ جواب دادے چه (لِجَهَنَّمَ) کښ لام د عاقبت دے یعنی عاقبت ئے دا شی چه جهنم ته ورسیږی کله چه دوی د خپل رب بندگی ونکړی کوم له چه پیدا دی۔ او دا مطلب ئے نهٔ دے چه اول نه الله جهنم له پیدا کړیدی عبادت کوی او که نهٔ ؟۔ ددے وجه نه ئے دلته كَثِيْرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ووئیل، یعنی د ډیرو خلکو عاقبت جهنم جوړ شی۔
الْغٰفِلُوْنَ : قرآن کریم د غفلت تکی ډیر ذکر کوی ځکه چه غفلت ډیره لویه بیماری ده، هر کفر او شرك او فساد د غفلت نه پیدا کیږی نو سوال پیدا شو چه هرکله غفلت دومره بد شے دے نو دا به مونږ په څه زائل کوو او ددے نه به مونږ څنگه بهر راوځو؟ نو روستو آیتونو کښ الله چل خودلے دے۔

وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ص
او خاص الله لره نومونه دی ښائسته نو دعا غواړئ د هغه نه په وسیله د هغے سره
وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ط
او پریږدئ هغه کسان چه کوږوالے کوی په نومونو (او صفتونو) د الله کښ

سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۰﴾

زردے چه بدله به ورکړے شی دوی ته د هغے عملونو چه دوی ئے کوی۔

تفسیر: ربط:

۱- پدے آیتونو کښ الله تعالیٰ د غفلت نه د بهر وتلو اته اسباب خودلی دی، شپږ پکښ ډیر ظاهر دی، ۱- اول سبب: (وَلِلّٰهِ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنٰى) دے یعنی د الله نه د هغه په اسماء او صفاتو او افعالو سره دعا کول دی۔ ۲- دویم وممن خلقنا امة: اَلدَّعْوَةُ اِلَى اللّٰه۔ (یعنی حق بیانول)۔ ۳- دریم: اَلتَّفَكُّرُ فِىْ شَخْصِيَّةِ الرَّسُوْلِ الْفَذَّةِ د رسول الله ﷺ په شخصیت کښ فکر کول، دے ته په معجزاتو د رسول الله ﷺ کښ فکر کول هم وائی، د رسول الله ﷺ شان پیژندلو سره انسان د غفلت نه راوځی۔

٤- اَلتَّدَبُّرُ فِى الْكَوْنِ (کائناتو کښ سوچ وکړه)

٥- اَلتَّدَبُّرُ فِى الْمَوْتِ۔ په مرګ کښ سوچ وکړه (وَاَنْ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ)۔

٦- اِسْتِحْضَارُ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ۔ د قیامت استحضار (او هغے ته متوجه کیدل) (يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ)۔

۲- مناسبت: مخکښ آیت کښ بیان شو چه کوم خلق د غرور لاره اختیاروی او دا الله تعالیٰ نه په نیغه لاره روانیدو توفیق نهٔ غواړی، د هغوی ځای به جهنم وی۔ دا آیت کریمه دے خبرے ته اشاره کوی، یو خو دا چه بنده دِے په هر وخت کښ الله ته ژړا او زاری کوی او د دنیا او د آخرت هر خیر دِے د هغه نه غواړی، د هغهٔ سره دِے تعلق جوړ کړی، ځکه چه د هر څه مالك هم هغه دے۔ په صحیح حدیث کښ راغلی دی چه دعا عین عبادت دے۔ او په صحیح حدیث کښ دا هم راغلی دی چه کوم بنده د الله نه نهٔ غواړی نو الله د هغه نه ناراضه کیږی۔ (تیسیر الرحمن)

د الله نومونو ته حسنیٰ ولے وائی؟

الْحُسْنٰى: د الله نومونو او صفتونو ته حسنیٰ ولے وائی؟[لِاَنَّهَا دَالَّةٌ عَلٰى صِفَاتٍ وَلَيْسَتْ اَعْلَامًا مَحْضَةً] (السعدی) ځکه چه دا په صفتونو باندے دلالت کوی او خالص نومونه نهٔ دی چه د صفاتو نه خالی وی لکه د بندګانو نومونه شو۔ نو الله ته چه الرحمن وائی نو دا د الله نوم دے او په رشتیا په الله کښ رحم هم شته۔ او که مونږ ته دا نوم کیخودے شی نو دا

به پوره حقیقت نهٔ لري۔ ❁ بـلـه دا چه معاني ئې ډېرې مزیدارې دي۔ نو کوم نوم کښې چه مدح او قـدح (عیـب) دواړه وي نـو دا به په (حسنیٰ) کښې داخل نهٔ وي۔ ❁ او حسنیٰ پدې وجـه هـم دي چـه د الله هـر نوم چه د کوم لفظ نه مشتق وي نو د هغې ټوله معنیٰ به پکښې مـراد وي لـکـه (العلیم) معنیٰ دا ده چه د الله دپاره ټول علمونه دي یعنی علم ئې محیط دے په هر شي باندې وغیره۔ (تفسیر السعدی)

او ددې آیت نه معلومیږي چه د الله تعالیٰ ددې بنائسته نومونو نه روستو چه کومه دعا کیږي هغه دعا قبلیږي۔

فَادْعُوْهُ بِهَا : ددې درې مصداقه دي (۱) سَمُّوْهُ بِهَا ۔ یـعـنـي هغه نومونه الله ته کیږدئ او هغه ورته یادوئ کوم چه الله تعالیٰ ځانله ایخي وي۔ او قرآن او حدیث کښې راغلي وي۔

(۲) اُعْبُدُوْهُ بِهَا ۔ پـه دغـه صـفـاتـو بـنـدګي وکړئ یعنی د هغې وِرد کوئ، دا د الله تعالیٰ د نومونو بندګي ده۔

(۳) حاجتونه وغواړئ د هغې په وسیله سره۔ دا درې واړه معاني صحیح دي۔

د الله په نومونو کښې د الحاد صورتونه

الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ : الـحـاد په حقیقت کښې مائله کول ددې نومونو دي ددې د حقائقو نه۔ نو د الله په نومونو کښې الحاد (کجروی) په ډېرو طریقو سره ده :

(۱) [بِـأَنْ يُسَـمّٰى بِهَا مَنْ لَايَسْتَحِقُّهَا] د الله نـو مـو نـه مـخـلـوق ته ورکول لکه مشرکانو به خپلو معبودانو ته آلهه وئیل۔ (سعدیؒ)

(۲) بِإِطْلَاقِ اسْمِ اللّٰهِ عَلَى الْغَيْرِ ۔ یـعـنـي د الله نوم په بل چا باندې کیخودل لکه بندګانو ته رحـمـن، یا رب العالمین وئیل۔ (۳) [تَسْمِيَةُ اللّٰهِ بِشَيْءٍ لَمْ يُسَمِّ بِهِ نَفْسَهٗ] (المنار) الله ته داسې نـوم کـیـخـودل چـه هـغـه ځان دپاره نهٔ وي ایخودې۔ ددې وجه نه محققین علماؤ وئیلي دي چـه هـغـه نومونه چه په عوامو کښې مشهور دي دا د الله دپاره کیخودل نهٔ دي جائز لکه الله تـه خدا، خدائې، خلائې یا ګاډ یا تغرن (د ازبکانو په نیز) یزد متعال، یزدان او اهرمن (د فارس والو، ایرانیانو په نیز) یا بګوان او ایشور (د هندوانو په نیز) دا هم په الحاد کښې داخل دي۔

(٤) د الله تـعـالـیٰ نـو مـونـه بـدلـول او نور نومونه ترې جوړول لکه چه مشرکانو د الله نه (لات) او د عزیز نه (عُزّٰی) او د مَنَّان نه (مَنَات) جوړ کړي وو۔

(٥) د الله نـه نـو مـونـه نفي کول او د هغې نه انکار کول لکه مُعَطِّله او جهمیه ؤ ترې انکار

کړیدے۔

(٦) دغـه شان د الله تعالیٰ د نومونو په تاویل کولو سره د هغے ظاهری معانی بدلول، یا د هغے هیڅ معنیٰ نۀ اخستل، یا هغه د مخلوق د نومونو سره مشابه کول، دا ټول د الله په نومونو کښې د الحاد صورتونه دی۔

(٧) الله تعالیٰ ته د عیبژن صفت نسبت کول لکه د یهودیانو یو خبیث وئیلی وو : اِنَّ اللّٰهَ فَقِيُرٌ ۔ (الله غریب دے) (العیاذ بالله) یا وائی : الله تعالیٰ د خالی په ورځ استراحت (دمه) کړیده۔ یا وائی : ید الله مغلولة۔ (د الله لاس بند کړے شویدے) (الارشاد الی صحیح الاعتقاد لصالح الفوزان ص ١٣٦)

(٨) تفسیر خازن لیکی : وَالْمُرَادُ حُسْنُ مُرَاعَاةِ الْأَدَبِ ۔ ددے نه مراد دا دے چه د الله د نومونو ښائسته رعایت او ادب دِے وکړے شی او بی ادبی دِے ونکړے شی۔

په صحیحینو کښې د ابو هریره ﷺ نه روایت شویدے چه ((د الله تعالیٰ نهه نوی (٩٩) نومونه دی، څوك چه دا وشماری نو جنت ته به داخل شی))۔ (بخاری: ٢٧٣٦) ومسلم (٦٩٨٥)

ددے مطلب دا دے چه څوك د الله تعالیٰ نهه نوی نومونه یاد کړی او د هغے مطابق عقیده وساتی او د هغے په وسیله دعا کوی، هغه به د جنت حقدار وی۔ ددے مطلب دا نۀ دے چه د الله صرف نهه نوی نومونه دی بلکه د الله نومونه ددے نه زیات دی چه د هغے شمار الله تعالیٰ ته معلوم دے، لکه چه د ابن مسعود ﷺ د هغه حدیث نه معلومیږی چه احمدؒ، ابوعوانهؒ، ابو یعلیٰؒ او بزارؒ او حاکمؒ روایت کړیدے چه په هغے کښې رسول الله ﷺ صحابه ؤ ته یوه لویه دعا خودلے ده په هغے کښې راغلی دی : [اَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهٖ نَفْسَكَ اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِيْ كِتَابِكَ اَوْعَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ اَوِاسْتَأْثَرْتَ بِهٖ فِيْ عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ] یعنی زۀ ستا نه د هر هغه نوم په ذریعه سوال کوم چه تا خپل ځان له ایخودے دے، یا هغه چه تا په خپل کتاب کښې نازل کړیدے یا هغه چه تا د مخلوق نه یو تن ته خودلے دے، یا هغه چه تا خپل ځان سره په علم غیب کښې پټ ساتلے دے)۔ (احمد : ٣٧١٢) واسناده صحیح، الصحیحة ٣٣٧/١) رقم (١٩٩) امام نوویؒ د علماؤ اتفاق نقل کړیدے چه د الله تعالیٰ یو زر نومونه دی۔

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ
او د هغه چا نه چه پیدا کړیدی مونږه یوه ډله ده چه بیانوی (خلقو ته) حق

وَبِهٖ یَعۡدِلُوۡنَ ﴿۱۸۱﴾
او پدے سره فیصلے کوی۔

تفسیر : دا آیت مخکښ هم تیر شوے وو لیکن هغه د بنی اسرائیلو په باره کښ وو او دا ددے امت په باره کښ دے۔

نو دلته د ((امة)) نه د امتِ محمدیه ﷺ یو جماعت مراد دے چه د هغوی صفت دا دے چه هغوی حقه خبره کوی او نورو ته د حق دعوت ورکوی او خپله په هغے عمل کوی او د خلقو ترمینځ د هغے مطابق فیصلے کوی، او دا هغه خلق دی چه د هغوی په باره کښ رسول الله ﷺ په صحیحینو کښ د معاویه ؓ نه په نقل شوی یو حدیث کښ خبر ورکړیدے چه زما د امت یوه ډله به همیشه په حق ولاړه وی تردے چه قیامت راشی۔

سلفو علماؤ لیکلی دی چه دا هغه خلق دی چه په قرآن او سنت هیڅ شے نهٔ مخکښ کوی، اګرکه هغه د یو امام قول (وینا) وی، یا د یو پیر او مرشد رائے وی، یا خوب وی یا یو داسے اجتهاد چه د دواړو موافق نهٔ وی۔ یا د عبادت او د تسبیحاتو او د الله د ذکر هغه تولے طریقے چه د هغے په جواز د قرآن او سنت نه صریح دلیل نهٔ ملاویږی۔

وَالَّذِیۡنَ کَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَا سَنَسۡتَدۡرِجُهُمۡ
او هغه کسان چه دروغژن ګنړی آیتونه زمونږ زردے چه په چل چل به ئے راونیسو
مِّنۡ حَیۡثُ لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸۲﴾ وَاُمۡلِیۡ لَهُمۡ ط قف
د هغه ځای نه چه دوی به نهٔ پو هیږی۔ او مهلت ورکوم دوی ته
اِنَّ کَیۡدِیۡ مَتِیۡنٌ ﴿۱۸۳﴾
یقیناً چل (تدبیر) زما مضبوط دے۔

تفسیر : د نیکانو ډله ذکر شوه نو اُوس د الله د آیتونو دروغژن کونکو حال بیانوی۔

سَنَسۡتَدۡرِجُهُمۡ : استدراج دیته وائی چه الله تعالیٰ د دوی دپاره د روزی تولے دروازے کولاوه وی تردے چه دوی په دهوکه کښ پریوزی او ګمان وکړی چه الله د دوی نه خوشحاله دے، بیا دوی د الله تعالیٰ شکر ادا کول بیخی هیر کړی، او په مقرر وخت د الله تعالیٰ عذاب دوی لره راونیسی۔ (ابن کثیرؒ)

نو د کوم انسان نعمت چه ډیریدو او د هغه نافرمانی زیاتیدله نو هلاکت ته روان دے۔
ددے مثال داسے دے لکه چرګ یا ګډ چه انسان د ذبح کولو دپاره پیروی۔
د استدراج یوه معنیٰ ده، په آرام آرام، په درجه درجه رانیول۔ او دویمه معنیٰ ئے ده هلاکول او راتاوول۔ او دلته دواړه معانی صحیح دی۔ (المنار)
وَاُمۡلِیۡ لَهُمۡ : دلته مراد ابوجهل او نور د مکے کافران دی چه دوی ته الله تعالیٰ مهلت ورکړے وو، تردے چه د بدر په میدان کښې ټول په توله ووهلے شو۔ او بعض وائی چه دا د مستهزئینو په باره کښې نازل وو چه الله تعالیٰ ټول په یوه شپه کښې هلاك کړل۔ (بغوی)
املی : د اِملاء نه دے [اَلْاِمْدَادُ فِی الزَّمَنِ وَالْاِمْهَالُ وَالتَّاخِیْرُ] په زمانه کښې اُوږدوالے او مهلت او تاخیر ورکول۔ مشتق دے د مُلْوَةٌ او مَلَاوَةٌ نه د زمانے اُوږدے حصے ته وائی، او مَلَوَان او مَلَوَیْن شپه او ورځ ته وائی۔
اَمْلٰی لَهٗ۔ اِذَا اَمْهَلَهٗ طَوِیْلًا (المنار) یعنی اُوږد مهلت ئے ورکړو۔

اَوَلَمۡ یَتَفَکَّرُوۡا سکتة مَا بِصَاحِبِهِمۡ مِّنۡ جِنَّةٍ ؕ
آیا فکر نۀ کوی دوی چه نشته په ملګری د دوی هیڅ لیونتوب
اِنۡ هُوَ اِلَّا نَذِیۡرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۱۸۴﴾
نۀ دے دا مګر یره ورکونکے دے ښکاره۔

تفسیر : پدے کښې په تکذیب باندے رد او د غفلت اِزاله ذکر کوی۔
ربط : [أَکَذَّبُوا الرَّسُوْلَ وَلَمْ یَتَفَکَّرُوْا فِیْ حَالِهٖ فِیْ اَوَّلِ نُشُأْتِهٖ وَفِیْ حَقِیْقَةِ دَعْوَتِهٖ وَدَلَائِلِ رِسَالَتِهٖ وَآیَاتِ وَحْدَانِیَّةِ رَبِّهٖ] آیا دوی د رسول الله ﷺ تکذیب کوی او سوچ نکوی دده په حال کښې د اول د پیدائش دده نه او سوچ نکوی دده د دعوت په حقیقت کښې او دده د رسالت په دلائلو کښې او دده د رب د وحدانیت په نښنو کښې۔ (المنار)
اَوَلَمۡ یَتَفَکَّرُوۡا : یعنی د رسول الله ﷺ په باره کښې خو لږ سوچ وکړئ چه دهٔ کښې څومره ښکلی صفات او ښکلی اخلاق دی، څومره ښائسته معجزات لری، د رسول الله ﷺ لیدل د ایمان ذریعه وه، آیا دا په یو پیرانی کښې چرته موندے شی؟
ددے وجه نه اهل علم وائی : [اَلتَّفَکُّرُ فِیْ مُعْجِزَاتِ الرَّسُوْلِ سَبَبٌ لِزِیَادَةِ الْاِیْمَانِ]
د رسول الله ﷺ په معجزاتو کښې فکر کول د ایمان د زیاتیدو سبب دے۔

مِّنْ جِنَّةٍ : دا مصدر دے لکه د جِلْسَةٌ په شان، په معنیٰ د جنون (لیونتوب) سره او ددے نه مراد پیران نهٔ دی، ځکه چه هغه بغیر د (ة) نه استعمالیږی۔

د قریشو کافرانو رسول الله ﷺ لره د وړوکوالی نه ښه پیژندلو چه هغه په دوی کښ په هر اعتبار سره اُوچت دے، (عقلی او اخلاقی اعتبار سره) لیکن کله ئے چه د اسلام دعوت راواخستو او دوی طرف ته راروان شو نو وے وئیل چه دا خو لیونے دے، ځکه دا قسم خبرے کوی۔ الله تعالیٰ په دوی رد وکړو او وے وئیل چه محمد (ﷺ) نهٔ خو لیونے دے لکه د قریشو کافران دا د وړوکوالی نه پیژنی، او نهٔ کومے خبرے چه دا کوی د کوم پاګل او لیونی خبرې دی بلکه دا خو د الله تعالیٰ پیغام رسوی۔

أَوَلَمْ يَنظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ
آیا نهٔ ګوری دوی په بادشاهئ د آسمانونو او د زمکه کښ او هغه چه پیدا کړیدی
اللّٰهُ مِن شَيْءٍ ۙ وَأَنْ عَسٰٓى أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ
الله تعالیٰ د څیزونو نه او (پدے کښ چه) کیدے شی چه وی به رانزدے شوی
أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿۱۸۵﴾
نیته (د مرګ) د دوی نو په کومه خبره روستو ددے (قرآن، یا الله) نه ایمان راوړی۔

تفسیر : پدے کښ دوی ته دعوت دے سوچ کولو ته په کَونی او عقلی دلائلو کښ۔

یعنی د قریشو کافرانو ته د فکر او سوچ دعوت ورکولے شی دے دپاره چه د الله په وحدانیت او د هغه په خالقیت او مالکیت ایمان راوړی، او د اسلام په کړئ کښ راداخل شی۔ هغوی ته وئیلے کیږی چه دوی د نمر، سپوږمئ او ستورو او وریځے او دریابونو او غرونو او چارپیانو او نورو مخلوقاتو په باره کښ فکر ولے نهٔ کوی دے دپاره چه د دنیا نه د رخصتیدو نه مخکښ ایمان راوړی، او په آخرت کښ کامیاب شی۔ دوی د قرآن په شان د مُعجز او جامع کتاب نه روستو د کومے معجزے انتظار کوی چه د هغے په لیدلو سره ایمان راوړی ؟۔

مَلَكُوتِ السَّمٰوٰتِ : ملکوت : لوئی بادشاهی ته وائی، لکه فَعَلُوتٌ وزن پدے دلالت کوی۔

وَأَنْ عَسٰٓى : یعنی پدے کښ دِے هم سوچ وکړی چه کیدے شی د دوی نیته د مرګ به

رانزدے شوی وی او دوی پدے بدو اعمالو کښ په الله باندے ورتلونکی دی نو که دوی سوچ کړے وے نو دوی به د خپلو ځانونو دپاره ډیر احتیاط کړے وے، او دا یقین به ئے کړے وے چه هوښیارتیا دا ده چه د رسول الله ﷺ انذار قبول کړی ځکه چه ددے خیریت ورته په دنیا کښ ښکاره وو، او هرچه د آخرت خیریت دے نو هغه خو ددے نه هم لوی دے، نو پدے احتیاط کښ د دوی دپاره څه ضرر وو۔ نو لیونے پدے وخت کښ هغه څوك دے چه د دنیا سعادت پریدی په خپل اعتراف سره او د آخرت سعادت پریدی اګر که ددۀ په نیز احتمالی (ګمانی) وی۔ (المنار)

فَبِاَیِّ حَدِیْثٍ بَعْدَهٗ یُؤْمِنُوْنَ : حدیث په اصل کښ هغه خبرے ته وائی چه نقل کیږی او دلته ترے قرآن مراد دے۔ یعنی د الله کتاب د ټولو کتابونو نه کامل دے، او دلیل ئے د ټولو نه مضبوط دے، او هر خیر پکښ موجود دے، نو کله چه پدے کتاب ایمان نۀ راوړی نو د دوی نه هیڅ طمع د ایمان نشته چه په نورو به ایمان راوړی۔ څوك چه په صفا خالصو یخو اُوبو باندے تنده ماته نکړی نو کوم شے به د هغه تنده ماته کړی۔

یا (بَعْدَهٗ) ضمیر الله ته راجع دے یعنی د الله تعالیٰ نه اخوا بل کومه خبره ده چه دوی به پرے ایمان راوړی، بس د الله ذات د ټولو څیزونو او خبرو دپاسه دے۔

مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ؕ
هغه څوك چه الله ئے ګمراه کړی نو نشته هیڅوك هدایت کونکے هغه ته
وَیَذَرُهُمْ فِیْ طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ﴿۱۸۶﴾
او پریدی دوی لره په سرکشئ د دوی کښ چه پریشانه به وی۔

تفسیر : دا د مخکښ مضمون تاکید کوی، مطلب دا دے چه الله تعالیٰ قرآن کریم د هدایت عظیم سبب ګرځولے دے، او ددے نه فائده متقیان اخلی، نۀ منکرین مُعاندین، نو څوك چه په دے کتاب ایمان نۀ راوړی سره ددے نه چه ددے د حقانیت نښے ښکاره دی، نو معلومیږی چه دا شخص الله ګمراه کړیدے ځکه چه ددے کتاب نه ئے فائده وانخسته، نو دۀ ته به د الله نه روستو څوك هدایت وکړی؟ او الله دا خلك په همدغه شان طغیان او سرکشئ کښ پریدی چه پریشانه به ګرځی۔

وَیَذَرُهُمْ فِیْ طُغْیَانِهِمْ : دا د خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ په شان سزا ده، چه هرکله دوی ته حق

کتاب راغلو او دوی ترے انکار وکړو نو الله همدغه شان په سرکشئ کښې پریخودل۔
نو پدے کښې د دوی سبب د ګمراهئ ذکر شو چه هغه ددوی طغیان دے۔ یعنی دوی په کفر او ګمراهئ کښې دومره پاخه شوی وو او دومره زیات شوی وو چه په طغیان (سرکشئ) کښې د عَمَه (د زړهړوندوالی) حد ته رسیدلی وو۔ (المنار)

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ط
تپوس کوی دوی ستا نه په باره د قیامت کښې چه کله به وی ودریدل د هغے،
قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّىْ ج لَا يُجَلِّيْهَا
ووایه ! یقیناً علم د قیامت زما د رب سره دے نۀ به راښکاره کوی هغے لره
لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ م ثَقُلَتْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط لَا تَاْتِيْكُمْ
په وخت د هغے مګر الله تعالیٰ۔ درنه ده په آسمانونو او زمکه کښې، نۀ به راځی تاسو ته
اِلَّا بَغْتَةً ط يَسْئَلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ط قُلْ
مګر ناڅاپه، تپوس کوی دوی ستا نه ګویا که تۀ تلاش کونکے ئے د هغے، ووایه !
اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰـكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾
یقیناً علم د هغے د الله تعالیٰ سره دے او لیکن ډیر د خلقو نه نۀ پوهیږی۔

تفسیر: مناسبت دا دے چه مخکښې دعوت وو فکر کولو ته په نیتجه د انسانانو کښې نو اُوس دعوت ورکوی فکر کولو ته په باره د قیامت کښې چه په هغے سره به د ټولو انسانانو نیتے ختمیږی۔ او په بل تعبیر سره مخکښې کلام وو په خاص قیامت کښې اُوس عام قیامت بیانیږی۔ (المنار)

شان نزول

د قریشو بعض کافرانو د قیامت واقع کیدل لرے ګنړلو او د قرآن او د رسول الله ﷺ د تکذیب کولو سره به ئے تپوس کولو چه قیامت به کله راځی؟ نو دا آیت نازل شو چه که ستا نه د قیامت په باره کښې تپوس وشی نو ووایه ! چه ددے علم صرف الله سره دے، په آسمان او زمکه کښې وسیدونکی ددے علم نۀ لری، او قیامت به بالکل ناڅاپی راځی، د

صحیح احادیثو نه هم ددې تائید کیږي. دوباره د زیات تاکید په توګه الله وفرمایل چه دا خلق د قیامت په باره کښ تا نه داسې تپوس کوي ګویا که چه تا سره ددې علم دې. تهٔ ووایه چه د قیامت علم صرف الله تعالیٰ ته دې.

مُرْسٰهَا : مصدر میمي دې په معنیٰ د اِرْسَاءٌ سره، او اِرْسَاء اثبات او اقرار (قائمیدلو) ته وائي.

لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ : یعنې نهٔ به ئې راښکاره کوي په خپل وخت مګر صرف الله تعالیٰ. لام په لِوَقْتِهَا کښ په معنیٰ د (فِيْ) دې.

ثَقُلَتْ : دا د قیامت صفت دې. ۱- یعنې دغه ساعت په آسمانونو او زمکو ډیر درونډ دې چه آسمانونه به رامات کړي، او په زمکه به زلزلې راولي، او هموار میدان به ترې جوړ کړي.

۲- یا ددې د وخت علم په آسمان او زمکې والو درونډ دې، یعنې ددې علم ورته نشته.

۳- یا قیامت په آسمان او زمکې والو باندې درونډ دې ځکه چه پدې کښ به سخت اهوال راځي او حساب او بدلې به خلکو ته ورکړې کیږي. (محاسن التاویل)

لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً : ناڅاپي به راځي چه خلک به بیع شراء او خوراک څکاک او لوبو کښ مشغول وي چه پرې رابه شي.

يَسْئَلُوْنَكَ : دا ئې دوباره راوړو، زجر دې په ډیرو تپوسونو د قیامت په باره کښ.

حَفِيٌّ عَنْهَا : ۱- یعنې تالاش کونکې ئې. نو نبي خو چرته تلې نهٔ دې چه د قیامت تالاش ئې کړې وي او هغه ئې معلوم کړې وي چه خلکو ته د هغې جواب ورکړي. نو دا خلک بیا ولې تا نه تپوس کوي؟!.

۲- حفي کله په تپوس کښ مبالغه کونکي ته وائي. یعنې ګویا که تا ددې په باره کښ د الله نه ډیر تپوسونه کړیدي او هغه درته علم درکړیدې نو ځکه درنه دا خلک تپوس کوي.

۳- حفي عالِم ته هم وائي. (ابن عباسؓ) مطلب دا دې چه تپوس خو د عالِم نه کیږي او رسول الله ﷺ خو پدې مسئله باندې عالِم نهٔ دې. دا معنیٰ ابن کثیرؒ راجح کړیده.

٤- حفي په معنیٰ د مهربان سره هم راځي. لکه ﴿اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا﴾ (مریم) اَیْ يَسْئَلُوْنَكَ عَنْهَا كَاَنَّكَ حَفِيٌّ بِهِمْ] یعنې دوی تا نه داسې تپوسونه کوي چه دوی ګمان لري چه محمد (ﷺ) په دوی باندې مهربان دې، هغه به ورته د قیامت حال ووائي، لکه قتادةَ وائي چه قریشو ووئیل چه زمونږ او ستا مینځ کښ قرابت دې نو مونږ ته ووایه چه قیامت

به کله وی؟ (ابن کثیرؒ و القاسمیؒ والمنار)۔

بیا پدے آیت کښې دوه ځله تپوس د قیامت ذکر دے، نو ځینی علماء وائی چه دا تکرار د تاکید دپاره دے ځکه چه د قیامت مسئله ډیره اَهمه ده۔ او الله چه په خپل کتاب کښې کوم تکرار کوی نو د هغے سره ضرور یوه بله فائده ملګرے کوی لکه دلته د مخکښې تپوس سره (كَأَنَّكَ حَفِيٌّ) ملګرے کول وو، نو ددے وجه نه ئے دوباره (يَسْئَلُونَكَ) راوړو او د هغے متعلق ئے هم ددے غرض دپاره ذکر نکړو۔ (القاسمیؒ) او پدے تکرار کښې غرض تخطئه د سائلینو ده او هغوی پوره نا امیده کول دی د علم د وخت د راتللو د هغے نه۔

ځینی وائی چه اول تپوس په باره د وخت د قیامت کښې دے، او دویم تپوس په باره د حقیقت او تفصیل د قیامت کښې دے، پدے وجه اول سره ئے رب لفظ ذکر کړو ځکه چه وخت مقررول او بیا په هغے کښې قیامت راوستل د ربوبیت متعلق کار دے، او دویم کښې ئے (الله) لفظ ووئیلو ځکه چه تفصیل د احوالو او اهوالو سره د الله لفظ مناسب دے چه دا اسم اعظم دے۔ (احسن الکلام)

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ ؕ
ووایه! زهٔ اختیار نهٔ لرم د خپل ځان دپاره د فائدے او نهٔ د ضرر مګر هغه چه الله ئے غواړی
وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۚ
او که چرته زهٔ پو هیدلے په غیبو خامخا ډیر به حاصل کړی وے ما د فائدو نه
وَمَا مَسَّنِىَ السُّوْٓءُ ۚ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ
او نهٔ به وو رارسیدلے ما ته هیڅ تکلیف، نهٔ یم زهٔ مګر یره ورکونکے
وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾
او زیرے ورکونکے یم دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی۔

تفسیر : دا هم ترقی ده په جواب د مخکښې سوال کښې چه ځان لره د نفع او د ضرر اختیار نهٔ لرم نو د قیامت علم به څنګه ولرم۔

شان نزول

مشرکانو ووئیل چه هرکله تا سره د قیامت علم نشته نو د راتلونکے زمانے خبر خو راکړه چه څه به ګرانیږی چه مونږ ورله غم وکړو؟ او آیا مصیبت به راځی او که راحت؟ ځکه چه ته نبی ئے الله به خبر درکوی؟ جواب وشو چه الله ما ته دا اختیار نهٔ دے راکړے نو پدے کښې نفی د شرك فی التصرف هم ده چه نبی سره د څیزونو اختیار نشته۔

نو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه تهٔ د الله دپاره د کامل عبودیت اعلان وکړه، او د خپل ځان په باره کښې خلقو تهووایه چه زهٔ د غیبی کارونو نه خبر نهٔ یم، ما ته صرف هغه خبرے معلومے دی چه د هغے خبر ما ته الله تعالیٰ د وحی په ذریعه راکړیدے۔

په سورة یونس (۴۸/۴۹) آیتونو کښې هم همدا خبره شویده۔

وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ : پدے کښې زیات تاکید کوی پدے خبره چه زهٔ په غیبو نهٔ پو هیږم ځکه که زهٔ په غیبو پو هیدلے نو د مخکښې نه به مے اسباب تیارولو سره خپل ځان دپاره د دنیا ډیر فوائد او منافع جمع کړی وے مثلًا د قحط سالئ زمانے دپاره به مے د زرخیزئ او خوشحالئ په ورځو کښې تیاری کړے وے نو ما ته به هیڅ تکلیف نهٔ رارسیدلے لیکن داسے نشی کیدے۔ دا دلیل دے چه زهٔ د غیبو علم نهٔ لرم۔ زهٔ خو د الله د وحی مطابق په الله ایمان لرونکو ته صرف د هغه پیغام رسولو دپاره راغلے یم۔

مِنَ الْخَيْرِ : خیر دلته د دنیا فائدو ته وائی۔ لکه ابن عباسؓ د خیر تفسیر په مال سره کړیدے۔ او په یو روایت کښې د ابن عباسؓ نه نقل دی: که زهٔ پو هیدے نو ما به هغه شے اخستے چه په هغے کښې ما ګټه کولے او ما به څه نهٔ خرڅولے مګر په هغے کښې به مے ګټه کولے (وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْءُ) یعنی فقر به راته نهٔ وے رارسیدلے۔ (ابن کثیرؒ)

ابن جریرؒ او نور وائی چه که زهٔ په غیبو پو هیدے نو ما به د قحط د کال دپاره د مخکښې نه تیاری کولے او د ګرانئ دپاره به مے د ارزانئ د وخت نه تیاری کولے۔

او که دینی فائدے واخستے شی هم صحیح ده، او دا به په باره د هغه کارونو کښې وی چه په آینده زمانه کښې د هغے توقع کیدے شی، او ددے مثال په حدیث کښې دا قول د نبی علیه السلام دے په حجة الوداع کښې [لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِيْ مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا أَهْدَيْتُ] (بخاری ومسلم)

وَلَوْ كُنتُ : لَوْ په عربئ ژبه کښې د نفی د جزئینو (شرط او جزاء) دپاره راځی، او دغه شان که په مثبت داخل شی منفی کوی ئے او که په منفی داخل شی نو مثبت ئے ګرځوی۔ او په معطوف کښې ئے هم دغه قانون دے۔

یعنی زهٔ په غیبو نهٔ پو هیږم که زهٔ پو هیدے نو ما به د دنیا ډیرے فائدے (مال وغیره)

حاصلی کړی وي، او ما ته به تکلیفونه نۀ وي رارسیدلی حال دا چه ما نه د دنیا ډیرے فائدے فوت شویدی او تکلیفونه راته رارسیدلی دی د علم غیب د نشتوالی د وجه نه۔ هرچه د دین خیر دے هغه الله تعالیٰ په قرآن او حدیث کښې اچولے دے که چا ته غیب معلوم وی او که نۀ۔

نو پدے آیت کښې الله تعالیٰ طبیعة الرسالة بیان کړو چه د رسالت طبیعت او مزاج دا دے چه رسول سره به د غیبو علم نۀ وی، هغه صرف د الله د طرفنه بیانونکے وی۔

نکته: دلته ئے نفع په ضرر مقدم کړه او په سورة یونس (٤٩) آیت کښې ضرر مقدم دے په نفع باندے، فرق دا دے چه دلته مخکښې د قیامت د تپوس خبره وه، او د قیامت د علم لویه فائده د هغے دپاره په عمل صالح سره تیاری ده، او د هغے د عذابونو نه ځان ساتل دی، او په سورة یونس کښې د کافرانو د عذاب طلب کول وو نو هلته ضرر مخکښې کول مناسب دی۔ (المنار)

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا
الله هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو د نفس یو نه او ګرځولے ئے ده د هغے نه
زَوْجَهَا لِیَسْكُنَ اِلَیْهَا ج فَلَمَّا تَغَشّٰهَا
بی بی د هغه دے دپاره چه آرام وکړی هغے ته نو هرکله ئے چه پټه کړه هغے لره (نزدیکت
حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِیْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ج فَلَمَّآ
ئے ورسره وکړو) نو حمل ئے واخستو په حمل سپك سره نو تلله راتله د هغے سره نو هرکله
اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَیْتَنَا
چه درنه شوه هغه، دعا وکړه دواړو د الله تعالیٰ نه چه رب د دوی دے، که راکړو تا مونږ ته
صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ اٰتٰـهُمَا
روغ موټ بچے خامخا شو به مونږ د شکر کونکو نه۔ نو هرکله چه ورکړو دوی ته الله
صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِیْمَآ اٰتٰـهُمَا ج
روغ بچے نو وګرځول دواړو الله تعالیٰ لره شریکان په هغه بچی کښې چه ورکړے ئے وو دوی ته

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾
نو اُوچت دے الله د هغے نه چه دوی ورسره شریکان جوړوی۔

تفسیر : پدے آیت کښې تر (خُذِ الْعَفْوَ) پورے رد د شرك اعتقادی دے چه څوك توحید الُوهیت خرابوی په هغوی باندے تفصیلًا رد دے، ځکه په اتباع د مَا اُنْزِلَ کښې اصلی مقصد د الله بندګی ده، نو څوك چه د الله سره شریکان جوړوی نو هغه د الله تعالیٰ د ټولو کتابونو خلاف کوی او پدے کښې رد دے په عربو مشرکانو چه دوی د کاڼو او لرګو نه معبودان جوړ کړی وو، او د هغوی په بندګئ باندے بوخت وو،

او پدے کښې به په هغه مشرکانو هم رد کیږی چه بت پرست خو نهٔ وی مګر قبر پرست وی ځکه چه د دواړو فرق نشته سوئ ددے نه چه یو ولاړ بت دے او بل پروت دے، دواړه یو شان عاجز مخلوق دے۔ بیا د (خُذِ الْعَفْوَ) نه اخوا لس آداب د دعوت بیانیږی او د مکی سورتونو په آخر کښې اکثر د دعوت آداب ذکر کیږی لکه سورة النحل او سورة الشعراء وغیره کښې۔

دلته الله تعالیٰ د انسان پیدائش بیانوی چه الله ورسره څومره انعام وکړو چه پیدا ئے کړو او ښځه ئے ورکړه، بیا ئے د هغے نه اولاد ورکړل بیا دا انسان رالګیږی د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوی په خپل ځان او په خپلو اولادو کښې، نو پدے آیتونو کښې زجر دے هغه کسانو ته چه د الله سره شریکان جوړوی او د دوی د عقلونو عیب بیانوی چه دا ډیر ناقص عقلونه دی۔

نو الله فرمائی : چه د دوی خالق هغه الله دے چه دوی ئے د آدم علیه السلام نه پیدا کړی، او د آدم علیه السلام نه ئے حواء رضی الله عنها پیدا کړه او بیا د هر سړی دپاره ئے د هغه د جنس نه د هغه ښځه پیدا کړے، دے دپاره چه د هغے په نزدیکت سره هغه ته سکون حاصل شی، ځکه که ښځه همجنس نهٔ وی نو دواړو به د یو بل سره اُنس نهٔ حاصلولے۔

نو کوم الله چه دوی او د دوی ښځے پیدا کړی نو همغه ذات یواځے د عبادت لائق دے۔

بیا د مشرك یو بل حالت دا دے چه کله دا خپلے ښځے سره نزدیکت کوی او حمل ئے قرارے ونیسی او د ډیرو مراحلو نه په تیریدو سره کله چه په خیټه کښې بچے حرکت کوی نو دواړه ښځه او خاوند په شریکه دعا کوی چه که الله مونږ ته صحیح سالم بچے راکړو نو د الله ښه شکر به کوو، لیکن د صحیح سالم بچی پیدا کیدو نه روستو دواړه دا وینا شروع کړی چه دا

خو زمونږ د بتانو او معبودانو دين دے۔ لكه په هره زمانه كښې مشركانو داسے كړي راروان دي چه اولاد وركونكے او روزي وركونكے د الله نه سوئ نور مني۔

ډير مفسرين ددے آيت په تفسير كښې خطاء شويدي او د واهيات رواياتو او آثارو په بنياد ئے ددے آيت مصداق آدم او حواء عليهما السلام گرځولي دي چه دا صحيح نۀ دے۔ حافظ ابن كثيرؒ او صاحب د محاسن التنزيل وغيرهم پدے سخت انكار كړيدے، او د آيت تفسير ئے هغه كړيدے كوم چه مخكښې تير شو۔ د حسن بصريؒ نه هم دا تفسير نقل شويدے۔ لكه ددے تفصيل روستو راځي۔

ددے آيت درے تفسيرونه

د آيت په ظاهر باندے دا اشكال كيږي چه د (نفس واحدة) نه مراد آدم عليه السلام دے او د (زوجها) نه مراد د هغه بي بي (حواء) ده چه دوي ته الله بچي وركړل نو بيا دوي څنگه په هغے كښې شرك كوي؟ (جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا)

(۱) نو ځيني مفسرينو دا جواب كړيدے چه دا شرك في التسميه دے، او دا شرك حقيقي نۀ دے او هسے د ناپوهئ د وجه نه شويدے او دا په روايت د ترمذيؒ كښې هم راغلے دے چه د حواء رضي الله عنها بچي به نۀ پاتے كيدل نو ابليس ورله راغے چه كه ته غواړے چه ستا دا بچے پاتے شي نو كله چه پيدا شو زما نوم (عبد الحارث) پرے كيده نو بيا به پاتې شي۔ دويمه طريقه ددے روايت داسے ده چه كله حواء (رضي الله عنها) حمل واخستو نو هغے ته دا ناشنا ښكاره شو نو ابليس ورله د يو نيك شخص په شكل راغے او دا ئے ورته ووئيل چه ستا په خيټه كښې څه دي؟ هغے ووئيل: نۀ يم خبره، دۀ ورته ووئيل چه زما يره ده چه دے كښې چرته حيوان، سپے يا خنزيرنۀ وي او تا ته پته شته چه دا به د كوم طرفنه وځي؟ كه ستا د شا نه وځي نو مره به ډِے كړي او كه د مخے نه وځي نو خيټه به ډِے څيري كړي نو حواء ددے نه ويريدله نو هغے دا خبره آدم عليه السلام ته ذكر كړه نو دواړه پدے غم كښې وو چه ابليس حواء (رضي الله عنها) ته بيا راغے او دا ئے ورته ووئيل چه زۀ د الله يو مقبول بنده يم، كه زۀ د الله نه دعا وغواړم نو تا ته به روغ بچے دركړي او ددے راويستل به آسان كړي خو شرط دا دے چه په دۀ باندے به عبد الحارث نوم ايږدے نو هغے دا خبره آدم عليه السلام ته ذكر كړه نو هغه ورته ووئيل كيدے شي چه دا زما هغه صاحب نۀ وي كوم باندے چه ته خبره ئے (يعني ابليس) نو ابليس حواء ته بيا راغے او همداسے ورپورے انښتے وو تردے چه دواړه ئے

په دهوکه کښې واچول نو کله چه پیدا شو، عبد الحارث نوم ئې پرې کیخودو۔ (الترمذی وسنده ضعیف معلول من ثلاثة اوجه کما قال ابن کثیر، عمر بن ابراهیم البصری وثقه ابن معین وقال ابوحاتم الرازی : لا یحتج به، والثانی : انه من قول سمرة بن جندب ولیس مرفوعا والثالث : ان الحسن نفسه فسر الآیة بغیر هذا فلو کان عنده عن سمرة مرفوعا لما عدل عنه وضعفه الالبانی وجمیع المحققین)۔

دا قول والا وائی چه دا شرك فی التسمیه دے او پدے سره بنده د ایمان نه نهٔ وځی، صرف د ګناه کبیره په درجه کښې دے۔

مګر دا تفسیر محققینو مفسرینو په ډیرو طریقو رد کړیدے، یو خو دا چه ددے په باره کښې چه څومره روایات راغلی دی نو هغه اسرائیلیات دی او د سندونو په اعتبار سره سخت ضعیف دی، منقطع او مضطرب دی، او راویان پکښې ضعیف دی، او د حسن بصریؒ نه ددے روایت خلاف نقل دے۔ بله دا چه نبی د شرك نه بیخی پاك وی، دریم دا چه دا واقعه د سیاق د آیتونو سره موافقت نهٔ کوی ځکه چه دلته ﴿فَتَعَالَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ او ﴿أَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ﴾ دا صیغے د جمع دی، معلومیږی چه ددے نه آدم علیه السلام او حواء رضی الله عنها نهٔ دی مراد۔

بله دا چه شرك فی التسمیه هم څه وړوکے شرك نهٔ دے چه ددے نسبت انبیاء علیهم السلام ته وشی، او آیا آدم علیه السلام تر اُوسه پورے د الله د توحید نه خبر نهٔ وو څه ؟ دا څومره قبیحه خبره ده۔ او آیا آدم علیه السلام د ابلیس د چالونو نه خبر نهٔ وو [لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ] مؤمن سرے د یوے سوړے نه دوه ځل نهٔ چیچلے کیږی۔ (بخاری : ۶۱۳۳ ومسلم)

نو دا د آدم علیه السلام په حق کښې انتهائی بعیده خبره ده۔

(۲) نو دویم تفسیر (چه صحیح دے) دا دے چه (۱) د نفس واحدة نه مراد جنس واحد دے یعنی نفس انسانی او د (جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا) نه مراد ښځه انسانه ده۔ نو پدے کښې الله په بندګانو باندے د اول نه احسان ذکر کوی چه وګورئ تاسو سره الله څومره احسان وکړو چه ستاسو ښځه ئې ستاسو د جنس نه پیدا کړه ځکه چه سکون په انسان سره ملاویږی، که دا چرته پیرئ وے نو انسان به د خپلے ښځے نه یریدلے او که د حیوان سره ئې نکاح کړے وے نو بیا به ترے حاجتونه او خدمتونه نهٔ اخستلے کیدے۔ او روستو الفاظو کښې هم دغه مطلق انسانان مراد دی۔

(۳) دریم د تهولو نه غوره تفسیر دا دے چه د نفس واحدة نه مراد آدم علیه السلام او (زوجها) نه

مراد حواء ده چه دا الله د آدم عليه السلام د سكون دپاره پيدا كړه. او د (فلما تغشاها) نه روستو آخر پورے الله تعالىٰ د هغوى د اولادو تذكره كړيده او ديته انتقال من الفرد الى النوع وائى. يا انتقال من النوع الى الجنس دے (السعدیؒ)

يعنى د يو فرد تذكره شروع وى بيا د هغے نه نوع انسانى ته خبره نقل شى لكه مخكښ د بنى اسرائيلو د خبرے نه انتقال وشو آخرى نبى ته ﴿اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا﴾ او په سورة الانعام كښ تير شويدى ﴿وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهٖ﴾ بيا وائى -﴿تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا﴾ هلته انتقال د يوے نوع نه بلے نوع ته شويدے.

او مطلب به دا وى چه الله تعالىٰ آدم عليه السلام پيدا كړو او بيا ئے د هغه د سكون دپاره د هغه ښځه پيدا كړه او ددے نه بيا انسانان راخوارهٔ شو نو ددے انسانانو ناشكرئ ته وګورئ چه ښځه او خاوند كله د يو بل سره ملاؤ شى او الله ورله حمل وركړى نو الله نه دعاګانے غواړى چه روغ بچے راكړه او چه كله ئے الله وركړى نو بيا نسبتونه باباګانو او غير الله ته كوى، كله وائى چه پيربخش (پير بخښلے) حسين بخش (حسين بخښلے)، او كله وائى چه فلانى ولى او ميان صاحب او كاكا صاحب او بزرګ راوبښلو، كله وائى چه ددے باباګانو په مونږ نظر وو، يا د هغه نوم عبد النبى يا عبد الرسول كيږدى يا هغه اولاد د غير الله په نوم نذر كړى او منجورانو ته ئے وسپارى لكه پدے طريقو باندے په اولاود كښ شرك كيږى، دا ټول اقسام د شرك حقيقى دى لكه الله فرمائى (فَتَعَالَى اللهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ) . الله تعالىٰ د دوى د شركونو نه ډير پورته دے.

فوائد الالفاظ :

هُوَ الَّذِيْ : پدے كښ الله تعالىٰ خپل تعارف بيانوى چه ما وپيژنئ او بيا ستاسو ناشكرئ ته وګورئ.

وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا : حواء رضى الله عنها ئے د آدم عليه السلام د ګس طرف پښتئ نه پيدا كړه لكه ددے تفصيل په ابتداء د سورة النساء كښ تير شويدے.

لِيَسْكُنَ : صيغه ئے د مذكر راوړه ځكه چه د نفس واحدة نه مراد آدم عليه السلام وو.

فَلَمَّا تَغَشّٰهَا : دا ډير د ادب لفظ دے او كنايه ده د جماع او نزديكت نه، په اصل كښ تغشي دے ته وائى چه يو شے د بل دپاره غِشَاء (پرده) او بستره جوړه شى.

حَمْلًا خَفِيْفًا : ځكه چه نطفه په بيضه د زنانه كښ واقع شى نهٔ پرے سړے پو هيږى، نهٔ

پرے زنانه تر ډیرے مودے پورے۔
فَمَرَّتْ بِهٖ : یعنی ګرځي راګرځي یعنی ژوند تیره وي پدے حمل سره۔ او هرڅه کول ورته آسان وي۔
فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ : څلور میاشتے بعد په ماشوم کښ روح واچولے شي نو ښځه په دروند والی باندے پوهه شي۔
لَئِنْ اٰتَیْتَنَا: دے وخت کښ ئے صرف الله تعالیٰ ته فکر وي او د هغه نه دعاګانے غواړي خو د نعمت نه روستو ناشکره شي۔
صَالِحًا: اَیْ سَوِیًّا سَالِمًا بِبَدَنِهٖ یعنی روغ بدن والا۔ ځکه چه دلته د مشرکانو خبره کیږي او هغوی نیك عمله نهٔ غواړي بلکه چه ظاهري روغ رمټ وي۔ مګر ظاهر دا ده چه صالح نیك عمل ته وائي، او مشرکان هم صالح بچے غواړي، او صلاحیت کله د دنیا وي او کله د آخرت، نو صالح دیته وائي چه شري او فسادي نهٔ وي او مور او پلار ترے په عذاب نهٔ وي۔ او دا د ټولو انسانانو خواهش دے، لهذا قرآني تعبیر ښه دے۔
او دے نه دا معلومیږي چه انسان په خپل صلاحیت، تقویٰ او عباداتو دومره خوشحاله نهٔ وي لکه د بچو په صلاحیت ډیر خوشحاله وي۔
جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ : یعنی الله لره ئے حقیقي شریکان جوړ کړل چه نسبت ددے اولادو ئے غیر الله ته وکړو چه مونږ د ډیرو باباګانو نه غوښتے وو، هغوی راکړو، یا ما نذرونه د هغوی په نوم کول ځکه ئے بچے راکړو او نورو خلکو ته هم د هغے دعوت ورکوي۔ او بعض صورتونه مخکښ تیر شو۔
فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ : یعنی دوي چه د الله سره کوم شریکان جوړوي الله ددے نه ډیر زیات اُوچت دے اشاره ده چه دا شراکت د خلکو په دماغو کښ دے او په حقیقت کښ د الله سره هیڅوك شریك نشته۔

اَیُشْرِكُوْنَ مَا لَا یَخْلُقُ شَیْـًٔا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾
آیا شریکان جوړوي دوي هغه چا لره چه نشي پیدا کولے هیڅ شے او دوي پیدا کړے شویدي
وَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾
او طاقت نهٔ لري دوي لره د مدد کولو او نهٔ د ځانونو خپلو سره مدد کولے شي۔

تفسیر : ښکاره عجیبه خبره ده چه مشرکان د الله سبحانه مخلوق لره د هغه سره شریکان جوړوی، چه هغوی یو مچ هم نشی پیدا کولے لکه په سورة الحج آیت (۷۳) کښې راغلی دی او پیدائش خو لا لرے خبره ده، دوی د هغوی سره مدد هم نشی کولے، هغوی لا څه چه د خپلو ځانونو سره هم مدد نشی کولے لکه په سورة الحج آیت (۷۳) کښې ئے فرمایلی دی چه که مچ د دوی نه څه شے وتختوی نو هغه هم ترے واپس نشی اخستے۔ نو دا څومره لوی ظلم او لویه ناشکری ده چه داسے کمزورے مخلوق الله تعالیٰ سره شریکوی دا د انسانانو خوئی دے۔

وَاِنۡ تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَى الۡهُدٰى لَا يَتَّبِعُوۡكُمۡ ؕ سَوَآءٌ
او که اُوبلئ تاسو دوی لره لارخودنې ته نو تابعداری نهٔ کوی ستاسو، برابره ده
عَلَيۡكُمۡ اَدَعَوۡتُمُوۡهُمۡ اَمۡ اَنۡتُمۡ صَامِتُوۡنَ ﴿۱۹۳﴾
په تاسو که رابلئ دوی لره یا چپ یئ۔

تفسیر : ددے معبودانو نوره کمزوری بیانیږی۔

اَلۡهُدٰى : رهنمائی ته وائی او حاصل معنیٰ ئے ده د فائدے خبره او کار۔ یعنی که مشرکان د خپلو بتانو نه په یو کار کښې رهنمائی اخلی او د یوے فائدے کار ته ئے راوبلی چه زهٔ سفر وکړم که نهٔ ؟، یا فلانے تجارت وکړم او که نهٔ؟ نو هغوی تاسو پسے نشی راتللے، چه ستاسو رهنمائی وکړی بلکه هغوی خو بی ساه بتان او قبرونه دی۔ هغوی ته آواز کول او نهٔ کول دواړه حالتونه د هغوی په حق کښې برابر دی۔ بلکه پدے وخت کښې ژوندی انسان ددے معبودانو نه په حالت کښې ښه دے، نو کله چه یو عاقل هوښیار انسان ددے حالت تصور وکړی نو یقین به وکړی چه ددے معبودانو الوهیت باطل او عبادت کونکی ئے بیوقوف دی۔ (السعدیؒ)

یا د (الهدی) نه مراد ظاهری هدایت دے یعنی که مشرکان د معبودانو نه د هدایت سوال وکړی چه مونږ ته هدایت وکړه نو هغوی ورته هدایت نشی کولے ځکه چه هغوی څه آوری نهٔ۔ او که بالفرض وائے وری نو طاقت ئے نشته چه دوی ته هدایت وکړی۔

اِنَّ الَّذِیۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ
یقیناً هغه کسان چه بلئ تاسو هغوی لره (په حاجتونو کی) سِویٰ د الله تعالیٰ نه،
عِبَادٌ اَمۡثَالُکُمۡ فَادۡعُوۡهُمۡ فَلۡیَسۡتَجِیۡبُوۡا لَکُمۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ
بندگان دی ستاسو پشان پس وویلئ دوی نو قبول والے دِے وکړی تاسو لره که یئ تاسو
صٰدِقِیۡنَ ﴿۱۹۴﴾ اَلَهُمۡ اَرۡجُلٌ یَّمۡشُوۡنَ بِهَاۤ اَمۡ لَهُمۡ اَیۡدٍ
رشتینی۔ آیا دوی لره خپے شته چه مزل وکړی په هغے یا د دوی لاسونه شته
یَّبۡطِشُوۡنَ بِهَاۤ ز اَمۡ لَهُمۡ اَعۡیُنٌ یُّبۡصِرُوۡنَ بِهَا ز اَمۡ لَهُمۡ اٰذَانٌ یَّسۡمَعُوۡنَ بِهَا ط
چه رانیول وکړی په هغے سره، یا د دوی غوږونه شته چه آوریدل وکړی په هغے سره ؟
قُلِ ادۡعُوۡا شُرَکَآءَکُمۡ ثُمَّ کِیۡدُوۡنِ فَلَا تُنۡظِرُوۡنِ ﴿۱۹۵﴾
(نشته) ووایه را اُویلئ شریکان ستاسو بیا چل جوړ کړئ ما ته او مهلت مهٔ راکوئ ما ته۔

تفسیر: پدے کښِ د معبودانو عجز او کمزوری په نورو طریقو بیانوی او پدے کښِ د مشرکانو په عقل ماتم دے چه دوی د داسے څیزونو او بندگانو عبادت کوی چه په کُلی توگه سره د هغوی د جواب ورکولو نه عاجز دی۔

عِبَادٌ : د عباد اطلاق اکثر په انسانانو او ملائکو باندے کیږی، نودا ښکاره رد دے په هغه کسانو چه د بندگانو عبادت کوی، ژوندی وی او که مړه، او د هغوی نه حاجتونه غواړی چه اے پیره بابا ! او کاکا صاحبه ! راورسیږه۔ نو ملائك هم د انسانانو په شان دی په کمزورئ او الله ته په محتاجئ کښِ، اگرکه هغوی له الله تعالیٰ خپل ډیر طاقتونه ورکړیدی لیکن بیا هم الله تعالیٰ ته محتاج دی۔ او اشاره ده چه کله یو شخص عبد (بنده) شو نو د هغه عبدیت د معبودیت سره منافی دے، او پدے کښِ قبرونو والا او بتان هم داخلیږی ځکه چه مشرکانو خپل بتان د انسانانو په شکلونو جوړ کړی وو، نو الله سبحانه فرمائی که دوی واقعی ستاسو په شان ژوندی انسانان هم شی نو هم ستاسو حاجت نشی پوره کولے، پاتے لا دا چه د خاورو ډیرے یا د لرگو او د کاڼو پنډ وی، څه مدد به وکړی۔ نو کوم خلك چه دا قسم آیتونه د بتانو پورے خاص کوی دا صحیح نهٔ ده۔

فَادۡعُوۡهُمۡ : دا د توبیخ او زورنے دپاره وائی او دا مطلب نهٔ وی چه الله تعالیٰ د هغوی په

رابللو باندے حکم کوی، او دا په محاوره بناء دے چه یو تن چا ته زورنه ورکول غواړی نو داسے ورته وائی چه ته دا غلط کار او شرك کوے نو کوه ئے۔

او دارنګه پدے کښ تحدّی ده مشرکانو ته چه که ستاسو معبودان تاسو سره مدد کولے شی نو بیائے راوبلئ چه وګورو چه دوی ستاسو کوم قبول والے وکړو۔ (السعدیؒ)

اَلَهُمْ اَرْجُلٌ : یعنی که تاسو د دوی په شکلونو کښ فکر وکړو نو تاسو ته به خپله معلومه شی چه د دوی سره د فائدے هیڅ نښته ځکه د دوی نۀ خپے شته چه مزل پرے وکړی او نۀ لاسونه چه رانیول پرے وکړی، او نۀ سترګے چه لیدل پرے وکړی، او نۀ غوږونه چه آوریدل پرے وکړی، نو د دوی نه ټول هغه آلات او طاقتونه ختم دی کوم چه په انسان کښ دی، نو هرکله چه دوی ستاسو په شان دی بلکه تاسو د دوی نه ډیر کامل او په ډیرو څیزونو قادر یئ نو بیا تاسو ولے د دوی عبادتونه کوئ۔ (السعدیؒ)

لَهُمْ : دا ضمیرونه یقینی دلیلونه دی چه ددے نه مراد ذوی العقول (قبرونو والا) دی که ددے نه صرف بتان مراد وے بیا به ئے (اَلَهَا اَرْجُلٌ) الفاظ وئیلے، کوم چه په غیر ذوی العقولو دلالت کوی۔

د زیات بصیرت دپاره مشرکانو ته دا وئیلے شی چه تاسو چه د الله نه سوی نورو مخلوقاتو (قبرونو) ته آواز کوئ نو آیا دوی ستاسو غائبانه آواز آوری او د وړاندے نه درته رسیږی؟ حقه دا ده چه نۀ رسیږی که بالفرض ومنو چه آواز ئے واوریدو، نو آیا ستا په ژبه باندے پو هیږی، ځکه چه یو تن به پښتو، بل به اُردو بل به انګلش او بل به پنجابی، او بل به فارسی وائی نو پدے ټولو ژبو پو هیږی او که نۀ هغه په یوه ژبه پو هیدو؟ بیا که ومنو چه ډیر ماهر دے او په ټولو ژبو پو هه دے، نو دریم تپوس دا دے چه آیا دا د قبر نه راپاڅیدے شی چه د قبر نه راوځی او منډه ووهی او تا سره مدد وکړی او که بالفرض ومنو چه راپاڅیدو او د قبر نه راووتو نو بیا چه په یو ساعت کښ ورته شلو کسانو د مختلفو ځایونو نه آواز کړے وی نو پدے یو ساعت کښ به چا له ورځی؟ او که ته وائے چه ټولو ته په یو ځل رسیدلے شی، نو بیا ددهٔ او د الله ترمینځ څه فرق شو؟ (بیا ورته اولیاء الله څنګه وائی؟)

(انظر کتاب ((قرة عیون الموحدین)) لعبد الرحمن بن حسن بن محمد بن عبد الوهاب)

ددے نه معلومه شوه چه شرك ټول د اوهامو او خیالاتو نه جوړ دے۔

قُلِ ادْعُوا : د مشرکانو نوره بدی او د هغوی په عقلونو باندے د باربار ماتم په توګه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ته حکم وکړو چه ته مشرکانو ته ووایه چه کوم بتان تاسو د الله سره

شریك گنړئ، دوی زما په خلاف د خپل مدد دپاره راوبلئ او تاسو ټول ما ته مهلت هم مهٔ راکوئ (یعنی تاسو هم ورسره ملګری شئ) نو آیا تاسو ما له ضرر راکولے شئ؟ هیچرے نهٔ، ځکه چه تاسو ته پته ده چه بتان په کُلی توګه سره عاجز دی، او تاسو ته هم الله تعالیٰ دا قدرت نهٔ دے درکړے. او دا ډیر اعلیٰ توکل دے په الله تعالیٰ باندے چه رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ ددے طریقه خودلے ده.

او دا بیان داسے دے لکه د هود علیه السلام چه هغه خپل قوم ته وئیلی وو ﴿فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ﴾ (هود:٥٥) تاسو ما ته چلونه جوړ کړئ او ما ته هیڅ مهلت مهٔ راکوئ.

فَلَا تُنْظِرُوْنِ : کله کله یو سړی ته خلك د وهلو او وژلو اراده وکړی پدے وجه چه هغه یو فساد کوی نو یو څو ورځے مهلت ورله دے دپاره ورکړی چه پدے ورځو کښ د غلط عمل نه توبه وباسه ورنه په تا به ددے ورځو نه پس قتل نافذ کیږی، نو دلته ورته نبی وائی چه تاسو ما ته مهلت مهٔ راکوئ داسے به نهٔ وایئ چه څو ورځے مهلت درکوو چه تهٔ دا بیان او دعوت الی الله پریدے، ځکه چه زهٔ پدے خبره په یقین یم چه زهٔ په حقه یم او مهلت خلك هغه چا ته ورکوی چه هغه په خپله خبره کښ شکی وی، او د مهلت په وخت کښ په خبره سوچ وکړی او زهٔ خو دا خپل حق په هیڅ شان نهٔ پریږدم.

اِنَّ وَلِیِّ یَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ زصلے وَهُوَ یَتَوَلَّی
یقیناً دوست زما الله دے هغه ذات چه نازل کړے ئے دے کتاب او هغه دوستی کوی
الصّٰلِحِیْنَ ﴿١٩٦﴾ وَالَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا یَسْتَطِیْعُوْنَ نَصْرَكُمْ
د نیکانو سره. او هغه کسان چه رابلئ تاسو سویٰ د الله نه طاقت نهٔ لری د مدد کولو ستاسو
وَلَآ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٧﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَی الْهُدٰی
او نهٔ د خپلو ځانونو سره مدد کولے شی. او که را وبلئ تاسو دوی لره لارخودنے ته
لَا یَسْمَعُوْا ط وَتَرٰهُمْ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ وَهُمْ لَا یُبْصِرُوْنَ ﴿١٩٨﴾
نو نهٔ آوری دوی او وینے به تهٔ دوی چه ګوری به تا ته او حال دا چه دوی نهٔ وینی.

تفسیر : یعنی زهٔ خو ستاسو او ستاسو د معبودانو هیڅ پرواه نهٔ کوم، ځکه چه زما حامی او مددګار خو هغه الله دے چه هغه په ما قرآن نازل کړیدے، او هغه همیشه د خپلو

نیکو بندګانو حمایت کونکے او مددګار وی۔

وَلِيِّ ےَ : وَلی په معنیٰ د دوست، ناصر او مُؤید (تائید کونکی) سره دے اَيِ الَّذِیُ يَتَوَلّٰی حِفُظِیُ۔ هغه ذات چه زما د حفاظت ذمه واری ئے اخستے ده۔

الَّـذِیُ نَزَّلَ الُكِتٰبَ : ددے ربط دادے چه لکه څنګه چه الله تعالیٰ د کتاب (قرآن) د حفاظت ذمه واری اخستے ده، نو دغه شان زما حفاظت به هم کوی۔ او دا لفظ ئے په آخر کښ پدے وجه هم راوړو چه اتباع د کتاب ددے سورت موضوع ده او مشرکانو ته دعوت دے چه الله تعالیٰ تاسو ته کتاب نازل کړیدے او تاسو د دغه کتاب بیانونکی سره دشمنی کوئ۔ او دغه کتاب په شرك او ستاسو په ګمراهئ رد کړیدے، او د مخلوق عجز ئے بیان کړیدے نو پدے وجه به زهٔ د هغے بیان کوم او د هیچا نه به پکښ نهٔ یریږم۔

او د الله تعالیٰ کتاب انسان ته بصیرت ورکوی او د توکل طریقه ورته ښائی او د خالق او مخلوق فرق ورته بیانوی۔ پدے وجه ئے دا جمله ذکر کړه۔ او داسے ئے ونهٔ وئیل چه (اِنَّ وَلِيِّ ےَ اللّٰهُ الَّذِیُ هُوَ قَادِرٌ، وَعَالِمٌ) چه زما مددګار قادر او عالِم دے۔

يَتَوَلَّی الصّٰلِحِیُنَ : دا ئے وروستے د تعمیم دپاره بیان کړو څکه چه ولیی کښ رسول الله ﷺ ځان ته نسبت وکړو چه زما مددګار صرف الله دے نو وَهم پیدا شو، نو تعمیم دپاره ئے دا ووئیل چه الله د ټولو نیکانو سره دوستی کوی او د هغوی حفاظت کوی۔ او پدے کښ بل رد د شرك دے چه الله تعالیٰ خو د نیکانو سره مدد کوی په خلاف ستاسو د آلهه ؤ چه هغوی د خپلو عابدانو سره مدد نشی کولے۔ څوك چه د الله تعالیٰ توحید ومنی او د هغه بندګی کوی نو هر ځای کښ به ئے حاجت پوره کیږی او چه غیر الله ته متوجه وی نو هسے به سترړے کیږی او هیڅ فائده به نهٔ ورکوی۔ ﴿عَسٰی اَنُ لَّا اَكُوُنَ بِدُعَاءِ رَبِّیُ شَقِيًّا﴾۔

لَا يَسُتَطِيُعُوُنَ نَصُرَكُمُ : ستاسو معبودان، او ستاسو د کاڼو نه بتان ستاسو هیڅ نصرت او حمایت نشی کولے۔

تَدُعُوُنَ : دعا دلته په معنیٰ د عبادت هم صحیح ده، او دعاء په معنیٰ د آواز سره هم صحیح ده۔

اِلَی الُهُدٰی : مخکښ اعلیٰ درجه بیان شوه اُوس ادنیٰ درجه بیانیږی چه اعلیٰ کار نشی کولے نو ادنیٰ هم نشی کولے۔ هغه دا چه که تاسو دا معبودان یو خیر خودلو ته متوجه کړئ چه اے بابا ! ما ته فلانے خیر راکړه نو هغه ستاسو آواز قدرے هم نهٔ آوری نو راتلل خو په ځای پریده۔

دا آیت دلیـل دے پـه نـفی د سماع موتیٰ باندے چه بتان نۀ آوری نو دغه شان قبرونو والا هم نۀ آوری۔

وَتَرٰهُمْ : ١- یـو د سترگو لیدل دی نو (هُمْ) ضمیر به اصنام (بتانو) ته راجع وی یعنی اگرکه داسے معلومیږی چه دوی په خپلو کانړو الا سترگو باندے تاسو ته گوری لیکن دننه روح پـکښ نشتـه۔ ٢- یا رؤیتِ علمی دے په معنیٰ د اعتقاد سره، او (هُمْ) ضمیر د قبرونو والو مړوتـه راجع دے او خطاب مشرك ته دے یعنی تۀ به په دوی باندے عقیده لرے چه دا آلهه تا ته گوری او حاضر ناظر دی لیکن دوی هیڅ نۀ وینی۔ لکه مشرکان دا وائی چه باباگان نر چینچنړ او چینچنړه جدا جدا پیژنی۔

ډیرو ملیانو لیکلی دی چه د مړی د قبر زیارت له لاړ شی نو د خپو د طرفنه به ورته راځی ځکه چه کـه د سر د طرفنه راشی نو بیا به انسان ته مړے گوری نو تکلیف به ورته رسیږی۔ لکه شامی دا خبره لیکلے ده۔

ځینـی مفسرینو لکه (خازن) دا آیت د عابدانو (مشرکانو) سره لگولے دے، او مطلب دا دے چه اے موحدینو! که تاسو مشرکان هدایت طرفته راوبلے چه راشئ د الله او د رسول تابعداری وکړئ نو دوی خبره نۀ آوری، نۀ ئے قبلوی، بلکه د ضد د وجه نه اعراض کوی او ته به دوی وینے چه دوی به تا ته گوری په ظاهره کښ او ستا خبره به اوری لیکن په حقیقت کښ دوی هیڅ شے نۀ وینی لکه په سورة یونس کښ هم دا مضمون راغلے دے۔ لیکن اول تفسیر په کښ ښه ظاهر دے۔

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾
عمل کوه په معافئ کولو او حکم کوه په نیکئ او مخ اړوه د جاهلانو نه۔

تفسیر : ددے ځای نـه آخـر د سورت پورے د دعوت آداب بیانیږی، ١- او تعلق لری د اول آیت ددے سورت سره (فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ) یـعنی قرآن بیان کړه پدے لسو آدابو سره۔ هغه آداب دا دی : (١) اَلْعَفْو، (٢) اَلْاَمْرُ بِالْعُرْفِ۔ (په نیکئ باندے حکم کول)

(٣) اِعْرَاض عَنِ الْجَاهِلِيْنَ (د جاهلانو نه مخ اړول)

(٤) تَعَوُّذ بِاللهِ عِنْدَ نَزْغَةِ الشَّيْطَانِ۔ (د شیطان د وسوسے په وخت اعوذ بالله وئیل)

(٥) تَذَکُّر (خبره رایاده ول) (٦) اتباع د وحی۔ (٧) دَعْوَةَ اِلَى اللهِ بِالْقُرْآن (وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ)

(الله ته په قرآن سره دعوت ورکول)۔
(۸) وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ ۔ (د الله ذکر کول)
(۹) عَدَمُ الْغَفْلَة ۔(غفلت نکول)۔
(۱۰) عَدَمُ الْإِسْتِكْبَار (تکبر نکول) او د الله عبادتونه، تسبیحات کول او سجدے لګول۔ که دا آداب په داعی کښې نۀ وی نو یا به ئے دعوت بی اثره کیږی، یا به ئے دعوت غلط وی لکه د قرآن او حدیث نه علاوه په نورو څیزونو دعوت واخله۔
۲- مخکښې د مشرکانو رد وشو نو اُوس نبی کریم ﷺ ته طریقه د رد ښائی۔
خُذِ الْعَفْوَ : ددے آیت په باره کښې د جعفر صادقؒ نه نقل دی چه [لَيْسَ فِي الْقُرْآنِ أَجْمَعُ آيَةٍ لِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ مِنْهَا] په قرآن کریم کښې ښائسته اخلاقو لره ډیر راجمع کونکے آیت ددے نه سوئ بل نشته) آیت د معنیٰ په لحاظ آسان لیکن عمل پرے ګران دے۔ (قرطبی، بغوی، المنار)

العفو : د عفو مصداقات

۱- مَا فَضُلَ مِنْ اَمْوَالِ النَّاسِ۔ یعنی د خلکو زیاتی مالونه واخله یعنی د خپلو صحابه کرامو نه زکاة واخله۔ دا تفسیر بعید دے۔
(۲) عفو- معافی کولو ته وائی۔ یعنی د غصه کیدو په ځای د خلقو سره د عفو او معافی معامله کوه، ځکه چه په وعظ او نصیحت کښې همدا فائده مند دے، یعنی د خلکو په اخلاقو کښې یو خوئی عفوه ده نو دا ځان سره راواخله، نو ظاهر دا ده چه دلته مطلب دا دے چه د معافئ نه کار واخله یعنی عفو عَنِ الْمُسِيْئِيْنَ۔
یعنی څوك چه تا سره بدی وکړی د هغوی نه معافی وکړه۔ خو په عرف کښې داسے استعمالیږی ((معافی ونیسه))، بیا ئے داسے تعبیر وکړو او داسے ئے ونۀ وئیل چه معافی کوه، پدے کښې اشاره ده چه معافی به دومره زیاته کوے چه ګویاکه خارج کښې جُثه ولری او هغه به تا لاس کښې نیولی وی ځکه چه داعی ته خلك ډیر ضرر ورکوی، نو که د عفو ماده پکښې نۀ وی نو سینه به ئے پړسیدلی وی او همیشه به په غصه وی، ځکه چه څوك به کنځل کوی، څوك به غیبت کوی او څوك به بهتانونه لګوی ځکه چه عامو انسانانو کښې د مار او لړم خویونه دی چه خلکو ته ضرر ورکوی، نو که تا کښې د معافی ماده نۀ وی نو زندګی به دِے ډیره تنګه شی۔

بِالْعُرْفِ : په معنیٰ د معروف سره دا ټولو طاعاتو ته شامل دے۔ عطاءَ وائی چه ددے لوی مصداق لا الـه الا الله ده۔ ظاهر دا ده چه عرف : كُلُّ قَوْلٍ حَسَنٍ وَفِعْلٍ جَمِيْلٍ وَخُلُقٍ كَامِلٍ ۔ ټولو ته شاملیږی یعنی هره ښائسته وینا او ښائسته کار او کاملو اخلاقو ته وائی۔

وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ : یعنی د ناپوهو سره د سختئ معامله مهٔ کوه، یعنی د جاهلانو جواب په جهل سره مهٔ ورکوه، لکه دا صفت د مؤمنانو په سورة الفرقان (٦٢) آیت کښې ذکر شویدے لکه سیدنا عمر فاروق ﷺ ته حُر بن قیسؓ د هغه د غصے په وخت کښې چه د هغه ترهٔ (عُیَیْنَه بن حِصْن) ته ئے کړے وه دا آیت ولوستلو نو امیر المؤمنین پرے سمدست عمل وکړو او هغه شخص ئے معاف کړو۔

حدیث کښې دی چه کله دا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ جبریل علیه السلام ته وفرمایل: [مَا هٰذَا یَا جِبْرِیْلُ؟] ددے څه مطلب دے اے جبریله! (یعنی مصداق ئے څه دے؟) نو هغه ته نهٔ ورتللو نو هغه لاړو د الله نه ئے تپوس وکړو بیا راغے وے فرمایل چه الله تا ته دا حکم کوی :[اَنْ تَصِلَ مَنْ قَطَعَكَ وَتَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَكَ وَتُعْطِیَ مَنْ حَرَمَكَ] (ذکره ابن ابی الدنیا فی مکارم الاخلاق باسانید کثیرة رقم :٢٥ وابن مردویه باسانید حسان– تخریج احادیث الاحیاء للعراقی ٣/٢٥) ته به هغه چا سره صله رحمی کوے چه تا سره ئے قطع کوی او هغه چا ته به معافی کوے چه تا سره ظلم کوی، او هغه چا ته به ورکړه کوے چه ته ئے محرومه کړے) او پدے کارونو باندے عمل کول نفس لره ډیر زور ورکوی۔

امر بالمعروف ډیر تریخ شے دے، او دوائی چه کله ډیره ترخه وی نو هغه په کیپسول کښې بندولے شی، نو امر بالمعروف ګویا که ترخه دوائی ده، او دا رابنده شویده د (خُذِ الْعَفْوَ) او د (اَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِیْنَ) ترمینځ۔ اول نه هم وائی چه معافی کوه او روستو هم وائی چه جاهلانو سره به ځان نهٔ سموے۔ او ددے حاصل دا راوځی چه کله ستا اُوچت اخلاق نهٔ وو نو د دین کار نشے کولے۔ ځکه چه ته به د خلکو خیرخواهی کوے، او هغوی به درته کنځلے کوی، او ظالم او کافر او مشرك او بد اخلاقه به درته وائی، او دا د انبیاؤ علیهم السلام طریقه وه، ددے مثال داسے دے لکه ماشوم ډاکټر ته کنځلے کوی او ډاکټر ورته خاندی او دوائی ورکوی۔

وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ
او که ورسی تا ته د شیطان نه څه وسوسه نو پناهی غواړه په الله

اِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۰۰﴾
یقیناً هغه آوریدونکے پو هه دے۔

تفسیر : کله نا کله به شیطان تا د خلکو په ناپو هئ او بد اخلاقئ باندے د هغوی په خلاف را اُوپاروی او غصه به درولی او په زړۀ کښې به وسوسه پیدا کړی چه د معافی او نیکئ لاره پریدے، نو فوراً په الله پورے د شیطان مردود نه پناه غواړه او دعا وکړه چه الله دا ستا نه لرے کړی ځکه چه د شیطان د فتنو نه د بچ کیدو همدا یوه لاره ده چه انسان د الله تعالیٰ په پناه کښې راشی۔ او رسول الله ﷺ هم د غصے په وخت همدا علاج خودلے دے۔
او په بعض روایاتو کښې چه په سند کښې ئے مقال دے نور علاجونه دا راغلی دی چه که ولاړ وے کینه، او که ناست وے نو څمله، یا اودس وکړه پدے سره هم غصه سړیږی۔ (مسند احمد ۱۵۲/۵) والضعیفة: رقم: (٦٦٦٤)
او الله تعالیٰ دلته دا علاج پدے وجه خودلے دے چه که انسان خپله غصه نافذه کړی او بدله واخلی نو جائز ده، لیکن پدے سره به د دعوت کار بند شی۔
او په سورة المؤمن آیت (٥٦) کښې دا په هغه وخت کښې راغلے دے چه یو مشرك یا بدعتی ته د حق خبره وکړے او هغه په کبر او غصه کښې راشی، او ددے خلاف شروع کړی نو دغه وخت به تعوذ وکړے ﴿اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَا هُمْ بِبَالِغِيْهِ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ﴾ نو د مناظرے او بیان او د قرآن د تلاوت په وخت کښې تعوذ راغلے دے۔

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ
یقیناً هغه کسان چه یریږی د الله نه کله چه ورسی دوی ته څه وسوسه د شیطان نه
تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾ وَاِخْوَانُهُمْ
یاد کړی الله تعالیٰ نو دغه وخت دوی لیدونکی وی۔ او ورونه ددے شیطانانو
يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾
زیاتوی دوی لره په سرکشئ کښې بیا کمے نۀ کوی دوی۔

تفسیر : د شیطان وسوسه مشرکانو ته هم راځی او مؤمنانو ته هم، د دواړو فرق دا دے چه د الله تعالیٰ نه یریدونکو خلکو ته چه د شیطان کومه وسوسه ورسیږی نو دوی زر

خبره راياده کړي چه زما دا غصه خو د شيطان د طرفنه ده نو فوراً اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ووائي۔

تَذَكَّرُوْا : يعني خبره راياده کړي چه په الله بهروسه کول پکار دي، او خپلے غلطيانے ذهن ته راولي او د شيطان سازشونه ورته معلوم شي، او د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره ددے سازشونو نه محفوظ کيږي۔

يا **تَذَكَّرُوْا** عِقَابَ اللّٰهِ وَجَزِيْلَ ثَوَابِهٖ، وَوَعْدَهٗ وَوَعِيْدَهٗ فَتَابُوْا وَاَنَابُوْا وَاسْتَعَاذُوْا بِاللّٰهِ وَرَجَعُوْا اِلَيْهِ مِنْ قَرِيْبٍ] ۔ يعني راياد کړي د الله سزا او زيات ثواب د هغه او وعده او عذاب د هغه نو الله ته توبه وباسي او رجوع وکړي او په هغه پورے پناه وغواړي او هغه ته زر راواپس شي۔ (ابن كثير۳/٤)

طَائِفٌ : طائف او طَيْف هغه تخيّل ته وائي چه په زړه کښ راشي، يا په خوب کښ وليدلے شي، او په لغت کښ ګرځيدونکي ته هم وائي، دلته ترے مراد وسوسه، غصه، ګناه کول، د ګناه اراده کول، او د پيريانو حمله کول دي۔ (ابن كثيرؒ دا ټول مصداقات ذکر کړيدي)

يعني پدے ټولو وختونو کښ الله راياد کړي نو د ټولو کارونو نه توبه وباسي او په الله پورے پناهي طلب کړي۔ علامه شوکانيؒ وائي چه شيطاني وسوسه هم د خيالي تصوراتو مشابه ده۔ (فتح القدير)

په يو قراءت د ابوعمروؒ او کسائيؒ او يعقوبؒ او ابن کثيرؒ کښ (طَيْفٌ) لفظ دے نو هغه خيال ته وائي۔ او بعضو دواړه په يو معنی اخستي دي۔ (المنار)

مُّبْصِرُوْنَ : اَیْ مَوَاقِعَ الْخَطَاءِ ۔ يعني د خطائي ځايونهويني۔ چه دے ځاى کښ زۀ خطا شوم۔

وَاِخْوَانُهُمْ : ليکن څوك چه د الله نه نۀ يريږي او د شيطان ورونه وي، هغوي ته په الله سره د شيطان د وسوسو نه پناه غوختل نۀ ياديږي، او شيطانان د هغوي په زړونو او دماغو کښ ډير شبهات پيدا کوي، ګناهونه ورته ښائسته کوي، او د هغے کول ورته آسانوي۔

آخر دا چه دا خلق په ګناهونو کښ واقع شي او په آينده کښ په همدغه لاره روان وي۔

يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ : يعني راکاږي ئے په سرکشئ کښ۔ نو د وسوسے نه ئے ګناه ته بوځي او د ګناه نه ئے کفر ته او په کفر کښ ئے لوی سرکش وګرځوي۔

يا مد معنیٰ ده زيادت : اَیْ يَزِيْدُوْنَهُمْ۔ دوی لره زياتوی په سرکشئ کښ۔ (ابن کثيرؒ)

ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ : ۱- اَیْ فِیْ اِغْوَائِهِمْ- یعنی شیطانان د هغوی په گمراه کولو کښې هیڅ کوتاهي نهٔ کوی- د اکثرو انسانانو دا حال دے چه خپل دشمن ئے پیژندلے نهٔ دے، هغه پرے دومره تسلط او غلبه کړې وی چه هر شر هغه ته آسان وی، او شیطان ورته په څټ ناست وی، هرے گناه ته ئے وړاندے کوی- صرف ایمان او تقویٰ والا ترے الله تعالیٰ محفوظ کوی-

۲- یا ضمیر گمراه کړے شوو ته راجع دے یعنی دا کسان دومره سخت گمراه شی چه دوی بیا په هیڅ شر او گناه کښې کوتاهي نکوی بلکه هر شر ته منډه وهی- (ابن کثیرؒ)

وَاِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْلَا
او کله چه رانهٔ وړے تهٔ دوی ته یوه نخه (چه دوی ئے غواړی) وائی دوی ولے
اجْتَبَيْتَهَا ؕ قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا
د ځان نه نهٔ جوړوے دا (نخه)، ووایه ! یقیناً زهٔ تابعداری کوم د هغے
يُوْحٰٓى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ
چه وحی کیدے شی ما ته د رب ځما نه، دا قرآن دلیلونه د عقل دی د طرفه
رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾
د رب ستاسو نه او هدایت او رحمت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی-

تفسیر : پدے آیت کښې د هغوی د شر یوه نښه ذکره ده- د مشرکانو د ډیرو گمراهیانو نه یوه گمراهی دا هم وه چه دوی به وخت په وخت د رسول الله ﷺ نه د خاصو نخو مطالبه کوله او مقصد ئے د رسول الله ﷺ پریشانه کول، او د هغه پورے توقے کول وو، ورنه د ټولو نه لویه معجزه قرآن وه چه شپه او ورځ د دوی مخے ته نازلیدو، او ددے آیتونه د ایمان والو د سترگو کولاوولو دپاره کافی وو- کله چه به مشرکانو د یوے نخے مطالبه کوله او رسول الله ﷺ به هغوی ته پیش نکړه ځکه چه د هغے په باره کښې به د الله تعالیٰ اراده نهٔ وه، نو دوی به د ټوقو په طریقه وئیل (د شیطان په وسوسه سره) چه تهٔ دا د خپل طرف نه ولے نهٔ جوړوے؟ اشاره ئے دے ته کوله چه قرآن ډے د ځان نه جوړ کړیدے نو معجزه به ډے هم د ځان نه جوړه کړے وے، او مونږ ته به ډے راښکاره کړے وے-

پدے جمله کښې د هغوی ډیر فساد غرض وو، د رسول الله ﷺ نه هغه معجزے غوښتل

چه کوم د حکمة خلاف وو، دویم دا چه هغه ئے رانهٔ وړی نو بیا د نور قرآن تکذیب کول وو چه دا هم د ځان نه جوړ کړے شویدے، نو معجزه هم د ځان نه جوړه کړه. دا د شیطانانو طریقه ده چه د داعی د بندولو دپاره بی ځایه اعتراضونه کوی چه مقصد د هغه هدایت حاصلول نهٔ دی، (لکه دے وخت کښ هم ډیر اهل بدع به د حق داعی ته وائی چه قرآن او حدیث کښ دا مسئله وښایه او دا وښایه، تهٔ به وائے چه قرآن ددهٔ کتاب نهٔ دے او صرف د داعی کتاب دے نو مقصد د دوی هدایت نهٔ دے).

لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا : اِجتباء غوره کولو ته وائی. دلته ئے معنیٰ ده [اِخْتَرَعْتَهَا] یعنی دا به دِے هم د ځان نه جوړے کړے وے. یا مطلب دا دے : [لَوْلَا أَخَذْتَهَا مِنَ اللّٰهِ] دا به دِے هم د الله نه اخستي وے. (ابن کثیرؒ والبغویؒ)

قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ : الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته وفرمایل چه تهٔ ووایه چه زهٔ د الله بنده او د هغه رسول یم، زهٔ په الله تعالیٰ دروغ نشم جوړولے، ما ته چه د وحی په ذریعه څه خودلے کیږی د هغے تابعداری کوم. او دا قرآن عظیم خو د زړهٔ سترگے کولاووی، او هغے ته بصیرت ورکوی، او خیر طرف ته لارخودنه کوی، او د اُور د عذاب نه بچ کول کوی نو رحمت دے، نو نورو معجز طلب کولو څه ضرورت ؟.

مفسرین لیکی : دا آیت دلیل دے چه د نبی کریم ﷺ هر قول او فعل به د الله د وحی مطابق وو، او ترڅو پورے چه به د الله تعالیٰ حکم نهٔ ملاویدو نو نبی ﷺ به د خپل طرف نه هیڅ هم نهٔ کول.

هٰذَا بَصَآئِرُ : قرآن په ابتداء کښ بصیرت وی، بیا هدایت وگرځی بیا چه انسان پرے مطلب ته ورسی نو د هغه دپاره رحمت وگرځی نو بیا به پرے خوشحاله وی.

وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا
اوکله چه لوستلے شی قرآن نو غوږ کیدئ هغے ته او چپ شئ
لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾
دے دپاره چه په تاسو رحم وکړے شی.

تفسیر : ربط :

۱- په مخکنی آیت کښ د قرآن کریم فضائل او خصائص بیان شو چه دا لوئی کتاب د

زړهٔ سترګے کولاووی، او هغے ته بصیرت ورکوی او نیکئ طرف ته لارخودنه کوی او د اُور د عذاب نه د بچ کیدو ذریعه ده۔ پدے مناسبت سره دلته الله تعالیٰ مسلمانانو ته نصیحت وکړو چه کله د قرآن کریم تلاوت کیږی نو دا په سوچ سره واورئ دے دپاره چه ددے په معانیو پوهه شئ، او پدے کښې چه کوم پند او نصیحتونه دی د هغے نه فائده حاصله شی، او بیا دربانده رحم وشی۔

۲- مخکښې ئے ووئیل چه قرآن رحمت دے اُوس وائی چه دا به ستاسو دپاره هله رحمت جوړیږی چه تاسو دے ته غوږ کیدئ کله چه په تاسو لوستلے کیږی۔ (المنار)

۳- مخکښې ئے د شیطان وسوسه (نزغ) ذکر کړه، نو اُوس د هغے نه د حفاظت دپاره دوه څیزونه بیانوی، یو د قرآن کریم آوریدل او په هغے کښې تدبر کول، او بل د الله تعالیٰ عام ذکر کول چه په هغے سره تزکیه د نفس هم راځی او د شیطان نه حفاظت هم۔ (المنار)۔

شان نزول

۱- دا آیت د قریشو کافرانو په مقابله کښې نازل شوے وو چه هغوی خپلو ملګروته داسے وئیلی وو (لکه د هغوی وینا الله په سورة حم السجده (۲۶) آیت کښې نقل کړیده :

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴾

چه کله محمد (صلی الله علیه وسلم) قرآن لوستل شروع کړی نو تاسو هغه مهٔ آورئ او تشویش پیدا کړئ دے دپاره چه تاسو غالبه شئ او څوك قرآن وانهٔ وری۔

نو دلته الله تعالیٰ د هغوی په خلاف ایمان والو ته ووئیل چه تاسو دے قرآن ته غوږ کیږدئ او شور مهٔ کوی دے دپاره چه په تاسو باندے رحم وکړے شی۔ نو هغوی لَا تَسْمَعُوْا او وَالْغَوْا ووئیل نو الله وفرمایل: (فَاسْتَمِعُوْا وَاَنْصِتُوْا) هغوی (لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ) ووئیل دلته ووئیل شو (لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ)

د مشرکانو سره نور طاقت ختم شو نو په شور سره ئے د قرآن رڼړا ختموله، ددے مثال داسے دے لکه د نمر رڼړا په ګوته پټول۔

۲- څوك وائی چه دا د جُمعے د خطبے د آوریدو په باره کښې نازل دے۔ (سعید بن جبیرؒ، عطاءؒ، مجاهدؒ) ۔ صاحب المنار وائی دا قول خطاء دے ځکه چه دا سورت مکی دے او د جُمعے خطبه په مدینه کښې مشروع شویده۔

فَاسْتَمِعُوْا : استماع د سمع نه ډیر کامل دے ځکه چه استماع دیته وائی چه په قصد او

نیت سره وی، او د یـو کلام د پو هے دپاره خپل غوږ هغے ته متوجه کول دی. او سمع هغے ته وائی چه یو کلام غوږ ته راشی اگرکه بغیر د قصد نه وی،

او انصات : تَرْكُ الْمَشَاغِلِ تـه وائـی یـعنی نور مشاغل پریخودل. صاحب المنارئے داسے تعبیر کوی : اَلسُّكُوْتُ لِاَجْلِ الْاِسْتِمَاعِ حَتّٰى لَايَكُوْنَ شَاغِلًا عَنِ الْاِحَاطَةِ بِكُلِّ مَا يَقْرَأُ]

د غوږ کیخودو دپاره غلے کیدل دے دپاره چه د تول قراء ت د راگیرولو نه مشغوله نشی. نـو څـوك چه غوږ کیدی او غلے شی نو لائقه ده چه هغه به پو هه شی او تدبر به وکړی، او په همدۀ باندے امید دے چه رحم به پرے وکړے شی. (المنار)

مسئله د فاتحه خلف الامام

ځینـی خـلك دا آیت د فـاتـحـه خلف الامـام د رد دپاره ذکر کوی لیکن دا خبره د ډیرو وجـو هاتـو نه صحیح نۀ ده (۱) اوله وجه دا ده چه د آیت شان نزول دلیل دے چه دا په باره د رد د مشرکانو کښ نازل وو نو ددے د سورة الفاتحے سره تعلق نشته.

مـولوی اشرف علی تهانوی دیوبندی وائی : ''زما په نیز (اذا قرئ القرآن فاستمعوا) کله چه قـرآن لـوستے کیـږی نـو هـغـے تـه غـوږ کیـږدئ)) دا په تبلیغ باندے محمول دے، دلته قـرائت فی الصلاة (یعنی په مانځه کښ قراء ت) مراد نۀ دے. د سیاق نه همدا معلومیږی نو اُوس که په مجمع کښ ډیر کسان په یو ځای قرآن لولی نو هیڅ حرج نشته''.

(الکلام الحسن : ۲/۲۱۲)

عبـد الـماجد دریا آبادی وائی : ''ددے حکم مخاطبین ظاهره ده چه کفار او منکرین دی او اصلی مقصد دا دے چه کله چه قرآن د تبلیغ په غرض ولوستے شی نو نو هغے ته په توجه او خامـوشـئ سره غـوږ کیـږدئ دے دپاره چـه چـه ددے مـعجز کیدل او ددے د تعلیماتو خوبیانو باندے تاسو پو هه شئ او تاسو ایمان راوړو سره د رحمت مستحق جوړ شئ''.

(تفسیر ماجدی : جلد دوم ص ۲۶۳ حاشیه نمبر : ۳۰۰)

(۲) دویـمـه وجـه دا ده چـه کـه ومـنـو چه اعتبار عموم د لفظ لره دے او خاص سبب لره نۀ دے. نـو بیا وایو چه ددے آیت عموم دلالت کوی چه مقتدی به د امام قراء ت ته غوږ اږدی او بل آیت دے ﴿ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (المزمل: ۲۰) (لـولئ هغه چه تاسو ته آسان وی د قـرآن نـه) نـو دا آیت دلیل دے چه قراء ت په هر چا باندے لازم دے، مقتدی وی او که امـام لـکـه صـاحـب د تـلـویـح تـوضیح او صاحب د نور الانوار ص (۱۹۳/۱۹۴) او نورو

اصولینو د دوه آیتونو د تعارض مثال هم دا دواړه آیتونه ذکر کړيدي نو تعارض واقع شو، او اصولیین وائی چه کله د دوه آیتونو تعارض راشي نو رجوع به حدیث ته کولے شي. نو کله چه مونږ حدیث ته رجوع وکړه نو په صحیح حدیثونو کښې خو په هر مونځ کونکي باندے اګرکه مقتدي وي د فاتحے لوستل لازم شویدي. لکه هغه روستو ذکر کیږي. او دوي چه کوم حدیثونه پیش کوي چه قرائت د امام دا قرائت د مقتدي دپاره دے نو هغه د اکثرو ائمه کرامو په نیز مرسل ضعیف دے. بیا په هغے کښې د فاتحے ذکر نشته بلکه عام قرائت مراد دے او دا خو مونږ هم وایو چه په جهري مونځ کښې به د فاتحے نه زیادت نۀ کوي. او بل طرفته آیت کښې دي: ﴿وَاَنْ لَّیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی﴾ (سورة النجم : ۳۹) د هر انسان دپاره هغه شے پکار راځي چه د کوم کوشش ئے کړيدے) نو مقتدي به خپله فاتحه لولي. د امام فاتحه د هغه دپاره فاتحه نۀ ده. او دا آیت هم دلالت کوي چه د مقتدي به فاتحه خامخا لولي.

❁ بله وجه دا ده چه احناف علماؤ د آیت (اذا قرئ القرآن) اطلاق په حدیث (لَاصَلَاةَ اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْکِتَابِ) سره مُقَیّد کول جائز نۀ دي ګڼړلي سره ددے نه چه هغه متفق علیه صحیح حدیث دے. او بل طرفته د همدغه آیت عموم ئے په همدغه مختلف فیه روایت (فَقِرَاءَةُ الْاِمَامِ لَهٗ قِرَاءَةٌ) سره خاص کړيدے. (قاله الالباني في صفة صلاة النبي)

(۳) دریمه وجه دا ده : ددے آیت په عموم باندے به دلیل نیول هله صحیح وے چه مونږ او محدثینو دا خبره په خپل عقل کولے چه فاتحه د امام دپاره ضروري ده نو تا به وئیل چه قرآن کریم کښې راغلي دي چه قرآن ته غوږ کیږدئ او هرکله چه مونږ دا خبره نۀ کوو، بلکه دا هغه پیغمبر وئیلي دي چه په هغه باندے دا قرآن نازل شویدے او هغه ددے په مطلبونو ښه پوهیدو، او هغه هر چاته د ټولو مونځونو په باره کښې دا حکم کړيدے :

[لَاصَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ یَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْکِتَابِ] (بخاري ومسلم)

د هیچا مونځ نۀ کیږي چه فاتحه ونۀ وائي.

او ابوداوٗدؒ او ترمذيؒ د عباده بن صامت ﷺ نه روایت کړيدے چه نبي کریم ﷺ د مانځه نه د سلام ګرځولو نه روستو تپوس وکړو: [لَعَلَّکُمْ تَقْرَؤُوْنَ خَلْفَ اِمَامِکُمْ ؟ قُلْنَا نَعَمْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! قَالَ : لَاتَفْعَلُوْا اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْکِتَابِ فَاِنَّهٗ لَاصَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ یَقْرَأْ بِهَا]

آیا تاسو د امام پسے قرائت کوئ ؟ نو صحابه کرامو ووئیل چه آؤ، اے د الله رسوله ! نو نبي ﷺ وفرمایل چه د ام القرآن (فاتحے) نه سیوی نور څه مۀ وایئ، ځکه چه څوک سورة

فاتحه ونهٔ وائی نو د هغه مونځ نهٔ کیږی۔ (ابوداوُد رقم : ۸۲۳ باسناد صحیح-البانی وغیره)

په یو روایت کښې دی چه نبی (ﷺ) وفرمایل :

[فَلَا تَقْرَؤُوا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ إِذَا جَهَرْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ] ابو داود : ۸۲٤ والترمذی:(۳۱۱)

(کله چه زهٔ په جهر (زور) سره قراءت کوم نو د اُم القرآن (فاتحے) نه سِویٰ نور څه مهٔ وایئ)۔ ددے حدیث تمام راویان ثقه دی۔

او په حدیث د انس بن مالک ﷺ کښې دی :

[أَتَقْرَؤُونَ فِي صَلَاتِكُمْ وَالْإِمَامُ يَقْرَأُ؟ فَسَكَتُوا، فَقَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ قَائِلٌ أَوْ قَائِلُونَ : إِنَّا لَنَفْعَلُ، قَالَ : فَلَا تَفْعَلُوا وَلْيَقْرَأْ أَحَدُكُمْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي نَفْسِهِ]

(آیا تاسو په خپل مانځه کښې لوستل کوئ، کله چه امام قراءت کوی؟ نو هغوی غلی شول، نبی کریم ﷺ درے کرته دا خبره وکړه، نو یو یا ډیرو وویل چه، یقیناً مونږ دا کار کوو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: پس داسے مهٔ کوئ، او ستاسو نه دِے هر شخص سورتِ فاتحه په زړه کښې ولولی۔ (یعنی ځان سره) (جزء القراءة د بخاری، مسند ابی یعلی الموصلی (۵/۱۸۷، ۱۸۸ حدیث : ۲۸۰۵) صحیح ابن حبان (الاحسان ۳/۱٦۰، حدیث : ۱۸٤۱) و حدیث : (۱۸٤۹) ددے حدیث ټول راویان ثقه دی۔ او ټول راویان ئے د بخاری، مسلم او سنن اربعهٔ راویان دی۔

د سیدنا عمر فاروق ﷺ نه نقل دی چه هغه فرمایلی دی :

[سَيَأْتِي أُنَاسٌ يُجَادِلُونَكُمْ بِشُبُهَاتِ الْقُرْآنِ فَخُذُوهُمْ بِالسُّنَنِ فَإِنَّ أَهْلَ السُّنَنِ أَعْلَمُ بِكِتَابِ اللَّهِ مِنْهُمْ] ۔ روستو زمانه کښې به داسے خلك راشی چه تاسو سره به د قرآن په شبهاتو باندے جګړے کوی نو دوی په سننو (یعنی د نبی کریم ﷺ په سنتو) سره راونیسئ ځکه چه څوك په حدیثو ښه پو هیږی هغه د الله په کتاب باندے د دغه خلکو نه زیات پو هیږی۔

(سنن الدارمی رقم ۱۱۹) اصول السنة لابن ابی زمنین) واللالکائی فی السنة (۲۰۲)

نو ددے وجه نه څوك چه دا آیت د فاتحه خلف الامام د رد دپاره پیش کوی نو دا داسے ده لکه چه د رسول الله ﷺ او د قرآن مقابله پیش کول، چه نبی ﷺ د قرآن داسے تفسیر کړیدے چه هغه د قرآن خلاف دے۔ یا د رسول الله ﷺ رد کول دی۔

(٤) – الزامی سوال دا دے چه یو غیر مسلم شخص راشی او یو مقلد ته ووائی چه فاتحه دعا ده که نهٔ ؟ هغه ووائی چه آؤ، نو هغه ورته ووائی چه بیا تاسو په سهار مابنام او ماسخوتن مونځونو کښې دا په جهر ولے وایئ ؟ حال دا چه الله تعالیٰ په سورة الاعراف کښې

وئيلي دي چه ﴿اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً﴾ دعا په عاجزئ او پټه غوارئ نو تاسو ولے د قرآن خلاف كوئ؟ نو دلته به د مقلد څه جواب وي؟ ضرور به دا وائي چه صحيح ده چه دعا په پټه پكار ده، ليكن دلته رسول الله ﷺ پدے وختونو كښې فاتحه په جهر سره لوستلے ده، نو مونږه ئے د هغه د تابعدارئ په وجه په جهر سره لولو، نو دغه شان خبره د فاتحه خلف الامام په باره كښې هم ده۔ يعني فاتحه خلف الامام ددے آيت نه د ډيرو صحيح احاديثو په وجه مستثنىٰ ده چه په هغے كښې د فاتحے لوستل د هر مقتدى دپاره واجب گرځولے شويدى۔ يعني د فاتحے په باره كښې دليلونه خاص دي او دوى چه كوم دليلونه ذكر كوى هغه عام دي او دا د ټولو علماؤ په نيز اتفاقي خبره ده چه خاص په عام باندے مقدم وي او تخصيص د قرآن په خبر واحد سره جائز دے لكه علامه آمديؒ متوفي (٦٣١ هـ) فرمائي: (وَاَمَّا اِذَا كَانَتِ السُّنَّةُ مِنْ اَخْبَارِ الآحَادِ فَمَذْهَبُ الْاَئِمَّةِ الْاَرْبَعَةِ جَوَازُهٗ) كه (د قرآن د عموم تخصيص كونكے) سنت خبر واحد وي نو د څلورو واړو امامانو مذهب دا دے چه دا جائز دے) (الاحكام في اصول الاحكام: ٢/٣٤٧)

علامه شوكانيؒ ليكي: (اِتَّفَقَ اَهْلُ الْعِلْمِ سَلَفًا وَّخَلَفًا عَلٰى اَنَّ التَّخْصِيْصَ لِلْعُمُوْمَاتِ جَائِزٌ) (پدے خبره باندے د سلفو او خلفو علماؤ اتفاق دے چه د عموماتو تخصيص جائز دے۔ (ارشاد الفحول ص: ١٤٣)۔

لهذا ددے نه روستو هم عام دلائل د فاتحه خلف الامام په خلاف پيش كول غلط، مردود او بې اصولي ده، هركله چه خاص په عام باندے مقدم وي نو بيا عام ولے د خاص په مقابله كښې پيش كولے شي۔ تفصيل دپاره رجوع وكړه كتاب ((الكواكب الدرية في وجوب الفاتحة خلف الامام في الصلاة الجهرية)) د حافظ زبير عليزئ ته۔

(٥) علاوه لا دا چه سكوت او قراءت دواړه منافي نۀ دي ځكه چه امام به قراءت كوى نو مقتدى به هغه ته غوږ هم كيږدي، او په وقفو وقفو كښې به خپله هم ورسره لگيا وي، نو په آيت هم عمل كيدے شي او په حديث هم۔ مونږ چه امام پسے روستو فاتحه وايو نو مونږ چپ يو نۀ قاري ته ضرر وركوو، او نۀ بل چا ته، او احتياط هم پدے قول كښې دے۔

سيدنا ابو هريره ؓ چه كله حديث د قرائت د فاتحے بيان كړو نو د هغۀ نه د هغۀ شاگرد تپوس وكړو (اِنَّا نَكُوْنُ وَرَاءَ الْاِمَامِ؟) چه مونږ چه كله د امام نه روستو يو؟۔ (يعني آيا بيا به هم فاتحه لولو) نو سيدنا ابو هريره ؓ وفرمايل: (اِقْرَأْ بِهَا فِيْ نَفْسِكَ) (مسلم: ١/١٦٩ حديث: ٣٩٥) ځان سره ئے په آرام وايه۔

(نووی شرح مسلم ۱/ ۱۷۰) اشعة اللمعات ۱/ ۳۷۲)

(۶) شپږمه وجه دا ده چه آیت مکی دے او د سورة الفاتحه د وینا فرضیت په مدینه کښ شویدے، معلومه شوه چه پدے آیت کښ د مقتدی دپاره د فاتحے د نۀ لوستلو هیڅ خبره نشته۔

(۷) (چیلنج) په هیڅ حدیث کښ چرته هم دا منع نۀ ده راغلے چه تاسو د امام پسے فاتحه مۀ لولئ۔ او بل طرفته صراحةً راغلی دی چه ((زۀ کله قرائت کوم نو تاسو قراءت مۀ کوئ مګر فاتحه لولئ)) (ابوداود والترمذی) (او هر هغه چا چه مونځ وکړو چه په هغے کښ ئے فاتحه ونۀ لوستله نو دا مونځ نیمګړے دے) (مسلم) (او مونځ نۀ دے صحیح د هغه چا چه په هغے کښ فاتحه ونۀ لولی)) (بخاری: ۷۵۶ومسلم: ۹۰۰) نو د نور قرائت نه منع شوه او فاتحه د هغے نه بهر شوه۔ دا د حق پرست دپاره انتهائی ښکاره دلیل دے۔

علامه عبد الحی لکهنویؒ لیکی: [لَمْ یَرِدْ فِیْ حَدِیْثٍ مَرْفُوْعٍ صَحِیْحٍ النَّهْیُ عَنْ قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ وَكُلُّ مَا ذَكَرُوْهُ مَرْفُوْعًا فِيْهِ اِمَّا لَا اَصْلَ لَهٗ وَاِمَّا لَایَصِحُّ] (التعلیق الممجد ص ۱۰۱ حاشیه ۱) په هیڅ صحیح مرفوع حدیث کښ د امام نه روستو د فاتحے د قراءت نه منع نشته او کوم مرفوع روایتونه چه خلکو پدے باره کښ ذکر کړیدی هغه یا بی اصله (بی بنیاده) دی او یا صحیح نۀ دی۔

(۸) وجه دا ده چه په (اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ) باندے دوی د مقتدی دپاره فاتحه منع کوی حال دا چه امام بخاریؒ د زید بن ارقم ﷺ نه نقل کړیدی چه هغه فرمائی: (كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلَاةِ، يُكَلِّمُ اَحَدُنَا اَخَاهُ فِيْ حَاجَتِهٖ حَتّٰى نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ ﴿ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ﴾ فَاُمِرْنَا بِالسُّكُوْتِ) مونږ به په مانځه کښ خبرے کولے، یوتن به د خپل ورور سره په یو حاجت کښ خبرے کولے تردے چه دا آیت (وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ) نازل شو (یعنی الله ته غلی ودریږئ) نو مونږ ته په غلی کیدو باندے حکم وشو۔ (بخاری: ۴۵۳۴) مسلم (۱۲۳۱) او دغه آیت مدنی دے۔

او د ابن مسعود ﷺ نه روایت دے: [كُنَّا نُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا وَقَالَ: ((اِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلًا))۔ ابوداود: ۹۲۴) مونږ به په رسول الله ﷺ باندے سلام اچولو او هغه به په مانځه کښ وو نو مونږ ته به ئے جواب راکولو خو کله چه مونږ د نجاشی نه راواپس شو۔ (چه دا مدنی دور دے) مونږ په هغه باندے سلام واچولو نو هغه مونږ ته جواب رانکړو او بیا ئے

وفرمایل: (په مانځه کښ (د بنده د الله سره) مشغولتیا وی). (یعنی خبرے منسوخ شوے) نو سوال دا دے چه په (اِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ) سره فاتحه تاسو منع کوئ او حال دا چه عامے خبرے دِے پرے نۀ منسوخ کیږی او هغه دِے په مدینه کښ منسوخ کیږی ځکه چه د خبرو اترو اجازه په مدنی ژوند کښ بنده شوه. نو عجیبه خبره ده چه په (اِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ) سره دِے صرف فاتحه منسوخ کیږی او خبرے اترو اجازه دِے وی او هغه دِے بیا په مدینه کښ په (وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِیْنَ) باندے منسوخ کیږی؟!.

معلومیږی چه د (اِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ) فاتحے ته بیخی نۀ دے شامل.

(۹) وجه: که ومنو چه دا آیت فاتحے ته هم شامل دے نو بیا وایو چه پدے آیت کښ دی: قرآن ته غوږ کیږدئ او په روستو ورپسے آیت کښ دی: ﴿وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِیْ نَفْسِكَ﴾ خپل رب ځان سره یادوه) نو گویا که داسے وویل شو چه د امام د قراءت په وخت کښ فاتحه ځان سره وایه په پټه وایه. لکه دا خبره روستو آیت کښ د قتادةؒ نه نقل شویده.

نو صحیح دا ده چه په مانځه کښ فاتحه د هر چا دپاره لوستل لازم دی برابره ده چه سرئ مونځ وی او که جهری او دا خبره امیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاریؒ هم غوره کړیده او پدے باندے ئے مستقل کتاب (جزء القراءة) لیکلے دے او دا د نورو محدثینو هم مسلك پاتے شویدے. ددے مسئلے باقی تفصیل دپاره ((الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح)) او ((فتاوی الدین الخالص)) او داسے نورو کتابونو ته رجوع پکار ده.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِیْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِیْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ
او یادوه رب خپل په زړه خپل کښ په عاجزئ او په یره سره او خکته د اُوچتے وینا نه
بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِیْنَ ﴿۲۰۵﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ
په وخت د صبا او بیګاه کښ او مۀ کیږه د غفلت کونکو نه. یقیناً هغه کسان
عِنْدَ رَبِّكَ لَا یَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَیُسَبِّحُوْنَهٗ
چه نزدے دی رب ستا ته لوئی نۀ کوی د هغه د بندګئ نه او پاکی وائی هغه لره
وَلَهٗ یَسْجُدُوْنَ ﴿۲۰۶﴾
او خاص هغۀ ته سجدے کوی.

تفسیر : د خاص ذکر (تلاوت) د فرآن نه روستو اُوس په عام ذکر باندے حکم کوی چه هغه تلاوت او د مانځه او بهر د مانځه نه تولو حالاتو کښ ذکر ته شامل دے، او پدے سره د نفس تزکیه او د شیطان نه حفاظت راځی۔ او دا د هر مؤمن صفت دے چه دِ الله تعالیٰ ذاکر به وی۔

ابن الجوزیؒ د قتادهؒ نه نقل کړیدی چه که مخکښ آیت کښ د قراء ت په وخت غلے کیدل فاتحے ته هم شامل شی، نو بیا دا آیت د هغے نه استثناء ده او د ذکر نه مراد به فاتحه وی (زاد المسیر) او دا به ئے یو مصداق وی اګرکه د آیت حکم عام دے۔ او دا خبره امام بغویؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیده چه دلته د ذکر نه مراد : په مانځه کښ قراء ت دے یعنی په زړه کښ دِے ئے ځان سره پټ وائی۔ (معالم التنزیل۳/۲۲۱)

شان نزول

دا حکم د مُعراج په شپه د پنځو مونځونو د فرضیت نه مخکښ دے۔ په هغه وخت مسلمانانو ته دا حکم وو چه صبا او بیګاه الله تعالیٰ یاد کړی۔ د مونځونو د فرضیت نه روستو ددے آیت عام حکم باقی پاتے شو۔ اګرکه خطاب نبی کریم ﷺ ته دے لیکن پدے کښ تمام مسلمانان داخل دی۔

په آیت کښ د ذکر آداب

علامه قاسمیؒ وائی چه ددے آیت نه د ذکر الٰهی لاندینی آداب حاصلیږی :

۱ - (فِیۡ نَفۡسِكَ) اصل د الله په ذکرکښ دا ده چه بنده خپل رب لره په زړهٔ سره یاد کړی، یعنی که زړهٔ غافل وی او ژبه روانه وی نو دے ته ذکر الٰهی نشی وئیلے، او الله تعالیٰ په آرام آرام سره یاد کړی دے دپاره چه د ریاکارئ شبهه پاتے نشی او اخلاص ته زیات نزدے شی۔

۲ - (تَضَرُّعًا) د الله په دربار کښ ډیره ژړا او زاری اختیار کړی او د خپلو ګناهونو اقرار وکړی۔

۳ - (وَخِیۡفَةً) د الله یره او د هغه خشیت په زړهٔ باندے طاری وی چه په عملی ژوند کښ د تقصیر په وجه سره چرته بنده راونهٔ نیسی۔ دا دوه شرطونه ئے ولے لګول ؟ ځکه که په یو ذکر کښ تضرع او خیفه (خوف) نهٔ وی نو د هغے خاص اثر نهٔ وی، او چه کله په تضرع او خوف سره وی نو ډیر اثر لری۔ دویم حکمة : د ذکر سره الله تعالیٰ تضرع او خیفه ځکه

شرط کړه چه ذکر انسان لره مست کوی او یو ژوند پیدا کوی بیا به خوشحالی او خندا ډیره کوی نو کله چه ورسره تضرع او خیفه ملګری وی نو بیا به د ذکر اثر په خپل ځای پاتے شی او مستی به زائل کړی۔ ددے نه معلومه شوه چه کوم خلك داسے ذکر کوی چه بیا د عاجزئ نه خبره ګډا او نڅا ته ورسی هغه ذکر نهٔ دے بلکه شیطانی تسلط دے۔

٤- (وَدُوْنَ الْجَهْرِ) آواز پورته نکړی لکه چه په صحیحینو کښې د ابو موسیٰ اشعریؓ روایت راغلے دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! اِرْبَعُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ فَاِنَّكُمْ لَا تَدْعُوْنَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا اِنَّكُمْ تَدْعُوْنَ سَمِيْعًا قَرِيْبًا] اے خلقو ! په ځانونو رحم وکړئ ځکه چه تاسو کوم کونړ او غائب ته آواز نهٔ کوئ، کوم ذات چه تاسو رابلئ هغه ډیر زیات آوریدونکے او ډیر قریب دے۔ (بخاري: ٤٢٠٥) مسلم: ٧٠٣٧)

٥- ژبه د زړهٔ موافقت او ملګرتیا وکړی۔

٦- (بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ) د الله تعالیٰ ذکر صبا او بیګاه وی۔ ددے آیت نه پدے دواړو وختونو کښې د الله تعالیٰ د ذکر اهمیت معلومیږی۔

مخکښې د ذکر او ذاکر طریقه ئے بیان کړه اُوس د وخت تذکره کوی۔

غدو د صبا د راختلو نه تر نمر خاته پورے وی او آصال جمع د اصیل ده د مازیګر نه روستو تر نمر پریوتو پورے وی۔ لکه د ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾ (المؤمن :٥٥) کښې راغلی دی۔ او دا دوه وختونه ئے خاص کړل ځکه چه دا دواړه د ورځے دوه طرفه دی، څوك چه ورځ په ذکر شروع کړی، او په ذکرئے ختمه کړی، نو لائقه ده چه دے به د الله تعالیٰ لحاظ کوی او دے به الله تعالیٰ لره ددے په مابین کښې هم نهٔ هیروی۔ او چونکه دا دواړه وختونه د کاروبار دی، اکثر خلك پدے کښې جلتی کوی، نو دائے خصوصی ذکر کړل، او پدے دواړو وختونو کښې اَهم ذکر د سهار او مازیګر مونځ دے چه هغے ته د شپے او د ورځے ملائك حاضری ورکوی۔ پدے وجه ئے روستو وفرمایل چه د ملائکو سره ځان مشابه کړئ چه هغوی د الله تعالیٰ د ذکر نه نهٔ غافل کیږی۔

وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ : یعنی په عامو اوقاتو کښې هم د الله نه غفلت مهٔ کوئ۔ لکه سورة طه آیت (١٣٠) کښې دی : ﴿وَأَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى﴾

اِنَّ الَّذِيْنَ : پدے کښې د ملائکو صفت بیانوی، پدے کښې مسلمانانو ته ترغیب ورکوی چه تاسو لره د ملائکو په شان شپه او ورځ په خشوع او خضوع سره د الله په ذکر کښې مشغول کیدل پکار دی او د هغوی په شان په تسبیح او تهلیل کښې مصروف شئ،

مونځونه وکړئ او سجدے وکړئ۔
ملائك درے قسمه عبادتونه کوی (لَایَسْتَکْبِرُوْنَ) د زړهٔ عبادت ئے دا دے چه ځانونه لوی نهٔ ګنړی۔ او د ژبے عبادت ئے تسبیحات دی او د نور بدن عبادت ئے سجدے دی۔
او پدے آیت کښې الله تعالیٰ خپله استغناء بیان کړیده چه اے بنده ! که ته د الله بندګی نهٔ کوے نو الله تعالیٰ ستا عبادت ته محتاج نهٔ دے د هغه سره دومره زیات مخلوق شته چه د هغه په بندګئ کښې مصروف دی نو که تهٔ پکښې شامل نهٔ شے د الله هیڅ نقصان نهٔ کیږی۔
پدے مقام کښې رسول الله ﷺ ددے آیت د تلاوت نه روستو سجده هم پدے وجه کړیده چه سمدستی د ملائکو سره مشابهت راشی، او بنده په توجه سره قبلے ته مخ کړی او الله سبحانه وتعالیٰ ته سجده وکړی، او افضل دا ده چه سجده کونکے به په اوداسه کښې وی۔ په قرآن کریم کښې دا اولنئ سجده ده۔
په صحیحینو کښې د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کله د مانځه د حالت نه سِویٰ کوم سجدے والا سورت لوستلو، نو سجده به ئے کوله او مونږ به هم سجده کوله [حَتّٰی مَا یَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهٖ مَوْضِعًا] او د ګڼړوالی (رش) په وجه به یو تن زمونږ د خپل تندی دپاره ځای نهٔ موندلو۔ (بخاری: ۱۰۷۶) مسلم: (۱۳۲۳)
په احادیثو کښې د الله تعالیٰ دپاره د سجدے کولو ډیر فضیلت راغلے دے۔ امام مسلمؒ د ثوبان رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه ما د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: ((الله دپاره ډیرے سجدے کوئ، که الله دپاره یوه سجده کوے نو الله به ستا یوه درجه پورته کوی او یوه ګناه به ختموی))۔
د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي، فَيَقُوْلُ: يَا وَيْلَهٗ أُمِرَ هٰذَا بِالسُّجُوْدِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُوْدِ فَعَصَيْتُ فَلِيَ النَّارُ] (صحیح مسلم: رقم: ۸۱ باب اطلاق اسم الکفر علی من ترك الصلاة)
کله چه بنیادم د سجدے آیت ولولی او سجده وکړی، شیطان جدا شی ژاړی، او وائی چه هائے افسوس (هلاکت) دے ما لره، بنیادم ته د سجدے حکم وشو نو دهٔ سجده وکړه نو دهٔ دپاره جنت دے، او ما ته د سجدے حکم وشو خو ما نافرمانی وکړه نو زما دپاره اُور دے)۔
رسول الله ﷺ مونږ ته د ابلیس افسوس رانقل کړو نو په سجدئے سره د شیطان افسوسونه زیاتیږی، او بله دا چه ددے یوے سجدے په وجه جنت ملاویږی، کله چه په اخلاص سره وشی۔

په قرآن کریم کښې پنځلس سجدے دي بناء په راجح قول سره. او دا ټولے کول پکار دي، د علماؤ پکښې اختلاف دے چه واجبي دي یا مستحبي؟ خو سمدستي پرے عمل کول پکار دي، او ددے سجدے دپاره د مانځه احکام هم نشته. اودس هم ورله واجب نهٔ دے لکه امام بخاريؒ په خپل صحیح کښې د احادیثو نه ثابته کړیده چه رسول الله ﷺ سره مسلمانان او مشرکانو په شریکه د سورة النجم سجده کړے وه.

امتیازات او خصوصیات د سورة الاعراف

١- ډیرے نرمے لهجے والا سورت دے.

٢- په مختلفو طریقو سره اتباع د مَا اُنْزِلَ ته دعوت وو.

٣- پدے کښې طواف عُرْیَانًا (په بربنډه) باندے او په حج کښې ښه خوراکونو نهٔ کولو باندے رد وو.

٤- د قیامت تفصیل په ناشنا طرز چه د اصحاب الاعراف آوازونه او د جنتیانو او جهنمیانو یو بل ته آوازونه پکښې ذکر شو.

٥- د قرآن کریم د مخاطبینو مثال ئے په بلد طیب او بلد خبیث سره ورکړے وو.

٦- پدے کښې شپږ قصے د انبیاؤ علیهم السلام وے.

٧- سُنَّةُ اللّٰهِ فِي الْاَنْبِيَاءِ وَفِيْ اُمَمِهِمْ. د الله عادت په باره د انبیاء علیهم السلام او د هغوی د امتونو کښې ذکر شو.

٨- د الله مکر په کښې بیان شویدے.

٩- میثاق الفطرة (میثاق د عالَم الارواح) پکښې ذکر دے.

١٠- د یو خاص مُلا د ګمراهۍ واقعه.

١١- د غفلت د زائله کیدو اسباب او علاجونه پکښې ذکر دي.

١٢- د داعي آداب په کښې په ناشنا انداز ذکر دي.

ختم شو تفسیر د سورة الاعراف بحمد الله وحسن توفیقه، وسبحانك اللهم وبحمدك لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك.

المرقوم: ساعت: بعد العصر تاریخ: اُوم شوال، ١٤٣٥ هجري.

الموافق ٣/٨/٢٠١٤ء اتوار ورځ.

وکتبه: ابوزهیر سیف الله في اسریت - کالام سوات.

آياتها (۷۵)	(۸) سورة الانفال مدنية (۸۸)	ركوعاتها (۱۰)

سورة الانفال مدني دے، پدے کښې پنځه اویا آیتونه او لس رکوع دی۔

نوم : ددے سورت نوم (الانفال) د سورت د اولنی آیت نه اخستے شویدے۔ د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه دے ته سورة البدر هم وائی۔

د نزول زمانه: ټول سورت مدنی دے، امام بخاریؒ او نورو محدثینو د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه د غزوۀ بدر په دوران کښې د بدر په مقام کښې نازل شویدے، پدے کښې پنځه اویا (۷۵) آیتونه دی۔

ربط او مناسبت :

۱-مخکنو سورتونو کښې د دعوت مسائل وو، کله یهودو ته او کله نصاراؤ او کله نور فِرقو ته، نو اُوس د جهاد احکام راوړی، چه پدے دواړو باندے دین ته ترقی ملاویږی۔ یعنی جهاد به د اعلاء کلمة الله دپاره کولے شی۔

۲- مخکښې اتباع د ما اُنزل بیان شو اُوس قتال هغه چا سره بیانیږی چه اتباع د ما اُنزل نهٔ کوی او د خپلے مرضئ مطابق ژوند تیروی لکه کفار۔

۳- جزوی مناسبت دا هم دے چه مخکښې د قرآن د استماع خبره وشوه نو اُوس وائی چه قرآن ته غوږ کیږدئ ځکه چه دا سبب د زیادت د ایمان دے (زَادَتْهُمْ اِيمَانًا)۔

موضوع د سورت

پدے سورت کښې درے اندازه دی، یو د جهاد او دویم ایمانی انداز، او دریم د حِکمو (حکمتونو) او اسرارو انداز دے۔ خو اکثر دا سورت په جهادی انداز وئیلے کیږی نو بیا پدے وخت کښې ئے دوه موضوع ګانی دی :

(۱) اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ۔ چه غنیمت به د الله او د رسول د حُکم مطابق تقسیمیږی او د هغے علتونه او وجوهات بیانوی۔ یعنی تاسو په غنیمتونو جګړے مهٔ کوئ بلکه الله او رسول ته ئے وسپارئ چه هغوی پکښې څنګه فیصله کول غواړی هغے ته تسلیم شئ۔ او

دا لویه مسئله ده چه پدے کښ جګړے واقع کیږی، نو د مجاهدینو قوت کمزورے کیږی۔
(۲) اَلْقِتَالُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اِلٰی اِنْتِهَاءِ الشِّرْكِ ۔ ﴿وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰی لَاتَكُوْنَ فِتْنَةٌ﴾ یعنی د شرك د ختمیدو پورے د الله په لاره کښ قتال کول۔ او ددے دپاره دیارلس قوانین بیانیږی۔ او ورسره به د اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْل دپاره علتونه بیانیږی۔ نو کوم قتال چه د اصولو او قوانینو نه په غیر وی د هغے فائده به ختمیږی او بیا به ترے فساد جوړیږی۔
او ایمانی موضوع پکښ (۱) بَیَانُ اَنْوَاعِ الْمُؤْمِنِیْنَ وَبَیَانُ صِفَاتِهِمْ وَفَوَائِدِ الْاِیْمَانِ وَالتَّقْوٰی۔ د مؤمنانو اقسام او د هغوی صفات او د ایمان او د تقوی فوائد۔ او اسرار او رازونه به په هر آیت کښ راځی۔ بسم الله الرحمن الرحیم

یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ قُلِ الْاَنْفَالُ
تپوس کوی دوی ستا نه په باره د مال غنیمت کښ، ووایه (اختیار د) غنیمتونو
لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ج فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَیْنِكُمْ ص
الله او رسول لره دے، نو ویریږئ د الله نه او اتفاق راولئ په مینځ خپل کښ
وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۱﴾
او تابعداری کوئ د الله او د رسول د هغهٔ که یئ تاسو مؤمنان۔

تفسیر : دا آیت د جنګ بدر نه روستو نازل شوے وو، چه دلته الله تعالی د هغے بعض تصویر هم بیان کړیدے (چه تفصیل ئے زمونږ په کتاب سیرتِ رسول کښ کتلے شئ)
دے باندے ښه طریقے سره پو هیدو دپاره د غزوهٔ بدر حالات معلومول ضروری دی۔
نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ باندے چه کله د قریشو کافرانو ژوند تنګ کړے وو نو الله تعالی دوی ته د هجرت حکم وکړو۔ او مسلمانانو په سختو مشکلو حالاتو کښ د مکے د کافرانو د یرے نه خپل هرڅه پریخودل او مدینے طرف ته ئے هجرت وکړو او د مکے کافرانو د مهاجرینو په مال او دولت قبضه وکړه۔
کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت وکړو نو الله تعالی جهاد مشروع کړو، نو رسول الله ﷺ د بدر نه مخکښ اته (۸) غزوات وکړل خو په هغے کښ خاص جنګونه ونشو، بیا غټه معرکه د بدر وشوه چه د مشرکانو قافله د جمادی الثانیه نه مخکښ شام ته د تجارت

دپاره تلے وه او په رمضان کښې راواپس کیدله او ابوسفیان نے مشری کوله چه په هغے کښې د بو لاکهه درهمو نه زیات سامانونه جمع وو. او دا د هجرت دویم کال وو.

نبی کریم ﷺ صحابه کرامؓ راجمع کړل او وے وئیل چه مونږ له د دوی پسے تلل پکار دی او پدے تعاقب سره مقصد د قریشو کافرانو ته په ذهنی توګه نقصان رسول او هغوی ته دا خودل وو چه مسلمانان اُوس د کفر او شرك د بیخکندی دپاره تیار شویدی. ددے سره دا مقصد هم وو چه لکه څنګه چه د قریشو کافرانو د مسلمانانو په مال او دولت او جائیداد باندے د هجرت په وخت قبضه کړے اُوس وخت راغلے دے چه مونږ د هغوی مال د خپل مال په عوض کښې واخلو. نو رسول الله ﷺ درے سوه دیارلس صحابه کرامؓ ځان سره واخستل او د دریاب په غاړه غاړه بدر طرف ته روان شو کوم چه مکے ته تلے لاره وه.

رسول الله ﷺ ټول ملګری ځان سره وانخستل او نۀ ئے ټولو ته دعوت ورکړو (ځکه چه د قافلے وهل پدے کسانو کافی کیدل) ابوسفیان د جاسوسئ په ذریعه خبر شو چه رسول الله ﷺ او د هغه ملګری لارے ته راوتلی دی نو هغه لاره بدله کړه، د بدر شا ته لاره ئے اختیار کړه، او ابوسفیان فوراً ضمضم بن عمرو مکے ته ولیږلو دے دپاره چه مکے والو ته ددے خبر ورکړی. مکے والو فوراً تقریباً زرکسان لښکر راواخستو او د قافلے د حفاظت او د مسلمانانو د مقابلے دپاره روان شو او د بدر مقام ته راورسیدو. او الله تعالیٰ بغیر د مخکنی میعاد (وخت مقرر) نه مسلمانان اوکافران د یو بل سره مقابله کښې ودرول دے دپاره چه د حق او باطل فیصله وشی او مسلمانانو ته الله تعالیٰ د دوی په اولنی جانی دشمنانو غلبه ورکړی.

رسول الله ﷺ وریسے مدینے نه ووتلو او د غرونو مینځ مینځ کښې ئے ددے قافلے معلومات کولو. ابوسفیان پوهه شو نو په جلتئ سره ئے د مکے مشرکانو ته خبر ولیږلو چه مالونه مو هلاك کیږی، د خپلے قافلے غم وکړئ. ابوسفیان خپله قافله بنی طرف ته د دریاب په غاړه وویستله او مکے ته ئے ورسوله.

او په مکه کښې پدے موقعه یوے زنانه (عاتکه بنت عبد المطلب) خوب هم لیدلے وو چه د مکے نه خلك ووتل او ټول هلاك شول. ابوجهل ددے خوب نه خبر شوے وو نو هغه په غصه وو چه د بنو هاشمو سړی هم پیغمبران دی او زنانه هم. عباسؓ ته په غصه شوے وو. ابوجهل مکے والو ته اعلان وکړو چه تیار شئ نو زر کسان تیار شو، اُمیه پکښې ځان روستو روستو کولو لیکن هغه ته ئے پیغورونه ورکړل او په زوره ئے ځان سره راروان کړو.

او ځان سره ئے زنانه هم راواخستے چه دا به ګډه وو او عربو ته به ښايو چه زمونږ نه دښمن په مدينه کښې هم نشي خلاصيدے، په ډير تکبر کښې راووتل لکه قرآن کريم روستو د هغے نه تعبير په (بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ) سره کړيدے. دوی به هره ورځ نهه او لس اوښان ذبح کول تردے چه د بدر خوا ته راورسيدل او دلته رسول الله ﷺ ته ددے دشمن معلومات وشو (په ذريعه د عبد الله بن اُرَيقِط سره) نو ملګرو سره ئے مشوره وکړه چه څه کوو؟ بعض ملګرو مشوره ورکړه چه مونږ نه ملګری په مدينه کښې پاتی دی، او مونږ ځان سره وسله هم پوره نۀ ده راوړے، تولے اته يا لس تورے وے، مګر بعض ځوانانو مشوره ورکړه چه مونږ به خامخا جنګ کوو، او سيدنا مقداد بن الاسود رضی الله عنه پاڅيدو او دائے وفرمايل: اے د الله رسوله! مونږ داسے نۀ وايو لکه څنګه چه بنی اسرائيلو موسیٰ عليه السلام ته وئيلی وو چه تۀ او ستا رب دِے لاړ شی، جنګ وکړئ مونږ به دلته ناست يو. بلکه مونږ وايو: تۀ لاړ شه او ستا رب دِے تا سره وی او مونږ هم تاسو سره يو، او که تۀ مونږ بَرك الغِمَاد علاقے پورے بوځے نو مونږ به ستا مخے او شا ته او ښی او ګس طرفته جنګ کوو.

بيا رسول الله ﷺ انصارو ته اشاره وکړه چه تاسو څه وايئ؟ نو هغوی کښې سعد بن معاذ رضی الله عنه هم پاڅيدو او دائے ووئيل: چه مونږ په تا ايمان راوړے او ستا د خبرو تصديق مو کړے نو مونږ بالکل تابعدار يو. ستا چه کوم طرفته تلل خوښ وی لاړ شه، قسم په هغه الله چه ته ئے په حق راليږلے ئے! که تۀ مونږ په درياب ورداخلوے مونږ به درسره داخلېږو. زمونږ نه به يو تن هم نۀ پاتی کيږی. او مونږ به دا هيڅکله بده ونۀ ګڼړو چه ته مونږ صبا له د دشمنانو سره وجنګوے، يقيناً مونږ په جنګونو کښې صبرناك يو او د دشمنانو په مقابله کښې رشتيني يو، او اميد دے چه الله به تا ته زمونږ د طرفنه هغه څه وښائی چه ستا سترګے به پرے يخی شی، نو مونږ د الله په برکت سره روان کړه.

نو رسول الله ﷺ د سعد رضی الله عنه پدے خبره ډير خوشحاله او تازه شو او روان شو. پدے کښې چه کله بدر ته نزدے شو، نو دوی په يو شړلن ځای کښې پړاؤ واچولو (دے ځای کښې د شړو غرونه دی چه انسان پکښې خوئيږی او چه کله پرے باران وشی نو بيا مضبوط شی)

پدے کښې د بعض مسلمانانو په زړونو کښې شيطان وسوسه واچوله چه مونږ په حقه يو او بيا هم داسے غلط ځای ورسيدو او د کافرانو مضبوط ځای رسيدلے دے، او پدے کښې په بعض ملګرو جنابت هم راغلے وو، نو پريشانی ئے زياته شوه نو الله تعالیٰ د شپے باران وکړو چه د دوی علاقه کلکه شوه، او د کفارو په علاقه کښې ختے جوړے شوے نو الله مؤمنان

مضبوط کړل، بیا جنګ شروع شو چه په هغې کښې د صحابه کرامؓ نه څوارلس کسان شهیدان شو، اول پکښې د سیدنا عمر فاروق ﷺ غلام شهید شو بیا په مشرکانو باندې الله تعالیٰ شکست وا چولو نو د هغوی نه اویا (۷۰) کسان مردار شو۔ زر ملائك الله تعالیٰ د مدد دپاره راولیږل، په دوی کښې لوی لوی صنادید (مشران) د قریشو ووهلې شو (چه د هغوی شمار (۲٤) وو) او کوم چه په کښې د قتل نه بچ شو نو هغوی کښې اویا (۷۰) کسان قیدیان شول او باقی مکې طرف ته په تختیدو کښې کامیاب شو۔

رسول الله ﷺ په عَرِیش (څپر) کښې ناست وو، تهوله شپه ئې دعاګانې کولې تردې چه ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل: اې د الله رسوله ! تا په رب باندې ډیره مبالغه وکړه الله تعالیٰ ستا دعا نۀ رد کوی۔ څه صحابه کرامؓ د رسول الله ﷺ څوکیدارئ ته ودریدل چه مشرکان پرې حمله ونکړی، معرکه شروع شوه، رسول الله ﷺ به ورله تربیت ورکولو او خپله هم میدان ته راحاضر شو، پدې کښې الله تعالیٰ ایمان والو له غلبه ورکړه، بیا مؤمنانو ته د مدینې نه زیری راروان وو، او مشرکانو باندې لوی مصیبت راغې چه مشران ئې هم ووژل شو او قیدیان هم ترې ونیول شو، او بیا ترې فدیه غوښتلې کیدله۔

او حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دوی باندې الله تعالیٰ دا غم هم راوستو چه دوی فیصله وکړه چه ژاړو به نۀ ځکه چه بیا را باندې مسلمانان خوشحالیږی او انسان چه ژړاو نکړی او غمژن وی نو زړه ئې مریٔ ته راځی ځکه چه په ژړا سره زړه سپکیږی۔

پدې کښې بعض مسلمانانو ووئیل چه راځئ چه د ابوسفیان قافله هم راونیسو نو سیدنا عباسؓ ورته وفرمایل چه دا تاسو نشئ رانیولې ځکه چه تاسو سره د (اِحۡدَی الطَّآئِفَتَیۡنِ) یعنی د یو ډلې وعده شویده۔

د اسلام دا اولنې جنګ په (۱۷/ رمضان المبارك د جمعې په ورځ شوې وو۔

د غنیمت مسئله

دې ټولو مقتولینو او قیدیانو او تختیدونکو قریشو کافرانو د خپل ځانونو نه روستو ډیرې وسلې او نور د غنیمت مالونه پریخودل۔

څه مسلمانانو دا راجمع کړل او څه مسلمانان د دشمنانو پسې روان وو، او څه فدایانو د نبی کریم ﷺ نه ګیر چاپیره پهره ورکوله دې دپاره چه دشمنان په دۀ حمله ونکړی۔ د شپې په وخت کله چه دا ټول راجمع شو نو د دوی د غنیمتونو په باره کښې خپل مینځ کښې

خبرے شروع شوے، او هرے ډلے د غنیمت د مالونو په سلسله کښې د خپل خپل محنت او کوشش مطابق خپل خپل حق ثابتول شروع کړل (دا په عالَم کښې انتهائی اُوچت مؤمنان دی مګر د مال سره محبت ساتل بده خبره نهٔ ده خو چه حکم شرعی پرے مات نشی)

نو کله چه د دوی اختلاف پیدا کیدو نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو او مسلمانانو ته ئے ووئیل چه د جنګ په میدان کښې د غنیمت کوم مالونه چه په لاس راغلی دی، دا د الله او د رسول دپاره دی، د رسول الله ﷺ د حکم مطابق به په دے کښې تصرف کوئ۔ په دوه طریقو سره ترغیب ورکوی یو دا چه دا مالونه الله راوستی دی نو د هغه د حکم مطابق تقسیم ئے پکار دے۔ دویم دا چه مؤمن له پکار دی چه اُوچت همت وساتی نهٔ دا چه په مالونو کښې جګړے وکړی، دا وړے خبرے دی، نو الله ورله همت د دنیا نه اړوی او اُوچتو صفاتو طرفته ئے متوجه کوی، لکه دا د قرآن کریم د دعوت طریقه ده چه کله د یو انسان ذهن معمولی شان دنیا ته طرفته مائل شی نو زرئے د ایمان صفاتو او آخرت طرفته متوجه کړی۔

خلاصه د سورت

اول ئے د غنیمت متعلق حکم بیان کړے، بیا ئے د مؤمنانو اُوچت صفات بیا ئے د بدر د غزا تصویر او تفصیل بیان کړیدے تر (١٤) آیت پورے، بیا ئے د قتال قوانین شروع کړیدی۔ په (١٤) آیت کښې قانون د فِرَار مِنَ الزَّحْف دے۔ بیا ئے په (١٩) آیت کښې د اطاعة الله والرسول قانون ذکر کړیدے، بیا بل قانون چه مستحبات به د واجباتو په وخت پریخودلے شی، بیا بل قانون (وَاتَّقُوا فِتْنَةً) چه د جهاد سره به امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم کیږی ورنه بیا به عمومی عذابونه راځی۔ بیا بل قانون دے چه د خیانت نه ځان وساتئ، بیا قانون د تقویٰ او د هغے فائدے۔ بیا دویمه موضوع د سورت ده (وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ) بیا بله موضوع د سورت ده چه د غنیمت تقسیم۔

بیا د غزوه بدر تصویر او شکل دے تر رکوع پورے، بیا د رکوع نه روستو نور قوانین بیانوی چه د دشمن په مقابله کښې ثبات او د الله د ذکر پابندی کول، او جګړے نهٔ کول، صبر کول، تکبر نهٔ کول، د صد عن سبیل الله په نیت به نهٔ وی، دا قوانین عدمی دی۔ بیا په بله رکوع کښې ئے منافقانو ته زجر او هغه کافرانو دپاره تخویف چه هغوی په بدر کښې مړهٔ شول او نورو ځایونو کښې مرداریږی، بیا مسئله د نقضِ العهد ده، بیا د جهاد دپاره د تیاریٔ حکم، بیا مسئله د صلحے ده، بیا ترغیب الی الجهاد بیا مسئله د اسارئ او په آخر د

سورت کښې ئې د مؤمنانو اقسام بیان کړیدی او مسئله د میراث پکښې ضمناً ذکر ده۔
تفسیر : **یَسْئَلُوْنَكَ** : صحابه کرامؓ د رسول الله ﷺ نه ددې غنیمت د تقسیم په باره کښې تپوس وکړو نو دا آیت نازل شو۔
انفال : دې اموالو نه الله تعالیٰ په «نفل» سره تعبیر وکړو ځکه چه نفل اضافي او زیاتي شي ته وائي، ګویا که د مسلمانانو په ذهن کښې دا خبره کېنول مقصد دې چه د الله په لاره کښې د جهاد کولو اصل مقصد خو د الله رضا او د جنت حاصلول دي، هغه به ان شاء الله ملاویږي، او د غنیمت دا مالونه د آخرت د اجر نه زیاتي څیزونه دي۔ دویم دا چه دا د هغه څیزونو نه یو شے دے چه الله تعالیٰ د مخکنو امتونو دپاره حرام کړي وو، ګویا که دا ددې امت محمدیه دپاره د الله د احسان په طریقه یو زیاتي شے حلال کړے شویدے۔ پدے وجه مسلمانانو له ددې د حاصلولو دپاره خپل مینځ کښې اختلاف نۀ دے پکار، او د جاهلیت د عادتونو او اطوارو نه پورته د اعلیٰ اسلامي اخلاقو ثبوت ورکول پکار دي۔

د غنیمت او مال فيء فرق

بیا د انفال اطلاق په غنیمت او فيء دواړو باندے کیږي۔ د غنیمت او فيء فرق دا دے چه غنیمت هغے ته وائي چه د مجاهدینو په کوشش سره ملاؤ شوے وي، او فيء هغے ته وائي چه د امیر په صلح یا هغه ته په هدیه سره حاصل شي، یا ورته په طریقه د جزیه حاصل شي۔
د غنیمتونو په باره کښې دلته اجمال شویدے او ددې تفصیل روستو په آیت (۴۱) ﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ﴾ کښې بیان کړیدے، لهذا د غنیمتونو د مالونو پنځمه حصه د رسول الله ﷺ سره پاتے شوه چه په هغے کښې هغه د خپلې مرضۍ مطابق تصرف وکړو، د هغے نه ئې بعض صحابه کرامؓ ته د خپل طرف نه تشجیعي انعامات ورکړل او باقي څلور حصے ئې د مجاهدینو ترمینځ تقسیم کړلے۔
او د مال فيء حکم دا وو چه دا ټول د رسول الله ﷺ وو چه هغه پرے څه کول د هغه خوښه وه، او د هغه د وفات نه روستو دا د ټولو مسلمانانو ترمینځ مشترك دے، د چا چه حاجت زیات وي هغه له به ورکولے شي، لکه قاضیانو له به ورکولے شي، د مجاهدینو تنخواه به ددې نه ورکولے شي، دارنګه کونډو، او یتیمانانو له. نو د چا چه څومره ضرورت وي د هغے مطابق به د وخت حاکم ته درخواست لیکي او هغه به ئې ورکوي۔

ابن جریرؒ وائی : غوره دا ده چه په آیت کښ د «انفال» نـه مراد هغه مال دے چه رسول الله ﷺ بـعـض مـجـاهـدینو ته د هغوی د حصو نه زیاتی ورکړے وو. لکه چه نبی کریم ﷺ سعد بن ابی وقاص ؓ ته د سعید بن العاص توره ورکړے وه۔

لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ : ددے مـطـلـب دا نـهٔ دے چه دا د الله او د رسول دی تاسو له به پکښ هیڅ نهٔ درکوی، بلکه مطلب دا دے چه حکم به پدے کښ د الله او د رسول چلیږی۔

وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ : د مسـلـمـانـانو د دینی او اخلاقی تربیت دپاره د تقویٰ او خپل مینځ کښ د اُلفت او محبت او د الله او د رسول د اطاعت حکم وشو۔

په صحیح حدیث کښ دی [أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ ؟، قَالُوْا : بَلٰى، قَالَ : إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ]۔

(ابو داود : ٤٩٢١) والترمذی (٢٥٠٩)

آیا زهٔ تـاسـو تـه د روژے، د مـانـځـه او صـدقے نه اوچتے درجے والا عمل نهٔ ښایم ؟ صحابه کـرامـوؓ عـرض وکـړو، ولے نـهٔ، وے فـرمایل : خپل مینځ کښ جوړجاړے ساتل دی، او خپل مینځ کښ فساد (ورانے) دین خریونکے (ختمونکے) دے۔

پـدے کـښ دے تـه اشاره ده چه مؤمنانو له د جاهلیت د عاداتو او اطوارو نه په کلی توګه وړانـدے کیـدل پـکار دی، ځکه چه اسلام د مسلمانانو دپاره دینی او اخلاقی خکته والے نهٔ برداشت کوی۔

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ : مـطـلـب دا دے چه پدے درے خبرو باندے د عمل نه بغیر ایمان مکمل نـهٔ دے، او دا درے ځیـزونه د ایمان تقاضا ده، او د ایمان د لوازماتو نه دی۔ خاصکر د غنیمت پـه تـقـسیـم کـښ پـدے درے حـکـمونو باندے عمل کول نهایت ضروری دی، ځکه د مال په تـقـسیـم کـښ خپـل مـینـځ کـښ د فساد سخته خطره شته، پدے وجه ئے اصلاح ذات البین بـانـدے زور ورکـړو او پـه غـنـیـمـت کـښ د خیانت هم امکان شته پدے وجه ئے د تقویٰ حکم وکـړو او ددے سـره سـره بیا هـم کـه کـومـه کوتاهی کیږی نو د هغے حل د الله او د رسول په تابعداریٔ کښ پټ دے۔

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ
یقیناً مؤمنان هغه کسان دی چه کله یاد کړے شی الله تعالیٰ ویریږی زړونه د هغوی

وَاِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتُهٗ زَادَتۡهُمۡ اِيۡمَانًا
او کله چه لوستلے شي په دوی باندے آیتونه د هغهٔ نو زیاتوی دوی لره ایمان
وَّعَلٰی رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُوۡنَ ﴿۲﴾ الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ
او خاص په خپل رب باندے ځان سپاری دوی۔ هغه کسان دی چه پابندی کوی د مانځه
وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳﴾
او د هغه مال نه چه ورکړیدے مونږ دوی ته خرچ کوی۔ (په لار د الله کښې)
اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا ؕ لَهُمۡ دَرَجٰتٌ
دا کسان خاص دوی مؤمنان دی په رشتیا (یقیناً)، دوی دپاره درجے دی
عِنۡدَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٌ وَّرِزۡقٌ كَرِيۡمٌ ﴿۴﴾
په نیزد رب د دوی او بخنه ده او رزق دے عزتمند۔

تفسير: پدے آیت کښې اِنتِقَال مِنَ الدُّنیَا اِلٰی خِصَالِ الْاِیْمَان دے یعنی د دنیا نه د ایمان خصلتونو ته نقل کیدل دی او ایمان والو ته اُوچت همت ورکول دی۔

او پدے دوه آیتونو کښې الله تعالیٰ د مؤمنانو صفات بیان کړیدی: اولنے صفت دا دے چه کله دوی ته الله تعالیٰ رایاد کړے شی، نو د الله تعالیٰ د عظمت او هیبت په تصور سره په دوی رعب او یره راشی او د یرے په وجه د دوی ویښته ودریږی چه چرته داسے ونهٔ شی چه مونږ نه د الله تعالیٰ نافرمانی شوی وی او د هغه په نیوکه کښې راشو۔

د حسن بصریؒ نه چا تپوس وکړو چه ایا تهٔ مومن ئے؟ هغه ووئیل: که د سورة الانفال ددے آیت مؤمنان واخلے نو زهٔ نهٔ پوهیږم چه آیا زهٔ په دوی کښې داخل یم او که نهٔ؟ ځکه چه دا خو ډیر اوچت مؤمنان دی۔ او که چرته الله تعالیٰ او آخرت او رسول الله ﷺ او کتاب الله منل واخلے نو بیا مؤمن یم۔ مطلب دا دے چه یو د عقیدے والا ایمان دے، پدے معنیٰ باندے عام مسلمانان مؤمنان دی چه ټول ایمانیات منی، او دویم د ایمان کیفیت دے نو پدے اعتبار سره ډیر کسان پدے ایمان کښې نهٔ داخلیږی۔

اِنَّمَا الۡمُؤۡمِنُوۡنَ: پدے کښې حصر ذکر شویدے یعنی مؤمن به نهٔ وی مګر هغه څوك چه دا صفات لری۔ یعنی که دا مجموعه صفات پکښې وی نو اُوچت مؤمن دے او که بعض

پکښې وي نو بيا به نفس مؤمن وي.

د ايمان تعريف

او پدې آيت کښې د ايمان تعريف هم ذکر شويدے يعنې ايمان نوم دے د هغه کيفيتِ قلبي چه هغه د الله تعالی نه يريدل او د هغه يادول او د الله تعالیٰ په ذات توکل او اعتماد کول او هغه ته توجه کول په مانځه سره او د هغه په مخلوق باندے شفقت کول دي. دا ټول چه راغونډ کړے او ددے نه يو کيفيت جوړ شي نو دغے ته ايمان وائي. او ددے نه معلومه شوه چه ايمان کښې زيادت او کمے راځي لکه چه دا د محدثينو مسلك دے.

ذُكِرَ اللهُ : يعنې کله چه د الله تعالیٰ نوم واخستے شي، يا د الله تعالیٰ په باره کښې ورته څوك تذکره کوي، د هغه بړهائي بيانوي.

وَجِلَتْ : وجل په معنیٰ د يرے او رپيدو سره دے، د الله تعالی نه يره په دوه قسمه ده، يو د عوامو او بل د خواصو، د عوامو يره د عِقاب (عذابونو) نه ده، او د خواصو يره د الله تعالیٰ د هيبت او عظمت نه ده، چه د هغه جلال ډير لوي دے، او د هغه مخے ته ودريدل ډير سخت دي. نو د کاملو مؤمنانو په زړونو کښې دا يره وي چه د الله تعالیٰ هيبت ډير سخت دے، د هغه مخے ته به څنګه ودريږو.

سوال وجواب

سوال دا دے چه قرآن کښې دي ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ (الرعد : ٢٨) د الله تعالی په ذکر خو د زړونو اطمينان راځي، او دلته وائي چه يره پرے راځي؟ جواب دا دے چه يره په دوه قسمه ده، يو د مخلوق نه يره ده، او بل د خالق نه، د مخلوق نه يره اضطراب او پريشاني پيدا کوي، سوچ کوي چه بنده چرته لاړ شي، د خالق نه يره اطمينان پيدا کوي، په بنده کښې سکون وقار او جمال پيدا شي، او دا هسے پريشاني نۀ ده بلکه زړه مضبوطوي. نو د دواړو آيتونو ترمينځ -ولله الحمد- هيڅ منافات نشته.

تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ : د دوي دويم صفت دا دے چه کله د دوي مخے ته د قرآن کريم تلاوت کيږي، نو د دوي په ايمان او يقين کښې زيادت کيږي، او د دوي زړونو نه سکون او اطمينان حاصليږي.

دا آيت پدے باره کښې بالکل ښکاره دليل دے چه د مؤمن ايمان خکته، پورته کيږي. او

ددے زيادت سبب ئے قرآن دے۔ شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په خپل کتاب «الايمان» کښې د ابوعبيد القاسم بن سلامؒ په حواله د يو سل شپږ ديرشو (۱۳۶) علماؤ نومونه ذکر کړيدي چه د هغوی عقيده وه چه ايمان کښې کمے زياتے راتللے شي۔ امام بخاري رحمه الله وائي چه ما د زرو علماؤ نه د زياتو سره ملاقات وکړو د هغوی ټولو همدغه عقيده وه۔

د ائمه کرامو (مالك، شافعي او احمد) رحمهم الله همدغه عقيده وه۔ امام ابوحنيفه رحمه الله پدے مسئله کښې سهوه شويدے، د هغه دا خيال وو چه ايمان کښې کمے زياتے نۀ کيږي چه دا د ښکاره آيت خلاف دے۔ او دا ډير مره بې انصافي ده چه د امام ابوحنيفهؒ او اشاعره او ماتريديه ؤ دپاره بنده په آيت کښې تاويلونه شروع کړي چه د زيادت د ايمان نه ظهور د ايمان مراد کوي يعني ايمان به ئے ښکاره شي او رڼړا پکښې پيدا شي او مخے ته راشي۔

وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ : د دوی دريم صفت دا دے چه دوی په هر حال کښې صرف په خپل رب بهروسه لري او د غير الله نه هيڅ اميد نۀ لري، او نۀ يريږي او نۀ غير الله ته خپل معاملات سپاري۔ او دا د جهاد سره هم متعلق دے ځکه چه په جهاد کښې توکل ډير پکار راځي، که د مجاهد توکل نۀ وي نو هر ځای به يريږي چه دلته به مړ شم او هلته به مړ شم، او چه توکل ئے وي نو بيا به وائي چه دا د الله حکم دے چه هغه کومه ورځ باندے زما مرګ ليکلے وي زۀ ورته تسليم يم۔ او توکل ئے دے دپاره هم راوړو چه که يو مجاهد ته مال ملاؤ نشو نو په الله دِے ځان وسپاري او دا دِے نۀ وائي چه که دا مال راته ملاؤ نشو نو زۀ به څه خورم؟۔ او په الله تعالىٰ توکل د هغه چا جوړيږي چه د الله تعالىٰ سره ئے تعلق وی ځکه وريسے بل صفت د مانځه راوړي۔

اَلَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ : ددے مؤمنانو څلورم صفت دا دے چه دوی فرض مونځونه په اول وخت کښې د تمامو ارکانو او واجباتو د لحاظ سره ادا کوي۔

وَمِمَّا رَزَقْنٰـهُمْ يُنْفِقُوْنَ : او د دوی پنځم صفت دا دے چه دوی د الله تعالىٰ د ورکړي رزق نه د هغه په لاره کښې خرچ کوي۔ نو مؤمن به صرف راجمع کولو والا نۀ وي، بلکه لګولو والا به هم وي۔

هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا : يعني دا خلك رشتيني مؤمنان دي، د دوی په ايمان کښې هيڅ شك او شبهه نشته، دا د الله تعالىٰ د طرفنه دوی ته سرټيفيکيټ (سند) ملاؤ شو۔

لَهُمْ دَرَجٰتٌ : درجات يو په دنيا کښې وي، بل په آخرت کښې، دنيا کښې درجات دا دي چه عزت به ئے ډير شي، او په آخرت کښې د عزت ډيرېدو سره سره به الله تعالىٰ په جنت کښې

اُوچتے درجے ورکړی۔
وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ : یعنی دوی ته به په جنت کښې عزتمند رزقونه ملاویږی۔ رزق کریم د میلمنو رزق ته وائی، میلمه له بنده څنګه خوراك په تیاره راوړی، د هغے تصور ذهن ته راوله۔

كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ص وَاِنَّ فَرِيْقًا
لکه څنګه چه راویستلے ئے ته رب ستا د کور ستا نه د حق دپاره او یقیناً یوه ډله
مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ﴿٥﴾ يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا
د مؤمنانو خامخا خفه وو (طبعاً)۔ بحث ئے کولو تا سره په حق کښې پس د هغے نه
تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿٦﴾
چه ښکاره شوے وو ګویا که بوتللے شی دوی مرګ ته او دوی ورته ګوری۔

تفسیر : په مخکنو آیتونو کښې الله تعالیٰ دا خبره وکړه چه د غنیمت د تقسیمولو واك د الله تعالیٰ او رسول دپاره دے او د هغوی په حکم به تقسیمیږی، نو اُوس ددے علتونه بیانوی چه دا به څکه د رسول الله ﷺ په حکم تقسیمیږی چه الله تعالیٰ اے رسوله! ته جهاد ته ویستلے ئے، مدد درسره الله تعالیٰ کړیدے، دعا درله الله تعالیٰ قبوله کړیده او ملائك الله تعالیٰ رالیږلی دی، باران الله تعالیٰ کړیدے، کافران الله تعالیٰ ذلیله کړیدی نو بس مال به هم د هغه په حکم تقسیمیږی۔
دویمه طریقه : پدے آیتونو کښې د ایمان او د تقویٰ دپاره علتونه بیانوی چه د الله تعالیٰ نه ویریږئ او په الله تعالیٰ صحیح ایمان راوړئ، دغه الله ته وګورئ چه په بدر کښې څومره لږ کسان وئ، او مدد ئے درسره وکړو او غلبه ئے درکړه، او په موقعه باندے ئے درباندے باران نازل کړو، او ملائك ئے راولیږل، او کافرانو ته ئے ونډ سپارلئ، نو دا ټول ددے خبرے دلائل دی چه د الله تعالیٰ نه په هر ځای کښې ویریږئ او په هغه صحیح ایمان راوړئ، څکه دغه الله تعالیٰ نۀ بدلیږی، په هر ځای کښې به درسره مددونه کوی۔ نو پدے آیتونو کښې د الله تعالیٰ قدرتونه او د مؤمنانو سره د هغه مدد، او د هغه احسانات بیانیږی۔
او د آیتونو په اسرارو کښې هم دا خبره ده چه الله تعالیٰ ته د مؤمنانو جهادی او انقلابی

زندګی ډیره خوښه ده. الله فرمائی : ﴿ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ ﴾ (بلکه مونږ حق په باطل باندے ورولو) (انبیاء : ۱۸) ځکه ئے مؤمنان او کافر په جګړه اچولی دی، الله تعالیٰ ورته ګوری چه څوك د الله تعالیٰ دپاره غیرت کوی او څوك ئے نۀ کوی. او پدے آیتونو کښې دغسے اسرار نور هم شته.

شان نزول

حافظ ابن مردویهؒ د ابوایوب انصاری رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه کله صحابه کرامؓ د قریشو د قافلے د تعاقب (رالاندے کولو) دپاره یوه ورځ یا دوه ورځے لاړه ووهله نو نبی کریم ﷺ خلقو ته ووئیل چه کیدے شی چه ستاسو د قریشو کافرانو سره جنګ راشی نو صحابه کرامؓ ووئیل چه د دشمنانو سره د مقابلے طاقت په مونږ کښې نشته دے (ځکه چه مونږ د جنګ د تیاری کولو سره نۀ یو راوتلی) زمونږ اراده خو صرف د قافلے والو سره مقابله ده. نبی کریم ﷺ دوباره دا سوال وکړو، او صحابهؤ د مخکښې په شان جواب ورکړو نو مقداد بن عمرو رضی الله عنه ووئیل چه اے د الله رسوله ! مونږ تا ته داسے جواب نۀ درکوو لکه څنګه چه د موسیٰ علیه السلام قوم هغه ته جواب ورکړے وو. ابو ایوب انصاریؓ وائی چه کله انصارو د مقداد دا خبره واوریده نو د هغوی نه هر یو دا ارمان وکړو چه کاش مونږ دا خبره وئیلے وے. ددے پس منظر بیانولو دپاره الله تعالیٰ ددے سورت آیت (۵) ﴿ كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ ﴾ نازل کړو. او اصل د حدیث په بخاری کتاب المغازی کښې دے.

كَمَآ اَخْرَجَكَ : ۱- بحر محیط کښې ابوحیانؒ لیکی چه دا د (اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ) سره متعلق دے، یعنی لکه څنګه چه الله تعالیٰ تۀ د کور نه د قتال دپاره ویستلے نو پکار ده چه مال غنیمت هم د الله تعالیٰ او د هغه د رسول د حکم مطابق تقسیم شی.

۲- علامه بغویؒ د مبردؒ نه داسے مناسبت نقل کړیدے [اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ وَاِنْ كَرِهُوْا كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَاِنْ كَرِهُوْا] یعنی مالِ غنیمت به د الله او د رسول په حکم تقسیمیږی اګرکه بعض خلك ئے بد ګنړی لکه څنګه چه تۀ خپل رب د کور نه ویستلے په حق سره اګرکه بعض مؤمنانو هغه وتل بد ګنړل.

۳- عکرمهٔ وائی : تقدیر د عبارت داسے دے فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ فَاِنَّ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ، كَمَا أَنَّ إِخْرَاجَ مُحَمَّدٍ ﷺ مِنْ بَيْتِهِ بِالْحَقِّ خَيْرٌ لَّكُمْ، وَاِنْ كَرِهَهٗ فَرِيْقٌ مِنْكُمْ. (بغوی)

د الله تعالیٰ نه يره وكړئ او خپل مينځ كښې جوړ جاړے ساتئ ځكه دا كار ستاسو دپاره غوره دے لكه څنگه چه ويستل د محمد ﷺ د هغه د كور نه په حق سره ستاسو دپاره غوره وو اگركه ستاسو نه يو يے ډلے بد گنړلو۔

٤- د آيت بل مطلب دا بيان شويدے چه لكه څنگه چه تاسو د غنيمت د مالونو په تقسيم كښې اختلاف وكړو او د څه اخلاقي خكته والي مظاهره مو وكړه نو الله تعالىٰ هغه خپل رسول ته حواله كړل او هغه په عدل او انصاف سره تقسيم كړل، او آخر كښې پته ولگيده چه د مسلمانانو په همدے كښې مصلحت او فائده وه۔ دغه شان الله تعالىٰ خپل رسول لره د هغه د كور يعني مدينے نه د اسلام او د مسلمانانو د مصلحت دپاره راوويستلو چه په هغې صرف الله تعالىٰ خبر وو، حال دا چه د مسلمانانو په يو يے ډلے دا خبره ډيره گرانه تيره شوه چه دوى د قافلے د مقابلے دپاره راوتلي دى، او اُوس به هغوى ته د قريشو د لښكر سره د جنگ كولو خبره كيږى۔ نو جنگ وشو او الله تعالىٰ مسلمانانو ته فتح او نصرت او د غنيمت مالونه وركړل نو په آخر كښې ورته فائده ملاؤ شوه۔

(التحرير والتنوير)

٥- لنډ او بنه احتمال دا هم دے چه مبتداء حذف ده [اَىْ حَالُهُمْ فِىْ كَرَاهَةِ تَنْفِيْلِ (اَوْ تَقْسِيْمِ) الْغَنَائِمِ كَحَالِهِمْ فِىْ كَرَاهَةِ الْخُرُوْجِ لِلْحَرْبِ] يعني د دوى حال په تقسيم د غنيمتونو كښې داسے دے لكه حال د دوى په هغه وخت چه ته جنگ دپاره وتلے يعني اُوس تقسيم بد گنړى او هغه وخت كښې ئے وتل بد گنړل۔ (القاسمیؒ)

پدے كښې قرطبيؒ او ابوحيانؒ وغيره پنځلس توجيهات او ابن عادلؒ شل اقوال نقل كړيدى چه اكثر بعيد دى د آيت خوند خرابوى۔

لَكَارِهُوْنَ: سوال دا دے چه جهاد بد گنړل خو كفر دے نو دوى څنگه قتال بد گنړلو؟ جواب دا دے چه دا كراهت طبعي دے، ځكه چه د جهاد دپاره كله تيارى نۀ وى، او انسان ورته ذهني طور سره تيار نۀ وى، نو بيا ډير گران كار وى، او د دوى مقصد د جهاد نه انكار نۀ وو بلكه جهادونو دپاره خو د دوى ژوند وقف وو۔ او كومو مفسرينو لكه مدارك وغيره چه ليكلي دى چه ددے نه مراد منافقان دى، نو دا خبره كمزورے ده ځكه چه د بدر په غزا كښې منافقان نۀ دى شريك شوى۔

يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ : يعني دوى بحث كوى تا سره۔

فِي الْحَقِّ : د حق نه مراد دلته دكافرانو د قتال ميدان ته راوتل دى او دا قانون دے چه كله

کافران د قتال میدان ته راشي، نو پدې وخت کښې په مؤمنانو باندې قتال فرض شي، بیا به نهٔ روستو کیږي. دا د مؤمن د غیرت خلاف ده.

كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ : پدې کښې الله تعالیٰ د مسلمانانو همدا ذهني کیفیت بیان کړیدې او دا کیفیت د دوی د ایماني کمزورۍ په وجه نهٔ بلکه د هغوی د پریشانۍ او د جنګ دپاره د مادي تیاری نهٔ کیدو په وجه وو. حال دا چه د مشرکانو شمار یو زر ته نزدې وو او په پوره طریقې سره د جنګ تیاری کولو سره راغلي وو.

او پدې کښې ایمان والو ته تعلیم او تربیت ورکولې شي چه کله کافران ستاسو مقابلې ته راووتل نو بیا چه هر څه کیږي، تاسو به نهٔ روستو کیږئ او زړونه به نهٔ بهیلئ، او دارنګه قتال به مُرادف د مرګ نهٔ ګنړئ ځکه چه د مرګ دپاره خپل وخت مقرر دې او هغه د الله تعالیٰ په لاس کښې دې.

وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ
او کله چه وعده وکړه تاسو سره الله تعالیٰ د یو د دواړو ډلو نه چه دا به ستاسو وي
وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ
او خوښول تاسو چه بې وسلې ډله دې ستاسو دپاره شي او غوخته الله تعالیٰ
اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷﴾
چه ښکاره کړي حق لره په وعدو خپلو سره او پریکړي جرړې د کافرانو.
لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸﴾
دې دپاره چه غالب کړي حق لره او ختم کړي باطل لره اګرکه بد ګنړي مجرمان.

تفسیر : کله چه داسې سخته موقعه راشي نو الله تعالیٰ غیبي مددونه رالیږي لکه اول مدد دا وو چه رسول الله ﷺ خوب ولیدو چه الله تعالیٰ مونږ لره په یو د دوه ډلو باندې غلبه راکړیده، د ابوسفیان په قافله یا په نورو مشرکانو. دا خوب ئې صحابه کرامؓ ته ووئیلو نو هغوی هم خوشحاله شو، او د هغوی یقین راغې چه ضرور به مونږ ته الله تعالیٰ دغه ډله راکوي، لیکن د دوی ذهن دا وو چه دا به د ابوسفیان قافله وي ځکه چه هغه په آسانۍ سره وهلې کیږي، څلویښت کسان ورسره دي. لیکن الله تعالیٰ د بلې سختې ډلې اراده

کړے وه ځکه چه په هغے کښې فائده وه دے دپاره چه کافران ذليله شي او حق ښکاره شي۔
دويم مدد روستو ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ﴾ کښې راځي چه دعاگانے الله تعالیٰ د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو قبولے کړے، او دريم مدد د ملائکو راليږل وو، او څلورم مدد (إِذْ يُغَشِّيكُمُ) يعني خوب راوستل، او پنځم د آسمان نه باران راورول دي، او دے ته عِلَل د تقسيم د غنيمت هم وائي لکه مخکښې ئے تفصيل وشو۔
يَعِدُكُمُ اللهُ : اَىْ بِرُؤْيَا النَّبِيِّ ﷺ۔ الله تعالیٰ تاسو سره وعده وکړه په خوب د رسول الله ﷺ کښې چه دا خوب ئے په هغه وخت کښې وليدو چه کله د قريشو د راوتلو نه خبر شو لکه د امام بغويؒ د روايت نه معلوميږي۔
الشَّوْكَةِ : دا په اصل کښې حِدَت (تيزي) شِدَّتُ، (سختي) او قوت ته وائي او ازغي ته هم وائي، بيا ددے نه مراد هر قسم وسله وي۔ دلته دا ټولے معاني صحيح دي۔ يعني تاسو دا خوښوله وه چه غير قوي او تيزه او بے وسلو والا ډله ستاسو شي۔
اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ : اَىْ بِأَمْرِهٖ وَعِدَاتِهٖ (بغوی) د کلمات نه مراد حُکم او وعدے دي۔ يعني الله د مخکښې نه وعده کړے وه چه زۀ به خپل دين مضبوطوم، او د هغے طريقه دا وه چه د قريشو مشرانو مشرکانو سره مقابله وشي او هغه ختم شي۔
دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ : د قريشو مشرکان د نورو کافرو جرړے او اصول وو نو د دوی ختمول د اسلام د ترقئ دپاره ضروري وو۔ لکه د جهاد په اصولو کښې هم دا ده چه اصل کافر مخکښې ختم کړے شي نو ځانگے به روستو خپله ختميږي پدے وجه الله تعالیٰ قريش کافران مخکښې ختمول۔
لِيُحِقَّ الْحَقَّ : پدے آيت کريمه کښې الله تعالیٰ د قريشو د لښکر سره د جنگيدو حکمت او مصلحت بيان کړيدے چه الله تعالیٰ غوختل چه د باطل ملا ماته کړي او د حق دين خپه هميشه دپاره مضبوطه شي۔
او دا متعلق دے د (لِيَقْطَعَ) پورے يعني د کافرانو جرړے ولے وباسي؟ نو مقصد پکښې دادے چه الله تعالیٰ حق راښکاره کړي۔ وگوره څومره کمو خلکو ته الله تعالیٰ په ډيرو غلبه ورکوي، معلوميږي چه د دوی سره د الله تعالیٰ مدد دے او دوی په حق دين روان دي۔
وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ : اَىْ يُظْهِرَ بُطْلَانَ الْبَاطِلِ۔ يعني خلکو ته د باطل باطلوالے ښکاره کړي۔
بغويؒ معنیٰ کوي : لِيُثْبِتَ الْإِسْلَامَ وَيُفْنِيَ الْكُفْرَ ۔ دے دپاره چه الله تعالیٰ اسلام مضبوط کړي او کفر ختم کړي۔

وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ : د مجرمانو نه مراد یهودیان، منافقان او مشرکان وو چه دا ټول د مسلمانانو په وهلو خوشحالیدل.

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّىْ مُمِدُّكُمْ
کله چه فریاد کولو تاسو رب خپل ته نو قبول ئے کړه دعا ستاسو چه زهٔ امداد کوم تاسو سره
بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ﴿٩﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ
په زر(۱۰۰۰) تنه د ملائکو سره یو بل پسے راتلونکی۔ او نهٔ دے ګرځولے الله تعالیٰ دا.
اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ج
(ملائك راليږل) مګر زیرے او دے دپاره چه مضبوط شی پدے سره زړونه ستاسو
وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠﴾
او نهٔ دے مدد مګر د الله د طرف نه دے، یقیناً الله غالبه حکمتونو والا دے۔
اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ
کله چه پټ کړئ الله تعالیٰ تاسو په خوب سره دپاره د امن د طرفه د الله نه او نازل ئے کړو
عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ
په تاسو د آسمان نه اُوبه دے دپاره چه پاك كړی تاسو په هغے سره او بوځی ستاسو نه
رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ
پلیتی (وسوسه) د شیطان او دے دپاره چه مضبوطوالے راولی په زړونو ستاسو
وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿١١﴾
او کلك کړی پدے سره قدمونه ستاسو۔

تفسیر : امام مسلمؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه هغه ووئیل چه ما ته عمر بن خطاب ﷺ بیان کړیدے چه د غزوهٔ بدر په ورځ رسول الله ﷺ ولیدل چه د مشرکانو شمار یو زر دے او صحابهٔ صرف درے سوه لس او څه دپاسه دی۔ نو قبلے ته ئے مخ کړو او لاس ئے پورته کړو او دعائے شروع کړه چه اے الله ! تا چه ما سره کوم وعده کړے وه هغه نن ما سره

پوره کړه، (اَللّٰهُمَّ أَنْجِزْ لِيْ مَا وَعَدْتَنِيْ) اے الله ! ما سره چه دِے کومه وعده کړے وه هغه راکړه، [اَللّٰهُمَّ اِنْ تَهْلِكْ هٰذِهِ الْعِصَابَةُ مِنْ اَهْلِ الْاِسْلَامِ لَاتُعْبَدُ فِي الْاَرْضِ!] (مسلم: ٤٦٨٧)
اے الله ! که د مسلمانانو دا جماعت هلاك شي نو په زمکه کښې به ستا عبادت څوك کوی ؟ رسول الله ﷺ په خورو لاسونو سره همدغسے دعا کوله تردے چه د هغه څادر د هغه د اُوګو نه پریوتو نو ابوبکر رضی الله عنه د هغه څادر د هغه اُوګو ته بیرته راواپس کړو او وے وئیل چه اے د الله نبي! اُوس بس کړه، الله تعالیٰ به تا سره ضرور خپله وعده پوره کوی۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو انتهیٰ۔ ددے نه دا فائده معلومیږی چه په جهاد کښې به ظاهری سبب او دعاګانے دواړه استعمالولے شی۔

اشکال او جواب

سوال : آیا رسول الله ﷺ د ابوبکر رضی الله عنه نه هم زیات بے اطمینانه وو (عیاذًا بالله) حال دا چه په غار ثور کښې ابوبکر رضی الله عنه ډیر بے چینه وو او رسول الله ﷺ په اطمینان وو ؟ ددے په تطبیق کښې امام خطابیؒ وئیلی دی چه دا ګمان خطاء دے چه ابوبکر رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه په الله تعالیٰ باندے په اعتماد کښې زیات وو بلکه نبی کریم ﷺ دا کار پدے وجه وکړو چه په خپلو ملګرو ئے شفقت کولو او د هغوی د زړونو د مضبوطوالی دپاره ئے داسے وکړل ځکه چه دا اولنئ غزوه وه، نو رسول الله ﷺ پکښې ډیره عاجزی او دعا وکړه دے دپاره چه د ملګرو زړونه ئے په آرام شی ځکه چه هغوی ته معلومه وه چه د رسول الله ﷺ عاجزی او دعا الله تعالیٰ ته قبوله ده، پدے وجه کله چه ابوبکر رضی الله عنه ورته خبره وکړه نو بند شو۔ او هغه ته پته ولګیده چه دعا قبوله شوه ځکه چه د ابوبکر رضی الله عنه زړه ته اطمینان او قوت ملاؤ شو۔ پدے وجه ئے روستو دا آیت ولوستلو (سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ) (القمر:٤٥)۔
(زر دے چه دا ډله به شکست وخوری او شاګانے به راواړوی)
۲-جواب : ځینی وائی رسول الله ﷺ پدے وخت کښې د خوف په مقام کښې وو او دا د مانځه کامل حالت دے، او د نبی ﷺ په نیز دا ممکن وه چه د الله تعالیٰ د مدد وعده ډِے پدے ورځ نهٔ وی ځکه چه د مدد دغه وعده د دغه واقعے دپاره معینه نهٔ وه، بلکه هغه مجمله وه۔ او همدا خبره ظاهره ده۔ انتهیٰ ما فی فتح الباری)۔
صاحب المنارؒ وائی : د غار ثور مقام د توکل وو ځکه چه په هغے کښې رسول الله ﷺ ظاهری اسباب ښه پوره تیار کړی وو چه تو ښه او دوه سورلئ او بیا په غار کښې پټیدل وو

ددے نـه روستـو د تـوکـل او د الله تعالیٰ په مدد باندے د اعتماد نه سویٔ بل هیڅ پاتی نهٔ وو ځکه چه رسول الله ﷺ د وجه د کمال توکل نه په امن او اطمینان کښې وو او الله تعالیٰ پرے سکـون نـازل کړے وو، او د ملائکو په ذریعه ئے مضبوط کړو، او ابوبکر ﷺ خو دغه درجے تـه نهٔ وو رسیدلے نو هغه په یره کښې وو او (د رسول الله ﷺ په نیولو) غمژن وو، نو د رسول الله ﷺ تسلـیٔ تـه محتاج وو۔ او هرچه د بدر ورځ وه نو هلته د خوف مقام وو نهٔ د خالص تـوکـل مـقـام ځـکـه چه شرعی توکل دا دے چه بنده خپل رب ته ځان وسپاری او د هغه په کـامـل اهـتـمـام او انـتـظـام اعـتـمـاد وکړی، او دا تـوکـل به هله صحیح وی چه کله ظاهری اسباب تیار کړے شی، او دا خبره یقینی معلومه وه چه په جنګ کښې د مدد او غلبے اسباب د مسلمانانو سره په دغه وخت کښې پوره نهٔ وو، نهٔ مادی اسباب لکه نفری، وسلے، خوراك، اسونـه او اوښان۔ بلـکه ددے نه صرف کمزوری یو څو څیزونه وو او نهٔ معنوی اسباب وو ځکه چه په اول کښې بعض مسلمانانو جنګ طبعی طور سره بد ګڼړلو او د رسول الله ﷺ سره ئے پدے کښې خبرے وکړے، پدے وجه رسول الله ﷺ ویریدو چه هسے نهٔ زما ملګرو ته د دوی په قتـل سره هلاکت ونهٔ رسی ځکه چه ظاهری اسباب هم کمزوری او معنوی هم دغه شان، نو رسول الله ﷺ دعا وکړه چه الله تعالیٰ دوی لره د بعضو په تقصیر باندے راګیر نهٔ کړی لکه څنګه ئے چه په غزوه احد کښې د بعض ملګرو په تقصیر سره سزا ورکړه۔ لکه دا د الله تعالیٰ سنت دی۔ او ابوبکر صدیق ﷺ ته دا ټول حالات نهٔ وو معلوم کوم چه رسول الله ﷺ تـه مـعـلـوم وو نـو پـدے وجه هغه مطمئن وو۔ انتهیٰ قول صاحب المنار۔ (تفسیر المنار۹/۵۰۳)

اَنِّیۡ مُمِدُّکُمۡ : او مسـلـمـانانو ته زیرے ورکړے شو چه د رسول الله ﷺ دعا قبوله شوه او الله تـعالیٰ به په یو زر ملائکو سره د مسلمانانو مدد کوی، او دا زیرے د مسلمانانو د زړونو د اطمینان دپاره وو ورنه الله تعالیٰ خو بغیر د کوم ظاهری اسبابو نه د خپلو بندګانو په مدد پوره طریقے سره قادر دے۔

امـام بخاری رحمه الله د ابن عباس ﷺ نـه روایت کـړیدے چه نبی کریم ﷺ د بدر په ورځ وفرمایل : [هٰذَا جِبۡرِیۡلُ آخِذٌ بِرَأۡسِ فَرَسِهٖ، عَلَیۡهِ اَدَاةُ الۡحَرۡبِ] دا جبریل دے، چه د خپل اَس سر ئے نیولے دے، او د جنګ وسله ئے اغوستے ده۔(بخاری باب شهود الملائکة بدرا رقم : ۳۹۹۵)

مُرۡدِفِیۡنَ : یـو بـل پسے روستو راتلونکی۔ پدے طریقه رالیږلو کښې فائده دا وی چه پدے سره د مجاهدینو زړه وخت په وخت مضبوطیږی، چه وخت په وخت مددونه راروان دی او

نفری زیاتیږی، او چه په یو ځل راشی د هغے وقعت کم وی۔

وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ : یعنی الله تعالیٰ دا ټول کافران د یو ملائك په ذریعه هم هلاکولے شی لیکن زر کسان ئے پدے وجه راولیږل چه د مؤمنانو زړونو ته سکون ملاؤ شی، د هغوی ګنړه وینی او الله تعالیٰ دغه ملائك کافرانو ته وربنکاره کړل دے دپاره چه رعب پرے راشی۔

وَمَا النَّصْرُ : یعنی ملائك که مدد هم کوی نو هغه به د الله تعالیٰ په مدد وی ځکه چه هغوی ته هم الله تعالیٰ مدد ورکوی۔ یا د نصر نه مراد فتح ده یعنی اګرکه ظاهری مدد ملائکو وکړو لیکن فتح او غلبه ورکول دا صرف د الله تعالیٰ په اختیار کښ وی۔ او ددے قیدونو تفصیلی فوائد سورة آل عمران کښ تیر شویدی۔

يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ : یعنی الله تعالیٰ تاسو پټ کړئ په خوب کښ، یا ئے راوستو په تاسو باندے خوب لره۔

ځینی وائی چه دا ئے د جنګ نه په مخکښ شپه کښ راوستو چه پدے سره ئے زړونو ته سکون ملاؤ شو۔ ځکه چه د خوف د وجه نه بنده له خوب نهٔ ورځی نو بیا ئے د ورځے صحت خراب وی نو الله تعالیٰ ورته ښه په سکون کښ کړل۔ (القاسمیؒ)

او ځینی وائی چه دا د جنګ په میدان کښ راغلے وو۔

اَمَنَةً : دا هغه امن دے چه اسباب د خوف باقی وی او زړهٔ مطمئن وی۔ لکه تفصیل ئے په سورة آلعمران کښ ذکر شویدے۔

سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : په قتال کښ خوب راتلل د الله تعالیٰ د طرفنه امن وی او په مانځه کښ د شیطان وسوسه وی۔ (معالم التنزیل)

لِّيُطَهِّرَكُمْ : مسلمانانو کښ ځینی بی اودسه، او ځینی په جنابت حالت کښ وو او تنده هم وه، نو شیطان پدے وخت کښ وسوسے واچولے چه تاسو کښ نبی هم موجود دے او تاسو ځان ته په حقه وایئ، او اوس نه داسے په بد حالت کښ یئ نو تاسو به څنګه په هغوی غلبه وکړئ؟ نو الله تعالیٰ باران راولیږلو چه مؤمنانو په هغے غسل او اودسونه وکړل او اوبنان ئے خړوبه کړل او لوښی ئے ډك کړل او دوړه ئے ختمه کړه او زمکه ئے ورته کلکه کړه چه قدمونه پرے نه خوئیدل او د شیطان وسوسه ترے لاړه او نفسونه ئے خوشحاله شو۔

(معالم التنزیل للبغویؒ)

رِجْزَ الشَّيْطٰنِ : رجز اصل کښ پلیتیٔ ته وائی دلته ترے جنابت او وسوسه مراد ده۔

اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ
کله چه وحی کوله رب ستا ملائکو ته چه بیشکه زهٔ ستاسو سره یم
فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا
نو مضبوط کړئ تاسو ایمان والا، زر دے چه واچوم په زړونو د کافرانو کښې
الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾
رعب (یرے) لره نو ووهئ دپاسه د څټونو او ووهئ ددوی نه هر بند د ګوتو۔
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ج
دا کار په سبب ددے دے چه دوی خلاف کړیدے د الله او د رسول د هغه نه
وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾
او څوك چه خلاف کوی د الله او د رسول د هغهٔ نو یقیناً الله سخت عذاب والا دے۔
ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾
دا عذاب ستاسو (دے) پس وڅکئ دا او یقیناً کافرانو لره عذاب د اُور دے۔

تفسیر: پدے کښې د ملائکو د راتللو طریقه بیانوی۔ او پدے آیت کریمه کښې الله تعالیٰ یو پټ انعام طرف ته اشاره کړیده، دے دپاره چه مسلمانان پدے باندے د خپل رب شکر ادا کړی۔ هغه دا چه الله تعالیٰ ملائکو ته ووئیل چه زهٔ د مسلمانانو سره یم، پدے وجه تاسو د هغوی په ثابت قدم ساتلو کوشش کښې لګیا شئ، د هغوی د زړونو نه وسوسے وباسئ، د هغوی سره ملګری شئ او د کافرانو سره وجنګیږئ، نزدے ده چه زهٔ به د کافرانو په زړونو کښې رعب واچوم۔ او دوی په هر هغه اندام ووهئ چه د دوی د مرګ سبب جوړ شی۔ علماؤ لیکلی دی چه دا آیت ښکاره دلیل دے چه ملائکو د بدر په میدان کښې اُوګه په اُوګه جنګ کړے وو۔

اِنِّيْ مَعَكُمْ : ظاهر د قرآن دا دے چه د مَعَكُمْ نه مراد ملائك دی خکه ملائك هم د الله تعالیٰ مدد ته محتاج دی، او بعض وائی چه دلته (قُوْلُوْا لِلْمُؤْمِنِيْنَ) پټ دے یعنی مؤمنانو ته ووایئ چه زهٔ ستاسو مددګار یم۔

فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : ۱- د مؤمنانو د مضبوطولو یوه طریقه دا ده چه د هغوی سره اوګه په اوګه جنګ وکړئ،

۲- او دویمه طریقه دا ده [بِالْأَقْوَالِ الْمُقَوِّيَةِ لِلْقَلْبِ] داسے خبرے وکړئ چه د مؤمنانو زړونه پرے قوی شی چه هغه دے کافرانو شکست وخوړو او دغه دے ونیولے شو۔

سَاُلْقِيْ : دا کلام الله تعالیٰ ملائکو ته وکړو او مؤمنانو ته ئے په قرآن کښ نازل کړو چه ما ستاسو داسے طریقے سره مدد کړیدے۔

فَاضْرِبُوْا : دا خطاب ملائکو او مؤمنانو دواړو ته دے ځکه چه دواړه اُوس یوه ډله جوړه شویده۔

فَوْقَ الْاَعْنَاقِ : فوق په معنیٰ د (علی) دے. یعنی په څټ باندے ځکه چه کله په څټ ووهل شی، نو بنده ختم شی۔ یا فوق په خپله معنیٰ دے، نو د څټ دپاسه ئے ووهئ یعنی په سر باندے، چه ژوندی درنه پاتے نشی۔

كُلَّ بَنَانٍ : په بندونو باندے ئے ځکه وهل پکار دی چه پدے باندے توره راونهٔ نیسی۔

ذٰلِكَ : اشاره ده رعب او ضرب ته۔ نو د رعب دوه سببونه دی یو په سورة العمران (۱۵۱) آیت کښ تیر شویدے ﴿بِمَا أَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطَانًا﴾ (یعنی پدے وجه چه دوی د الله سره شریکان جوړ کړیدی) او دویم سبب د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ مخالفت دے کوم چه پدے آیت کښ ذکر دے او دغسے په سورة الحشر (٤) آیت کښ هم راغلی دی۔

ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ : دا خطاب مشرکانو ته دے او ذلك اشاره ده عذاب ته یعنی الله تعالی د قریشو کافرانو ته په دنیا کښ دا عذاب پدے وجه ورکړو چه دوی د الله تعالیٰ او د هغه د رسول خلاف بغاوت وکړو او په آخرت کښ به جهنم د دوی ځای وی۔

وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ : ددے نه مخکښ "واعلموا" (پوهه شئ) پټ دے۔ دا د کفر نحو ستونه دی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
اے ایمان والو! کله چه ملاؤ شوئ د هغه کسانو سره چه کافران دی
زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ
په وخت د جنګ کولو کښ نو مهٔ راړوئ دوی ته شاګانے خپلے۔ او چا چه واړوله دوی ته

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا
په دغه ورځ شا خپله مګر که چل جوړونکے وي د جنګ دپاره يا يو ځاى كيدونكے وي
اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰهُ
خپلے ډلے سره نو يقيناً اخته شو په غضب د طرفه د الله تعالىٰ نه او ځاى د پناهئ دده
جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶﴾
جهنم دے، او بد دے ځاى د ورګرځيدو (دا جهنم)۔

تفسير : پدے آيت كښ اول قانون د قتال د متعلقاتو نه هغه قانون د زَحْف يا اَلْفِرَار مِنَ الزَّحْف دے، يعنى د ميدان جنګ نه تښتيدل۔ دا د مسلمان دپاره حرامه ده چه د كافر نه راوتښتى او جنګ پريدى ځكه چه دا بى غيرتى ده چه كافر په ميدان كښ ولاړ وى او مؤمن ډِے ترے تښتى۔

ددے قانون تشريح داسے ده چه په ميدان جنګ كښ دوه كافران وى او يو مسلمان وى نو دے وخت كښ به مؤمن تيښته نۀ كوى كله چه د مؤمن سره هم وسله وى او كافر سره هم۔ او چه كله مؤمن يو وى او كافران د دوو نه زيات وى، يا د مؤمن سره هيڅ وسله نۀ وى، يا مؤمن سره توپك او مشين وى، او د كافر سره جهاز او ټينك وى نو دے وخت كښ مقابله نۀ كيږى، ځان به پرے نۀ وژنى بلكه دے به خپلو ملګرو (معسكر) ته راتښتى، او دا تيښته ناروا نۀ ده بلكه دے ته (مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ) وائى كوم چه الله تعالىٰ جائز كړيدے۔

دويم صورت : په حديث كښ ددے بيان راغلے دے چه فرار من الزحف (د ميدان جنګ نه تيښته) دا ده چه مجاهد د ميدان جنګ نه وتښتى، او لاړ شى كور كښ كينى او د كافرو د رعب په وجه جهاد پريدى، او كه په يوه معركه كښ مسلمان تيښته وكړى د ځان د بچاؤ دپاره او صبا بله ورځ بيا د كافرو د مقابلے دپاره ملګرى پيدا كوى او دوباره حمله كوى نو دا په هيڅ شان حرامه نۀ ده۔ دے ته په حديث كښ عكارون (دوباره حمله كونكى) وئيل شويدى نۀ فرارون (تښتيدونكى) [لَا، بَلْ اَنْتُمُ الْعَكَّارُوْنَ]

(ابو داود والترمذى وسنده ضعيف لاجل يزيد بن ابى زياد-البانى)

زحف په كناتو باندے خوئيدو او تُليدلو ته وئيلے شى، بيا استعماليږى د ګنړ والى دپاره ځكه چه ګنړه داسے روانه وى لكه چه په كناتو تُليږى۔ او د زحف نه مراد دلته دا هم دے

چه مسلمانان دولس زره وی او کافران یو لاکهـ وی نو مسلمانان هم ګنړ دی دوی به تیښته نهٔ کوی۔ حدیث کښې دی : [وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ] (الحديث)

(ابو داود : ۲٦۱۳ وابن ماجه :۲۸۲۷) ابن خزيمة : ۲۵۳۸) باسناد صحيح) ۔

دولس زره کسان به هیڅ کله د کموالی په وجه نهٔ مغلوبه کیږی۔

لیث ؒ وائی : زحف هغه جماعت ته وائی چه دشمن ته په یوځل وروخوځیږی۔ او جمع ئې زحوف راځی۔ یا دا مصدر دے پدے وجه نهٔ دے جمع شوے۔ (بغویؒ)

فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ : د شا راړولو یو صورت دا دے چه مسلمانان سره د ګنړ والی نه میدان پریدی، سره ددے نه چه وسائل ورسره پوره وی مګر د رعب په وجه داسے وکړی نو دا ناروا ده۔ البته که کافران ګنړ وی او مسلمانان کم وی، یا ورسره هغه شان د دفاع وسائل نهٔ وی نو تیښته جائز ده۔ دویم صورت دا دے چه بیخی جهاد پریدی لکه مخکښې بیان شو۔

د صحابه کرامو ؓ یو ے ډلے د تیختے دے حرمت لره د غزوهٔ بدر پورے خاص کړیدے۔ یعنی د بدریانو دپاره د میدان پریخودو سره د تیختے هیڅ شرعی ګنجائش نهٔ وو۔ لیکن د جمهورو علماؤ رائے دا ده چه دا حکم عام دے او د میدان جنګ پریخودو سره تیخته کول په هر حال او هره زمانه کښې حرام دی۔ ددے رائے تائید د صحیحینو د هغه روایت نه کیږی چه هغه ابو هریره ؓ روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل چه د اُوه کبیره ګناهونو نه بچ شئ، او د هغے نه یو د میدان جنګ پریخودو سره تیخته کول ئې هم خودلی۔ (وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ) (صحیح بخاری : ۲۷٦٦)

إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ : الله تعالیٰ ددے صرف راتلونکی صورتونه جائز کړیدی، یو دا چه سپاهی د بلے اهمے دستے او فوج مدد کول غواړی، یا د هغه نه مدد غواړی، یا دشمن ته دهوکه ورکولو دپاره داسے کوی، دے دپاره چه ناڅاپی راواپس شی او په هغه باندے حمله وکړی۔

مُتَحَرِّفًا : د حِرفت نه دے کاروکسب ته وائی۔ یعنی چل جوړونکے وی، څه کار کول غواړی چه په دشمن دوباره حمله وکړی۔

مُتَحَيِّزًا : تَحَيُّز نه مراد یوځای کیدل او ملاویدل دی خپلے ډلے سره چه هغه په بل ځای کښې ده، هغوی ته ځان رسوی چه هغوی ځان سره ملګری کوی او بیرته حملے دپاره تیاری کوی۔ سیدنا عبد الله بن عمر ؓ وائی چه مونږ په یو ځای کښې دشمن نه راوتښتیدو او په مدینه کښې پټ شو چه مونږ خو لوی جرم کړیدے، بیا مو ووئیل چه رسول الله ﷺ

ژوندي دي راځئ چه هغه ته ورشو، مونږ هغه ته ووئیل چه مونږ خو راتښتیدلی یو، رسول الله ﷺ وفرمایل: نهٔ (تاسو تښتیدونکي نهٔ يئ) بلکه تاسو دوباره حمله کونکی يئ، او زه ستاسو فئه يم. (وسنده ضعيف کما مر)

او په عراق کښ څه ملګرو شکست خوړلے وو نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل: چه ما ته به راغلي وے زهٔ د هر مسلمان فئه يم.

کابل ته د امریکایانو جهازونه او ټینکونه ورغلل نو بعض عربو تیښته ونکړه، چه چرته فرار من الزحف کښ واقع نشو او بعضو هوښیارتیا وکړه چه اول کښ خو یو طرفته شو، روستو ئے پرے حملے شروع کړے او همدا کار فقاهت في الدين وو.

فَلَمۡ تَقۡتُلُوۡهُمۡ وَلٰـكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمۡ ص
پس نهٔ دی وژلی تاسو دوی لره لیکن الله تعالیٰ وژلی دی دوی لره
وَمَا رَمَيۡتَ اِذۡ رَمَيۡتَ
او نهٔ دی رسولی تا کاڼی سترګو د کافرانو ته کله چه ویشتل تا د موټی نه
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ج
لیکن الله تعالیٰ ورسول سترګو د هغوی ته (او دا کار ئے وکړو)
وَلِيُبۡلِىَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ
دپاره ددے چه ورکړی مؤمنانو ته د خپل طرف نه انعام خائسته، یقیناً الله آوریدونکے
عَلِيۡمٌ ﴿۱۷﴾ ذٰلِكُمۡ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوۡهِنُ كَيۡدِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۸﴾
پوهه دے. دا کار داسے وشو او یقیناً الله کمزورے کونکے دے چل ول د کافرانو.

تفسیر: په دے آیت کښ الله تعالیٰ د خلکو ایمان په خپل ځان جوړوی چه داسے غیبی مددونه صرف زهٔ کوم. او ورسره دا دلیلونه دی ددے دپاره چه مال غنیمت به د الله تعالیٰ او د رسول په حکم تقسیمیږی. یعنی دا عقیده وساتئ چه دا کافران الله تعالیٰ وژلی دی ځکه چه په غزوهٔ بدر کښ د مسلمانانو شمار او سامانونه د کافرانو په مقابله کښ هیڅ نهٔ وو خو بیا هم الله تعالیٰ فتح ورکړه، د ملائکو په ذریعه ئے مدد وکړو، او د هغوی زړونه ئے مضبوط کړل، او کافران ئے ذلیله او رسوا کړل، او په زړونو کښ ئے ورله رعب واچولو.

وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ : نبي كريم ﷺ په بدر كښې د دعا كولو نه روستو د خيمے نه رابهر شو او ډك موټے خاوره ئے راواخسته او مشركانو طرف ته ئے ګوزار كړه، نو هغه الله تعالىٰ د دوی مخونو ته ورسوله، څکه چه يو موټے خاوره د يو لوئی لښكر سترګو ته د انسانی طاقت په ذريعه نشي رسيدلے، هغه د الله تعالىٰ ذات وو چه د هغه په قدرت سره داسے كار وشو.

محمد بن اسحاقؒ وغيره روايت كړيدے چه د بدر په ورځ نبي كريم ﷺ يو موټے خاوره راواخسته او مشركانو طرف ته ئے وويشتله او وے وئيل (شَاهَتِ الْوُجُوْهُ) چه بد ِ شي ددے كافرانو مخونه، نو د الله تعالىٰ په قدرت سره د كافرانو سترګو او پوزو ته ورسيده.

دے نه روستو نبي كريم ﷺ صحابه كرامو ته د حملے كولو حكم وكړو، نو د الله تعالىٰ په توفيق سره كافرانو ته ماتے وركړے شوه.

وَمَا رَمَيْتَ : يعني تا ونۀ رسولے شړے د كافرانو سترګو ته كله چه دِے د لاسونو نه ګوزار كړے ليكن الله تعالىٰ ورسولے. نو اول رميت ايصال الفعل دے، او دويم رميت ابتداء الفعل دے.

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى: ليكن الله تعالىٰ ستا د لاس په شړو سره كافران ويشتل. دلته وقف دے يعني (لِيُغْلَبُوْا) دا ددے دپاره چه دوی مرعوبه او مغلوبه شي.

وَلِيُبْلِيَ : دا عطف دے په پټ (لِيُغْلَبُوْا) باندے.

﴿وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَاۤءً حَسَنًا﴾ ١- يعني دے دپاره چه الله تعالىٰ احسان وكړی په ايمان والو باندے د خپل طرفنه ښائسته احسان. يعني چه كافران ووهی نو د مؤمنانو زړونه به پرے يخ شي.

٢- محمد بن اسحاقؒ د عروه بن الزبيرؓ نه ددے تفسير دا نقل كړيدے چه الله تعالىٰ په مؤمنانو چه كوم احسان كړے وو د هغے ښكاره كول ئے غوختل چه څنګه هغه د دشمنانو د ډيروالي او د مسلمانانو د كموالي سره سره مسلمانانو ته كاميابی وركړه، دے دپاره چه د مسلمانانو په زړونو كښې دا خبره په ښه شان سره كيني چه فتح او نصرت په ډيروالي د شمار سره نۀ ملاويږی بلكه الله تعالىٰ چه چا له غواړی غلبه وركوی. (ابن كثيرؒ)

ذٰلِكُمْ : پدے كښې الله تعالىٰ بشارت او تخويف وركوی، يعني كه تاسو دغه شان ثابت قدم وئ نو الله تعالىٰ به تاسو سره هميشه مددونه كوی او كافران به دغه شان ذليله كوی. (ابن كثيرؒ)

ذٰلِكُمْ : ددے خبر پټ دے اَیْ ذٰلِكُمْ ثَابِتٌ. يعني دا خبره ثابته او حقه ده چه تاسو سره ئے

مدد وکړو او کافران ئې ووهل۔

د کافرانو سره همیشه دا وعده ده چه د دوی چلونه او مکرونه به الله تعالیٰ وخت په وخت شنډوی او دوی به ذلیله کوی۔ او دغه شان الله تعالیٰ وکړل چه محمد رسول الله ﷺ ته ئې په جزیرة العرب باندې او د هغه ملګروته ئې په عجمو هم غلبه ورکړه۔ پدې وجه دا آیت د نبی کریم ﷺ دپاره د یوې معجزې حیثیت لري۔

اِنۡ تَسۡتَفۡتِحُوۡا فَقَدۡ جَآءَ كُمُ الۡفَتۡحُ ۚ وَاِنۡ تَنۡتَهُوۡا فَهُوَ
که فیصله غواړئ تاسو نو یقیناً راغله تاسو ته فیصله او که منع شوئ نو دا به
خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ وَاِنۡ تَعُوۡدُوۡا نَعُدۡ ۚ
ډیره غوره وی تاسو له او که راواپس شوئ (جنګ ته) راوبه ګرځو مونږ (مدد د مؤمنانو ته)
وَلَنۡ تُغۡنِىَ عَنۡكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَوۡ كَثُرَتۡ ۙ
او هیچرې دفع به نکړی تاسو نه ډله ستاسو هیڅ شے اګرکه ډیره وی
وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۹﴾
او (پوهه شئ) چه یقیناً الله تعالیٰ د مؤمنانو سره دے (په مدد کولو)۔

تفسیر: ظاهر دا دے چه دا خطاب کافرانو ته دے۔

شان نزول

امام احمدؒ، نسائیؒ او حاکمؒ وغیره د عبد الله بن ثعلبه ؓ نه روایت کړیدې چه ابو جهل د بدر په میدان کښې ووئیل چه اے الله! په مونږ کښې چه څوك رحِم (خپلولی) پریکونکے او داسې خبره راوړونکے وی چه خلق هغه نۀ پیژنی [فَأَحِنۡهُ الۡغَدَاةَ] نو هغه صبا ورځ هلاك کړه۔ نو الله تعالیٰ د هغه دعا واوریده، او هغه او د هغۀ فوج ئې هلاك کړو ځکه چه دۀ د رسول الله ﷺ او د مکے نورو مسلمانانو سره د صله رحمۍ تعلق نۀ وو کړے، او دۀ الله تعالیٰ پریخے وو او د بتانو عبادت ئې کړے وو کوم چه په ابراهیمی دین کښې یوه نوې خبره وه۔ پدې آیت کښې د ابو جهل همدې دعا ته الله تعالیٰ اشاره کړیده چه تاسو فیصله کُن دعا کړې وه نو واخلئ د الله تعالیٰ فیصله راغله۔ (دا خبره موجوده کافرانو ته آوروی)۔ (احمد:

۲۳۷۱۰ والحاكم: ۳۲٦٤ حديث صحيح)

او سُدیٰ وائی چه مشرکان کله د مکے نه جنګ ته راروانیدل نو د کعبے غلافونه ئے ونیول او د الله تعالیٰ نه ئے مدد غوښتلو چه اے الله! د دواړو لښکرونو نه اُوچت لښکر او د دواړو ډلو نه ډیر عزتمند او د دواړو قبیلو نه ډیرے غورے قبیلے سره مدد وکړه نو الله تعالیٰ ورته دلته جواب ورکړو اِنۡ تَسۡتَفۡتِحُوۡا الخ۔ (المنار)

فَقَدۡ جَآءَ كُمُ الۡفَتۡحُ : یعنی که تاسو فتح غوښتے وه نو د کافرانو دپاره همدغه فتح وی چه هلاکیږی به، دا تهکمی او د زورنے الفاظ دی۔ یا فتح په معنیٰ د فیصلے او حکم د الله سره دے۔

وَاِنۡ تَنۡتَهُوۡا : دا منع کیدل د قتال او د کفر دواړو نه مراد دی، که صرف د قتال نه منع شوئ نو هم به په دنیا کښ د مسلمانانو د لاسونو نه بچ شئ، او که د کفر نه منع شوئ نو هم ستاسو پکښ خیر دے۔

وَاِنۡ تَعُوۡدُوۡا : اَیۡ اِلٰی قِتَالِ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ۔ نَعُدۡ اِلٰی نَصۡرِهِمۡ۔ یعنی که تاسو د مسلمانانو سره د جنګ دپاره راوګرځیدئ نو مونږ به د هغوی مدد ته راوګرځو۔

وَّلَوۡ كَثُرَتۡ : یعنی دا مهٔ واییٔ چه ډیر فوج به راولو په هغے سره به مسلمانانو ته شکست ورکړو او دین به ورله ختم کړو۔ نو ستاسو ډیروالے به په کار نهٔ راځی ځکه چه الله تعالیٰ د مؤمنانو سره دے۔

مَعَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ : نفس مُقاتلینو سره نهٔ بلکه چا کښ چه څومره د ایمان صفت زیات وی د الله تعالیٰ معیت (ملګرتیا) به ورسره زیاته وی۔

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِیۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ وَلَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ
اے ایمان والو! تابعداری وکړئ د الله او د رسول د هغهٔ او مهٔ اوړئ د هغهٔ نه
وَاَنۡتُمۡ تَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۰﴾ وَلَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِیۡنَ قَالُوۡا
او حال دا چه تاسو اَورئ (قرآن او سنت)۔ او مهٔ کیږئ په شان د هغه کسانو چه ویلی ئے وو
سَمِعۡنَا وَهُمۡ لَا یَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ
واوریدل مونږ او حال دا چه دوی نهٔ دی آوریدلی (په زړه سره)۔ یقیناً بد تر د زنده سرو نه

عِنۡدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الۡبُكۡمُ الَّذِيۡنَ لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۲۲﴾

په نیز د الله تعالیٰ کانړهٔ دی (د حق نه) چاړا ګان دی هغه کسان چه بے عقله دی۔

تفسیر: پدے آیتونو کښ قوانین هم دی او په منافقانو او مشرکانو باندے ردونه هم او مؤمنانو ته تنبیهات دی۔

وَلَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ: یعنی د رسول الله ﷺ نه مهٔ اوړئ او حال دا چه تاسو ددهٔ خبرے آورئ یعنی چه انسان خبره واوری نو پکار دا ده چه طاعت ئے وکړی، هسے آوریدل بغیر د طاعت کولو نه هیڅ فائده نهٔ لری۔ علم خو د عمل دپاره کولے شی، کله چه د عمل نه خالی شی نو بیا ئے څه فائده ؟۔

او دا آیت دلیل دے چه څوك د قرآن او سنت نه خبر شی او په هغے پوهه شی او بیا د هغے نه د یو چا او بل چا په خبره سره آوړی او د ائمه کرامو اجتهادونه رامخکښ کړی او ښکاره کتاب او سنت پریدی نو دا پدے وعید کښ داخل دے۔

وَلَا تَكُوۡنُوۡا: دلته منافقان او مشرکان مراد دی چه قرآن کریم خو به ئے آوریدو لیکن ګویا که نهٔ ئے وو آوریدلے، ځکه چه د زړهٔ نه ئے آوریدلے نهٔ وو، په هغے کښ به ئے سوچ او فکر نهٔ کولو، او د نفاق یا شرك نه توبه ویستلو دپاره ئے د هغے نه نصیحت نهٔ وو حاصل کړے او خبره ئے نهٔ وه قبوله کړے لکه منافقان د مخکښ نه وائی ﴿ وَيَقُوۡلُوۡنَ طَاعَةٌ﴾ (النساء :۸۱) زمونږ کار طاعت دے۔ لیکن کله چه وخت راشی بیا تښتی۔

قَالُوۡا سَمِعۡنَا: صاحب المنارؒ وائی چه دا هغه شخص ته هم شاملیږی چه آیتونه آوری او بیا وائی چه دا آیت د فلانو کافرانو یا منافقانو په باره کښ نازل دے، او ځان ته ئے نهٔ شاملوی اګرکه دهٔ کښ به هم دغه مرض وی کوم باندے چه په آیت کښ زورنه راغلی وی۔

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ: ددے کافرانو او منافقانو یو بد مثال بیان شویدے چه کوم خلك حقه خبره په توجه سره نهٔ آوری او په زړهٔ سره د هغے اقرار نکوی، هغوی په زمکه وسیدونکی بد ترین ځناور دی۔ ځکه چه کله دوی د عقل او فهم لرلو باوجود ایمان نهٔ راوړی نود هغه ځناورو نه بد ترین دی چه د هغوی د عقل د نعمت نه محروم ساتلے شویدی۔ لکه چه الله تعالیٰ په سورة الاعراف آیت (۱۷۹) کښ فرمایلی دی : ﴿ اُولٰٓئِكَ كَالۡاَنۡعَامِ بَلۡ هُمۡ اَضَلُّ ﴾ یعنی دوی د چارپیانو په شان دی بلکه د هغوی نه زیات ګمراه دی)۔

الدَّوَآبِّ : اول دا انسانان الله تعالیٰ په دوابو (حیواناتو) کښې داخل کړل او بیا ئے د هغوی نه زیات ناکاره کړل نو دا انسانان د مار لړم، خنزیر او سپی نه هم زیات بد ترین دی۔ یو طرفته انسان اشرف المخلوقات هم دے کله چه ایمان پکښې وی، لیکن بل طرفته د ټولو نه ناکاره دے کله چه ایمان پکښې نۀ وی۔

الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ : یعنی په غوږ باندے د حق خبره نۀ آوری، او په خوله باندے حق نۀ وائی، او په حق او توحید او د رسول الله ﷺ په تابعدارئ کښې سوچ نکوی۔ او همدغه حال د کافرانو او منافقانو دے۔

وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ۭ
او که معلوم وے الله تعالیٰ ته په دوی کښې خیر (طلب د حق) خامخا آورولے به ئے وے دوی ته
وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ
(یعنی پو هه کړی به ئے وے) او که وائے آوروی دوی ته (او پو هه ئے کړی)
لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۳﴾
نو خامخا دوی مخ اړوی او دوی همیشه مخ اړونکی دی۔

تفسیر : پدے کښې د کافرانو او منافقانو په افسوس ناك حال او ناکاره والی او بی خیرئ باندے زیاته رنړا اچولے شی۔ د آیت مطلب دا دے چه منافقانو کښې دوه مرضونه دی چه د هغے په وجه په مخالفتونو کښې واقع دی، او شر الدواب ترے جوړ شویدی، اول عَدَمُ السَّمَاع ۔ یعنی په خبره نۀ پو هیدل۔ (ته به د قرآن او حدیث خبرے بیانوے مگر هغه به پرے د سرۀ پو هیږی نۀ، او ذهن به ئے پرے نۀ کولاویږی) او که ته ئے یواځے ځان سره کینوے او په خبره باندے ئے په محسوسه طریقه پو هه کړے، نو بیا په دوی کښې بل مرض دے، یعنی تکبر او کبر، وائی چه زۀ دے خبرے ته څنګه تیار شم او دے ته څوك تیاریږی، او چا کښې چه تکبر وی هغه هم حق ته نۀ راځی او خبره نۀ منی۔ او پدے کښې اشاره ده چه د دوی محل (زړه) د حق قابل نۀ دے، نو ددے مثال د سختے زمکے په شان دے چه کله پرے باران وشی نو اول پرے ګیاه نۀ راخیژی او بیا پکښې لاندے کاڼړی دی که په سر باندے ئے ګیاه وشی نو لاندے کاڼړی ئے منع کوی، جرړے نشی کولے۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی : [لَافَهمَ لَهُمْ صَحِیحٌ وَلَا قَصدَ لَهُمْ اِلَی الْعَمَلِ الصَّالِحِ صَحِیحٌ] ددے خلکو اول صحیح پوهه نشته بیا ئے نیك عمل ته صحیح اراده نشته)۔

معنیٰ د آیت دا ده که الله تعالیٰ ته معلوم وے په دوی کښ خیر نو دوی ته به ئے خبره آوروله وے ای لَّاَفْهَمَهُمْ ۔ یعنی دوی به ئے په هغے باندے پوهه کړی وے، لیکن دوی کښ هیڅ خیر نشته، نو ځکه الله تعالیٰ دوی پوهه نکړل ځکه چه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه که دوی هغه پوهه هم کړی، بیا به هم اوړی د کبر او د عناد او د ضد د وجه نه ځکه چه د دوی کار اعراض او مخ اړول دی۔ (ابن کثیرؒ)

نو دلته الله تعالیٰ ایمان والو ته دعوت ورکوی چه تاسو د منافقانو په شان ناپوهی مهٔ اختیاروئ بلکه په خبره ځان پوهه کړئ، او دارنګه کله چه په خبره پوهه شوئ نو بیا تکبر او ضد مهٔ کوئ۔

ځینی علماء ددے نه داسے تعبیر کوی چه په دوی کښ هیڅ خیر نشته، که په دوی کښ خیر وے نو الله تعالیٰ به دوی ته د مواعظو او نصیحتونو د اوریدو موقع ورکولے، او چونکه په دوی کښ هیڅ خیر نشته پدے وجه که دوی ته د آوریدو موقعه هم ورکړے شوے وے نو د حق نه به ئے اعراض کولے او ایمان به ئے نهٔ راوړے۔ (تیسیر الرحمن والمنار)

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِیْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا
اے ایمان والو ! قبول والے وکړئ (د حکم) د الله او د رسول کله چه را اُوبلی تاسو هغه څه ته
یُحْیِیْكُمْ ج وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ یَحُوْلُ بَیْنَ الْمَرْءِ
چه ژوندی کوی تاسو او پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ پرده کیږی په مینځ د سړی
وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗۤ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾
او د زړهٔ د هغه کښ، او یقیناً خاص هغه ته به ورجمع کولے شئ تاسو۔

تفسیر : پدے کښ بل قانون دے د اِسْتِجَابَةُ اللّٰهِ وَالرَّسُوْل ۔ یعنی الله تعالیٰ ایمان والو ته حکم ورکړیدے چه کله رسول الله (ﷺ) تاسو یو شی ته رابلی چه ستاسو دپاره د ژوند سبب وی نو د دوی خبره ومنئ ظاهراً او باطناً او د رسول الله ﷺ اطاعت د الله تعالیٰ اطاعت دے۔

اسْتَجِيْبُوْا : استجابة : هِيَ الْإِجَابَةُ بِعِنَايَةٍ وَاسْتِعْدَادٍ۔ يعنى خبره قبلول په ډير اهتمام او تيارئ سره۔ او مطلب دا دے چه هركله تاسو ته معلومه شوه چه ما په تاسو باندے طاعت فرض كړيدے نو اُوس چه تاسو رسول الله ﷺ كوم كار يا خبرے ته رابلى نو هغه په ډير اهتمام او همت او عزيمت او قوت سره قبول كړئ نو دا داسے دے لكه ﴿ خُذُوْا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ﴾ (المنار)

انسان په څه سره ژوندے كيږى؟

(لِمَا يُحْيِيْكُمْ) كښ كوم شى ته اشاره ده چه مسلمانانو ته ژوند وركوى؟ علماؤ ددے ډير مصداقات بيان كړيدى : ١- چا ددے نه قرآن كريم مراد كړيدے، (قتادهؒ)
٢- او چا اسلام مراد كړيدے۔ (سدیؒ) ٣- او عروه بن الزبيرؒ ددے نه مراد جهاد فى سبيل الله اخستے دے۔ ځكه چه په جهاد سره الله تعالىٰ مسلمانانو ته د ذلت نه روستو عزت وركړو او د هغه دشمنانو نه ئے نجات وركړو چه هغوى په مكه كښ د دوى ژوند تنگ كړے وو۔ جهاد فى سبيل الله په هر دور كښ د مسلمانانو دپاره د ژوند په شان پاتے شويدے، او پاتے به وى۔ مسلمانانو چه كله هم ددے نه ځان راخكلے دے، نو ذلت او رسوائى د دوى په نصيب شويده۔ او كله هم چه دوى د جهاد په آواز لبيك وئيلے دے نو فتح او كاميابئ د دوى قدمونه ښكل كړيدى۔ جهاد هغه نيك عمل دے چه كه يو مسلمان شهيد كيږى نو هغه ته اَبدى ژوند ملاويږى لكه چه الله تعالىٰ فرمايلى دى : ﴿وَاِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ﴾ (عنكبوت : ٦٤) چه په حقيقت كښ د آخرت ژوند هميشه ژوند دے۔ معلومه شوه چه جهاد فى سبيل الله په دنياوى او اُخروى هر اعتبار سره د مسلمانانو دپاره د ژوند په شان دے۔ (قاسمیؒ)
٤- مگر ظاهر دا ده چه لفظ د (مَا) عام دے، هر هغه شے چه رسول الله ﷺ ورته دعوت وركړيدے نو په هغے سره د زړه ژوند ملاويږى، هغه درته وائى ذكر وكړه، جهاد ته لاړ شه، امر بالمعروف وكړه، پاينڅے اُوچتے كړه، رفع اليدين وكړه، نو پدے سره ستا زړه ژوندے كيږى۔ نو هر سنت د زړه د ژوندى كولو ذريعه ده۔
٥- او صاحب المنار وائى چه ددے نه مراد ژوند د علم بالله دے او د هغه د طريقو په خپل مخلوق كښ او د هغه د احكام شرعيه ؤ علم او حكمتونه او فضيلتونه او نيك اعمال چه په هغے باندے فطرتِ انسانى كمال ته رسى په دنيا كښ او هميشه ژوند دپاره تياريږى په

آخرت کي، انتهیٰ.

او د يو حديث په بناء ددے آيت نه قاعده جوړه شويده.

ابو سعيد بن الْمُعَلّٰی ﷺ په مانځه ولاړ وو، نبی ﷺ ورته وفرمايل: راشه، هغه مونځ تمام کړو بيا ورغے، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: [اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ: يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ] آيا تاسو ته الله تعالیٰ نۀ دی وئيلی چه اے ايمان والو! د الله او د رسول قبول والے وکړئ کله چه هغه تاسو هغه خبرے ته رابلی چه تاسو ژوندی کوی. (نو ما درته آواز وکړو تۀ ولے رانغلے؟). بيا ئے ورته اعظم السورة د قرآن (لوی شان والا سورت) وخودلو (يعنی سورة الفاتحه) لکه د سورة الفاتحے په فضائلو کښ مونږ دا حديث ذکر کړيدے. (صحيح بخاری: ٤٦٤٧ احمد وغيره)

نو ابو سعيدؓ په نفل مانځه ولاړ دے او دلته د رسول الله ﷺ امر وو چه راشه او دا امر د وجوب وو، نو دا راتلل واجب وو نو دا قانون شو چه کله د نفلو او فرضو يا ضروری او غير ضروری تعارض راشی نو پدے وخت کښ به غير ضروری يا نفل د فرضو په مقابله کښ پريخودلے شی. نو جمعه چه ودريده نور نفل او سنت وغيره مونځونه به پريدی.

د انسان او د هغۀ د زړۀ ترمينځ د الله تعالیٰ د حائل واقع کيدو څه معنیٰ ؟

يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ : الله تعالیٰ د انسان او د هغه د زړۀ ترمينځ حائل (پرده) کيږی ددے ډيرے معانی بيان شويدی:

١ – د عبد الله بن عباسؓ نه موقوفاً نقل دی چه الله تعالیٰ د انسان په زړۀ کښ څنګه چه غواړی تصرف کوی، که هدايت ورکول غواړی نو د هغه او د کفر ترمينځ حائل کيږی، او که ګمراه کول غواړی نو د هغه او د ايمان ترمينځ حائل کيږی. ددے وجه نه نبی کريم ﷺ به په ډير کثرت سره دعا کوله چه اے د زړونو اړونکيه! زما زړۀ په خپل دين قائم او ثابت وساته. صحابه کرامو تپوس وکړو، اے د الله رسوله! مونږ په تا او په دين اسلام ايمان راوړے نو آيا بيا هم ته زمونږ په باره کښ يريږے؟ نبی ﷺ وفرمايل، آؤ، د انسانانو زړونه د الله تعالیٰ د دوو ګوتو ترمينځ وی، هغه چه ئے څنګه غواړی اړوی راړوی. (مسند احمد رقم: ١٢١٢٨، والترمذی رقم: ٢١١٤، اسناده قوی علی شرط مسلم). (ابن كثيرؒ)

٢ – يا دا چه [يُمِيْتُهٗ وَيُقَلِّبُهٗ حَتّٰى لَايَدْرِیْ مَا يَصْنَعُ وَلَايَعْقِلُ شَيْئًا] (مجاهدؒ) يعنی الله تعالیٰ د

بنده زړه وژني او زړه ورله په بل طرف واړوي، ترڅو چه بیا نهٔ پو هیږي چه څه وکړي او هیڅ خبره ئے عقل ته نهٔ راځي۔ خوراك څکاك به پیژني او ژوند به تیروي لیکن پدے به نهٔ پو هیږي چه زهٔ څه له پیدا یم، زما د ژوند څه مقصد دے؟ او څه کول پکار دي او مونږ کوم طرفته روان یو؟۔

او پدے کښې اشاره ده چه څوك د رسول الله ﷺ خلاف کوي نو الله تعالیٰ ورله زړه بندوي۔

۳- دریمه معنیٰ دا ده چه پدے کښې د مرګ د راتللو نه مخکښې د طاعت او بندګئ ترغیب ورکړے شویدے۔ یعني الله تعالیٰ چه کله بنده ته مرګ ورکوي نو د نیك عمل دروازه ئے بندیږي، پدے وجه ژوند غنیمت وګنړئ او د الله او د رسول په اطاعت کښې اخلاص پیدا کړئ۔

٤- څلورمه معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته ډیر زیات نزدے دے۔ لکه څنګه چه الله تعالیٰ په سورة ق آیت (١٦) کښې فرمایلي دي: ﴿ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴾ (چه مونږ انسان ته د هغه د شا رګ نه هم زیات نزدے یو)۔

مطلب دا د چه الله تعالیٰ د زړونو په پټو خبرو هم پو هیږي، پدے وجه بنده له د خپل الله نه هیڅ کله غافل کیدل نهٔ دي پکار۔ (القاسمیؒ)

۵- د زړه او د بدن ترمینځ د پردے واقع کیدو بنه مطلب دا هم دے چه زړه د انسان بادشاه دے او بدن ئے رعیت دے، کله چه د زړه او د بدن ترمینځ پرده نهٔ وي نو زړه بدن ته متوجه وي، د هغه بنه تربیت کوي او وخت په وخت ئے د الله تعالیٰ طاعاتو ته او کوم شي کښې چه ددهٔ کامیابي ده، هدایت دے، نیك اعمال دي هغے ته ئے متوجه کوي او کله چه الله تعالیٰ د بنده او د هغه د زړه ترمینځ پرده واقع کړه نو بیا به د زړه سوچ خپل بدن ته نهٔ وي بلکه بل طرفته به وي نو رعیت به ئے هلاك شي، ایمان او نیك عمل او د آخرت دپاره به هیڅ کار ونکړي، ډیر ژوند به تیر شي او د ځان دپاره به ئے د یوے روپۍ په اندازه خیر نهٔ وي جمع کړے۔ او کله چه بنده ګناهونو کښې همیشه مشغول شي نو د هغے سزا دا ده چه الله تعالیٰ د انسان زړه ددهٔ نه بند کړي او د هدایت او د نیك عمل نه ئے واړوي۔ د (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ) په شان شي۔ (القاسمیؒ)

وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ
او ویریږئ (په جهاد کولو سره) د داسے عذاب نه چه نهٔ به رسي هغه کسانو ته

ظَلَمُوا مِنكُمْ خَآصَّةً ج وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

چه ظلم ئے کړیدے ستاسو نه یواځے او پو هه شئ چه بیشکه الله سخت عذاب والا دے۔

تفسير : دا آيت د امر بالمعروف او نهي عن المنكر په باره كښ نازل دے۔ الله تعالىٰ مؤمنانو ته حكم كوى چه تاسو خو د كافرو سره جهادونه كوئ ليكن په خپل اجتماعي ژوند كښ به په گناه خاموش او غلي نهٔ پاتے كيږئ۔ (چه ستاسو په معاشره كښ خلك بې حيائي، زناگانے، غلاگانے، فسادونه كوى، چرسونه او شرابونه څكي او خيانتونه كوى او په مؤمنانو باندے تهمتونه لگوى) نو كه مؤمنان ددے مخنيوے ونكړى نو ددے په وجه سره چه كوم عذاب راځي هغه به د نيك او بد ترمينځ فرق نكوى بلكه په ټولو به عمومي راځي۔ ددے آيت دغه شان تفسير سيدنا ابن عباس ﷺ كړيدے۔

(ابن كثيرؒ، قرطبيؒ والبغويؒ)

• په آيت كښ خطاب اگركه صحابه كرامؓ ته دے، ليكن ددے حكم د هرے زمانے دپاره عام دے۔ امام احمدؒ، او ابوداودؒ او ترمذيؒ وغيره د جرير ﷺ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِيْ، هُمْ أَكْثَرُ وَأَعَزُّ مِمَّنْ يَعْمَلُ بِهَا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُوْنَهُ إِلَّا يُوْشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ]

(ابو داود : ٤٣٣٩) وابن ماجه (٤٠٠٩) و احمد (٤/٣٦٤) (وصحيح الجامع (٥٧٤٩) بسند صحيح)

(كله چه د يو قوم بعض خلق گناهونه كېږى او د هغه قوم اكثر او معزز خلق هغوى نهٔ منع كوى نو الله تعالىٰ ټول قوم په عذاب كښ مبتلا كوى)۔

فِتْنَةً : فتنه دلته په معنىٰ د عذاب سره دے۔

خَآصَّةً : يعني يواځے به عذاب دغه مجرمانو ته نهٔ رسى بلكه نيكان مؤمنان به هم پكښ راگيريږى كله چه هغه گناه نهٔ منع كوى۔

پدے آيت كښ په گناه او منكر باندے راضي او د منكر كونكے دواړه په سزا كښ يو شان كړے شويدى۔

علامه قسطلانيؒ ليكي : په منكر باندے د راضي كيدو علامه دا ده چه د دغه گناه په وجه چه په دين كښ كوم خلل راځي نو په هغے باندے نهٔ دردمند كيدل او كله چه انسان پدے باندے دومره دردمند شي لكه چه د مال يا د بچو په هلاكيدو څومره دردمند او خفه وى نو بيا به دے په منكر باندے راضي نهٔ وى او كه دا حالت ئے نهٔ وى نو دهٔ ته به هم سزا او

مصیبت پدے اعتبار سره رسیږي. انتهی، (القاسمیؒ)

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ
او یاد کړئ کله چه تاسو کم وئ، کمزوري ګڼړلے شوي وئ په زمکه کښې یریدلئ تاسو
اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰكُمْ وَاَيَّدَكُمْ
چه وبه تختوي تاسو لره خلق نو ځای درکړو تاسو ته او مضبوط ئے کړئ تاسو
بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٦﴾
په مدد خپل سره او درئے کړل تاسو ته د پاکو څیزونو نه دے دپاره چه تاسو شکر وکړئ.

تفسیر : پدے مخکنو احکامو باندے د مؤمنانو د مضبوطولو دپاره الله تعالیٰ دوی ته خپل احسانات یادوي.

په مکه کښې چه کومو خلقو اسلام په اوله کښې قبول کړو هغوی د ډیرو امتحاناتو نه تیریدل، د هغوی شمار کم وو، یریدل چه چرته د اسلام دشمنان په یوحمله کښې دوی ختم نهٔ کړي، ټولو عربو به وخت په وخت اراده کوله چه حمله پرے کوو او ټول ختموو، اقتصادي لارے ئے پرے بندے کړے وے. نو الله تعالیٰ په آرام آرام سره د دوی شمار زیات کړو، دوی ته ئے په مدینه کښې پناه ورکړه. دوی ته ئے قوت ورکړو، او د بدر په میدان کښې ئے د ملائکو په ذریعه د دوی مدد وکړو، او د غنیمت مال ئے د دوی دپاره حلال کړو، او پدے سره ئے د دوی تنګدستي لرے کړه. په آیت کښې د صحابه کرامو دغه حالاتو طرف ته اشاره ده دے دپاره چه دوی ددے په یادولو سره د الله تعالیٰ احسان ومني او د هغے شکر ادا کړي په خوله هم او په عمل سره هم.

۲– قتاده بن دعامه سَدوسيؒ وئیلي دي چه دا خطاب ټولو عربو ته دے، د عربو خلق د ټولو نه ذلیل وو، د ټولو نه زیات وږي وو، د ټولو نه زیات بربنډ وو، او د ټولو نه زیات ګمراه وو. قسم په الله، په زمکه کښې د دوی نه زیات ناقص بل قوم نهٔ وو تردے پورے چه اسلام راغلو چه په هغے سره دوی ته الله تعالی په خپل وطن کښې قرارے ورکړو او د دوی روزي ئے فراخه کړه، او دوی ئے د خلقو بادشاهان کړل. اے د عربو خلقو ! دا هر څه تاسو ته د اسلام په وجه ملاؤ شو، پدے وجه تاسو د الله تعالیٰ شکر ادا کړئ، ځکه چه ستاسو رب مُنعِم دے او

شکر خوښوی او څوك چه شکر ادا کوی الله تعالىٰ هغه ته نور ورکوی، آه- (ابن کثیرؒ والقاسمیؒ) اول قول ظاهر دے۔

يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْٓا
اے ایمان والو! خیانت مهٔ کوئ د الله او د رسول سره او خیانت مهٔ کوئ
أَمٰنٰتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاعْلَمُوْٓا أَنَّمَآ أَمْوَالُكُمْ
په امانتونو خپلو کښې او تاسو پو هیږئ۔ او پو هه شئ چه بیشکه مالونه ستاسو
وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّأَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ أَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾
او اولاد ستاسو امتحان دے او یقیناً الله تعالىٰ د هغه سره اجر دے لوئی۔

تفسیر : دا بل قانون دے د ترك الخیانة۔(د خیانت پریخودو)، او خاصکر په جهادونو کښې خیانتونه زیات کیږی پدے وجه ئے دلته راوړیدے ورنه دا قانون عام دے۔

شان نزول

ددے آیت په شان نزول کښې یو څو اقوال دی : لیکن د سند په اعتبار سره زیات صحیح قول دا دے چه دا آیت د ابولبابه بن عبد المنذر ﷺ په باره کښې نازل شوے وو چه کله رسول الله ﷺ د بنو قریظه ؤ نه ګیره واچوله، او ورته ئے ووئیل چه راکوز شئ، نو هغوی ووئیل چه مونږ ته ابولبابه بن عبد المنذر راولیږئ چه د هغه سره مشوره وکړو (ځکه چه ابولبابه د دوی په خوا کښې وسیدو څو ډیر ښه مؤمن وو) نو دوی ووئیل چه مونږ به د سعد ﷺ په فیصله کوزیږو لیکن تا نه مشوره اخلو چه محمد رسول الله ﷺ او د هغه ملګری به مونږ سره څه کوی؟۔ نو هغه د خپل څټ په اشاره سره ووئیل چه هغوی به تاسو ذبح کوی۔ ابولبابهؓ وائی چه زما قدم لا خوزیدلے نهٔ وو چه ما ته پته ولګیده چه ما نه د الله او د رسول په حق کښې خیانت وشو۔ (ځکه چه دوی څو ما ویرول اُوس به نهٔ راکوزیږی او لاندے به ورته رسول الله ﷺ په تکلیف کښې ناست وی) (د مؤمن طریقه دا وی چه خبره زر رایادوی۔ إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوْا)

نو هغه سیده لاړو مسجد نبوی ته او ځان ئے د یوے ستنے پورے وتړلو چه هغے ته روستو اُسْطُوَانَةُ التوبه ووئیل شوه۔ (یعنی د توبے ستن) او دا ئے ووئیل چه تر هغه پورے به ځان

نهٔ کولاووم چه ما رسول الله ﷺ کولاو کړی یا الله تعالیٰ زما په باره کښې توبه نازله کړی، نهه ورځو پورې دغه شان وو (چه صرف مانځه او قضاء حاجت دپاره به ئې راکولاوولو) او کله چه الله تعالیٰ د هغه توبه قبوله کړه نو رسول الله ﷺ په خپل لاس سره هغه راکولاؤ کړو۔ دا عبد الرزاقؒ په مصنف کښې او سعید بن منصورؒ په خپل کتاب السنن کښې روایت کړیدے۔ (ابن کثیرؒ والقاسمیؒ)

دارنګه ځینې مؤمنانو چه به د رسول الله ﷺ نه یوه خبره واوریدله نو کله نا کله به ئې مشرکانو ته هغه بیان کړه چه په هغې کښې به ئې ضرر نهٔ لیدو، او بل طرفته به ئې د مشرکانو سره خپل اهل وعیال وو نو دے دپاره چه د هغوی حفاظت وکړے شي، نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه دا کار مهٔ کوئ دا خیانت دے۔ (البغویؒ والوجیز للواحدیؒ)

هر سبب چه وی خو آیت ورته عام دے۔

لَا تَخُونُوا اللّٰهَ : ((خیانت)) لفظ تمامو دروغو اوګناهونو ته شامل دے۔ په فرائضو کښې سُستی او چل ول کول، د الله د حدودو نه تجاوز کول، د رسول الله ﷺ د سنت نه انکار، او هغه پریخوستل د خواهش یا د مشرانو د وجه نه، یا د هغه امر ماتول د وجه د امر د امراؤ نه، او د مسلمانانو راز کافرانو ته وئیل، دا او ددے په شان نور ټول ګناهونه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول سره په خیانت کښې داخل دی۔ (القاسمیؒ والمنار) لنډه دا چه هر هغه کار او خبره چه د الله تعالیٰ دین او د رسول الله ﷺ طریقو ته پرے ضرر رسی په خیانت کښې داخلیږی۔

وَتَخُونُوا اَمٰنٰتِكُمْ : دا د (لَا) د لاندے دے۔ په امانتونو کښې خیانت دا دے چه یو سړے د غنیمت د مال نه یو شے غلا کړی، یا که یو مسلمان د خپل مال، د اهل او عیال او د خپلو رازونو دهٔ لره امانت دار جوړ کړے وی نو په هغې کښې خیانت وکړی، د هغه مال هړپ کړی، یا د هغه ښځې ته بد نظر وکړی، هغه په بد کارئ راتیزه کړی، یا د هغه رازونه خوارهٔ کړی او خلقو ته ئې بیان کړی۔ دارنګه د ښځې او خاوند ترمینځ رازونه ډیر تاکید والا دی، سیاسی او حربی امورو او مالی وغیره معاملاتو تردے چه اجتماعی او ادبی کارونو کښې به هم خیانت نشی کولے۔ (القاسمیؒ والمنار)

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ : پدے کښې الله تعالیٰ ایمان والا د دنیا د مال او د اولاد د فتنې نه یرولی دی، او آخرت ته ئې ترغیب ورکړیدے۔ علامه بغویؒ د بعضو علماؤ نه نقل کړیدی چه دا حکم ئې وریسے ځکه روستو راوړو چه د ابو لبابه ؓ مال او اولاد د یهودو په خوا کښې وو نو کیدے شي چه د هغوی حفاظت ئې ذهن کښې راغلے وی، نو ځکه ئې دغه خبره کړی

وی، آه۔

پدے وجه باندے چه کله الله تعالیٰ د هغه توبه نازله کړه نو هغه ووئیل چه قسم په الله که زۀ پدے مال او کور کښې ووسیږم چه ما نه د الله نافرمانی پکښې شویده۔ نو خپل مال ئے ټول د الله دپاره صدقه کړو مګر رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه دریمه حصه صدقه کړه۔

او اکثرو انسانانو نه د مال او اولادو په وجه نافرمانی کیږی، د کافر دپاره جاسوسی او ترجمانی کوی، دے دپاره چه یو څو ډالرے ورته ملاؤ شی، پدے وجه ئے دوی ته فتنه (ازمینښت) وئیلے دے، یعنی ددے په وجه په انسان باندے ازمینښت کیږی چه ددے په محبت کښې د امانت او اطاعت تقاضے پوره کوی او که نۀ؟ که هغه پوره کوی نو پو هه شه چه هغه پدے امتحان کښې کامیاب دے او که نۀ وی نو ناکام۔ او پدے صورت کښې به همدا مال او اولاد ددۀ دپاره د الله د عذاب سبب جوړیږی۔

يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ
اے ایمان والو! که ویریدئ د الله نه دربه کړی تاسو ته فتح (رڼړا په زړۀ کښې) او وبه رژوی
عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾
تاسو نه ګناهونو ستاسو او بخنه به وکړی تاسو ته او الله تعالیٰ خاوند د فضل لوئی دے۔

تفسیر: پدے آیتونو کښې الله تعالیٰ د تقویٰ قانون او د هغے فائدے بیان کړیدی څه وجودی او څه عدمی، وجودی دا دی چه الله تعالیٰ به فرقان درکړی، ګناهونه به مو معاف کړی۔ او روستو راځی (اِنْ اَوْلِيَاۤؤُهٗۤ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ) د مسجد حرام ولایت په تقویٰ پیدا کیږی۔

عدمی فائدے دا دی چه سړی کښې تقویٰ نۀ وی نو د پیغمبر د وژلو اراده لری۔

﴿وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ﴾ کښې راځی۔ او د قرآن منکر کیږی ﴿وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ﴾ او ځان ته ښیرے کوی ﴿وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ﴾ ۔او پدے آیتونو کښې د ایمان او د تقویٰ او د الانفال لله والرسول علتونه هم دی۔

اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ: یعنی که تاسو د مال او اولاد په وجه ګناهونه نۀ کوئ او په خپل ژوند کښې د الله د اوامرو اتباع کوئ او د هغه د نواهیو نه ځان ساتئ نو الله تعالیٰ به د خلقو په زړونو کښې ستاسو هیبت او عزت کینوی، او هیڅ شخص به ستاسو په اهل وعیال او مال او دولت او عزت او ناموس باندے د لاس اُوږدولو جرأت نۀ کوی۔

د فرقان مصداقات

۱- فراءؔ وائی : فرقان فتح او نصرت ته وائی لکه روستو (یوم الفرقان) لفظ راځی، هلته هم دا معنیٰ مراد ده۔ ۲- نُوْرٌ فِی الْقَلْبِ ۔ په زړه کښې یوه رڼرا ده چه هغې ته فِرَاست هم وائی۔

یو حدیث کښې دی : [وَاتَّقِ فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ یَنْظُرُ بِنُوْرِاللّٰهِ] د مؤمن د فراست نه یره کوه ځکه چه هغه د الله تعالیٰ په نور سره کتل کوی۔ (الترمذی : ۳۱۲۷ وفی سنده مقال)

۳- [اَلْعِلْمَ وَالْهُدٰی تُفَرِّقُوْنَ بِهَا بَیْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَالْهُدٰی وَالضَّلَالِ وَالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ وَاَهْلِ السَّعَادَةِ وَاَهْلِ الشَّقَاوَةِ] ۔ داسې هدایت به درکړی چه تاسو به په هغې سره د حق او د باطل او د هدایت او ګمراهۍ او د حلال او حرامو او د نیك بختو او بد بختو ترمینځ فرق کوئ۔ (السعدی ۳۱۹/۱ والسراج المنیر ۶٤٥/۱)

٤- بعض مفسرین وائی : [ظُهُوْرًا یَنْشُرُ اَمْرَكُمْ] یعنی الله تعالیٰ به تاسو ته نیك شهرت درکړی چه په هغې سره به ستاسو دعوت ټول عالَم کښې عام کړی۔ (القاسمیؒ)

٥- [اَلْعِصْمَةُ مِنَ الشُّبُهَاتِ] د شبهاتو نه بچاؤ به درکړی چه زړه کښې به مو وسوسې او شبهات نۀ راځی۔

٦- سُدیؔ او مجاهدؔ ددې معنیٰ په نجات او مَخرج سره کړیده۔ چه الله تعالیٰ به درته کامیابی درکړی، او د دنیا او د آخرت د مصیبتونو نه به نجات درکړی۔ لکه چه الله په سورة طلاق آیت (۲) کښې فرمایلی :﴿ وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ﴾ چه څوك د الله نه یریږی نو الله به د هغه دپاره لاره کولاوه کړی۔ (ابن کثیرؒ والتحریر)

سَیِّاٰتِكُمْ : دا واړه ګناهونه او (یَغْفِرُ لَكُمْ) کښې غټ ګناهونه مراد دی۔ یا دا چه (یُکَفِّرْ) کښې پټوالے د ګناهونو او مغفرت کښې هغه او د هغې اثر ختمول مراد دی۔ (السراج المنیر)

وَاِذْ یَمْكُرُ بِكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لِیُثْبِتُوْكَ
او کله چه چل جوړولو ستا په باره کښې هغه کسانو چه کافران دی دپاره چه وتړی تا
اَوْ یَقْتُلُوْكَ اَوْیُخْرِجُوْكَ ؕ وَ یَمْكُرُوْنَ وَیَمْكُرُاللّٰهُ ؕ
یا مړ کړی تا یا وباسی تا لره، او چلونه جوړوی دوی او تدبیر جوړوی الله تعالیٰ

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۳۰﴾

او الله تعالیٰ غوره دے د تدبیر جوړونکو نه۔

تفسیر: ددے آیت یو تعلق خو د تقویٰ سره دے، نو پدے کښې بیان دے د عدمی فائدے د تقویٰ یعنې چه چا کښې تقویٰ نۀ وی نو هغه به د نبی خلاف کوی او د هغه د وژلو کوشش به کوی۔ دویم دا د (لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ) سره تعلق لری چه د الله تعالیٰ شکر وکړئ چه ستاسو نبی الله تعالیٰ راخلاص کړو د کافرانو نه، او دا د اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ دپاره علت هم دے چه په رسول الله ﷺ بانديے الله تعالیٰ قرآن نازل کړو او د کافرو نه ئے راخلاص کړو، او بیا ئے قتال پرے وکړو نو پکار ده چه د هغه د حکم مطابق تاسو غنیمت تقسیم کړئ، او دا د ایمان سره هم لګی چه په هغه قوی الله سبحانه صحیح ایمان راوړئ چه د رسول الله ﷺ ئے په سخت وخت کښې مدد کړیدے، تاسو سره به هم دغه شان مدد وکړی، او وګورئ چه په رسول الله ﷺ کښې اعلیٰ درجه تقویٰ وه نو د ډیرو سختو حالاتو نه الله تعالیٰ راخلاص کړو۔ نو دا آیت ګویا که د فرقان تشریح شوه۔ او پدے آیت کښې د هجرت واقعه ذکر کیږی، دا خلکو ته هسے قصه ښکاری مګر قرآن کریم لرے لرے اشارات کوی۔

د هجرت واقعه

محمد بن اسحاقؒ، امام حاکمؒ او بیهقیؒ وغیره د قریشو کافرانو ددے سازش متعلق چه کوم روایتونه په خپلو کتابونو کښې نقل کړیدی د هغے خلاصه دا ده، چه کله د مدینے انصارو اسلام راوړو، او د اسلام رنړا هر طرفته خورۀ شوه، نو د قریشو کافرانو په زړونو کښې یرے راخورے شوے۔ نو ټول مشران د قریشو په «دار الندوة» کښې (چه د دوی پارلیمنټ وو) د نبی کریم ﷺ په باره کښې په آخری رائے د متفق کیدو دپاره راجمع شو۔ ابو البختری بن هشام ووئیل چه زما رایه دا ده چه د محمد (ﷺ) لاسونه او خپے وتړئ او په یو کور کښې ئے بند کړئ، صرف یو سورے وساتئ چه په هغے سره تاسو هغه ته خوراك څکاك ورکوئ، تردے پورے چه دۀ ته مرګ راشی۔ په آیت کښې «لِیُثْبِتُوْكَ» سره همدے ته اشاره ده۔ لیکن شیطان (چه د یو نجدی بوډا شکل ئے اختیار کړے وو) هغه ددے رائے صفت ونکړو۔ (او دا ئے ووئیل چه ددۀ ملګری او خپلوان به راشی او دے به درنه خلاص کړی) نو هشام بن عمرو ووئیل چه زما رائے دا ده چه تاسو محمد (ﷺ) لره د کلی نه

وشړئ، بیا به دا هیڅ نشی کولے۔ په آیت کښ «اَوْيُخْرِجُوْكَ» سره دے ته اشاره ده۔ نجدی بوډا پدے رائے باندے اعتراض وکړو، (چه بل ځای کښ به ځانله ملګری پیدا کړی او بیا به په تاسو حمله وکړی لکه همدا کار په همدوی وشو) نو ابوجهل (فکر کښ ناست وو آخر کښ ئے) ووئیل، زما رایه دا ده چه تاسو د هر خاندان نه یو ځوان راواخلئ او دوی به په شریکه په یو ځای په تورو سره حمله وکړی او دا به قتل کړی۔ بنی هاشم د ټولو قریشو سره جنګ نشی کولے او که دیت (سل اوښان) طلب کوی نو مونږ ټول به په شریکه دیت ورکړو۔ پدے طریقه به د محمد نه نجات موندۀ کړو۔ په آیت کښ «اَوْ يَقْتُلُوْكَ» سره دے ته اشاره ده۔ بوډا نجدی ددے رائے تائید وکړو۔ نو ټول د رسول الله ﷺ په قتل کولو متفق شو او ددے قتل دپاره ئے پنځلس کسان مقرر کړل۔

جبریل علیه السلام رسول الله ﷺ ته ددے سازش اطلاع ورکړه او وے وئیل چه نن شپه په خپله بستره مۀ څمله، او الله تعالیٰ تا ته د هجرت اجازه درکړه، نبی ﷺ علی رضی الله عنه ته په خپله بستره باندے د اُوده کیدو حکم وکړو او وے وئیل چه زما څادر واچوه، دوی تا ته هیڅ ضرر نشی درکولے۔ بیا نبی ﷺ یو موټے خاوره راواخسته او د کافرانو په سرونو اچولو سره او د سورۀ یٰسٓ لوستلو سره د هغه ځای نه ووتلو او دشمن نۀ شو لیدلے، او الله تعالیٰ د دوی دا سازش ناکام کړو۔ (په خاورو اچولو کښ دے ته اشاره وه چه ستاسو کوشش ناکام شو)

پدے موقعه ابوجهل په خپل تکبر کښ ووئیل چه محمد (ﷺ) به وئیل چه زما خبره ومنئ الله به داسے باغونه درکړی لکه د اُردن د باغونو په شان، او که زما نۀ منئ نو اُور به درله بل شی، او په هغے کښ به سوزئ او که تاسو زما خبره ونۀ منله، نو تاسو به ذبح کړم او حال دا چه اُوس دے خپله ختمیږی (مطلب ئے دا وو چه ددۀ خبره دروغژنه ده)

او پدے موقعه کښ رسول الله ﷺ سیده د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته ورغلو او د کور نه دواړه په کړکئ طرف باندے ووتل او سیده غار ثور ته ورسیدل چه هلته ئے درے شپے وکړے، دلته مشرکانو سیدنا علیؓ ته ووئیل چه محمد (ﷺ) څه شو؟ هغه ووئیل: ما ته پته نشته، هغه ئے ووهه، بیا ام هانئ ته ورغلل هغه ئے هم ووهله لیکن هغے هم انکار وکړو، بیا دوی د هغه د قتل دپاره سل اوښان انعام مقرر کړو مګر الله پدے ټولو صورتونو کښ د خپل رسول او د هغه د ملګری حفاظت وکړو۔ الی آخر القصه)

لِيُثْبِتُوْكَ: اثبات تړلو او جیل ته اچولو او بندولو ته وئیلے شی۔

وَ يَمْكُرُوْنَ: یعنی دوی د نبی د وژلو دپاره چلونه جوړول او الله تعالیٰ د خپل نبی او د

هغه د ملګري د بچ کولو مَکر جوړولو دے دپاره چه دوی ته د دوی د مکر سزا ورکړی او په خپل مکر کښې ئے ناکام کړی۔

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا
او کله چه لوستلے شی په دوی باندے آیتونه زمونږ وائی دوی یقیناً واوریدل مونږ
لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ
که وغواړو مونږ خامخا وبه وایو په شان ددے کتاب، نۀ دے دا (قرآن) مګر قصے دی
الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ
د پخوانو۔ او کله چه ووئیل دوی، اے الله ! که وی دا (قرآن) حق د طرفه ستا نه
فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۲﴾
نو را اُووروه په مونږ باندے کاڼړی د آسمان نه یا راوله مونږ ته عذاب دردناك۔

تفسیر : دا آیت د نضر بن حارث په باره کښې نازل شوے وو چه د رسول الله ﷺ د بعثت نه مخکښې فارس (ایران) ته تلے وو او د هغه ځای نه ئے د رستم او اسفندیار په واقعاتو مشتمل یو کتاب راوړے وو۔ کله چه به رسول الله ﷺ د مجلس نه پاڅیدو نو دا ملعون به هلته کیناستو او د هغه کتاب نه به ئے واقعات بیانول او وئیل به ئے چه ووایئ چه د چا خبره ډیره زړۀ راخکونکے ده۔ دا شخص په غزوۀ بدر کښې د مقداد بن اسود ؓ په لاسونو قیدی شو، او بیا د رسول الله ﷺ په حکم سره د هغه څټ ووهلے شو۔

په آیت کښې د جَمعے صیغه په دے وجه استعمال شویده چه د قریشو کافرانو ټولو به په زبانِ قال او زبانِ حال سره همدا وئیل څنګه چه به نضر بن حارث وئیل۔ چه که مونږ غواړو نو داسے قرآن راوړے شو۔ دا د دوی باطل غرور او د دروغو بهانه وه، ځکه چه قرآن خو دوی څو ځل چیلنج کړی وو او هیچا د هغے جواب نۀ دے راوړے۔او دوی ډیر کوشش د مقابلے کولو لیکن مقابله ئے نشوه کولے۔

اَسَاطِيْرُ : جمع د اُسْطُوْرَةٌ ده لیکلے شوے قصے او خبرے ته وائی۔ او دلته ترے مراد دروغژنه قصه ده، ځکه چه قرآن کښې قصے شته لیکن دوی د هغے تکذیب کولو۔ او اسطوره هغه قصے ته هم وائی چه هیڅ فائده پکښې نۀ وی، نو د دوی مقصد پدے سره د

قرآن کریم سپکاوے او خپل ځان ددے قابل ګنړل وو چه مونږ ګنے ددے مقابله کولے شو۔

وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ : د دوی د تقویٰ د نشتوالی د وجه نه دوی داسے غلطه دعاء وکړه۔ او دا علت دے ددے خبرے چه دوی سره قتال پکار دے ځکه چه دوی کښې دغه شان غلط صفات دی نو دوی باندے رَحم مهٔ کوئ۔

د قریشو کافرانو په خپل کبر او غرور او د سلام او نبی کریم ﷺ په دشمنئ کښې په کلی توګه سره د عقل نه راندهٔ شوی وو۔ پدے وجه دوی د الله تعالیٰ نه دعا وکړه چه اے الله ! که دا قرآن واقعی ستا رالیږلے شوے کتاب وی، نو په مونږ د کانړو باران وکړه او مونږ هلاك کړه، یا په بل کوم عذاب کښې مونږ اخته کړه۔ امام بخاریؒ د انس ﷺ نه روایت کړیدے چه دا خبره ابوجهل کړے وه۔ او د عطاءؒ، مجاهدؒ او سعید بن جبیرؒ قول دے چه نضر بن حارث دا خبره هم کړے وه، او د قریشو ټولو کافرانو په زبانِ حال سره همدا خبره کړے وه۔ که د هغوی سره روغ عقل وے نو وئیلی به ئے وے چه اے الله ! که دا قرآن واقعی ستا کتاب وی نو مونږ د هدایت په لاره روان کړه او پدے باندے د ایمان توفیق راکړه، او که غلط وی نو مونږ ترے وساته۔

لیکن دلته د دوی مقصد جحود او انکار وو او مطلب دا وو چه [هٰذَا لَيْسَ بِحَقٍّ فَلَا نُسْتَوْجَبُ عِقَابًا] دا حق نهٔ دے نو ځکه ددے په انکار باندے مونږ ته سزا نهٔ راکړے کیږی که دا حق وے او مونږ نهٔ منلے نو په مونږ به عذاب راغلے وے۔

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ؕ وَمَا كَانَ
او نهٔ دے الله تعالیٰ چه عذاب ورکړی دوی ته حال دا چه ته په دوی کښې ئے، او نهٔ دے
اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَا لَهُمْ
الله تعالیٰ عذاب ورکونکے دوی ته پداسے حال کښې چه دوی بخنه غواړی، او څه عذر دے دوی لره
أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ
چه عذاب به نهٔ ورکوی دوی ته الله تعالیٰ حال دا چه دوی منع کول کوی د مسجد
الْحَرَامِ وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ؕ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ
حرام نه او نهٔ دی دوی دوستان ددے (الله، یا بیت الله)، نهٔ دی اختیار مند ددے (بیت الله)

﴿اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳٤﴾﴾

مګر متقیان خلق لیکن اکثر خلق نۀ پو هیږي۔

تفسیر : اُوس الله ددې وجه بیانوي چه دوی عذاب غواړي لیکن الله ورله عذاب نۀ ورکوي دوه وجې دي۔ یو وجود نبي کریم ﷺ د دوی ترمینځ، او بل د دوی استغفار۔ نو الله تعالیٰ د قریشو کافرانو دعا پدې وجه قبوله نکړه چه رسول الله ﷺ د هغوی ترمینځ موجود وو۔ کله چه هغه د مسلمانانو سره هجرت وکړو او مدینې منورې ته لاړو نو د بدر په میدان کښې الله تعالیٰ د قریشو ټول صنادید (مشران) په خپل عذاب کښې راګیر کړل۔

امام ترمذيؒ د ابو موسیٰ اشعريؓ نه روایت کړیدې چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه الله تعالیٰ زما د امت دپاره په ما دوه امانه نازل کړیدي : ﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ﴾ (چه ترڅو پورې تۀ په دوی کښې ئې، نو الله به دوی ته عذاب نۀ ورکوي او چه ترڅو پورې دوی د الله نه بخنه طلب کوي نو الله به دوی ته عذاب نۀ ورکوي)۔ کلهٔ چه زۀ د دنیا نه لاړ شم نو د دوی دپاره دویمه ذریعه د امان استغفار به تر قیامته پورې باقي پاتې وي۔ (الترمذی : ۳۰۸۲) واسناده ضعیف، اسماعیل بن مهاجر یضعف فی الحدیث ومعنی الحدیث ثابت من الآیة وروی ابن جریر ۹/۲۳۵ عن ابن عباس موقوفا واسناده حسن قاله مقبل بن هادی الوادعی فی کتابه صحیح اسباب النزول ص (۱۱۷) واخرجه ابن ابی حاتم ۳/۲٤۱) ۔

او پدې کښې رد دې په هغه چا چه رسول الله ﷺ په هر ځای کښې حاضر ناظر ګڼړي، بیا عذابونه ولې راځي حال دا چه په مختلفو علاقو کښې عذابونه راغلي او راځي۔

وَاَنْتَ فِيْهِمْ : ددې نه حافظ ابن قیمؒ دا فائده اخستې ده او فرمایلي ئې دي :

[وَاِذَا كَانَ وُجُوْدُ النَّبِيِّ ﷺ مَانِعًا فَكَيْفَ بِمَحَبَّتِهٖ فِيْ قَلْبِ الْمُؤْمِنِ]

هرکله چه د رسول الله ﷺ وجود مانع دې د عذاب د کافرانو نه نو د دغه نبي محبت چه د چا په زړه کښې راشي نو دا به څنګه د عذاب نه مانع نۀ ګرځي)

وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ : او پدې کښې دعوت دې مشرکانو ته چه راشئ د الله تعالیٰ نه بخنه وغواړئ چه عذابونه درنه واوړي۔ سوال دا دې چه مشرکان که د شرك سره استغفار وغواړي نو څه فائده به ورکړي ؟

۱-جواب دا دې چه قتادهٔ وئیلي دي چه دا بناء دې په تعلیق باندې [اَیْ اِنِ اسْتَغْفَرُوْا وَآمَنُوْا] یعني که دوی بخنه د ګناهونو وغوښته او ایمان ئې راوړو۔ (بغویؒ وابن کثیرؒ)

۲- جواب دا دے چه پدے موجوده کافرانو کښې الله تعالیٰ ته څه کسان معلوم وو چه دوی به روستو ایمان راوړی نو ځکه ئے فی الحال تولو ته سزا ورنکړه ځکه چه یستغفرون د مضارع صیغے ده۔ لکه ابو سفیان، سهیل بن عمرو، خالد بن الولید او عکرمه بن ابی جهل ایمان راوړو۔ (رضی الله عنهم)۔

وَمَالَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ : د قریشو کافرانو چه کوم گناهونه او جرمونه کول د هغے تقاضا خو دا وه چه دوی ته الله تعالیٰ فوراً عذاب ورکړے وے، لیکن لکه څنګه چه مخکښې بیان شو چه د دوی ترمینځ رسول الله ﷺ موجود وو پدے وجه د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ وو۔ کله چه رسول الله ﷺ او د هغه نه روستو هغه کمزوری مسلمانان د مکے نه ووتل کوم چه په توبه او استغفار کښې مشغول وو۔ نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه پدے کښې دوی ته د عذاب دهمکی ورکړے شوه۔ نو الله خپل رسول ته د مکے د فتح کولو اجازت ورکړو او د مسلمانانو په لاسونو د قریشو په کافرانو هغه عذاب نازل شو کوم طرف ته چه پدے آیت کښې اشاره ده۔ یعنی اُوس خو نۀ د دوی استغفار شته او نۀ د نبی ﷺ وجود د دوی ترمینځ شته، نو دوی د عذاب خامخا مستحق دی۔

اَلَّا يُعَذِّبَهُمْ : أَیْ بَعْدَ هِجْرَةِ الرَّسُوْلِ وَالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْهُمْ ۔ یعنی د دوی د عذاب نه د بچ کیدو سبب ختم شو، چه رسول الله ﷺ او مؤمنانو ترے هجرت وکړو او دوی د ځان نه هغه سبب ختم کړو۔

وَهُمْ يَصُدُّوْنَ : یعنی د عذاب سبب اُوس موجود شته او مانع نشته نو الله تعالیٰ به ضرور عذاب ورکوی۔ د صد عن المسجد الحرام مصداق دا وو چه دوی ورته نبی کریم ﷺ او مؤمنان نۀ پریخودل او په هجرت ئے مجبوره کول۔

وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ : پدے کښې د قریشو مشرکانو ددے باطل گمان رد دے چه د بیت الله والیان (واکدار) مونږ یو، مونږ چه چا له غواړو، حرم طرف ته راتللو نه به ئے منع کوو، او چه چا له غواړو اجازت به ورکوو۔ الله تعالیٰ وفرمایل چه ددے والیان او دوستان متقیان دی، ځکه چه مشرك خو په کښې غیر الله ته آوازونه کوی، هغه خو نجس دی او پدے کښې دا بشارت او زیرے هم دے چه مکه به فتح کیږی او د کافرانو په ځای به مسلمانان د بیت الله والیان جوړیږی۔

او پدے کښې د تقویٰ بله فائده دا ذکر ده چه د الله تعالیٰ ولایت (دوستی) او د مسجد حرام اهلیت په تقویٰ سره حاصلیږی۔

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَّ تَصْدِيَةً ۚ
او نهٔ وو مونځ د دوی د بیت الله په خوا کښې مګر شپیلی او لاسونه پړقول
فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾
پس وڅکئ عذاب په وجه ددے چه تاسو کفر کوو.

تفسیر : دا په مشرکانو بل رد دے او دا یا عطف دے په ﴿وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ﴾ باندے نو پدے کښې دا خبره ثابتول دی چه دوی ځکه د قتال لائق دی چه دوی ته الله تعالیٰ مسجد حرام ورکړے دے او خالص عبادت پکښې نهٔ کوی بلکه شپیلی وهی. یا عطف دے په ﴿وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ﴾ باندے نو پدے کښې رد دے چه دوی د مسجد حرام اهل چرته ګرځیدے شی. (القاسمیؒ)

د مکے مشرکان به د بیت الله په خوا کښې راجمع شو او شپیلی او تالیانے به ئے وهلے (یعنی لاسونه پړقول) دے دپاره چه مسلمانان د خشوع او خضوع سره مونځ ونکړی. زهریؒ وائی چه شپیلی او لاسونو تهقولو سره به ئے د مسلمانانو پورے توقے کولے. او مجاهدؒ وائی چه کله به رسول الله ﷺ په مانځه کښې شروع شو نو مشرکانو به شپیلی او لاسونه تهقول شروع کړل.

حافظ ابن القیمؒ په خپل کتاب «اغاثة اللهفان» کښې لیکلی دی چه لاسونه پړقولو او شپیلی وهلو سره د الله تعالیٰ نزدیکت حاصلونکی او مونځ کونکی، ذکر کونکی او د قرآن تلاوت کونکی په تشویش کښې اخته کونکی ددے مشرکانو سره مشابه دی.

ځینی علماء وائی چه مشرکانو به د طواف په وخت کښې شپیلی او تالیانے وهلے او دا به ئے هم عبادت او نیکی ګڼړله لکه د نن زمانے بعض جاهلان صوفیان په مسجدونو او آستانو کښې ګډیږی او ډولونه وهی او وائی چه دا زمونږ مونځ او عبادت دے او پدے باندے مونږ الله تعالیٰ راضی کوو. (احسن البیان)

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ لیکلی دی چه لاسونه تهقول او ډولونه او تماشے او باجے وغیره وهل د الله تعالیٰ د دین حصه او د هغه د قربت (نزدیکت) ذریعه هیچرے نشی کیدے. د دین اسلام ددے خبرو سره هیڅ تعلق نشته. نهٔ نبی کریم ﷺ دا خبرے مشروع ګرځولے دی، نهٔ خلفاءِ اربعه ؓ او نهٔ یو امام او نهٔ هیڅ کله د دوی نه یو تن په یو دور کښې داسے کړی

وو۔

بیا وائی : څوك چه د دین د حقائقو او د زړونو د احوالو او د هغې د معارفو او ذوقونو نه خبرداروی نو هغه ته دا معلومه ده چه ټنګ ټکور او لاسونه پړقول زړه ته هیڅ فائده او مصلحت نهٔ راکاری مګر ددے په ضمن کښ دومره فساد راولی چه هغه د فائدے نه ډیر زیات دے، نو دا د روح دپاره داسے دے لکه شراب د بدن دپاره بلکه د هغې نه هم زیات ضرر ورکوی، آه۔ (راجع تفسیر القاسمی)

افسوس دے چه د امت اسلامیه یو لوئی شمیر پدے ګناهونو کښ اخته دی، او ګمان کوی چه دوی د رقص (ګډا) او غناء (ټنګ ټکور) په ذریعه د الله قربت او نزدیکت حاصلوی۔ ((مَا اَشْبَهَ اللَّيْلَةَ بِالْبَارِحَةِ))۔ یقیناً دا خلق د مکے مشرکانو نه کم نهٔ دی۔ (ابن کثیرؒ والقاسمیؒ)

اِلَّا مُكَآءً وَّ تَصْدِيَةً : دا تشبیه یا په بطلان کښ ده یعنی د دوی مونځ داسے باطل دے لکه شپیلی او لاسونه ټهول چه دواړو کښ هیڅ فائده نشته او باطل دی۔ دا معنیٰ بعیده ده ځکه چه مشرکانو مونځونه نهٔ کول او نهٔ ئے مونځ پیژندلو بلکه ابو طالب په یوه موقعه کښ د رسول الله ﷺ او د علیؓ بن ابی طالب د مانځه نه تعجب کولو چه هغه دواړه ئے په یو خوړ کښ لیدلی وو۔ (ابن عاشورؒ)۔

دویم دا تشبیه په عدم وجود کښ ده یعنی دوی د بیت الله په خوا کښ مونځونه نکوی بلکه د هغې په ځای فضول کارونه او د مؤمنانو پورے توقے کوی۔

ځینی وائی : د مانځه نه مراد دلته طواف دے لکه رسول الله ﷺ هم طواف ته مونځ وئیلے دے او مشرکانو به په طواف کښ شپیلی وهل او په الټه طرف به ئے طواف کولو۔
(البحر المحیط ۵/۳۱۵)

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ : پدے کښ اشاره ده چه دا عمل چه د بیت الله احترام پرے خرابیدو دا کفر دے ځکه چه دا د الله د شعائرو سپکاوے او د هغې پورے مسخرے وے، او دغه شان د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو د مونځونو پورے خندنئ وے او دا کفر دے۔ او دوی ته ددے سزا په بدر کښ د قتل او قید په ذریعه ورسیده۔ (القاسمیؒ والتحریر)

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا
یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړیدے خرچ کوی مالونه خپلو دپاره ددے چه خلق منع کړی

عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ؕ فَسَیُنۡفِقُوۡنَهَا ثُمَّ تَكُوۡنُ عَلَیۡهِمۡ حَسۡرَةً
د لارے د الله نه نو زردے چه خرچ به کړی دوی هغے لره بیا به شی په دوی باندے افسوس
ثُمَّ یُغۡلَبُوۡنَ ۬ؕ وَالَّذِیۡنَ كَفَرُوۡۤا اِلٰی جَهَنَّمَ یُحۡشَرُوۡنَ ﴿۳۶﴾
بیا به کمزوری کړے شی او هغه کسان چه کافران دی جهنم ته به ورجمع کړے شی۔
لِیَمِیۡزَ اللّٰهُ الۡخَبِیۡثَ مِنَ الطَّیِّبِ وَیَجۡعَلَ الۡخَبِیۡثَ بَعۡضَهٗ
دے دپاره چه جدا کړی الله تعالیٰ پلیت لره د پاك نه او وګرځوی پلیتان بعض
عَلٰی بَعۡضٍ فَیَرۡكُمَهٗ جَمِیۡعًا فَیَجۡعَلَهٗ فِیۡ جَهَنَّمَ ؕ
په بعضو باندے پس جمع به کړی هغوی په یوځای نو وابه ئے چوی په جهنم کښ،
اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۳۷﴾
دغه کسان خاص دوی تاوان والا دی۔

تفسیر: پدے کښ دغه کافرانو ته سخت تخویف دے چه که تاسو هر څومره د اسلام په خلاف کوشش وکړئ نو په دنیا کښ ستاسو مغلوبیت او په آخرت کښ جهنم ستاسو ځای دے۔ او دا د الله تعالیٰ وعده ده اول د مکے کافرانو سره، او بیا د هرے زمانے کافرانو سره پدے شرط چه مؤمنان په دعوت او جهاد باندے صحیح روان وی۔

شان نزول

محمد بن اسحاقؒ د زُهریؒ نه روایت کړیدے چه کله د قریشو څه کسان د بدر د میدان نه وتختیدل او مکے ته ورسیدل او د ابوسفیان قافله هم ورسیدله، نو د کومو خلقو چه خپلوان وژلے شوی وو، هغوی د ابوسفیان او نورو هغه خلقو سره خبره وکړه د کومو د تجارت مال چه د شام نه راغلے وو چه د محمد (ﷺ) سره دوباره د جنګ د تیارئ دپاره د مال په ذریعه مدد وکړی۔ نو دغه تاجرانو ددے غرض دپاره مال راجمع کړو۔ ددے په باره کښ دا آیت نازل شو، او دوی ته د دوی د انجام خبر ورکړے شو۔ نو همدغه شان وشوه چه په بعض جنګونو کښ د کافرانو بوکه درنه کیدو باوجود هم الله تعالیٰ آخر کښ مسلمانان غالبه کړل او د قریشو کافران په دنیا کښ ذلیل او رسوا شو او قتل شو، او په آخرت کښ د

دوی ځای به جهنم وی۔ د ضحاكؒ رائے ده چه د قریشو کومو دولسو مشرکانو چه د بدر په میدان کښې د کافرانو لښکر ته نمبر په نمبر د اُوښانو غوښه او خوراك ورکړے وو د هغوی په باره کښې دا آیت نازل شوے وو۔ (بغویؒ وابن کثیرؒ)

بهر حال د آیت حکم عام دے، او د اسلام او کفر په جنګ کښې هر شخص چه د خپل مال په ذریعه د کافرانو مدد وکړی نو هغه به پدے آیت کښې د ذکرشوی دنیاوی او اُخروی عذاب مستحق وی۔

لِيَصُدُّوْا : یعنی دومره وختونه او مالونه لګوی او ددے دپاره جمعیات، مدارس او سکولونه جوړوی، ډاکټران ئے خوارهٔ کړی وی دے دپاره چه د الله تعالیٰ دین په خلکو کښې عام نشی او دوی خپل غلط دین ته خلك راجذب کړی، او په صحیح دین کښې ورله شبهات پیدا کړی، مګر الله تعالیٰ به د دوی خواری ضائع کوی، او خپل دین به غالبه کوی۔ نو پدے کښې کافرانو ته دعوت دے چه ستاسو خواری ضائع کیدونکے ده، او دنیا او آخرت مو تباه شو راشئ د الله تعالیٰ دین ته غاړه کیدئ۔ (السعدیؒ)

لِيَمِيْزَ اللّٰهُ : ددے آیت تعلق د مخکنی آیت سره دے، او معنیٰ دا ده چه ټول کافران به جهنم ته راجمع کړے شی دے دپاره چه الله تعالیٰ کافران د مؤمنانو نه جدا کړی۔

یا ددے معنیٰ دا ده چه کوم کافران خپل مال د اسلام په خلاف کاروائی کښې خرچ کوی نو دا به د هغوی دپاره په دنیا او آخرت کښې د افسوسونو سبب جوړیږی، او مسلمانان چه کوم مال د نبی کریم ﷺ د مدد دپاره خرچ کوی نو الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د جزاء په اعتبار سره دا د مشرکانو د هغه مال نه جدا کړی کوم چه دوی د نبی کریم ﷺ په دشمنئ او د هغه په خلاف جنګ باندے صرف کړے وو۔ او په آخرت کښې به الله تعالیٰ تمام کافران په جهنم کښې داسے راجمع کوی چه د ګنړے په وجه به په یو بل باندے سوارهٔ وی۔

لِيَمِيْزَ اللّٰهُ : یعنی الله ئے جهنم ته ولے په یوځای راجمع کوی؟ ددے وجه دا ده چه الله تعالیٰ پدے سره کافران (پلیت) د مؤمنانو (پاکو) نه جدا کړی۔ دارنګه د کافرانو پلیت مال د مؤمنانو د پاك مال نه جدا کوی۔ د یو جهنم او د بل جنت نتیجه ده۔

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا
ووایه ! هغه کسانو ته چه کافران دی که منع شو دوی (د کفر او شرك نه)

يُغۡفَرۡ لَهُمۡ مَّا قَدۡ سَلَفَ ۚ وَاِنۡ يَّعُوۡدُوۡا
وبه بخلے شي دوی ته هغه گناهونه چه تیر شویدي او که واپس شي دوی (جنگ ته)
فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۳۸﴾
نو یقیناً تیره شویده طریقه د مخکنو خلقو.

تفسیر: پدے آیت کښ ترغیب دے کافرانو ته سره د تهدید (دهمکی) نه.

اِنۡ يَّنۡتَهُوۡا: الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په حق کښ ښو مره رؤف او رحیم دے چه دوی کښ کفر او عناد موجود دے او بیا ئے هم الله تعالیٰ حقے لارے طرفته رابلي.

پدے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ ابوسفیان او د هغه ملګرو ته بالخصوص او ټولو کافرانو ته بالعموم وئیلي دي چه که دوی د کفر او د نبی کریم ﷺ سره د جنګ کولو نه منع شي نو الله به د دوی تیر شوی ګناهونه معاف کوی لکه چه په مسند احمدؒ کښ دي چه اسلام تیر شوی ګناهونه ختموی. او توبه هم مخکنی ګناهونه ختموی. او که دوی د نبی کریم ﷺ سره دوباره جنګ کوی نو دا د الله تعالیٰ سنت او طریقه پاتے شویده چه هغه د خپلو رسولانو مدد کوی او د هغوی دشمنان ذلیله کیږی لکه عادیانو او ثمودیانو ته وګوره او لکه څنګه چه د بدر په میدان کښ د قریشو کافرانو انجام شو.

فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ الۡاَوَّلِيۡنَ: مضی په معنیٰ د جریان سره دے اَیۡ مَضَتۡ (جَرَتۡ) سُنَّةُ اللّٰهِ فِي الۡاَوَّلِيۡنَ). یعنی د الله تعالیٰ طریقه روانه ده چه دشمنان هلاکوی او د دوستانو مدد کوی.

وَقٰتِلُوۡهُمۡ حَتّٰى لَا تَكُوۡنَ فِتۡنَةٌ وَّيَكُوۡنَ الدِّيۡنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ
او جنګ کوئ د دوی سره تردے چه پاتے نشی هیڅ شرك او شي دین ټول د الله تعالیٰ،
فَاِنِ انۡتَهَوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ
پس که منع شول دوی نو یقیناً الله تعالیٰ په هغه عملونو چه دوی ئے کوی
بَصِيۡرٌ ﴿۳۹﴾ وَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاعۡلَمُوۡٓا اَنَّ اللّٰهَ
لیدونکے دے. او که واوړیدل دوی نو پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ

مَوْلٰـكُمْ ؕ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۴۰﴾

دوست دے ستاسو، ښه دوست دے او ښه مددگار دے۔

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ به کافران ذلیله کوی ستاسو په لاسونو نو اے مسلمانانو! تاسو د کافرانو او مشرکانو سره جنگ کوئ تردے پورے چه شرك ختم شی، یا د کافرانو د طرف نه د مسلمانانو د ازمینبت او امتحان دَور ختم شی، او د یو الله تعالیٰ عبادت عام شی۔ د هغه نه سوئ د هیچا عبادت ونکړے شی، او که مشرکان د کفر او گناهونو نه په ظاهری توگه منع شی نو تاسو هم د جنگ کولو نه منع شئ، د دوی باطنی اعمال الله تعالیٰ ته معلوم دی، هغه به ورسره حساب کوی او د هغے مطابق به ورته بدله ورکوی لکه چه الله تعالیٰ په سورۃ توبه آیت (۵) کښی فرمایلی دی :

﴿ فَإِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ﴾

چه (که دوی توبه وباسی او مونځونه قائم کړی او زکاة ورکړی نو دوی پریدئ)۔

د صحیحینو روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : «ما ته د خلقو سره د قتال حکم شویدے تردے پورے چه دوی لا اله الا الله ووائی، کله چه دوی دا کلمه ووئیله نو د دوی وینه او مال محفوظ شو سوئ د هغه نه چه په دوی کوم شرعی حق وی، او د قیامت په ورځ به الله د دوی سره حساب کوی»۔ او د صحیح بخاریؒ یو بل روایت دے چه کله اسامه بن زید ﷺ یو سړے د لا اله الا الله وئیلو نه روستو قتل کړو، نو نبی ﷺ ووئیل چه د قیامت په ورځ به تهٔ په کلمه د لا اله الا الله څه کوے؟ نو اسامه ووئیل اے د الله رسوله! هغه صرف د خپل ځان بچ کولو دپاره داسے کړی وو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چه تا د هغه سینه څیرلو سره ولے نهٔ کتله او بار بار به ئے وئیل چه د قیامت په ورځ به د لا اله الا الله سره څه کوے؟ اسامه وائی چه ما ارمان وکړو چه کاش زهٔ نن په اسلام کښی داخل شوے وے۔ (القاسمیؒ)

الدِّيْنُ كُلُّهٗ : ددے نه معلومیږی چه کله بعض دین د غیر الله دپاره وی بیا به هم قتال جاری وی (بشرط الاستطاعة) لکه ابوبکر صدیق ﷺ د هغه چا سره هم قتال وکړو چه نور دین ئے منلو صرف د زکاۃ نه منکر شو۔

فَاِنِ انْتَهَوْا : یعنی که کفارو او مشرکانو ایمان رانهٔ وړو او د کفر او گناهونو نه منع نهٔ شو نو تاسو پدے یقین سره ژوندی وسیږئ چه ستاسو حامی او مددگار الله تعالیٰ دے، او د چا

مددگار چه الله تعالیٰ شی نو هغه څوك ختمولے شی ؟!۔

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ
او پوهه شئ یقیناً هغه چه حاصل کړئ تاسو مال غنیمت د څه شی نو یقیناً الله لره
خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ
پنځمه برخه د هغے ده او رسول لره او خپلوانو (د رسول) لره او یتیمانانو او غریبانو
وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ
او مسافرو لره، که ایمان راوړے وی تاسو په الله تعالیٰ او په هغه (مدد)
اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ
چه راليږلے وو مونږ په بنده خپل په ورځ د فيصلے (ورځ د بدر) په هغه ورځ
الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾
چه مخامخ شوے دوه ډلے، او الله تعالیٰ په هر شی قادر دے۔

تفسير : دا د سورت د ابتداء سره متعلق دے او تفصيل د تقسيم د غنائمو دے او د هغے علتونه هم ورسره بيانوی۔

فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ : د الله لفظ د تبرك او تعظيم او تشريف دپاره ذکر شويدے، يا پدے وجه چه د هر شی اصل مالك الله دے او حکم به هم د هغه چليږی۔ او د الله او د رسول د حصے نه مراد همدغه يوه حصه ده، يعنی د غنيمت تول مال به پنځه حصے کولے شی، څلور حصے به په جنګ کښ شريك کيدونکو مجاهدينو باندے په عدل او انصاف سره تقسيمولے شی۔ د پيدل مجاهد دپاره به يوه حصه او د اس سور (شاهسوار) دپاره به درے حصے، يوه حصه د هغه دپاره او دوه حصے د هغه د اس دپاره۔ رسول الله ﷺ د خيبر د غزا مال په دے طريقه تقسيم کړے وو۔ او پنځمه حصه چه هغے ته په عربئ کښ خُمُس وائی هغه به الله او رسول الله ﷺ او پدے آيت کښ ذکر شوی خلقو دپاره وی۔

ځينی وائی چه هغه به پنځه حصے کړے شی، يوه حصه د رسول الله ﷺ او د هغه نه روستو به د مسلمانانو په عامو مصلحتونو کښ خرچ کولے شی۔ او دويمه حصه د رسول الله ﷺ د خپلوانو، بيا د يتيمانانو او د مسکينانو او د مسافرو ده۔ او ځينی وائی چه دغه

خمس به شپږ حصے کړے شی یوه به پکښ د الله دپاره وی او بیت المال کښ به کیخودے شی او هغه به هم بیرته د ضرورت مطابق دغه مذکوره خلکو ته په وخت د ضرورت کښ ورکولے شی۔
یا دا چه ټول خمس اول د رسول الله ﷺ حق وو چه هغه به خپل ځان او خپل اهل وعیال دپاره د نفقے په طور اخستو او بیا د جهاد دپاره به ئے سامان پرے اخستو او په هغے به ئے کوندے او یتیمانان هم پالل او د هغه د وفات نه روستو به دا خمس بیت المال ته واپس کولے شی چه دا د ټولو مسلمانانو شریك دے۔
حافظ ابن القیم رحمه الله په «زاد المعاد» کښ لیکلی دی چه نبی کریم ﷺ به د جنګ نه روستو د غنیمت د ټولو مالونو د راجمع کولو حکم کولو، بیا به چه کوم مجاهد د کوم کافر نه څه شے اخستے وو هغه به ئے هغه ته ورکولو، د هغے نه روستو به ئے پنځمه حصه جدا کوله۔ او خپلو خپلوانو، یتیمانانو او مسکینانو او ضرورت مندو مسافرو باندے د خرچ کولو نه روستو چه به څه پاتے شو نو هغه به ئے د اسلام او مسلمانانو په عامو مصالحو (فائدو) کښ خرچ کولو۔ د باقی مال څه حصه به ئے هغه ښځو او ماشومانو او غلامانو ته ورکوله چه د هغوی به د غنیمت په مال کښ هیڅ حصه نۀ کیدله۔ دے نه روستو به ئے باقی مال په دغه جنګ کښ د شریك کیدونکو مجاهدینو مسلمانانو ترمینځ په عدل او انصاف سره برابر تقسیمولو۔ انتهیٰ۔
د «ذو القربی» نه مراد بنی هاشم او بنی مطلب دی۔ او راجح دا ده چه دا حکم تر قیامته پورے باقی دے۔
په «یتامی» کښ (د راجحے رائے مطابق) مالدار او غریبان ټول داخل دی۔ او د «مساکین» نه مراد هغه حاجت مند خلق دی چه د خپل ضرورت پوره کولو دپاره مال نۀ لری۔
د نبی کریم ﷺ د وفات نه روستو د هغهٔ او د هغهٔ د خپلوانو حصه به سیدنا صدیق اکبرؓ او عمر فاروقؓ د جهاد په تیاریانو باندے خرچ کوله، د ابوبکرؓ، علیؓ او قتادهؒ وغیرهم همدا رائے وه۔ امام مالكؒ او سلف صالحینوؒ کښ د اکثرو خلقو رائے ده چه د غنیمت په مال کښ به د نبی کریم ﷺ پنځمه حصه د وخت امام د تصرف لاندے وی، او هغه به ئے د اسلام او د مسلمانانو په عامو مصالحو باندے خرچ کوی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ همدے رائے ته ترجیح ورکړیده۔ نسائیؒ د عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: [اِلَّا الْخُمُسَ وَالْخُمُسُ مَرْدُوْدٌ عَلَيْكُمْ] (د غنیمت د مال نه پنځمه حصه زما دپاره

ده او هغه به هم په تاسو مسلمانانو خرچ کیږی))۔ (القاسمیؒ وابن کثیرؒ)
اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ : یعنی که ستاسو ایمان په الله تعالیٰ وی او په هغه آیتونو او ملائکو او په ښکاره مدد چه مونږ د بدر په ورځ په خپل بنده محمد (ﷺ) باندې نازل کړې وو نو که دا منئ نو بیا چه د غنیمتونو د تقسیم په سلسله کښې مونږ کوم حکم نازل کړیدې د هغې اتباع کوئ۔
وَمَآ اَنْزَلْنَا : د (ما) نه مراد مدد دې نو پدې کښې اشاره ده چه په بدر کښې کوم غنیمت راغلې نو دا خو د الله په مدد راغلې۔ او پدې کښې عام قانون هم دې چه تا ته مال چا درکړیدې؟ الله درکړیدې نو اُوس د هغه په نوم خیرات او زکاة هم ورکړه۔
يَوْمَ الْفُرْقَانِ : د بدر ورځې ته یوم الفرقان ځکه وائی چه د حق او د باطل ترمینځ د فیصلې ورځ وه۔

اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ
کله چه وئ تاسو په غاړه نیزدې باندې او دوی وو په غاړه لرې کښې او قافله د سوداګرو
اَسْفَلَ مِنْكُمْ ۚ وَلَوْتَوَاعَدْتُّمْ لَا اخْتَلَفْتُمْ
لاندې وه ستاسو نه، او که وعده کړې وې تاسو نو خامخا به اختلاف کړې وې تاسو
فِي الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ
په وخت مقرر کښې لیکن (الله تاسو بې وعدې راجمع کړئ) دې دپاره چه پوره کړی الله
اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ
هغه کار چه مقرر شوې وو دې دپاره چه مړ شی هغه څوک چه مړ شو پس د دلیل نه
وَّ يَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾
او ژوندې پاتې شی هغه څوک چه ژوندې وو پس د دلیل نه او یقیناً الله خامخا آوریدونکې پوهه دې

تفسیر : پدې کښې د بدر د میدان تصویر پیش کوی چه هلته د الله تعالیٰ د قدرت لوئی نخې راښکاره شوې او مسلمانانو سره د هغوی د کموالی او بې سامانئ او په ظاهر کښې د جنګ ناموافق حالاتو باوجود الله تعالیٰ ښکاره مدد وکړو۔ مفسرینو لیکلی دی چه مشرکانو کوم ځای وسیدل هلته اُوبه وې، زمکه یو حده پورې مناسبه وه چه په هغې کښې

خپه نۀ خوئیدلے، او چرته چه مسلمانان پراتۀ وو نو هلته اُوبه نۀ وې او زمکه نامناسب وه، زمکه د شګلنې کیدو په وجه سره په هغې خپه خوئیدله او مزل پکښې مشکل وو او د ابوسفیان قافله د دشمن شاته وه. دارنګه یو لوی فوج د هغې حفاظت کولو، او مسلمانان راوتلي وو د یو تجارتي قافلې د تعاقب (رالاندې کولو) دپاره او د الله په مرضی سره د یو لوئي لښکر سره مقابله وشوه. ددې ناموافقو حالاتو باوجود الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح ورکړه، دې دپاره چه الله څه غوختل چه د هغه دین غالبه شي، د هغه کلمه پورته شي او دې دپاره چه اُوس دې نه روستو د اسلام د نۀ قبلولو هیڅ حجت (دلیل) د هیچا سره باقي پاتې نۀ شي. څوك چه په کفر هلاکیږي نو د هلاك کیدو نه مخکښې هغه ته معلومه شي چه دا په قصد سره د استکبار لاره اختیاروي او په کفر باندې مري، او چه څوك اسلام راوړل غواړي نو هغه پدې یقین سره دا دین قبول کړي چه همدا حق دین دے. او په همدې اختیارولو کښې د دنیا او آخرت خیر دے.

وَلَوۡ تَوَاعَدۡتُّمۡ : یعنې که ستاسو یو بل سره وعده د جنګ وې نو تاسو دواړه ډلې به په وعده کښې خلاف شوی وې، وجه دا ده چه په جنګ کښې هره ډله د بلې نه یره کوی او د وعده خلافئ دپاره یوه بهانه جوړوي.

وَلٰكِنۡ : أَيْ لٰكِنِ الْتَقٰى بِكُمْ مِنْ غَيْرِ وَعْدٍ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ. لیکن الله تاسو یو بل سره ملاؤ کړئ په غیر د وعدې نه دې دپاره چه الله پوره کړي یو کار چه هغه د الله په تقدیر او قضاء کښې پوره کړې شویدے. څکه چه الله په تقدیر کښې لیکلي وو چه ابوجهل او د هغه بعض ملګري به په بدر کښې مرداروم نو که وعده شوې وې بیا به په هغې کښې خلاف راغلې وې نو هغه کار به نۀ وې پوره شوې نو الله ورله اسباب وکتل.

لِّيَهۡلِكَ : ددې جنګ او بې وعدې ملاویدو حکمة بیانوي. د هلاکت نه مراد دلته کفر دے. څکه کافر هلاك دے. أَيْ لِيَكْفُرَ مَنْ كَفَرَ بَعْدَ إِقَامَةِ حُجَّةٍ. یعنی دې دپاره چه څوك کفر کول غواړي هغه کفر وکړي پس د حجت قائمیدو نه. یعنی که ددې نه روستو هم څوك کفر کوي نو هغه باندې به دلیل قائم وي، نو که کفر کوي هغه به لوی ضدي کافر وي، څکه چه پته ورته ولګیده چه محمد رسول الله (ﷺ) حق دے او معجزات ئې ښکاره شو او ملائك ئې مدد له راغلل او لږ کسان په ډیرو غالبه شو، معلومیږي چه ددۀ سره شاته د الله طاقت ولاړ دے، نو الله تعالیٰ فرمائي پریده چه ددې نه روستو ضدیان راښکاره شي.

وَّ يَحۡيٰى مَنۡ حَيَّ عَنۡۢ بَيِّنَةٍ : دویم مطلب دا دے: یعنې څوك چه په کلمه د توحید

ژوندي شويدي نو هغه به نور ژوندي شي په ليدلو د معجزاتو سره يعني مؤمنان به ووائي چه زمونږ سره څو مره لږ تورې او لږه نفري وه ليکن الله په ډيرو غلبه راکړه معلومه شوه چه دا نبي حق دې، يعني بصيرت به ئې نور هم زيات شي۔

اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰكَهُمْ
کله چه وخودل تا ته دوی لره الله تعالیٰ په خوب ستا کښې لږ او که خودلی ئې وې تا ته دوی
كَثِيْرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ
ډير خامخا کمزوري شوي به وې تاسو او خامخا اختلاف به کړې وې تاسو
فِي الْاَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ؕ اِنَّهٗ
په باره د جنګ کښې ليکن الله تعالیٰ بچ کړئ تاسو (د کمزورتيا او اختلاف نه) يقيناً الله
عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۴۳﴾ وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ
پوهه دې په هغه خبرو چه په سينو کښې دي۔او کله چه وخودل الله تعالیٰ تاسو ته دوی
اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْۤ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا وَّ يُقَلِّلُكُمْ
کله چه مخامخ شوئ، په سترګو ستاسو کښې لږ او لږئ ئې ښکاره کړئ تاسو
فِيْۤ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ؕ
په سترګو د هغوی کښې، دې دپاره چه پوره کړي الله تعالیٰ هغه کار چه وو مقرر شوې،
وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۴۴﴾
او خاص الله تعالیٰ ته ورګرځولې شي ټولو کارونه۔

تفسير : رسول الله ﷺ دوه خوبونه ليدلي وو يو د جنګ نه مخکښې او بل چه کله غزوه شروع کيدله ددې نه لږ مخکښې۔ امام مجاهدؒ وائي چه الله تعالیٰ نبي کريم ﷺ ته په خوب کښې وخودل چه د کافرانو شمير کم دې۔ (دوی ډير وو ليکن الله تعالیٰ ورته کم ښکاره کړل ځکه چه په حقيقت کښې کم وو ځکه چه مغلوبه کيدونکي وو)

نبي کريم ﷺ چه صحابه کرامو ته کله ددې اطلاع ورکړه نو د هغوی همت پورته شو او يو قسم اطمينان ئې حاصل شو۔ که د دشمن شمار زيات په نظر راغلې وې نو د

مسلمانانو همت به خکته شوے وے، او خپل مینځ کښ به ئے اختلاف کولے، چا به وئیلے چه جنګ کول پکار دی، او چا به وئیل چه مونږ د دومره لوی فوج مقابله نشو کولے، اسباب نشته او نفری کمه ده۔ لیکن الله تعالیٰ په خپل تائید او حکمت سره دوی د همت خکته کیدو او د اختلاف دواړو نه محفوظ وساتل۔ او کله چه دواړه فوجونه یو بل ته مخامخ شو او لا جنګ شروع شوے نۀ وو نو الله داسے دا وکړل چه د مسلمانانو ظاهری سترګو ته ئے د کافرانو شمارکم کړو، دے دپاره چه دوی ته زیات تقویت حاصل شی، عبد الله بن مسعود ﷺ وائی: ما خپل خوا ته یو ملګری ته ووئیل: [أَتَرَاهُمْ سَبْعِيْنَ؟] آیا دوی به درته اویا کسان ښکاری؟ نو هغه ووئیل: [لَا، بَلْ هُمْ مِائَةٌ] نۀ بلکه سل کسان دی۔

(ابن ابی حاتم وابن جریر وابن کثیر) واسناده صحیح قاله الحافظ فی المطالب العالیة (٤/ ٢١٠)

(زر کسان ئے ورته د اویا یا سلو کسانو په اندازه ښکاره کړل) او د کافرانو په سترګو کښ ئے مسلمانان کم ښکاره کړل دے دپاره چه په جنګ باندے کافران ښه راتیز شی۔ کافرانو ووئیل چه دا خو ډیر لږ خلك دی، دوی د زرو کسانو مقابله چرته کولے شی، خوکیدے شی چه د دوی به شا ته کمین وی نو په اس باندے ئے سرے ګیر چاپیره وګرځولو، هیڅ کمین ئے ونۀ لیدل نو یقین ئے راغے چه مونږه مسلمانان اُوس ختمولے شو۔

او کله چه جنګ ونختو نو الله تعالیٰ ناڅاپی د مسلمانانو شمار د کافرانو په سترګو کښ دوچنده ښکاره کړو، دے دپاره چه په دوی باندے هیبت او یره راشی او د الله د عذاب په مینځ کښ راګیر شی لکه چه سورة آلعمران آیت (۱۳) کښ الله فرمایلی دی: ﴿يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ﴾ چه (کافرانو په خپلو ظاهری سترګو سره مسلمانانو لره د خپل ځان نه دوچنده لیدل)۔ او دا ټول هرڅه د الله د طرف نه پدے وجه وشو، دے دپاره چه د الله دین غالب شی، د هغه مؤمنان بندګان په دنیا کښ د فاتح په حیثیت راوځی، او د الله تعالیٰ دشمنان ذلیل او رسوا شی، د هغوی غرور مات شی، او د کفر او شرك چراغ همیشه دپاره مړ شی۔ نو هرکله چه دومره مهربانه رب دے نو اُوس په هغه یقین ولرئ، لهذا دا د ایمان دلائل هم شو او د پنځمے حصے غنیمت ورکولو دلائل هم شو۔

او کله چه جنګ شروع شو نو الله د مسلمانانو په سترګو کښ کافران هم زیات ښکاره کړل دے دپاره چه د الله شکر وکړی چه دومره ډیر کسان مونږ ته الله تعالیٰ راځملول۔

وَلَتَنَازَعْتُمْ: تنازع خبرو رانبکلو ته وائی لکه تفصیل ئے ذکر شو۔

فِي الْأَمْرِ: اَیْ اَمْرِ الْقِتَالِ۔ یعنی د جنګ په کار کښ به مو اختلاف کړے وے۔

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ : اَیْ سَلَّمَكُمْ مِنَ الْفَشَلِ وَالتَّنَازُعِ ۔ یعنی الله تعالیٰ تاسو د بزدلیٔ او تنازع (جګړو) نه بچ وساتلیٔ۔ او په تاسو کښې ئے د خوب په سبب بهادري پیدا کړه۔

لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا : سیدنا زبیر بن العوام ﷺ ددے معنیٰ کوی : دے دپاره چه الله د دوی ترمینځ جنګ واقع کړی دے دپاره چه انتقام واخلی د هغه چا نه چه الله ترے اراده د انتقام لری او انعام وکړی په هغه چا چه اراده لری د پوره کولو د نعمت په هغه باندے د خپلو دوستانو نه۔ (ابن کثیر)

دا دلالت کوی د الله تعالیٰ په کامل مشیئت باندے چه کومه اراده هغه کړی وی نو دهغے دپاره ضرور اسباب پیدا کوی او په هغے کښې تخلف نهٔ راځی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوْا
اے ایمان والو ! کله چه مخامخ شویٔ تاسو د یوے ډلے د کافرانو سره نو کلك شیٔ
وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ
او یادویٔ الله تعالیٰ لره ډیر دے دپاره چه تاسو کامیاب شیٔ۔ او تابعداری کویٔ د الله
وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا
او د رسول د هغهٔ او جګړے مهٔ کویٔ (په خپل مینځ کښې) نو کمزوری به شیٔ
وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٤٦﴾
او لاړه به شی دبدبه ستاسو او صبر کویٔ یقیناً الله تعالیٰ ملګرے د صبرناکو دے۔

جنګی اهم قوانین

تفسیر : پدے لاندینی درے آیتونو کښې الله تعالیٰ مسلمانانو ته دیو څو اهمو جنګی قوانینو تعلیمات ورکړیدی چه څه ایجابی او څه عدمی دی، دا کول پکار دی او دا نهٔ دی کول پکار، دے دپاره چه کافرانو او مشرکانو سره په جنګ کښې دوی ته فتح او کامیابی او د الله تعالیٰ مدد حاصل شی :

کله چه د جنګ په میدان کښې مسلمانان د کافرانو سره مخامخ شی نو د صبر او استقامت نه به کار اخلی، او د دشمن مخے ته به د سختئے ګتے په شان ودریږی، ځکه چه بزدلی او تختیدل او د دشمن مخے ته جزع فزع کول د ښکاره شکست سبب وی۔

په صحيحينو کښې د عبد الله بن ابي اوفي ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د يو جنګ په موقعه مسلمانانو ته خطاب وکړو وے فرمايل : [أَيُّهَا النَّاسُ ! لَاتَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللَّهَ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوْا وَاعْلَمُوْا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ]

(بخاري : ٢٩٦٦) مسلم : (٤٦٤٠)

((اے خلقو ! د دشمن د ملاقات ارمان مهٔ کوئ، او د الله نه عافيت غواړئ، دارنګه کله چه دشمنانو سره ملاؤ شوئ نو د صبر نه کار اخلئ او پو هه شئ چه جنت د تورو د سورو لاندے دے))۔

٢- وَاذْكُرُوا اللّٰهَ : په ميدان جنګ کښې او د جنګ په حالت کښې الله تعالىٰ ډير يادول او د هغه د ياد نه هيڅ کله نهٔ غافل کيدل۔ ځکه چه د الله تعالىٰ د ذکر په برکت سره د الله رحمت نازليږي، مصيبتونه پورته کيږي، زړونه مضبوطيږي، او فتح او کاميابي د مسلمانانو قدمونو ته راځي۔ او الله تعالىٰ په سورة رعد آيت (٢٨) کښې فرمايلي دي : ﴿ أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ چه (د الله په ياد سره زړونو ته سکون ملاويږي)۔ او مجاهد ته د جنګ په ميدان کښې د ټولو نه زيات د زړهٔ اطمينان ته ډير ضرورت وي۔

او دا ذکر به په پټه سره وي ځکه چه صحابه کرامؓ فرمائي : مونږ به په درے وختونو کښې په جهر سره ذکر بد ګڼړلو يو د جنازے په وخت، د قتال په وخت او د عام ذکر اذکار کولو په وخت۔

٣- وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ: په هر حال کښې به د اسلامي لښکر نظر په الله او د هغه د رسول په اطاعت وي چه ددے لازمي نتيجه به دا وي چه مجاهدين به د خپل قائد اطاعت ضروري ګڼړي، نو پدے سره به الله تعالىٰ مدد راليږي او که اطاعت د الله او رسول پريخودے شي نو د الله مدد ختميږي۔

٤- وَلَا تَنَازَعُوْا: په مسلمانانو کښې دِے اختلاف رانشي ورنه د مسلمانانو قوت به تس نس شي او دشمن به غالبه شي۔ تنازع دے ته وائي چه مجاهدين د يو بل خپے وهي او اختلافات جوړوي، او که واړه واړه ګروپونه د حملے دپاره ليږي او زړونه د ټولو يو وي نو دا تفرقه او تنازع نهٔ ده۔

فَتَفْشَلُوْا : يعني ددے په سبب به په تاسو کښې بزدلي راشي۔

وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ : ❁ قتادهٔ او ابن زيدٌ وائي : ددے نه مراد يا بادِ صبا دے چه د صبا په وخت به د مدد يو هواء رالوزي نو هغه به درنه الله ختمه کړي لکه رسول الله ﷺ فرمائي :

[نُصِرتُ بِالصَّبَا] بخاری ومسلم : رقم : (۹۰۰) ما سره د بادِ صبا په وجه مدد شویدے۔ دا د رسول الله ﷺ معجزه وه۔ (بغویؒ) ❁ مګر ظاهر دا ده چه دلته د ریح نه مراد (اَلنُّصرَةُ وَالْقُوَّةُ وَالْجُرأَةُ) مدد او طاقت او بهادری ختمیدل دی۔ (مجاهدؒ، سُدیؒ)

لکه د یو ګاړی د ټائر نه چه هوا ووځی بیا ګاړے نشی چلیدے۔ ❁ یا د ریح نه مراد رعب دے یعنی د مسلمانانو په کافرانو باندے یو رعب وی هغه به ختم شی۔

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا
او مهٔ کیږئ په شان د هغه کسانو چه وتلی وو د کورونو خپلو نه په تکبر
وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ ؕ وَاللهُ بِمَا
او په ځان خودنه سره خلقو ته او منع کوی خلق د لارے د الله نه او الله په هغه عملونو
يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾
چه دوی ئے کوی راګیرونکے دے۔

تفسیر : ۵- مجاهد چه کله قتال ته ځی نو ریاکاری پکښ پیدا کیدے شی، کله داسے حال ښکاره کوی چه زهٔ جنګ ته روان یم، نو الله فرمائی چه د مجاهدینو مقصد دِے صرف د الله تعالیٰ رضا وی، بل دنیاوی کوم مقصد مثلاً ریاکاری، یا د بهادرئ خودل وغیره نهٔ وی، ورنه د الله تائید به نهٔ حاصلیږی۔ لکه چه ابوجهل او نورو د قریشو کافرانو وکړه چه د بدر میدان ته د دوی د رارسیدو نه مخکښ ابوسفیان قاصد راولیږلو او دوی ته ئے ووئیل چه اُوس واپس شئ ځکه زمونږ قافله د مسلمانانو د مقابلے نه رابهر شویده۔ نو دوی انکار وکړو او وے وئیل چه مونږ به بدر پورے ضرور ځو، هلته به پړاؤ اچوو، ښه غوښے به خورو، او شراب به څکو، او د ګډا او خوشحالئ محفلونه به جوړوو دے دپاره چه د عربو خلقو ته زمونږ د شان او شوکت پته ولګی او همیشه دپاره زمونږ رعب د هغوی په زړونو کښ کینی۔ نو دوی همدغسے وکړل او نتیجه دا راووتله چه د مسلمانانو او د ملائکو د لاسونو نه دوی ته د مرګ تریخ جام وڅکلے شو، او د دوی میندو او خویندو په دوی ژړا ګانے وکړے۔ نو په دے آیت کښ ابوجهل او د هغه ملګرو طرف ته اشاره ده۔

بَطَرًا : زجاجؒ وائی : اَلطُّغيَانُ فِي النِّعمَةِ وَتَركُ شُكرِهَا ۔ یعنی په نعمت کښ سرکشی کول

او د هغې شكر نۀ كول، دا ئې لغوى معنىٰ ده.
علماء وائي : [فَاِنَّ النِّعْمَةَ اِذَا تَفَاخَرَ بِهَا الرَّجُلُ وَاَنْفَقَ ذٰلِكَ فِيْ عِصْيَانِ الرَّبِّ فَذٰلِكَ هُوَ الْبَطَرُ]. يو بنده ته الله تعالىٰ يو نعمت وركړو او هغه پرے فخر شروع كړو او هغه ئې د خپل رب په نافرمانئ كښې ولګولو دے ته بطر وائي. او پدے كښې بيا د تكبر معنىٰ هم وى لكه حديث كښې د تكبر په تعريف كښې راغلى دى (بَطَرُ الْحَقِّ) حق له ديكه وركول دى.
وَرِئَآءَ النَّاسِ : رياء اِبْطَانُ الْمَعْصِيَّةِ (وَالْقَبِيْحِ) وَاِظْهَارُ الطَّاعَةِ (وَالْجَمِيْلِ) ګناه او قبيح كار پټ ساتل او طاعت او ښائسته كار ښكاره كول دى. (زجاج- بغوىّ) لكه مشركينو عربو ته خپله بهادرى او د دشمن نه بدله اخستل ښكاره كول، او مقصد ئې پدے كښې صد عن سبيل الله وو. لكه دا د ټولو كافرو طريقه ده چه فساد او شر او شيطان توب په دنيا كښې عام كول غواړى. كله چه قريش ميدان ته راغلل نو رسول الله ﷺ داسے دعا وكړه : [اَللّٰهُمَّ هٰذِهٖ قُرَيْشٌ قَدْ اَقْبَلَتْ بِخُيَلَائِهَا وَفَخْرِهَا تُجَادِلُكَ وَتُكَذِّبُ رَسُوْلَكَ، اَللّٰهُمَّ فَنَصْرَكَ الَّذِىْ وَعَدْتَّنِىْ]
اے الله ! دا قريش دى چه په خپل تكبر او فخر سره رامخامخ شو، چه تاسره جګړه كوى او ستا د رسول تكذيب كوى نو اے الله ! ما سره هغه مدد وكړه چه تا ما سره د هغې وعده كړيده. (بغوىّ) و قريب ورد فى مسلم :٤٦٨٧) نو مؤمنان به تكبر نۀ كوى او د الله تعالىٰ د دين د ترقئ د خاطره او د هغه د رضا د حاصلولو دپاره به جهاد ته وځى.

وَاِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا
او كله چه ښائسته ښكاره كړل دوى ته شيطان عملونه د دوى او وے وئيل نشته
غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّىْ جَارٌ لَّكُمْ ج فَلَمَّا
هيڅوك غلبه كونكے په تاسو نن ورځ د خلقو نه او يقيناً زۀ امدادى يم ستاسو نو هركله
تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّىْ بَرِىْٓءٌ مِّنْكُمْ
چه يو بل وليدل دواړو ډلو نو واوړيدو په پوندو خپلو او وے ويل يقيناً زۀ جدا يم ستاسو نه
اِنِّىْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّىْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾
يقيناً وينم زۀ هغه شے چه تاسو ئې نۀ وينئ، يقيناً زۀ يريږم د الله نه او الله سخت عذاب والا دے.

تفسير : شيطان د قريشو مشركانو په زړۀ او دماغو كښې دا خبره كينوله چه ستاسو

اراده ډيره ښه ده، ځکه چه پدے طريقه د محمد او د هغه د ملګرو ملا ماتيږي او يقين وکړئ چه نن به تاسو غالبه کيږئ او محمد او د هغه ملګرو ته به په تيخته سره ځای هم نهٔ ملاويږي، او زهٔ ستاسو مُعِين او مددګار يم، قريش کله چه يو ځای ته راورسيدل نو په زړونو کښې ئے دا سوچ راغلو چه دلته بنو بکر او بنو مدلج قبيله وسيږي، او دوی زمونږ خلاف دی (ځکه چه دوی پورے ئے مخکښې د يو قتل قرض وو) که مونږ د محمد (ﷺ) سره جنګ شروع کړو نو دوی به رابانديے راشي نو د جرنديے د دوه پلونو ترمينځ به راګير شو نو شيطان ورته د سُراقه بن مالك بن جُعْشُم په شکل راغلو چه دا د بنو مدلجو سردار وو ورته ئے ووئيل چه زمونږ او ستاسو اختلاف شته هغے سره به روستو ګورو، خو اُوس د محمد (ﷺ) سره زمونږ شريکه دشمني ده، نو زهٔ ستاسو ملګرے يم او زما قوم روستو راروان دے هغه به پرے د شا نه حمله کوی هيڅ فکر مهٔ کوئ، نو قريش ئے په دے کار باندے ښه راتيز کړل۔ (الله تعالیٰ دوی د مرګ ځای ته رارَسَول- دوی سره شيطان د هغه په شکل راروان وو لکه دا د شيطان د ګمراه کولو طريقه ده چه کله د انسان شکل اختياروی)

ليکن کله چه دواړه فوجونه د يو بل مخامخ شو او شيطان ملائك د مسلمانانو د مدد دپاره د آسمان نه راکوزيدو کښې وليدل نو په شا وتختيدو او وے وئيل چه زهٔ ستاسو د لوظ د حفاظت نه براء ت ښکاره کوم، زهٔ خو ملائك وينم چه د آسمان نه راکوزيږي چه هغه تاسو نهٔ وينئ، او زهٔ يريږم چه الله تعالیٰ به پدے عذاب کښې ما هم ګرفتار کړي۔ (يعنی ملائك به راپسے راشي او ما به قتل کړي)۔

ابليس د حارث بن هشام په نوم باندے يو مشرك له لاس ورکړے وو، نو د هغه نه ئے لاس راښکلو هغه ورته ووئيل [أَيْنَ يَا سُرَاقَةُ !؟] کوم خوا روان شوے اے سراقه ! ؟ آيا تا نهٔ وو وئيلي چه زهٔ تاسو له پناهي درکوم؟۔ نو حارث بن هشام د هغه پورے ونختو چه نشے تلے نو ابليس هغه له په سينه کښې داسے ګوزار ورکړو چه هغه بيهوشه راپريوتو، نو دهٔ ته ووئيل شو چه خوار شے اے سراقه ! آيا پدے سخت حالت کښې تهٔ مونږ پريدے او زمونږ نه جدا کيږے؟ هغه ووئيل : زهٔ تاسو نه بيزاره يم، زهٔ هغه څه وينم چه تاسو ئے نهٔ وينئ۔

بيا دا د الله تعالیٰ دشمن لاړو ځان ئے غائب کړو او په درياب کښې ئے ځان غوپه کړو۔ (روستو زمانه کښې چا سراقه ته ووئيل چه آيا تهٔ بدر ته راغلے وے ؟ هغه ووئيل زهٔ خبر هم نهٔ يم)۔

د سُراقه په تيخته ليدلو سره ابو جهل ويريدو چه چرته د قريشو په لښکر کښې افراتفری

واقع نشي پدے وجه فوراً مخکښ شو او وے وئيل چه سراقه د محمد او د هغه د ملګرو سره ملاؤ شوے وو پدے وجه مونږ له دهوکه راکولو دپاره تيختته کوي۔ (دا بعينه فرعوني خبره وه) بيائے ووئيل په لات او عزىٰ مے قسم دے! مونږ به محمد او د هغه ملګري په پړو تړو او ځان سره به ئے بوځو، پدے وجه دوي مۀ وژنئ بلکه دوي ژوندي راونيسئ۔

وَإِذْ زَيَّنَ: دا تزيين په طريقه د وسوسه هم وو لکه حسن بصريؒ او اصمؒ وئيلي دي چه شيطان بغير د انسان د شکل اختيارولو نه د کافرانو په زړونو کښ وسوسه اچولے وه۔ مګر ظاهر دا ده چه دواړه کارونه ئے کړي وو، د هر انسان سره خپل خپل شيطان وسوسه هم اچولے وه او بيا د سراقه په شکل ابليس هم راغلے وو۔

جَارٌ لَّكُمْ: يعني زۀ ستاسو ګاونډي (يعني مددګار) يم، يا پناهي درکونکے يم۔

إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ: **سوال**: آيا شيطان د الله نه په يره کولو سره مسلمان شو؟

جواب دا دے چه دا خوف طبعي دے چه انسان د ظاهري اسبابو نه يريږي چه دنيا کښ به راباندے د فلاني کار کولو په وجه عذاب راشي، او دا يره مطلوب نۀ ده، بلکه شرعي يره مطلوب ده او هغه دا چه انسان داسے يره وکړي چه بيا د الله تعالىٰ نافرماني پريدي۔

مفسرين وائي: ابليس ددے نه يريدو چه هغه معلوم وخت چه الله تعالىٰ ورسره وعده کړے وه چه دے به پکښ مري هغه چرته د بدر ورځ نۀ وي۔

قتادهؒ وائي: كَذَبَ عَدُوُّ اللّٰهِ وَمَا بِهِ مَخَافَةُ اللّٰهِ ۔ د الله دشمن دروغ وئيلي وو چه زۀ د الله نه يريږم او د الله نه ئے هيڅ يره نۀ وه ليکن هغه پدے پوهه وو چه زما ددے خلکو د مقابلے طاقت نشته، او دا د الله د دشمن عادت دے چه انسان په سخت وخت کښ پريدي۔ (ابن کثيرؒ)

ظاهر دا ده چه دائے حقيقةً وئيلي وو چه زۀ د الله نه يريږم۔ يعني د خپل مرګ نه يريدو۔

اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ
کله چه ووئيل منافقانو او هغه کسانو چه په زړونو د هغوي کښ مرض دے،
غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ
دهوکه کړيدي دے کسانو (مؤمنانو) لره دين د دوي، او څوک چه ځان سپاري په الله
فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٩﴾
نو يقيناً الله زورور حکمتونو والا دے۔

تفسیر: په مکه کښې څه کسانو په شك سره ایمان راوړے وو خو خپلوانو د هجرت نه منع کړی وو، نو کله چه مشرکان بدر ته راوتل نو دوی ئې هم ځان سره په زوره راویستل نو دوی چه کله د مسلمانانو کموالے وکتلو نو شك ئې زیات شو، او مرتد شو او دا ئې ووئیل چه دا خلك خو دین په دهوکه کښې اچولی دی (چه د دومره لوی لښکر مقابله کوی او په دوی ځانونه وژنی) نو دوی ټول ووژل شو چه نومونه ئې دا دی: (قَیس بن الولید بن المغیره المخزومی، ابوقیس بن الفاکه بن المغیرة المخزومی، حارث بن زَمَعَة بن الاسود بن المطلب، علی بن اُمَیة بن خَلَف الجمحی، اَلْعَاص بن مُنَبِه بن الحَجّاج) (البغوی)

د ابن عباس ﷺ نه روایت شویدے چه کله دواړه فوجونه یو بل ته نزدے شو او دواړو ته الله تعالیٰ هریو په نظر کښې کم وخودل نو مشرکانو ووئیل چه دے مسلمانانو لره خپل دین په دهوکه کښې اچولی دی، پدے وجه د دومره کم شمار کیدو باوجود پدے کچه خیال کښې مبتلا شویدی چه دوی مونږ ته شکست راکوی۔

یوه بله رائے دا ده چه کله مسلمانان د مدینے نه بدر طرف ته راروان شو نو د هغوی شمیر ډیر کم وو او د هغوی سره هیڅ د جنګ سامان هم نهٔ وو، نو منافقان او یهودیان د دوی سره د جنګ کیدو نه خبر شو نو دغه خبره ئې وکړه چه اُوس به ئې ټول ختم کړی۔ مګر مشهوره دا ده چه دا د مکے منافقان مراد دی۔

مَّرَضٌ: یعنی شك دے۔ یعنی منافقان هم دی او شکیان هم۔ یا (وَالَّذِینَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ) دا عطف تفسیر دے د منافقانو دپاره۔

غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ: دهوکه د دوی داسے وه چه دوی سره الله وعدے د مدد کریدی او هغه به ورسره پوره نشی څکه چه دومره کم چرته د زرو کسانو مقابله کولے شی۔ مطلب ئې دا وو چه د الله وعدے غلطے دی۔ (العیاذ بالله)

وَمَنْ یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ: الله تعالیٰ د دوی جواب ورکړو چه څوك په الله بهروسه کوی، په هغه باندې هیڅوك غالب نشی راتلے، او نهٔ هغه لره څوك ذلیله او رسوا کولے شی۔

وَلَوْ تَرٰٓی اِذْ یَتَوَفَّی الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لا الْمَلٰٓئِکَةُ
او که چرته وینے تهٔ هغه وخت چه ساه اخلی د هغه کسانو نه چه کافران دی ملائك

يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ج وَذُوْقُوْا
(نو ناشنا حالت به وينې) وهي به مخونه د دوی او شاګانې د دوی او (ورته وائي به) وڅکئ
عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٥٠﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ
عذاب د اُور سوزونکی۔ دا سزا په سبب د هغې عملونو ده چه مخکښ کړيدی
أَيْدِيْكُمْ وَأَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٥١﴾
لاسونو ستاسو او يقيناً نۀ دے الله تعالىٰ هيڅ ظلم کونکے په بندګانو۔

تفسير : ۱- ددے کسانو نه مراد دغه قريش کافران دی چه د بدر په ميدان کښ د مسلمانانو په لاسونو وژل کيدل نو الله ورته ملائك د مرګ راواستول او په وخت د مرګ کښ ئے دغه سزا ورکړه چه مخونه او شاګانې (کناتی) ئے ورله د اُور په چابکونو وهل (سعيد بن جبيرؒ ومجاهدؒ) او په هر جهاد کښ داسے کار کيږی چه دلته د مجاهد په لاس ووهل شی او بيا چه کله ملائك ترے روح اخلی نو هغه ئے هم پرے دپاسه ووهی۔

۲- د عبد الله بن عباسؓ نه نقل دی چه ددے نه مراد د قريشو هغه کافران دی چه په بدر ميدان کښ د مسلمانانو په خلاف صفونو کښ ودريدلی وو نو کله چه به مشرکان مسلمانانو ته رامخکښ شو، ملائکو به د هغوی مخونه په تورو ووهل، او کله چه به ئے شا راواړوله نو ملائکو به د شاتنه ووهل۔ او د توفی نه مراد قتل دے۔ او د مخونو او شاګانو نه مراد تول بدنونه دی۔ (بغویؒ)

۳- او خينې مفسرينو وئيلی دی چه دلته د کافرانو نه مراد هغه دی چه په ميدان کښ وژلی شوی نۀ وو، او په تيخته مکے ته رسيدلو کښ کامياب شوی وو۔ يعنی کله چه د دوی مرګ راغلو نو ملائکو د دوی په مخونو او شاګانو کوړے راوړلے۔

٤- او يوه رائے دا ده چه داسے به د قيامت په ورځ وی کله چه به کافران جهنم طرف ته راخکلے شی۔ (بغویؒ) دا او اول قول ظاهر دے۔

حافظ ابن کثيرؒ وائی چه اګرکه ددے آيت تعلق د بدر د واقعے سره دے ليکن دا حکم ټولو کافرانو ته شامل دے، لکه چه الله په سورة الانعام آيت (۹۳) کښ فرمايلی دی : ﴿وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُوْا أَيْدِيْهِمْ﴾ ملائك به د خپل رب په حکم سره دوی وهی)۔ او الله تعالىٰ به دوی ته وائی چه دا ستاسو د عملونو نتيجه ده۔

وَلَوْ تَرٰى : دا خطاب هر مخاطب ته دے. او ددے جواب پټ دے. [لَرَأَيْتَ أَمْرًا هَائِلًا] يعنى كه تا دا حال ليدلے وے چه دوى سره څه كيږى، نو تا به ضرور يو يره ونكے حالت ليدلے وے، په تا به ورسره هيبت راغلے وے.

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ
حال د دوى په شان د حال د فرعونيانو دے او د هغه كسانو چه مخكښ دى د دوى نه
كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللهِ فَأَخَذَهُمُ اللهُ بِذُنُوْبِهِمْ اِنَّ
كفرئے كړے وو په آيتونو د الله، نو راونيول دوى لره الله په سبب د ګناهونو د دوى يقيناً
اللهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّ
الله تعالىٰ قوت والا سخت عذاب وركونكے دے. دا عذاب پدے وجه دے چه يقيناً
اللهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى
الله تعالىٰ نۀ دے بدلونكے نعمت لره چه كړے وى هغه په يو قوم باندے تردے
يُغَيِّرُوْا مَا بِأَنْفُسِهِمْ وَأَنَّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٣﴾
چه بدل كړى دوى هغه څه چه په زړونو د دوى كښ دى او يقيناً الله آوريدونكے پوهه دے

تفسير : الله تعالىٰ د بدر په غزا كښ د شريك كيدونكو كافرانو بد انجام بيانولو نه روستو اُوس دلته دا بيانوى چه د كافرو قومونو سره الله تعالىٰ هميشه او په هر دور كښ همدا سلوك كړيدے، لكه څنګه چه ددے كافرانو انجام بد شو، دغه شان د دوى نه مخكښ د فرعونيانو او د نورو كافرانو انجام بد شوے وو.

كَدَأْبِ : أَىْ حَالُهُمْ كَحَالِ آلِ فِرْعَوْنَ فِى الضَّرْبِ وَالْعَذَابِ.

يعنى د دوى حال د فرعونيانو په شان دے په وهلو او عذاب كښ.

ذٰلِكَ : هغه عذاب ته اشاره ده چه په هغے كښ الله تعالىٰ كافران او مشركان قومونه مبتلا كړيدى او د هغے سبب ئے بيان كړيدے چه الله تعالىٰ د يو قوم نه خپل نعمتونه په هغه وخت اخلى چه كله د دوى دينى حالت خراب شى، عقيده ئے خرابه شى او په قول او عمل هر اعتبار سره ددے نعمتونو حقدار نۀ شى لكه چه الله تعالىٰ په سورة رعد آيت (۱۱) كښ فرمايلى دى : ﴿ اِنَّ اللهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ﴾ چه الله تعالىٰ د يو

قوم حالت تر هغه وخت پورې نۀ بدلوی چه ترڅو پورې هغوی خپله خپل حالت بدل نکړی) یعنی کله چه یو قوم په ګناه کښې اخته کیږی نو الله تعالیٰ د هغوی نه خپل نعمتونه اخلی۔

او دا دفع د وَهم هم ده چه دا خلك په مزو کښې وو، او الله تعالیٰ په عذابونو کښې ګرفتار کړل دا ولې؟ نو الله دا وَهم ختموی چه د الله قانون دا دے چه هغه چا ته نعمت ورکړی نو بیا ترې زر بلا وجه نۀ اخلی بلکه دا انسانان په خپل ځان باندې خپله دا د نعمت حالت بدل کړی، هغه دا چه ناشکری شروع کړی نو الله تعالیٰ د ناشکرئ سره د نعمت اخستل او مصیبت راتلل لیکلی دی۔

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ط
حال د دوی په شان د حال د فرعونیانو دے او د هغه کسانو چه مخکښې وو د دوی نه
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ
دروغژن ئے ګڼرلی وو آیتونه د رب خپل نو هلاك كړل مونږ دوی لره
بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾
په سبب د ګناهونو د دوی او غرق کړل مونږ فرعونیان او دا ټول وو ظالمان۔

تفسیر: ځینی مفسرین دا د مخکښې آیت تفصیل ګرځوی مګر ظاهر دا ده چه دواړو کښې فرق دے، مخکښې تشبیه په ضرب او عذاب کښې ده او دلته تشبیه په تغییر (بدلولو) د نعمت کښې ده۔ یا تشبیه په تکذیب کښې ده۔

یعنی لکه څنګه چه فرعونیان او د هغوی نه مخکنو کافرانو د خپل رب د آیتونو تکذیب وکړو او د هغه ورکړې شوی نعمتونه ئے غلط استعمال کړل او ګناهونه ئے شروع کړل نو الله د هغوی نه هغه نعمتونه راخکل او هغوی ئے هلاك كړل او فرعونیان ئے په دریاب کښې ډوب کړل۔

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
یقیناً بد ترین د ژنده سرو نه په نیز د الله تعالیٰ هغه کسان دی چه کفر ئے کړیدے

فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۵﴾ اَلَّذِيۡنَ عٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنۡقُضُوۡنَ
نو دوی ایمان نهٔ راوړی۔ هغه کسان دی چه لوظ کړے تا د دوی سره بیا ماتوی دوی
عَهۡدَهُمۡ فِیۡ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمۡ لَا يَتَّقُوۡنَ ﴿۵۶﴾
لوظ خپل په هر ځل کښې او دوی ځان نهٔ ساتی (د ګناهونونه)

تفسیر : پدے دوه آیتونو کښې الله تعالیٰ د کافرانو په قتال باندے تیزی ورکوی په ذکر کولو د بدو صفاتو د هغوی سره۔

شَرَّ الدَّوَآبِّ : دواب انسانان او حیواناتو تهولو ته وائی، مګر اکثر استعمال ئے د حیواناتو دپاره کیږی نو د (شَرَّ النَّاسِ) په ځای ئے شَرَّ الدَّوَآب ووئیل، پدے کښې اشاره ده چه ددے خلکو د انسانیت سره هیڅ تعلق نشته بلکه د کفر په وجه د ځناورو نه هم ناکاره دی۔

كَفَرُوۡا : دائے بد صفت دے۔

فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ : د ایمان اراده هم نهٔ لری نودوی د مار او لړم نه هم زیات ناکاره دی، آیا د مار او لړم وژل پکار نهٔ دی؟!۔

ثُمَّ يَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَهُمۡ : یعنی دوی همیشه وعده ماتونکی دی۔ د مشرکانو سره وعده وه چه مونږ سره جنګ مهٔ کوئ، مونږ به ئے تاسو سره نهٔ کوو لیکن هغوی به جنګ کولو، دارنګه په صلح حدیبیه کښې د مشرکانو سره وعده وشوه لیکن هغوی وعده ماته کړه، د بنو قریظه، د بنو نضیرو او بنو قینقاعو سره وعدے وشوے هغوی ماتے کړے۔

وَّهُمۡ لَا يَتَّقُوۡنَ: یعنی د وعدے د ماتولو نه ځان نهٔ ساتی۔ او د هغے د عواقبو نه نهٔ یریږی۔

فَاِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِی الۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِمۡ مَّنۡ
پس که چرته موندهٔ کړے تهٔ دوی په جنګ کښې نو وتروه په سبب د دوی هغه څوک
خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ﴿۵۷﴾
چه روستو دی د دوی نه، دے دپاره چه دوی (یعنی روستو خلق) نصیحت قبول کړی۔
وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنۡ قَوۡمٍ خِيَانَةً فَانۢبِذۡ اِلَيۡهِمۡ
او که چرته یریږے تهٔ د یو قوم نه د لوظ ماتولو نو وغورزوه دوی ته (د لوظ ختمول)

عَلٰى سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

په برابرئ- (يعني چه دواړه برابر شئ)- يقيناً الله مينه نۀ کوی د خيانتګرو سره-

تفسير: د دغه مخکنو بدو صفاتو په وجه اُوس د هغوی په جنګ باندے تيزی ده-
فَشَرِّدْبِهِمْ : تشريد تره ولو او يره ولو ته وائی او (مَنْ خَلْفَهُمْ) نه مراد اولاد او د دوی تابعدار دی-

يعنی دوی ته په جنګ کښ داسے وهل ورکړه چه د هغے په وجه ددوی نه روستو د دوی په ملګرو او د دوی په نسلونو کښ يره خوره شی ترديے چه هغوی ستا طرفته پديے يره سره مخ راوانۀ ړوی چه هسے نۀ چه زمونږ به هم هغه حشر شی کوم چه د دوی د مشرانو شوے وو-

يا ددے نه مراد دا دے چه که دوی په جنګ کښ ونيولے شی نو دوی ته ډِيے سخت عذاب ورکړے شی، دے دپاره چه د نورو دپاره د عبرت نخه جوړ شی چه آينده کښ وعده خلافی ونکړی-

د سعيد بن جبيرؒ او مجاهدؒ نه روايت شويدے چه دا آيتونه د مدينے د يهوديانو خاصکر د بنو قريظه په باره کښ نازل شوی وو- او چونکه په تير شوو آيتونو کښ د اسلامی دعوت دشمنانو (يعنی د قريشو کافرانو) ذکر وو پدے وجه دلته ضمناً بنو قريظه ذکر شو- او الله تعالىٰ دوی بدترين ځناور وګنړل، او د هغوی په باره کښ ئے خبر ورکړو چه دوی هيڅ کله هم ايمان نۀ راوړی- همدا وجه ده چه کله د دوی د قلعه ګانو محاصره کيدو نه روستو دوی ونيول شو نو صحابه کرامو د دوی نه يو يو ته ووئيل چه اسلام قبول کړه، دے دپاره چه قتل نکړے شئ، ليکن هغوی قتل کيدل د اسلام په راوړو باندے غوره کړل- (لکه زمونږ په کتاب ((سيرتِ رسول)) کښ د زبير بن باطا قصه وګوره)

د دوی دريم خاص صفت دا وو چه دوی کله هم د رسول الله ﷺ سره معاهده کړے نو په هغے باندے قائم نۀ دی پاتے شوی- يو ځل ئے معاهده وکړه چه دوی به د رسول الله ﷺ خلاف جنګ نۀ کوی، او نۀ به د چا د دوی په خلاف مدد کوی، نو په دے باندے قائم پاتے نۀ شو، او د قريشو ئے د وسلے په ذريعه مدد وکړو- او کله چه د دوی دے لوظئ معلومات وشو نو د خپلے غلطئ اقرار ئے وکړو او عذر ئے پيش کړو او دوباره ئے لوظ تازه کړو، ليکن بيا ئے د غزوۀ احزاب په موقعه بے لوظی وکړه او د دوی يو سردار کعب بن الاشرف مکے ته

لاړو او د قریشو کافران ئے د مسلمانانو په خلاف د جنګ دپاره تیار کړل۔

لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ: دے دپاره چه روستنی خلك نصیحت او عبرت واخلي۔ لکه صحابه کرامؓ داسے جنګونه وکړل چه ډیره موده پورے کافران د مؤمنانو مسلمانانو نه یریدل او تر اُوسه پورے د کافرانو هغه جنګونه یاد دی پدے وجه د مسلمانانو نه یره کوی۔

پدے کښې اشاره ده چه د دوی سره د سختئ حکم کول او د دوی وینه تویه کول د دوی د تربیت دپاره دی، او دے دپاره چه د دوی په شان کافران د دوی نه عبرت واخلي، او پدے کښې د جنګ مینه او د دوی د غنیمتونو طمع مقصد نۀ ده۔ او د جنګ په باره کښې دا ارشاد د تهولو قائدینو ترمینځ پدے زمانه کښې هم اتفاقی دے، لیکن د هغوی پدے سره انتقام اخستل او سینه یخول او بندګان ذلیله کول و د هغوی د غنیمتونو او زمکونه فائدے اخستل مقصد وی، نۀ نصیحت او تربیت کول۔ (المنار ۱۰/٤٤)

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً:

دا د جنګ د قوانینو او اصولو نه یو بل اَهم قانون دے چه دیته د نقض العهد نه د یرے قانون وائي۔ **صورت** ئے دا دے چه د یو قوم سره معاهده شویده چه زمونږ او ستاسو به جنګ نۀ وی (د څه مصلحت په بنا باندے) نو مسلمانان غواړی چه د نورو کافرانو سره جنګونه کوی مګر زړه کښې ئے دا خطره ده چه دا کافران راته په عین موقعه کښې وعده ماته نکړی او د دوی نه څه نا څه نښے د وعده خلافئ ښکاره کیږی، نو ددے علاج دا دے چه دوی ته به دا اطلاع ورکړے شی چه آینده زمونږ او ستاسو مینځ کښې هیڅ معاهده نشته دے دپاره چه دواړه فریقین خپل ځانونه د یو بل نه په حفاظت کښې ساتی او هیڅ یو فریق په ناخبرئ او غلطئ کښې ونۀ وهلے شی۔ نو که خبر ورکړے شو او بیا پرے مسلمانان حمله وکړی نو دا به وعده ماتول نۀ وی، دا صورت په هغه وخت کښې دے چه د دشمن نه لا خیانت ښکاره شوے نۀ دے، لیکن خطره د خیانت وی او که خیانت ترے ښکاره شو مثلًا ځینی مسلمانانو ته ئے تکلیف ورکړو، نو بیا د خبر ورکولو نه بغیر هم پرے حمله جائز ده لکه څنګه چه رسول الله ﷺ په بنو نضیرو باندے حمله کړے وه۔ او دغه شان فتح د مکه هم پدے طریقه وشوه، چه قریشو د خزاعه قبیلے یو تن قتل کړو کوم چه د رسول الله ﷺ حلفاء وو نو په هغے سره دوی د خپلے بے لوظئ اعلان وکړو، نو رسول الله ﷺ د مسلمانانو فوج واخستو او د هغوی د ذلیله کولو دپاره روان شو او قریشو کافرانو ته د دوی د راتللو معلومات په هغه وخت وشو چه کله دوی (مَرّ الظهران) ته ورسیدل کوم چه د مکے نه په

یو خو میله فاصله باندے پروت دے۔

فَانۢبِذۡ اِلَیۡهِمۡ : اَیۡ عَهۡدَهُمۡ۔ یعنی گوز ار کړه هغوی ته وعده د هغوی۔

عَلٰی سَوَآءٍ : اَیۡ عَلٰی حَالٍ تَسۡتَوِیۡ اَنۡتَ وَهُمۡ فِی الۡعِلۡمِ بِهٖ ۔ په داسے حال کښې چه ته او هغوی په هغے باندے په پوهه کښې برابر یئ۔ یعنی دواړه پوهه شی چه لوظ مات دے۔

لَا یُحِبُّ الۡخَآئِنِیۡنَ : دا لوظ ماتول که د مسلمانانو د طرفه وی، نو دا هم خیانت دے چه الله تعالیٰ ئے نهٔ خوښوی۔ د سیدنا معاویه رضی الله عنه د رومیانو سره معاهده وه، کله چه د معاهدے موده ختمیدو ته نزدے شوه، نو سیدنا معاویه رضی الله عنه د روم زمکے ته فوجونه ورننزدے کول شروع کړل، مقصد ئے دا وو چه د مودے په ختمیدو به سمدست په رومیانو حمله وکړی، نو پدے کښې یو صحابی عمرو بن عبسه رضی الله عنه په اس باندے سور راغے او نعرے وهلے [اَللّٰهُ اَکۡبَرُ، اَللّٰهُ اَکۡبَرُ وَفَاءٌ لَا غَدۡرٌ]۔ دا خو وفاداری نهٔ ده بلکه غدر دے،

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی [مَنۡ کَانَ بَیۡنَهٗ وَبَیۡنَ قَوۡمٍ عَهۡدٌ فَلَا یَحُلَّنَّ عُقۡدَةً وَلَا یَشُدُّهَا حَتّٰی یَنۡقَضِیَ اَمَدُهَا اَوۡ یَنۡبِذۡ اِلَیۡهِمۡ عَلٰی سَوَاءٍ]

د چا چه د یو قوم سره صلح وی نو هغه به هیڅ غوټه نهٔ کولاوه وی او نهٔ به ئے مضبوطوی تردے چه موده ختمه شی یا هغوی ته د لوظ ماتولو خبر ورکړی)۔ سیدنا معاویه رضی الله عنه ته چه دا خبر ورسیدو نو هغه فوجونه راواپس کړل۔

(مسند احمد : ١٧٠٥٦، والطیالسی (١٢٥١) وهو حدیث صحیح بشاهده)

وَلَا یَحۡسَبَنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا سَبَقُوۡا ؕ
او گمان دِے نکوی هغه کسان چه کافران دی چه مخکښې به شی (خلاص به شی) دوی
اِنَّهُمۡ لَا یُعۡجِزُوۡنَ ﴿۵۹﴾ وَاَعِدُّوۡا لَهُمۡ
(د الله د عذاب نه) یقیناً دوی نهٔ شی عاجز کولے الله لره۔ او تیار کړئ د دوی د مقابلے دپاره
مَّا اسۡتَطَعۡتُمۡ مِّنۡ قُوَّةٍ وَّمِنۡ رِّبَاطِ الۡخَیۡلِ تُرۡهِبُوۡنَ
څو مره چه طاقت لرئ تاسو د قوتونو نه او د ساتنے د اسونو نه چه یره وئ تاسو
بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّکُمۡ وَاٰخَرِیۡنَ مِنۡ دُوۡنِهِمۡ
په هغے سره دشمن د الله او دشمنان ستاسو او نور کسان سِویٰ د هغوی نه (یعنی منافقان)

لَا تَعۡلَمُوۡنَهُمۡ اَللّٰهُ یَعۡلَمُهُمۡ ؕ وَمَا تُنۡفِقُوۡا

چه نهٔ پیژنئ تاسو هغوی لره، الله تعالیٰ پیژني هغوی لره، او هغه چه خرچ کوئ تاسو

مِنۡ شَیۡءٍ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ یُوَفَّ اِلَیۡکُمۡ وَاَنۡتُمۡ لَا تُظۡلَمُوۡنَ ﴿۶۰﴾

څه شے په لاره د الله کښې نو پوره به درکړے شي تاسو ته او په تاسو به ظلم نشي کیدے۔

تفسیر: پدے آیت کښې الله تعالیٰ کافرانو ته د هغوی د مغلوبه کیدو تخویف ورکوی۔
سَبَقُوۡا: (أَیۡ أَنۡ یَّسۡبِقُوۡا) یعنی چه دوی به د الله نه مخکښې شي۔ د الله نه د مخکښې کیدو مطلب دا دے چه دوی د الله نه منډه کړی او چرته ترے پټ شي او الله پرے خبردار نهٔ وی۔

او پدے کښې د قریشو هغه کافران هم مراد دی چه د بدر د میدان نه په تیخته سره ځان بچ کولو کښې کامیاب شوی وو چه دوی دِے هیچرے دا گمان نهٔ کوی چه دوی به د الله تعالیٰ د رانیولو نه بهر شي، د الله د رانیولو نه څوک وتلے شي، هغه لره څوک عاجز کولے شي؟۔

وَاَعِدُّوۡا لَهُمۡ : اُوس ایمان والو ته وائی چه کافران خو د الله نه خلاصیدے نشي مگر تاسو به داسے نهٔ وایئ چه بس کافران به الله تعالیٰ وهي او تاسو به بیغمه ناست یئ نهٔ بلکه د دوی د مقابلے دپاره به تیاری کوئ۔

د قریش کافران چه د بدر په معرکه کښې د ماتے خوړلو نه روستو کله مکے ته ورسیدل نو د دوی په زړونو کښې د مسلمانانو خلاف اُور بَل شوے وو۔ هلته رسیدو سره سمدست دوی د رسول الله ﷺ سره د دوباره جنگ کولو تیاری شروع کړه دے دپاره چه د مسلمانانو نه د خپلو مقتولینو انتقام واخلي۔ پدے وجه الله تعالیٰ د موقعے په مناسبت سره مسلمانانو ته تنبیه ورکړه چه د دشمنانو سره د مقابلے دپاره مسلمانانو له په هر حال او هره زمانه کښې پوره جنگي تیاری کول پکار دی۔

د جنگي تیارئ اهمیت

پدے کښې یو قسم باریکه اشاره دے ته هم ده چه په جنگِ بدر کښې مسلمانانو څه جنگي تیاری نهٔ وه کړے، هغه خو د الله خاص انعام وو چه د رسول الله ﷺ د دعاگانو په نتیجه کښې او د دین اسلام په دنیا کښې باقی ساتلو دپاره مسلمانانو ته فتح ورکړه۔ لیکن داسے په هر وخت او هر حال کښې نشي کیدے۔ د فتح او نصرت حاصلولو دپاره د الله تعالیٰ د تائید نه روستو اَهَم شے د زمانے د تقاضے مطابق فوجي طاقت، اسلحه، ټینکونه او د

جنګ جدید ترین اسباب تیارول دي.

الله تعالیٰ پدې آیتِ کریمه کښې مسلمانانو ته صریح حکم کړیدے چه دوی د دین د دشمنانو د مقابلې کولو دپاره پوره جنګي تیاری وکړی، او پدے باره کښې هیڅ کله هم غافل نۀ شي. او ددے لوئی حکمت ئے دا وخودلو چه کله د اسلام دشمنانو ته معلومه شي چه مسلمانان پوره طریقې سره تیار دي، او که د جنګ نمبر راغلو نو دوی به مونږ ختم کړی، نو په هغوی به رعب راځي او په مسلمانانو باندے به د لاس را اُوږدولو نه منع کیږی، او چونکه جنګي تیاری او د جدید ترینې وسلې صنعت (جوړول) بغیر د ډیر مال نه په وجود کښې نشي راتلے، پدے وجه الله تعالیٰ ددے لارے د اخراجاتو نه په انفاق في سبیل الله سره تعبیر وکړو او وے وئیل چه څوك د الله په لاره کښې خرچ کوی نو الله تعالیٰ به د هغے پوره پوره بدله ورکوی.

امام مسلمؒ، ابوداودؒ او ابن ماجهؒ د عقبه بن عامر ﷛ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ په منبر باندے دا آیت ولوستلو او وے فرمایل : [أَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ] (اصل طاقت تیر اندازی (غشی ویشتل) دی، اصل طاقت تیر اندازی ده، اصل طاقت تیز اندازی ده). دا د هغه زمانے تیاری وه. (مسلم : ٥٠٥٥)

امام احمدؒ او اصحاب السنن د عقبه بن عامر ﷛ نه یو بل حدیث روایت کړیدے چه په هغے کښې رسول الله ﷺ وفرمایل : [اِرْمُوْا، وَارْكَبُوْا وَأَنْ تَرْمُوْا خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوْا]

((غشی ولئ او سورلی کوئ، او غشی ویشتل په اس باندے د سوریدو نه غوره دی)).

(مسند احمد : ٤/١٤٤) ترمذی : ١٦٣٧) حدیث حسن بطرقه و شواهده - شعیب)

رسول الله ﷺ پدے حدیث کښې د ((ویشتلو)) الفاظ استعمال کړیدی، چه په هره زمانه کښې په هر هغه وسله صادقیږی چه هغه دشمن طرف ته د سلګونو میلونو په مسافت ویشتلے کیږی او د دشمنانو په صفونو او د هغوی په ښارونو کښې تباهی راولی. پدے وجه مسلمانانو له ددے آیتِ کریمه او د ذکر شوی احادیثو د مخه په جنګي تیاریٔ پوره توجه ورکول پکار دی.

نن صبا مسلمانان د ذلت او مغلوبیت ښکار دے، نو ددے سبب لکه چه د ایمان او عمل کمی ده نو دغه شان دا سبب هم دے چه دوی د وسلے په جوړولو او په جنګي تیاریانو کښې د دنیا د نورو قومونو په مقابله کښې ډیر روستو پاتے شویدی. هر مسلمان ملك د وسلو دپاره د فقیریٔ کنډول راخستے دے او د نورو قومونو پسے منډے وهی، او هغه قومونه دوی ته

صرف پـه دفاعي وسله ورکولو باندے راضي کيږي، ځکه چه د [اَلْکُفْرُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ] مطابق هغوی هیڅ کله نهٔ غواړي چه مسلمان پدے پوزیشن کښې راشي چه دوی د الله او د رسول پـه هغـه دشمـنانو حمله وکړے شي چه هغوی په ډیرو ممالکو کښې په مسلمانانو د ژوند موده تنګه کړیده. فالی الله المشتکیٰ.

علـماء وائـي : کـوم خـلك چـه د جـنګـي تیـاریٔ نـه بغیر جنګ تـه وړاندے کيږي، دا د خـودکشـیٔ مـرادف ده او د جهاد او د ځان شرمول دي، او د اسلام او د جهاد نوم بدنامول دي ځکه چه جهاد د الله تعالیٰ د کلمے او د دین د پورته کولو دپاره کيږي، او هغه بغیر د مناسبے تیـاریٔ نـه نشي کیدے، په جهاد کښې د زخمیانو دارودرمل، هسپتال او خوراکي موادو او د مختلفو وسلو د امداد او د پټیدو ځایونو ته ضرورت راځي. او د اِعداد (تیاریٔ) نه بغیر کار شروع کول داسے دي لکه د خلافت د تیاریٔ نه بغیر د خلافت کارونه شروع کول.

مَّا اسْتَطَعْتُمْ : دا قید په قرآن کریم کښې یو د تقویٰ په باره کښې ذکر شوید ے، او دویم پدے مقام کښې، چه ټول وس او طاقت به د کافرو په خلاف د وسلو تیارولو دپاره لګوئ.

مِّنْ قُوَّةٍ : مـفسـر بیـضاویؒ لیـکـي چـه ددے نـه ټول اسباب د جنګ مراد دي، پدے کښې غشـي ویشتـل، د تـورے چـلـولـو چـل، د ټوپك، داشکے، راکټ لانچر، توپونو، ټینکونو، جهـازونـو چلونه زده کول دا ټول پکښې داخلیږي، رسول الله ﷺ فرمائي : [مَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ، فَإِنَّهَا نِعْمَةٌ كَفَرَهَا] چا چـه د ویشتلو چل زده کړو او بیائے د هغے په پریخودو سره د هغے نه اعراض وکړو نو دا یو نعمت وو چه دهٔ ئے ناشکري وکړه.

(ابو داود : ۲۵۱۵ وصحيح الجامع : ٦١٤٢)

علامه سعديؒ وائي : [كُلُّ مَا تَقْدِرُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْقُوَّةِ الْعَقْلِيَّةِ وَالْبَدَنِيَّةِ وَأَنْوَاعِ الْأَسْلِحَةِ] هر هـغـه شے چـه تـاسو په هغے باندے قادریږئ چه هغه عقلي او بدني قوت دے او قسماقسم وسلے دي. نـو پدے کښې ټول اقسام او علوم د کاریګریٔ داخلیږي لکه میزائیل، ټینکونه، بـمـونـه او جـنګـي جهازونه او د بحري جنګ دپاره آبدوزونه وغیره تیارول. دارنګه د دفاع آلات، خنـدقـونه ویستل، او قلعه ګانے جوړول او هغه رایه او سیاست هم پکښې داخل دے چه پـه هـغـے بانـدے مسلمانان د کافرانو دشمنانو د شر نه بچ کيږي، او د ویشتلو طریقے، بهادري او تدبیر او د لامبو او اسونو چلولو طریقے هم، او هغه علوم چه په هغے سره د دغه څیزونو کارخانے جوړولے شي. (السعدی ۱/۳۲٤) والمنار ۱۰/٥٤)

وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ : یـعـنـي د تـړلـو او ساتلو د آسونو د غزا دپاره. دا په هغه زمانه کښې

خصوصي او په هره زمانه کښ د جهاد ښه ذریعه ده۔ د رباط الخیل نه مراد دا هم دے چه د دشمن په مقابله کښ اسونه په سرحداتو باندے ودرول او ترل۔ نو پدے کښ به اشاره وی چه د مسلمانانو دپاره همیشه داسے لښکر او فوج پکار دے چه د دفاع دپاره تیار وی۔ او دا دواړه (یعنی اسباب تیارول او فوجونه تربیت کول) هغه دوه څیزونه دی چه ټولو جنګی دولتونو پدے باندے زور لګولے دے۔ (المنار)

تُرْهِبُوْنَ : یعنی کافرانو دپاره جنګی قوت تیار کړئ چه هغه د جنګ ټول سامانونه دی او کوم شی ته چه فوج محتاج وی، او د سرحداتو د بند ساتلو پروګرامونه چه په هغے سره تاسو د الله تعالیٰ دشمنان ویروئ، او ستاسو هغه دشمنان چه همیشه ستاسو په ضرر کښ لګیا دی ځکه چه دا خلك د مسلمانانو د وسلے نه یریږی۔

ترهبون : ارهاب : اَلْاِیْقَاعُ فِی الرَّهْبَةِ۔ خوك په یره کښ واقع کولو ته وئیلے شی۔ (المنار) نو کومو مسلمانانو سره چه دغه جنګی پروګرامونه نهٔ وی، کافران پرے په آسانه او جلتیٔ سره زر حمله وکړی او هغه ملك ترے ونیسی۔

﴿ وَ آخَرِیْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ﴾ یعنی ددے ښکاره کافرانو نه سِویٰ نور کسان دی چه تاسو ته نهٔ دی معلوم۔ اَیْ اِذَا وَجَدُوْا ضُعْفَکُمْ قَاتَلُوْکُمْ۔ یعنی کله چه دوی ستاسو ضعف مونده کړی نو جنګ درسره کوی۔ پدے وجه اسباب مخکښ نه تیار کړئ چه دا خلك هم درنه سر پورته نکړی۔ ددے نه مراد هغه منافقان دی چه په مدینه کښ موجود وو لکه چه الله تعالیٰ په سورة توبه آیت (۱۰۱) کښ فرمایلی دی : ﴿ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِیْنَةِ مَرَدُوْا عَلَی النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ﴾ چه په مدینے والو کښ څه داسے خلق دی چه په نفاق کښ انتهاء ته رسیدلی دی، ته هغوی نهٔ پیژنے، زهٔ ئے پیژنم)۔ دا آخری سورت دے او پدے کښ الله خپل نبی او صحابه کرامؓ ته وائی چه تاسو ته منافقان نهٔ دی معلوم، نو دا دلیل دے په نفی د علم غیب باندے سویٰ د الله تعالیٰ نه۔

وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَکَّلْ
او که مائل شی دوی صلحے ته نو مائل شه ته (هم) هغے ته او ځان سپاره
عَلَی اللّٰهِ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿٦١﴾
په الله تعالیٰ یقیناً هغه ښهٔ آوریدونکے ښهٔ پوهه دے۔

تفسیر : د جنګي قوانینو نه یو بل قانون بیانوي چه هغه قانون د صلحے دے۔
د ماقبل سره ئے مناسبت دا دے چه کله مسلمانان پوره جنګي تیاري وکړي نو د هغے فائده به دا وي چه دشمن به مرعوب کیدو سره صلح پیش پیش کوي، نو فرمائي : که داسے موقعه راشي نو د جنګي صلاحیت باوجود مسلمانانو ته د صلح دپاره د تیاریدو نصیحت شویدے۔ ځکه چه کیدے شي چه پدے طریقه هغوي په ایمان راوړو کښ سوچ وکړي او د اسلام په کړئ کښ راداخل شي۔ او مسلمان به د صلح کولو سره په الله تعالیٰ بهروسه کوي دے دپاره چه د کافرانو د مکر او فریب نه الله مسلمانانو لره محفوظ وساتي۔

د صلح شرطونه

علماءِ کرامو د کافرانو سره د صلح د جواز شرطونه لګولي دي، یو دا چه دا صلح به دائمي طور سره نهٔ وي، بلکه څه وخت پورے به وي ځکه چه دائمي صلح د جهاد پریخودو سره مرادف ده، بیا کافران په مسلمانانو کښ کار کوي او هغوي ته موقعه ملاویږي۔
دویم شرط دا دے چه د مسلمانانو حاکم به پدے صلح کښ مصلحت وینی لکه د مسلمانانو طاقت راجمع کول، او دعوت عام کول وغیره۔ او که د کافر فائده وه نو بیا به صلح نهٔ کوي۔
دریم شرط دا دے چه د صلح اول دعوت به مسلمانان نهٔ ورکوي بلکه د کافرو د طرفنه به دعوت وي ځکه پدے سره بیا مسلمانان کمزوري ښکاره کیږي۔
څلورم شرط ځینی علماؤ دا لګولے دے چه مسلمانان به کمزوري وي، که مسلمانان قوي او غالب وي نو صلح کول جائز نهٔ دي، او دوي د سورة محمد آیت (۳۵) نه دلیل نیولے دے، الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا اِلَى السَّلْمِ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ وَاللهُ مَعَكُمْ ﴾ (پس تاسو کمزورتیا مهٔ کوئ چه د صلح غوښتنه کوئ حال دا چه تاسو اُوچت او غالبه یئ، او الله ستاسو سره دے)۔ لیکن راجح اولنئ رایه معلومیږي لکه چه مخکښ بیان شو۔ پداسے صورت کښ به د سورت محمد آیت پدے باندے محمولولے شي چه مسلمانانو ته د غالب ګمان مطابق د کافرانو نه د خیانت یره وي۔ یا دا چه اول دعوت به مسلمانان نهٔ ورکوي والله اعلم۔
او د مال په بدله کښ هم صلح کول جائز دي لکه مسلمانان ووائي چه مونږ ته به دومره دومره مالونه راکوئ نو هله به صلح کوو نو هم جائز ده۔

وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ
او كه غواړي دوى چه دهوكه دركړي تا لره نو يقيناً كافي دے تا لره الله، الله هغه ذات دے
اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ وَاَلَّفَ
چه مضبوط كړيے ئے ته په مدد خپل سره او په ايمان والو سره۔ او مينه ئے راوسته
بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ
په مينځ د زړونو د دوى كښ، كه چرے خرچ كړيے وے تا هغه څه چه په زمكه كښ دي
جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ
ټول، مينه به نهٔ وے راوستے تا په مينځ د زړونو د دوى كښ ليكن الله تعالىٰ مينه راوسته
بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ
په مينځ د دوى كښ يقيناً هغه زورور حكمتونو والا دے۔ اے نبى ! پوره دے تا لره
اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٤﴾
الله تعالىٰ او هغه چا لره چه تابعدار دى ستا د مؤمنانو نه۔

تفسير : يعنى كه كافران د صلح په ذريعه مسلمانانو ته دهوكه وركول غواړى، او په پټه پرے حمله كولو اراده لرى، نو د دوى نه يره مهٔ كوه ځكه د الله وعدهٔ ده چه الله به د مسلمانانو دپاره كافى وى لكه څنګه چه الله تعالىٰ د بدر په ميدان كښ د ملائكو په ذريعه مدد كړيے وو۔

وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا : ددے شرط جزا پټه ده۔ [فَلَا تَخَفْهُمْ] يعنى د دوى نه مهٔ يريږه۔

هُوَ الَّذِيْٓ : پدے كښ د كفايت وجه بيانوى چه الله ستا ځكه كافى دے چه الله هغه ذات دے چه ستا غيبى نصرت ئے هم كړيدے په ملائكو او د زړونو په مضبوطوالى سره او په كافرانو باندے رعب اچولو سره، او ظاهرى مدد ئے د مؤمنانو په وجه وكړو نو دغه شان به بيا هم درسره مدد وكړى۔

وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ : پدے كښ الله تعالىٰ خپل احسان بيانوى او ترغيب وركوى چه ته هم د مسلمانانو ترمينځ د محبت او اُلفت پيدا كولو كوشش وكړه او دا په جهاد كښ

انتهائی کار آمد شے دے، چه کله د مؤمنانو خپل مینځ کښې مینه محبت وی نو د الله مددونه او غلبه به راځی۔ او اُوس د کافرانو دا طریقه ده چه د مسلمانانو مجاهدینو په گروپونو کښې داسې خللك رانښاسی چه هغوی د مجاهدینو په یو بل باندے، دارنګه په علماء او مشرانو باندے بد ګمانی پیدا کړی، او اکثر تکفیر والا په غیر شعوری طور سره د کافرانو آلهٔ کار جوړیږی ځکه چه دوی د مؤمنانو اُلفتونه ختموی۔

نو مؤمن به د ملګرو ترمینځ د یو بل سره اُلفت پیدا کوی او درګزر به کوی او داسے کارونه او خبرے به مینځ ته نهٔ راولی چه هغه الفت او محبت ختموی۔

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ : یعنی الله تعالیٰ د صحابه کرامو د یو بل سره مینه پیدا کړیده چه دا په مال سره نهٔ پیدا کیږی، نو دا په څه سره پیدا شویده؟ (۱) بِالْإِسْلَامِ وَالْإِيمَانِ۔ (۲) وَبِرَحْمَتِهِ ۔ په اسلام او ایمان سره، او دارنګه د الله په خصوصی رحمت سره د دوی ترمینځ محبت پیدا شو۔ لکه څنګه چه د اسلام نه مخکښې د عربو حال وو چه که هر مادی قوت خرچ شوے وے نو د هغوی ترمینځ به الفت او محبت پیدا شوے نهٔ وے، دا خو الله تعالیٰ د خپل دین په ذریعه او په خپل توفیق سره د دوی د زړونو ترمینځ جوړخت راوستو۔

په صحیحینو کښې د عبد الله بن زید بن عاصم ﷺ نه روایت شویدے چه رسول الله ﷺ کله د غزوهٔ حنین د غنیمت د مالونو د تقسیم په وخت هغوی ته تقریر وکړو نو وے فرمایل چه [أَلَمْ أَجِدْكُمْ ضُلَّالًا فَهَدَاكُمُ اللَّهُ بِي؟، وَعَالَةً فَأَغْنَاكُمُ اللَّهُ بِي، وَكُنْتُمْ مُتَفَرِّقِينَ فَأَلَّفَكُمُ اللَّهُ بِي؟] آیا تاسو ګمراه نهٔ وئ نو الله تعالیٰ زما په وجه تاسو ته هدایت وکړو؟ او آیا تاسو محتاج نهٔ وئ نو الله زما په وجه تاسو مالداره کړئ؟، او آیا تاسو په ډلو تقسیم نهٔ وئ نو الله تعالیٰ زما په ذریعه ستاسو ترمینځ الفت پیدا کړو؟ د رسول الله ﷺ د هرے خبرے په جواب کښې به انصارو وئیل: الله او د هغه رسول زیات احسان کونکی دی۔

(بخاری : ۴۳۳۰) مسلم : (۲۴۹۳)

د عربو د یو بل سره جنګونه او حسدونه او تنافس او په معمولی خبره جذباتی کیدل د پخوانه عادت راروان وو، د دوی ترمینځ مینه پیدا کیدل د عادت نه بهر خبره وه مګر الله زړونه بدلوی رابدلوی، د رسول الله ﷺ په وجه ئے د ټولو زړونه د یو تن د زړه په شان کړل۔

زیاتی تشریح ئے په سورة آلعمران کښې ذکر شویده۔

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ: ربط

په مخکښې آیت کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته زیرے ورکړے وو چه که د صلح د

معاهدے نه روستو دشمنان تاسو ته دهوکه درکوی، نو الله تعالیٰ به ستاسو دپاره کافی وی، پدے آیت کښې دا زیرے د ټولو کارونو او د ټولو حالاتو دپاره عام کړے شویدے۔

حافظ ابن القیم رحمه الله د ((زاد المعاد)) په مقدمه کښې ددے آیت تفسیر دا بیان کړیدے چه یواځے الله تعالیٰ ستا دپاره او ستا د تابعدارو مؤمنانو دپاره کافی دے۔ اُوس د الله نه سویٰ تا ته د هیڅ ضرورت نشته۔

(یعنی وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ عطف دے په (كَ) ضمیر باندے او عطف په ضمیر مجرور باندے بغیر د اعادے د حرف جر نه په مذهب مختار سره جائز دے یا دا چه واو په معنیٰ د (مَعَ) دے۔ او حَسْبُكَ په معنیٰ د يَكْفِيْكَ سره دے۔ لکه عرب وائی : (حَسْبُكَ وَزَيْدًا دِرْهَمٌ) ستا او د زید یوه روپۍ کافی ده۔ او دا دواړه صحیح تقدیرونه دی۔

بیا ئے لیکلی دی چه بعض خلقو ددے آیت په تفسیر کښې ډیره خطائی کړیده او وئیلی ئے دی چه الله او مؤمنان ستا دپاره کافی دی، دا معنیٰ سراسر غلطه ده ځکه چه د توکل، تقویٰ او عبادت په شان کفایت (کافی کیدل) هم د الله پورے خاص دی۔ د بل چا دپاره نهٔ استعمالیږی، او هرچه د تائید خبره ده، نو الله د خپل نبی تائید کله خپله کوی او کله ئے د مؤمنانو په ذریعه سره کوی۔

پدے وجه په آیت (٦٢) کښې الله وفرمایل : ﴿فَإِنَّ حَسْبَكَ اللهُ﴾ یعنی ستا دپاره صرف الله تعالیٰ کافی دے۔ دے نه روستو ئے وفرمایل: ﴿هُوَ الَّذِيْ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی الله ستا تائید خپله هم کړے او د مؤمنانو په ذریعه سره ئے هم کړے۔

او همدا وجه ده چه د الله د توحید او توکل والو بندګانو صرف الله خپل ځان دپاره کافی منلے دے۔نو الله په سورة آل عمران آیت(۱۷۳) کښې د هغوی صفت کړے او فرمایلی ئے دی :

﴿اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾

هغه خلق چه هغوی ته خلقو ووئیل چه کافرانو ستاسو د مقابلے دپاره لښکر راجمع کړیدے، تاسو د هغوی نه ویریږئ نو دے خبرے د هغوی ایمان زیات کړو، او وے وئیل چه زمونږ الله کافی دے او هغه ډیر ښه کارساز دے)۔

د الله دے نیکانو بندګانو (حَسْبُنَا اللهُ وَرَسُوْلُهٗ) یعنی الله او د هغه رسول مونږ دپاره کافی دی) ونهٔ وئیل، بلکه دا ئے ووئیل چه صرف الله زمونږ دپاره کافی دے، آه۔ (ذکره القاسمیؒ)

يٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ

اے نبی ! تیزی ورکړه ایمان والو ته په جنګ کولو باندے، که وی ستاسو نه شل کسان

صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا

صبرناك نو غالبه کیږی به په دوه سوو او که وی ستاسو نه سل کسان نو غالبه کیږی به

اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اَلْـٰٔنَ

په زرو کسانو د کافرانو نه پدے وجه چه دوی داسے قوم دے چه نۀ پو هیږی۔ اُوس

خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا

آسانی راوسته الله تعالیٰ په تاسو او هغه پو هه وو چه یقیناً په تاسو کښی کمزورتیا ده

فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ

نو که وی ستاسو نه سل کسان صبرناك غالبه کیږی به په دوه سوو او که وی ستاسو نه

اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾

زر، غالبه کیږی به په دوه زره کسانو په مدد د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ ملګرے د صبرناکو دے۔

تفسیر: الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم وکړو چه مؤمنان د دشمنانو په خلاف په جنګ باندے راپورته کړی۔ او پدے باندے رسول الله ﷺ دومره زیات عمل کړیدے چه په ترغیباتو او ترهیباتو بیانولو سره ئے په جهاد باندے د ټولو څیزونو نه زیاته تیزی ورکړیده، د احادیثو په کتابونو کښی کتاب الجهاد د ټولو نه اُوږد وی۔

امام مسلمؒ د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت کړے چه د بدر په میدان کښی کله چه نبی ﷺ ولیدل چه قریش کافران د مکے نه په پوره طاقت راخستو سره راغلی دی، نو نبی ﷺ د اسلام مجاهدین مخاطب کولو سره وفرمایل چه راپاڅیږئ هغه جنت طرف ته چه د هغے فراخی آسمانونه او زمکه راګیرونکے ده۔ الحدیث۔ او رسول الله ﷺ دا هم فرمایلی دی چه یو مجاهد جهاد ته ووتلو او دلته یو تن په مانځه ودریدو او روژه شو نو ترڅو چه مجاهد نۀ وی راغلے تر هغه وخته پورے دے په همدے حال وی نو هم د مجاهد ثواب او درجے ته نشی رسیدلے۔ (مسلم: ٤٩٧٧)

مجاهد چه د کور نه وځي د ثواب میتړے کولاؤ شو، که هغه په حالتِ د خوب کښې وی او که ویښ وی، په معرکه کښې حاضر وی، او که په معسکر کښې وی، په ټولو حالتونو کښې ئے اجر روان دے۔

حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ : دا امر اول نبی کریم ﷺ بیا د هغه هر تابعدار ته دے چه په جهاد باندے به خلك راتیزوی او ترغیب او ترهیب به بیانوی، کوم خلك چه دا ترغیب نهٔ ورکوی بلکه اُلټه د جهاد بدی بیانوی، لکه صوفیه خلك ددے بد بد مثالونه ورکوی او بیا دا وائی چه په جهاد باندے کوم ځای کښې د دین ترقی راغلے ده، او کله وائی د کافر د وژلو نه خو د هغه مسلمانول بهتر دی چه جنت ته لاړ شی۔ دا ټول د الله او د رسول نه ځان مخکښې کول دی۔

اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ : دا مسلمانانو ته زیرے او د الله د طرفنه وعده وه چه که ستاسو نه شل مجاهدینو د صبر او ثابت قدمئ نه کار واخستو نو په دوه سوو باندے او یو سل به په یو زر کافرانو باندے غالبه کیږی۔

دا آیت د غزوهٔ بدر په موقعه کښې نازل شوے وو او مسلمانانو ته حکم شوے وو چه د لسو کافرانو په مقابله کښې به یو مسلمان کلك ودریږی او تختی به نهٔ۔ دغه وخت کښې مؤمنان کم دی مګر ایمانونه ئے مضبوط دی نو الله ورسره وعده وکړه چه تاسو کم به غالبه کوم۔ امام بخاری رحمه الله د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه کله دا آیت نازل شو نو د لسو په مقابله کښې یو او د دوه سوو په مقابله کښې د شلو دپاره مضبوطیدل واجب شو او تختیدل حرام شو۔ دے نه روستو آیت (٦٦) (الْآنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ) نازل شو چه د هغے په ذریعه الله تعالیٰ د مسلمانانو دپاره پدے حکم کښې تخفیف وکړو، او د دوه سوو په مقابله کښې یو سل او د دوه زرو په مقابله کښې د یو زر کسانو مضبوطیدل واجب شو او تختیدل حرام شو۔ بعض علماؤ لیکلی دی چه اولنے آیت د دویم آیت په ذریعه منسوخ شو۔ او بعضو لیکلی دی چه د دویم آیت په ذریعه مخکنے حکم منسوخ شوے نهٔ دے بلکه الله تعالیٰ پدے کښې تخفیف کړیدے۔ د متقدمینو په نیز دے ته نسخ وائی او متأخرین ورته تخصیص وائی۔

سوال وجواب

سوال : هرکله چه دا ذکر شوه چه شل کسان به د دوه سوو مقابله کوی نو خپله معلومه شوه چه سل به د زرو مقابله کوی او کله چه دا ذکر شوه چه سل به د دوه سوو مقابله کوی

نو خپله معلومه شوه چه زر به د دوه زرو مقابله کوی نو بیا ئے دا روستو عدد ولے مکرر کړو؟ جواب: پدے تکرار کښې مقصد زیات اطمینان ورکول دی ایمان والو ته، او دارنګه دے دپاره چه دلیل شی چه د قلت او کثرت حالت یو شان دے. حافظ په فتح الباری کښې ددے راز دا نقل کړیدے چه پدے کښې زیرے دے ددے خبرے چه د مسلمانانو فوجونه به د عشراتو او مئاتو نه زرګونو ته تجاوز کوی. (القاسمیؒ)

قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ : ۱-اَیْ لَایَعْلَمُوْنَ مَا یُقَاتِلُوْنَ عَلَیْهِ. یعنی پدے نهٔ پوهیږی چه دوی جنګ په څه خبره کوی. او دا قانون دے چه یو تن ته د جنګ مقصد معلوم نهٔ وی نو هغه زر تبنتی. ۲- یُقَاتِلُوْنَ عَلٰی غَیْرِ دِیْنٍ وَبَصِیْرَةٍ فَلَا یَثْبُتُوْنَ. (خازن)

یعنی د دین او بصیرت نه په غیر جنګ کوی نو دوی به تاسو ته نشی ټینګیدے، تبنتی به. او دا تجربه ده چه کافرانو کښې لوی کمانډوز نه هم د مجاهدینو په خلاف جنګ هیر شی، ړانده کانړه شی، ګډوډ فائرونه کوی.

۳- یا مطلب دا دے چه دا ناپوهه خلك دے چه د بغی او عدوان او د شیطان د وسوسو په وجه جنګ کوی نو دوی باندے غلبه او د دوی شرمول پکار دی. (ابوالسعودؒ)

اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ : یعنی څه زمانه روستو چه مؤمنان ډیر شو او کمزوری پکښې راغله نو الله تعالیٰ پدے حکم کښې آسانی راولیږله.

مفسر خازنؒ د ابن شُبْرُمَةَ نه نقل کړیدی چه دا حکم د امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم دے چه په یو ځای کښې څه خلك ګناه کوی، او شاته ورپسے طاقت نشته نو تهٔ به د هغوی مقابله خامخا کوے او د ګناه نه به ئے منع کوے او که ډیر کسان وو چه ستا د وس نه بهر وو یا ورپسے روستو طاقت راروان وو نو بیا تهٔ مکلف نهٔ ئے. (لباب التاویل ۳۲۶/۲)

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ
نهٔ دی مناسب نبی لره چه شی دِے هغه لره قیدیان تردے چه ډیره وینه توئی کړی
فِي الْاَرْضِ ۭ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ
په زمکه کښې، غواړئ تاسو سامان د دنیا او الله غواړی آخرت (تاسو لره) او الله زورور
حَكِيْمٌ ﴿٦٧﴾ لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ
حکمتونو والا دے. کچرته نهٔ وے حکم د الله چه مخکښې شویدے

لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

خامخا رسیدلے به وو تاسو ته په سبب د هغې مال چه اخستے دے تاسو، عذاب لوئی۔

تفسیر: کله چه په بدر کښې د قریشو اویا (۷۰) کافران قتل شو او نور اویا (۷۰) کسان قیدیان شو، کله چه دوی مدینے ته راوستے شو نو سوال دا پیدا شو چه ددے قیدیانو سره څنګه سلوك وکړے شی ؟۔

امام مسلمؒ او امام احمدؒ د انس ﷺ نه روایت کړیدے چه نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو‌ؓ سره مشوره وکړه نو عمر بن خطاب ﷺ مشوره ورکړه چه دوی دِے قتل شی۔ (الله ته ځان ورښکاره کوو چه اے الله ! زمونږ ستا د دشمنانو سره هیڅ تعلق نشته او عبد الله بن رواحه ﷺ وفرمایل : په اُور باندے ئے سیزو) ابوبکر ﷺ مشوره ورکړه چه یا رسول الله ! دا زمونږ خپلوان دی، دوی نه به مال (فدیه) واخلو، او بیا به ئے پریدو، مال به ئے د اسلام دپاره تائید شی او دوی ته به الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړی، (ابوبکر ﷺ کښې د رقت (نرمیٔ) ماده زیاته وه) نو رسول الله ﷺ د ابوبکر ﷺ په رائے باندے عمل وکړو او فدیه اخستو سره ئے قیدیان آزاد کړل۔ (رسول الله ﷺ په امت باندے شفقت کونکے وو پدے وجه ئے دا رایه غوره کړه)۔ (مسلم : ٤٦٨٧)

رسول الله ﷺ کور ته ننوتو واپس راووتو او پدے مشوره باندے ئے د یو بے تبصرے په طور ووئیل چه الله تعالیٰ بعض زړونه په کافرانو باندے د کاڼړو نه هم زیات سخت کړی، نو د عمرؓ مثال د نوح او موسیٰ علیهما السلام په شان دے چه هغوی خپلو قومونو ته ښیرے کړے وے او د ابوبکرؓ مثال داسے دے لکه د ابراهیم او عیسیٰ علیهما السلام چه نرم وو۔

بیا د دوی نه فدیه اخستل شروع شو چه د هغې مقدار ئے په یو یو تن باندے څلوېښت اُوقیه کیخودو (او یو اوقیه څلوېښت درهمه ده) ابوداوُدؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ د بدر د قیدیانو نه څلور سوه فی نفر فدیه اخستے وه۔

پدے جنګ کښې سیدنا عباسؓ هم قیدی شوے وو (مشرکانو ځان سره په زوره راویستلے وو) صحابه کرامو‌ؓ ووئیل چه دا زمونږ خورئے دے، دهٔ ته به فدیه معاف کړو، رسول الله ﷺ وفرمایل : یو درهم به هم ورته نهٔ پریدیٔ۔ هغه دوه عذرونه وکړل چه ما نه ئے څنګه اخلیٔ زه خو یو مسلمان یم، او دویم دا چه زهٔ غریب یم، ما سره هیڅ نشته۔ رسول الله ﷺ ورته معجزةً ووئیل : چه کله تهٔ د کور نه راوتے تا سرهٔ زر راواخستل او ښځے ته دِے ووئیل چه دا

وساته که زهٔ راغلم خو صحیح ده او که زهٔ مړ شوم نو په بچو ئے تقسیم کړه. هغه ووئیل : ددے خبرے نه زمونږ نه سِویٰ هیڅوك خبر نهٔ دی، معلومیږی چه تا ته الله تعالیٰ خبر درکړیدے نو ایمان ئے نور هم زیات شو. او د هغه نه هم فدیه واخستے شوه او هغه د خپل وریرونو نوفل او عقیل فدیه هم ورکړه.

شان نزول

امام مسلمؒ په کتاب الجهاد کښ د ابن عباس رضی الله عنه نه هم دغه شان یو حدیث روایت کړیدے چه د هغے په آخر کښ راځی چه رسول الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه ناست وو، ژړل ئے چه پدے کښ عمر رضی الله عنه راغلو او وجه ئے وتپوسله نو نبی ﷺ وفرمایل چه د بدر د قیدیانو نه د فدیه اخستو په وجه سره مسلمانانو ته د الله عذاب ددے ونے نه هم زیات رانزدے شوے وو، او یوے ونے ته ئے اشاره وکړه. لیکن الله پرے عذاب نازل نکړو ځکه چه لا حکم شرعی نازل نهٔ وو. دے نه روستو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو چه پدے کښ د قیدیانو نه فدیه اخستو ته ئے ښه ونهٔ وئیل او ووئیل شو چه د غزوهٔ بدر د قیدیانو قتل کیدل د فدیه اخستو سره د هغوی پریخودلو نه زیات غوره وو. ځکه چه دا اولنے جنګ وو چه په دے کښ د کافرانو نه ښه وینه ویستل پکار وو او د الله تعالیٰ په خپل دین باندے غیرت ډیر خوښ دے. (صحیح مسلم : ٤٦٨٧) البغویؒ وابن کثیرؒ وغیرهما)

او آینده دپاره نصیحت وکړے شو چه پکار دی چه کله مسلمانان په کافرانو غالب شی نو هغه دِے ښه قتل کړی دے دپاره چه کفر ذلیله شی او د اسلام او د مسلمانانو رعب او دبدبه د کافرانو په زړونو کښ کینی. دے نه روستو هم که د جنګ په میدان کښ څه خلق باقی پاتے شی نو هغه دِے قیدیان کړے شی.

او د قیدیانو سره به پنځه قسمه معاملات کیږی (۱) اول دا چه قتل کړے شی. (۲) یا د خپل مسلمان په بدله کښ تبادله وکړے شی. (۳) فدیه اخستو سره پریخودل. (٤) د هغوی نه غلامان جوړول. (۵) هغوی احساناً پریخودل بغیر د فدیه اخستو نه، چه د مسلمانانو اخلاق خلکو ته ښکاره شی او هغوی اسلام ته مائل شی، او د اسلام وقعت د خلکو په زړونو کښ کینی.

کله چه دا قیدیان مدینے ته راوستے شو نو رسول الله ﷺ د دوی سره د احسان کولو حکم وکړو نو صحابه کرامو پدے باندے په ډیره کامله طریقه عمل وکړو چه دوی به خپله وچه ډوډئ خوړله او قیدیانو ته به ئے تازه ډوډئ ورکوله، چه ددے په وجه ډیر قیدیان متأثره

شو، او ځینو به وئیل چه مونږ ته به ددے حالت نه شرم راتللو چه په دوی کښې ډیر قیدیانو ته الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو۔

حَتّٰى يُثْخِنَ : یعنی اول نه قیدیان نیول مناسب نهٔ دی، یو خو پدے سره د کافرانو ډیروالے راځی، او چه ډیر پکښې مړه شی نو یو په دوی باندے رعب راځی، او دویم پدے کښې د الله دپاره غیرت دے، بلکه اول نه د کافرانو وژل او د هغوی وینه تویه ول پکار دی، که بیا روستو قیدیان نیسی نو خیر دے۔

تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا : ځینی مفسرین وائی چه د بدر په میدان کښې صحابه کرامؓ کافرانو لره پدے امید هم قیدیان کړی وو چه دوی نه به مال اخستو سره دوی آزاد کړی او پدے طریقه به د مسلمانانو په مالی بد حالئ کښې کمے راشی۔ دے طرف ته پدے آیت کښې اشاره ده چه تاسو د دنیاوی فائدو د خاطره داسے وکړل، حال دا چه الله ستاسو دپاره د آخرت خیر غواړی۔

تُرِيْدُوْنَ : کښې خطاب ئے صحابه کرامؓ ته وکړو نهٔ رسول الله ﷺ ته، دپاره د تعظیم د شان د رسول الله ﷺ، ځکه چه هغه دا اراده بیخی نهٔ وه کړے۔

بیا دلته دا خبره زده کړه! چه یوه د دنیا اراده ده او بل ئے محبت دے، محبت ناروا دے او د حلال مال د پیدا کولو اراده لرل جائز کار دے۔

د کتاب من الله مصداق

كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ : ددے دوه مصداقه دی (۱) یو دا چه الله مخکښې نه دا فیصله کړیده : [أَنْ لَّا يُعَذِّبَ قَبْلَ الْأَمْرِ] چه امر ئے چا ته نهٔ وی کړے او هغه ئے پو هه کړے نهٔ وی نو عذاب نهٔ ورکوی۔ ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴾ او دلته الله تعالیٰ د مخکښې نه دوی نهٔ وو پو هه کړی، نو ځکه ئے عذاب ورنکړو۔

(۲) دویم پدے کښې [تَحْلِيْلُ الْغَنَائِمِ لِهٰذِهِ الْأُمَّة] ته اشاره ده یعنی الله تعالیٰ په لوح محفوظ (تقدیر) کښې او په پخوانو کتابونو کښې دا لیکل کړی وو چه ددے امت دپاره به غنیمتونه حلالوی، نو که دا حکم نهٔ وے نو تاسو ته به ئے عذاب درکړے وے ځکه چه حرام شے به مو اخستے وے او بی احتیاطی به مو کړے وے، او هرکله چه الله تعالیٰ ددے ځیزونو ددے امت دپاره د حلالولو اراده کړے وه، نو تاسو چه څه واخستل د الله تعالیٰ د ارادے مطابق کار مو وکړو نو عذاب درباندے نشته۔

او پدے کښې یو قسم زورنه ده چه ددے وخت مناسب داسے فیصله نۀ وه پکار، مګر ځینی اهل علم وائی چه د ابوبکر صدیق ﷺ مشوره په اعتبار د عاقبت سره ښه وه پدے وجه روستو همدا قانون جوړ شو، لیکن صرف عارضي او وقتي طور سره مناسب نۀ وه۔

فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰـلاً طَيِّبًا وَّاتَّقُوا
پس خورئ د هغے مال نه چه غنیمت حاصل کړے تاسو حلال پاك او ویریږئ
اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾
د الله تعالیٰ نه، یقیناً الله تعالیٰ بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : ددے آیت په ذریعه الله تعالیٰ د مسلمانانو دپاره د غنیمت مال حلال کړو، ددے تائید په صحیحینو کښې د جابر بن عبد الله ﷺ نه د نقل شوی حدیث نه هم کیږی چه په هغے کښې نبی ﷺ فرمایلی دی چه [وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي] (زما دپاره د غنیمت مال حلال کړے شویدے، زما نه مخکښې د هیچا دپاره نۀ دے حلال شوے)۔ ددے آیت د نازلیدو نه روستو صحابه کرامؓ ته اطمینان وشو او د فدیې په توګه ئے چه کوم مال د قیدیانو نه اخستے وو هغه ئے استعمال کړو۔ (بخاری: ۳۳۵، مسلم: ۱۱۹۱)

حافظ عماد الدین ابن کثیرؒ وائی چه د جمهورو علماؤ په نیز د قیدیانو په باره کښې په هر دور کښې دا حکم جاری دے چه د وخت امام (بادشاه) ته اختیار دے،

۱- د حالاتو د تقاضے مطابق که غواړی نو قتل کولے شی لکه څنګه چه د بنوقریظه مقاتلین (جنګیان) قتل کړے شو۔

۲- او که غواړی نو فدیه اخستو سره ئے پریدی لکه چه د بدر د قیدیانو سره وکړے شو۔

۳- او که مسلمانان د قیدیانو په بدله کښې راخلاصوی لکه چه یوه وینځه او د هغے لور چه سلمه بن الاکوعؓ قید کړې وو د څه مسلمانانو قیدیانو په بدله کښې آزاد کړے شو۔ ٤- او که دچا نه غلام جوړوی۔ دا ټول کارونه جائز دی۔

حَلٰـلاً طَيِّبًا : د غنیمت مال په ټولو مالونو کښې انتهائی حلال او مزیدار دے اګرکه کافر به دا په خیانت او سود او غلا سره پیدا کړے وی لیکن کله چه ترے مسلمان ونیولو نو هغه بیخی پاك شو، ځکه چه مال اصلی مالك ته راواپس شو۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِيْٓ اَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْاَسْرٰٓى اِنْ يَّعْلَمِ

اے نبی ! ووایه هغه چا ته چه ستاسو په لاسونو کښې دی د قیدیانو نه که معلوم وی

اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ

الله تعالیٰ ته په زړونو ستاسو کښې خیر (ایمان) نو دربه کړی تاسو ته غوره د هغې(مال) نه

اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

چه اخستې شویدے ستاسو نه او بخنه به وکړی تاسو ته او الله تعالیٰ بخنه کونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ

رحم کونکے دے۔ او که غواړی دوی خیانت کول تا سره نو یقیناً خیانت کړیدے دوی د الله سره

مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾

مخکښې ددے نه (په شرك) پس قادر کړو الله تا لره په دوی باندے او الله پو هه حکمتونو والا دے

تفسیر: شان نزول

د حاکمؒ او بیهقیؒ وغیره د روایتونو مطابق دا آیت د سیدنا عباس بن عبد المطلب رضی الله عنه او د هغه د ملګرو په باره کښې نازل شوے وو۔ د بدر په جنګ کښې ابوالیُسر کعب بن عمرو رضی الله عنه دا قید کړو او رسول الله ﷺ ته ئې راوستو، نو نبی ﷺ عباس رضی الله عنه ته د فدیې ورکولو وینا وکړه لکه واقعه مخکښې ذکر شوه، چه هغه ته ئې ووئیل چه ته د ظاهری حالاتو مطابق زمونږ په خلاف راوتے ئې، نو هغه فدیه ورکړه او دا آیت نازل شو۔

او دلته ورته ووئیل شو چه که تاسو اُوس خپل تکلیف ښکاره کوئ چه زمونږ سره مال نشته، نو فی الحال مال ورکړئ که الله ته ستاسو د زړونو صدق او اسلام معلوم وی، نو الله به ددے بدله درکړی او تیر شوی ګناهونه به هم درته معاف کړی۔ نو دوی سره دوه وعدے وشوے، دنیا کښې بدله او د ګناهونو معاف کیدل۔

اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ : دا شك په نسبت سره مخاطب ته دے، نۀ په نسبت سره الله ته، الله ته خو به یو طرف خامخا معلوم وی یا به ستاسو زړونو کښې خیر وی یا به شر وی لیکن مونږ ته معلومات نشته چه د دوی زړونو کښې به څه وی نو ځکه ئې په طریقه د شك استعمال کړو۔

ابن سعدؒ او حاکمؒ د ابو موسیٰ اشعری ﷺ نه روایت کړیدے چه علاء حضرمی ﷺ د بحرین نه اتیا (۸۰) زره رقم راولیږلو، ددے نه مخکښ ددے نه زیات مال رسول الله ﷺ ته نۀ وو راغلے. نبی ﷺ په خلقو کښ تقسیمول شروع کړل.

عباس ﷺ راغلو او وے وئیل چه ما د جنګ بدر نه روستو خپله او د خپلو وریرونو فدیه ورکړے وه، پدے وجه ما ته ددے مال نه راکړه. (ما سره وعده شویده) نبی ﷺ هغه ته ډیر مال ورکړو تردے پورے چه د بوج سره نۀ شو پورته کیدلے. نو رسول الله ﷺ مُسکے شو.

عباس ﷺ په تلو کښ ووئیل چه د الله د دوه وعدو نه یوه پوره شوه، او دویمه معلومه نۀ ده چه آخرت کښ به څه وی. دا روایت امام بخاریؒ هم د تعلیق په صیغے سره ذکر کړیدے.

(بخاری: ٤٢١)

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ: رسول الله ﷺ ته وئیلے کیږی چه که دا مشرکان په فدیه ورکولو سره ځان خلاص کړی او په ظاهره کښ اسلام اعلان کړی، او تا ته د دهوکے درکولو اراده لری، او مکے ته په رسیدو کښ خپل کفر ته واپس شی نو تۀ د دوی پرواه مۀ کوه، او یریږه ترے مه. دوی خو مخکښ هم کفر او شرك کولو سره د الله تعالیٰ سره خیانت کړے وو نو الله تعالیٰ دوی ستا قیدیان جوړ کړل، که بیا ئے داسے وکړل نو دوباره به د دوی انجام همدغه شان وی، او دوی به د کفر د ذلت سره سره د قید او بند د ذلت سره هم مخامخ کیږی.

فَاَمْكَنَ: [أَيْ فَأَمْكَنَكَ وَالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُمْ] یعنی تۀ او مؤمنان ئے په دوی قادر کړئ چه ومو نیول نو بیا به موقعه راولی دوی به پکښ ګیر شی. پدے کښ دغه قیدیانو ته دهمکی ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او هجرت ئے کړے او جهاد ئے کړے په مالونو خپلو
وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا
او ځانونو خپلو په لاره د الله کښ او هغه کسان چه ځای ئے ورکړیدے او امداد ئے کړیدے
اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
دا کسان بعض د دوی نه دوستان د بعضو دی، او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے

وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَا يَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى
او هجرت ئے نۀ دے کړے نشته تاسو لره د دوستانے د دوی نه هیڅ حق تر دے
يُهَاجِرُوْا وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ فَعَلَيْكُمُ
چه هجرت وکړی دوی او که دوی مدد طلب کوی تاسو نه په باره د دین کښې نو لازم دی په تاسو
النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ
باندے مدد کول د دوی سره مګر په مقابله د هغه قوم کښې چه په مینځ ستاسو
وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۷۲﴾
او په مینځ د دوی کښې لوظ وی (د امن) او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے۔

تفسیر : په آخر د سورت کښې د مؤمنانو انواع او اقسام بیانوی ځکه چه پدے سورت کښې ایمانی جانب هم کافی حد پورے ذکر دے۔ او دا د هغه دور د مسلمانانو سره هم متعلق دی چه د دینی مراتبو په اعتبار سره الله تعالیٰ دوی په درے تقسیمونو کښې تقسیم کړیدی، یو خو هغه چه هغوی د الله په لاره کښې د خپل نفس او مال په ذریعه جهاد وکړو۔ او دویم د مدینے انصار چه هغوی رسول الله ﷺ او مهاجرینو ته پناه ورکړه، ددے دواړو قسمونو مسلمانانو د الله په نظر کښې ډیر اُوچت مقام دے۔ د دوی په باره کښې الله تعالیٰ وئیلی دی چه دا خلق په مدد او دوستئ او میراث کښې د یو بل حقدار دی۔ روستو زمانه کښې د ﴿ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ ﴾ په ذریعه د میراث حکم منسوخ شو۔

او دریم هغه مسلمانان دی چه هغوی د کافرانو سره په مکه کښې وسیدل خوبښ کړل او هجرت ئے ونکړو، دا خلق د الله په نظر کښې ناقص الایمان خلق وو، د دوی او د اولے او دویمے درجے مسلمانانو تر مینځ هیڅ دوستی او میراث الله تعالیٰ ثابت نۀ کړو ترڅو چه په هجرت کولو سره مدینے ته رانشی۔ آؤ که دا خلق د هغه کافرانو په خلاف د خپل دین د حفاظت دپاره مدد طلب کړی او د مسلمانانو او کافرانو تر مینځ د مخکښې نه هیڅ معاهده نۀ وی نو د هغوی مدد کول ضروری دی۔

وَهَاجَرُوْا : دا ورسره ځکه وائی چه جهاد پوره طریقے سره د هجرت نه بغیر نۀ کیږی۔

بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِیَآءُ بَعۡضٍ : یو ولایت (دوستی) دا ده چه یو بل سره به محبت ساتی. او دویم د ولایت نه مراد میراث وړل او د یو بل دیت ورکول دی. او تردے چه انصارو خپل مالونه د مهاجرینو سره نیمائی کړی وو، او ځینو پکښې د خپلو بعض ښځو د طلاق اراده وکړه، دے دپاره چه مهاجر ورسره نکاح وکړی. او رسول الله ﷺ چه کله مدینے ته هجرت وکړو نو د مهاجرینو او انصارو ترمینځ ئے مواخات (دوستی او ورورولی) مقرر کړه ځکه چه عربو کښې قبائلی نظام وو چه هغه ختم شی او دا اعلان شی چه زمونږ د قبیلے سره کار نشته بلکه د عقیدے سره کار دے.

وَلَمۡ یُهَاجِرُوۡا : یعنی مدینے ته ئے هجرت نۀ دے کړے.

مِّنۡ وَّلَا یَتِهِمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ : د ولایت نه مراد دا دے چه میراث به نۀ ورکوی، په غنیمت او په خُمس کښې د دوی هیڅ برخه نشته، مګر که په کوم قتال کښې حاضر شوی وی. (ابن کثیرؒ) خور لور به نۀ ورکوی ځکه چه نکاح د غیر مهاجر سره صحیح نۀ وه. لکه ام هانیءؓ رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته ځان په نکاح ورانده کړو هغه په نکاح وانخسته ځکه چه هجرت ئے نۀ وو کړے.

(الترمذی وابن ابی حاتم والطبرانی والحاکم وصححه ولکنه ضعیف الاسناد بابی صالح باذان)

او دغه شان غیر مهاجر به جمعے ته هم نۀ مخکښې کیږی، لکه یو روایت کښې دی : [وَلَا یَؤُمُّ أَعۡرَابِیٌّ مُهَاجِرًا] (ابن ماجه بسند ضعیف بعلی بن زید بن جدعان وضعیف الجامع : ٦٣٨٦) . (یعنی اعرابی به مهاجر ته امامت نۀ کوی). دا روایتونه ضعیف دی پدے وجه اول مصداق غوره دے. او په عموم د نفی د ولایت کښې دا هم داخلیدے شی.

دا په هغه وخت کښې چه جهاد فرض عین وی او سړے هجرت ونکړی، دا شخص کافر نۀ دے لیکن ګناهګار مسلمان دے. پدے وجه که د کافرانو په مقابله کښې دا مسلمان مدد طلب کوی، یا یو حکم شرعی تپوسی او مسئله معلوموی، نو د هغه سره به مدد کولے شی او جواب به ورکولے شی.

اِلَّا عَلٰی قَوۡمٍ : یعنی که د دغه غیر مهاجر (ګناهګار) د داسے قوم سره جنګ راغلو چه ستاسو او د هغوی ترمینځ وعده وه، نو بیا به د وعدے پابندی کولے شی، او د دغه غیر مهاجر مدد به نۀ کوی. دلته د وعدے دومره پابندی خودلے شویده چه د دغه مؤمن مدد به نکوی کله چه پدے سره د کافر سره د وعدے ماتیدو خطره وی.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ
او هغه كسان چه كافران دي بعض د دوى دوستان د بعضو دى كچرته ونكړئ تاسو دا امداد
تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿٧٣﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
نو شى به فتنه په زمكه كښې او فساد لوئى۔ او هغه كسان چه ايمان ئے راوړيدے
وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ
او هجرت ئے كړيدے او جهاد ئے كړيدے په لاره د الله كښې او هغه كسان
اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا
چه ځاى ئے وركړيدے او امداد ئے كړيدے دغه كسان هم دوى مؤمنان دى په رشتيا،
لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٤﴾
دوى لره بخنه ده او رزق دے عزتمند۔

تفسير: يعنى د كافرانو خپل مينځ كښې دوستى ده نو مطلب دا دے چه [فَلَا يَحِلُّ لَكُمْ مُوَالَاتُهُمْ وَيَنْبَغِيْ لَكُمْ اَنْ تُوَالُوا الْمُؤْمِنِيْنَ] ستاسو دپاره د هغوى سره دوستى ساتل حرام دى اگركه هغه نزدے خپلوان ولے نۀ وى، ځكه د كافر دوست كافر وى۔

دويمه فائده دا ده چه كافران د يو بل سره دوستى لرى او د يو بل مدد كوى، نو مؤمنانو له پكار دى چه د خپل مؤمن سره دوستى ولرى او د هغه سره يو ځاى شى۔

ددے آيت نه علماؤ دليل نيولے دے چه مسلمان او كافر د يو بل وارث نشى كيدے۔ بخاريؒ او مسلمؒ د اُسامه بن زيدؓ نه روايت كړيدے چه [لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ] مسلم د كافر او كافر د مسلم وارث نۀ كيږى۔ (بخارى: ٦٧٦٤) مسلم (٤٢٢٥) او ابوداودؒ د اسامه بن زيدؓ نه روايت كړيدے چه رسول الله ﷺ وفرمايل: [لَا يَتَوَارَثُ اَهْلُ مِلَّتَيْنِ] (د دوه دينونو والا خپل مينځ كښې وارث نۀ كيږى)۔ (ابوداود: ٢٩١١ بسند صحيح)

اِلَّا تَفْعَلُوْهُ: دا متعلق دے د (فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ) سره يعنى د مؤمنانو سره مدد وكړئ كه دوى سره مدد نۀ كوئ۔ يا د كافرانو سره تعلق نۀ پريكوئ او د الله تعالىٰ د حكم مطابق مسلمانان خپل مينځ كښې يو بل دوستان نۀ نيسى نو ډيره لويه فتنه او د فساد دروازه به كولاوه شى۔ فتنه كفر او شرك دے او فساد كبير ضعف الاسلام دے۔ يعنى كوم مسلمان

چه کمزوری وی هغه به د کافرانو سره ملاؤ شي او کیدې شي چه مرتد شي، او که مرتد نهٔ هم شي نو په عقیده او عمل او عاداتو او اطوارو کښې به د کافرانو نه اثر قبول کړي.

مفسرین لیکي: ددې آیت د تقاضا مطابق که مسلمانان خپل مینځ کښې متحد نهٔ شي نو کافران به د دوی په خلاف سازش جوړ کړي او په دوی به حمله وکړي او د دوی په علاقو به قبضه وکړي. ددې برعکس که خپل مینځ کښې متحد وسیږي نو د دوی قوت به زیاتیږي او د نورو مذاهبو خلق به په اسلام کښې داخلیږي، او د فتنې او فساد ډیرې دروازې به خپله بندیږي.

وَالَّذِيْنَ: پدې کښې د دغه مهاجرینو او انصارو اُوچت مقام او مرتبه او فضیلت بیانیږي کوم چه په آیت (۷۲) کښې ذکر شو.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا
او هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدې روستو د هغوی نه او هجرت ئې کړیدې
وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ فَأُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ
او جهاد ئې کړیدې په ملګرتیا ستاسو کښې نو دغه کسان ستاسو نه دي،
وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلٰى بِبَعْضٍ
او نسبي خپلوان بعض د دوی ډیر لائق دي (د میراث) په بعضو سره
فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۵﴾
په حکم د الله تعالیٰ کښې، یقیناً الله تعالیٰ په هر شي پوهه دې.

تفسیر: ۱– ددې نه مراد کشران صحابه کرامؓ او تابعینؒ دي. یعني کوم خلك چه د مدینې د هجرت نه روستو مسلمانان شو، او هجرت کولو سره مدینې ته راغلل او د مسلمانانو سره ملګري شو، جهاد ئې وکړو، نو دوی هم د مخکنو مهاجرینو او انصارو په شان د مناصرت (مدد) او موالات (دوستئ) مستحق دي. دوی هم حقیقي مؤمنان دي او په آخرت کښې به په دوی هم الله تعالیٰ د عفو او مغفرت څادر اچوی او د جنت نعمتونه به ورکوی.

مِنْ بَعْدُ: روستو ستاسو نه. او سورة التوبه (۱۰۰) کښې راغلي دي: ﴿ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ

بِاِحۡسَانٍ﴾ الله تعالیٰ د هغه کسانو نه هم راضي دے چه د صحابه کرامو تابعداري ئے کړیده په نیکئ کښې۔ او حدیث کښې دي هغه شخص به اُور ته نۀ داخلیږي چه زۀ ئے لیدلے یم، یا ئے هغه څوك لیدلے چه هغه زۀ لیدلے یم۔ ددے حدیث سند ضعیف دے، او صحیح حدیث کښې داسے الفاظ دي: [طُوْبٰى لِمَنْ رَآنِيْ وَآمَنَ بِيْ وَلِمَنْ رَأىٰ مَنْ رَآنِيْ] (صحیح الجامع: ٣٩٢٦)۔ خوشحالي ده هغه چا لره چه زۀ ئے لیدلے یم او په ما ئے ایمان راوړے او هغه چا لره هم چه زما صحابي ئے لیدلے وي۔

٢- دویم دا چه ددے نه مراد تر قیامته پورے ټول مؤمنان دي۔

وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ: یعنی ستاسو په شان جهاد ئے کړیدے۔

فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ: یعنی دوي به ستاسو نه حساب وي نو الله به ستاسو نه راضي وي او تاسو به جنتیان یئ نو دوي نه به هم راضي وي او دوي به هم جنتیان وي۔ نو ټول رشتیني مؤمنان به په قیامت کښې د صحابه کرامو سره په صفونو کښې ولاړ وي۔

وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ: دا آیت د ډیرے زمانے نه روستو نازل شو تر صلح حدیبیه پورے د عقد حِلْف (عَقْدِ مُؤَاخَات) په قانون باندے به عمل کیدو، دوي به د یو بل نه میراث وړلو، لیکن کله چه دا جمله نازله شوه نو اُوس به صرف رشته داران د یو بل نه میراث وړي، نۀ نور خلك۔

الۡاَرۡحَامِ: ددینه مراد هغه ټول خپلوان دي چه د رحِم په ذریعه قائم وي، برابره ده ذوي الفروض وي که عصبات او که ذوي الارحام۔ نو پدے باب کښې د قرآن اصطلاح د فقهاؤ د اصطلاح نه جدا ده۔

ابن عباسؓ، مجاهدؒ، عکرمهؒ او حسنؒ وغیره وئیلي دي چه دا آیت د معاهدے، حِلف او اخوّت او دوستئ په ذریعه د میراث اخستو حکم دپاره ناسخ دے۔ ددے آیت نه روستو د میراث حکم صرف د خپلولئ د آبائي نسب او سخراني رشتو په ذریعه باقي پاتے شو، او معاهده او حِلف صرف په خپل مینځ کښې د تعاون او د یو بل مدد او د معاهدے مطابق نورو کارونو او احکامو دپاره جاري او ساري پاتے دے۔

ابوداودؒ د ابن عباسؓ نه روایت کړیدے چه مخکښې به خلقو د حِلف او معاهدے په ذریعه بغیر د څه خانداني خپلولئ نه د یو بل وارث جوړیدل نو د سورة انفال دے آیت هغه حکم منسوخ کړو۔ آه۔ (ابوداود: ٢٦٢٣ اسناد صحیح) او ووئیل شو چه خپلوان د یو بل زیات حقدار د میراث دي۔ او تر اُوسه پورے دا حکم نۀ منسوخ کیدو ځکه چه مقصد پدے سره

قبائلی نظام ختمول وو، او هغه تقریباً ختم شو، مؤمنان د یو بل ورونه ورونه شو نو اُوس میراث بیرته خپلو حقدارو ته د رسولو حکم وکړے شو. مثلًا ستا پلار مړ شو د تهولو نه پرے ته ډیر دردمند ئے او میراث به ئے بل څوك وړی نو دا د الله د حکمة خلاف وه پدے وجه ئے اُوس دا حکم منسوخ کړو.

د ((کِتٰبِ اللّٰهِ)) نه مراد د الله تعالیٰ حکم یا لوح محفوظ یا قرآن کریم دے.

اِنَّ اللّٰهَ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ : یعنی مخکښ ئے د علم تقاضا دا وه چه عقد حِلف والا به هم میراث وړی او اُوس ئے د علم تقاضا دا ده چه صرف د مړی رشته داران به میراث وړی.

وبالله التوفیق.

امتیازات او خصوصیات د سورة الانفال

۱- پدے کښې د غنیمت د تقسیم دپاره کثرة العلل ذکر دی.

۲- قواعد الْجهاد والقتال، تقریباً (۱۳) قواعد د غلبے د جهاد او د اسلام د شائع کیدو دپاره ذکر شویدی، او صاحب المنار ددے نه اوه ویشت (۲۷) قواعد راویستلی دی او هغه ئے په آخر کښې راجمع کړیدی.

۳- د بدر د غزا تصویر پکښې ذکر دے.

٤- تفصیل د غنائم او اساریٰ (قیدیانو) پکښې ذکر دے.

٥- احکام د صلح او انواع د مؤمنانو پکښې ذکر دی.

ختم شو تفسیر د سورة الانفال

برحمة الله وحسن توفیقه یوم الثلثاء بعد الظهر فی شدة الحر. شوال ۱۷/ ۱٤۳٥هـ الموافق : ۲۰۱٤/ اګست۱۳)

او ددے نظر ثانی په اسریت کالام کښې په (۱٤۳٦) هجری شوال : ۲٥.

موافق : ۲۰۱٥/ ۱٤اګست کښې په حجره د ورور محترم خیر الرحمن حفظه الله وعافاه کښې وشو.

فهرست تفسير حكمة القرآن جلد (٥)

دفتر تمام گشت و بپایان رسید عمر　　ماهم چنان در اول وصف تو مانده ایم

بدست ابوزہیر

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

افادات : الشيخ ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله

خصوصيات

١ – په پښتو ژبه کښې اول ځل دپاره د مشکاة المصابيح
يوه عمده او نايابه شرح

٢ – د حديث پښتو ترجمه

٣ – د حديث د الفاظو لغوی تحقيق

٤ – د حديث د سند ضعف او صحت معلومول

٥ – اختلاف العلماء او قول راجح مع الدليل بيانول

٦ – په حديث کښې فوائد ، حکم او اسرار معلومول

٧ – د راوی الحديث تعارف

٨ – د مشکوة المصابيح په مطالعه کولو
او درس کولو کښې د نورو تولو شرحو نه استغناء راوستل۔

چه ددې اووه (٧) جلده چاپ شوی دی او باقی جلدونه را روان دی ان شاء الله

الفوائد

فی تزکیة النفوس وعلم القلوب

والرغبة الی علام الغیوب

تالیف: الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

ددې کتاب **خصوصیات** دادی:

۱ - د خپل نفس د تزکیه او پاکوالی په باره کښې لا جواب کتاب

۲ - د الله د معرفت، او مینې او محبت حاصلولو

په حقله یو ناشنا مجموعه

۳ - اعمالو صالحه ؤ کښې د شوق او رغبت پیدا کولو

دپاره یو اکسیری نسخه

٤ - د تقوىٰ، اخلاص او للهیّت په موضوع خپل مثال په خپله

٥ - په عمل کښې د روح پیدا کولو دپاره یو ناشنا کوشش

٦ - د علم القلوب او اصلاح النفس

په موضوع باندې یو نادر کتاب

۷ - د کتاب او سنت په دلائلو باندې مزین یو علمی، عملی مجموعه

طلباؤ او علماؤ دواړو دپاره ئې مطالعه کول او ځان سره ساتل ضروری دی۔

د ((الفوائد)) درې واړه (۳) جلدونه چاپ شوی دی

د پښتنو ورونو او خوېندو د فائدې دپاره ددې

کتاب پښتو ژبه کښې ترجمه هم وشوه

أمين الفتاوى (پښتو دوه جلده)

افادات : الشيخ ابى محمد امين الله البشاورى حفظه الله

د سوال او جواب په عنوان سره

خصوصيات :

۱ - د كتاب او سنت په رنړا كښې په پښتو ژبه كښې

د سوال او جواب په شكل يو نادره مجموعه

۲ - په هره مسئله باندې د كتاب او سنت نصوص او تائيد

دپاره اقوال العلماء بيان شوى۔

۳ - په يو وخت كښې د عقائدو ، احكامو

او فضائلو باره كښې تحقيقي مواد۔

چه عوامو، طلباؤ او علماؤ ټولو دپاره ئے

مطالعه كول او ځان سره ساتل پكار دى ۔

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ منگل ماركيټ پيښور

فقه الاحکام

شرح بلوغ المرام

خصوصیات

(۱) د ټولو نه اول د هر حدیث په سر کښې د مسئلې عنوان

(۲) د حدیث عربی متن سره د اعرابه لیکلې شوې

(۳) د حدیث عام فهم روانه پښتو ترجمه

(٤) د حدث د لغت وضاحت (٥) د حدیث شان وروړد او تشریح

(٦) د حدیث فوائد او مسائل (۷) د حدیثونو ترمینځه

تعارضات ختمول (۱۰) د حدیث درجه او مختصر تخریج او په

حدیث باندې د صحت یا ضعف حکم (۱۱) د حدیث د راوی

مختصر تعارف (۱۲) د حدیث تشریح په حدیث سره شوې

(۱۳) دا کوشش شوې چه د حدیث په تشریح

کښې څۀ اړخ مبهم پاتې نشي۔

(١٤) په دې شرح کښې په ضعیف یا موضوعی

حدیث باندې د استدلال نه ډډه شوې۔

مؤلف : ابو سلمان حضرت محمد حفظه الله